درېیم جلد

# حکمة الباریٔ

## د بخاري ترجمه او شرح

حکمتیار

دریم جلد

# حکمة الباری

د بخاري ترجمه او شرح

حکمتیار

## د کتاب پېژندنه:


نوم: حکمة البارئ درېیم جلد

ليکوال: حکمتيار

لومړی طبع: ثور ۱٤۰۳

د چاپ شمېره: ۱۰۰۰ توکه

قيمت: ۲۰۰ افغانۍ



**د چاپ ټول حقوق محفوظ دي**



د ميثاق ايثار نشراتي اداره

کابل - دارالامان

Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷

# حکمة الباریٔ

## د بخاري ترجمه او مختصر شرح

## دریم جلد

## حکمتیار

د حزب اسلامي افغانستان امیر

# فهرست

عنوان صفحه

د ناشر عرائض ---------------------------------------- ١

مقدمه ------------------------------------------------- ٥

٢٤ كتاب: زكات ------------------------------------------ ٩

١ باب: د زكات فرضيت ----------------------------------------- ٩

٢ باب: د زكات نه وركولو ګناه --------------------------------- ٢٧

٣ باب: د كوم مال چي زكات وركړل شي هغه كنز نه ګڼل كېږي ----------------------------------------------------------- ٣٦

د زكات مقدار؛ په غنيمت كي د خمس له مخي ټاكل شوی؟--- ٤٠

٤ باب: زكات يا خيرات په پاک مال كي وي--------------------- ٤٢

٥ باب: تر رد كېدو وړاندي صدقه --------------------------- ٤٨

٦ باب: صدقه له اور د نجات سبب دئ ---------------------- ٥٤

٧ باب: كومه صدقه غوره ده -------------------------------- ٥٨

٨ باب: له صدقه وركولو سره مينه ---------------------------- ٥٩

آيا د هغو رواياتو په منلو مكلف يو چي له شاهد پرته يو راوي لري؟ -------------------------------------------------------- ٦١

٩ باب: غني ته صدقه وركول --------------------------------- ٦٤

١٠ باب څوک چي په نا خبرۍ كي خپل زوی ته صدقه وركړي - ٦٦

١١ باب: چا چي خپل خادم ته د صدقې امر كړی-------------- ٦٨

١٢ باب: غوره صدقه هغه ده چي د غناء په حالت كي وي--- ٦٩

١٣ باب: صدقې ته هڅونه او د فقير لپاره ئې سپارښتنه ------ ٧٢
١٤ باب: صدقه د توان تر حد ------------------------------- ٧٤
١٥ باب: څوک چي له صدقې ورکولو وروسته مسلمان شي ---- ٧٤
١٦ باب: د هغه ثواب چي د خپل بادار په امر صدقه ورکړي -- ٧٥
١٧ باب: د الله تعالى دا قول: (فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى) --------- ٧٦
١٨ باب: د سخي او بخيل مثال ------------------------------ ٧٨
١٩ باب: پر هر مسلمان صدقه لازمه ده، ------------------- ٧٩
٢٠ باب: د زكات او صدقې اندازه -------------------------- ٨١
٢١ باب: په زكات كي د مال اخيستل ------------------------ ٨٤
٢٢ باب: متفرق دي نه يو ځاى كېږي او ګډ دي نه بېلېږي ---- ٨٦
٢٣ باب: كه د دوو كسانو مالونه سره ګډ وو نو زكات به ئې -- ٨٧
٢٤ باب: د اوښانو زكات ------------------------------------ ٨٨
٢٥ باب: د چا زكات چي بنت مخاض وي خو ------------------ ٨٩
٢٦ باب: د مېږو (پسونو) زكات ------------------------------ ٩٠
٢٧ باب: د زكات مال بايد سالم وي -------------------------- ٩٣
٢٨ باب: نه ښايي په زكات كي د خلكو تر ټولو غوره اموال واخيستل شي ------------------------------------------ ٩٣
٢٩ باب: خپلوانو ته د زكات وركول --------------------------- ٩٤
٣٠ باب: د آس زكات نه شته --------------------------------- ٩٧
٣١ باب: يتيمانو ته صدقه وركول ------------------------------ ٩٨
٣٢ باب: خاوند او تر كفالت لاندي يتيمانو ته زكات وركول -- ١٠١
٣٣ باب: د الله تعالى دا قول : (وفِي الرقاب والغارمين و)------١٠٣
٣٤ باب: له سوالګرۍ ډډه كول ---------------------------١٠٦

٣٥ باب: چا ته چي الله تعالی له سؤال او حرص پرته څه ورکړي
١١١-------------------------------------------------------------------------------
٣٦ باب: څوك چي ډېر سؤال كوي (د ډېرښت په موخه)-----١١٢
٣٦ باب: د غناء (شتمنۍ) اندازه --------------------------١١٥
٣٧ باب: د خرما د اندازې تخمين ------------------------١١٦
٣٩ باب: په هغو حاصلاتو كي چي د باران يا په جاري اوبو خړوبېږي عشر (لسمه برخه) لازمېږي ---------------------١٢١
٤٠ باب: د خرما زكات د ټولولو په مهال اخيستل كېږي ------١٢٢
٤١ باب: آيا څوك كولی شي خپل زكات (صدقات) وپېري؟ ----١٢٣
٤٢ باب: د امهات المؤمنين آزاد شوو غلامانو ته صدقه وركول ١٢٥
٤٣ باب: د زكات په حالت كي بدلون-----------------------١٢٦
٤٤ باب: زكات له شتمنو اخيستل كېږي او فقيرانو ته --------١٢٧
٤٥ باب: د صدقه وركوونكي لپاره د خير دعاء --------------١٢٨
٤٦ باب: څه چي له سمندر په لاس راځي ------------------١٢٩
٤٧ باب: د ګنج او زېرمي زكات پنځمه برخه ده ------------١٣٦
٤٨ باب: د الله تعالی دا قول: (...وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا...) التوبة ٦٠ ١٣٩
او د زكات راغونډوونكو محاسبه له امام سره ---------------١٣٩
٤٩ باب: امام د زكات اوښان په نښه كوي ------------------١٤٠

٢٥ كتاب- د فطر صدقه --------------------------------١٤٥

١ باب: د فطر صدقې وجوب ------------------------------١٤٥
٢ باب: د فطر صدقې وركړه د عيد تر لمانځه مخكي وي -----١٤٦
٣ باب: د فطر صدقه پر آزاد او غلام دواړو لازمه ده---------١٤٧

٢٦ كتاب - حج ---------------------------------------١٤٧

١ باب: د حج فرضيت او فضيلت ---------------------------١٤٧
٢ باب: د الله تعالى دا قول: (يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ ... ) الحج: ٢٨ ------------------------------------------------------١٦٢
٣ باب: په بار وړونكي اوښ سره حج اداء كول --------------١٦٣
٤ باب: د مبرور حج فضيلت ------------------------------١٦٤
٥ باب: ميقات --------------------------------------١٦٦
٦ باب: په ذو الحليفه كې لمونځ ---------------------------١٦٧
٧ باب: د شجره له لارې د رسول الله سفر ------------------١٦٧
٨ باب: د رسول الله دا قول: (عقيق مباركه دره ده)----------١٦٨
٩ باب: معطره جامې درې وارې مينځل --------------------١٦٩
١١ باب: د احرام په وخت په وېښتانو څه وهل --------------١٧١
١٢ باب: د ذوالحليفه له جومات احرام تړل------------------١٧٥
١٣ باب: د حج دوران كې په يوه سورلۍ د ٢ نفرو سپرېدا --١٧٦
١٤ باب: د محرم لباس ---------------------------------١٧٦
١٥ باب: تلبيه ----------------------------------------١٧٩
١٦ باب: تر تلبيې وړاندې حمد، تسبيح او تكبير ------------١٧٩
١٧ باب: د تلبيې په وخت قبلې ته مخ اړول -----------------١٨١
١٨ باب: درې ته د كوزېدو په مهال تلبيه ويل----------------١٨١
١٩ باب: د رسول الله په زمانه كې د ده په څېر إهلال-------١٨٤
٢٠ باب: د قرآن دا آيت: (الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَعْلُومَاتٌ ... -----------١٨٧
٢١ باب: د حج ډولونه تمتع، قران او افراد... -----------------١٨٧
٢٢ باب: د تمتع حج ---------------------------------١٩٩
٢٣ باب: مكې ته د ننوتلو لار -----------------------------٢٠٠

٢٤ باب: د مكې فضيلت او جوړول ئې ------------------- ٢٠٠
٢٥ باب: د مكې د كورونو ميراث، اخيستل، پلورل... --------- ٢٠٣
٢٦ باب: په مكه كې د رسول الله اړول -------------------- ٢٠٥
٢٧ باب: د كعبې شريفې ورانېدا ------------------------ ٢٠٧
٢٨ باب: دا آيت چې فرمايي: (جَعَلَ اللَّهُ الْكَعْبَةَ...) ---------- ٢١١
٢٩ باب: د كعبې ورانېدل ------------------------------ ٢٤٥
٣٠ باب: الحجر الأسود -------------------------------- ٢٤٦
٣١ باب: كعبې ته نه داخلېدل ---------------------------- ٢٤٨
٣٢ باب: د كعبې په منځ كې تكبير ------------------------ ٢٤٩
٣٣ باب: د طواف په وخت كې د رمل مشروعيت ------------- ٢٥٠
٣٤ باب: مكې ته په رسېدو سره د حجر اسود استلام --------- ٢٥١
٣٥ باب: په حج او عمره كې رمل -------------------------- ٢٥١
٣٦ باب: په لكڼه د حجر اسود لمس كول --------------------- ٢٥٣
٣٧ باب: د حجر اسود ښكولول ----------------------------- ٢٥٣
٣٨ باب: مكې ته له رسېدو سره سم طواف ------------------ ٢٥٤
د بخاري دا روايت مختصر كړى شوى؛: ---------------------- ٢٥٦
٣٩ باب: د طواف په مهال خبرې ---------------------------- ٢٥٦
٤٠ باب: لوڅ د طواف او مشرک د حج اجازه نه لري -------- ٢٥٧
٤١ باب: تر عرفات وړاندې طواف -------------------------- ٢٥٨
٤٢ باب: حاجيانو ته اوبه وركول -------------------------- ٢٥٨
لاندې روايات هم دغه خبره كوې: -------------------------- ٢٦٣
٤٣ باب: د صفا او مروه تر منځ د سعې وجوب --------------- ٢٦٥
٤٤ باب: د صفا او مروه تر منځ د سعې په اړه --------------- ٢٦٦

٤٥ باب: حائضه ښځه له طواف پرته د حج ټول مناسک اداء کول ----------------------------------------------------------------------- ٢٦٦
٤٦ باب: د ترويې په ورځ د ماسپښين لمونځ چېري اداء کېږي ٢٦٨
٤٥ باب: د عرفات د ورځې روژه --------------------------- ٢٦٩
٤٨ باب: د عرفات په ورځ په غرمه کي روانېدل ------------- ٢٧٢
٤٩ باب: د عرفات موقف (درېدو ځای) ته بيړه ------------- ٢٧٣
٥٠ باب: پر عرفات درېدل ------------------------------- ٢٧٧
٥١ باب: له عرفات د مزدلفې په لور د ستنېدو څرنګوالی----- ٢٧٨
٥٢ باب: له عرفات د راستنېدو په وخت کي------------------ ٢٧٨
٥٣ باب: د مزدلفې په شپه کمزوري تر نورو وړاندي لېږل. -- ٢٧٩
٥٤ باب: په مزدلفه کي د سهار لمونځ------------------------ ٢٨٦
٥٥ باب: له مزدلفې د حرکت وخت ------------------------- ٢٨٧
٥٦ باب: د قربانۍ پر اوښ سپرېدل ------------------------ ٢٨٨
٥٧ باب: څوک چي د حج لپاره هدي له ځان سره بوځي----- ٢٨٨
٥٨ باب: په ذي الحليفه کي د قربانۍ د اوښ په نښه کول---- ٢٨٩
٥٩ باب: د قربانۍ اوښانو ته په خپل لاس د غاړکيو اچول----- ٢٩٠
٦٠ باب: پسونو ته غاړکۍ اچول ---------------------------- ٢٩٢
٦١ باب: غاړکۍ د وړيو وي -------------------------------- ٢٩٣
٦٢ باب: د اوښانو څل په خيرات کي ورکول------------------ ٢٩٣
٦٣ باب: د خپلو مېرمنو لپاره د هغوی له اجازې پرته قرباني کول ----------------------------------------------------------------------- ٢٩٣
٦٤ باب: د رسول الله د قربانۍ په ځای کي قرباني----------- ٢٩٥
٦٥ باب: د تړل شوي اوښ حلالول -------------------------- ٢٩٥

٦٦ باب: قصاب ته دي له قربانۍ څه نه ورکول کېږي --------۲۹۵
٦٧ باب: د قربانۍ له غوښي څومره خوړل او څومره صدقه --۲۹٦
٦٨ باب: له احرام د آزادېدو په مهال د سر وېښتانو خرېیل --۲۹٦
٦٩ باب: د جمرو ویشتل -------------------------------------۲۹۸
۷۰ باب: د دريې له منځه د جمرو ویشتل ---------------------۲۹۹
۷۱ باب: جمرې په اوو وړو تیږو ویشتل کېږي ---------------۳۰۰
۷۲ باب: د شاتنۍ جمرې له ویشتلو وروسته نه درېدل------۳۰۰
۷۳ باب: د وداع طواف --------------------------------------۳۰۳
۷٤ باب: که ښځه له طواف افاضه وروسته حائضه شي------۳۰۳
۷۵ باب: په محصب کي اړول ---------------------------------۳۰٤
۷٦ باب: په ذي طُوی کي اړول ---------------------------------۳۰۵

## ۲۷ کتاب: عمره -------------------------------------۳۰۵

۱ باب: د عمرې وجوب او فضیلت --------------------------۳۰۵
۲ باب: له حج مخکي عمره ---------------------------------۳۰٦
۳ باب: رسول الله څو عمرې کړې دي -----------------------۳۰۷
٤ باب: د تنعیم عمره ----------------------------------------۳۱۲
۵ باب: له حج وروسته له هدي پرته عمره ------------------۳۱۳
٦ باب: د عمرې ثواب د تکلیف په اندازه دئ-----------------۳۱۵
۷ باب: عمره کوونکی کله له احرامه وتلی شي ---------------۳۱۵
۸ باب: له حج، عمرې او جهاد د راستنېدو دعاء -------------۳۱۷
۹ باب: د حاجیانو هر کلی ---------------------------------------۳۲۰
۱۰ باب: ماښام له سفره راګرځېدل ----------------------------۳۲۰
۱۱ باب: مدينې ته له نژدې کېدو وروسته بیړه -------------۳۲۱

١٢ باب: سفر يو ډول عذاب دئ ------------------------- ٣٢٢

**٢٨ كتاب: المُحْصَرِ... (له عمرې ايسار كړی شوی) ------- ٣٢٣**

١ باب: كه عمره كوونكی له مانع سره مخ شي -------------- ٣٢٣

٢ باب: په حج كي احصار (ايسارېدا) ----------------------- ٣٢٣

٣ باب: د احصار په صورت كي قرباني او د سر وېښتان خرېيل ------------------------------------------------------- ٣٢٤

٤ باب: دا آيت: «أَوْ صَدَقَةٍ» ------------------------------- ٣٢٥

٥ باب: د فديې اندازه نيمه پيمانه ده ---------------------- ٣٢٧

**٢٩ كتاب: د ښكار فديه (كفاره) ------------------------- ٣٢٨**

١ باب: محرم هغه ښكار خوړلی شي چي غير محرم ئې وركړي ------------------------------------------------------- ٣٢٨

٢ باب: محرم دي د ښكار په نيولو كي له غير محرم سره مرسته نه كوي ------------------------------------------------- ٣٣٠

٣ باب: محرم بايد غير محرم ته ښكار په گوته هم ونه ښيي - ٣٣١

٤ باب: محرم ته د ژوندي وحشي خره سوغات -------------- ٣٣٣

٥ باب: هغه شيان چي مُحْرِم ئې په حرم كي وژلی شي ------ ٣٣٤

٦ باب: په مكه كي جنگ جواز نه لري ---------------------- ٣٤٠

٧ باب: د مُحرِم لپاره ښكر لگول -------------------------- ٣٤١

٨ باب: د مُحْرِم نكاح --------------------------------------- ٣٤٥

٩ باب: د محرم غسل ---------------------------------------- ٣٤٧

١٠ باب: مكې او حرم ته له احرام پرته ننوتل --------------- ٣٤٧

١١ باب: د مړي لپاره حج او نذر -------------------------- ٣٤٨

١٢ باب: د ماشومانو حج ---------------------------------٣٤٩
١٣ باب د ښځو حج ------------------------------------٣٤٩
١٤ باب: مکې ته د پلي تګ نذر -------------------------٣٥٦

## د حج او عمرې کتابونو خلاصه -----------------------٣٥٨

## د حج احکام او ارکان ---------------------------------٣٦٢

## ٣٠ کتاب: د مدینې منورې فضیلتونه -------------------٣٧٥

١ باب: د مدینې حرم ----------------------------------٣٧٦
٢ باب: د مدینې فضیلت ---------------------------------٣٩٥
٣ باب: مدینه غوره ځای دئ ------------------------------٣٩٧
٤ باب: څوک چې له مدینې کرکه وکړي -------------------٣٩٨
٥ باب: ایمان به مدینې ته راغونډېږي ----------------------٤٠٤
٦ باب: د مدینې له اوسیدونکو سره د فریب ګناه ----------٤٠٦
٧ باب: د مدینې برجونه ---------------------------------٤٠٧
٨ باب: دجال مدینې ته نه شي ننوتلی ----------------------٤٠٨
٩باب: مدینه خراب خلک له ځانه لرې کوي -----------------٤٢١
١٠ باب: رسول الله صلی الله علیه و سلم د مدینې تشېدا نه خوښوله ---------------------------------------------٤٢٢

## ٣١ کتاب: روژه ------------------------------------٤٢٥

١ باب: د روژې فضیلت ---------------------------------٤٤٥
٢ باب: د ریان دروازه خاص د روژتیانو لپاره ده -----------٤٤٦
٣ باب: رمضان که د رمضان میاشت --------------------------٤٥٢
٤ باب: په رمضان کي دروغ او ورباندي عمل نه پرېښودل---٤٦١

٥ باب: چاته چي ښكنځلي وشي؛ نو آيا وايي به چي روژه يم؟------ ٤٦١
٦ باب: څوک چي په زنا کي د واقع کېدو وېره لري نو روژه دي نيسي ------------------------------------------------- ٤٦٩
٧ باب: د مياشتې په ليدو روژه نيسئ او په ليدو ئې عيد کوئ ------------------------------------------------------------ ٤٦٩
٨ باب: د عيدونو مياشتي نه کمېږي ------------------------ ٤٧٠
٩ باب: د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا قول: نه ليک کولی شو او نه حساب ----------------------------------------- ٤٧١
١٠ باب: له رمضان يوه يا دوې ورځي مخکي روژه نه شته -- ٤٧٢
١١ باب: د الله دا قول: أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَائِكُمْ ------------------------------------------------------------ ٤٧٢
١٢ باب: د الله تعالى دا قول: ((وَكُلُوا وَاشْرَبُوا. . .)) --------- ٤٧٣
١٣ باب: د پېشلمي او سهار لمانځه تر منځ څومره وخت وي- ٤٧٤
١٤ باب: پېشلمی برکت لري؛ خو واجب نه دئ ------------- ٤٧٦
١٥ باب: څوک چي د ورځي د روژې نيت وکړي ------------ ٤٧٦
"د فصح عيد" ------------------------------------------- ٤٧٨
١٦ باب: که په جُنُب روژتي سهار شي ---------------------- ٤٨٦
١٧ باب: په روژه کي خپله مېرمن په غېږ کي نيول --------- ٤٨٦
١٨ باب: که څوک په هېره څه وخوري يا وڅښي ----------- ٤٨٧
١٩ باب: که چا په روژه کي جماع وکړه ... ------------------ ٤٨٧
٢٠ باب: په روژه کي ښکر لگول--------------------------- ٤٨٩
٢١ باب: د مسافر روژه ----------------------------------- ٤٨٩
٢٢ باب: د روژې په دوران کي سفر ----------------------- ٤٩١
٢٣ باب: ------------------------------------------------ ٤٩٢

۲٤ باب: (په سفر کي روژه غوره کار نه دئ) ---------------- ٤۹۳
۲۵ باب: په سفر کي د روژه خوړلو او نیولو په اړه..---------- ٤۹٤
۲٦ باب: څوک چي مړ شي او روژه ورباندي قرض وي ------- ٤۹٤
۲۷ باب: روژتي به څه وخت روژه ماتوي ------------------- ٤۹۵
۲۸ باب: په روژه ماتي کي بیړه --------------------------- ٤۹٦
۲۹ باب: له لمر لوېدو مخکي روژه ماتول ------------------- ٤۹۷
۳۰ باب: د ماشومانو روژه ------------------------------- ٤۹۸
۳۱ باب: د پیشلمي تر وخته د روژې دوام------------------ ٤۹۹
۳۲ باب: د روژې وصلوونکي سزا -------------------------- ۵۰۰
۳۳ باب: څوک چي بل ته د نفلي روژې ماتولو قسم ورکړي --۵۰۲
۳٤ باب: د شعبان روژه ----------------------------------- ۵۰۳
۳۵ باب: د رسول الله د روژې او نه روژې بیان ------------ ۵۰۸
۳٦ باب: په روژه کي د بدن حق -------------------------- ۵۰۹
۳۷ باب: په روژه کي د کورنۍ حق ------------------------ ۵۱۰
۳۷ باب: که څوك د نورو لیدو ته ورشي خو خپله روژه ماته نه کړي ---------------------------------------------------- ۵۱۱
۳۸ باب: د میاشتي د پای روژه --------------------------- ۵۱۲
۳۹ باب: د جمعې د ورځي روژه -------------------------- ۵۱۳
٤۰ باب: د روژې لپاره ځانګړې ورځي --------------------- ۵۱٤
٤۱ باب: د تشریق د ورځو روژه --------------------------- ۵۱۵
٤۲ باب: د عاشوراء روژه --------------------------------- ۵۲۸

**۳۲ کتاب: د تروایح لمونځ ---------------------------- ۵۳۲**

۱ باب: په روژه کي د شپې لمونځ کوونکي فضیلت ---------- ۵۳۲

۲ باب: د رمضان په وروستيو اوو شپو كي د ليلة القدر لټول-٥٣٤
۳ باب: په وروستۍ لسيزه كي د ليله القدر لټون -----------٥٣٧
٤ باب: په وروستۍ لسيزه كي عبادت ---------------------٥٣٨

**د اعتكاف كتاب ---------------------------------- ٥٣٩**

۱ باب: اعتكاف په وروستۍ لسيزه كي ---------------------٥٣٩
۲ باب: اعتكاف كوونكى دي بې ضرورته كور ته نه ځي-----٥٣٩
۳ باب: په شپې كي اعتكاف -----------------------------٥٤٠
٤ باب: په جومات كي خيمې درول -----------------------٥٤٠
٥ باب: آيا معتكف د جومات تر دروازې وتلى شي؟ ----------٥٤١
٦ باب: د رمضان په منځنۍ لسيزه كي اعتكاف -------------٥٤٢

بسم الله الرحمٰن الرحیم

## د ناشر عرائض

د خپل مهربان رب حمد او ثناء وایو او د پراخو پېرزوینو ئې شکر اداء کوو چې موږ ته ئې د حکمة الباریٔ د درېیم جلد چاپ توفیق راکړ؛ یقیناً چې د الله تعالی لوري ته بلنه، په قرآن او سنت عمل، نورو ته ئې رسول، د اسلام د بریا لپاره فکري او عملي مبارزه؛ له جهل، ظلم او فساد سره مقابله؛ جهل ځپلي ټولني له تیارو ایستل؛ د مظلومانو په څنګ کې ودرېدل او د ظالمانو له منګولو ئې ژغورل؛ هغه ستر او عظیم کار دیٔ چې الله تعالی خپل لاربنود دین او خپل پیغمبران د همدې لپاره رالېږلي؛ د الله تعالی په وړاندي د دې جهاد مقام ډېر لوړ او اجر ئې ډېر ستر دیٔ، الله تعالی به دا مبارزین، مبلغین او دعوتګران د هغو مجاهدینو په قطار کې محسوبوي چې خپل سر او مال د الله د دین د غلبې لپاره قرباني کوي.

د ټولو هغو محققینو، لیکوالانو، دعوتګرانو او مبلغینو د زړه له کومي قدرونه کوو چې د دې سنګر په محراب کې په جهاد بوخت دي، له الله تعالی هغوی ته جزیل اجر او مزید توفیق غواړو. په دې لړ کې د حکمة الباریٔ مؤلف ته په ځانګړې توګه د اجر او لا زیات توفیق دعاء کوو چې د صحیح البخاري د ژباړې او شرحي درونډ او ستر کار ته ئې ملا تړلې او لومړی برخه ئې بشپړه او چاپ شوه؛ دې کار ته د دې لپاره د یوه ستر او د ستاینې وړ کار په سترګه ګورو چې دا لومړی ځل دیٔ چې په پښتو ژبې کې د احادیثو ژباړه او شرح په دقیقه توګه وړاندې

كېږي، افغانان له دې پلوه له يوې لويې تشې سره مخامخ ول، په پښتو او دري کې د احاديثو د ژباړې او شرحې په اړه د پام وړ کار نه وو شوی، هيله ده د حكمة البارئ په تکميل سره دا تشه ډکه شي. د دې کتاب د ليکلو او په دې حساس وخت کې د هغه د وړاندې کولو د مبارکې هڅې له زړه قدر کوو او ټولو هغو ورونو ته له الله تعالی اجر غواړو چې په دې ارزښتناك كار كې ئې په يوې او بلې بڼې برخه اخيستې ده.

د حكمة البارئ دا کتاب د حافظ ابو العباس زين الدين احمد د مختصر صحيح البخاري (التجريد الصريح للجامع الصحيح) پښتو ژباړه او شرحه دئ، إن شاء الله هر لوستونکی به دا يو داسې جامع او په زړه پوري کتاب ومومي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په حديث او سنت د پوهېدو تنده به ئې تر ډېره حده رفع شي؛ ټولو افغانانو، علماءو او طالبانو ته ئې د لوستلو او د مدرسو په تعليمي نصاب کې د هغه د شاملولو سپارښتنه کوو، دا په حقيقت کې د افغان مجاهد او پر خدای مين ولس هغې تلوسې ته مناسب او پر وخت ځواب دئ چې غوښتل ئې د بخاري په څېر د يوه مهم مذهبي کتاب شرح په خپلې مورنۍ ژبې تر لاسه کړي، موږ د مسلمانانو په علمي او فرهنگي زېرمې کې د دې مهم کتاب زياتونه يو مهم او تاريخي اقدام گڼو، په ځانگړې توگه اوس چې اسلامي امت په عامه توگه او افغانان په خاصه توگه؛ د نظامي يرغل تر څنگ له سخت او طوفاني فکري او فرهنگي يرغلونو سره مخامخ او له هر لوري تر بريدونو لاندې دي، ځيني د هغوی ملکونه ترې نيسي، ځيني ئې پر دين او مذهب بريدونه کوي، ځيني الحاد خوروي او ځيني اخلاقي فساد، ځيني په پټه ورسره جنگېږي او ځيني په څرگنده توگه، چا د ملا او مدرسې لوري ته جبهه پرانيستې ده او چا د مکتب او مکتبي لوري ته، يو غواړي د امت ځوانان له دين لرې او د الحاد او اخلاقي فساد په گنده ډنډ کې ئې غرق کړي، بل غواړي ملا او طالب په فرعي اختلافي شخړو کې مصروف او له خپل هغه ستر الهي

مسئولیت ئې غافل کړي چې د مسلمانانو د یووالي، د الله د حق دین د پلي کولو او د اسلامي امت د تېر مجد او عظمت د اعادې په اړه ئې لري. د دغو رنگ رنگ دښمنانو او بېلو بېلو جبهو په وړاندي د هر مؤمن دنده دا ده چي په هر محاذ کي د دښمن مقابلې ته چمتو شي، نه په تود جنگ کي دښمن ته شا کړي او نه په ساړه جنگ کي، هم په توره د دښمن مقابله وکړي او هم په ژبه او قلم؛ سنگر، منبر او دفتر ئې باید د مبارزې داسي مورچل وي چي د محراب (د حرب ډگر) ښکلی نوم ورسره ښايي. الله تعالی دي ټولو هغو مجاهدینو ته اجر او مزید توفیق ورکړي چي هم په توره د دښمن مقابله کوي او هم په قلم.

که څه هم له پښتو او فارسي پرته په نورو ژبو؛ مخصوصاً عربي کي د بخاري ډېري ژباړي او شرحي وړاندي شوې دي خو د دې کتاب ځیني داسي امتیازي ځانگړتیاوي دي چي په نورو کتابونو کي نه تر سترگو کېږي، د دې کتاب څو امتیازي ځانگړتیاوي دا دي:

- د روایاتو ژباړه ډېره دقیقه، فصیحه او سلیسه ده، نه یوازي د هر لفظ ژباړه په بشپړ دقت سره وړاندي کوي بلکي د متن بشپړ مطلب په احتیاط او امانت سره او په داسي اسلوب د لوستونکي مخي ته ږدي چي له ابهام او اغماض عاري وي او په آسانۍ سره ئې په مطلب پوه شي.
- د هر روایت متن، سند، ژباړه او شرح ئې زموږ مخي ته ږدي او دا راته واضح کوي چي دا روایت په بخاري کي څو ځلي راغلی، په کومو شمېرو او له کومو توپیرونو سره، دا توپیرونه جدي دي که عادي، د تعارض او تضاد په کچه دي که یوازي د الفاظو په کچه؟ کوم یو ئې د متن، محتوی او الفاظو له مخي ارجح دئ او په کومو دلائلو؟ د إسنادو له پلوه متواتر دئ که مشهور، عزیز یا غریب؟ آیا دا روایت په نورو کتابونو کي هم راغلی که نه؟ آیا داسي روایت په بخاري او نورو کتابو کي شته چي له دې روایت سره تعارض لري؟ که وي نو کوم یو ئې ارجح دئ؟ کوم یو ئې له قرآن سره اړخ لگوي او په قرآن کي د هغه لپاره شاهد

مومو؟

• هغه روايات په لا ډېر دقت او تفصيل سره څېړل شوي چي فقهاء په کي اختلاف لري، دا روايات په سړه سينه، له تعصب لري او په خالص علمي معيار څېړل شوي او هغه لوري ته ترجيح ورکړې شوې چي د قرآن، روايت او درايت په رڼا کي ئې تله درنه ختلې او دلائل ئې مضبوط دي.

• که څه هم دا کتاب د (التجريد الصريح للجامع الصحيح) چي د بخاري مختصر دئ، ژباړه او شرح ده؛ خو په حقيقت کي د بخاري ټول مکرر او غیر مکرر روايات په کي څېړل شوي، دا ځکه چي تر هر روايت لاندي هغو رواياتو ته هم اشاره شوې او توپيرونه ئې په ګوته شوي چي په بخاري کي په مکرره توګه راغلي.

• په اختلافي مسائلو کي هغه روايات هم د بخاري د رواياتو تر څنګ راوړل شوي چي په بخاري کي نه دي راغلي؛ متن او سند ته په پام سره ارجح روايت او رأيه په ګوته شوې.

په داسي حال کي چي د دې کتاب د ليکلو او په دې حساس وخت کي د هغه د وړاندي کولو د قدرمني هڅي د زړه له تله قدرونه کوو او مؤلف ته ئې له الله تعالی اجر او مزيد توفيق غواړو، دعاء کوو چي الله تعالی هغه ورځ راولي چي زموږ هېواد آزاد وي، د اسلام شين بيرغ په کي رپېږي، قرآن زموږ پر ټولني حاکم وي، د رسول الله صلی الله عليه و سلم په سنت عمل کېږي او د ټولني په فردي او اجتماعي برخو کي د الله تعالی مبارك دين او شريعت د يوازيني برلاسي او لاربښود قانون په توګه نافذ وي. و ما ذلك على الله بعزيز

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

## مقدمه

**ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ وَكَفَى وَسَلَٰمٌ عَلَىٰ عِبَادِهِ ٱلَّذِينَ ٱصۡطَفَىٰٓۗ و بعد:**

**د الله تعالی کتاب او د رسول الله حدیث او سنت زموږ دین او مذهب دئ؛ له هر چا او په هر کتاب کې چې صحیح حدیث ومومو؛ منو ئې او عمل پرې کوو؛ د حدیث د صحت لپاره زموږ شروط او معیارونه همغه دي چې د حدیث او فقه ائمه وو وضع کړي؛ هم د روایت او هم د راوي په اړه.**

**د روایت د صحت په اړه د هغوی شرائط دا دي: له قرآن سره به مطابقت لري، هیڅ برخه به ئې له قرآن سره متعارض نه وي، له بل صحیح حدیث سره به تعارض نه لري، د عقل، علم، فطرت او الهي سننو خلاف خبره به په کې نه وي، داسي شاذ او ناآشنا څه به نه وي په کې ویل شوي چې له یوه شخص او یوه کتاب پرته بل هیچا نه وي ویلي او په بل هیڅ کتاب کې نه وي لیدل شوي.**

**د راوي د اعتبار په اړه ئې شرائط دا دي: إیمان او عدالت، داسي صداقت چې د سیمي ډېری ئې د صادق په توګه پېژني او په همدې صفت ئې یادوي، داسي بشپړ امانت چې اورېدلی روایت له هر راز تصرف او لاسوهني پرته؛ انتقال کړي؛ نه د روایت په الفاظو او کلماتو او د هغوی په ترتیب کې د تغییر مرتکب شي او نه ئې په معنی کې، داسي نه چې په خپلو الفاظو د روایت معنی انتقالولو هڅه وکړي، د ضبط او حافظې قوت، د قرآن او حدیث علم، درایت او هوښیارتیا، داسي څه ونه**

وايي چي په ډېرو پوري مربوط وي خو له ده پرته بل چا نه وي ويلي.

د رواياتو او راويانو په اړه زموږ تګلاره همدا وه او وي به؛ د صحيح بخاري په شرح کي مو مراعات کړې او إن شاء الله تر پای به ئې مراعاتوو. که د حديث هر کتاب مو د تشريح او تدريس لپاره غوره کړی وی نو يقيناً چي همدا کار به مو کولو چي د بخاري په ارتباط ئې کوو.

هر شارح چي د حديث پر کوم کتاب شرح ليکلې؛ ډېريو ئې د همدغو اصولو په رڼا کي د کتاب روايات څېړلي، چڼلي، ارجح او مرجوح؛ معتبر او غير معتبر ئې په ګوته کړي، خو متأسفانه ځينو يوازي د روايت إسناد او د راويانو حالت او کيفيت ته په پام سره دا پرېکړه کړې چي روايت ئې د اعتبار وړ دئ که نه؛ د روايت متن او محتوی ته له پام پرته او قرآن ته ئې له راجع کولو او په رڼا کي ئې د صحت او عدم صحت په اړه له قضاوت کولو پرته؛ دا پرېکړه کوي چي صحيح دئ که ضعيف!! او ځيني په دې ناسم او ناقص اسلوب کي دومره غرق شوي چي که څوك ووايي: د روايت د صحت تر ټولو مهم او اساسي شرط دا دئ چي له قرآن سره مطابقت ولري؛ نو وېښتان ئې ځيږ او تندی ئې تريو شي او د انکار حديث د فتوی په غښو ئې په نښه کوي!!! دا په داسي حال کي چي دا د الله تعالی او د هغه رسول لارښوونه ده چي قرآن به د ټولو قضاوتونو لومړنی او وروستنی مرجع وي.

په داسي حال کي چي دا د ټولو درنو ائمه او فقهاءو؛ او په سر کي ئې د امام ابو حنيفه او امام شافعي رحمهما الله؛ رأی ده چي آحاد روايات د احکامو او عقائدو په ارتباط يوازي هغه مهال او په دې شرط د منلو او استناد وړ دي چي له قرآن سره مطابقت ولري؛ او د بخاري غوڅ اکثريت روايات آحاد دي؛ تکفيري ډلي چي ځان ته اهل حديث او د امام بخاري پلوي او مدافع وايي؛ او د بخاري د آحاد رواياتو په اړه دا رأی نه مني چي يوازي له قرآن سره د مطابقت او عدم تعارض په شرط به منل کېږي او سند به ئې داسي وي چي هر راوي به ئې دوه شاهدان لري؛ نو

ځکه د ټولو مذاهبو ائمه او پلویانو ته د منکر حدیث، اهل رأی او حتی مرتد خطاب کوي!!! دوی دا له مبالغې ډکه او د حقیقت خلاف ادعاء هم کوي چې ټولو محدثینو په دې اجماع او اتفاق کړی چې صحیح البخاري اصح الکتب دئ او هر روایت ئې صحیح!! خو حقیقت دا دئ: هیڅ محدث؛ نه دا خبره کړې او نه ئې عملاً له دې سره توافق کړی؛ نه د امام بخاري استادانو او نه ئې شاګردانو؛ د امام مسلم په شمول؛ هر محدث چې نوی کتاب ئې تصنیف کړی او پر مخکینیو کتابونو ئې بسنه نه ده کړې؛ د هغوی پر روایاتو او راویانو ئې ملاحظات او اعتراضونه درلودل؛ نو ځکه ئې بیل کتاب لیکلی؛ امام مسلم، ترمذي، ابو داؤد، ابن ماجه او نسائي همدا کار کړی؛ امام بخاري د خپلو استادانو کتابونه کافي نه دي ګڼلي او صحیح بخاري ئې تصنیف کړ؛ امام مسلم د ده شاګرد پاته شوی او تر ټولو نورو محدثینو ده ته ورنژدې دئ؛ د بخاري له نژدې ۷۵۰۰ روایاتو ئې یوازي په ۱۵۱۹ روایتو کې له امام بخاري سره متفق دئ او په ۶۰۰۰ کې نه یوازي موافق نه دئ بلکې د بخاري ٤١٤ روایات ئې په خپل کتاب کې د راوړلو وړ نه دي ګڼلي؛ او امام بخاري بیا د صحیح مسلم ٥٧٤ په خپل کتاب کې نه دي راوړي!! د نورو ائمه وو اختلاف له امام بخاري سره تر دې هم ډېر پراخ دئ.

دا هم په یادولو ارزي چې د حکمة البارئ درېیم جلد؛ لیکنه او درسونه مو د ۱٤٤۳ کال د روژې په میاشت کې پیل کړل؛ ۳٦ درسي ناستي مو درلودې او دوه نیمي میاشتي ئې ونیولې؛ په ۵۰۰ صفحو کې تنظیم شوی، د یو شمېر خبېرو ورونو له نظره هم؛ تر یو ځل زیات تېر شوی؛ دا دروند کار د کمپیوټر په مرسته او په دومره لنډه موده کې تر سره شوی؛ ویلی شم چې له کمپیوټر پرته به دا کتاب په دوه کلونو کې هم نه وو بشپړ شوی. د بخاري ۲۹۷ غیر مکرر روایات په کې شېړل شوي؛ دا د تجرید الصریح مُصَنِّف د ٦٥٤ روایاتو له منځه غوره کړي او د بخاري په دې مختصر کتاب کې ئې راوړي؛ په حکمة البارئ کې د دغو روایاتو

تکراري متنونه له شمېرو سره په ګوته شوي او په الفاظو او محتوی کې ئې موجود توپیرونه هم ښودل شوي؛ په ډېرو مواردو کې دا هڅه هم شوې چې وګورو دا روایات د حدیث په نورو کتابونو کې راغلي که نه؛ که راغلي نو په متن او راویانو کې ئې توپیرونه شته که نه؛ څنګه به د توپیرونو ستونزه حل کوو او څه به کوو چې اصح او تر ټولو غوره او موثق روایت تشخیص کړو؛ هیله ده حکمة الباریٔ له هغو لوستونکو سره مرسته وکړي چې غواړي په حدیث پوه شي، دقیقه او څرګنده ژباړه ئې په خپلې مورنۍ ژبې (پښتو) کې زده کړي، که له داسي روایاتو سره مخ کېږي چې له نورو سره توپیر او تعارض لري؛ وکولی شي د دلائلو له مخې او د قرآن په رڼا کې د دوی تر منځ قضاوت وکړي او هغه ترې غوره کړي چې د صحت دلائل ئې تر نورو زیات او مضبوط وي.

ځان او هغو عزیزانو ته چې دا درسونه ئې په درسي ناستو کې یا د بریا تلویزیون له لاري اورېدلي؛ یا ئې په دې کتاب کې ئې لولي او هغو ته چې د واقعي اسلامي نظام د پلي کېدو هیله لري او په دې لار کې په مبارزې بوخت دي؛ دعاء کوم چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په لارښوونو د ښه پوهېدو او د هغه په سنت د عمل کولو توفیق او سعادت راپه برخه کړي او هغه ورځ راباندي وګوري چې اسلام حاکم وي او د اسلامي امت تېر مجد او عظمت اعاده شوی وي. آمین

# ٢٤ کتاب: زکات

## ١ باب: د زکات فرضیت

٧٠٢- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّه عَنْهُمَا: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مُعَاذًا رضى الله عنه إِلَى الْيَمَنِ، فَقَالَ: «ادْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لا إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ، فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدِ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ، فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً فِي أَمْوَالِهِمْ، تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ وَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ». (بخاری: ١٣٩٥)

٧٠٢- له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چي نبي صلی الله علیه و سلم معاذ رضي الله عنه یمن ته ولیږو او وئې فرمایل: (هغوی (یمنیان) دې گواهي ورکولو ته راوبله چي له الله پرته بل معبود نه شته؛ او دا چي زه د الله رسول یم، که هغوی دا ومنله نو خبر ئې کړه چي الله تعالی پر دوی په هري شپې او ورځي کي پنځه لمونځونه فرض کړي، که دا ئې ومنله نو خبر ئې کړه چي الله تعالی په خپلو مالونو کې داسي صدقه (زکات) پرې فرض کړی چي د دوی له شتمنو اخیستل کېږي او فقیرانو ته ئې ورکول کېږي.

تکرار: دا روایت په بخاري کې ٧ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٣٩٥ - ١٤٥٨ - ١٤٩٦ - ٢٤٤٨ - ٤٣٤٧ - ٧٣٧١ - ٧٣٧٢ -

د لومړي (١٣٩٥) روایت راویان دا دي: أَبُو عَاصِمٍ الضَّحَّاك بْن مَخْلَدٍ، زَكَرِيَّاءَ بْنِ إِسْحَاقَ، يَحْيَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ صَيْفِيّ، أَبُو مَعْبَد او ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّه عنهما؛ له دې وروسته راویان بېل بېل دي؛ سره له دې چي لومړي راویان سره ورته دي خو د دغو ٧ روایاتو په الفاظو او د الفاظو

تركيب كې پراخ توپيرونه گورو؛ او دا ښيي چې دا روايات له يوه بل ته په تحريري توگه نه دي رسېدلي؛ بلكې يوه له بل اورېدلي؛ نه دي توانېدلي چې الفاظ په دقيقه توگه حفظ كړي او نورو ته ئې ورسوي. همدا راز له توپيرونو معلومېږي چې راويانو خپل روايات بالمعنى انتقال كړي؛ هر يوه چې څه له بل اورېدلي؛ يوازې د معنى انتقال هڅه ئې كړې او الفاظ ئې تر ډېره حده خپل وو نه په دقيقه توگه د مخكيني راوي الفاظ؛ ډېره گرانه ده چې اورېدلي الفاظ او تركيب ئې؛ په بشپړ امانت او دقت سره حفظ او انتقال شي؛ تاسو به د بخاري د مكررو رواياتو تر منځ دومره پراخ توپيرونه وگورئ چې له دې پرته بله توجيه ورته نه شئ موندلى.

د بخاري دا روايات او لومړني راويان ئې ۳ او دا دي: يحيى بن عبد الله بن صيفي، ابِي معبد او ابن عباس رضي الله عنهما:

١٣٩٥ - عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ صَيْفِيٍّ، عَنْ أَبِي مَعْبَدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مُعَاذًا رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ إِلَى اليَمَنِ، فَقَالَ: «ادْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ، فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدِ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ، فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً فِي أَمْوَالِهِمْ تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ وَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ»

١٤٥٨ - عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ صَيْفِيٍّ، عَنْ أَبِي مَعْبَدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا بَعَثَ مُعَاذًا رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ عَلَى اليَمَنِ، قَالَ: «إِنَّكَ تَقْدَمُ عَلَى قَوْمٍ أَهْلِ كِتَابٍ، فَلْيَكُنْ أَوَّلَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ عِبَادَةُ اللَّهِ، فَإِذَا عَرَفُوا اللَّهَ، فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي يَوْمِهِمْ وَلَيْلَتِهِمْ، فَإِذَا فَعَلُوا، فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ فَرَضَ عَلَيْهِمْ زَكَاةً مِنْ أَمْوَالِهِمْ وَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ، فَإِذَا أَطَاعُوا بِهَا، فَخُذْ مِنْهُمْ وَتَوَقَّ كَرَائِمَ أَمْوَالِ النَّاسِ»

١٤٩٦ - عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ صَيْفِيٍّ، عَنْ أَبِي مَعْبَدٍ، مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ حِينَ بَعَثَهُ إِلَى اليَمَنِ: «إِنَّكَ سَتَأْتِي قَوْمًا أَهْلَ كِتَابٍ، فَإِذَا جِئْتَهُمْ، فَادْعُهُمْ إِلَى أَنْ يَشْهَدُوا أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ، فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ، فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ وَاتَّقِ دَعْوَةَ المَظْلُومِ، فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللَّهِ حِجَابٌ»

٢٤٤٨ - عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ صَيْفِيٍّ، عَنْ أَبِي مَعْبَدٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مُعَاذًا إِلَى اليَمَنِ، فَقَالَ: «اتَّقِ دَعْوَةَ المَظْلُومِ، فَإِنَّهَا لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللَّهِ حِجَابٌ»

٤٣٤٧ - عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ صَيْفِيٍّ، عَنْ أَبِي مَعْبَدٍ، مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ حِينَ بَعَثَهُ إِلَى اليَمَنِ: «إِنَّكَ سَتَأْتِي قَوْمًا مِنْ أَهْلِ الكِتَابِ، فَإِذَا جِئْتَهُمْ فَادْعُهُمْ إِلَى أَنْ يَشْهَدُوا أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، فَإِنْ هُمْ طَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ، فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، فَإِنْ هُمْ طَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً، تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ، فَإِنْ هُمْ طَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ، وَاتَّقِ دَعْوَةَ المَظْلُومِ، فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللَّهِ حِجَابٌ» قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ: طَوَّعَتْ طَاعَتْ، وَأَطَاعَتْ لُغَةٌ، طِعْتُ وَطُعْتُ وَأَطَعْتُ

٧٣٧١ - عَنْ يَحْيَى بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ صَيْفِيٍّ، عَنْ أَبِي مَعْبَدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مُعَاذًا إِلَى اليَمَنِ»

٧٣٧٢ - عَنْ يَحْيَى بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ صَيْفِيٍّ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا مَعْبَدٍ، مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، يَقُولُ: سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ: لَمَّا بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ إِلَى نَحْوِ أَهْلِ اليَمَنِ قَالَ لَهُ: «إِنَّكَ تَقْدَمُ عَلَى قَوْمٍ مِنْ أَهْلِ الكِتَابِ، فَلْيَكُنْ أَوَّلَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَى أَنْ يُوَحِّدُوا اللَّهَ تَعَالَى، فَإِذَا عَرَفُوا ذَلِكَ، فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي يَوْمِهِمْ وَلَيْلَتِهِمْ، فَإِذَا صَلَّوْا، فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ زَكَاةً فِي أَمْوَالِهِمْ، تُؤْخَذُ مِنْ غَنِيِّهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فَقِيرِهِمْ، فَإِذَا أَقَرُّوا بِذَلِكَ فَخُذْ مِنْهُمْ، وَتَوَقَّ كَرَائِمَ أَمْوَالِ النَّاسِ»

توپیرونه: د دغو روایاتو تر منځ توپیرونو ته هم لږ ځیر شئ؛ چې دا دي: په یوه کې بَعَثَ مُعَاذًا رضي الله عنه إِلَى الْيَمَنِ په بل کې لَمَّا بَعَثَ مُعَاذًا رضي الله عنه عَلَى الْيَمَنِ په بل کې قَالَ لِمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ حِينَ بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ په بل کې لَمَّا بَعَثَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - مُعَاذًا نَحْوَ الْيَمَنِ، په یوه کې ادْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ په بل کې فَلْيَكُنْ أَوَّلَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ عِبَادَةُ اللَّهِ په بل کې فَإِذَا جِئْتَهُمْ فَادْعُهُمْ إِلَى أَنْ يَشْهَدُوا أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ په بل کې فَلْيَكُنْ أَوَّلَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَى أَنْ يُوَحِّدُوا اللَّهَ تَعَالَى، په یوه کې فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدِ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً فِي أَمْوَالِهِمْ، تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ وَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ په بل کې فَإِذَا عَرَفُوا اللَّهَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي يَوْمِهِمْ وَلَيْلَتِهِمْ، فَإِذَا فَعَلُوا، فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ فَرَضَ عَلَيْهِمْ زَكَاةً { تُؤْخَذُ } مِنْ أَمْوَالِهِمْ وَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ، فَإِذَا أَطَاعُوا بِهَا فَخُذْ مِنْهُمْ، وَتَوَقَّ كَرَائِمَ أَمْوَالِ النَّاسِ په بل کې فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ، فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ

فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ، وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ، فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللَّهِ حِجَابٌ په بل کي اتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ، فَإِنَّهَا لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللَّهِ حِجَابٌ په بل کي فَإِذَا عَرَفُوا ذَلِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي يَوْمِهِمْ وَلَيْلَتِهِمْ، فَإِذَا صَلُّوا فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ زَكَاةً فِي أَمْوَالِهِمْ تُؤْخَذُ مِنْ غَنِيِّهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فَقِيرِهِمْ، فَإِذَا أَقَرُّوا بِذَلِكَ فَخُذْ مِنْهُمْ وَتَوَقَّ كَرَائِمَ أَمْوَالِ النَّاسِ.

دا يوازي په بخاري کي د يوه روايت حال دئ؛ که همدا روايت په نورو کتابونو کي وګورئ نو توپيرونه به تر دې هم پراخ وومئ؛ نه يوازي په الفاظو کي بلکي په محتوی کي هم؛ په الفاظو کي توپير اکثراً په محتوی کي د تغيير او توپير باعث کېږي؛ په نورو کتابو کي به په ډېرو مواردو کي وګورئ چي د يوه کتاب روايت د بل له روايت سره عميقاً تعارض او حتی تناقض لري؛ حتی په يوه کتاب کي به وګورئ چي په يوه روايت کي ئې يو څه او په بل کي د همدې خلاف خبره شوې؛ په بخاري کي به ډېر مکرر روايات همداسي وومئ. په دې درسونو کي به ډېر دغسي روايات ستاسو مخي ته راشي.

همدا پرون ما د عمرې په بحث کي د څېړني په دوران کي وليدل چي د بخاري يو روايت وايي: اسماء بنت ابی بکر رضي الله عنها وويل: ما او خور مي عائشه رضي الله عنها طواف وکړ او بيا له احرام ووتلو او ماښام مو د حج نيت وکړ؛ په داسي حال کي چي په بخاري کي تر دغه روايت لړ وړاندي بل روايت داسي راغلی چي عائشه رضي الله عنها وايي: زه د يوه عذر له کبله له عمرې پاته شوې وم؛ له حج وروسته رسول الله صلی الله عليه و سلم له خپل ورور عبدالرحمن سره تنعيم ته ولېږلم چي عمره راباندي وکړي.

چي د يوې موضوع په ارتباط؛ دوو خوېندو ته منسوب روايت داسي

وي؛ نو د نورو به څه حال وي؟! دا خبره د دې لپاره کوو چي پوه شو په روایاتو کي؛ تر ډېره حده له توپیرونو او تفاوتونو سره مخامخ کېږو؛ د دوی له منځه د غوره او اصح روایت موندل او پېژندل گران کار دئ؛ دا داسي فقیه ته ضرورت لري چي تر حدیث وړاندي په قرآن پوه وي، په حدیث پوه وي؛ د حدیث علم او پوهه ئې په یوه کتاب کي منحصره نه وي، د درایت او فراست خاوند وي؛ حقپال وي؛ تقوی ولري او د تعصب له کبله د صحیح رأی او روایت خلاف له کمزوري او مرجوح رأی او روایت دفاع ونه کړي؛ د مذاهبو ائمه او فقهاء همداسي وو او همدا کار ئې کړی.

ومو لیدل چي په دې روایاتو کي زیات توپیرونه شته؛ او دا په داسي حال کي چي په دریو طبقو کي یو یو راوي لري، په څلورمي او پنځمي طبقې کي ئې راویان تر یوه زیات شوي، امام بخاري دا وضاحت نه دئ کړی چي دا توپیرونه د وروستنیو راویانو له لوري رامنځته شوي او که د لومړنیو راویانو له لوري، دا وضاحت هم نه دئ شوی چي معاذ بن جبل د والي په توگه لېږل شوی، که د قاضي په توگه، که د عامل (زکات راټولوونکي) په توگه او که د یوه داعي په توگه.

له دې وروسته به د ټولو روایاتو له راوړلو ډډه کوو یوازي توپیرونه به ئې وړاندي کوو؛ ما د حکمة الباریٔ په مخکینیو جلدونو کي همدا کار کړی؛ که مي ټول تکراري روایات راوړي وی نو څو جلده ضخیم کتاب ترې جوړېدو.

په پورتنیو تکراري روایاتو کي تر ټولو جامع ئې دا دئ:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضى الله عنهما - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - لِمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ حِينَ بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ « إِنَّكَ سَتَأْتِي قَوْمًا أَهْلَ كِتَابٍ، فَإِذَا جِئْتَهُمْ فَادْعُهُمْ إِلَى أَنْ يَشْهَدُوا أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ، فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، فَإِنْ هُمْ

أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ، وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ، فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللَّهِ حِجَابٌ »

له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چي نبي صلی الله علیه و سلم معاذ رضي الله عنه ته هغه مهال چي دی ئې یمن ته ولېږو وفرمایل: ته داسي یو قوم ته درومې چي اهل کتاب دي؛ نو کله چي ورغلې هغوی دې ته وبله چي ګواهي ورکړي له الله پرته بل معبود نه شته؛ او دا چي محمد د الله رسول دئ، که هغوی دا درسره ومنله نو خبر ئې کړه چي الله تعالی پر دوی په هري شپې او ورځي کي پنځه لمونځونه فرض کړي، که دا ئې درسره ومنله نو پوه ئې کړه چي الله تعالی په خپلو مالونو کي داسي صدقه (زکات) پرې فرض کړی چي د دوی له شتمنو اخیستل کېږي او فقیرانو ته ئې ورکول کېږي؛ که دا ئې درسره ومنله؛ نو د دوی له غوره مالونو ډډه کوه، د مظلوم له دعاء ځان ساته، یقیناً چي د ده او الله تر منځ هیڅ حجاب نه شته.

دا حدیث موږ ته ښیي چي په اسلامي نظام کي؛ د ولس په وړاندي؛ د حکومت او چارواکو مهم مسئولیتونه او دندي کومي دي او د اهمیت ترتیب او تسلسل ئې څنګه دئ؛ د دې حدیث د لارښونو په رڼا کي په څرګنده توګه ګورو چي د حکومت او چارواکو مسئولیتونه په دې توګه دي:

۱. توحید ته د خلکو بلل؛ په دې ئې پوهول چي له الله پرته بل معبود نه شته؛ او دا چي محمد د الله رسول دئ.

۲. له دې وروسته لومړی ستر او مهم کار چي حکومت باید تر ټولو زیات او په لومړي سر کي ورته اهتمام ولري؛ د لمونځ اقامه او خلك په دې پوهول چي الله تعالی پر دوی په هري شپې او ورځي کي پنځه لمونځونه فرض کړي، د دغي فریضې اداء کولو ته خلك چمتو کول.

٣. درېیمه مهمه دنده ئې دا ده چې له فقر او مسکنت سره مقابله وکړي؛ فقیران له لوږې او فقر وژغوري؛ هغه هم په دې توګه چې خلکو ته دا لارښوونه وکړي: الله تعالی د دوی په شتمنیو او مالونو کې داسې (زکات) پرې فرض کړی چې له شتمنو به ئې اخیستل کېږي او فقیرانو ته به ئې ورکول کېږي؛ یعنې د زکات راغونډول او پر فقیرانو وېشل ئې د اسلامي حکومت درېیمه اساسي دنده ده.

٤. د اسلامي نظام چارواکي مکلف شوي چې له خلکو به یوازې هغه څه تر لاسه کوي چې الله تعالی پرې فرض کړي؛ نه دا چې د خپلې خوښې مالیات پرې وضع کړي؛ او څه او څومره چې زړه ئې غواړي او خوښ ئې شي؛ ترې وائې خلي؛ همغسې لکه چې غیر اسلامي حکومتونه او حکام ئې کوي؛ له خلکو په مختلفو نومونو او څومره چې ئې خوښه وي مالیات، محصولات او ګمرکات اخلي؛ هغه هم نه یوازې له شتمنو بلکې تر دوی وړاندې او زیات له عام ولس او له غیر شتمنو وګړو؛ خو د فقیرانو په وړاندې او له فقر او احتیاج د دوی د ژغورلو په اړه نه د مسئولیت احساس کوي او نه دا خپله دنده او وظیفه ګڼي؛ نن چې د ګمرك په نامه څه اخیستل کېږي؛ په حقیقت کې له نادارو او اړمنو اخیستل کېږي؛ په اسلام کې داسې مالیات نه شته؛ دا حدیث موږ ته همدا لارښوونه کوي.

٥. له ظلم او تېرې ډډه کول، د مظلوم له ښېراوو ځان ساتل؛ او په خپلو تصرفاتو او اجراءاتو کې تل او په دقت سره دا په پام کې لرل چې د مظلوم او الله تعالی تر منځ هیڅ حجاب نه شته.

په دې روایاتو کې دا وضاحت نه دئ شوی چې د زکات اموال به په اړوند سیمې کې پر فقراءو وېشل کېږي که بلې سیمې ته ئې انتقال او پر نورو فقیرانو ئې وېشل هم جائز دي. د روایت له فحوی او د رسول الله صلی الله علیه و سلم له سنت او د صحابه وو له منهج معلومېږي چې د زکات لومړني مستحقین د اړوند سیمې فقیران دي، د روایت الفاظ هم

وايي: د دوی له شتمنو اخيستل کېږي او د دوی فقيرانو ته ورکول کېږي، خو د مسلمانانو امير کولی شي او دا صلاحيت لري چي د ضرورت په صورت کي د زکات اموال بلي سيمي ته انتقال او پر نورو فقيرانو ووېشل شي. دې ته مو هم بايد پام وي چي د زکات مستحقين يوازي فقيران نه دي، قرآن د زکات د مصرف موارد موږ ته جوت کړي، د التوبه سورې په ٦٠ آيت کي دغه وګړي د زکات مستحقين ګڼل شوي:

١. فقيران: هغه چي هيڅ نه لري،
٢. مسکينان: هغه چي څه لري خو ورته کفايت نه کوي،
٣. عاملين: د زکات اړوند مأمورين،
٤. مؤلفة القلوب: هغه چي په څه مرستو سره ئې د اسلام لوري او د مسلمانانو ملګرتيا ته د دوی راغب کول مفيد او ګټور وي،
٥. د غلامانو آزادول؛ او له هغه غلام سره مرسته کول چي غواړي له مالك سره د مکاتبې له لاري خپله آزادي وپېري،
٦. د پوروړو ژغورل،
٧. د الله په لار کي: په جهادي امورو او په عام المنفعه چارو کي،
٨. او له هغو مسافرانو سره مرسته چي محتاج شوي وي.

دې ته په پام سره چي اسلام يوازي په توحيد، لمونځ او زکات کي نه خلاصه کېږي؛ نور عقائد، فرائض او احکام هم شته، لکه په آخرت ايمان، په کتابونو ايمان، په قضاء او قدر ايمان، روژه، حج، امر بالمعروف، نهي عن المنکر، جهاد... نو په يقين سره ويلی شو چي په دې روايت کي د هغو لارښوونو يوازي يوه وړه برخه ذکر شوې چي رسول الله صلی الله عليه و سلم به معاذ رضي الله عنه ته کړې وي، د نورو لارښوونو تر څنګ به ئې هغه ته دغه لارښووني هم کړې وي چي په دې روايت کي ورته اشاره شوې.

په روايت کي دا هم نه دي ويل شوي چي معاذ رضي الله عنه ټول

یمن ته لېږل شوی که ئې یوې برخې ته، له نورو روایاتو معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د یمن پنځو برخو ته پنځه کسان لېږلي: خالد بن سعيد صنعاء ته، مهاجر بن أبي أمية كنده ته، زياد بن لبيد حضرموت ته، معاذ بن جبل جندل ته او أبي موسی؛ زبيد، عدن او ساحل ته.

د روایت په الفاظو کې اجمال او اختصار د دې باعث شوی چې په تعبیر کې ئې د علماءو تر منځ اختلاف رامنځته شي، ځینو ویلي چې له هر غني به زکات اخیستل کېږي؛ که بالغ وي او که نابالغ؛ ګواکې زکات پر مال فرض کېږي او هر غني احتواء کوي؛ دوی وايي چې عمر، علي، عائشة او ابن عمر رضي الله عنهم هم دغه رأیه درلوده؛ ځیني نور وايي چې د یتیم په مال کې تر هغه زکات نه شته چې بلوغ ته ورسېږي؛ سفیان الثوري، عبد الله بن المبارك، أبو حنيفة او یاران ئې؛ أبو وائل، سعید بن جبیر، النخعي، الشعبي او الحسن البصري رحمهم الله په دې ډلې کې دي. په دوی کې ځیني په دې باور دي چې ټولو صحابه وو پر دې رأیې اتفاق کړی؛ سعید بن المسیب وایي: زکات یوازي پر هغه چا فرض دئ چې لمونځ او روژه ورباندې فرض شوي.

ځیني د دې روایت په استناد وايي: په مال کې له زکات پرته بل حق نه شته؛ خو په مقابل کې ئې نور په دې باور دي چې پر زکات سربېره نور مالي وجائب او حقوق هم شته؛ ځیني رسول الله صلی الله علیه و سلم ته دا روایت منسوبوي:

عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ؛ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «فِي الْمَالِ حَقٌّ سِوَى الزَّكَاةِ؛ وَتَلَا هَذِهِ الْآيَةَ (لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ)

او ځیني دا روایت:

عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ، أَنَّهَا سَمِعَتْهُ تَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لَيْسَ فِي الْمَالِ حَقٌّ سِوَى الزَّكَاةِ»

که څه هم د فاطمه بنت قيس دا روايت د دې له مخکيني روايت سره تعارض لري؛ او يوازي مخکينی ئې غوره کولی شو؛ البته د مسلمان مالي وجائب په زکات کي نه خلاصه کېږي، نه يوازي دا چي مسلمان پر زکات علاوه ډېر نور مالي مکلفيتونه لري، ډېر نور د ده په مال کي ورسره شريك دي او دی ئې په وړاندي مسئوليتونه لري، مېرمني ته مهر ورکول، د خپلي کورنۍ مېرمني او اولاد ورځني ضروري مصارف په غاړه اخيستل، په همدې ضمن کي دي، د دغو دوو اختلافي آراءو تلفيق داسي کېدی شي چي د خلکو په مالونو کي يو هغه حق دیٔ چي اسلامي حکومت ئې پر اخستلو گمارل شوی او حکومت ته به ورکول کېږي؛ دا په زکات کي محدود او مختص شوی او حکومت نه شي کولی پر زکات علاوه کوم بل بل څه له خلکو واخلي؛ لکه پر زمکي، کور او دکان ماليه، گمرکي محصول، په يوه بل نامه کميشن، او تر بل هر نامه لاندي؛ له خلکو څه په زور اخستل منع دي او ظلم او تعدي گڼل کېږي؛ اما هغه مالي وجائب چي مسلمان ئې د خپلي کورنۍ، مېرمن، اولاد، خپلوان، گاونډيان، هر فقير، مسکين، محتاج او مضطر انسان په وړاندي لري، يا مکلف دیٔ د جهاد لپاره وسائل او تجهيزات برابر کړي او دې ته ورته مواردو کي مصارف کول د هر شتمن مسلمان په مالي مکلفيتونو او وجائبو کي راځي.

دا هم بايد په پام کي ولرو چي اسلامي حکومت هم کولی شي د ضرورت په صورت کي په ځانگړې توگه هغه مهال چي د اضطراري حالت له کبله د ولس مزيد مرستو ته اړ شي؛ له هغوی پر زکات سربېره نوري مرستي وغواړي؛ چي فقهاءو د مصالح مرسله او سد ذرائع نوم ورکړی؛ خو په داسي مواردو کي به هره پرېکړه د ټولو مسلمانانو په اتفاق او رضايت سره کېږي؛ نه د امراءو په فوق العاده فرمانونو سره؛ د مسلمانانو هغه شوری به داسي پرېکړي کوي چي ټول ملت تمثيلوي، غړي ئې د ملت معتمد وکيلان وي؛ دا ځکه چي شريعت له يوې خوا په داسي مواردو کي شوری او د مسلمانانو رضايت واجب کړی او له بلي خوا وايي:

هیڅوك حق نه لري حدود، احکام او وجائب وضع کړي، یا په حدودو او احکامو کې کمی او زیاتی وکړي او له ځان شارع جوړ کړي. قرآن وايي: الله تعالی د احکامو په وضع کولو کې هیڅوك له ځان سره نه شریکوي؛ دغه روایات هم په واضح الفاظو وايي چې (لَيْسَ فِي الْمَالِ حَقٌّ سِوَى الزَّكَاةِ: په مال کې له زکات پرته بل حق نه شته)؛ يعني هغه څه چې حکومت ئې له خلکو تر لاسه کوي فقط زکات دئ چې نصاب، مقدار او د مصارفو ټول موارد ئې د شریعت له لوري ټاکل شوي؛ مقدار ئې پنځمه، لسمه، شلمه او څلوېښتمه دئ؛ نه ئې څوك نصاب بدلولی شي او نه مقدار.

د مثال په توگه وايو: شریعت په شتمنیو کې د زکات نصاب او مقدار ټاکلی؛ په شتمنیو کې ئې د هستوگني خپل کور، د کور ضروري او تر استعمال لاندې وسائل، د سورلۍ آس، اوښ او موټر، د مېرمنو گاڼه.... له زکات مستثنی کړي؛ نو حکومت حق نه لري چې له چا د کور، دکان، موټر، کراچۍ... مالیه واخلي، د دکان، موټر، لاسي کراچۍ، لوحې او بل هر نامه کمیشن او مالیه ترلاسه کړي، حکومت حق نه لري له هغه چا څه واخلي چې شتمني ئې د زکات نصاب ته نه وي رسېدلې؛ زموږ د ولس اکثریت داسي دئ چې په زحمت سره کولی شي خپل ورځني ضرورتونه پوره کړي او د خپلي کورنۍ د خوراك، لباس، دواء، د تعلیم مصارف، د کور کرایه، ... له عهدې ووتلی شي؛ فقیر او مسکین په بیت المال کې تر ټولو وړاندې مسلم حق لري؛ اما متأسفانه اوس له ټولو افغانانو؛ که شتمن دي او که فقیر او مسکین؛ په مختلفو نومونو مالیې اخستل کېږي، پر ټولو وارداتي اجناسو؛ د خوراکي توکیو، دواء او جامو په شمول ناروا او لوړ گمرکي محصول اخستل کېږي؛ دا نه یوازې حرام دي او هیڅ شرعي مجوز ورته نه شو موندلی؛ بلکې څرگند ظلم دئ؛ د گمرکاتو اصلي اداءکوونکي نه تاجران دي او نه شتمن؛ هغه عام ولس ئې تأدیه کوي چې غوڅ اکثریت ئې د فقر او مسکنت حالت کې دي؛ د اسلام له

نظره حکومت د فقیرانو او مسکینانو متکفل دئ، په بیت المال کې لومړي مستحقین دوی دي، داسې نظام رامنځته کول حرام او ناجائز دي چې فقیران، مسکینان او هغه چې شتمني ئې د نصاب حد ته نه وي رسېدلې؛ په یوه او بل نامه د مالیې او ټکس په ورکولو ګماري؛ او که دا ظلم د اسلام تر لاندي کېږي نو یقیناً چې دا هم له اسلام سره جفا ده او هم له ولس سره؛ او که له دغو لارو تر لاسه شوي مبالغ حکامو ته د اشرافي ژوند په برابرولو لګېږي؛ له دې جفا او ظلم الله تعالی ته پناه وړو!!

د روایت له دغي فقرې (تؤخذ من اغنیاءهم) معلومېږي چې زکات د اسلامي حکومت له لوري له اغنیاءو اخیستل کېږي او په خپلو خاصو مواردو کې مصرف کېږي؛ او دا هغه څه دي چې د التوبې د سورې په دغه آیت کې ورته اشاره شوې:

خُذۡ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡ صَدَقَةٗ تُطَهِّرُهُمۡ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيۡهِمۡۖ إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٞ لَّهُمۡۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٠٣﴾ التوبه

له مالونو ئې داسې صدقه تر لاسه کړه چې پرې پاك او تزکیه ئې کړې او دعاء ورته وکړه، یقیناً چې ستا دعاء ورته یوه ډاډېینه ده؛ او الله پوه اورېدونکی دئ.

خو دا باید په پام کې ولرو چې زکات د اسلامي حکومت له لوري له هغو مسلمانانو اخیستل کېږي چې د اسلامي حکومت تر واك لاندي سیمې کې ژوند کوي او د سیمې اداره او د ولس امنیت تأمینوي، رسول الله صلی الله علیه و سلم د مدني دور په وروستیو کې د زکات غونډولو لړۍ پیل کړه. متأسفانه ځیني دې اصل ته له پام پرته د زکات د اخیستلو فتوی هر هغه چا ته ورکوي چې پر کومې سیمې د زور او وسلې په مرسته مسلط شي، د جهاد په دوران کې داسې خلك هم راڅرګند شول چې په کومې غرنۍ سیمې کې به ئې جبهه پرانیستله او بیا به ئې د سیمې له خلکو په زور د زکات په نامه پیسې اخیستلې، حتی د هیروئینو او

چرسو عشر به ئې هم اخیستلو!!! خو کله چې به سیمي ته دولتي ځواکونه ورغلل نو له معمولي مقاومت پرته به ئې سیمه خوشې کړه؛ او بیا به دولتي ځواکونو له همدغو مظلومانو مالیه تر لاسه کوله!!

دې ته هم باید متوجه وو چې د اسلامي حکومت د بیت المال او خزانې مهم شرائط دا دي: ۱- دا د ملت امانت دئ؛ حکام په کې په خپل سر او خوښه د تصرف حق نه لري؛ هر لوی او ووړ تصرف به د ملت په خوښه او مشوره او د اسلامي لارښوونو مطابق وي؛ د امیر المؤمنین او نورو حکامو تر معاش پورې؛ ۲- په دې کې حرام مال او شتمني نه شي جمع کېدی او په حرامو لارو نه شي مصرف کېدی؛ د مصارفو موارد او ترتیب او تسلسل به ئې همغې وي چې قرآن ښودلی؛ ۳- که اسلامي حکومت نه وي نو شتمن باید خپل زکات په خپله پر مستحقینو ووېشي؛ اسلامي حکومت هغه دئ چې مشر ئې د مسلمانانو له لوري غوره شوی وي؛ شریعت ته التزام لري او کارونه ئې له ولس سره په مشوره وي؛ د داسې حکومت په نه شتون کې؛ غوره دا ده چې مسلمانان خپل زکات کوم ډاډمن او صالح اسلامي تنظیم ته وسپاري او د مصرف څرنګوالی او موارد ئې همدې تنظیم ته پرېږدي.

له روایت دا هم معلومېږي چې الله تعالی د مظلوم دعاء قبلوي که څه هم کافر وي.

۷۰۳ - عَنْ أَبِي أَيُّوبَ رضى الله عنه: أَنَّ رَجُلاً قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ. قَالَ: «مَا لَهُ مَا لَهُ» وَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: «أَرَبٌ مَا لَهُ، تَعْبُدُ اللَّهَ وَلا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلاةَ، وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ، وَتَصِلُ الرَّحِمَ». (بخاری: ۱۳۹۶)

۷۰۳- له ابو ایوب رضي الله عنه روایت دئ چې یوه سړي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وویل: له داسې عمل مې خبر کړه چې جنت ته مې داخل کړي، یوه صحابي وویل: څه غواړي؟ څه غواړي؟ نبي صلی الله

عليه و سلم وفرمايل: څه چي غواړي يوه اړتيا ده، بيا ئې سؤال كوونكي ته وفرمايل: "د الله عبادت كوه، هيڅ څه مه ورسره شريكوه، لمونځ كوه، زكات وركوه او خپلوي پاله".

تكرار: دا روايت په بخاري کي دوه ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی: ٥٩٨٢، ٥٩٨٣

توپير: په يوه کي ويل شوي: أَنَّ رَجُلاً قَالَ لِلنَّبِيّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په بل کي قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، په يوه کي قَالَ: «مَا لَهُ مَا لَهُ»، په بل کي فَقَالَ الْقَوْمُ مَا لَهُ مَا لَهُ.

٧٠٤- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه: أَنَّ أَعْرَابِيًّا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ إِذَا عَمِلْتُهُ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ. قَالَ: «تَعْبُدُ اللَّهَ لا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلاةَ الْمَكْتُوبَةَ، وَتُؤَدِّى الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ، وَتَصُومُ رَمَضَانَ». قَالَ: وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ لا أَزِيدُ عَلَى هَذَا. فَلَمَّا وَلَّى، قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: «مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، فَلْيَنْظُرْ إِلَى هَذَا». (بخارى: ١٣٩٧)

٧٠٤- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي: يو كوچی نبي صلی الله عليه و سلم ته راغی او وئې ويل: داسي عمل راوښيه چي په كولو سره ئې جنت ته داخل شم. وئې فرمايل: د الله تعالی عبادت كوه او هيڅ څه مه ورسره شريكوه، فرض لمونځونه كوه، فرض زكات وركوه او د رمضان روژه نيسه، هغه وويل: قسم په هغه ذات چي زما سا ئې په واک کي ده پر دې به هيڅ څه زيات نه کړم، كله چي ئې شا واړوله او ولاړ، نبي صلی الله عليه و سلم وفرمايل: (كه څوک په دې خوښېږي چي يو جنتي سړی وګوري نو ده ته دي وګوري).

دغه مطالب د بخاري په څلورو نورو رواياتو کي هم راغلي چي شمېرې ئې دا دي: ٤٦، ١٧٩٢، ٢٥٣٢، ٦٥٥٦

توپير: په دوی کي دا توپيرونه تر سترګو كېږي: په يوه کي أَنَّ أَعْرَابِيًّا

أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او په بل کې جاء رجل إلى رسول الله صلى الله عليه و سلم من أهل نجد ثائر الرأس په بل کې أن أعرابيا جاء إلى رسول الله صلى الله عليه و سلم ثائر الرأس په بل کې جاء رجل إلى رسول الله صلى الله عليه و سلم فإذا هو يسأله عن الإسلام په يوه کې دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ إِذَا عَمِلْتُهُ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ، په بل کې فإذا هو يسأل عن الإسلام، په بل کې فقال يا رسول الله أخبرني ماذا فرض الله علي من الصلاة، أخبرني ما فرض الله علي من الصيام، أخبرني بما فرض الله علي من الزكاة، په بل کې فإذا هو يسأله عن الإسلام، په يوه کې تَعْبُدُ اللَّهَ لا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلاةَ الْمَكْتُوبَةَ، وَتُؤَدِّي الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ، وَتَصُومُ رَمَضَانَ په بل کې خمس صلوات في اليوم والليلة، إلا أن تطوع، وصيام رمضان إلا أن تطوع، والزكاة إلا أن تطوع، په بل کې الصلوات الخمس إلا أن تطوع شيئا، شهر رمضان إلا أن تطوع شيئا، په بل کې فأخبره رسول الله صلى الله عليه و سلم بشرائع الإسلام، په يوه کې وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لا أَزِيدُ عَلَى هَذَا په بل کې والذي أكرمك لا أتطوع شيئا ولا أنقص مما فرض الله علي شيئا په بل کې والله لا أزيد على هذا ولا أنقص، په يوه کې مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، فَلْيَنْظُرْ إِلَى هَذَا په بل کې أفلح إن صدق أو دخل الجنة إن صدق په بل کې أفلح إن صدق راغلي.

له دې او دې ته ورته رواياتو معلومېږي چې که څوك فرائض تر سره کړي؛ نو د دنيا او آخرت بريا ئې په برخه کېږي؛ که څه هم په فضائلو او تر فرائضو رالاندې امورو کې کمی او قصور ولري؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم چې د هغه کوچې په اړه څه ويلي او په فرائضو اکتفاء ئې د جنتي کېدو لپاره کافي ګڼلې؛ موږ هم بايد د هر مؤمن په اړه همدا قضاوت ولرو؛ نه دا چې د مستحباتو او فضائلو په ترك سره څوك تکفير کړو او د اسلام له دائرې ئې وتلی وګڼو او د پايڅو او مسواك له مخې د بل په اړه قضاوت وکړو؛ جنتي او دوزخي ئې کړو.

٧٠٥- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ: لَمَّا تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ

أَبُو بَكْرٍ رضى الله عنه، وَكَفَرَ مَنْ كَفَرَ مِنَ الْعَرَبِ، فَقَالَ عُمَرُ رضى الله عنه: كَيْفَ تُقَاتِلُ النَّاسَ؟ وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم: «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا: لا إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، فَمَنْ قَالَهَا فَقَدْ عَصَمَ مِنِّي مَالَهُ وَنَفْسَهُ إِلاَّ بِحَقِّهِ، وَحِسَابُهُ عَلَى اللَّهِ» فَقَالَ: وَاللَّهِ لأُقَاتِلَنَّ مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ الصَّلاةِ وَالزَّكَاةِ، فَإِنَّ الزَّكَاةَ حَقُّ الْمَالِ، وَاللَّهِ لَوْ مَنَعُونِي عَنَاقًا كَانُوا يُؤَدُّونَهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَاتَلْتُهُمْ عَلَى مَنْعِهَا. قَالَ عُمَرُ رضى الله عنه: فَوَاللَّهِ مَا هُوَ إِلاَّ أَنْ قَدْ شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَ أَبِي بَكْرٍ رضى الله عنه لِلْقِتَالِ، فَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَقُّ. (بخاری: ١٣٣٩، ١٤٠٠)

٧٠٥- له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: کله چي رسول الله صلى الله علیه و سلم وفات شو او أبو بکر رضي الله عنه (خلیفه) شو؛ او له عربانو ځیني کافران شول؛ عمر رضي الله عنه (ابو بکر رضي الله عنه) ته وویل: څنګه له خلکو سره جګړه کوې؟ په داسي حال کي چي رسول الله صلى الله علیه و سلم فرمایلي: (په دې ګمارل شوی یم چي تر هغه له خلکو سره وجنګېږم چي ووایي: له الله پرته بل معبود نه شته، چا چي دا کلمه وویله نو ځان او مال ئې له ما خوندي کړ، مګر په حق سره ئې او حساب ئې پر الله دئ؛ نو ابو بکر رضي الله عنه وویل: قسم په خدای له هغو سره به حتماً جنګېږم چي د لمانځه او زکات تر منځ توپیر کوي؛ دا ځکه چي زکات مالي حق دئ؛ قسم په الله که یو سېرلی چي رسول اکرم صلى الله علیه و سلم ته ئې ورکولو له ما وسپموي نو حتماً به د دې امتناع له کبله ورسره وجنګېږم؛ عمر رضي الله عنه وویل: قسم په الله چي دا له دې پرته بل څه نه دي چي الله د ابو بکر رضي الله عنه سینه جنګ ته پرانیستلې ده؛ او زه پوه شوم چي حق همدا دئ.

تکرار: دا روایت په بخاري کي څلور ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ١٤٠٠، ١٤٥٦، ٦٩٢٥، ٧٢٨٥

توپیرونه: په یوه کې د عمر رضي الله عنه دا وینا كَيْفَ تُقَاتِلُ النَّاسَ؟ راغلې خو په نورو کې نه ده راغلې؛ په یوه کې فَوَاللَّه مَا هُوَ إِلاَّ أَنْ قَدْ شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَ أَبِي بَكْرٍ رضي الله عنه لِلْقِتَالِ، فَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَقُّ په بل کې فَوَاللَّهِ مَا هُوَ إِلاَّ أَنْ رَأَيْتُ أَنْ قَدْ شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَ أَبِي بَكْرٍ لِلْقِتَالِ فَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَقُّ په بل کې مَا هُوَ إِلاَّ أَنْ رَأَيْتُ اللَّهَ قَدْ شَرَحَ صَدْرَ أَبِي بَكْرٍ لِلْقِتَالِ فَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَقُّ راغلي.

په دې روایاتو کې د ابو بکر رضي الله عنه د خلافت په لومړیو کې هغې فتنې ته اشاره شوې چې د زکات د مانعینو له لوري راولاړه شوه؛ ابو بکر رضي الله عنه د هغوی په ضد د جګړې اراده وکړه؛ د عمر رضي الله عنه په شمول ځینو صحابه وو دا مناسب نه ګڼله چې په هغه حساس وخت کې د دوی په ضد جګړه پیل شي؛ عمر رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه و سلم پر دې حدیث استناد کولو چې وایي: په دې ګمارل شوی یم چې تر هغه له خلکو سره وجنګیږم چې ووایي: له الله پرته بل معبود نه شته، چا چې دا کلمه وویله نو ځان او مال ئې رانه خوندي کړ...، ابو بکر رضي الله عنه د التوبه د سورې پر پنځم آیت استناد کولو چې وایي:

فَإِذَا ٱنسَلَخَ ٱلۡأَشۡهُرُ ٱلۡحُرُمُ فَٱقۡتُلُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ حَيۡثُ وَجَدتُّمُوهُمۡ وَخُذُوهُمۡ وَٱحۡصُرُوهُمۡ وَٱقۡعُدُواْ لَهُمۡ كُلَّ مَرۡصَدٖۚ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٥

نو کله چې دا محترمې میاشتې تېرې شوې؛ نو هر ځای چې دا مشرکان مومئ وئې وژنئ، وئې نیسئ، محاصره ئې کړئ او په هر کمینځي کې ورته کښېنئ؛ نو که ئې توبه وکړه، لمونځ ئې قائم کړ او زکات ئې ورکړ؛ نو لاره ئې خوشې کړئ؛ بې شکه چې خدای بخښونکی مهربان دئ.

له دې آیت په څرګنده توګه معلومېږي چې د لمانځه له تارکینو او د زکات له مانعینو سره جګړه کېدی شي؛ ابو بکر صدیق رضی الله عنه پر

همدې آيت استناد وکړ او د هغو خلکو په خلاف ئې د جګړې فيصله وکړه چې د اسلام دعوی ئې درلوده خو د زکات له ورکړې ئې امتناع کوله.

متأسفانه ځيني د دې پېښې ظواهرو ته په پام سره داسې انګېرې چې د مسلمانانو امير کولی شي له مسلمانانو سره له مشورې پرته پرېکړه وکړي؛ په داسې حال کې چې خبره قطعاً داسې نه ده؛ مشوره يو شرعي مکلفيت دئ؛ هيڅوك حق نه لري دا الهي لارښوونه له پامه وغورځوي؛ ابو بکر رضي الله عنه د قرآن په څرګند آيت استناد کړی، د عمر رضي الله عنه په شمول له ټا سره چې بله رأيه وه له خپلې رأيې تېر شوي او له ابو بکر رضي الله عنه سره ئې توافق کړی؛ او د جنګ پرېکړه په اتفاق سره شوې؛ د روايت الفاظ په ډېر صراحت سره وايي چې عمر رضي الله عنه په ډېر تأکيد سره وويل: قسم په الله چې دا له دې پرته بل څه نه دي چې الله د ابو بکر رضي الله عنه سينه جنګ ته پرانيستلې ده؛ او زه پوه شوم چې حق همدا دئ.

د خيبر يهودانو په اړه چې عمر رضي الله عنه؛ له ټولو مسلمانانو سره له مشورې وروسته کومه پرېکړه کړې؛ او اجماع ئې رامنځته کړې؛ او د همدې متفقه پرېکړې له مخې ئې عمل کړی؛ د دې واضح عملي مثال دئ؛ په هغه روايت کې راغلي: عمر رضي الله عنه وويل: نو زما رأی دا ده چې دوی تبعيد شي؛ ابن عمر وايي: کله چې عمر رضي الله عنه په دې اړه اجماع رامنځته کړه؛ د بني ابي الحُقَيْق يو تن ورته راغی او وئې ويل: يا امير المؤمنين! آيا موږ باسې؛ په داسې حال کې چې محمد صلی الله عليه و سلم پرېښودلو؛ او پر خپلو اموالو (زمکو او باغونو) ئې وګمارلو چې کار په کې وکړو؛ او دا شرط ئې موږ ته وټاکلو؟

دې ته بايد متوجه وو چې د زکات له ورکړې امتناع له نظام بغاوت دئ او د باغي خلاف تر هغه جنګ جائز دئ چې له بغاوت لاس واخلي.

۲ باب: د زکات نه ورکولو ګناه

٧٠٦- عن أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: «تَأْتِي الإِبِلُ عَلَى صَاحِبِهَا عَلَى خَيْرِ مَا كَانَتْ، إِذَا هُوَ لَمْ يُعْطِ فِيهَا حَقَّهَا، تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا، وَتَأْتِي الْغَنَمُ عَلَى صَاحِبِهَا عَلَى خَيْرِ مَا كَانَتْ إِذَا لَمْ يُعْطِ فِيهَا حَقَّهَا، تَطَؤُهُ بِأَظْلافِهَا وَتَنْطَحُهُ بِقُرُونِهَا». وَقَالَ: «وَمِنْ حَقِّهَا أَنْ تُحْلَبَ عَلَى الْمَاءِ». قَالَ: «وَلا يَأْتِي أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِشَاةٍ يَحْمِلُهَا عَلَى رَقَبَتِهِ لَهَا يُعَارٌ، فَيَقُولُ: يَا مُحَمَّدُ، فَأَقُولُ: لا أَمْلِكُ لَكَ مِنَ اللهِ شَيْئًا، قَدْ بَلَّغْتُ، وَلا يَأْتِي بِبَعِيرٍ يَحْمِلُهُ عَلَى رَقَبَتِهِ لَهُ رُغَاءٌ، فَيَقُولُ: يَا مُحَمَّدُ، فَأَقُولُ: لا أَمْلِكُ لَكَ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا، قَدْ بَلَّغْتُ». (بخارى: ١٤٠٢)

١٤٠٢ - حَدَّثَنَا الحَكَمُ بْنُ نَافِعٍ، أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ، أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ هُرْمُزَ الأَعْرَجَ حَدَّثَهُ: أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَأْتِي الإِبِلُ عَلَى صَاحِبِهَا عَلَى خَيْرِ مَا كَانَتْ، إِذَا هُوَ لَمْ يُعْطِ فِيهَا حَقَّهَا، تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا، وَتَأْتِي الغَنَمُ عَلَى صَاحِبِهَا عَلَى خَيْرِ مَا كَانَتْ إِذَا لَمْ يُعْطِ فِيهَا حَقَّهَا، تَطَؤُهُ بِأَظْلاَفِهَا، وَتَنْطَحُهُ بِقُرُونِهَا»، وَقَالَ: «وَمِنْ حَقِّهَا أَنْ تُحْلَبَ عَلَى المَاءِ» قَالَ: " وَلاَ يَأْتِي أَحَدُكُمْ يَوْمَ القِيَامَةِ بِشَاةٍ يَحْمِلُهَا عَلَى رَقَبَتِهِ لَهَا يُعَارٌ، فَيَقُولُ: يَا مُحَمَّدُ، فَأَقُولُ: لاَ أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا، قَدْ بَلَّغْتُ، وَلاَ يَأْتِي بِبَعِيرٍ يَحْمِلُهُ عَلَى رَقَبَتِهِ لَهُ رُغَاءٌ فَيَقُولُ: يَا مُحَمَّدُ، فَأَقُولُ: لاَ أَمْلِكُ لَكَ مِنَ اللهِ شَيْئًا، قَدْ بَلَّغْتُ "

٧٠٦- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: نبي صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (د قيامت په ورځ به) دا اوښان په خپل هغه ډېر ښه حالت کي چي مخکي ئې درلود؛ پر خپل خاوند راشي او تر خپلو خاپوړو (پښو) لاندي به ئې کړي؛ که د هغوی اړوند خپل حق (زکات) ئې نه وي ورکړی؛ او دا پسونه به په خپل هغه ډېر ښه حالت کي چي مخکي ئې درلود؛ پر خپل خاوند راشي او تر خپلو نوکانو (پښو) لاندي به ئې کړي؛ که د هغوی اړوند خپل حق (زکات) ئې نه وي ورکړی؛ او په

خپلو ښکرونو به ئې وهي؛ او د اوښانو او مېږو له حقوقو يو دا دئ چې په اوبه خور ئې ولوشي (کله چې رمه خړوبوي او همدا مهال کوم تږی او وږی محتاج انسان وګوري؛ نو د هغه لپاره دې ولوشي او شيدې دې پرې وڅښي)؛ او وئې فرمايل: داسې نه چې ستاسو کوم يو د قيامت په ورځ په داسې حال کې ما ته راشي چې پسه پر خپل څټ وړي او هغه بغېږي او دی وايي: يا محمد! او زه ورته وايم: نن د الله په وړاندې هيڅ څه درته په واك کې نه لرم؛ يقيناً چې ما پيغام دررسولی وو؛ او نه دې داسې راشي چې اوښ پر خپل څټ وړي او هغه اوښ غړمبېږي او دی راته وايي: يا محمد! او زه ورته وايم: نن د الله په وړاندې هيڅ څه درته په واك کې نه لرم؛ يقيناً چې ما پيغام دررسولی وو.

تکرار: دا روايت په بخاري کې درې ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی: ۲۳۷۸، ۳۰۷۳، ٦۹۵۸؛ غريب دئ؛ په ۵ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: الحَكَم بْن نَافِعٍ، شُعَيْب، أَبُو الزِّنَادِ، عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ هُرْمُزَ الأَعْرَجَ او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. پر بخاري علاوه يوازې په سنن الكبرى للنسائي کې هم له دغه متن او سند سره راغلی.

توپيرونه: په يوه کې تَأْتِي الإِبِلُ عَلَى صَاحِبِهَا عَلَى خَيْرِ مَا كَانَتْ؛ إِذَا هُوَ لَمْ يُعْطِ فِيهَا حَقَّهَا؛ تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا (تر ګامونو لاندې به ئې کړي) په بل کې لاَ أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ شَاةٌ لَهَا ثُغَاءٌ؛ عَلَى رَقَبَتِهِ فَرَسٌ لَهُ حَمْحَمَةٌ او په بل کې تُسَلَّطُ عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؛ تَخْبِطُ وَجْهَهُ بِأَخْفَافِهَا، په بل کې وَعَلَى رَقَبَتِهِ صَامِتٌ (سپين او سره زر او امثال ئې)؛ او عَلَى رَقَبَتِهِ رِقَاعٌ تَخْفِقُ (يوه ټوټه چې خوځي به) په يوه کې فَيَقُولُ يَا مُحَمَّدُ. فَأَقُولُ لاَ أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ بَلَّغْتُ په بل کې يَقُولُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَغِثْنِي فَأَقُولُ لاَ أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ راغلي.

دا روايت له وروستي سره تعارض لري؛ چې وينا ئې د دې خلاف ده:

۷۰۷- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « مَنْ

آتَاهُ اللَّهُ مَالاً ، فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ، لَهُ زَبِيبَتَانِ، يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ثُمَّ يَأْخُذُ بِلِهْزِمَتَيْهِ- يَعْنِي شِدْقَيْهِ - ثُمَّ يَقُولُ أَنَا مَالُكَ، أَنَا كَنْزُكَ » ثُمَّ تَلاَ (لاَ يَحْسِبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ) الآيَةَ. (بخارى: ١٤٠٣)

٧٠٧- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: چا ته چي الله كوم مال وركړى وي او زكات ئې ورنه كړي؛ نو همدغه مال به ئې د قيامت په ورځ د داسي يوه ښامار په بڼه كي ورته څرگند كړى شي چي سر به ئې پك وي او (پر سر به ئې) دوه ټاپي وي؛ پر غاړي به ئې راتاو كړى شي او د خولې له كونجونو به ئې ونيسي؛ بيا به ورته وايي: زه دي مال يم؛ زه دي خزانه يم)؛ ورپسې رسول الله صلى الله عليه و سلم دا آيت تلاوت كړ: (وَلا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَهُمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ) آل عمران ١٨٠

تكرار: دا روايت په بخاري كي څلور ځلي نور په دغو شمېرو راغلى: ٣١٩٨- ٤٥٦٥، ٤٦٥٩، ٦٩٥٧

توپيرونه: په يوه كي مَنْ آتَاهُ اللَّهُ مَالاً، فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ په بل كي يَكُونُ كَنْزُ أَحَدِكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ په يوه كي يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، يَأْخُذُ بِلِهْزِمَتَيْهِ په بل كي يَفِرُّ مِنْهُ صَاحِبُهُ فَيَطْلُبُهُ وَيَقُولُ أَنَا كَنْزُكَ وَاللَّهِ لَنْ يَزَالَ يَطْلُبُهُ حَتَّى يَبْسُطَ يَدَهُ فَيُلْقِمَهَا فَاهُ (په خپلي خولې كي به ئې منډي) راغلي.

دا روايت له مخكيني سره تعارض لري؛ هغه وايي مال به ئې په خپلې هغې مخكينۍ بڼې كي د قيامت په ورځ راڅرگند شي چي په دنيا كي ئې وو؛ تر ټولو په ښه مخكيني حالت كي؛ كه څاروي وي او صامت (سره او سپين زر)؛ په خپل مخكيني حالت كي راڅرگند شي؛ اما دا روايت وايي چي د ښامار په بڼې كي به راشي؛ لاس به لري او دا كس به ونيسي

او په خپلې خولې کې به ئې ومنډي؛ په کوم آيت چې استناد شوی له هغه قطعاً دا نه معلومېږي چې له مال به ئې ښامار جوړ شي. په دې آيت کې راغلي چې د بخيل هغه مال چې ده په کې بخل کړی؛ د قيامت په ورځ به د ده پر غاړې تاو کړی شي؛ يعني داسي به تمثيل شي چې همغه مال پرې بار دئ. اما دا روايت وايي چې د ښامار په بڼې کې به پرې راتاو شي.

سره له دې ټولو ښرگندو توپيرونو او تعارضاتو؛ ځيني داسي انگېري چې ښايي د مالونو تر منځ د توپير له کبله به د عذاب بڼه بېله بېله ښودل شوې وي؛ لکه د څارويو بېله بڼه کې او د سرو سپينو زرو بېله بڼه کې!! خو دا له تکلف ډکه توجيه ده.

څو آيتونه بايد په پام کې ولرو:

فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ۝٧ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ۝٨
الزلزال

نو چا چې د وړې ذرې په اندازه نېکي کړې؛ ويني به ئې. او چا چې د وړې ذرې په اندازه د شر کار کړی؛ ويني به ئې.

يعني په هغه ورځ به هر چا ته خپل عمل وروښودی شي، هر څوك به هغه اعمال چې په دنيا کې ئې کړي وو؛ خپلې مخې ته مجسم وموِمي؛ يوازې دا نه چې خپل عملونه به په خپلې عملپاڼې کې وگوري او سزا او بدله به ئې ورکړی شي؛ بلکې پر دې سربېره به خپل ټول ښه او بد عملونه خپلې مخې ته ښرگند او تمثيل شوي وموِمي، د الزلزال سورې له ٤ او ٦ آيتونو معلومېږي چې د انسان عملونه له (غږ او بڼې) سره ضبط کېږي او د قيامت په ورځ به انسان هم د خپلو عملونو (اخبار) واوري او هم به ئې (بڼه) وگوري.

څوارلس پېړۍ مخکې هيچا ته په دې خبرې پوهېدا ممکنه نه وه چې کېدی شي د انسان (غږ) او د خوځښت (انځور) او فيلم ئې ثبت

شي او له څه مودې وروسته بيا وليدی او واورېدی شي؛ خو اوس او له هغه وروسته چي ټيپ ريکارډر او کامرې اختراع شوي؛ هر چا ته دا خبره جوته شوه.

(خير) او (شر)؛ که ستر وي او که ووړ؛ حتی که د يوې وړې ذرې په اندازه وي؛ ټول به په خپلي عملپاڼي کي وګورې، ټول به ستا مخي ته مجسم کړی شي، وبه ګورې چي هيڅ څه دي له پامه نه دي غورځېدلي، هر څه په ډېر دقت سره ثبت شوي او د دغو له مخي به ستا برخليك او راتلونکی ټاکل کېږي.

بايد متوجه وئ چي د دې آيتونو الفاظ داسي نه دي چي وښيي انسان به د هر وړوکي عمل سزا ګوري؛ داسي نه دي ويل شوي چي که د ذرې په اندازه د خير او شر عمل ئې کړی وي؛ سزا به ئې ګوري؛ بلکي عمل به ګوري او ضروري نه ده چي سزا به ئې هم ګوري.

وَوُضِعَ الْكِتَابُ فَتَرَى الْمُجْرِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَا وَيْلَتَنَا مَالِ هَذَا الْكِتَابِ لا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلا كَبِيرَةً إِلا أَحْصَاهَا وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِرًا وَلا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا﴿٤٩﴾ الكهف

او کتاب به کښېښودی شي؛ نو مجرمين به ګورې چي له هغه څه وېرېدونکي دي چي په دې (کتاب) کي دي؛ او وايي به: افسوس پر موږ! دا څنګه کتاب دئ! نه ئې ووړ (عمل) پرېښی او نه ستر؛ مګر هغه ئې درج کړی؛ او هر هغه څه به حاضر ومومي چي کړي ئې ول؛ او ستا رب به پر هيچا ظلم نه کوي.

د دې آيت لارښووني دا دي:

١. محاسبه به پيل شي، د هر چا په وړاندي به د ده خپل کتاب او عملپاڼه کښېښودی شي، مجرمين به ګورې چي د خپلي عملپاڼي په ليدو سره وېري اخيستي او په پرېوتي او له تأسف ډك غږ سره وايي: افسوس پر موږ! دا څنګه کتاب دئ! نه ئې زموږ ووړ عمل پرېښی او نه ستر، هر څه په کي درج

شوي، هر هغه څه به حاضر وومي چې کړي ئې ول؛ له دې وينا داسي معلومېږي چې هر څوك به خپل عملونه داسي حاضر او مخامخ گوري لکه چې ويډيو او فيلم گوري!! د دې وينا پر حقيقت او ماهيت نن ښه پوهېدى شو؛ تر هغه وړاندي چې انسان انځور او فيلم ثبتول کشف او اختراع کړي؛ د دې آيت پر ټولو ابعادو پوهېدل ممکن نه وو.

۲. ستا رب به هر چا ته مناسبه او عادلانه سزا ورکړي او پر هيچا به ظلم نه کوي.

له محاسبې وروسته خلك په ډلو ډلو وېشل کېږي؛ جنتيان بېل، دوزخيان بېل او اصحاب اعراف بېل؛ جنتيان او دوزخيان بيا په اوو اوو ټوليو وېشل کېږي؛ هر ټولى به جنت او دوزخ ته له بېلو بېلو دروازو ننوځي؛ د مکافات او مجازات ځاى ئې جنت او دوزخ دئ؛ قرآن فرمايي:

وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٤٣﴾ لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ لِّكُلِّ بَابٍ مِّنْهُمْ جُزْءٌ مَّقْسُومٌ ﴿٤٤﴾ الحجر

او يقيناً چي دوزخ د دوى ټولو موعد دئ؛ چي اوه دروازې ئې دي؛ د هري دروازي لپاره د دوى يوه وېشل شوې برخه ده.

هلته به د جنتيانو، دوزخيانو او په اعراف کې مېشت کسانو؛ تر منځ حجابونه وي؛ خو که وغواړي يو به بل ته له لري ښودل کېږي؛ يو به د بل لوړ غږ هم اورېدى شي. قرآن په دې اړه فرمايي:

وَنَادَى أَصْحَابُ الْجَنَّةِ أَصْحَابَ النَّارِ أَنْ قَدْ وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا قَالُوا نَعَمْ فَأَذَّنَ مُؤَذِّنٌ بَيْنَهُمْ أَنْ لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ ﴿٤٤﴾ الأعراف

او جنتيان به دوزخيانو ته غږ کړي: موږ خو هغه څه رښتيني وموندل چي زموږ رب ئې وعده راسره کړې وه؛ آيا تاسو هم هغه څه رښتيني وموندل چي ستاسو رب ئې وعده درسره کړې وه؟ وبه وايي: هو؛ نو يو

غږ کوونکی به د دوی تر منځ غږ کړي چې: په دغو ظالمانو دي لعنت وي.

دلته د جنتيانو او دوزخيانو تر منځ د خبرو يوه صحنه زموږ مخې ته ابښودل شوې:

- جنتيان دوزخيانو ته وايي: الله تعالی چې له موږ سره کومې وعدې کړې وې؛ ټولې رښتينې شوې او موږ ئې مصداق په خپلو سترګو ګورو؛ آيا تاسو هم د الله تعالی وعدې رښتينې وموندلې؟ ځواب به ئې په لنډه توګه؛ هو؛ وي.
- په دې وخت کې به يو منادي په جګ غږ ووايي: پر هغو ظالمانو دي لعنت وي چې د الله پر لاري له تلو ئې ډډه کوله، نور ئې ترې منع کول، په الهي دين کې به ئې تحريفونه کول، هڅه به ئې کوله چې د دين سمې خبرې په کږو واږوي او له آخرت ئې انکار کولو.

وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ وَعَلَى الأَعْرَافِ رِجَالٌ يَعْرِفُونَ كُلا بِسِيمَاهُمْ وَنَادَوْا أَصْحَابَ الْجَنَّةِ أَنْ سَلامٌ عَلَيْكُمْ لَمْ يَدْخُلُوهَا وَهُمْ يَطْمَعُونَ ﴿٤٦﴾ الأعراف

او د دوی تر منځ به حجاب وي؛ او پر لوړو (ئې ) داسي کسان چې هر يو به له خپلو څېرو پېژني او جنتيانو ته به غږ کړي: سلام پر تاسو! ورداخل شوي به نه وي خو طمع به ئې کوي.

د جنتيانو او دوزخيانو تر منځ به حجاب وي؛ د الحديد سورې په ١٣آيت کې ويل شوي...

فَضُرِبَ بَيۡنَهُم بِسُورٖ لَّهُۥ بَابُۢ بَاطِنُهُۥ فِيهِ ٱلرَّحۡمَةُ وَظَٰهِرُهُۥ مِن قِبَلِهِ ٱلۡعَذَابُ ﴿١٣﴾ الحديد

د دوی تر منځ به داسي دېوال جوړ شي چې دروزاه به ئې وي؛ د ننه ئې رحمت او شا ته ئې عذاب.

له دې معلومېږي چې دا حجاب به هسې کومه پرده نه وي بلکې

پرېږ او لوړ دېوال به وي، داسي چي نه به جنتيان د دوزخ له لوخړو او بد بوی ځورېږي او نه به دوزخيان د جنت له ښکلو منظرو د لذت او خوند اخيستو مجال تر لاسه کولی شي.

د دې حجاب پر لوړو به درېيمه ډله خلك ناست وي، دوی به په دواړو ډلو کې داسي خلك ګوري چي له څېرو ئې پېژني؛ خو دا به څوك وي او څوك به پېژني؟

وَنَادَى أَصْحَابُ الأَعْرَافِ رِجَالا يَعْرِفُونَهُمْ بِسِيمَاهُمْ قَالُوا مَا أَغْنَى عَنْكُمْ جَمْعُكُمْ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ ﴿٤٨﴾ الأعراف

او اعراف وال به ځينو کسانو ته چي له څېرو ئې پېژني غږ کړي او وبه وايي: نه ستاسو ډېروالي (د مال او پلويانو) هيڅ څه درنه دفع کړی شو او نه ستاسو هغه تکبر او لويي غوښتني.

وَنَادَى أَصْحَابُ النَّارِ أَصْحَابَ الْجَنَّةِ أَنْ أَفِيضُوا عَلَيْنَا مِنَ الْمَاءِ أَوْ مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى الْكَافِرِينَ ﴿٥٠﴾ الأعراف

او دوزخيان به جنتيانو ته غږ کړي چي پر موږ خو لږ اوبه يا هغه څه چي الله تاسو ته درکړي راتوی کړئ! وبه وايي: يقيناً الله دا پر کافرانو حرام کړي.

له دغو آيتونو په څرګنده توګه معلومېږي چي دا هر څه به جنت او دوزخ ته له تګ وروسته وي؛ نه د حشر په ميدان کې؛ د حشر ميدان کې به هر چا ته خپله عملپاڼه ورښودل کېږي؛ د ځينو عملونه به نورو ته هم وښودل شي؛ او دا به د هغوی لپاره ستره افتضاح وي؛ او ځينو ته به داسي وښودل شي چي له ده پرته به بل انسان پرې خبر نه شي؛ په حديث کې دا حالت داسي انځور شوی لکه يو انسان بل انسان ته په پټه د څه ويلو لپاره هغه خپلي خوا ته نژدې کړي او لاس پرې واچوي؛ الله تعالی به دا بندګان همداسي خپلي خوا ته نژدې کړي او عملپاڼه او په

هغې كې د دوی عملونه به ورښيي؛ پرته له دې چې بل څوك پرې پوه شي.

په دې اړه د بخاري دواړه روايات په خپلو كې هم تعارض لري؛ د سند له پلوه هم غريب دي؛ يو راوي لري او هغه ته متضاد خبري منسوب شوې؛ او د قرآن له دغو آيتونو سره هم منافات لري.

## ٣ باب: د كوم مال چې زكات وركړل شي هغه كنز (ذخيره كول) نه ګڼل كېږي

٧٠٨- عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رضى الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: «لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوَاقٍ صَدَقَةٌ، وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ ذَوْدٍ صَدَقَةٌ، وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوْسُقٍ صَدَقَةٌ». (بخارى: ١٤٠٥)

٧٠٨- له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: نبي صلى الله عليه و سلم فرمايلي: په هغه مال كې چې تر پنځو اوقيو كم وي زكات نه شته، په اوښانو كې چې تر پنځو كم وي زكات نه شته او په هغې غلې كې چې تر پنځو وسقو لږ وي زكات نه شته.

يادونه: پنځه اَوقِيې تقريبًا ٧٠٠ ګرامه او پنځه وسقه ٦٥٢ كيلو ګرامه كېږي.

تكرار: دا روايت په بخاري كې درې ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی: ١٤٤٧، ١٤٥٩، ١٤٨٤

توپيرونه: په يوه كې لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوَاقٍ صَدَقَةٌ په بل كې لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوَاقٍ مِنَ الْوَرِقِ (سپين زر) صَدَقَةٌ په بل كې وَلاَ فِي أَقَلَّ مِنْ خَمْسِ أَوَاقٍ مِنَ الْوَرِقِ صَدَقَةٌ په يوه كې لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ ذَوْدٍ صَدَقَةٌ په بل كې لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ ذَوْدٍ مِنَ الإِبِلِ صَدَقَةٌ په يوه كې لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوْسُقٍ صَدَقَةٌ په بل كې لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ مِنَ التَّمْرِ صَدَقَةٌ په بل كې لَيْسَ فِيمَا أَقَلُّ مِنْ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ صَدَقَةٌ راغلې.

دلته د باب او روايت تر منځ همغږي نه تر سترګو کېږي؛ باب دا دئ: د کوم مال چې زکات ورکړل شي هغه کنز (ذخيره کول) نه ګڼل کېږي؛ خو کوم روايت چې ترې لاندې راوړل شوی له باب سره هيڅ همغږي نه لري؛ په روايت کې نه د کنز ذکر شوی او نه ئې په اړه بحث شوی بلکې د هغو شيانو د مقدار او شمېر بيان شوی چې زکات پرې فرض کېږي. باب يو څه وايي او روايت بل څه!!

د ۷۰۷ روايت په پای کې چې د کوم آيت يوه ابتدائي فقره راغلې؛ دا آيت د سرو او سپينو زرو د کنز په ارتباط دئ؛ آيت دا دئ:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡأَحۡبَارِ وَٱلرُّهۡبَانِ لَيَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡبَٰطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۗ وَٱلَّذِينَ يَكۡنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلۡفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ﴿٣٤﴾ التوبه

اې مؤمنانو! د احبار (ملايانو) او رهبان (پيرانو) ډېری د خلکو مالونه په ناحقه خوري او د الله له لارې مخنيوی کوي او هغه چې سره او سپين زر ذخيره کوي او د الله په لار کې ئې نه مصرفوي؛ نو د دردناك عذاب زېری ورکړه.

په دې مبارك آيت کې احبار، رهبان او د سرو سپينو زرو کنز کوونکي يو ځای ياد شوي او ټولو ته ئې په ګډه د دردناك عذاب زيری ورکړی. حقيقت دا دئ چې په هرې ظلم ځپلې او جهل وهلې ټولنې کې مخکينې دوه د وروستني درېيم په خدمت کې وي او دوی په ګډه د ظالمو واکمنانو د ښي او کيڼ لاس مرستيالان او مدافعان وي، يو ورته فتوی ورکوي، بل ورته دعاء کوي او درېيم د هغو پيسو يوه برخه ورکوي چې د عام ولس د شکولو او غارت کولو له لارې ئې تر لاسه کوي.

کنز هغه مال ته وايي چې که څه هم له حلالو لارو تر لاسه شوی وي خو هغه حق نه وي په کې اداء شوی چې الله تعالی لازم کړی او په هغه ځای کې نه وي مصرف شوی چې الله تعالی ئې د مصرفولو امر

کړی. که د دې کنز کوونکي سزا دومره سخته وي نو د هغه چا سزا به څنګه وي چي له حرامو لارو حتی د دين پلورني له لاري ئې تر لاسه کوي، خپل ايمان پرې پلوري، خپل عزت پرې بايلي او خپل آخرت پرې تباه کوي؟!

خو دې ته مو بايد پام وي چي که دلته قرآن د مال کنزول غندلي، په بل ځای کي ئې ويلي چي څه تر حاجت او ضرورت زيات وي هغه انفاق کړئ، خو د دې تر څنګ مؤمنانو ته لارښوونه کوي چي مه بخل کوئ او مه په پراخ لاس دومره مصرف چي سبا حيران او بل ته اړ وئ؛ د دواړو تر منځ وسط لار غوره کړئ؛ دا د انسان او د ده د ټولني حالت ته پرېښودل شوې، کله داسي حالت راشي چي په کار ده مؤمن انسان تر خپل ضرورت زيات هر څه د الله په لار کي وقف کړي؛ او کله ئې لږ برخه او کله يوازي هومره چي پرې فرض دي؛ دا داسي وګڼئ لکه فرض لمونځ او تهجد او نفل؛ تهجد او نفل د انسان ظروفو او شرائطو او خپلي خوښي ته پرېښودل شوي. همداسي په مال کي له فرائضو او واجباتو علاوه انفاق د انسان خوښي او د ده او د ده د ټولني ظروفو او شرائطو ته پرېښودل شوی.

په دې روايت کي ويل شوي چي په هغه مال کي چي تر پنځو اوقيو کم وي، په اوښانو کي چي تر پنځو کم وي او په هغي غلې کي چي تر پنځو وسقو لږ وي زکات نه شته؛ دوه خبري بايد په پام کي ولرو:

دلته د سپينو زرو؛ اوښانو او خرما يادونه شوې؛ آيا دا د نورو شيانو لپاره معيار ګڼل شوی؟ يعني که د سکو بيع تر پنځو اوقيو سپينو زرو (چي دوه سوه درهمه کېږي) کمه وي زکات په کي نه شته، که د نورو څارويو معادل ارزښت د پنځو اوښانو حد ته نه وي رسېدلی زکات په کي نه شته، که د نورو مېوو او غلو معادل ارزښت د خرما پنځو اوسقو ته نه وي رسېدلی زکات په کي نه شته؟! او که د نورو شيانو په اړه له دې پرته بېله بېله لارښوونه شوې؟! دا پوښتنه هم راولاړېږي چي د سکو او

اجناسو بيع له يوه تر بل او له يوې سيمي تر بلي توپير لري او بدلېږي رابدلېږي؛ په هغو سيمو كې چې كجوري لري د خرما ارزښت تر هغو سيمو ډېر لږ دئ چې كجوري نه لري؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم په وخت كې د يوه وسق غنمو ارزښت نژدې دوه وسقه كجوري وو.

د اسلام د راتلو په وخت كې يوه اوقيه سپين زر څلوېښت درهمه ارزښت درلود، يو رطل دولس اوقيه يعني څلور سوه اتيا درهمه وو، يو نش شل درهمه... رسول الله صلى الله عليه و سلم همدا د مدينې سكې او اوزان معتبر وګڼل؛ وسق د يوه اوښ بار ته ويل كېدل، چې ويل كېږي شپېته صاع وو، كله چې د سرو زرو مقدار دوه سوه درهمو ته ورسېږي نو په هرو څلوېښتو دراهمو كې بايد يو درهم زكات وركړی شي؛ او بيا چې هر څومره زياتېږي په هرو څلوېښتو دراهمو كې به يو يو درهم وركول كېږي؛ نوري سكې په همدې قياس كېږي، خو په دې اړه د فقهاءو تر منځ اختلاف دئ چې تر څلوېښتو دراهمو لږ كې زكات شته كه نه؟ غوره رأيه دا ده چې په دې كې به دوه نيم سلنه زكات وركول كېږي. البته په هغو كې چې تر نصاب زيات وي. يعني د چا شتمني چې د زكات نصاب حد ته ورسېده؛ په ٤٠ كې يوه او په ١٠٠ كې دوه نيم به زكات وركوي؛ د سكې نوعيت چې هر څه وي او مقدار ئې تر٤٠ هر څومره كم يا زيات وي؛ په كم او زيات كې به ٢,٥٪ زكات وركوي؛ داسي نه چې په ٨٠ كې به ٢ وركول كېږي پاته ٢٠ كې هيڅ!

په روايت كې داسي څه نه مومو چې كه د مال زكات وركړل شي نو بيا كه همداسي راكد پرېښودل شي كنز نه ګڼل كېږي؛ په داسي حال كې چې د غلې احتكار او بازار ته ئې هغه مهال وړاندي كول چې بيه ئې لوړه شوې وي؛ ناجائز عمل دئ؛ دا ځكه چې احتكار په خپله د اجناسو بيه لوړوي او عام ولس ته صدمه رسوي؛ كه څه هم محتكر او د غلې خاوند د هغه زكات وركړی وي؛ د سكې او نورو شتمنيو حكم دې ته ورته دئ؛ تأثير او پايله ئې د غلې د احتكار په څېر ده.

آیا کېدی شي ووایو؛ د زکات مقدار؛ په غنیمت کې د خمس له مخې ټاکل شوی؟

د زکات د نصاب او مقدار په اړه دا پوښتنه راولاړېږي چې آیا د قرآن دا لارښوونه چې د غنیمت پنځمه برخه به بیت المال ته سپارل کېږي؛ د نورو مالي وجائبو لپاره بنسټ او معیار نه دئ غوره شوی؟

رسول الله صلی الله علیه و سلم موږ ته د زمکو د حاصلاتو، د باغونو د مېوو، د څارویو او د سرو او سپینو زرو؛ هم نصاب ټاکلی هم د زکات مقدار؛ د هغو شتمنیو چې ثمره او حاصل ئې په کم لګښت او لږ خواري تر لاسه کېږي؛ زکات ئې نسبت هغو ته زیات دئ چې لګښت او خواري ئې زیاته وي؛ د مثال په توګه له هغو زمکو لسمه اخستل کېږي چې د نهر په روانو اوبو خړوبېږي او له هغو شلمه چې خړوبول ئې مصارف او زیار ایجابوي؛ همداسي په غنیمت کې پنځمه د بیت المال سهم وي او څلور ئې د جنګیالیو؛ د درهم او دینار زکات څلوېښتمه ده؛ او د مېږو هم څلوېښتمه؛ له دې معلومېږي چې د زکات مقدار د لګښت او زیار په تناسب ټاکل شوی؛ تر ټولو لږ زکات د مېږو او نقد پیسو (درهم او دینار) دئ او تر ټولو زیات د غنیمت؛ په قرآن کې یوازې د غنیمت په اړه ویل شوي چې پنځمه ئې ترې اخستل کېږي؛ په قرآن کې د نورو مواردو د زکات مقدار؛ په څرګنده توګه نه مومو؛ پوښتنه راولاړېږي چې آیا رسول الله صلی الله علیه و سلم د نورو املاکو او عوائدو د زکات مقدار د قرآن دغې لارښوونې ته په پام سره ټاکلی؛ او که د هرې برخې لپاره مستقله وحي نازله شوې؟ که ئې منشأ قرآن وي؛ نو اړوند آیتونه ئې کوم دي؟ او که بېله وحي وي؛ په کوم حدیث کې ویل شوي چې الله تعالی په دې اړه مشخصه وحي ورته کړې؟ او دا وحي کله او چېرې پر رسول الله صلی الله علیه و سلم نازله شوې؟ زه د خپل معلومات له مخې وایم چې داسې روایات مې له نظره نه دي تېر شوي؛ لږ تر لږه دومره ویلی شم چې د حکمة الباریٔ په څلورو جلدونو کې چې ما د

بخاري نژدې دوه ثلثه روايات څېړلي؛ د بخاري د زكات كتاب په شمول؛ داسي كوم روايت مي نه دئ ليدلى؛ له همدې كبله وايم چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د زكات مقدار د قرآن د دغي لارښووني له مخي ټاكلى:

وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ إِنْ كُنْتُمْ آمَنْتُمْ بِاللَّهِ وَمَا أَنْزَلْنَا عَلَى عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٤١﴾ الأنفال

او په دې پوه شئ چي څه په غنيمت تر لاسه كوئ نو پنځمه ئې د الله، د پيغمبر، د خپلوانو، يتيمانو، مسكينانو او مسافرو ده؛ كه په الله او هغه څه مو ايمان راوړى وي چي په خپل بنده ئې د فرقان په ورځي نازل كړ؛ هغه ورځ چي دواړه ډلي سره مخامخ شوې؛ او الله په هر څه ښه قادر دئ.

دلته د غنائمو په اړه ويل شوي چي پنځمه برخه ئې د الله، د پيغمبر، د خپلوانو، يتيمانو، مسكينانو او مسافرو برخه ده؛ يعني چي دا به بيت المال ته سپارل كېږي.

كه څه هم زكات او لمونځ په ٨٢ آيتونو كې څنګ په څنګ ياد شوي؛ او لړى ئې له مكې پيل شوې؛ خو زكات په دوهم هجري كال فرض شوى؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې تفصيلات له دې وروسته مؤمنانو ته بيان كړي؛ او دا هغه وخت دئ چي د انفال سوره او دغه آيت ئې نازل شوى؛ دا سوره په دوهم هجري كال او د بدر له جګړي وروسته نازله شوې.

رسول الله صلى الله عليه و سلم د قرآن شارح او مفسر دئ؛ الله تعالى هغه ته د قرآن په ټولو رموزو او اسرارو پوهه او د بيان او تفسير

بشپړ علم ورکړی؛ ده ته همدا آیت کافي وو چي له مخي ئې د نورو مالي وجائبو اندازه وټاکي. دې ته مو هم پام وي چي د مالي وجائبو نور مقادیر د همدې خمس؛ ضریب دي؛ همدا ۵ په ۲-٤-۸ ضرب شوي؛ لسمه، شلمه او څلوېښتمه ترې جوړ شوي.

کوم روایت چي موږ لګیا یو پرې بحث کوو؛ په دې کې ویل شوي: په هغه مال کې چي تر (پنځو) اوقیو کم وي، په اوښانو کې چي تر (پنځو) کم وي او په هغي غلې کې چي تر (پنځو) وسقو لږ وي؛ زكات نه شته؛ دلته هم ګورئ چي همغه د الانفال سورې د ٤١ آیت (خمس: پنځمه) معیار ګڼل شوی. له دې آیت او روایت په واضح توګه معلومېږي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د زكات ټول تفصیلات له دې آیت استباط کړي.

## ٤ باب: زكات یا خیرات په پاک مال کي وي

٧٠٩- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ تَصَدَّقَ بِعَدْلِ تَمْرَةٍ مِنْ كَسْبٍ طَيِّبٍ، وَلاَ يَقْبَلُ اللَّهُ إِلَّا الطَّيِّبَ، وَإِنَّ اللَّهَ يَتَقَبَّلُهَا بِيَمِينِهِ، ثُمَّ يُرَبِّيهَا لِصَاحِبِهِ، كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ، (فَصِيلَهُ) حَتَّى تَكُونَ مِثْلَ الجَبَلِ» (بخارى: ١٤١٠)

٧٠٩- له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: چا چي له پاک مال د یوې خرما په اندازه صدقه ورکړه او الله تعالی له حلال او پاک شي پرته بل څه نه قبلوي؛ نو الله تعالی ئې په خپل ښي لاس ترې قبلوي، بیا ئې د مال خاوند ته داسي وده ورکوي لکه چي ستاسو کوم یو خپل بیانۍ ( او جونګی) روزي او وده ورکوي، تر هغه چي دا (صدقه) د غره په څېر شي.

تکرار: دا روایت په بخاري کې یو ځل بیا په دې شمېرې راغلی ٧٤٣٠ د دواړو روایاتو راویان په څلورو طبقو کې دا دي: عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ،

پلار ئې دينار، أَبُو صَالِحٍ او أَبُو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ د أبو صالح په اړه ابن حجر او الذهبي په څېر محققين وايي چي ضعيف دئ او استناد نه شي پرې کېدی.

توپير: په يوه کې وَلاَ يَقْبَلُ اللَّهُ إِلَّا الطَّيِّبَ او په بل کې وَلاَ يَصْعَدُ إِلَى اللَّهِ إِلَّا الطَّيِّبُ راغلي.

د دې حديث مطلب او مدلول دا دئ چي الله تعالی يوازي پاکه صدقه او خيرات قبلوي، نه يوازي قبلوي ئې بلکې هغه ته خاص ارزښت ورکوي او لکه څرنگه چي انسان يو باارزښته شی په ښي لاس اخلي، شکور خدای هم د خپل بنده پاکې صدقې ته ارزښت ورکوي او قبلوي ئې؛ بايد متوجه وو چي په دې حديث کې د يمين کلمه په مجازي توگه کارول شوې او ظاهري معنی ئې مراد نه ده، ځکه گورو چي صدقه د يوه انسان له خوا بل انسان ته ورکول کېږي، ورکوونکی او اخيستونکی دواړه انسانان دي يو ئې د بل په لاس کې ږدي، متأسفانه ځيني په دې روايت استناد کوي او وايي: الله تعالی دوه لاسونه لري، يو ئې (يمين) يعني ښی دئ او بل ئې (شمال) يعني کيڼ دئ؛ او گواکې الله تعالی د بنده صدقه په حقيقي معنی په خپل ښي لاس کې اخلي!! دا په داسي حال کې چي دلته د يَتَقَبَّلُهَا بِيَمِينِهِ الفاظ راغلي نه د (يأخذ بيمينه) الفاظ چي په لاس د اخيستلو معنی افاده کوي، په ټولو هغو نصوصو کې چي د الله تعالی او د هغه د صفاتو په اړه متشابه الفاظ کارول شوي؛ مجازي معنی ئې مراد وي نه حقيقي معنی ئې، لکه دا حديث:

٩٠٩٥- عن ابْنِ عَبَّاس يَقُولُ: الرُّكْنُ، يَعْنِي الْحَجَرَ، يَمِينُ اللهِ فِي الأَرْضِ، يُصَافِحُ بِهَا خَلْقَهُ مُصَافَحَةَ الرَّجُلِ أَخَاهُ، يَشْهَدُ لِمَنِ اسْتَلَمَهُ بِالْبِرِّ وِالْوَفَاءِ، وَالَّذِى نَفْسُ ابْنِ عَبَّاسٍ بِيَدِهِ، مَا حَاذَى بِهِ عَبدٌ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللهَ تَعَالَى خَيْرًا إِلاَّ أَعْطَاهُ إِيَّاهُ. مصنف عبدالرزاق الصنعانی

حجر الاسود په زمکه کې د الله تعالی ښی لاس دئ، چي په هغې سره الله

تعالى له خپلو بندګانو سره داسي مصافحه کوي لکه چي يو سړی له خپل ورور سره مصافحه کوي؛ د هغه چا په اړه به شهادت ورکوي چي پر دې ئې د ښېګڼې او وفا ژمني سره لاس کښېښود؛ په هغه ذات قسم چي د ابن عباس سا ئې په واك کې ده؛ هيڅ مسلم بنده به؛ هغې ته مخامخ له الله تعالى کوم خير ونه غواړي مګر دا چي حتماً به ئې ورکړي.

په دې حديث کې ګورو چي په لومړۍ برخه کې ئې حجر الاسود ته په زمکه کې د الله تعالى يمين (ښی لاس) ويل شوي او په دوهمه برخه کې د حجر الاسود لمس کول له الله تعالى سره مصافحه ګڼل شوې؛ هيڅ عاقل انسان به دا ادعاء ونه کړي چي له دې الفاظو د هغوی ظاهري معنی مراد ده؛ حقيقت دا دئ چي دلته دواړه په مجازي توګه کارول شوي؛ دلته د بحث موضوع؛ د الله تعالى د ذات څرنګوالی نه دئ؛ بلکي د حجر الأسود څرنګوالی او منزلت د بحث اصلي موضوع ده؛ موږ ته وايي: په حجر الأسود لاس ايښودل؛ داسي دئ لکه الله تعالى ته لاس ورکول او ژمنه ورسره کول؛ ډېر بې عقل او سفيه انسان به له دې مجاز او استعارې؛ بل مطلب اخلي؛ نه يوازي دلته؛ بلکي په ټول قرآن کې يو داسي مورد نه مومو چي د الله تعالى د ذات په اړه په کې بحث شوی وي؛ نه صراحتاً او نه اشارتاً؛ دا ځکه چي د الله تعالى د ذات په څرنګوالي پوهېدل؛ انسان ته قطعاً ممکن او مقدور نه دئ؛ د انسان سترګي د الله تعالى د ليدو توان نه لري؛ عقل ئې له دې ډېر عاجز او ناتوان دئ چي هغه درك کړی شی؛ په انساني قاموس کې هغه أسماء او صفات نه شته چي په مرسته ئې د الله تعالى د ذات کيفيت او صفات بيان کړی شي؛ د انسان قاموس له هغو أسماء او صفاتو جوړ شوی چي انسانانو په خپله د څرګندو او مشهودو مخلوقاتو لپاره وضع کړي؛ په دې صفاتو سره د عظيم خدای د ذات کيفيت بيانول ممکن نه دي.

له اهل ظاهر پوښتنه کوو: د خپل مسلك او مذهب له مخي دا حديث څنګه تعبيروئ:

إِنَّ الْمُقْسِطِينَ عِنْدَ اللهِ، عَلَىٰ مَنَابِرَ مِنْ نُورٍ، عَنْ يَمِينِ الرَّحْمَنِ عَزَّ وَجَلَّ وَكِلْتَا يَدَيْهِ يَمِينٌ. رواه مسلم

په تحقيق سره عدل كوونكي به د الله تعالى څنگ كې او ښي لاس ته ئې د نور پر منبرونو ناست وي او د الله تعالى دواړه لاسونه ښي دي.

که دلته (يد) او (يمين) ستاسي د مسلك په اساس په همدې ظاهري معنى واخلو؛ نو خبره نه په عقل برابره راځي او نه په نقل؛ په عقل سره ځکه چي دوه ښي لاسونه عقل نه مني او په نقل سره ځکه چي رسول صلى الله عليه وسلم په بل حديث كې فرمايي:

عن عَبْدِ اللهِ بْنُ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:" يَطْوِى اللهُ عَزَّ وَجَلَّ السَّمَاوَاتِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ثُمَّ يَأْخُذُهُنَّ بِيَدِهِ الْيُمْنٰى، ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا الْمَلِكُ، أَيْنَ الْجَبَّارُونَ؟ أَيْنَ الْمُتَكَبِّرُونَ. ثُمَّ يَطْوِى الْأَرَضِينَ بِشِمَالِهِ، ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا الْمَلِكُ أَيْنَ الْجَبَّارُونَ؟ أَيْنَ الْمُتَكَبِّرُونَ؟ رواه مسلم

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: الله تعالى به د قيامت په ورځ آسمانونه راونغاړي او بيا به ئې په ښي لاس كې ونيسي او وبه فرمايي: زه پاچا (ملك) يم؛ جابران چېري دي؟ متكبران چېري دي؟ بيا به زمكي راونغاړي او په كيڼ لاس كې به ئې ونيسي او وبه فرمايي: زه پاچا يم چېري دي جابران؟ چېري دي متكبران؟

تاسو او خداى مو؛ آيا دې پوښتني ته داسي ځواب لرئ چي ستاسو خپل ايمان او عقل پرې قانع شي؛ او دا طمع ولرئ چي بل ئې درسره ومني؟!! موږ د دواړو حديثونو په الفاظو اقرار كوو، ايمان پرې لرو، حق ئې بولو، هغه متشابهات او استعارې گڼو او وايو چي د "يداليمنى، شمال، يأخذ او يطوي" كلمات د استعارو په توگه كارول شوې؛ او په استعارو كې هيڅ لفظ په اصلي معنى نه شو تعبيرولى؛ فقط دغه مفاهيم

افاده کوي:

- لومړنی حدیث دا مطلب څرګندوي: هغه کسان چې عدل ئې کړی، په خپلو قضاوتونو کې ئې د انصاف رعایت کړی او حق ئې خپل څښتن ته سپارلی؛ د دوې مقام ډېر لوړ دئ، د الله تعالی په وړاندې د اوچت مقام خاوندان دي، د قیامت په ورځ به د الله تعالی خوا ته د نور پر منبرونو ناست وي.
- لکه څرنګه چې په دنیا کې د پاچایانو او واکمنو دا دود دئ چې که وغواړي څوك تقدیر کړي او درناوی ئې وکړي نو هغوی خپلې ښۍ خوا ته دروي او کښېنوي؛ الله تعالی هم عدل کوونکو ته خاص مقام ورکوي او تقدیروي ئې خپلې خوا ته ځای ورکوي؛ خو پام مو وي چې الله تعالی له مخلوق سره تشبیه نه کړئ، د الله تعالی په رابطه ښی او کیڼ مطرح نه دي، هر څوك چې هر چېري د الله تعالی خوا ته ځای ومومي؛ همغه ځای مبارك دئ.

لکه چې قرآن موسی علیه السلام ته د طور په لمني کې وفرمایل:

فَلَمَّا جَاءَهَا نُودِيَ أَنْ بُورِكَ مَنْ فِي النَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا وَسُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٨﴾ النمل

نو کله چې ورته راغی؛ ورغږ شو چې هغه هم مبارك کړی شوی چې په اور کې دئ او هغه هم چې شاوخوا کې ئې دي؛ او پاکې د عالمونو رب الله ته ده.

یعني کله چې موسی علیه السلام د اور ځای ته ورغی؛ داسې غږ پرې وشو: دا یو سپېڅلی ناو دئ، هغه هم مبارك دئ چې په اور کې دئ او هغه هم چې شاوخوا کې ئې دئ؛ او پاکې د عالمونو رب الله ته ده؛ یعني اوس دا سیمه د الله تعالی تر خاص رعایت لاندې ده او هر څه ئې مبارك دي.

د آیت دا فقره غور غواړي چې وایي: پاکې هغه الله ته ده چې د

عالمونو رب دئ؛ باید وګورو چي له مخکینیو فقرو سره ئې تړاو څنګه دئ، تر دې وړاندي د یوه مکان، اور او غرِ یادونه شوې؛ له هر چا سره دا پوښتنه راولاړېږي چي له رب العالمین سره د دغو دریو (مکان، اور او غرِ) تړاو څنګه دئ؟ په دې فقرې سره دغي پوښتني ته ځواب ویل شوی او هغه داسي چي الله تعالی د عالمونو رب دئ، له هر عیب او نقص منزه دئ، نه مکان ته اړ دئ، نه ئې دلته حضور داسي وو لکه کوم مخلوق چي یو ځای پرېږدي او بل ځای ته ولاړ شي، نه دا اور او رڼا ئې د ده د تجلي او جلال رڼا وه او نه دې ته اړ دئ چي چا ته د یوې لارښوونې د القاء لپاره داسي تکلم وکړي لکه د یوه انسان تکلم له بل سره؛ د الله تعالی هیڅ څه مخلوق ته ورته نه دي، په هیڅ څه کې د مخلوق په څېر نه دئ، داسي نه چي الله تعالی له مخلوق سره تشبیه کړئ، داسي نه چي یوه وړه دره د رب العالمین لپاره مکان وګڼئ، الله تعالی همدلته له موسی علیه السلام سره تکلم کړی، خو دا تکلم څنګه وو؟ موږ نه پوهېږو، یوازي دومره ویلي شو چي موسی علیه السلام ته داسي غږ شوی او داسي تکلم ورسره شوی چي دی پرې پوه شوی، دا اور او رڼا د الله تعالی د تجلي رڼا نه وه، ځکه قرآن په خپله په بل ځای کې موږ ته لارښوونه کوي چي موسی علیه السلام له الله تعالی وغوښتل چي ځان وروښیي، هغه ته وویل شو چي ما نه شې لیدلی، دا دئ وګوره چي ستر غر د الله تعالی د تجلي په وړاندي مقاومت نه شي کولی، الله تعالی د غره په لوري تجلي وکړه، غر ټوټې ټوټې شو او موسی علیه السلام بې سده شو.

په روایت کې ویل شوي: که نن یو شمېر جابر او متکبر واکمنان په خپل قوت او واکمنۍ غره دي، اقتدار او واکمني ئې د تمرد سبب شوې او دا ئې هېره کړې چي الله تعالی د هر څه واکمن دئ او دا هر څه د هغه په واك کې دي؛ همدا مغرور واکمنان به د قیامت په ورځ وګوري چي زمکي او آسمانونه د الله تعالی ملکیت دي، دا زمکي او آسمانونه د

الله تعالی د عظمت په وړاندي داسي دي لکه د انسان لپاره د کاغذ یوه پاڼه، الله تعالی به آسمان او زمکه داسي راونغاړي لکه د کاغذ یوه پاڼه زموږ په لاس کي.

په قرآن کي ګڼ شمېر استعارې راغلې؛ په دغو استعارو کي کارول شوي الفاظ؛ هیڅکله په اصلي معنی نه کارول شوي او نه ئې موږ په اصلي معنی تعبیرولی شو؛ لکه د قرآن په اړه چي راغلي:

نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَأَنْزَلَ التَّوْرَاةَ وَالإِنْجِيلَ ﴿٣﴾ آل عمران

پر تا ئې دا کتاب په حقه نازل کړ؛ د هغه څه تصدیقوونکی چي ترې وړاندي دي او تورات او انجیل ئې نازل کړ.

په دې آیت کي دا الفاظ د استعارو په توګه کارول شوي: نَزَّلَ، مَا بَيْنَ يَدَيْهِ او أَنْزَلَ؛ یو ئې هم په اصلي معنی نه شو تعبیرولی؛ ځکه نه قرآن له آسمان د مجسم کتاب په بڼه کي راکوز کړی شوی، نه تورات او انجیل او نه نور کتابونه او نه قرآن دوه لاسونه لري چي مخکیني کتابونه ئې په کي نیولي وي او رښتیني ئې بولي؛ د الله تعالی په اړه (ید) او (یمین او شمال)؛ همداسي استعارې دي.

## ۵ باب: تر رد کېدو وړاندي صدقه

۷۱۰- عن حَارِثَةَ بْنَ وَهْبٍ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " تَصَدَّقُوا، فَإِنَّهُ يَأْتِي عَلَيْكُمْ زَمَانٌ يَمْشِي الرَّجُلُ بِصَدَقَتِهِ، فَلاَ يَجِدُ مَنْ يَقْبَلُهَا، يَقُولُ الرَّجُلُ: لَوْ جِئْتَ بِهَا بِالأَمْسِ لَقَبِلْتُهَا، فَأَمَّا اليَوْمَ، فَلاَ حَاجَةَ لِي بِهَا " (بخاری: ۱۴۱۱)

۷۱۰- له حارثه بن وهب رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: له نبي صلی الله علیه و سلم مي اورېدلي چي فرمایل ئې: همدا اوس د خپلو مالونو زکات ورکوئ ځکه داسي وخت درباندي راتلونکی دئ چي یو کس به د خپل مال زکات او صدقه بهر وړي؛ خو داسي څوک به نه مومي

چي هغه ترې واخلي، ده ته به هغه سړی (چې زکات ورکول غواړي) وايي: که پرون دې راوړې وی؛ نو اخيستې به مې وه؛ خو نن ورته ضرورت نه لرم.

تکرار: دا روايت په بخاري کې دوه ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی: ١٤٢٤، ٧١٢٠؛ غريب دئ؛ په ٤ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: آدَم، شُعْبَة، مَعْبَد بْن خَالِد او حَارِثَة بْن وَهْب رضي الله عنه؛ له بخاري پرته په بل هيڅ کتاب کې نه دئ راوړل شوی؛ يعني چې هم غريب دئ او هم شاذ.

توپير: په يوه کې فَإِنَّهُ يَأْتِي عَلَيْكُمْ په بل کې فَسَيَأْتِي عَلَيْكُمْ او په بل کې فَسَيَأْتِي عَلَى النَّاسِ، په دوو کې دا فقره راغلې فَلاَ يَجِدُ مَنْ يَقْبَلُهَا او په يوه کې نه ده راغلې، په يوه کې لَقَبِلْتُهَا او په بل کې لَقَبِلْتُهَا مِنْكَ، په يوه کې فَلاَ حَاجَةَ لِي بِهَا او په بل کې فَلاَ حَاجَةَ لِي فِيهَا راغلي.

دلته څو خبرې بايد په پام کې ولرو:

- په دې روايت کې مسلمانان د صدقې په ورکولو کې تلوار ته هڅول شوي، د مال خاوند بايد د صدقې په ورکړې کې تلوار وکړي؛ داسې نه چې تأني او سستي ئې د دې باعث شي چې د صدقې اخيستونکی ونه مومي.
- له صدقې مراد عامه صدقه ده، هغه چې صدقه ورکوونکی ئې په خپل لاس کوم مسکين او فقير ته ورکوي؛ نه هغه زکات او عشر چې اسلامي حکومت ئې له خلکو تر لاسه کوي او په خپلو مواردو کې ئې لګوي.
- په دې اړه د محدثينو تر منځ اختلاف دئ چې د وفرت هغه مهال به کله وي چې د صدقې اخيستونکی به نه شو موندلی؛ ځيني دا د قيامت له اشراطو او علائمو بولي او وايي تر قيامت وړاندې به داسې حالت رامنځته شي؛ وايي له نورو رواياتو معلومېږي چې دا د قيامت له علائمو او نښو ده. ځيني بيا وايي چې د مسلمانانو د اقتدار په دوران کې يو وخت همداسې حالت راغلی چې په ځينو سيمو کې به زکات اخيستونکي

نه موندل کېدل.

٧١١ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَكْثُرَ فِيكُمُ الْمَالُ فَيَفِيضَ، حَتَّى يُهِمَّ رَبَّ الْمَالِ مَنْ يَقْبَلُ صَدَقَتَهُ، وَحَتَّى يَعْرِضَهُ فَيَقُولَ الَّذِى يَعْرِضُهُ عَلَيْهِ لاَ أَرَبَ لِى. (بخارى: ١٤١٢)

٧١١- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: نبي صلى الله عليه و سلم فرمايلي: قيامت تر هغه نه راځي چي په تاسو کي شتمني ډېره شي او دومره ډېرښت به ومومي چي عامه به شي؛ تر هغه چي د مال څښتن ته به دا اندېښنه راولاړه کړي چي څوك به ئې صدقه قبوله کړي؟ حتى وړاندي به ئې کړي خو هغه څوك چي وروړاندي کړې ئې ده وبه وايي: زه کومه اړتيا نه لرم.

تکرار: دا روايت په بخاري کي دوه ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ١٠٣٦، ٧١٢١؛ غريب دئ؛ په ٥ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: أَبُو اليَمَانِ، شُعَيْب، أَبُو الزِّنَادِ، عَبْد الرَّحْمَن او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري علاوه په صحيح مسلم کي هم راوړل شوی؛ خو له ابوهريره وروسته ئې راويان بېل دي.

توپير: په دوو نورو کي د مال د کثرت تر څنګ څو نورو امورو ته هم اشاره شوې، لکه يُقْبَضَ الْعِلْمُ، وَتَكْثُرَ الزَّلاَزِلُ، وَيَتَقَارَبَ الزَّمَانُ، وَتَظْهَرَ الْفِتَنُ، وَيَكْثُرَ الْهَرْجُ - وَهْوَ الْقَتْلُ الْقَتْلُ، حَتَّى تَقْتَتِلَ فِئَتَانِ عَظِيمَتَانِ، يَكُونُ بَيْنَهُمَا مَقْتَلَةٌ عَظِيمَةٌ، دَعْوَتُهُمَا وَاحِدَةٌ، وَحَتَّى يُبْعَثَ دَجَّالُونَ كَذَّابُونَ، قَرِيبٌ مِنْ ثَلاَثِينَ، كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ رَسُولُ اللَّهِ، وَحَتَّى يَتَطَاوَلَ النَّاسُ فِي الْبُنْيَانِ، وَحَتَّى يَمُرَّ الرَّجُلُ بِقَبْرِ الرَّجُلِ فَيَقُولُ يَا لَيْتَنِى مَكَانَهُ. وَحَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا، فَإِذَا طَلَعَتْ وَرَآهَا النَّاسُ - يَعْنِى - آمَنُوا أَجْمَعُونَ، فَذَلِكَ حِينَ لاَ يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ؛ او كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ نَشَرَ الرَّجُلاَنِ ثَوْبَهُمَا بَيْنَهُمَا، فَلاَ يَتَبَايَعَانِهِ وَلاَ يَطْوِيَانِهِ، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدِ انْصَرَفَ الرَّجُلُ بِلَبَنِ لِقْحَتِهِ

(د خپلې اوښې شيدې به ئې لوشلې وي) فَلاَ يَطْعَمُهُ، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَهْوَ يُلِيطُ حَوْضَهُ (خپل حوض به سمبالوي) فَلاَ يَسْقِى فِيهِ، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ رَفَعَ أُكْلَتَهُ إِلَى فِيهِ فَلاَ يَطْعَمُهَا.

له روايت معلومېږي چي قيامت به ناڅاپي وي؛ هيڅوك به نه پوهېږي او نه به گمان كوي چي داسي ژر به قيامت راشي، په خپلو كارونو به لگيا وي چي ناڅاپي به قيامت پرې راشي؛ او دا هغه څه دي چي قرآن فرمايي:

يَسْأَلُونَكَ عَنِ السَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَاهَا قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّي لا يُجَلِّيهَا لِوَقْتِهَا إِلا هُوَ ثَقُلَتْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ لا تَأْتِيكُمْ إِلا بَغْتَةً يَسْأَلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَا قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللَّهِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لا يَعْلَمُونَ ١٨٧ الأعراف

د دې نېټې (قيامت) په اړه تا پوښتي چي د وقوع وخت ئې كله دئ؟ ووايه: علم ئې فقط زما له رب سره دئ، له ده پرته ئې بل څوك په خپل وخت كې نه راڅرگندوي، په آسمانونو او زمكې كې درنه شوې، نه درته راځي مگر ناڅاپي، تا داسي پوښتي چي گواكې ترې خبر يې، ووايه: علم ئې يوازې له الله سره دئ؛ خو اكثر خلك نه پوهېږي.

دا آيت په مكرره توگه د قيامت علم الله تعالى ته مختص كوي او پر دې تأكيد كوي چي فقط الله به ئې په خپلې ټاكلې نېټې رابرسېره كوي او له دې پټ راز به پرده اوچتوي، ناڅاپي او له مخكينۍ اطلاع پرته به تاسو نيسي؛ د دې لپاره چي د قيامت حادثه هومرهستره ده چي ټول آسمانونه او زمكه به احتواء كوي، نو ځكه ئې په ټاكلې نېټې پوهېدل انسان ته گران شوي. له پيغمبر عليه السلام ستاسو پوښتني داسي دي لكه چي هغه ترې خبر وي؛ په داسي حال كې چي له الله پرته هيڅوك پرې نه پوهېږي.

٧١٢- عَنْ عَدِيِّ بْنَ حَاتِمٍ رضى الله عنه يَقُولُ كُنْتُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ فَجَاءَهُ رَجُلاَنِ أَحَدُهُمَا يَشْكُو الْعَيْلَةَ، وَالآخَرُ يَشْكُو قَطْعَ السَّبِيلِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَّا قَطْعُ السَّبِيلِ فَإِنَّهُ لاَ يَأْتِي عَلَيْكَ إِلاَّ قَلِيلٌ حَتَّى تَخْرُجَ الْعِيرُ إِلَى مَكَّةَ بِغَيْرِ خَفِيرٍ، وَأَمَّا الْعَيْلَةُ فَإِنَّ السَّاعَةَ لاَ تَقُومُ حَتَّى يَطُوفَ أَحَدُكُمْ بِصَدَقَتِهِ لاَ يَجِدُ مَنْ يَقْبَلُهَا مِنْهُ، ثُمَّ لَيَقِفَنَّ أَحَدُكُمْ بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ حِجَابٌ وَلاَ تُرْجُمَانٌ يُتَرْجِمُ لَهُ، ثُمَّ لَيَقُولَنَّ لَهُ أَلَمْ أُوتِكَ مَالاً فَلَيَقُولَنَّ بَلَى. ثُمَّ لَيَقُولَنَّ أَلَمْ أُرْسِلْ إِلَيْكَ رَسُولاً فَلَيَقُولَنَّ بَلَى. فَيَنْظُرُ عَنْ يَمِينِهِ فَلاَ يَرَى إِلاَّ النَّارَ، ثُمَّ يَنْظُرُ عَنْ شِمَالِهِ فَلاَ يَرَى إِلاَّ النَّارَ، فَلْيَتَّقِيَنَّ أَحَدُكُمُ النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ، فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ. (بخاری: ۱۴۱۳)

۷۱۲- له عَدِي بن حاتِم رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د رسول الله صلی الله علیه و سلم سره خوا ته وم چي دوه کسان ورته راغلل؛ یوه ئې له فقر او بل ئې د لارو له شوکو شکایت کاوو؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: دا شوکې داسي دي چي پر تا به لا لږه موده نه وي تېره شوې چي يو کاروان به د مکې په لوري وځي؛ پرته له کوم بدرگه وال؛ او دا نېستمني داسي ده چي تر هغه به قيامت نه راځي چي ستاسو يو سړی به له خپلي صدقې سره چورلي خو داسي څوک به نه مومي چي صدقه ئې ترې قبوله کړي (د شتمنيو د ډېرښت له امله)، بيا به د قيامت په ورځ چي ستاسو هر څوک به په داسي حال کي د الله تعالی په وړاندي ودرېږي چي د ده او الله تر منځ به نه پرده وي او نه داسي ترجمان چي ده ته ترجماني وکړي؛ بيا به حتماً ورته ووايي: آيا مال مي نه وو درکړی؟ هغه سړی به حتماً ووايي: هو؛ ولي نه؛ بيا به حتماً ورته وفرمايي: آيا يو رسول مي نه وو دراستولی؟ هغه سړی به حتماً ووايي: هو؛ ولي نه؛ نو بيا به خپلي ښۍ خوا ته وگوري او له اور پرته به بل څه ونه گوري، بيا به خپل کيڼ لوري ته وگوري او له اور پرته به بل څه ونه ويني؛ نو (اې خلکو!) ستاسو هر يو دي له دې اور ځان وساتي

كه څه هم د يوې كجورې په كومې ټوټې سره وي؛ او كه (دا هم) ونه مومي نو په يوې نېكې وينا سره (دې له دې اور څان وژغوري).

تكرار: دا روايت په بخاري کې اته ځلې نور هم په دغو شمېرو راغلی: ١٤١٧، ٣٥٩٥، ٦٠٢٣، ٦٥٣٩، ٦٥٤٠، ٦٥٦٣، ٧٤٤٣، ٧٥١٢؛ غريب دئ؛ په صحابه وو کې يو راوي لري چې عَدِي بن حاتِم رضي الله عنه دئ؛ په معجم الكبير للطبراني او سنن الكبرى للبيهقي کې هم له همدې سند او متن سره راغلی؛ د ټولو راويان په ٤ طبقو کې دا دي: سَعِيد بْن بِشْر، أَبُو مُجَاهِد، مُحِلّ بْن خَلِيفَةَ الطَّائِي او عَدِي بْنَ حَاتِم رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

توپير: په يوه کې بَيْنَا أَنَا عِنْدَ النَّبِىِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په بل کې كُنْتُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په يوه کې فَجَاءَهُ رَجُلاَنِ أَحَدُهُمَا يَشْكُو الْعَيْلَةَ، وَالآخَرُ يَشْكُو قَطْعَ السَّبِيلِ په بل کې إِذْ أَتَاهُ رَجُلٌ فَشَكَا إِلَيْهِ الْفَاقَةَ، ثُمَّ أَتَاهُ آخَرُ، فَشَكَا قَطْعَ السَّبِيلِ، په يوه کې فَيَنْظُرُ عَنْ يَمِينِهِ فَلاَ يَرَى إِلاَّ جهَنَّمَ، وَيَنْظُرُ عَنْ يَسَارِهِ فَلاَ يَرَى إِلاَّ جهَنَّمَ په بل کې وَيَنْظُرُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلاَ يَرَى إِلاَّ النَّارَ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ فَيَنْظُرُ أَيْمَنَ مِنْهُ فَلاَ يَرَى إِلاَّ مَا قَدَّمَ مِنْ عَمَلِهِ، وَيَنْظُرُ أَشْأَمَ مِنْهُ فَلاَ يَرَى إِلاَّ مَا قَدَّمَ، په يوه کې تَخْرُجَ الْعِيرُ إِلَى مَكَّةَ بِغَيْرِ خَفِيرٍ، په بل کې الظَّعِينَةَ (په كجاوه کې مېرمن) تَرْتَحِلُ مِنَ الْحِيرَةِ، حَتَّى تَطُوفَ بِالْكَعْبَةِ، لاَ تَخَافُ أَحَدًا إِلاَّ اللَّهَ په يوه کې لَيَقِفَنَّ أَحَدُكُمْ بَيْنَ يَدَى اللَّهِ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ حِجَابٌ وَلاَ تُرْجُمَانٌ يُتَرْجِمُ لَهُ په بل کې وَلَيَلْقَيَنَّ اللَّهَ أَحَدُكُمْ يَوْمَ يَلْقَاهُ، وَلَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تُرْجُمَانٌ يُتَرْجِمُ لَهُ په بل کې مَا مِنْكُمْ أَحَدٌ إِلاَّ سَيُكَلِّمُهُ رَبُّهُ، لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تَرْجُمَانٌ په يوه کې ثُمَّ لَيَقُولَنَّ أَلَمْ أُرْسِلْ إِلَيْكَ رَسُولاً په بل کې فَيَقُولَنَّ أَلَمْ أَبْعَثْ إِلَيْكَ رَسُولاً په يوه کې لَيَقُولَنَّ لَهُ أَلَمْ أُوتِكَ مَالاً په بل کې فَيَقُولُ أَلَمْ أُعْطِكَ مَالاً وَأُفْضِلْ عَلَيْكَ په يوه کې لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ حِجَابٌ، وَلا تَرْجُمَانٌ يُتَرْجِمُ لَهُ په بل کې لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تُرْجُمَانٌ وَلاَ حِجَابٌ يَحْجُبُهُ په يوه کې مَا مِنْكُمْ أَحَدٌ إِلاَّ سَيُكَلِّمُهُ رَبُّهُ په بل کې ثُمَّ لَيَقِفَنَّ أَحَدُكُمْ بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ راغلي.

د دې ټولو رواياتو محوري او اساسي موضوع دا ده چې د اسلام له

برکته به د جاهلیت د دور خوره بې امني او فقر له منځه ولاړ شي، ډاډمن امنیت به تأمین شي، وفرت او کثرت به رامنځته شي؛ مسلمانان انفاق او د صدقې ورکولو ته هڅوي او لارښوونه ورته کوي چي هر څوک به په داسي حال کي د الله تعالی په وړاندي ودرېږي چي د ده او الله تر منځ به نه پرده وي او نه داسي ترجمان چي ده ته ترجماني وکړي؛ هلته به خپل ښي او کيڼ لوري ته د اور لمبې ګوري، ورته وايي: هر يو دي له دې اور ځان وساتي که څه هم د يوې کجوري په کومي ټوټې سره وي؛ او که (دا هم) ونه مومي نو په يوې نېکي وينا سره (دي له دې اور ځان وژغوري).

## ٦ باب: صدقه له اور د نجات سبب دئ

٧١٣ ـ عَنْ أَبِي مُوسَى رضى الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَطُوفُ الرَّجُلُ فِيهِ بِالصَّدَقَةِ مِنَ الذَّهَبِ، ثُمَّ لا يَجِدُ أَحَدًا يَأْخُذُهَا مِنْهُ، وَيُرَى الرَّجُلُ الْوَاحِدُ يَتْبَعُهُ أَرْبَعُونَ امْرَأَةً يَلُذْنَ بِهِ، مِنْ قِلَّةِ الرِّجَالِ وَكَثْرَةِ النِّسَاءِ». (بخاری: ١٤١٤)

٧١٣ ـ له ابو موسی رضي الله عنه روايت دئ چي نبي صلی الله عليه و سلم فرمايلي: پر خلکو به داسي زمانه راشي چي يو سړی به د سرو زرو له صدقې سره چورلي خو داسي څوک به نه مومي چي ترې وائې خلي؛ او ليدل کېږي به چي په يوه سړي پسي به څلوېښت ښځي رواني وي چي د هغه پناه ئې په برخه شي؛ د نارينه وو د لږوالي او د ښځو د ډېرښت له امله.

دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلی؛ ؛غريب دئ؛ په ٥ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: مُحَمَّد بْن العَلاَءِ، أَبُو أُسَامَة، بُرَيْد، أَبو بُرْدَةَ او أَبو مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. پر بخاري علاوه يوازي په مسلم کي له همدې سند او متن سره راغلی.

مطلب ئې د مال او ښځو د زياتوالي په اړه وړاندوينه ده، داسي چي صدقه ورکوونکي به د داسي چا لټه کوي چي صدقه ئې ترې قبوله کړي خو نه به ئې مومي، د ښځو شمېر به د نارينه وو په پرتله دومره زيات شي چي څلوېښت ښځي به په يوه نارينه پسي رواني وي (په دې موخه چي د هغه خوا ته پناځی ومومي)

٧١٤ ـ عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الأَنْصَارِيِّ رضى الله عنه قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمَرَنَا بِالصَّدَقَةِ، انْطَلَقَ أَحَدُنَا إِلَى السُّوقِ، فَيُحَامِلُ، فَيُصِيبُ الْمُدَّ، وَإِنَّ لِبَعْضِهِمُ الْيَوْمَ لَمِائَةَ أَلْفٍ». (بخارى: ١٤١٦)

٧١٤ ـ له ابو مسعود انصاري رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: کله چي به رسول الله صلى الله عليه و سلم موږ ته د صدقې امر کاوو؛ زموږ يو کس به بازار ته ولاړ نو پېټي به ئې پر شا وړل او په بدل کې به ئې يوه لپه کجوري په برخه شوې؛ او يقيناً چي نن د دوی ځيني د سلو زرو خاوندان دي.

تکرار: دا روايت په بخاري کې څلور ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی: ١٤١٥، ٢٢٧٣، ٤٦٦٨، ٤٦٦٩؛ غريب دئ؛ په ۵ طبقو کې يو يو راوي لري چي دا دي: سَعِيد بْن يَحْيَى، پلار ئې يحيى، الأَعْمَش، شَقِيق او أَبو مَسْعُود الأَنْصَارِيّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. پر بخاري علاوه يوازي په المعجم الكبير للطبرانی کې راغلی.

توپير: په يوه کې كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمَرَنَا بِالصَّدَقَةِ په بل کې لَمَّا نَزَلَتْ آيَةُ الصَّدَقَةِ، په يوه کې يُحَامِلُ په بل کې فَتَحَامَلَ په بل کې كُنَّا نَتَحَامَلُ په بل کې كُنَّا نُحَامِلُ په يوه کې فَيُصِيبُ الْمُدَّ، په بل کې يَجِيءَ بِالْمُدِّ، په بل کې فَجَاءَ أَبُو عَقِيلٍ بِنِصْفِ صَاعٍ، په بل کې فَجَاءَ رَجُلٌ فَتَصَدَّقَ بِشَيْءٍ كَثِيرٍ فَقَالُوا مُرَائِي وَجَاءَ رَجُلٌ فَتَصَدَّقَ بِصَاعٍ فَقَالُوا إِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنْ صَاعِ هَذَا په بل کې وَجَاءَ إِنْسَانٌ بِأَكْثَرَ مِنْهُ، په بل کې فَقَالَ الْمُنَافِقُونَ إِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنْ صَدَقَةِ هَذَا، وَمَا فَعَلَ هَذَا الآخَرُ إِلَّا

رِئَاءً، په یوه کې كَأَنَّهُ يُعَرِّضُ بِنَفْسِهِ په بل کې قَالَ مَا نُرَاهُ إِلَّا نَفْسَهُ (گمان کوو چې هغه خپل ځان ښودو؛ یعني له (احد) د ابو مسعود رضي الله عنه مقصد خپل ځان وو) راغلي.

د دې روایاتو مطلب دا دئ چې د اسلام په لومړیو کې مسلمانانو په فقر کې ژوند کولو، ډېرو به ئې په بازار کې شاقه کارونه کول، پېټي به ئې پر شا وړل، په بدل کې به ئې یوه لپه خرما تر لاسه کړه، همدا به ئې د الله په لار کې وقف کړه؛ منافقینو به پر دغو نېستمنو مؤمنانو ملنډې وهلې؛ او که به چا زیات مال د الله تعالی په لار کې وقف کړ نو منافقینو به هغوی په ریاء او ځان ښودنې تورنول؛ لا لنډه موده نه وه تېره شوې چې له همدغو نېستمنو مسلمانانو ځیني دومره شتمن شول چې شتمنې ئې سلو زرو ته رسېدله.

ځینو د دې روایت په اړه ویلي: له دې روایاتو معلومېږي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغې وړاندوینې یو مصداق همدا د مسلمانانو د اقتصادي حالت ښه کېدا وو.

د روایت یوه برخه هغه څه دي چې د قرآن په دې آیت کې راغلي:

الَّذِينَ يَلْمِزُونَ الْمُطَّوِّعِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ فِي الصَّدَقَاتِ وَالَّذِينَ لا يَجِدُونَ إِلا جُهْدَهُمْ فَيَسْخَرُونَ مِنْهُمْ سَخِرَ اللَّهُ مِنْهُمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٩﴾ التوبة

هغه چې د مؤمنانو پر ایثارگرو (په پراخ زړه انفاق کوونکو) نیوکې کوي او پر هغو د دې لپاره ملنډې وهي چې د خپل زیار (له حاصل علاوه) څه نه مومي؛ الله پر دوی ټمسخر کړی او دوی ته دردوونکی عذاب دئ.

یعني منافقینو له یوې خوا پر هغو ایثارگرو مؤمنانو نیوکې کولې چې په پراخ زړه او خلاص لاس خپلې شتمنۍ د الله تعالی په لار کې وقف کوي، وایي: دوی د ریاء او ځان ښودنې لپاره دا کار کوي او زیات مال وقف کوي!! خو له بلې خوا پر هغو بې وزلو مؤمنانو د دې لپاره ملنډې وهي چې د نیستمنۍ په وجه ډېر

لږ څه د الله تعالی په لار کې وقف کولی شي، څوك د کجورو يو وږی، څوك يو سېرلی، څوك څو درهمه او څوك د خپل ورځني زيار او کار د مزد او اجورې يوه برخه؛ نور څه نه مومي چې د الله تعالی په لار کې ئې قرباني کړي، منافقينو به پرې خندل چې دوی غواړي د مړز په ورون سره روم فتح کړي؛ خو الله تعالی فرمايي چې د منافقينو حالت د ټمسخر وړ دئ نه د دغو مخلصو مؤمنانو!! دا ځکه چې نفاق ئې له هغه دردناك عذاب سره مخامخ کوي چې الله تعالی منافقينو ته ټاکلی.

٧١٥ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: دَخَلَتِ امْرَأَةٌ مَعَهَا ابْنَتَانِ لَهَا تَسْأَلُ، فَلَمْ تَجِدْ عِنْدِي شَيْئًا غَيْرَ تَمْرَةٍ، فَأَعْطَيْتُهَا إِيَّاهَا، فَقَسَمَتْهَا بَيْنَ ابْنَتَيْهَا، وَلَمْ تَأْكُلْ مِنْهَا، ثُمَّ قَامَتْ فَخَرَجَتْ، فَدَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْنَا فَأَخْبَرْتُهُ، فَقَالَ: «مَنِ ابْتُلِيَ مِنْ هَذِهِ الْبَنَاتِ بِشَيْءٍ كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنَ النَّارِ». (بخاری: ١٤١٨)

٧١٥- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: يوه ښځه چې دوه لوڼي ورسره وې راغله؛ سوال ئې کاوو؛ خو له ما سره له يوې خرما پرته بل څه نه موندل کېدل؛ نو همغه مي ورکړه؛ نو هغې دا خرما د خپلو دوو لوڼو تر منځ ووېشله او په خپله ئې څه ترې ونه خوړل، بيا پاڅېده او ووتله؛ بيا رسول الله صلی الله عليه و سلم موږ ته راغی نو دا خبره مي ورته وکړه؛ نو وئې فرمايل: څوک چې له دغو نجونو په ځينو وآزمويل شي؛ هغوی به د دوزخ د اور په وړاندي ورته پرده شي.

تکرار: دا روايت په بخاري کې يو ځل بيا هم په دغې شمېرې راغلی: ٥٩٩٥؛ غريب دئ؛ په ٧ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: بِشْر بْن مُحَمَّد، عَبْدُ اللَّهِ، مَعْمَر، الزُّهْرِيّ، عَبْد اللَّهِ بْن أَبِي بَكْرِ بْنِ حَزْمٍ، عُرْوَة او عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا. پر بخاري علاوه يوازې په شعب الايمان للبيهقي، مسند احمد او مصنف عبدالرزاق کې راغلی.

توپير: په يوه کې جَاءَتْنِي امْرَأَةٌ مَعَهَا ابْنَتَانِ تَسْأَلُنِي په بل کې دَخَلَتِ امْرَأَةٌ مَعَهَا ابْنَتَانِ لَهَا تَسْأَلُ په يوه کې فَلَمْ تَجِدْ عِنْدِي غَيْرَ تَمْرَةٍ وَاحِدَةٍ

فَأَعْطَيْتُهَا په بل كې فَلَمْ تَجِدْ عِنْدِى شَيْئًا غَيْرَ تَمْرَةٍ فَأَعْطَيْتُهَا إِيَّاهَا په يوه كې فَقَسَمَتْهَا بَيْنَ ابْنَتَيْهَا په بل كې فَقَسَمَتْهَا بَيْنَ ابْنَتَيْهَا وَلَمْ تَأْكُلْ مِنْهَا په يوه كې فَحَدَّثْتُهُ په بل كې فَأَخْبَرْتُهُ په يوه كې مَنْ يَلِى مِنْ هَذِهِ الْبَنَاتِ شَيْئًا فَأَحْسَنَ إِلَيْهِنَّ كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنَ النَّارِ په بل كې مَنِ ابْتُلِىَ مِنْ هَذِهِ الْبَنَاتِ بِشَىْءٍ كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنَ النَّارِ راغلي.

## ۷ باب: کومه صدقه غوره ده

۷۱۶- عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ الصَّدَقَةِ أَعْظَمُ أَجْرًا؟ قَالَ: أَنْ تَصَدَّقَ وَأَنْتَ صَحِيحٌ شَحِيحٌ، تَخْشَى الْفَقْرَ وَتَأْمُلُ الْغِنَى، وَلا تُمْهِلُ حَتَّى إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُومَ، قُلْتَ: لِفُلانٍ كَذَا، وَلِفُلانٍ كَذَا، وَقَدْ كَانَ لِفُلانٍ. (بخارى: ۱۴۱۹)

۷۱۶- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: يو سړی رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغی او وئې ويل: يا رسول الله! کومه صدقه ستر اجر لري؟ وئې فرمايل: دا چي ته په داسي حال کې صدقه ورکړې چي ته روغ او له مال سره حرص لرونکی يې، له فقر وېره او د شتمنتيا هيله لرې؛ او تر هغه ئې ونه ځنډوې چي روح ستوني ته ورسېږي، (او هغه مهال) ووايې: د فلاني لپاره دومره او د فلاني لپاره دومره، په داسي حال کې چي هغه مهال هسي هم د فلاني او فلاني وي.

تکرار: دا روايت په بخاري کې يو ځل بيا په دغي شمېرې راغلی: ۲۷۴۸؛ غريب دئ؛ په ۵ طبقو کې يو يو راوي لري چي دا دي: مُوسَى بْن إِسْمَاعِيل، عَبْدُ الوَاحِد، عُمَارَة بْن القَعْقَاعِ، أَبُو زُرْعَةَ او أَبُو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ په ډېرو نورو کتابونو کې هم له همدې سند او متن سره راوړل شوی.

توپير: په يوه کې جَاءَ رَجُلٌ په بل کې قَالَ رَجُلٌ په يوه کې أَيُّ الصَّدَقَةِ أَعْظَمُ أَجْرًا په بل کې أَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ په يوه کې وَأَنْتَ صَحِيحٌ شَحِيحٌ په

بل كِي وَأَنْتَ صَحِيحٌ حَرِيصٌ په يوه كي تَخْشَى الْفَقْرَ وَتَأْمُلُ الْغِنَى په بل كي تَأْمُلُ الْغِنَى، وَتَخْشَى الْفَقْرَ راغلي.

د روايت مراد دا دئ چي صدقه تر هغه مه ځنډوه چي مرگ رانژدې شي او روح ستوني ته راورسېږي؛ هغه مهال خو هسي هم ستا مال بل ته پاته کېږي؛ تر دې وړاندي او هغه مهال صدقه ورکړه چي ته روغ رمټ يې، له فقر وېره او د لازياتو شتمنيو تر لاسه کولو هيله لرې.

٨ باب: له صدقه ورکولو سره مينه

٧١٧ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّه عَنْهَا: أَنَّ بَعْضَ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْنَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّنَا أَسْرَعُ بِكَ لُحُوقًا؟ قَالَ: أَطْوَلُكُنَّ يَدًا. فَأَخَذُوا قَصَبَةً يَذْرَعُونَهَا، فَكَانَتْ سَوْدَةُ أَطْوَلَهُنَّ يَدًا، فَعَلِمْنَا بَعْدُ أَنَّمَا كَانَتْ طُولَ يَدِهَا الصَّدَقَةُ، وَكَانَتْ أَسْرَعَنَا لُحُوقًا بِهِ، وَكَانَتْ تُحِبُّ الصَّدَقَةَ. (بخاري: ١٤٢٠)

٧١٧- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم ځينو مېرمنو نبي صلى الله عليه و سلم ته وويل: له موږ به کومه يوه تر نورو مخکي له تا سره ملحقه او يو ځای شي؟ وئې فرمايل: ستاسو هغه چي تر ټولو ئې لاس اوږد وي؛ بيا ئې مېرمنو يو نی راواخيست او خپل لاسونه ئې پرې اندازه کول؛ نو سوده رضي الله عنها داسي وه چي لاس ئې تر ټولو اوږد وو، خو وروسته پوه شوو چي د لاس له اوږدوالي مطلب سخا او زياته صدقه ورکول وو او همغه تر موږ ټولو ژر له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ملحق شوه، (وفات شوه) او هغې به صدقه ورکول خوښول.

دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ٥ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: مُوسَى بْن إِسْمَاعِيلَ، أَبُو عَوَانَةَ، فِرَاس، الشَّعْبِيّ، مَسْرُوقٍ او عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا.

د بخاري دا روايت څو جدي ستونزي لري:

د مسلم له هغه روایت سره تعارض لري چې د ام المؤمنین زینب د فضائلو په اړه ئې راوړی؛ روایت دا دئ:

١٠١ - عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَسْرَعُكُنَّ لَحَاقًا بِي أَطْوَلُكُنَّ يَدًا» قَالَتْ: فَكُنَّ يَتَطَاوَلْنَ أَيَّتُهُنَّ أَطْوَلُ يَدًا، قَالَتْ: فَكَانَتْ أَطْوَلَنَا يَدًا زَيْنَبُ، لِأَنَّهَا كَانَتْ تَعْمَلُ بِيَدِهَا وَتَصَدَّقُ.

له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چې وئې ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: له تاسو به هغه تر نورو وړاندې له ما سره ملحق شي (وبه مري او له ما سره به یو ځای شي چې تر ټولو ئې لاس اوږد وي؛ نو موږ خپلو منځونو کې سیالي کوله چې د کومې به لاس تر ټولو اوږد وي؛ نو زینب داسې وه چې لاس ئې تر ټولو اوږد وو؛ د دې لپاره چې په خپل لاس به ئې کار کولو او صدقه به ئې ورکوله.

ګورئ چې د یوې موضوع په اړه؛ عائشې رضي الله عنها ته دوه متضادې خبرې منسوب شوې؛ په بخاري کې راغلی روایت وایي چې سوده رضي الله عنها تر نورو وړاندې وفات شوه او د مسلم روایت بیا د دې عکس وایي چې زینب رضي الله عنها وړاندې وفات شوې.

د مسلم روایت څکه د بخاري تر روایت غوره دئ چې زینب تر نورو وړاندې وفات شوې؛ نه سوده رضي الله عنهما؛ او زینب رضي الله عنها په دې مشهوره وه چې د خیر په کارونو او له بې وزلو سره په مرستې کې تر نورو وړاندې وه. تفصیل ئې د صحیح مسلم د شرحې په ٢٤٥٢ روایت او فتح الباري کې وګورئ.

همدا راز دا روایت له قرآن سره جدي تعارض لري چې وایي: د غیب علم الله تعالی ته مختص دئ او په زمکې او آسمان کې له الله تعالی پرته هیڅوك په غیب نه پوهیږي؛ هیڅ انسان نه پوهیږي چې کله او چیرې به مري، د مرګ د نېټې او ځای په اړه له الله تعالی پرته بل څوك علم نه لري. قرآن فرمایي:

... وَمَا تَدْرِى نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِى نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ ... ﴿٣٤﴾ لقمان

... او هيڅ ژوی نه پوهېږي چي سبا به څه کوي او څه به تر لاسه کړي؛ او هيڅ کس نه پوهېږي چي په کومي سيمي او زمکي کي به مري...

قرآن رسول الله صلی الله علیه و سلم ته په خطاب کي فرمايي:

قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِنَ الرُّسُلِ وَمَا أَدْرِى مَا يُفْعَلُ بِى وَلا بِكُمْ إِنْ أَتَّبِعُ إِلا مَا يُوحَى إِلَيَّ وَمَا أَنَا إِلا نَذِيرٌ مُبِينٌ ﴿٩﴾ الأحقاف

ووايه: زه د پيغمبرانو لومړنی نه يم (تر ما وړاندي ډېر راغلي او تللي)؛ او زه نه پوهېږم چي له ما سره به څه کېږي او له تاسو سره څه؛ زه فقط د وحي متابعت کوم؛ له يوه نذير پرته بل څه نه يم.

يعني رسول الله صلی الله علیه و سلم نه د خپل مرگ له نېټې خبر وو او نه د بل د مرگ له نېټې.

آيا د هغو رواياتو په منلو مکلف يو چي له شاهد پرته يو راوي لري؟

دا روايت مطلق غريب دئ؛ د احنافو ائمه؛ د امام ابو حنيفه په شمول او د ټولو محققينو رأی دا ده: کوم روايات چي په يوه طبقه کي يو راوي لري؛ هيڅ راوي ئې داسي شاهد نه لري چي په يقين منتج شي؛ يوازي په هغه صورت کي د استناد وړ دي چي په قرآن کي شاهد ولري او لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري؛ هيڅوك هغه روايت د اعتبار او استناد وړ نه گڼي چي له قرآن سره تعارض ولري؛ په ځانگړې توگه د دې روايت په څېر روايات چي د قرآن له لسگونو هغو صريح آيتونو سره جدي تناقض لري چي غيب د الله تعالی مختص صفت گڼي او له بل هر چا ئې نفي کوي؛ ځيني په ډېر تکلف سره هڅه کوي او د داسي رواياتو په اړه وايي: هو؛ له الله تعالی پرته هيڅوك په غيب نه پوهېږي؛ که رسول الله صلی الله علیه و سلم د غيب په اړه څه ويلي نو هغه ته

به د وحي له لاري ويل شوي وي!! د دوی په ځواب کې باید ووایو: دا ادعاء په هغه صورت کې د منلو وړ ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم یا په خپله ویلي وي چې په دې اړه ما ته وحي شوې؛ او یا راوي په خپلو سترګو هغه د وحي نازلېدو په حالت کې لیدلی وي او ویلي ئې وي: رسول الله صلی الله علیه و سلم مي ولید چې د وحي راتلو حالت پرې راغلی او بیا ئې وویل.

د احادیثو د تدریس او لوستلو په وخت کې څو خبري باید تل په پام کې ولرو: که مو داسي روایت ولیدو چې دغه روایت ته ورته وي چې په یوه طبقه کې یو راوي ولري؛ دا روایت په پنځو طبقو کې یو یو راوي لري؛ همغه څه باید وکړو چې عمر رضي الله عنه کړي: کله چې به هغه واورېدل چې یو څوك وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي فرمایلي؛ نو هغه ته به ئې وویل: یا شاهد وړاندي کړه او یا دُرې ته چمتو شه!! یعني له شاهد پرته به د هیچا روایت نه منو؛ د عمر رضي الله عنه دا وینا د ده شخصي رأی نه ده؛ قرآن همدا وایي چې د یوه مدعي دعوی او ادعاء باید هغه مهال ومنو چې شاهد وړاندي کړي؛ دوه، درې او څلور شاهدان. د آحاد روایاتو؛ هغه چې یو یا لږ راویان لري؛ په اړه د امام ابو حنیفه اسلوب دا وو چې قرآن ته به ئې راجع کولو؛ له قرآن سره به ئې د مطابقت موندلو هڅه کوله؛ د عدم مطابقت په صورت کې به ئې په قرآن اکتفاء کوله.

همداسي که وګورو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د قرآن خلاف خبره منسوب شوې؛ مثلاً دا چې په غیب پوهېدا ورته منسوب شوې؛ ابو هریره او ابو سعید الخدري رضي الله عنهما هغه دوه صحابه دي چې دواړو ته ځیني داسي روایات منسوب شوي چې ښیي رسول الله صلی الله علیه و سلم په غیب پوهېدو؛ دا په داسي حال کې چې د قرآن ګڼ شمېر آیتونه وایي چې په زمکي او آسمان کې له الله تعالی پرته هیڅوك په غیب نه پوهېږي؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه

په مشخصه توګه همدا خبره په مکررو آيتونو کې راغلې او د ګڼ شمېر پيغمبرانو په اړه په عامه توګه همدا ويل شوي چې په غيب نه پوهېدل. ابراهيم، يعقوب، زکريا، لوط عليهم السلام او مريم عليها السلام په ارتباط همداسي راغلي؛ د ابراهيم او لوط عليهما السلام خوا ته فرشتې راغلې خو دوی نه پېژندلې او د زلميانو ګمان ئې پرې کړی، د يعقوب عليه السلام زوی؛ يوسف عليه السلام خپلو ورونو په څاه کې اچولی؛ يعقوب عليه السلام نه پوهېدو چې زامنو ئې هغه څو متره آخوا په کوهي کې اچولی؛ سترګي ئې ورپسي ړندې شوې؛ زکريا عليه السلام ته د زوی زېری ورکړی شوی؛ هغه هم د فرشتو په لاس؛ چې الله تعالی به زوی درکړي؛ وئې ويل: څنګه او کله به ئې راکوي؟ قرآن رسول الله صلی الله عليه و سلم ته په خطاب کې وايي: خلکو ته ووايه: نه پوهېږم چې الله تعالی به له ما سره څه کوي او له تاسو سره څه. هو؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ډېر څه د وحي له لاري؛ د غيب له عالم ويل شوي؛ قرآن له داسي لارښوونو ډک دئ چې د غيب عالم پوري تړاو لري؛ داسي روايات هم بايد قرآن ته راجع کړو؛ د قرآن په تله ئې وتلو؛ د مطابقت په صورت کې به ئې منو. له دې به ځان ساتو چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته داسي څه منسوب کړو او يا ئې بل څوك منسوب کړي او موږ ئې ومنو چې متيقن نه يو رسول الله صلی الله عليه و سلم به دا خبره کړې وي؛ دا ځکه چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايي: څوك چې ما ته داسي خبره منسوب کړې چې ما نه وي کړې؛ خپل ځای دي په دوزخ کې ولټوي.

موږ څه مجبوريت لرو او ولې د داسي رأی او روايت منلو ته ځان اړ ګڼو چې د إسنادو له پلوه له مدعي پرته بل شاهد نه لري او د متن له پلوه په قرآن کې شاهد نه لري؛ او له نورو رواياتو سره هم اړخ نه لګوي؛ لکه د بخاري پورتنی روايت؛ ولې به د قرآن په مقابل کې يوه فرد ته منسوب غريب روايت منو؟! ضرورت ئې کوم دئ او ګټه ئې څه؟ ولې

رسول الله صلى الله عليه و سلم ته داسي څه منسوب کړو چي متيقن او ډاډه نه يو او داسي يقيني شواهد نه لرو چي ثابته کړي رسول الله صلى الله عليه و سلم دا خبره کړې؟!! موږ ته رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: چا چي ما ته داسي خبره منسوب کړه چي ما نه ده ويلې خپل ځای دي په جهنم کي ولټوي؛ که قرآن موږ په دې مکلف کړي يو چي د قرض او پېر پلور په څېر عادي قضاياوو په اړه بايد د مدعي خبره او ادعاء په هغه صورت کي ومنو چي دوه، درې او حتی څلور شاهدان وړاندي کړي؛ نو د رسول الله صلى الله عليه و سلم د حديث په اړه به ولي د يوه راوي ادعاء له شاهد پرته منو؟! هغه هم داسي ادعاء چي د قرآن له وينا سره تعارض او تضاد لري؟!

ځيني مغالطه کوي او د خپلي غلطي ادعاء په دفاع کي وايي: صحابه خو رښتيني وو او الله تعالى ترې راضي وو؛ نو څکه بايد د يوه خبره هم له شاهد پرته ومنو!! دغو جنابانو ته وايو: د قرآن د دې وينا لومړني مخاطبين صحابه وو؛ دوی ته تر موږ وړاندي ويل شوي چي د مدعي ادعاء يوازي هغه مهال د منلو وړ ده چي دوه، درې او څلور شاهدان ولري؛ هغه مهال عمر رضي الله عنه هم له مدعي شاهدان غوښتل او هر قاضي هم؛ همغه مهال الله تعالى فرمايلي: څوك چي پر بل د زنا تور ولګوي او څلور شاهدان وړاندي نه کړي؛ د الله تعالى په نزد دروغجن دئ!!

٩ باب: غني ته صدقه ورکول

٧١٨ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «قَالَ رَجُلٌ: لأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ، فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدِ سَارِقٍ، فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ: تُصُدِّقَ عَلَى سَارِقٍ. فَقَالَ: اللَّهُمَّ لَكَ الحَمْدُ، لأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ، فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدَيْ زَانِيَةٍ، فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ: تُصُدِّقَ اللَّيْلَةَ عَلَى زَانِيَةٍ، فَقَالَ: اللَّهُمَّ

لَكَ الْحَمْدُ، عَلَى زَانِيَةٍ، لأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ، فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدَىْ غَنِيٍّ، فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ: تُصُدِّقَ عَلَى غَنِيٍّ، فَقَالَ: اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلَى سَارِقٍ، وَعَلَى زَانِيَةٍ، وَعَلَى غَنِيٍّ، فَأُتِيَ فَقِيلَ لَهُ: أَمَّا صَدَقَتُكَ عَلَى سَارِقٍ: فَلَعَلَّهُ أَنْ يَسْتَعِفَّ عَنْ سَرِقَتِهِ، وَأَمَّا الزَّانِيَةُ: فَلَعَلَّهَا أَنْ تَسْتَعِفَّ عَنْ زِنَاهَا، وَأَمَّا الْغَنِيُّ فَلَعَلَّهُ يَعْتَبِرُ، فَيُنْفِقُ مِمَّا أَعْطَاهُ اللَّهُ». (بخاری: ١٤٢١)

٧١٨- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: یوه سړي وویل: حتمًا به یوه صدقه ورکړم؛ نو له خپلي صدقې سره ووت؛ او (په بې خبرۍ سره ئې) د یوه غله په لاس کې کېښوده، سهار خلکو په خپلو منځونو کې ویل: یوه غله ته صدقه ورکړی شوې ده؛ نو هغه وویل: خدایه! ستاینه تا ته ده؛ حتمًا به یوه صدقه ورکړم؛ نو له خپلي صدقې سره ووت؛ او (په بې خبرۍ سره ئې) د یوې زنا کاري ښځي په لاس کې کېښوده؛ سهار خلکو په خپلو منځونو کې ویل: دغه شپه یوې زناکاري ښځي ته صدقه ورکړی شوې ده؛ نو هغه وویل: خدایه! ستاینه تا ته ده؛ پر یوې زناکاري (مي پېرزو کړې)؛ حتمًا به یوه صدقه ورکړم؛ نو له خپلي صدقې سره ووت؛ او (په بې خبرۍ سره ئې) د یوه شتمن په لاس کې کېښوده؛ سهار بیا خلکو په خپلو منځونو کې ویل: غني ته صدقه ورکړی شوې؛ هغه سړي وویل: خدایه! ستاینه تا ته ده؛ پر غله، زنا کاري ښځي او شتمن (مي پېرزو کړې)؛ نو څوك (په خوب یا ویښه کې) ورته راغی او ورته وویل شوو: غله ته ستا صدقه کېدی شي له غلا د هغه د لاس اخیستلو سبب شي؛ او زنا کاري ښځي ته ستا صدقه کېدی شي له خپلي زنا د هغې د لاس اخیستلو سبب شي او غني ته ستا صدقه کېدی شي د هغه د عبرت وسیله شي او بیا له هغه څه صدقه ورکړي چي الله تعالی ورکړي.

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ۵ طبقو کې یو یو راوي لري چي دا دي: أَبُو اليَمَان، شُعَيْب، أَبُو الزِّنَاد، الأَعْرَج او أَبو

هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عنه؛ د مسلم و سنن النسائي په شمول په ځينو نورو کتابونو کې له همدې متن او سند سره راغلی.

د دې روایت په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- دې سړي د شپې له لوري او په داسې حال کې چې نه ئې غوښتل دی صدقه اخیستونکی وپېژني او صدقه اخیستونکی دی وپېژني؛ خپله صدقه ورکړې، سبا ئې د خلکو له خولې اورېدلي چې صدقه ئې د غله، زناکارې ښځې او شتمن لاس ته ورغلې؛ هر ځل ئې د حیرانتیا په توګه ویلي: اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ او بیا ئې د صدقې ورکولو پرېکړه کړې ده. په دې سره مسلمانانو ته لارښوونه شوې چې د همدې مخلص بنده په څېر خپله صدقه په پټه مستحق کس ته وسپاري؛ او که د غیر مستحق لاس ته ورغله؛ بیا ئې جبران کړي.
- دې کس ته څوك (په خوب یا ویښه کې) ورغلی او ورته ویلي ئې دي: ستا صدقه نه ده ضائع شوې، هیله ده همدا صدقه د هغه غله، زناکارې ښځې او شتمن د اصلاح باعث شي.
- په دې اړه ټول فقهاء متفق دي چې که داسې صدقه د نېستمن غله او نېستمنې بدلمنې ښځې لاس ته ورغله نو مقبوله صدقه ګڼل کېږي او اعاده ئې لازمه نه ده؛ خو د شتمن په اړه ځیني په دې رأی دي چې داسې صدقه باید اعاده شي؛ د حدیث له فحوی معلومېږي چې داسې صدقه هم مقبوله محسوب کېږي او اعاده ئې لازمه نه ده؛ امام ابوحنیفه رحمة الله علیه دغې رأیې ته ترجیح ورکړې.

### ١٠ باب څوک چې په نا خبرۍ کې خپل زوی ته صدقه ورکړي

٧١٩ - عَنْ مَعْنِ بْنِ يَزِيدَ رضى الله عنه قَالَ: بَايَعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَأَبِي وَجَدِّي، وَخَطَبَ عَلَيَّ فَأَنْكَحَنِي، وَخَاصَمْتُ إِلَيْهِ، وَكَانَ أَبِي يَزِيدُ أَخْرَجَ دَنَانِيرَ يَتَصَدَّقُ بِهَا، فَوَضَعَهَا عِنْدَ رَجُلٍ فِي الْمَسْجِدِ، فَجِئْتُ فَأَخَذْتُهَا، فَأَتَيْتُهُ بِهَا، فَقَالَ:

وَاللَّهِ مَا إِيَّاكَ أَرَدْتُ، فَخَاصَمْتُهُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «لَكَ مَا نَوَيْتَ يَا يَزِيدُ، وَلَكَ مَا أَخَذْتَ يَا مَعْنُ». (بخاری: ۱۴۲۲)

۷۱۹- له مَعْن بن یزید رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: ما، پلار او نیکه مي له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره بیعت وکړ؛ پلار مي د کوژدې خِطبه او نکاح هم وکړه؛ نو هغه سره مي شخړه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وړاندي کړه؛ او زما پلار مي یزید؛ څو دیناره وایستل (گوښي ئې کړل) چي صدقه ئې کړي؛ نو په جومات کي ئې له یوه چا سره کېښودل، (چي کوم محتاج ته ئې ورکړي)؛ زه ورغلم او هغه مي واخیستل او له هغوی سره پلار ته راغلم؛ هغه راته وویل: په خدای قسم چي ستا اراده مي نه وه کړې (مقصد مي دا نه وو چي خپله صدقه تا ته درکړم)؛ نو له هغه سره مي دا شخړه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وړاندي کړه؛ نو وئې فرمایل: یزیده! تا ته هغه څه دي چي نیت دې کړی او تا ته اې معن! هغه څه دي چي اخیستي دي دي.

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په٤ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: مُحَمَّد بْن يُوسُف، إِسْرَائِيل، أَبُو الجُوَيْرِيَةِ او مَعْن بْن يَزِيدَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ په ځینو نورو کتابونو کي هم له دغه سند او متن سره راغلی.

د دې روایت اساسي مطالب دا دي: زوی له پلار څو شکایتونه درلودل: د ده له موافقې او خوښي پرته ئې پلار ورته مېرمن غوره کړې، د خطبې لپاره د هغې کورنۍ ته ورغلی، نکاح ئې تر سره کړې؛ پلار ئې خپله صدقه بل ته سپارلې چي محتاج او مستحق کس ته ئې ورکړي؛ هغه مَعْن بن یزید ته ورکړې؛ کله چي معن خپل پلار ته دا خبره کړې؛ هغه ورته ویلي: په خدای قسم چي مقصد مي دا نه وو چي خپله صدقه تا ته درکړم؛ کله چي لانجه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وړاندي شوه؛ نو وئې فرمایل: یزیده! تا ته هغه څه دي چي نیت دې کړی او تا ته اې معن! هغه څه دي چي اخیستي دي دي.

خو په دې اړه د فقهاءو تر منځ اختلاف رأى شته چي که دا صدقه زکات وي نو بيا ئې خپلوانو ته ورکړه څنګه دي؟ د ډېرى فقهاءو رأيه دا ده چي نېستمنو خپلوانو ته زکات ورکول نه يوازي څه مانع نه لري بلکي هم د زکات ثواب پرې مرتب کېږي او هم د صله رحم او خپلوۍ پاللو، خو که دا خپلوان د زکات ورکوونکي په عيال کي شامل او دى ئې د نفقې متکفل وي نو بيا هغوى ته زکات نه شي ورکولى.

## ١١ باب: چا چي خپل خادم ته د صدقې امر کړى او په خپل لاس ئې نه ده ورکړې

٧٢٠ - عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَنْفَقَتِ الْمَرْأَةُ مِنْ طَعَامِ بَيْتِهَا، غَيْرَ مُفْسِدَةٍ، كَانَ لَهَا أَجْرُهَا بِمَا أَنْفَقَتْ، وَلِزَوْجِهَا أَجْرُهُ بِمَا كَسَبَ، وَلِلْخَازِنِ مِثْلُ ذَلِكَ، لا يَنْقُصُ بَعْضُهُمْ أَجْرَ بَعْضٍ شَيْئًا. (بخارى: ١٤٢٥)

٧٢٠- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: کله چي يوه مېرمن د خپل کور له خوړو صدقه ورکړي خو داسي چي فساد کوونکې نه وي (اسراف ونه کړي او خاوند ونه ځوروي)؛ نو هغې ته به د صدقې ورکولو له امله اجر وي او خاوند ته ئې د ګټلو او حاصلولو اجر؛ او ساتونکي ته به د همدې په څېر؛ او د دوى ځيني به د ځينو نورو د اجر هيڅ څه نه کموي. (هر يوه ته به خپل خپل اجر ورکول کېږي).

تکرار: دا روايت په بخاري کي پنځه ځلي نور په دغو شمېرو راغلى: ١٤٣٧، ١٤٣٩، ١٤٤٠، ١٤٤١، ٢٠٦٥؛ غريب دئ؛ په ٥ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: جَرِير، مَنْصُور، شَقِيق، مَسْرُوقٍ او عَائِشَة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا؛ د مسلم او نسائي په شمول په ځينو نورو کتابونو کي هم له همدې سند او متن سره راغلى.

توپير: په يوه کي إِذَا أَنْفَقَتِ الْمَرْأَةُ په بل کي إِذَا تَصَدَّقَتِ الْمَرْأَةُ په

بل کي أَطْعَمَتِ الْمَرْأَةُ په يوه کي مِنْ طَعَامِ بَيْتِهَا په بل کي مِنْ طَعَامِ زَوْجِهَا په بل کي مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا په يوه کي كَانَ لَهَا أَجْرُهَا، وَلِزَوْجِهَا بِمَا كَسَبَ، وَلِلْخَازِنِ مِثْلُ ذَلِكَ په بل کي لَهَا أَجْرُهَا، وَلَهُ مِثْلُهُ، وَلِلْخَازِنِ مِثْلُ ذَلِكَ، لَهُ بِمَا اكْتَسَبَ، وَلَهَا بِمَا أَنْفَقَتْ راغلي.

د روايت مطلب دا دئ چي ښځه کولی شي د خپل مېړه د کور له خوراکي توکيو څه انفاق کړي؛ خو داسي چي د خپل مېړه د رضاء خلاف کار ونه کړي، اسراف ونه کړي، داسي څه ونه کړي چي له امله ئې کومه لانجه راولاړه شي او د مېړه د خفگان باعث شي؛ داسي څه انفاق نه کړي چي ورته جائز نه وي او خاوند ئې اجازه نه وي ورکړې؛ د بل روايت له مخي معلومېږي چي دا کار هغه مهال کولی شي چي د مېړه اجازه ئې تر لاسه کړې وي.

## ۱۲ باب: غوره صدقه هغه ده چي د غناء په حالت کي وي

۷۲۱ - عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ رضى الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: الْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى، وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ، وَخَيْرُ الصَّدَقَةِ عَنْ ظَهْرِ غِنًى، وَمَنْ يَسْتَعْفِفْ يُعِفَّهُ اللَّهُ، وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللَّهُ. (بخارى: ۱۴۲۸)

۷۲۱- له حکيم بن حِزام رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: برنی لاس تر لاندينی لاس غوره دئ؛ او له هغو ئې پيل کړه چي ته ئې پالنه کوې (نفقه ئې پر تا ده)؛ او غوره صدقه هغه ده چي د غناء په حالت کي وي او څوک چي د عفاف او ځان ساتني په لټه کي شي (د بل صدقې ته طمع ونه کړي)؛ الله به عفاف ورپه برخه کړي؛ او څوک چي د صدقې له اخيستلو استغناء او بې نيازي وکړي الله تعالی به ئې بې نياز کړي.

تکرار: دا روايت په بخاري کي څلور ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۱۴۲۶، ۱۴۲۸، ۵۳۵۵، ۵۳۵۶؛ غريب دئ؛ په صحابه وو کي دوه راويان لري؛ حَكِيمِ بْنِ حِزَام او ابْنِ عُمَر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُم؛ خو په نورو طبقو کي

یو یو چي دا دي: مُوسَى بْن إِسْمَاعِيل، وُهَيْب، هِشَام او پلار ئې؛ په اکثرو کتابونو کي په همدې توګه راغلی.

توپير: په یوه کي عَنْ ظَهْرِ غِنًى په بل کي مَا كَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنًى، په بل کي مَا تَرَكَ غِنًى راغلي.

په دې روایت کي مسلمانان د صدقې ورکړي او له ګدايي او بل ته لاس اوږدولو اجتناب ته هڅول شوي، برنی لاس تر لاندیني لاس غوره ګڼل شوی، پورتنی لاس هغه دئ چي صدقه ورکوي او لاندینی لاس هغه دئ چي صدقه اخلي، څوك چي د بل صدقې ته طمع ونه کړي؛ الله تعالی به عفاف او له سؤال څان ساتنه ورپه برخه کړي؛ او څوک چي د صدقې له اخيستلو استغناء او بې نيازي وکړي الله تعالی به ئې بې نياز کړي.

۷۲۲ - عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّه عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَذَكَرَ الصَّدَقَةَ وَالتَّعَفُّفَ وَالْمَسْأَلَةَ: الْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى فَالْيَدُ الْعُلْيَا هِىَ الْمُنْفِقَةُ وَالسُّفْلَى هِىَ السَّابِلَةُ. (بخارى:۱۴۲۹)

۷۲۲- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په داسي حال کي چي پر منبر وو او د صدقې، تعفف (له خيرات اخيستلو څان ساتل) او سوالګرۍ يادونه ئې کوله وفرمايل: پورتنی لاس تر لاندیني لاس غوره دئ؛ پورتنی لاس هغه دئ چي خيرات ورکوي او لاندینی هغه دئ چي سؤال کوي.

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ۵ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: أَبُو النُّعْمَان، حَمَّاد بْن زَيْد، أَيُّوبَ، نَافِع او ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا؛ له بخاري پرته په بل مهم معروف کتاب کي نه دئ راغلی؛ يعني چي د سند له مخي د استناد وړ نه دئ؛ خو سره له دې ئې څکه معتبر ګڼو چي په قرآن کي څرګند شاهد لري؛ قرآن عفاف، سؤال نه کول او بل ته پر څان ترجيح ورکول ستايلي او فرمايي:

لِلْفُقَرَآءِ ٱلَّذِينَ أُحۡصِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ لَا يَسۡتَطِيعُونَ ضَرۡبٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ يَحۡسَبُهُمُ ٱلۡجَاهِلُ أَغۡنِيَآءَ مِنَ ٱلتَّعَفُّفِ تَعۡرِفُهُم بِسِيمَٰهُمۡ لَا يَسۡـَٔلُونَ ٱلنَّاسَ إِلۡحَافٗاۗ وَمَا تُنفِقُواْ مِنۡ خَيۡرٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٌ۝٢٧٣ البقرة

هغو فقيرانو ته دي وي چي د الله په لار کي مصروف کړی شوي، په وس کي ئې نه ده چي په زمکه کي سفر وکړي، د عفاف (او نه سؤال کولو) په وجه ئې جاهل او ناپوه انسان غنيان گڼي، له څېرو به ئې وپېژنې، له خلکو په ټينگار سره څه نه غواړي او تاسو چي هر څه انفاق کړئ؛ الله پرې ښه پوه دئ.

يعني د مرستي اصلي مستحق کسان هغه مجاهدين دي چي د الله په لار کي ئې ځان وقف کړی، له بل هر مصروفيت ئې لاس اخيستی، شپه ورځ ئې د دين په خدمت کي وي، د تجارت او مال دولت گټلو لپاره ئې سفرونه کول پرېښي، که څه هم محتاج وي خو لوړ همت ئې دې ته نه پرېږدي چي چا ته لاس اوږد کړي او مرسته ترې وغواړي، د دوی ځان ساتني، قناعت او عفاف ته په پام سره ناپوه کسان په دوی د غنيانو او شتمنو گمان کوي، له څېرې به ئې وپېژنې، د لوږي د نښو په څنگ کي به د دوی په څېرو کي ټولي پورتنۍ نښي وگورې، که هر څومره اړ وي له چا په الحاح، ټينگار او تأکيد سره څه نه غواړي. له محتاج کافر سره هم مرسته کولی شئ، خو د مرستي اصلي مستحق کسان دغه دي.

وَٱلَّذِينَ تَبَوَّءُو ٱلدَّارَ وَٱلۡإِيمَٰنَ مِن قَبۡلِهِمۡ يُحِبُّونَ مَنۡ هَاجَرَ إِلَيۡهِمۡ وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمۡ حَاجَةٗ مِّمَّآ أُوتُواْ وَيُؤۡثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ وَلَوۡ كَانَ بِهِمۡ خَصَاصَةٞۚ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفۡسِهِۦ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ۝٩ الحشر

او هغه چي تر دوی وړاندي ئې په دې کور او د ايمان (غېږ) کي ځای نيولی، له هغو سره محبت لري چي د دوی لوري ته ئې هجرت کړی؛ او په خپلو سينو کي هغه څه ته اړتيا نه مومي چي دوی ته ورکړی شوي او

پر خپل ځان نورو ته ترجیح ورکوي که څه هم په خپله ډېر حاجتمن وي؛ او څوك چي د خپل نفس له حرص او بخل خوندي پاته شو همدا دوی بریالي دي.

یعني د مدینې هغه هستوګن چي انصار نومول شوي او تر دغو مهاجرینو وړاندي په مدینه کي مېشت شوي او د ایمان غېږ کي ئې ځای نیولی، له هغو سره محبت لري چي د دوی لوري ته ئې هجرت کړی؛ او په خپلو سینو کي هغه څه ته اړتیا نه مومي چي دغو مهاجرینو ته ورکړی شوي، پر خپل ځان نورو ته ترجیح ورکوي که څه هم په خپله ډېر حاجتمن وي، څوك چي د دوی په څېر د خپل نفس له حرص او بخل خوندي پاته شو همدا دوی بریالي دي.

په کار ده د ټولو روایاتو په اړه همدا اسلوب غوره کړو؛ د متن له پلوه ئې وڅېړو او د قرآن په تله کي ئې وتلو؛ سند ئې له دې وروسته وڅېړو او د اعتبار په اړه ئې پرېکړه وکړو.

## ۱۳ باب: صدقې ته هڅونه او د فقیر لپاره ئې سپارښتنه

۷۲۳ - عَنْ أَبِي مُوسَى رضی الله عنه قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَاءَهُ السَّائِلُ؛ او طُلِبَتْ إِلَيْهِ حَاجَةٌ، قَالَ: اشْفَعُوا تُؤْجَرُوا، وَيَقْضِي اللَّهُ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا شَاءَ. (بخاری:۱٤۳۲)

۷۲۳- ابو موسی رضي الله عنه ویلي: رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي وو چي کله به سوالګر ورته راغی او یا به د کوم (چا) د حاجت په اړه غوښتنه ترې وشوه نو فرمایل به ئې: سپارښتنه وکړئ اجر به درکړی شي او الله تعالی د خپل نبي صلی الله علیه و سلم په ژبه هغه څه جاري کوي چي غوښتي ئې وي؛ (یعني د سپارښتني په اړه رسول الله صلی الله علیه و سلم همغه څه وایي چي الله تعالی غوښتي وي؛ نو په نه منلو به ئې نه ناراضه کېږئ)

تکرار: دا روایت په بخاري کې درې ځلې نور؛ په دغو شمېرو راغلی: ٦٠٢٧، ٦٠٢٨، ٧٤٧٦؛ له نورو کتابونو یوازې په مسند احمد او صحیح مسلم کې هم راغلی؛ خو له دوهمې طبقې وروسته ئې راویان له بخاري سره ورته نه دي.

توپیر: په یوه کې إِذَا جَاءَهُ السَّائِلُ؛ او طُلِبَتْ إِلَيْهِ حَاجَةٌ په بل کې وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا إِذْ جَاءَ رَجُلٌ يَسْأَلُ أَوْ طَالِبُ حَاجَةٍ په بل کې أَنَّهُ كَانَ إِذَا أَتَاهُ السَّائِلُ أَوْ صَاحِبُ الْحَاجَةِ په یوه کې قَالَ: اشْفَعُوا تُؤْجَرُوا، وَيَقْضِي اللَّهُ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا شَاءَ په بل کې فَقَالَ اشْفَعُوا فَلْتُؤْجَرُوا، وَلْيَقْضِ اللَّهُ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ مَا شَاءَ راغلي.

٧٢٤ - عَنْ أَسْمَاءَ رضى الله عنها قَالَتْ: قَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لا تُوكِي فَيُوكَى عَلَيْكِ. وفى رواية: قَالَ: «لا تُحْصِي فَيُحْصِيَ اللَّهُ عَلَيْكِ». (بخارى:١٤٣٣)

له اسماء رضي الله عنها روایت دئ چې وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم راته وفرمایل: بخل مه کوه (مال مه ذخیره کوه؛ او د کڅوړې خوله ئې مه تړه) که نه نو پر تا به ئې هم خوله وتړل شي؛ او په بل روایت کې داسې راغلي: مه ئې شمېره، که نه نو الله تعالی به ئې هم شمېرنه درسره وکړي.

یعني له بخل او کنجوسۍ ځان ساته، خپلې مرستې مه شمېره او زیات ئې مه ګڼه، که نه نو الله تعالی به درې ته ورته معامله درسره وکړي. بخل د الهي نعمتونو دړې د انسان پر مخ تړي او انفاق د برکت او د رزق او روزۍ زیاتېدو باعث کېږي.

تکرار: دا روایت په بخاري کې درې ځلې نور؛ په دغو شمېرو راغلی: ١٤٣٤، ٢٥٩٠، ٢٥٩١؛ غریب دئ؛ په ٥ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: صَدَقَة بْن الفَضْلِ، عَبْدَة، هِشَام، فَاطِمَة او أَسْمَاء رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا.

توپیر: په یوه کې لا تُوكِي فَيُوكَى عَلَيْكِ په بل کې لاَ تُوعِي فَيُوعِيَ اللَّهُ عَلَيْكِ په بل کې أَنْفِقِي وَلاَ تُحْصِي فَيُحْصِيَ اللَّهُ عَلَيْكِ په یوه کې ارْضَخِي مَا

اسْتَطَعْتِ په بل کې تَصَدَّقِ راغلي.

## ١٤ باب: صدقه د توان تر حد

٧٢٥- وفي رواية: «لا تُوعِي فَيُوعِيَ اللَّهُ عَلَيْكِ، ارْضَخِي مَا اسْتَطَعْتِ». (بخاری:١٤٣٣)

٧٢٥- په بل روایت کې راغلي: مال دي مه غوټه کوه که نه نو الله تعالی به ئې ستا په تاوان غوټه کړي، دومره څه انفاق کړه چې کولی ئې شې.

د روایت معنی دا ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم اسماء رضي الله عنها ته فرمایلي: مال دي په پنډو کې مه ساته؛ یعني بخل مه کوه؛ له کنز ئې ډډه وکړه؛ که نه نو الله تعالی به هم خپل نعمتونه له تا وسپموي؛ د خپل توان په اندازه صدقه ورکوه.

## ١٥ باب: څوک چې له صدقې ورکولو وروسته مسلمان شي

٧٢٦ - عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ رضی الله عنه قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ أَشْيَاءَ كُنْتُ أَتَحَنَّثُ بِهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ، مِنْ صَدَقَةٍ؛ او عَتَاقَةٍ، وَصِلَةِ رَحِمٍ، فَهَلْ فِيهَا مِنْ أَجْرٍ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْلَمْتَ عَلَى مَا سَلَفَ مِنْ خَيْرٍ. (بخاری: ١٤٣٦)

٧٢٦- له حکیم بن حزام رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته مي وویل: یا رسول الله! څنګه ئې ګڼې هغه شیان چې ما د جاهلیت په دوران کې د عبادت په توګه تر سره کړي؛ لکه کومه صدقه، د غلامانو آزادول؛ او صله رحمي؛ آیا په دوی کې به ما ته کوم اجر وي؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ته خو د همدغو ښېګڼو له کبله مسلمان شوې چې تر دې وړاندې دي کړې وې.

تکرار: دا روایت په بخاري کې درې ځلي نور؛ په دغو شمېرو راغلی ٢٢٢٠، ٢٥٣٨، ٥٩٩٢؛ غریب دئ؛ په ٦ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: عَبْد اللَّهِ بْن مُحَمَّد، هِشَامٌ، مَعْمَرٌ، الزُّهْرِيِّ، عُرْوَةَ او حَكِيمِ بْنِ حِزَام رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري او مسلم پرته په بل هیڅ کتاب کې نه دئ راوړل شوی؛ خو له زهري وروسته ئې راویان توپیر لري او دا دي: حَرْمَلَة بْن

يَحْيَى، ابْنِ وَهْبٍ او يُونُسُ.

توپير: په يوه كي أَرَأَيْتَ أَشْيَاءَ كُنْتُ أَتَحَنَّثُ بِهَا په بل كي أَرَأَيْتَ أُمُورًا كُنْتُ أَتَحَنَّثُ أَوْ أَتَحَنَّتُ بِهَا په بل كي أَرَأَيْتَ أَشْيَاءَ كُنْتُ أَصْنَعُهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ په يوه كي أَسْلَمْتَ عَلَى مَا سَلَفَ مِنْ خَيْرٍ په بل كي أَسْلَمْتَ عَلَى مَا سَلَفَ لَكَ مِنْ خَيْرٍ په يوه كي دا هم راغلي چي حكيم بن حزام په جاهليت كي سل غلامان آزاد كړي وو او سلو كسانو ته ئې د سورلۍ اوښان وركړي وو؛ او كله چي ئې ايمان راوړ همداسي سل مريان ئې آزاد كړل او سل اوښان ئې د پلو د سورلۍ لپاره صدقه كړل.

لكه چي گورئ دلته د أَتَحَنَّثُ او أَتَحَنَّتُ الفاظ راغلي؛ محققين اتحنث صحيح گڼي؛ معنى ئې عبادت كول دي؛ يعني د عبادت په توگه مي دا د خير كارونه كول؛ په يوه بل روايت كي د دې دواړو الفاظو په ځاى أتحبب راغلي چي معنى ئې دا ده: د خير له دغو كارونو سره د محبت له كبله مي كول.

د روايت مطلب دا دئ چي د كفر او شرك په حالت كي د حكيم بن حزام د خير او ښېگڼي كارونه د دې باعث شول چي الله تعالى هغه ته د ايمان توفيق ورپه برخه كړي.

## ١٦ باب: د هغه خادم ثواب چي د خپل بادار په امر صدقه وركړي

٧٢٧ - عَنْ أَبِي مُوسَى رضى الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْخَازِنُ الْمُسْلِمُ الأَمِينُ الَّذِى يُنْفِذُ - وَرُبَّمَا قَالَ: يُعْطِى- مَا أُمِرَ بِهِ، كَامِلاً مُوَفَّرًا، طَيِّبًا بِهِ نَفْسُهُ فَيَدْفَعُهُ إِلَى الَّذِى أُمِرَ لَهُ بِهِ، أَحَدُ الْمُتَصَدِّقَيْنِ». (بخارى:١٤٣٨)

٧٢٧- له ابو موسى رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: هغه مسلمان او امين ساتونكى چي (د خپل مالك حكم) نافذوي؛ يا ښايي وئې وفرمايل: هغه څه وركوي چي پرې گمارل شوى؛ پوره، بشپړ، په داسي حال كي چي په دې وركړي سره ئې زړه خوښ

وي؛ او همغه چا ته ئې ورکوي چې د هغه امر ورته شوی؛ نو دی یو له صدقه ورکوونکو دئ. یعني (د صدقه ورکوونکو په ضمن کې ګڼل کېږي او د هغوی په اندازه به ثواب او اجر تر لاسه کوي).

تکرار: دا روایت په بخاري کې دوه ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی: ۲۲۶۰، ۲۳۱۹؛ غریب دئ؛ په ۵ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: مُحَمَّد بْن العَلاَءِ، أَبُو أُسَامَةَ، بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَبو بُرْدَةَ او أَبو مُوسَى رضي الله عنه، له نورو کتابونو يوازې صحيح مسلم کې په همدې توګه راغلی.

توپیر: په یوه کې الْخَازِنُ الْمُسْلِمُ الأَمِينُ الَّذِى يُنْفِذُ په بل کې الْخَازِنُ الأَمِينُ الَّذِى يُؤَدِّى په بل کې الْخَازِنُ الأَمِينُ الَّذِى يُنْفِقُ په یوه کې كَامِلاً مُوَفَّرًا طَيِّبٌ بِهِ نَفْسُهُ په بل کې طَيِّبٌ نَفْسُهُ په بل کې طَيِّبَةً نَفْسُهُ په یوه کې فَيَدْفَعُهُ إِلَى الَّذِى أُمِرَ لَهُ بِهِ په بل کې إِلَى الَّذِى أُمِرَ بِهِ راغلي.

## ۱۷ باب: د الله تعالی دا قول چې فرمايي: (فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى)

۷۲۸ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ، إِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلانِ، فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا، وَيَقُولُ الآخَرُ: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا». (بخاری: ۱۴۴۲)

۷۲۸- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې نبي صلی الله عليه و سلم وفرمايل: هره ورځ چې پر خلکو سهار کېږي؛ دوې فرښتې راکوزېږي چې یوه ئې وايي: خدايه! خيرات ورکوونکي ته عوض ورکړې او بله وايي: خدايه! بخيل ته د مال تلف کېدا ورپه برخه کړې.

دا روايت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ۶ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: إِسْمَاعِيل، ورور ئې، سُلَيْمَانَ، مُعَاوِيَة بْنِ أَبِي مُزَرِّد، أَبو الحُبَابِ او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ په صحيح مسلم کې هم له همدې سند او متن سره راغلی.

د باب او روايت تر منځ مناسبت جوت او څرګند نه دئ؛ په روايت

کې د دې آیت معنی او تفسیر نه لیدل کېږي؛ که څوك عنوان ته په پام سره او په دې هیلې دا ځای پرانیزي چې د آیت په تفسیر او شرح ځان پوه کړي؛ دا هیله ئې نه ترسره کېږي. په مسلم کې تر دې باب لاندې راوړل شوی: بَابٌ فِي الْمُنْفِقِ وَالْمُمْسِكِ؛ چې تر بخاري زیات مناسب او واضح دئ. آیت په اصل کې د یوه بشپړ کلام یوه برخه ده او له دوو وروستنیو آیتونو سره په ګډه یو مطلب افاده کوي؛ آیات داسې دي:

فَأَمَّا مَنْ أَعْطَىٰ وَاتَّقَىٰ ۝٥ وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَىٰ ۝٦ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَىٰ ۝٧

نو هغه چې ورکړه (انفاق) او تقوی ئې وکړه؛ او حسنی (غوره او ښایسته) ئې تصدیق کړه (رښتیا ئې وګڼله)؛ نو ژر به ئې آسانۍ ته آسان کړو.

یعني: هغه چې د خپل همنوع د لاس نیوې لپاره خپل مال وقف کوي، له بخل او حرص ځان ساتي، د بل په حق تېری نه کوي، له هغه څه ډډه کوي چې ده یا د ده همنوع ته تاوان رسوي. (حسنی) تأییدوي، چې څو تعبیرونه ئې شوي: د عمل په ښې بدلې باور لري، په ښایسته جنت باور لري، موحد دئ ښه عقیده لري؛ او تر ټولو غوره تعبیر ئې دا چې: ښایست پېژني او اعتراف پرې کوي، د ښه او بد، ښایسته او ناښایسته تر منځ د تفکیك توان لري، له ټولو سره ورته چلن نه کوي، د انسان تر ټولو غوره او ښکلی عمل له هغه بېلولی شي چې تر ټولو بد او کرکجن دئ، ټول یو شانته او برابر نه ګڼي؛ د دې انسان عمل د ورځې په څېر ښکلی او ښایسته دئ، الله تعالی به ئې هغې آسانۍ لارې ته هدایت کړي چې د ده د روغ او سالم فطرت مقتضی ده او په دې لار تګ به ورته آسان کړي.

قرآن له یوې خوا د ایمان لار (سهل) او آسانه ګڼي او له بلې خوا ئې ګرانه، سخته او (عقبه)؛ دا ځکه چې ځینو ته آسانه وي او ځینو ته ګرانه او سخته برېښي. دا لار ستا لپاره (فطري) لار ده، په هغې کې به د زړه ډاډ او د روح تسکین تر لاسه کړې، وجدان به دې راضي او عقل به دې

قانع وي، که څه هم په دې لار کې لوړې ژورې او کړلېچونه شته، له ډول ډول ابتلاءاتو سره توأم ده، د شر او فساد له ځواکونو سره ټکرونه په کې دي، له ګواښونو سره مخامخېدل، زندان ته تګ، قرباني ورکول، هجرتونه، شهادتونه، محاصرې او محرومیتونه له ځان سره لري؛ نو هم آسانه ده او هم ګرانه.

که په روایت کې د آیت د شرحي او تفسیر په ارتباط همداسي څه راغلي وی نو باب او روایت به سره همغږي وو.

## ۱۸ باب: د سخي او بخیل مثال

۷۲۹ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الْبَخِيلِ وَالْمُتَصَدِّقِ كَمَثَلِ رَجُلَيْنِ، عَلَيْهِمَا جُبَّتَانِ مِنْ حَدِيدٍ، مِنْ ثُدِيِّهِمَا إِلَى تَرَاقِيهِمَا، فَأَمَّا الْمُنْفِقُ: فَلا يُنْفِقُ إِلَّا سَبَغَتْ؛ او وَفَرَتْ عَلَى جِلْدِهِ، حَتَّى تُخْفِيَ بَنَانَهُ، وَتَعْفُوَ أَثَرَهُ. وَأَمَّا الْبَخِيلُ: فَلا يُرِيدُ أَنْ يُنْفِقَ شَيْئًا، إِلَّا لَزِقَتْ كُلُّ حَلْقَةٍ مَكَانَهَا، فَهُوَ يُوَسِّعُهَا وَلا تَتَّسِعُ. (بخاری:۱۴۴۴)

۷۲۹- له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي له رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې اورېدلي چي فرمایل ئې: د بخیل او سخي مثال د هغو دوو کسانو مثال ته ورته دئ چي له سینې تر ستوني پوري ئې د اوسپني زغري (یا پوستین او چپني) پرې پرتې وي، صدقه ورکوونکی چي هره صدقه ورکوي هغه (زغره) پراخېږي، یا ئې پر پوستکي خورېږي تر هغه چي ګوتې ئې وپوښي او پلونه ئې محو او ړنګ کړي؛ خو بخیل؛ نه غواړي څه شی انفاق کړي مګر دا چي هره کړۍ پر خپل خپل ځای مضبوطېږي او هغه ئې د پراخولو هڅه کوي خو نه پراخېږي.

تکرار: دا روایت په بخاري کې څلور ځلي نور؛ په دغو شمېرو راغلی: ۱۴۴۴، ۲۹۱۷، ۵۲۹۹، ۵۷۹۷؛ غریب دئ؛ په ۲ لومړنیو طبقو کې یو یو راوي لري چي طَاوُس او أَبو هُرَيْرَة دي؛ په نورو طبقو کې ئې راویان بېل

ېبل دي.

توپیر: په یوه کې عَلَيْهِمَا جُبَّتَانِ مِنْ حَدِيدٍ په بل کې جُنَّتَانِ (محققانو دا غوره کړی) په یوه کې مِنْ ثُدِيِّهِمَا إِلَى تَرَاقِيهِمَا په بل کې قَدِ اضْطَرَّتْ أَيْدِيَهُمَا إِلَى تَرَاقِيهِمَا په بل کې مِنْ لَدُنْ ثَدْيَيْهِمَا إِلَى تَرَاقِيهِمَا په یوه کې فَأَمَّا الْمُنْفِقُ فَلاَ يُنْفِقُ إِلَّا سَبَغَتْ - أَوْ وَفَرَتْ - عَلَى جِلْدِهِ په بل کې فَكُلَّمَا هَمَّ الْمُتَصَدِّقُ بِصَدَقَتِهِ اتَّسَعَتْ عَلَيْهِ حَتَّى تُعَفِّيَ أَثَرَهُ (تر هغه چې اثر ئې محو شي)؛ په بل کې فَأَمَّا الْمُنْفِقُ فَلاَ يُنْفِقُ شَيْئًا إِلَّا مَادَّتْ عَلَى جِلْدِهِ (پر پوستکي ئې خوره شي)؛ حَتَّى تُجِنَّ بَنَانَهُ وَتَعْفُوَ أَثَرَهُ په بل کې فَجَعَلَ الْمُتَصَدِّقُ كُلَّمَا تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ انْبَسَطَتْ عَنْهُ حَتَّى تَغْشَى أَنَامِلَهُ وَتَعْفُوَ أَثَرَهُ په یوه کې وَأَمَّا الْبَخِيلُ فَلاَ يُرِيدُ أَنْ يُنْفِقَ شَيْئًا إِلَّا لَزِقَتْ كُلُّ حَلْقَةٍ مَكَانَهَا په بل کې وَكُلَّمَا هَمَّ الْبَخِيلُ بِالصَّدَقَةِ انْقَبَضَتْ كُلُّ حَلْقَةٍ إِلَى صَاحِبَتِهَا وَتَقَلَّصَتْ عَلَيْهِ په یوه کې فَيَجْتَهِدُ أَنْ يُوَسِّعَهَا فَلاَ تَتَّسِعُ په بل کې فَهْوَ يُوسِعُهَا فَلاَ تَتَّسِعُ راغلي. له دې معلومېږي چې دا روايات؛ هر راوي په خپلو الفاظو انتقال کړي؛ هر یوه له مخکیني څه اورېدلي؛ مطلب ئې تر لاسه کړی او هغه ئې په خپلو الفاظو بل ته بیان کړی.

د دې روایت ښه تعبیر دا دئ: کله چې یو سخاوتمن انسان کوم څه انفاقوي په دې انفاق سره د نفس او شیطان هغه وسوسې په څپېړه وهي چې دی بخل او حرص ته هڅوي او د انفاق له پایلو ئې وېروي؛ د دې کار تکرار د دې باعث شي چې د شیطاني او نفساني وسوسو اغېز په بشپړه توگه محو شي؛ او بخیل انسان چې هر ځل دغو وسوسو ته تسلیمېږي په همدې سره د خپل نفس او شیطان د وسوسو په وړاندې د ده مقاومت کمزوری کېږي او کار ئې هغه پړاو ته رسېږي چې نور نو د دغو وسوسو له منگولو ځان نه شي ژغورلی. سخاوتمن انسان بیا داسې عیار شوی وي چې تل انفاق ته په پراخ زړه چمتو وي.

۱۹ باب: پر هر مسلمان صدقه لازمه ده، څوک چې څه ونه لري د خیر کارونه دې کوي

٧٣٠ - عَنْ أَبِي مُوسَى رضى الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ صَدَقَةٌ». فَقَالُوا: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، فَمَنْ لَمْ يَجِدْ؟ قَالَ: «يَعْمَلُ بِيَدِهِ فَيَنْفَعُ نَفْسَهُ وَيَتَصَدَّقُ». قَالُوا: فَإِنْ لَمْ يَجِدْ؟ قَالَ:«يُعِينُ ذَا الْحَاجَةِ الْمَلْهُوفَ».قَالُوا: فَإِنْ لَمْ يَجِدْ؟ قَالَ: «فَلْيَعْمَلْ بِالْمَعْرُوفِ، وَلْيُمْسِكْ عَنِ الشَّرِّ، فَإِنَّهَا لَهُ صَدَقَةٌ». (بخارى:١٤٤٥)

٧٣١- له ابو موسى رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (پر هر مسلمان صدقه لازمه ده)، (حاضرينو) وويل: اې د الله نبي! كه څوک څه ونه لري؟ وئې فرمايل: (په خپل لاس دي كار كوي، ځانته دي گټه رسوي او (بل ته دي) صدقه وركوي)، هغوى وويل: كه دا هم ونه مومي؟ وئې فرمايل: (له مظلوم او مضطر سره دي مرسته كوي)، هغوى وويل: كه دا هم ونه مومي؟ وئې فرمايل: (په معروف دي عمل كوي؛ او له شر او بدو دي ځان ساتي او همدا ئې صدقه ده).

تكرار: دا روايت په بخاري كې يو ځل بيا په دغي شمېرې راغلی: ٦٠٢٢؛ غريب دئ؛ په ٥ طبقو كې يو يو راوي لري چي دا دي: آدَم، شُعْبَة، سَعِيد بْن أَبِي بُرْدَة، پلار ئې ابو برده او نيكه ئې أَبو مُوسَى أَشْعَرِي رضي الله عنه.

توپير: په يوه كې فَقَالُوا يَا نَبِىَّ اللَّهِ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ په بل كې قَالُوا فَإِنْ لَمْ يَجِدْ په يوه كې يَعْمَلُ بِيَدِهِ په بل كې فَيَعْمَلُ بِيَدَيْهِ په يوه كې فَإِنْ لَمْ يَجِدْ په بل كې فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ أَوْ لَمْ يَفْعَلْ په يوه كې يُعِينُ په بل كې فَيُعِينُ په يوه كې قَالُوا فَإِنْ لَمْ يَجِدْ په بل كې قَالُوا فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ په يوه كې فَلْيَعْمَلْ بِالْمَعْرُوفِ، وَلْيُمْسِكْ عَنِ الشَّرِّ په بل كې « فَيَأْمُرُ بِالْخَيْرِ » أَوْ قَالَ « بِالْمَعْرُوفِ » قَالَ فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ قَالَ « فَيُمْسِكُ عَنِ الشَّرِّ» راغلي.

په مخكيني روايت كې د صدقې څو صورتونه ښودل شوي:

- دا چي څوك غني وي او صدقه وركوي.

- دا چي ځوك غني نه وي، څه په لاس كې نه لري، كار وكړي، څه وگټي، هم خپل مالي مشكلات حل كړي او هم بل ته صدقه وركړي.
- دا چي د خپل ورځني كار له لاري دومره څه نه شي تر لاسه كولی چي له بل سره هم مرسته وكړي نو هغه دي له بې وزلي او محتاج انسان سره د كوم كار له لاري يا هغه ته د كار پيدا كولو له لاري د هغه مرسته وكړي.
- دا چي په كومي نېكي مشورې او لارښووني سره د يوه محتاج او اړ انسان مرسته وكړي.
- كه دا يو هم نه شي كولی نو له شر او بدو دي ځان ساتي، بل ته دي د تاوان له رسولو ډډه كوي؛ دا هم صدقه گڼل كېږي.

## ٢٠ باب: د زكات او صدقې اندازه

٧٣١ - عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ رضى الله عنها قَالَتْ: بُعِثَ إِلَى نُسَيْبَةَ الأَنْصَارِيَّةِ بِشَاةٍ، فَأَرْسَلَتْ إِلَى عَائِشَةَ رضى الله عنها مِنْهَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «عِنْدَكُمْ شَيْءٌ»؟ فَقُلْتُ: لا، إِلَّا مَا أَرْسَلَتْ بِهِ نُسَيْبَةُ مِنْ تِلْكَ الشَّاةِ، فَقَالَ: «هَاتِ فَقَدْ بَلَغَتْ مَحِلَّهَا». (بخارى: ١٤٤٦)

٧٣١- له ام عطيه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: نُسَيبَه انصاريه رضي الله عنها ته يو پسه واستول شو، هغې د پسه څه برخه عائشې رضي الله عنها ته ور ولېږله، (عائشه رضي الله عنها وايي) بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم راته وفرمايل: (آيا د خوړو لپاره څه درسره شته؟) ما ورته وويل: نه؛ يوازي هغه څه چي نُسَيبې له هغه پسه رالېږلي؛ نو وئې فرمايل: (رائې وړه؛ يقيناً چي هغه خپل مناسب ځای ته رسېدلې).

تكرار: دا روايت په بخاري كې دوه ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ١٤٩٤، ٢٥٧٩

توپير: په يوه كې دا فِقره راغلې بُعِثَ إِلَى نُسَيْبَةَ الأَنْصَارِيَّةِ بِشَاةٍ

فَأَرْسَلَتْ إِلَى عَائِشَةَ - رضى الله عنها - مِنْهَا او په نورو کې نه شته، په یوه کې عِنْدَكُمْ شَىْءٌ په بل کې هَلْ عِنْدَكُمْ شَىْءٌ په یوه کې فَقُلْتُ لاَ إِلَّا مَا أَرْسَلَتْ بِهِ نُسَيْبَةُ مِنْ تِلْكَ الشَّاةِ په بل کې إِلَّا شَىْءٌ بَعَثَتْ بِهِ إِلَيْنَا نُسَيْبَةُ مِنَ الشَّاةِ الَّتِى بَعَثْتَ بِهَا مِنَ الصَّدَقَةِ په بل کې إِلَّا شَىْءٌ بَعَثَتْ بِهِ أُمُّ عَطِيَّةَ مِنَ الشَّاةِ الَّتِى بُعِثَ إِلَيْهَا مِنَ الصَّدَقَةِ په یوه کې هَاتِ فَقَدْ بَلَغَتْ مَحِلَّهَا په بل کې إِنَّهَا قَدْ بَلَغَتْ مَحِلَّهَا راغلي.

د روایت مطلب دا دئ چي د نُسَيْبَةَ الأَنْصَارِيَّةِ (أم عمارة رضي الله عنها چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ئې په غزواتو کې برخه اخستې وه او د احد په جنگ کې ئې له رسول الله صلى الله عليه و سلم کلکه دفاع کړې وه)؛ هغې ته یو پسه د صدقې په توگه لېږل شوی وو، یو روایت وایي چي دا پسه رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپله ورلېږلی وو؛ خو بل روایت کې د لېږونکي په اړه وضاحت نه کوي؛ هغې پسه ذبح کړی او څه غوښه ئې عائشې رضي الله عنها ته لېږلې؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم د عائشې رضي الله عنها کور ته راغلی، پوښتنه ئې کړې چي آیا د خوړو لپاره څه درسره شته؟ هغې ورته ویلي: نه؛ یوازي هغه څه شته چي نُسَیبې رضي الله عنها له هغه پسه رالېږلې؛ له دې پرته نور څه د هغې په کور کې نه وو؛ غوښتل ئې یوه شي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د دې صدقې په اړه څه لارښوونه ورته کوي؛ ځکه رسول الله صلى الله عليه و سلم صدقه نه قبلوله، د خپلې کورنۍ غړي ئې هم د صدقې له اخیستلو منع کړي وو؛ خو رسول الله صلى الله عليه و سلم هغې ته دا ځواب ورکړ: رائې وړه؛ یقیناً چي هغه خپل مناسب ځای ته رسېدلې ده؛ یعني دا د نُسَیبې لپاره صدقه محسوبېږي او د نُسَیبې له لوري چي عائشې رضي الله عنها ته څه ورکړی شوي هغه هدیه گڼل کېږي؛ هدیه هغه تحفه ده چي شریعت ئې د بدلې ورکولو سپارښتنه کړې؛ تر هدیې غوره یا لږ تر لږ د هغې په څېر بدله؛ خو صدقه هغه څه ده چي د غني له لوري مسکین ته له معاوضې

او بدلې پرته ورکول کېږي. قرآن په دې اړه فرمايي:

وَإِذَا حُيِّيتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ حَسِيبًا ﴿٨٦﴾ النساء

او که کله په کوم ښه تحيه او سلام پر تاسو سلام وويل شو نو يا تر دې غوره سلام ووايئ او يا همغه وروګرځوئ؛ بې شکه چې الله په هر څه ښه حساب کوونکی دئ.

د تحيې معنی يو بل ته د ژوندی اوسې ويل دي؛ نو د آيت معنی دا ده چې د سلام، ښه راغلاست او ژوندی دي وې؛ ځواب به يا تر دې په غوره کلماتو ورکوئ او يا به همدغه کلمات په ځواب کې وايئ؛ په دې پوه شئ چې الله تعالی حسيب دئ له بنده سره په هر څه کې حساب کوي.

هديه او تحفه په همدې قياس کېږي؛ يعني که چا کومه تحفه او ډالۍ درکړه؛ مادي يا معنوي تحفه؛ نو يا به تر هغې غوره تحفه ورکوې او يا لږ تر لږه د هغې په څېر؛ خو پام چې رشوت ته د تحفې نوم او رنګ ورنه کړئ؛ دولتي مأمورينو او چارواکو ته د تحفو اخيستل منع دي؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم يو کس د زکات راغونډولو لپاره لېږلی وو؛ کله چې راستون شو نو وئې ويل: دا برخه زکات ده او دا هغه تحفې دي چې ما ته راکړل شوې؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم د دې خبري په اورېدو سره غصه شو؛ او وئې فرمايل: په خپل کور کې به ناست وې چې ليدلي دي وئ خلك تحفې درکوي که نه؛ بيا ئې د منبر پر سر همدا خبره وکړه او وئې فرمايل؛ موږ څوك د زکات راغونډولو لپاره لېږو؛ خو هغه راشي او وايي: دا زکات دئ او دا ما ته راکړل شوې تحفې!! هغه دې د خپل پلار په کور کې کښېني او ودې ګوري چې څوك تحفې ورکوي؟

د دې باب عنوان داسي دئ: باب: د زکات او صدقې اندازه؛ له عنوان

داسي معلومېږي چي له مال به څومره زکات ورکول کېږي؟ خو په روايت کي د صدقې او زکات د مقدار په اړه هيڅ څه نه مومو؛ د روايت هدف دا دئ چي کېدی شي صدقه يوه ته د صدقې حکم ولري او که همدغه صدقه اخيستونکی؛ له دغې صدقې بل چا ته څه د هديې په توګه ورکړي نو هغه ته به هديه ګڼل کېږي؛ که دغه پسه رسول الله صلی الله عليه و سلم؛ يا ئې کورنۍ ته لېږل شوی وو نو هغوی ځکه نه اخيستلو چي دوی ته د ځان لپاره زکات اخيستل جائز نه دي؛ اما که له همدې صدقې کوم څه د تحفې او هديې په توګه ورکړی شي؛ ورته جائزه ده. دا ځکه چي هديه بدله ايجاوي.

د ترجمة الباب او روايت تر منځ د تړاو او مناسبت په ارتباط هر محقق غور کړی؛ تاسو چي د بخاري شروح ولولئ نو وبه ګورئ چي هر شارح دا موضوع څېړلې؛ چا توجيه کړې او چا اعتراض کړی؛ عمدة القاري د بخاري له هر څه د دفاع کولو لار غوره کړې؛ د هر عنوان او باب په اړه ئې هڅه کړې يوه توجيه؛ که څه هم په ډېر تکلف سره وي؛ ورته وړاندي کړي؛ ابن حزم بيا هم د بخاري متعارض روايات، ضعيف راويان او د باب او روايت تر منځ عدم مناسبتونه په ګوته کړي. د بابونو په انتخاب او تنظيم کي هم مسلم تر بخاري وړاندي دئ او هم ترمذي؛ مسلم دغه روايت تر دې باب لاندي تنظيم کړی: باب إِبَاحَةِ الْهَدِيَّةِ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم. دا عنوان له روايت سره دقيق مناسبت لري او يقيناً چي د بخاري تر ترجمة الباب ډېر غوره او دقيق دئ.

## ۲۱ باب: په زکات کي د مال اخيستل

عَنْ أَنَسٍ رضى الله عنه: أَنَّ أَبَا بَكْرٍ رضى الله عنه كَتَبَ لَهُ الَّتِي أَمَرَ اللَّهُ رَسُولَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «وَمَنْ بَلَغَتْ صَدَقَتُهُ بِنْتَ مَخَاضٍ وَلَيْسَتْ عِنْدَهُ، وَعِنْدَهُ بِنْتُ لَبُونٍ، فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ، وَيُعْطِيهِ الْمُصَدِّقُ عِشْرِينَ دِرْهَمًا أَوْ شَاتَيْنِ، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ

عِنْدَهُ بِنْتُ مَخَاضٍ عَلَى وَجْهِهَا، وَعِنْدَهُ ابْنُ لَبُونٍ، فَإِنَّهُ يُقْبَلُ مِنْهُ، وَلَيْسَ مَعَهُ شَيْءٌ».

(بخاری: ۱٤٤٨)

له انس رضي الله عنه روایت دئ چي ابو بکر رضي الله عنه؛ ده ته؛ هغه څه ولیکل چي الله تعالی؛ خپل رسول صلی الله علیه و سلم ته امر کړی وو: (د چا د اوښانو زکات چي بنت مخاض (یوه کلنه جونګۍ) ته ورسېږي خو بنت مخاض ونه لري، بلکي بنت لبون (دوه کلنه جونګۍ) ورسره وي نو همغه بنت لبون دي د بنت مخاض په ځای ترې قبوله شي او صدقه اخیستونکی دي شل درهمه یا دوه پسونه ورکړي. او که بنت مخاض ئې نه درلوده او ابن لبون (دوه کلن جونګی) ورسره وو؛ نو همغه ابن لبون دي ترې قبول شي او نور څه ورته نه شته).

دا روایت په بخاري کې نه (۹) ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۱٤٥۰، ۱٤٥۱، ۱٤٥۳، ۱٤٥٤، ۱٤٥٥، ۲٤۸۷، ۳۱۰٦، ۵۸۷۸، ٦۹۵۵؛ غریب دئ؛ په ٤ طبقو کې یو یو راوي لري چي دا دي: مُحَمَّد بْن عَبْدِ اللَّهِ، پلار ئې عبدالله، ثُمَامَة او أَنَس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ توپیرونه ئې دا دي: په یوه کې كَتَبَ لَهُ الَّتِى أَمَرَ اللَّهُ رَسُولَهُ په بل کې كَتَبَ لَهُ الَّتِى فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ په بل کې كَتَبَ لَهُ فَرِيضَةَ الصَّدَقَةِ الَّتِى أَمَرَ اللَّهُ رَسُولَهُ په بل کې كَتَبَ لَهُ هَذَا الْكِتَابَ: هَذِهِ فَرِيضَةُ الصَّدَقَةِ الَّتِى فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ په بل کې هَذِهِ فَرِيضَةُ الصَّدَقَةِ الَّتِى فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَلَى الْمُسْلِمِينَ، وَالَّتِى أَمَرَ اللَّهُ بِهَا رَسُولَهُ (دلته جدي تعارض مومو؛ یو ئې وایي چي رسول الله فرض کړي او بل ئې وایي: الله تعالی فرض کړي؛ الله تعالی خپل پیغمبر پرې ګمارلی؛ کوم یو ئې صحیح دئ؟ له شك پرته دا دواړه صحیح دئ؛ ځکه د فرض حکم د الله تعالی له لوري وي، الله تعالی په حکم کې هیڅوك له ځان سره نه شریکوي؛ او ابلاغ ئې د پیغمبر له لوري) په یوه کې وَلاَ يُجْمَعُ بَيْنَ مُتَفَرِّقٍ، وَلاَ يُفَرَّقُ بَيْنَ مُجْتَمِعٍ، خَشْيَةَ الصَّدَقَةِ (یعني نه به د څو کسانو متفرق څاروي د زکات د مقدار راکمولو په موخه یو ځای کېږي؛ داسي چي درې تنه چي هر یو څلوېښت پسونه

لري، په هر یوه د زکات یو پسه لازمېږي؛ خو که دوی خپل پسونه سره یو ځای کړي نو ټول به په ګډه یو پسه ورکوي) او همدا راز یو ځای شوي څاروي به د زکات راکمولو په موخه نه وېشل کېږي؛ داسې چې دوه شریکان په ګډه څلوېښت پسونه لري؛ چې یو پسه به په زکات کې ورکوي؛ که دوی ئې سره بېل کړي؛ او هر یوه ته شل شل ورسېږي نو دواړو به ځان له زکات ورکولو ژغورلی وي)؛ په بل کې وَمَا كَانَ مِنْ خَلِيطَيْنِ فَإِنَّهُمَا يَتَرَاجَعَانِ بَيْنَهُمَا بِالسَّوِيَّةِ (که څاروي په ګډه د دوو کسانو وي؛ د هر یوه د زکات برخه به د هغه د څارویو په تناسب وي).

دلته ویل شوي چې که د چا د اوښانو شمېر دومره وي چې باید یوه کلنه جونګۍ په زکات کې ورکړي خو له هغه سره یوه کلنه جونګۍ نه وي؛ نو کولی شي دوه کلنه جونګۍ ورکړي خو صدقه اخیستونکی به دوه پسونه او یا د هغوی قیمت چې هغه مهال شل درهمه وو؛ د مال خاوند ته ورکوي، دې ته مو پام وي چې دلته شل درهم یا دوه پسونه د اوښانو او پسونو د هغه مهال ارزښت ته په پام سره ټاکل شوي.

اوسنیو شرائطو ته په پام سره ویلی شو چې که د څارویو متوسط قیمت معلوم شي او بیا ئې زکات د مجموعي قیمت له مخې وټاکل شي او ۲،۵ سلنه ئې زکات ورکړی شي؛ هغه ستونزه به حل شي چې په اوسنیو شرائطو کې یو حکومت د څارویو په راغونډولو او ساتلو کې ورسره مخامخ کېږي. فقهاء باید په دې اړه غور وکړي او مناسبه فتوی ورکړي.

## ۲۲ باب: متفرق دي نه یو ځای کېږي او ګډ دي نه بېلېږي

۷۳۳ - عَنْ أَنَسٍ رضى الله عنه: أَنَّ أَبَا بَكْرٍ رضى الله عنه كَتَبَ لَهُ الَّتِي فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «وَلا يُجْمَعُ بَيْنَ مُتَفَرِّقٍ، وَلا يُفَرَّقُ بَيْنَ مُجْتَمِعٍ، خَشْيَةَ الصَّدَقَةِ». (بخاری:١٤٥٠)

۷۳۳- له انس رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: ابو بکر رضي الله عنه هغه څه ورته ولیکل چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرض کړي

وو: (د زكات له وېرې دي نه متفرق مالونه سره يو ځای کېږي او نه دي ګډ مالونه سره بېل کېږي).

دا روايت چې د مخکيني روايت يوه برخه ده؛ وايي: هيڅوك دي داسي نه کوي چې بېل بېل څاروي په دې موخه سره يو ځای کړي يا ګډ څاروي سره بېل بېل کړي چې زكات ئې راكم کړي؛ لکه دا چې درې کسان څلوېښت څلوېښت پسونه لري، که دوی خپل پسونه سره يو ځای کړي نو يو سل شل پسونه ترې جوړېږي چې زكات به ئې يوازي يو پسه وي، خو كه بېل بېل وي نو هر يو به يو پسه ورکوي؛ يا دا چې دوه كسان سره شريك وي، هر يو ئې يو سل يو (١٠١) پسونه لري؛ په دغو دوه سوه دوو پسونو کې درې پسونه زكات لازمېږي؛ خو كه دوی خپل څاروي سره بېل کړي نو پر هر يوه ئې يوازي يو پسه زكات راځي.

دې پوښتني ته هم معقول ځواب په کار دئ چې ولې به د ٤٠ پسونو زكات هم يو پسه وي او د ١٢٠هم؟ په داسي حال کې چې؛ که د پسونو د ارزښت له مخي د زكات اندازه وټاكل شي؛ نو د ٤٠ درهم زكات يو درهم دئ او د ١٢٠ درهم؛ ٣ درهم؟

## ٢٣ باب: که د دوو كسانو مالونه سره ګډ وو نو زكات به ئې په متناسبه توګه د دوی تر منځ وېشل کېږي

٧٣٤ - وَ فِي رِوَايَةٍ: أَنَّ أَبَا بَكْرٍ رضى الله عنه كَتَبَ لَهُ الَّتِي فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «وَمَا كَانَ مِنْ خَلِيطَيْنِ فَإِنَّهُمَا يَتَرَاجَعَانِ بَيْنَهُمَا بِالسَّوِيَّةِ». (بخارى: ١٤٥١)

٧٣٤- او په بل روايت کي راغلي: ابو بكر رضي الله عنه هغه څه ورته وليکل چې رسول الله صلى الله عليه و سلم لازم ګرځولي وو: (که دوه کسان په کوم مال کې سره شريك وي؛ نو زكات به ئې په برابره توګه د دوی تر منځ وېشل کېږي)، هر يو به د ټول زكات نيمايي ورکوي.

## ٢٤ باب: د اوښانو زکات

٧٣٥ - عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ رضى الله عنه: أَنَّ أَعْرَابِيًّا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْهِجْرَةِ، فَقَالَ: «وَيْحَكَ، إِنَّ شَأْنَهَا شَدِيدٌ، فَهَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ تُؤَدِّي صَدَقَتَهَا»؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: فَاعْمَلْ مِنْ وَرَاءِ الْبِحَارِ فَإِنَّ اللَّهَ لَنْ يَتِرَكَ مِنْ عَمَلِكَ شَيْئًا». (بخاری:١٤٥٢)

٧٣٥- له ابو سعید الخدري رضي الله عنه روایت دیٔ چې یوه کوچي له رسول الله صلی الله علیه و سلم د هجرت په اړه وپوښتل؛ وئې فرمایل: (افسوس دیٔ څه دربانديِ شوي! هجرت سخت دیٔ؛ آیا داسي اوښان لرې چې زکات ئې ورکړې؟) وئې ویل: هو؛ وئې فرمایل: (څه او له سمندرونو آخوا (له کلي او خلکو ډېر لري) کار کوه؛ الله تعالی به هیڅ کله ستا د عمل کوم څه ضائع نه کړي).

تکرار: دا روایت په بخاري کې درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ٢٦٣٣، ٣٩٢٣، ٦١٦٥

توپیر: په یوه کې أَنَّ أَعْرَابِيًّا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - عَنِ الْهِجْرَةِ په بل کې جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَسَأَلَهُ عَنِ الْهِجْرَةِ په بل کې أَنَّ أَعْرَابِيًّا قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَخْبِرْنِي عَنِ الْهِجْرَةِ په یوه کې فَهَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ تُؤَدِّي صَدَقَتَهَا په بل کې فَهَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ؛ قَالَ نَعَمْ. قَالَ «فَتُعْطِي صَدَقَتَهَا» په بل کې فَهَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ». قَالَ نَعَمْ. قَالَ « فَتُعْطِي صَدَقَتَهَا». قَالَ نَعَمْ. قَالَ «فَهَلْ تَمْنَحُ مِنْهَا: څه ترې هدیه کوې». قَالَ نَعَمْ. قَالَ «فَتَحْلُبُهَا يَوْمَ وُرُودِهَا؟». قَالَ نَعَمْ، په بل کې فَتَحْلُبُهَا يَوْمَ وِرْدِهَا؟ راغلي.

د دې روایت په اړه باید څو خبرې په پام کې ولرو:

- د روایت له فحوی معلومېږي چې دا کوچی د مکې اړوند سیمې استوګن وو، غوښتل ئې مدینې ته هجرت وکړي، رسول الله صلی الله

عليه و سلم د هجرت كړاوونو ته اشاره كړې او هغه ته ئې ويلي: كه خپل ديني وجائب تر سره كړې، د خپل مال زكات وركړې او هغه حقوق اداء كړې چي الله تعالی ستا په مال کي درته ټاكلي؛ نو كه له مدينې ډېر لري او له سمندرونو آخوا هم استوګن وې؛ الله تعالی به ستا هيڅ نېك عمل ضائع نه كړي.

- د محدثينو تر منځ په دې اړه اختلاف دئ چي دا كوچى كله رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغلی؛ د مكې له فتحې وروسته كه لږ وړاندې؟ دې ته په پام سره چي د مكې له فتحې وروسته د هجرت هغه فرضيت پای ته رسېدلی چي د مكې استوګن پرې مكلف ول؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه ته دا نه دي ويلي چي اوس نو د هجرت هغه مخكينی فرضيت پای ته رسېدلی؛ نو په يقين سره ويلی شو چي دا كوچى د مكې تر فتحې وړاندې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورغلی او دا پوښتنه ئې كړې وه.

## ۲۵ باب: د چا زكات چي بنت مخاض وي خو له هغه سره بنت مخاض نه وي

۷۳٦ - عَنْ أَنَسٍ رضى الله عنه: أَنَّ أَبَا بَكْرٍ رضى الله عنه كَتَبَ لَهُ فَرِيضَةَ الصَّدَقَةِ الَّتِي أَمَرَ اللَّهُ رَسُولَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «مَنْ بَلَغَتْ عِنْدَهُ مِنَ الإِبِلِ صَدَقَةُ الْجَذَعَةِ وَلَيْسَتْ عِنْدَهُ جَذَعَةٌ، وَعِنْدَهُ حِقَّةٌ فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ الْحِقَّةُ، وَيَجْعَلُ مَعَهَا شَاتَيْنِ، إِنِ اسْتَيْسَرَتَا لَهُ أَوْ عِشْرِينَ دِرْهَمًا، وَمَنْ بَلَغَتْ عِنْدَهُ صَدَقَةُ الْحِقَّةِ، وَلَيْسَتْ عِنْدَهُ الْحِقَّةُ وَعِنْدَهُ الْجَذَعَةُ، فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ الْجَذَعَةُ وَيُعْطِيهِ الْمُصَدِّقُ عِشْرِينَ دِرْهَمًا أَوْ شَاتَيْنِ، وَمَنْ بَلَغَتْ عِنْدَهُ صَدَقَةُ الْحِقَّةِ، وَلَيْسَتْ عِنْدَهُ إِلَّا بِنْتُ لَبُونٍ فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ بِنْتُ لَبُونٍ وَيُعْطِي شَاتَيْنِ أَوْ عِشْرِينَ دِرْهَمًا، وَمَنْ بَلَغَتْ صَدَقَتُهُ بِنْتَ لَبُونٍ وَعِنْدَهُ حِقَّةٌ فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ الْحِقَّةُ وَيُعْطِيهِ الْمُصَدِّقُ عِشْرِينَ دِرْهَمًا أَوْ شَاتَيْنِ، وَمَنْ بَلَغَتْ صَدَقَتُهُ

بِنْتَ لَبُونٍ وَلَيْسَتْ عِنْدَهُ وَعِنْدَهُ بِنْتُ مَخَاضٍ، فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ بِنْتُ مَخَاضٍ وَيُعْطِي مَعَهَا عِشْرِينَ دِرْهَمًا أَوْ شَاتَيْنِ». (بخاری: ۱۴۵۳)

۷۳۶- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي ابو بکر رضي الله عنه د زکات هغه فريضه ورته وليکله چي الله تعالی خپل رسول ته امر کړی وو، (او هغه دا چي:) (که په اوښانو کي د چا زکات جَذَعَه (څلور کلني جونګۍ) ته ورسېدو او جذعه ورسره نه وه نو حِقَّه (درې کلني جونګۍ) ورسره وي؛ نو همدا حقه ترې قبلېږي او له دې سره دي دوه پسونه يو ځای کړي، که ورته ممکنه وه؛ يا دي شل درهمه ورسره يو ځای کړي؛ او د چا زکات چي د حِقَّه کچي ته ورسېدو خو حقه ورسره نه وي او جذعه ورسره وي نو همدغه جذعه ترې قبلېږي او زکات اخيستونکی دي شل درهمه يا دوه پسونه ورکړي؛ او د چا زکات چي د حقه کچي ته ورسېدو خو له هغه سره له بنت لبون (دوه کلنه جونګۍ) پرته بل څه نه وي نو همدا بنت لبون ترې قبلېږي خو دوه پسونه يا شل درهمه دي هم ورسره ورکړي؛ او که د چا زکات د بنت لبون کچي ته ورسېدو او هغه بنت لبون ونه لري خو حقه ورسره وي نو همدا حقه ترې قبلېږي خو زکات اخيستونکی به شل درهمه يا دوه پسونه ورکوي؛ او که د چا زکات د بنت لبون کچي ته ورسېدو او هغه ئې ونه لري خو بنت مخاض ورسره وي؛ نو همدا بنت مخاض ترې قبول دئ خو شل درهمه يا دوه پسونه به پرې علاوه کوي.

دا روايت تر دې باب لاندي راغلی: د چا زکات چي بنت مخاض وي خو له هغه سره بنت مخاض نه وي؛ خو په روايت کې دا مطلب نه مومو؛ بلکي دا مومو: ... خو بنت مخاض ورسره وي؛ نو همدا بنت مخاض ترې قبول دئ.

## ۲۶ باب: د مېږو (پسونو) زکات

۷۳۷ - عَنْ أَنَسٍ رضى الله عنه: أَنَّ أَبَا بَكْرٍ رضى الله عنه كَتَبَ لَهُ هَذَا الْكِتَابَ لَمَّا

وَجَّهَهُ إِلَى الْبَحْرَيْنِ: بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، هَذِهِ فَرِيضَةُ الصَّدَقَةِ الَّتِي فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ، وَالَّتِي أَمَرَ اللَّهُ بِهَا رَسُولَهُ، فَمَنْ سُئِلَهَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ عَلَى وَجْهِهَا فَلْيُعْطِهَا، وَمَنْ سُئِلَ فَوْقَهَا فَلا يُعْطِ: فِي أَرْبَعٍ وَعِشْرِينَ مِنَ الإِبِلِ فَمَا دُونَهَا مِنَ الْغَنَمِ، مِنْ كُلِّ خَمْسٍ شَاةٌ، إِذَا بَلَغَتْ خَمْسًا وَعِشْرِينَ إِلَى خَمْسٍ وَثَلاثِينَ فَفِيهَا بِنْتُ مَخَاضٍ أُنْثَى، فَإِذَا بَلَغَتْ سِتًّا وَثَلاثِينَ إِلَى خَمْسٍ وَأَرْبَعِينَ فَفِيهَا بِنْتُ لَبُونٍ أُنْثَى، فَإِذَا بَلَغَتْ سِتًّا وَأَرْبَعِينَ إِلَى سِتِّينَ فَفِيهَا حِقَّةٌ طَرُوقَةُ الْجَمَلِ، فَإِذَا بَلَغَتْ وَاحِدَةً وَسِتِّينَ إِلَى خَمْسٍ وَسَبْعِينَ فَفِيهَا جَذَعَةٌ، فَإِذَا بَلَغَتْ يَعْنِي سِتًّا وَسَبْعِينَ إِلَى تِسْعِينَ فَفِيهَا بِنْتَا لَبُونٍ، فَإِذَا بَلَغَتْ إِحْدَى وَتِسْعِينَ إِلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ فَفِيهَا حِقَّتَانِ طَرُوقَتَا الْجَمَلِ، فَإِذَا زَادَتْ عَلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ فَفِي كُلِّ أَرْبَعِينَ بِنْتُ لَبُونٍ، وَفِي كُلِّ خَمْسِينَ حِقَّةٌ، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ إِلَّا أَرْبَعٌ مِنَ الإِبِلِ فَلَيْسَ فِيهَا صَدَقَةٌ، إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبُّهَا، فَإِذَا بَلَغَتْ خَمْسًا مِنَ الإِبِلِ فَفِيهَا شَاةٌ، وَفِي صَدَقَةِ الْغَنَمِ فِي سَائِمَتِهَا إِذَا كَانَتْ أَرْبَعِينَ إِلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ شَاةٌ، فَإِذَا زَادَتْ عَلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ إِلَى مِائَتَيْنِ شَاتَانِ، فَإِذَا زَادَتْ عَلَى مِائَتَيْنِ إِلَى ثَلاثِ مِائَةٍ فَفِيهَا ثَلاثُ شِيَاهٍ، فَإِذَا زَادَتْ عَلَى ثَلاثِ مِائَةٍ فَفِي كُلِّ مِائَةٍ شَاةٌ، فَإِذَا كَانَتْ سَائِمَةُ الرَّجُلِ نَاقِصَةً مِنْ أَرْبَعِينَ شَاةً وَاحِدَةً فَلَيْسَ فِيهَا صَدَقَةٌ، إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبُّهَا، وَفِي الرِّقَّةِ رُبْعُ الْعُشْرِ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ إِلَّا تِسْعِينَ وَمِائَةً فَلَيْسَ فِيهَا شَيْءٌ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبُّهَا. (بخاری: ١٤٥٤)

٧٣٧- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: کله چي ابو بکر رضي الله عنه دی بحرين ته ولېږلو نو دا ليکنه ئې ورته وکړه: بسم الله الرحمن الرحيم؛ دا د زکات هغه فريضه ده چي رسول الله صلی الله عليه و سلم پر مسلمانانو فرض کړې ده؛ هغه چي الله تعالی خپل رسول ته د هغې امر کړی؛ نو څوك چي له مسلمانانو د هغې مطابق غوښتنه وکړي؛ نو هغه دي ورکړي؛ او چا چي تر هغې زيات وغوښتل نه دې

ورکوي: په هرو (۲٤) څلور ویشتو او تر دې لږ شمېر اوښانو باندي پسونه (مېږي) لازمېږي؛ داسي چي په هرو پنځو اوښانو باندي یو پسه، که اوښان پنځه ویشت شول نو تر پنځه دېرشو پوري اوښانو باندي یوه بنت مخاض (یوه کلنه جونگۍ) لازمېږي، که شپږ دېرش شول نو تر پنځه څلوېښتو پوري اوښانو باندي یوه بنت لبون (دوه کلنه جونگۍ) لازمېږي؛ اوښان چي شپږ څلوېښت شول نو تر شپېتو پوري اوښانو باندي یوه حقه (څلور کلنه اوښه) چي حامله کېدو ته تیاره وي؛ لازمېږي او چي یو شپېته شول نو تر پنځه اویا پوري اوښانو باندي یوه جَذَعَه لازمېږي؛ او چي شپږ اویا شول نو تر نوي پوري اوښانو باندي دوې بنت لبون لازمېږي؛ او چي یو نوي شول بیا تر یو سل او شل (۱۲۰) پوري اوښانو باندي دوې حقې چي حامله کېدو ته تیاري وي لازمېږي او چي له ۱۲۰ زیات شول نو بیا په هرو څلوېښتو اوښانو باندي یوه بنت لبون لازمېږي او په هرو پنځوسو اوښانو باندي یوه حقه لازمېږي؛ او څوک چي یوازي څلور اوښان ولري نو په هغوی باندي هیڅ زکات نه شته؛ مگر دا چي خاوند ئې په خپله خوښه څه ورکړي او چي اوښان ئې پنځه شول نو یو پسه پرې لازمېږي.

او د مېږو د زکات په اړه: مېږي چي په صحراء کي څرېدونکې وي او شمېر ئې څلوېښتو ته ورسېږي نو بیا له څلوېښتو تر یو سل او شلو مېږو پوري یو پسه لازمېږي، که له ۱۲۰ زیاتي شي بیا تر دوو سوو پوري مېږو باندي دوه پسونه دي، له دوو سوو چي زیاتي شي بیا تر دري سوو مېږو پوري درې پسونه دي او تر درې سوه چي زیاتي شي نو په هرو سلو کي یو پسه لازمېږي او که د چا په صحراء کي څرېدونکې مېږي څلوېښت نه وي نو که له څلوېښتو یوه هم کمه وي په هغې کي زکات نه شته؛ مگر دا چي مالک ئې په خپله خوښه څه ورکړي.

او په سپینو زرو کي د زکات اندازه ربع العشر (د لسو یو پر څلورو) (یعني په څلوېښتو درهمو کي یو درهم) دئ او چي شمېر ئې یو سل

او نوي يا تر دې لږ وي نو زکات په کې نه شته، مګر دا چې مالک ئې په خپله خوښه څه ورکړي.

په دې روايت کې د ٤٠ درهمو زکات يو درهم ښودل شوی او د ٤٠ هغو پسونو چې په صحراء کې څري زکات هم يو پسه؛ دا پوښتنه راولاړېږي چې آيا کېدی شي همدا له څلوېښتو يو او په ۱۰۰ کې دوه نيم د زکات اصلي مقدار وګڼل شي؟ هم په سکو او اسعارو کې او هم په هغو څارويو کې چې په پالني کې ئې پر خاوند کوم لګښت نه راځي او په صحراء کې څري؟ هغه مهال چې راکړه ورکړه تر ډېره حده جنس د جنس په مقابل کې وه او د څارويو زکات به هم څاروي وو؛ بل بديل ورته نه وو يا بل بديل ورته موندل ګران کار وو؛ دې ته په پام سره چې د څارويو په زکات کې يو ډول د بل ډول په بدل کې هم قبول شوي؛ سکې هم او د جامو ټوټې هم؛ اوسنی وضعيت ايجابوي چې په دې اړه نوې فتوی ورکړی شي.

## ۲۷ باب: د زکات مال بايد سالم وي

۷۳۸ - عَنْ أَنَسٍ رضى الله عنه: أَنَّ أَبَا بَكْرٍرضى الله عنه كَتَبَ لَهُ: الصَّدَقَةَ الَّتِي أَمَرَ اللَّهُ رَسُولَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «وَلا يُخْرَجُ فِي الصَّدَقَةِ هَرِمَةٌ وَلا ذَاتُ عَوَارٍ وَلا تَيْسٌ إِلَّا مَا شَاءَ الْمُصَدِّقُ». (بخارى: ۱٤٥٥)

۷۳۸- له انس رضي الله عنه روايت دئ چې ابو بکر رضي الله عنه ده ته د هغې صدقې په اړه وليکل چې الله تعالی خپل رسول صلی الله عليه و سلم ته امر کړی: (د زکات لپاره دې زوړ، معيوب او وز (د وزو نر) څاروی نه ايستل کېږي؛ مګر دا چې زکات غونډوونکی ئې قبول کړي).

## ۲۸ باب: نه ښايي په زکات کي د خلکو تر ټولو غوره اموال واخيستل شي

۷۳۹ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: حديث بَعْثِ مُعَاذ رضى الله عنه إِلَى الْيَمَنِ

تقدم وفى هذه الرواية قَالَ: «إِنَّكَ تَقْدَمُ عَلَى قَوْمٍ أَهْلِ كِتَابٍ....» وَذَكَرَ بَاقِيَ الحديثِ ثُمَّ قَالَ فِي آخِرِهِ: «وَتَوَقَّ كَرَائِمَ أَمْوَالِ النَّاسِ». (بخارى:١٤٥٨)

٧٣٩- له ابن عباس رضي الله عنهما: يمن ته د معاذ رضي الله عنه د لېږلو حديث مخكې تېر شو او په دې روايت کې وايي: (ته اهل کتابو ته ورځې...) نور حديث ئې ذکر کړی چې په آخر کې ئې راغلي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (او د خلکو د غوره مالونو له اخيستلو ډډه کوه).

## ٢٩ باب: خپلوانو ته د زكات وركول

٧٤٠- عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضى الله عنه قَالَ: كَانَ أَبُو طَلْحَةَ أَكْثَرَ الأَنْصَارِ بِالْمَدِينَةِ مَالاً مِنْ نَخْلٍ، وَكَانَ أَحَبُّ أَمْوَالِهِ إِلَيْهِ بَيْرُحَاءَ، وَكَانَتْ مُسْتَقْبِلَةَ الْمَسْجِدِ، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُهَا، وَيَشْرَبُ مِنْ مَاءٍ فِيهَا طَيِّبٍ. قَالَ أَنَسٌ: فَلَمَّا أُنْزِلَتْ هَذِهِ الآيَةُ: (لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ) قَامَ أَبُو طَلْحَةَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ اللَّهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَقُولُ: (لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّون) وَإِنَّ أَحَبَّ أَمْوَالِي إِلَيَّ بَيْرُحَاءَ، وَإِنَّهَا صَدَقَةٌ لِلَّهِ، أَرْجُو بِرَّهَا وَذُخْرَهَا عِنْدَ اللَّهِ، فَضَعْهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، حَيْثُ أَرَاكَ اللَّهُ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «بَخٍ، ذَلِكَ مَالٌ رَابِحٌ، ذَلِكَ مَالٌ رَابِحٌ، وَقَدْ سَمِعْتُ مَا قُلْتَ، وَإِنِّي أَرَى أَنْ تَجْعَلَهَا فِي الأَقْرَبِينَ». فَقَالَ أَبُو طَلْحَةَ: أَفْعَلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَسَمَهَا أَبُو طَلْحَةَ فِي أَقَارِبِهِ وَبَنِي عَمِّهِ. (بخارى:١٤٦١)

٧٤٠- له انس بن مالك رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: ابو طلحه رضي الله عنه د مدينې په انصارو کې تر ټولو زياتې د خرما وني درلودې او ده ته په خپلو شتمنيو کې تر ټولو ډېر گران د بَيْرُحَاءَ باغ وو چې نبوي جومات ته مخامخ پروت وو؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم به کله

كله ورتلو او د باغ پاكي او خوندوري اوبه به ئې څښلې. انس رضي الله عنه وايي: كله چې دا آيت نازل شو: (لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ: تر هغه به ښېګڼې ته ونه رسېږئ چې درته ګران شته مو انفاق کړئ)؛ ابو طلحه رضي الله عنه پاڅېد او رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورغى او وئې ويل: يا رسول الله! الله تعالى فرمايي: (لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ)؛ او تر ټولو غوره او ګران مال مي د بَيرُحاء باغ دئ او همدا د الله تعالى په لار كي صدقه شو، د الله په خوا کې ئې د ښېګڼې او ذخيره کېدو هيله لرم، يا رسول الله! څنګه چې ئې الله تعالى درته لارښوونه كوي همغسي ئې ولګوه؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: واه، واه؛ دا ډېر ګټه رسوونكى مال دئ، دا ډېر ګټه رسوونكى مال دئ؛ هغه څه مي واورېدل چې تا وويل؛ او زه دا مناسبه ګڼم چې هغه پر خپلوانو ووېشې؛ نو ابو طلحه رضي الله عنه وويل: همداسي به وكړم يا رسول الله! بيا ئې هغه په خپلو خپلوانو او تربرونو وويشلو.

٧٤١ - عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضى الله عنه: حَدِيْثُهُ فِيْ خُرُوْجِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمُصَلَّى تَقَدَّمَ وَفِيْ هذِهِ الرِّوَايَةِ قَالَ: فَلَمَّا صَارَ إِلَى مَنْزِلِهِ، جَاءَتْ زَيْنَبُ، امْرَأَةُ ابْنِ مَسْعُودٍ، تَسْتَأْذِنُ عَلَيْهِ، فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَذِهِ زَيْنَبُ، فَقَالَ: «أَيُّ الزَّيَانِبِ»؟ فَقِيلَ: امْرَأَةُ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: «نَعَمْ ائْذَنُوا لَهَا». فَأُذِنَ لَهَا، قَالَتْ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، إِنَّكَ أَمَرْتَ الْيَوْمَ بِالصَّدَقَةِ، وَكَانَ عِنْدِى حُلِيٌّ لِي، فَأَرَدْتُ أَنْ أَتَصَدَّقَ بِهِ، فَزَعَمَ ابْنُ مَسْعُودٍ أَنَّهُ وَوَلَدَهُ أَحَقُّ مَنْ تَصَدَّقْتُ بِهِ عَلَيْهِمْ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «صَدَقَ ابْنُ مَسْعُودٍ، زَوْجُكِ وَوَلَدُكِ أَحَقُّ مَنْ تَصَدَّقْتِ بِهِ عَلَيْهِمْ». (بخارى: ١٤٦٢)

له ابو سعيد خدري رضي الله عنه هغه روايت مخكي تېر شو چې مصلى (د لمانځه ځاى) ته د رسول الله صلى الله عليه و سلم د وتلو په اړه وو او په دې روايت کې وايي: كله چې رسول الله صلى الله عليه و سلم خپل كور ته ستون شو نو د ابن مسعود رضي الله عنه مېرمن زينب رضي الله

عنها راغله او کور ته د داخلېدو اجازه ئې وغوښتله، وويل شول: يا رسول الله! دا زينب (راغلې) ده، وئې فرمايل: د زينبو کومه يوه؟ ورته وويل شول: د ابن مسعود رضي الله عنه مېرمن؛ وئې فرمايل: صحيح ده اجازه ورکړئ؛ نو اجازه ئې ورکړه، هغې وويل: اى د الله نبي! نن تا د صدقې ورکولو امر وکړ، له ما سره ځيني خپلي ګاڼې دي، ومي غوښتل چي صدقه ئې کړم، خو ابن مسعود رضي الله عنه داسي انګېري چي دى او زوى ئې تر ټولو هغو زيات د دې مستحق دي چي زه صدقه ورکوم؛ نو د الله نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (ابن مسعود رښتيا وايي، ستا خاوند او زوى تر ټولو هغو زيات مستحق دي چي ته صدقه ورکوې).

تکرار: دا روايت په بخاري کي درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلى:٣٠٤، ١٩٥١، ٢٦٥٨

توپير: په يوه کي يوازي فَمَرَّ عَلَى النِّسَاءِ او په بل کي فَوَعَظَ النَّاسَ وَأَمَرَهُمْ بِالصَّدَقَةِ فَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ تَصَدَّقُوا فَمَرَّ عَلَى النِّسَاءِ راغلي، په يوه کي دا راغلي مَا رَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِينٍ أَذْهَبَ لِلُبِّ الرَّجُلِ الْحَازِمِ مِنْ إِحْدَاكُنَّ، په بل کي نه دي راغلي، په يوه کي د ابن مسعود د مېرمني زينب رضي الله عنها وينا راغلي په نورو کي نه ده راغلې، په ځينو کي فِي أَضْحًى أَوْ فِطْرٍ راغلي په ځينو کي نه دي راغلي، تفصيل ئې په اول جلد ٢٠٨ روايت کي وګورئ.

د دې روايت په اړه څو مطالب بايد په پام کي ولرو:

- که څه هم دا روايت د زکات تر باب لاندي راغلى؛ خو ځيني وايي چي مطلب ئې زکات نه بلکي صدقه او خيرات دئ؛ ځکه زينب رضي الله عنها ويلي چي له ما سره ګاڼه ده؛ غواړم صدقه ئې کړم؛ داسي ئې نه دي ويلي چي غواړم زکات ئې ورکړم.
- دا موضوع د بخاري په بل روايت کي داسي راغلې چي ګواکي زينب رضي الله عنها له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره مخامخ نه وي ليدلي بلکي د بلال رضي الله عنه په وساطت ئې دا پوښتنه کړې او ځواب

ئې تر لاسه کړی؛ موضوع یوه ده او راوي هم یو؛ خو روایات ئې متفاوت؛ او دا هم نه دي ویل شوي چي کوم یو ئې تر بل غوره او صحیح دئ.

- د زکات تر عنوان لاندي ځو نور روایات هم داسي راوړل شوي چي موضوع ئې صدقه ده نه زکات؛ غوره دا وه چي د زکات او صدقاتو روایات تر بېلو بېلو عنوانونو لاندي تنظیم شوي وی. زکات حکومت او زعامت ته ورکول کېږي او صدقات په خپله خوښه مسکینانو او فقیرانو ته ورکول کېږي؛ د زکات مقدار ثابت دئ او صدقات بیا ثابت مقدار نه لري.

### ٣٠ باب: د آس زکات نه شته

٧٣٦ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «لَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِ فِي فَرَسِهِ وَغُلامِهِ صَدَقَةٌ». (بخارى: ١٤٦٣)

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: نبي صلی الله علیه و سلم فرمایي: (پر مسلمان د ده په آس او غلام کي زکات نه شته).

تکرار: دا روایت په بخاري کي یو ځل بیا په دغي شمېرې راغلی: ١٤٦٤

توپیر: په یوه کي لَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِ فِي فَرَسِهِ وَغُلاَمِهِ صَدَقَةٌ په بل کي لَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِ صَدَقَةٌ فِي عَبْدِهِ وَلاَ فَرَسِهِ راغلي.

که آس د سورلۍ لپاره وي زکات پرې نه شته؛ خو که د تجارت لپاره وي زکات پرې لازم دئ. د سورلۍ نور وسائل هم په دې قیاس کولی شو، د هغو آسونو د زکات په اړه چي په صحراء کي څري ځیني په دې رأیه دي چي هیڅ زکات په کي نه شته، ځیني نور په دې رأی دي چي د هر آس پر سر یو دینار زکات راځي، امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په همدې رأی دئ، ځیني نور وایي: د آس د قیمت له مخي به د هغه زکات ټاکل کېږي، چي په دې صورت کي په هرو څلوېښتو سکو کي یوه سکه زکات

راځي.

دا پوښتنه راولاړېږي چي که د آسونو په اړه دا جائز وي چي د قيمت له مخي ئې زکات ورکړی شي؛ په هرو څلوېښتو درهمو کې يو درهم؛ يعني ۲,۵٪؛ همغسي چي د سکو زکات دئ؛ آيا دا هم جائزه ده چي د نورو څارويو په اړه دې ته ورته معامله وشي او زکات ئې د قيمت له مخي وي؛ دې ته په پام سره چي ننني‌و حکومتونو ته د څارويو ساتل ګران دي؛ دا موضوع بايد د داسي جيدو علماءو په غونډې کې وڅېړل شي چي په قرآن او حديث پوه او په ديانت او تقوی کې معروف او منلي وي. دوی بايد دا پوښتنه هم ځواب کړي چي ولې د ۴۰ مېږو خاوند هم د يوې مېږې په ورکړې مکلف دئ او تر څلوېښتو د زياتو مېږو خاوندان تر ۱۲۰ پوري يوه او له ۱۲۱ تر ۲۰۰ پوري دوه؛ له ۲۰۱ تر ۳۰۰ پوري درې او تر درې سوه چي زياتې شي نو په هرو سلو کي يو پسه لازمېږي؟! خو که زکات د بيې او قيمت له مخي وي او ۲,۵ سلنه ئې زکات شي؛ نو پورتنۍ پوښتنه هم ځوابېږي؛ د عدالت په تأمين کې هم مرسته کوي، د حکومت مشکل پرې حل کېږي او د رمو ساتلو او پلورلو ته هم نه اړ کېږي.

دې ته هم بايد متوجه وو چي د زراعتي زمکو د حاصلاتو لسمه او شلمه زکات د تجارتي شتمنيو او د څارويو د زکات په پرتله څکه زيات دئ چي زيار او زحمت ئې لږ او ګټه او عائد ئې زيات وي؛ په زکات او ماليې کې د عدالت تقاضا دا ده چي د عائد او ګټې له مخي وي؛ نه د شتمنيو له مخي؛ په هغو سيستمونو او نظامونو کې چي د زمکې د مساحت له مخي ماليه تر لاسه کوي؛ عدالت تر پښو لاندې کېږي.

## ۳۱ باب: يتيمانو ته صدقه ورکول

۷۳۷ - عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضى الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَلَسَ ذَاتَ يَوْمٍ عَلَى الْمِنْبَرِ، وَجَلَسْنَا حَوْلَهُ، فَقَالَ: «إِنِّي مِمَّا أَخَافُ عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِي، مَا

يُفْتَحُ عَلَيْكُمْ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا وَزِينَتِهَا». فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ؛ اويَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ؟ فَسَكَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقِيلَ لَهُ: مَا شَأْنُكَ؟ تُكَلِّمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلا يُكَلِّمُكَ؟ فَرَأَيْنَا أَنَّهُ يُنْزَلُ عَلَيْهِ، قَالَ: فَمَسَحَ عَنْهُ الرُّحَضَاءَ، فَقَالَ: «أَيْنَ السَّائِلُ»؟ وَكَأَنَّهُ حَمِدَهُ، فَقَالَ: إِنَّهُ لا يَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ، وَإِنَّ مِمَّا يُنْبِتُ الرَّبِيعُ يَقْتُلُ أَوْ يُلِمُّ؛ إِلَّا آكِلَةَ الْخَضْرَاءِ، أَكَلَتْ حَتَّى إِذَا امْتَدَّتْ خَاصِرَتَاهَا، اسْتَقْبَلَتْ عَيْنَ الشَّمْسِ فَثَلَطَتْ، وَبَالَتْ، وَرَتَعَتْ، وَإِنَّ هَذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ، فَنِعْمَ صَاحِبُ الْمُسْلِمِ مَا أَعْطَى مِنْهُ الْمِسْكِينَ، وَالْيَتِيمَ، وَابْنَ السَّبِيلِ». أَوْ كَمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «وَإِنَّهُ مَنْ يَأْخُذُهُ بِغَيْرِ حَقِّهِ، كَالَّذِى يَأْكُلُ وَلا يَشْبَعُ، وَيَكُونُ شَهِيدًا عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». (بخارى:١٤٦٥)

له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: يوه ورځ نبي صلی الله علیه و سلم پر منبر کښېناست او موږ ئې شاو خوا ته کښېنستلو، وئې فرمایل: (له هغه څه چي له ځان وروسته (له وفات وروسته) ئې پر تاسو وېره لرم يو ئې دا دئ چي د دنيايي ښکلاوو او ځلاوو ور درته پرانيستل شي؛ نو يوه سړي وويل: يا رسول الله! آيا خير هم له ځان سره شر راوستی شي؟ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم چوپ پاته شو، هغه کس ته وويل شول: څه دي کړي چي ته له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره خبري کوې خو هغه خبري نه درسره کوي؟ نو متوجه شوو چي پر رسول الله صلی الله علیه و سلم وحي نازلېږي، راوي وايي: بيا رسول الله! خپلي خولې پاکي کړې او وئې فرمایل: پوښتونکی چېري دئ؟ او داسي ښکارېده چي هغه ستايي؛ او وئې فرمایل: "خير د شر سبب نه کېږي، خو له هغه څه چي پسرلی ئې راشنه کوي ځيني ئې داسي وي چي وژني او ځيني ئې د ناروغۍ سبب کېږي (د ډېر او مسلسل خوراك له کبله) مگر د شنو واښو هغه خوړونکی (حيوان) چي دومره خوري چي تشي (نس) ئې وپړسېږي، (بيا خوراك

بس کړي)، لمر ته مخامخ شي (څملي)، خوشايي او بولي وکړي او بيا وڅري، يقيناً چي دا دنيوي مال د شنو واښو په څېر او خوږ دئ، څومره بختور دئ هغه مسلمان خاوند ئې چي مسکين، يتيم او مسافر ته ترې ورکړه کوي" او يا هغسي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي، "او يقيناً هغه څوک چي په ناحقه توګه ئې تر لاسه کوي هغه چا ته ورته دئ چي خوري خو نه مړېږي؛ او د قيامت په ورځ به د ده په خلاف شاهدي وايي".

تکرار: دا روايت په بخاري کي درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۹۲۱، ۲۸٤۲، ٦٤۲۷

توپير: په يوه کي إِنِّي مِمَّا أَخَافُ عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِى په بل کي إِنَّمَا أَخْشَى عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِى په بل کي إِنَّ أَكْثَرَ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ په يوه کي مَا يُخْرِجُ اللَّهُ لَكُمْ مِنْ بَرَكَاتِ الأَرْضِ په بل کي مَا يُفْتَحُ عَلَيْكُمْ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا وَزِينَتِهَا په بل کي مَا يُفْتَحُ عَلَيْكُمْ مِنْ بَرَكَاتِ الأَرْضِ ثُمَّ ذَكَرَ زَهْرَةَ الدُّنْيَا فَبَدَأَ بِإِحْدَاهُمَا وَثَنَّى بِالأُخْرَى (بيا ئې د بل زهرة الدنيا يادونه وکړه) په بل کي قِيلَ وَمَا بَرَكَاتُ الأَرْضِ قَالَ "زَهْرَةُ الدُّنْيَا" په يوه کي فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ په بل کي فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ په يوه کي فَسَكَتَ النَّبِيُّ په بل کي فَسَكَتَ عَنْهُ النَّبِيُّ په يوه کي فَرَأَيْنَا أَنَّهُ يُنْزَلُ عَلَيْهِ په بل کي قُلْنَا يُوحَى إِلَيْهِ. وَسَكَتَ النَّاسُ كَأَنَّ عَلَى رُءُوسِهِمِ الطَّيْرَ په يوه کي ثُمَّ جَعَلَ يَمْسَحُ عَنْ جَبِينِهِ په بل کي فَمَسَحَ عَنْهُ الرُّحَضَاءَ (خولې) په يوه کي "أَيْنَ السَّائِلُ" وَكَأَنَّهُ حَمِدَهُ په بل کي أَيْنَ السَّائِلُ آنِفًا أَوَخَيْرٌ هُوَ؟ (آيا دا مال خير دئ؟؛ درې ځلي ئې دا خبره تکرار کړه) په يوه کي مَنْ أَخَذَهُ بِحَقِّهِ وَوَضَعَهُ فِي حَقِّهِ، فَنِعْمَ الْمَعُونَةُ هُوَ په بل کي إِنَّهُ لاَ يَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ په بل کي إِنَّ الْخَيْرَ لاَ يَأْتِي إِلَّا بِالْخَيْرِ په يوه کي حَتَّى إِذَا امْتَدَّتْ خَاصِرَتَاهَا په بل کي حَتَّى إِذَا امْتَلأَتْ خَاصِرَتَاهَا فَاجْتَرَّتْ (بيا ئې وزدويي) وَثَلَطَتْ وَبَالَتْ ثُمَّ عَادَتْ فَأَكَلَتْ په يوه کي فَنِعْمَ صَاحِبُ الْمُسْلِمِ مَا أَعْطَى مِنْهُ الْمِسْكِينَ وَالْيَتِيمَ وَابْنَ السَّبِيلِ په بل کي وَنِعْمَ صَاحِبُ الْمُسْلِمِ لِمَنْ أَخَذَهُ

بِحَقِّهِ، فَجَعَلَهُ فِى سَبِيلِ اللَّهِ وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ په بل کې مَنْ أَخَذَهُ بِحَقِّهِ وَوَضَعَهُ فِى حَقِّهِ، فَنِعْمَ الْمَعُونَةُ هُوَ په یوه کې وَإِنَّهُ مَنْ يَأْخُذُهُ بِغَيْرِ حَقِّهِ كَالَّذِى يَأْكُلُ وَلاَ يَشْبَعُ په بل کې وَمَنْ لَمْ يَأْخُذْهُ بِحَقِّهِ فَهْوَ كَالآكِلِ الَّذِى لاَ يَشْبَعُ راغلي.

په دې روایت کې د مال حریص انسان له هغه څاروي سره تشبیه شوی چې د ډېرو واښو خوړلو له کبله بیمار یا مړ شي؛ او هغه څوك چې له روا لارو مال تر لاسه کوي، په سمه توگه ئې مصرفوي، له مسکین، یتیم او مسافر سره مرسته کوي او د الله په لار کې ئې لگوي ستایل شوی، د مال تر لاسه کول ئې داسي گڼل شوي لکه څاروي چې د پسرلي شنه واښه خوري، کله چې ماړه شي نو دمه کوي او لمر ته څملي او هغه مهال بېرته د واښو خوړلو ته ستنېږي چې وږي شي.

## ۳۲ باب: خاوند او تر کفالت لاندي یتیمانو ته زکات ورکول

۷۳۸ - عَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِاللَّهِ رَضِىَ اللَّه عَنْهُمَا: حَدِيْثُهَا تَقَدَّمَ قَرِيْباً، وَقَالَتْ فِىْ هذِهِ الرِّوَايَةِ: فَانْطَلَقْتُ إِلَى النَّبِىِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدْتُ امْرَأَةً مِنَ الأَنْصَارِ عَلَى الْبَابِ، حَاجَتُهَا مِثْلُ حَاجَتِى، فَمَرَّ عَلَيْنَا بِلاَلٌ، فَقُلْنَا سَلِ النَّبِىَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيَجْزِى عَنِّى أَنْ أُنْفِقَ عَلَى زَوْجِى وَأَيْتَامٍ لِى فِى حَجْرِى؟ فَسَأَلَهُ، فَقَالَ: «نَعَمْ لَهَا أَجْرَانِ: أَجْرُ الْقَرَابَةِ، وَأَجْرُ الصَّدَقَةِ». (بخارى: ۱٤٦٦)

د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه له مېرمني زینب رضي الله عنها روایت شوی حدیث مخکي تېر شو او په دې روایت کي زینب رضي الله عنها وایي: د رسول الله صلی الله علیه و سلم لوري ته روانه شوم، په دروازې کې مي یوه انصاري مېرمن ومونده له، اړتیا ئې زما اړتیا ته ورته وه، بلال رضي الله عنه مو له خوا تېر شو، ورته ومو ویل: له رسول الله صلی الله علیه و سلم وپوښته چې که زه ئې پر خپل خاوند او هغو یتیمانو انفاق او مصرف کړم چې زما په کفالت کې دي؛ نو آیا له ما (د

زکات په ځای) منل کېږي؟ نو ترې وئې وپوښتل او وئې فرمایل: (هو؛ دې ته دوه اجرونه دي: د خپلوۍ پاللو اجر او د صدقې اجر.

د دې روایت په اړه څو خبري باید په پام کې ولرو:

- یاد شوي یتیمان د نوموړي مېرمني وربرونه او خوریونه وو.
- د دې (۷۳۸) او مخکیني (۷۳۵) روایتونو تر منځ تعارض تر سترګو کېږي، یو ئې وایي چي زینب رضي الله عنها په خپله مخامخ له رسول الله صلی الله علیه و سلم پوښتلي او بل ئې وایي چي د بلال په واسطه ئې خپله پوښتنه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وړاندي کړې او ځواب ئې له بلال رضي الله عنه اوربدلی؛ پرته له دې چي له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره مخامخ وګوري؛ امام بخاري رحمة الله علیه دا وضاحت نه دئ کړی چي په دې دواړو متعارضو روایاتو کې کوم یو ئې اصح او ارجح دئ؛ خو دې ته په پام سره چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د خپل کور دروازې کې حاجب او ساتونکی نه درلود، که به کومي مېرمني غوښتل چي د کومي موضوع په اړه څه وپوښتي نو د ده کور ته به ورتلې او د رسول الله صلی الله علیه و سلم له مېرمنو به ئې پوښتني کولې او یا به ئې هملته له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره لیدل؛ نو غالب احتمال دا دئ چي زینب رضي الله عنها په خپله له رسول الله صلی الله علیه و سلم پوښتلي او خپل ځواب ئې تر لاسه کړی.
- همدا راز له دې وروستي روایت داسي معلومېږي چي زینب رضي الله عنها د زکات په اړه پوښتنه کړې؛ نه د عامي صدقې په اړه؛ ځکه چي الفاظ دا دي: أَيَجْزِي عَنِّي أَنْ أُنْفِقَ عَلَى زَوْجِي وَأَيْتَامٍ لِي فِي حَجْرِي؟: که پر خپل خاوند او هغو یتیمانو ئې انفاق او مصرف کړم چي زما په کفالت کې دي؛ نو آیا له ما (د زکات په ځای) منل کېږي؟

۷۳۹ - عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رضی الله عنها قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَلِيَ أَجْرٌ أَنْ أُنْفِقَ عَلَى بَنِي أَبِي سَلَمَةَ؟ إِنَّمَا هُمْ بَنِيَّ. فَقَالَ: «أَنْفِقِي عَلَيْهِمْ فَلَكِ أَجْرُ مَا أَنْفَقْتِ عَلَيْهِمْ».

(بخاری: ١٤٦٧)

له ام سلمة رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته مي وويل: يا رسول الله! آيا ما ته به د دې اجر راپه برخه کېږي چي د ابو سلمه (د سلمه پلار) پر زامنو لګښت کوم؛ هغوی زما زامن هم دي؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (پر دوی لګښت کوه؛ تا ته به د هغه څه اجر درپه برخه کېږي چي پر هغوی ئې لګوې).

تکرار: دا روايت په بخاري کي يو ځل بيا په دغي شمېرې راغلی: ٥٣٦٩

توپير: په يوه کي أَلِيَ أَجْرٌ په بل کي هَلْ لِي مِنْ أَجْرٍ په يوه کي أَنْ أُنْفِقَ عَلَى بَنِى أَبِي سَلَمَةَ إِنَّمَا هُمْ بَنِيَّ په بل کي أَنْ أُنْفِقَ عَلَيْهِمْ، وَلَسْتُ بِتَارِكَتِهِمْ هَكَذَا وَهَكَذَا، إِنَّمَا هُمْ بَنِيَّ راغلي.

يادونه: ابو سلمه رضي الله عنه د ام سلمه رضي الله عنها لومړنی خاوند وو؛ له هغه ئې څلور زامن درلودل؛ د ده له وفات وروسته ئې له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره نکاح وشوه؛ د خپلو زامنو په اړه ئې له رسول الله صلى الله عليه و سلم پوښتلي چي آيا کولی شي خپل زکات او صدقات پر هغوی ولګوي؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: پر دوی لګښت کوه؛ تا ته به د هغه څه اجر درپه برخه کېږي چي پر هغوی ئې لګوې.

## ٣٣ باب: د الله تعالى دا قول چي فرمايي: (وفي الرقاب والغارمين وفي سبيل الله)

٧٤٠ - حَدَّثَنَا أَبُو اليَمَانِ، أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: أَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالصَّدَقَةِ، فَقِيلَ مَنَعَ ابْنُ جَمِيلٍ، وَخَالِدُ بْنُ الوَلِيدِ، وَعَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ المُطَّلِبِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا يَنْقِمُ ابْنُ جَمِيلٍ إِلَّا أَنَّهُ كَانَ فَقِيرًا، فَأَغْنَاهُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ، وَأَمَّا خَالِدٌ: فَإِنَّكُمْ

تَظْلِمُونَ خَالِدًا، قَدِ احْتَبَسَ أَدْرَاعَهُ وَأَعْتُدَهُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَأَمَّا العَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ المُطَّلِبِ، فَعَمُّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهِيَ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ وَمِثْلُهَا مَعَهَا " تَابَعَهُ ابْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ أَبِيهِ، وَقَالَ ابْنُ إِسْحَاقَ: عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، «هِيَ عَلَيْهِ وَمِثْلُهَا مَعَهَا» وَقَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ: حُدِّثْتُ عَنِ الأَعْرَجِ بِمِثْلِهِ. **(بخارى: ١٤٦٨)**

**٧٤٠- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د زكات امر وكړ؛ ورته وويل شول چي ابن جميل، خالد بن وليد او عباس بن عبدالمطلب زكات نه وركوي. نو نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (ابن جميل يوازي له دې كبله غصه كوي چي فقير وو او الله تعالى او د هغه رسول شتمن كړ او خالد بن وليد رضي الله عنه چي دئ تاسو د هغه په حق كي ظلم كوئ؛ ځكه هغه خپلي زغري او عتاد (وسائل، أسباب او سورلۍ) د الله تعالى په لار (جهاد) كي وقف كړې دي؛ (هر څه ئې د جهاد په خدمت كي دي) او عباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه چي دئ هغه د رسول الله صلى الله عليه و سلم تره دئ نو پر هغه هم زكات لازم دئ او په ښنگ كي ئې همدومره نور.**

**يادونه: ويل شوي چي د ابن جميل په اړه د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا وينا د هغه مهال وينا وه چي ابن جميل د منافقانو په ډله كي وو؛ د زكات له وركولو ئې ډډه كوله؛ خو وروسته ئې توبه وكړه او رښتينى مسلمان شو.**

**په مسلم كي دا روايت داسي دئ:**

٩٨٣- وحَدَّثَنِي زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حَفْصٍ، حَدَّثَنَا وَرْقَاءُ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُمَرَ عَلَى الصَّدَقَةِ، فَقِيلَ: مَنَعَ ابْنُ جَمِيلٍ، وَخَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ، وَالْعَبَّاسُ عَمُّ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «مَا يَنْقِمُ ابْنُ جَمِيلٍ إِلَّا أَنَّهُ كَانَ

فَقِيرًا فَأَغْنَاهُ اللهُ، وَأَمَّا خَالِدٌ فَإِنَّكُمْ تَظْلِمُونَ خَالِدًا، قَدِ احْتَبَسَ أَدْرَاعَهُ وَأَعْتَادَهُ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَأَمَّا الْعَبَّاسُ فَهِيَ عَلَيَّ، وَمِثْلُهَا مَعَهَا» ثُمَّ قَالَ: «يَا عُمَرُ، أَمَا شَعَرْتَ أَنَّ عَمَّ الرَّجُلِ صِنْوُ أَبِيهِ؟» صحيح مسلم

له أبو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ عمر رضي الله عنه د زكات راغونډولو لپاره وگمارلو؛ وويل شول چي ابن جميل، خالد بن وليد او عباس د رسول الله صلی الله علیه و سلم تره د زكات له وركړي امتناع وكړه؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمايل: ابن جميل به يوازي له دې كبله غصه كوي چي فقير وو او الله غني كړ؛ او خالد چي دئ تاسو د هغه په حق كي ظلم كوئ؛ ځكه هغه خپلي زغري او عتاد (وسائل، أسباب او سورلۍ) د الله په لار كي وقف كړې دي؛ او عباس نو زكات ئې پر ما دئ او مثل ئې هم ورسره؛ بيا ئې وويل: يا عمر! آيا متوجه نه يې چي تره د پلار په څېر وي؟

د مسلم او بخاري د روايتونو راويان په دريو طبقو كي دا درې دي: أَبُو الزِّنَادِ، الْأَعْرَج او أَبُو هُرَيْرَةَ؛ د روايت محتوى او موضوع هم يوه ده؛ خو تر منځ ئې دا جدي توپير گورو: د مسلم روايت كي داسي راغلي: وَأَمَّا الْعَبَّاسُ فَهِيَ عَلَيَّ، وَمِثْلُهَا مَعَهَا»: اما عباس چي دئ زكات ئې پر ما دئ او دې ته ورته ئې هم ورسره؛ او په بخاري كي د دې خلاف داسي راغلي: وَأَمَّا العَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ المُطَّلِبِ، فَعَمُّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهِيَ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ وَمِثْلُهَا مَعَهَا؛ او عباس بن عبدالمطلب چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم تره دئ؛ همدا صدقه پرې لازمه او ورته ئې ورسره؛ د بخاري د روايت له فحوى داسي معلومېږي چي گواكي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي چي عباس بن عبد المطلب د رسول الله صلی الله علیه و سلم تره دئ؛ نو دا زكات پرې لازم دئ او همدومره نور پرې سربېره؛ يعني دی به دوه برابره زكات وركوي!! نه دا الفاظ له رسول الله

صلی الله علیه و سلم سره ښايي او نه دا ممکنه ده چي رسول الله صلی الله علیه و سلم به د زکات مقدار زيات کړی وي؛ اما د مسلم روايت ښيي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د خپل تره زکات پر خپله غاړه اخيستی او فرمايلي ئې دي چي تره د پلار په څېر دئ؛ زه ئې د سږ کال زکات هم ورکوم او د راتلونکي کال هم او يا دا چي نه يوازي زکات ئې ورکوم بلکي همدومره مقدار نور هم ورکوم. او په دې کي هيڅ مانع او حرج نه شته چي يو څوك تر زکات زيات څه ورکړي؛ په څرگنده توگه معلومېږي چي د مسلم روايت له هره پلوه د بخاري تر روايت غوره او له ابهام عاري دئ.

له دغو رواياتو په واضح توگه معلومېږي چي زکات به له شتمنو د هيئتونو په ذريعه راغونډېدو؛ لکه چي گورئ دلته د زکات راغونډوونکو شکايت کړی چي دغو دريو ابن جميل، خالد بن وليد او عباس رضي الله عنه د زکات له ورکړي امتناع کړې.

## ٣٤ باب: له سوالگرۍ ډډه کول

٧٤٧ - حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ، أَخْبَرَنَا مَالِكٌ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: إِنَّ نَاسًا مِنَ الأَنْصَارِ سَأَلُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَعْطَاهُمْ، ثُمَّ سَأَلُوهُ، فَأَعْطَاهُمْ، ثُمَّ سَأَلُوهُ، فَأَعْطَاهُمْ حَتَّى نَفِدَ مَا عِنْدَهُ، فَقَالَ: «مَا يَكُونُ عِنْدِي مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ أَدَّخِرَهُ عَنْكُمْ، وَمَنْ يَسْتَعْفِفْ يُعِفَّهُ اللَّهُ، وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللَّهُ وَمَنْ يَتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللَّهُ، وَمَا أُعْطِيَ أَحَدٌ عَطَاءً خَيْرًا وَأَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ» (بخاری: ١٤٦٩)

٧٤٧- له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چي د انصارو څو سړيو له رسول الله صلی الله علیه و سلم مرسته وغوښته؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم څه ورکړل؛ بيا ئې ترې مرسته وغوښته؛ نو بيا ئې هم څه ورکړل؛ بيا ئې ترې مرسته وغوښته؛ نو بيا ئې هم څه ورکړل؛ تر

هغه چي له ده سره شته مال خلاص شو؛ نو وئې فرمايل: له مال چي څه راسره وي له تاسو ئې نه سپموم؛ او څوک چي له سوالګرۍ ځان وساتي؛ الله تعالی ئې ترې ساتي؛ او څوک چي بې نيازي وښيي؛ الله تعالی ئې بې نيازه کوي او څوک چي په زحمت سره صبر وکړي الله تعالی صبر ورپه برخه کوي او هيڅا ته تر صبر غوره او لوی خير نه دئ ورکړل شوی.

تکرار: دا روايت په بخاري کي يو ځل بيا په دغي شمېرې راغلی: ٦٤٧٠

توپير: په يوه کي ثُمَّ سَأَلُوهُ فَأَعْطَاهُمْ، ثُمَّ سَأَلُوهُ فَأَعْطَاهُمْ، په بل کي فَلَمْ يَسْأَلْهُ أَحَدٌ مِنْهُمْ إِلَّا أَعْطَاهُ په يوه کي حَتَّى نَفِدَ مَا عِنْدَهُ فَقَالَ په بل کي حَتَّى نَفِدَ مَا عِنْدَهُ فَقَالَ لَهُمْ حِينَ نَفِدَ كُلُّ شَيْءٍ أَنْفَقَ بِيَدَيْهِ په يوه کي مَا يَكُونُ عِنْدِي مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ أَدَّخِرَهُ عَنْكُمْ په بل کي مَا يَكُنْ عِنْدِي مِنْ خَيْرٍ لاَ أَدَّخِرْهُ عَنْكُمْ په يوه کي وَمَا أُعْطِيَ أَحَدٌ عَطَاءً خَيْرًا وَأَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ په بل کي وَلَنْ تُعْطَوْا عَطَاءً خَيْرًا وَأَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ راغلي.

د دواړو رواياتو راويان په دريو طبقو کي سره ورته او دا دي: ابْنِ شِهَاب الزهري، عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيّ، أَبُو سَعِيد الخُدْرِيّ؛ خو په متن کي ئې ژور تفاوت او اختلاف مومو؛ يَو ئې وايي: د انصارو څو سړيو له رسول الله صلى الله عليه و سلم درې ځلي پر له پسې غوښتنه وکړه او ورئې کړه؛ بل ئې وايي: د دغي ډلي هر کس چي څه ترې غوښتي ورئې کړل؛ څوك چي د حديث درس ورکوي او څوك چي د استاد او مدرس درس ته ناست وي او يا د محدث کتاب لولي؛ نو مدرس او محدث بايد ووايي چي کوم روايت تر بل غوره دئ؛ طالب او لوستونکی بايد د همدې پوښتني ځواب ولټوي؛ په پټو سترګو ترې تېرېدل د تعليم او تعلم او د علمي او ديني ادب خلاف کار دئ؛ د دواړو رواياتو الفاظو ته په پام سره ويلی شو چي ٦٤٧٠ روايت ارجح دئ؛ ځکه د يوې ډلي د مکرر غوښتلو پر ځای داسي راغلي: فَلَمْ يَسْأَلْهُ أَحَدٌ مِنْهُمْ إِلَّا أَعْطَاهُ: د دوی هيڅ يوه څه ترې ونه غوښتل مګر داچي ورئې کړل؛ دا ځکه چي د

انصارو د يوې ډلي له لوري مکرر غوښتنه مناسب او محتمل نه برېښي.
بل روايت ئې داسي دئ:

حَدَّثَنَا أَبُو اليَمَانِ، أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عَطَاءُ بْنُ يَزِيدَ اللَّيْثِيُّ، أَنَّ أَبَا سَعِيدٍ الخُدْرِيَّ، أَخْبَرَهُ: أَنَّ أُنَاسًا مِنَ الأَنْصَارِ سَأَلُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمْ يَسْأَلْهُ أَحَدٌ مِنْهُمْ إِلَّا أَعْطَاهُ حَتَّى نَفِدَ مَا عِنْدَهُ، فَقَالَ لَهُمْ حِينَ نَفِدَ كُلُّ شَيْءٍ أَنْفَقَ بِيَدَيْهِ: «مَا يَكُنْ عِنْدِي مِنْ خَيْرٍ لاَ أَدَّخِرْهُ عَنْكُمْ، وَإِنَّهُ مَنْ يَسْتَعِفَّ يُعِفَّهُ اللَّهُ، وَمَنْ يَتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللَّهُ، وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللَّهُ، وَلَنْ تُعْطَوْا عَطَاءً خَيْرًا وَأَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ» بخاري ٦٤٧٠

بخاري دواړه متعارض روايات راوړي؛ پرته له دې چي يو ئې ترې غوره کړي او د بخاري لوستونکو ته ووايي چي کوم يو ئې ارجح او اصح دئ؛ دواړو ته هممهاله صحيح ويل؛ د توجيه وړ نه دي.

۷٤٨ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ حَبْلَهُ فَيَحْتَطِبَ عَلَى ظَهْرِهِ، خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَأْتِيَ رَجُلاً فَيَسْأَلَهُ، أَعْطَاهُ أَوْ مَنَعَهُ». (بخاری:١٤٧٠)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (قسم په هغه ذات چي زما سا د هغه په واک کي ده که ستاسو کوم يو؛ خپله رسۍ واخلي او پر خپلي شا خس او بوټي راوړي؛ دا تر دې ورته غوره ده چي يوه سړي ته ورشي او څه ترې وغواړي؛ هغه ئې ورکړي يا ئې ورنه کړي.

تکرار: دا روايت په بخاري کي درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ١٤٨٠، ٢٠٧٤، ٢٣٧٤

توپير: په يوه کي وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ راغلي په نورو کي نه دي راغلي، په يوه کي لأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ حَبْلَهُ فَيَحْتَطِبَ عَلَى ظَهْرِهِ په بل کي لأَنْ يَأْخُذَ

أَحَدُكُمْ حَبْلَهُ، ثُمَّ يَغْدُوَ - أَحْسِبُهُ قَالَ - إِلَى الْجَبَلِ فَيَحْتَطِبَ، فَيَبِيعَ فَيَأْكُلَ وَيَتَصَدَّقَ په بل كي لأَنْ يَحْتَطِبَ أَحَدُكُمْ حُزْمَةً عَلَى ظَهْرِهِ په يوه كي خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَأْتِيَ رَجُلاً، فَيَسْأَلَهُ، أَعْطَاهُ أَوْ مَنَعَهُ په بل كي خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَسْأَلَ النَّاسَ په بل كي خَيْرٌ مِنْ أَنْ يَسْأَلَ أَحَدًا، فَيُعْطِيَهُ أَوْ يَمْنَعَهُ راغلي.

په دغو څلورو رواياتو كي به هم يو غوره كوو؛ زه به له هغو دريو يو غوره كوم چي د قسم الفاظ په كي نه دي راغلي؛ دا ځكه چي په داسي مواردو كي قسم كول مناسب نه بريښي او بل دا چي له څلورو په دريو كي د قسم الفاظ نه دي راغلي.

٧٤٩ - عَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ رضى الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ حَبْلَهُ، فَيَأْتِيَ بِحُزْمَةِ الْحَطَبِ عَلَى ظَهْرِهِ فَيَبِيعَهَا، فَيَكُفَّ اللَّهُ بِهَا وَجْهَهُ، خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَسْأَلَ النَّاسَ، أَعْطَوْهُ أَوْ مَنَعُوهُ». (بخارى: ١٤٧١)

له زبير بن عوام رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: دا چي ستاسو يو كس خپل پړى واخلي او پر خپلي شا يوه پنډه بوټي راوړي او وئې پلوري او په دې سره الله تعالى د ده پت او عزت وساتي دا تر دې ورته غوره دئ چي له خلكو سوال وكړي او هغوى څه وركړي يا ئې ورنه كړي.

تكرار: دا روايت په بخاري كي دوه ځلي نور په دغو شمېرو راغلى: ٢٠٧٥، ٢٣٧٣

توپير: په يوه كي لَأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ حَبْلَهُ په بل كي «لَأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ أَحْبُلَهُ» په بل كي لَأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ أَحْبُلاً په يوه كي أَعْطَوْهُ أَوْ مَنَعُوهُ په بل كي أُعْطِيَ أَمْ مُنِعَ راغلي.

٧٥٠ - عَنْ حَكِيمِ بنِ حِزَامٍ رضى الله عنه قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَعْطَانِي، ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَأَعْطَانِي، ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَأَعْطَانِي، ثُمَّ قَالَ: «يَا حَكِيمُ، إِنَّ هَذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ، فَمَنْ أَخَذَهُ بِسَخَاوَةِ نَفْسٍ بُورِكَ لَهُ فِيهِ، وَمَنْ أَخَذَهُ بِإِشْرَافِ نَفْسٍ

لَمْ يُبَارَكْ لَهُ فِيهِ، كَالَّذِى يَأْكُلُ وَلا يَشْبَعُ، الْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى». قَالَ حَكِيمٌ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَالَّذِى بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لا أَرْزَأُ أَحَدًا بَعْدَكَ شَيْئًا حَتَّى أُفَارِقَ الدُّنْيَا. فَكَانَ أَبُو بَكْرٍ رضى الله عنه يَدْعُو حَكِيمًا إِلَى الْعَطَاءِ فَيَأْبَى أَنْ يَقْبَلَهُ مِنْهُ، ثُمَّ إِنَّ عُمَرَ رضى الله عنه دَعَاهُ لِيُعْطِيَهُ فَأَبَى أَنْ يَقْبَلَ مِنْهُ شَيْئًا، فَقَالَ عُمَرُ: إِنِّي أُشْهِدُكُمْ يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِينَ عَلَى حَكِيمٍ أَنِّي أَعْرِضُ عَلَيْهِ حَقَّهُ مِنْ هَذَا الْفَيْءِ فَيَأْبَى أَنْ يَأْخُذَهُ، فَلَمْ يَرْزَأْ حَكِيمٌ أَحَدًا مِنَ النَّاسِ بَعْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى تُوُفِّيَ. (بخاری: ۱۴۷۲)

له حکيم بن حزام رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم مي مرسته وغوښته؛ نو رائي کړه، بيا مي ترې وغوښتله نو بيا ئې راکړه، بيا مي ترې وغوښتله نو بيا ئې راکړه؛ بيا ئې وفرمايل: (اې حکيمه! دنيوي مال ډېر زړه راښکونکی او خوږ دئ؛ که چا د سخاوت له احساس سره تر لاسه کړ نو ده ته به برکتي کړی شي؛ او که چا د حرص او طمعي له احساس سره لاسته راوړ نو الله تعالی به ئې ورته برکتي نه کړي او داسي به وي لکه څوک چي خواړه خوري خو نه مړېږي او پورتنی لاس تر لاندیني غوره دئ). حکيم رضي الله عنه وايي: ومي ويل: یا رسول الله! قسم په هغه ذات چي ته ئې په حق رالېږلی یې تر تا وروسته به تر هغه له چا څه ونه غواړم چي له دنيا بېل شم؛ نو ابو بکر رضي الله عنه به (کله چي خليفه شو) حکيم رضي الله عنه ته بلنه ورکوله چي څه ورکړي خو هغه به له دې ډډه کوله چي څه ترې قبول کړي؛ بيا عمر رضي الله عنه (د خپل خلافت په دوران کي) بلنه ورکړه چي څه ورکړي (معاش ورته وټاکي)؛ خو ده به له دې ډډه کوله چي څه ترې قبول کړي؛ نو عمر رضي الله عنه وويل: اې مسلمانانو! تاسو د حکيم په اړه شاهدان نيسم چي زه په (فيء: وړيا غنيمت) کي د ده د حق وړانديز ورته کوم خو هغه ئې له اخيستلو ډډه کوي؛ نو حکيم

له رسول الله صلى الله عليه و سلم وروسته تر هغه له هيچا څه ونه غوښتل چي وفات شو.

تكرار: دا روايت په بخاري كي درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ٢٧٥٠، ٣١٤٣، ٦٤٤١

توپير: په يوه كي فَمَنْ أَخَذَهُ بِسَخَاوَةِ نَفْسٍ(په پتمنه توګه او له حرص او الحاح پرته واخيست) بُورِكَ لَهُ فِيهِ په بل كي فَمَنْ أَخَذَهُ بِطِيبِ نَفْسٍ (په پاكيزه نفس سره) بُورِكَ لَهُ فِيهِ په يوه كي كَالَّذِى يَأْكُلُ وَلاَ يَشْبَعُ په بل كي وَكَانَ كَالَّذِى يَأْكُلُ وَلاَ يَشْبَعُ راغلي.

## ٣٥ باب: چا ته چي الله تعالى له سؤال او حرص پرته څه وركړي

٧٥١ - عَنْ عُمَرَ رضى الله عنه قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْطِينِى الْعَطَاءَ، فَأَقُولُ: أَعْطِهِ مَنْ هُوَ أَفْقَرُ إِلَيْهِ مِنِّى، فَقَالَ: «خُذْهُ إِذَا جَاءَكَ مِنْ هَذَا الْمَالِ شَىْءٌ وَأَنْتَ غَيْرُ مُشْرِفٍ وَلَا سَائِلٍ، فَخُذْهُ وَمَا لَا فَلَا تُتْبِعْهُ نَفْسَكَ».(بخارى: ١٤٧٣)

٧٥١- له عمر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به كله كله څه راكول؛ ما به ورته ويل: داسي چا ته ئې وركړه چي تر ما ډېر ورته اړ وي؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم راته وفرمايل: (كله چي داسي مال درته راشي نو وائې خله په داسي حال كي چي ته نه طمع كوونكى يې او نه سؤال كوونكى؛ نو وائې خله؛ او كه داسي نه وي نو په طلب كي ئې مه ورپسې كېږه).

تكرار: دا روايت په بخاري كي دوه ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ٧١٦٣، ٧١٦٤

توپير: په يوه كي فَأَقُولُ أَعْطِهِ مَنْ هُوَ أَفْقَرُ إِلَيْهِ مني په بل كي فَأَقُولُ أَعْطِهِ أَفْقَرَ إِلَيْهِ مني په يوه كي خُذْهُ په بل كي خُذْهُ فَتَمَوَّلْهُ (خپل مال ئې كړه) وَتَصَدَّقْ بِهِ په يوه كي فَمَا جَاءَكَ مِنْ هَذَا الْمَالِ وَأَنْتَ غَيْرُ مُشْرِفٍ وَلَا سَائِلٍ فَخُذْهُ، وَإِلَّا فَلَا تُتْبِعْهُ نَفْسَكَ په بل كي إِذَا جَاءَكَ مِنْ هَذَا الْمَالِ

شَيْءٌ، وَأَنْتَ غَيْرُ مُشْرِفٍ وَلَا سَائِلٍ، فَخُذْهُ راغلي.

## ۳۶ باب: څوك چي ډېر سؤال كوي (د ډېربښت په موخه)

۷۵۲ - عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «مَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَسْأَلُ النَّاسَ حَتَّى يَأْتِيَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَيْسَ فِي وَجْهِهِ مُزْعَةُ لَحْمٍ». وَقَالَ: «إِنَّ الشَّمْسَ تَدْنُو يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يَبْلُغَ الْعَرَقُ نِصْفَ الأُذُنِ، فَبَيْنَا هُمْ كَذَلِكَ اسْتَغَاثُوا بِآدَمَ، ثُمَّ بِمُوسَى، ثُمَّ بِمُحَمَّدٍ صلى الله عليه و سلم». (بخارى: ۱۴۷۴، ۱۴۷۵)

۷۵۲- له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: يو سړی په پر له پسې توګه له خلكو څه غواړي؛ تر هغه چي د قيامت په ورځ به په داسي حال كې راشي چي پر مخ به ئې د غوښي كومه ټوټه نه وي؛ او وئې فرمايل: يقيناً چي د قيامت په ورځ به لمر دومره رانژدې شي چي خولې به د غوږ تر نيمايي ورسېږي؛ نو په داسي حال كې چي دوی به همداسي وي د آدم عليه السلام، موسى عليه السلام او محمد صلى الله عليه و سلم له لاري به استغاثه (د مرستي غوښتنه) وكړي.

تكرار: دا روايت په بخاري كې يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ۵ طبقو كې يو يو راوي لري چي دا دي: يَحْيَى بْن بُكَيْرٍ، لَيْثُ، عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي جَعْفَرٍ، حَمْزَة بْن عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري پرته يوازي په سنن نسائي او شعب الإيمان للبيهقي كې له همدې متن او سند سره راغلی؛ روايت دوه برخي لري چي په بخاري كې بېل بېل په دغو شمېرو راغلی: ۱۴۷۴، ۱۴۷۵؛ دواړه روايات يو ځايي راوړل شوي خو مطالب ئې په بشپړه توګه بېل بېل دي. د يحيى بن بكير په اړه راغلي: ابن حزم؛ يو روايت چي يحيى بن بكير ئې په راويانو كې دئ؛ په كلكه ردوي؛ روايت دا دئ:

عن يحي بن بكير عن سَوَّار بن مصعب ... عن البراء بن عازب أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا أُكِلَ لَحْمُهُ فَلَا بَأْسَ بِبَوْلِهِ» قال: هذا خبر باطل موضوع، لان سوار بن مصعب متروك عند جميع أهل النقل، متفق على ترك الرواية عنه، يروى الموضوعات.

یحیی بن بکیر له سوار بن مصعب روایت کوي؛ د راویانو لړۍ ئې تر براء بن عازب رضي الله عنه پورې رسېږي چې ویلي ئې دي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: هغه چې غوښه ئې خوړل کېږي په میتیازو کې ئې هم کومه ستونزه او بدي نه شته؛ چې دا باطله وینا او موضوعي او جعلي خبره ده؛ او د سوار بن مصعب په اړه د حدیث علم ټول علماء متفق دي چې د ده روایات متروك او غیر معتبر دي او جعلي روایات بیانوي.

یحیی بن بکیر چې د بخاري په ثقه راویانو کې نیول شوی؛ د سوار بن مصعب په څېر متروك او مشبوه او د موضوعي روایاتو په نقلولو تورن شخص؛ داسي غلطي خبري مني او نورو ته ئې نقلوي؛ دا که هر څومره ښه سړی وي؛ باید د ثقه راویانو له فهرست وایستل شي؛ او د خبري په منلو کې ئې احتیاط وشي.

قرآن وینه حرام ګڼي؛ په ځانګړې توګه هغه بهېدونکې وینه چې د حیوان د ذبحي په وخت کې ترې وځي؛ د خنزیر په خوا کې ئې حرمت بیانوي او فرمایي:

قُلْ لا أَجِدُ فِي مَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَى طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إِلا أَنْ يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنْزِيرٍ فَإِنَّهُ رِجْسٌ أَوْ فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ ... ﴿١٤٥﴾ الأنعام

ووایه: په هغه څه کې چې ما ته ئې وحي شوې له دې پرته بل حرام توکی پر هغه خوړونکي چې خوري ئې نه مومم چې یا مردار شوی وي، یا بهېدونکې وینه، یا د خنزیر غوښه چې پلیته ده، یا هغه ناجائزه (ذبیحه)

چي له الله پرته د بل چا نوم پرې اخیستل شوی وي....

دلته پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چي مشرکینو ته ووایي: په هغو څارویو کي چي خلك ئې همدا اوس غوښه خوري؛ هیڅ یو ئې په هغي الهي وحي کي حرام نه مومم چي پر ما نازله شوې؛ مګر دا چي مردار شوی وي، یا بهېدونکې وینه وي، یا د خنزیر غوښه چي پلیته ده، یا هغه ناجائزه (ذبیحه) چي له الله پرته د بل چا نوم پرې اخیستل شوی وي.

د انسان او حیوان بولې د وینې هغه برخه ده چي پښتورګي ئې د وینې د تصفیې لپاره ترې بېلوي او له بدن ئې باسي؛ که دا تاواني توکی له وینې ونه ایستل شي؛ د هر ژوي ژوند له جدي ګواښ سره مخ کېږي؛ یعني د وینې تر ټولو زیات مضر او حرام شی بولې دي؛ خو یحیی بن بکیر د بخاري یو راوي؛ همدا حرامې بولې د څاروي د غوښې په څېر ګڼي او اړوند روایت ئې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته منسوبوي؛ هغه هم د یوه مشبوه او متروك راوي له خولې!!!

یعني چي د بخاري دا ډېر غریب او ناآشنا روایت نه یوازې د إسنادو له پلوه ستونزه لري؛ دا ځکه چي راویان ئې په صحابه وو، تابعینو او اتباع تابعینو کي هیڅ شاهد نه لري؛ بلکي د درایت او فراست له پلوه هم په تله درونډ او معتبر نه خېژي؛ عقل دا خبره نه مني چي په یوه ورځ کي؛ که هر څومره اوږده او توده وي؛ له یوه کس یا له ټولو انسانانو؛ دومره خولې ووځي چي ټوله زمکه به پوښي او ټول انسانان به تر غوږونو پوري په کي ډوب وي؛ انسان د څو لیټره خولو په نتیجه کي مري؛ دا هم باید په پام کي ولرو چي د قیامت په ورځ به لومړی محاسبه وي او بیا به له محاسبې وروسته؛ د مکافات او مجازات لړۍ؛ په جنت او دوزخ کي پیل کېږي.

## ۳۷ باب: د غناء (شتمنۍ) اندازه

۷۵۲ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَيْسَ الْمِسْكِينُ الَّذِى يَطُوفُ عَلَى النَّاسِ، تَرُدُّهُ اللُّقْمَةُ وَاللُّقْمَتَانِ، وَالتَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ، وَلَكِنِ الْمِسْكِينُ الَّذِى لا يَجِدُ غِنًى يُغْنِيهِ، وَلا يُفْطَنُ بِهِ فَيُتَصَدَّقُ عَلَيْهِ، وَلا يَقُومُ فَيَسْأَلُ النَّاسَ». (بخارى: ۱۴۷۹)

۷۵۲- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (مسکين هغه نه دئ چي په خلکو گرځي، يوه گوله، دوې گولې، يوه خرما او دوې خرماوي په لاس ورشي؛ بلکي مسکين هغه دئ چي دومره شتمني نه لري چي شتمن او بې نياز ئې کړي؛ او څوک ئې پر حال نه پوهېږي چي صدقه او خيرات ورکړی شي؛ او نه په خپله پاځي چي له خلکو سؤال وکړي).

تکرار: دا روايت په بخاري کي دوه ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۱۴۷۶، ۴۵۳۹

توپير: په يوه کي يَطُوفُ عَلَى النَّاسِ تَرُدُّهُ اللُّقْمَةُ وَاللُّقْمَتَانِ وَالتَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ په بل کي تَرُدُّهُ الْأُكْلَةُ وَالْأُكْلَتَانِ په بل کي تَرُدُّهُ التَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ وَلَا اللُّقْمَةُ وَلَا اللُّقْمَتَانِ په يوه کي تَرُدُّهُ التَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ وَلَا اللُّقْمَةُ وَلَا اللُّقْمَتَانِ په بل کي لَيْسَ لَهُ غِنًى وَيَسْتَحْيِى أَوْ لَا يَسْأَلُ النَّاسَ إِلْحَافًا په بل کي يَتَعَفَّفُ وَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ يَعْنِى قَوْلَهُ (لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا) راغلي.

دا روايت که څه هم د غناء د اندازې تر باب لاندي راوړل شوی خو د غناء د اندازې په اړه څه نه دي په کي ويل شوي؛ بلکي مسکين ئې راښودلی؛ د غناء د حد په اړه په بل روايت کي راغلي چي پنځوس درهمه دئ؛ شايي هغه مهال دا مقدار شتمني د يوه سړي او د هغه د عيال لپاره کفايت کولو.

## ۳۸ باب: د خرما د اندازې تخمين

۷۵۳ - عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ رضى الله عنه قَالَ: غَزَوْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزْوَةَ تَبُوكَ، فَلَمَّا جَاءَ وَادِيَ الْقُرَى، إِذَا امْرَأَةٌ فِي حَدِيقَةٍ لَهَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لأَصْحَابِهِ: «اخْرُصُوا». وَخَرَصَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشَرَةَ أَوْسُقٍ. فَقَالَ لَهَا: «أَحْصِي مَا يَخْرُجُ مِنْهَا». فَلَمَّا أَتَيْنَا تَبُوكَ قَالَ: «أَمَا إِنَّهَا سَتَهُبُّ اللَّيْلَةَ رِيحٌ شَدِيدَةٌ، فَلا يَقُومَنَّ أَحَدٌ، وَمَنْ كَانَ مَعَهُ بَعِيرٌ فَلْيَعْقِلْهُ». فَعَقَلْنَاهَا، وَهَبَّتْ رِيحٌ شَدِيدَةٌ، فَقَامَ رَجُلٌ فَأَلْقَتْهُ بِجَبَلِ طَيِّءٍ، وَأَهْدَى مَلِكُ أَيْلَةَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَغْلَةً بَيْضَاءَ، وَكَسَاهُ بُرْدًا، وَكَتَبَ لَهُ بِبَحْرِهِمْ، فَلَمَّا أَتَى وَادِيَ الْقُرَى قَالَ لِلْمَرْأَةِ: «كَمْ جَاءَ حَدِيقَتُكِ»؟ قَالَتْ: عَشَرَةَ أَوْسُقٍ، خَرْصَ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «إِنِّي مُتَعَجِّلٌ إِلَى الْمَدِينَةِ، فَمَنْ أَرَادَ مِنْكُمْ أَنْ يَتَعَجَّلَ مَعِي فَلْيَتَعَجَّلْ». فَلَمَّا - قَالَ الراوى كَلِمَةً مَعْنَاهَا- أَشْرَفَ عَلَى الْمَدِينَةِ قَالَ: «هَذِهِ طَابَةُ». فَلَمَّا رَأَى أُحُدًا قَالَ: «هَذَا جُبَيْلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ، أَلا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ دُورِ الأَنْصَارِ»؟ قَالُوا: بَلَى. قَالَ: «دُورُ بَنِي النَّجَّارِ، ثُمَّ دُورُ بَنِي عَبْدِالأَشْهَلِ، ثُمَّ دُورُ بَنِي سَاعِدَةَ؛ او دُورُ بَنِي الْحَارِثِ بْنِ الْخَزْرَجِ، وَفِي كُلِّ دُورِ الأَنْصَارِ- يَعْنِي-خَيْرًا». (بخارى: ۱۴۸۱)

له ابو حُمَيد ساعدي رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره مو د تبوک په غزا کې غزا وکړه؛ کله چي (وادي القرىٰ) ته ورسېدو؛ هغه مهال یوه ښځه په خپل باغ کي وه؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم خپلو يارانو ته وويل: (د خرماوو) اندازه ولګوئ؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم وانګېرل چي لس وسقه به وي؛ هغې ته ئې وفرمايل: (څه چي ترې راوځي اندازه ئې په ياد ساته)؛ کله چي تبوک ته ورسېدو وئې فرمايل: (نن شپه به سخته سيلۍ راشي؛ هيڅوک

دي له خپل ځای نه پاڅي؛ او چا سره چي اوښ وي هغه دي کلک وتړي)؛ نو موږ هغوی وتړل؛ سخته سیلۍ راغله؛ یو سړی پاڅېد چي د (طئ) پر غره ئې وغورځاوو. د (ایله) پاچا رسول الله صلی الله علیه و سلم ته یوه سپینه کچره هدیه کړه او (رسول الله صلی الله علیه و سلم) هغه ته یو څادر ورواغوست؛ او د هغه لپاره ئې د دوی د سمندر (سیمي) په اړه لیکنه وکړه؛ (سیمه ئې د دوی تر واك لاندي پرېښوده؛ دا سیمه ځکه د سمندر په نامه یاده شوې چي د سمندر په غاړه پرته وه). او کله چي رسول الله صلی الله علیه و سلم بېرته وادي القری ته راورسېد؛ همغي ښځي ته ئې وفرمایل: (باغ دي څومره حاصل ورکړ؟) ښځي وویل: همغه لس وسقه چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې تخمین کړی وو؛ بیا نبي صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (زه مدینې ته بیړه لرم که څوک په بیړه را سره ځي نو بیړه دي وکړي)؛ کله چي ئې پر مدینې سترګي ولګېدې (راوي داسي کلمه وویله چي معنی ئې همدا وه)؛ وئې فرمایل: (دا ښکلی او مبارک دئ) او کله چي ئې د احد غر ولید وئې فرمایل: (دا هغه وړوکی غر دئ چي هغه له موږ سره او موږ له هغه سره مینه لرو؛ آیا غواړئ د انصارو تر ټولو غوره استوګنځي دروښیم؟) یارانو ئې وویل: هو؛ ولې نه؛ وئې فرمایل: (د بني نجار استوګنځي، بیا د بني عبدالاشهل استوګنځي، بیا د بني ساعده استوګنځي یا د بني حارث بن خزرج استوګنځي او د انصارو په ټولو استوګنځیو کي خیر دئ).

تکرار: دا روایت په بخاري کي څلور ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۱۸۷۲، ۳۱۶۱، ۳۷۹۱، ٤٤۲۲

توپیر: په اصل کي د همدې یوه روایت بېلي بېلي برخي په نورو روایاتو کي راغلې دي. خو په یوه کي دا هم راغلي فَأَدْرَكَ سَعْدٌ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، خُيِّرَ دُورُ الأَنْصَارِ فَجُعِلْنَا آخِرًا. فَقَالَ «أَوَلَيْسَ بِحَسْبِكُمْ أَنْ تَكُونُوا مِنَ الْخِيَارِ: سعد بن عباده د خزرجیانو مشر رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورغی او وئې ویل: موږ دي د

انصارو د غوره استوګنځيو په آخر کې وګڼلو! رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمايل: آيا دا درته کافي نه دي چې په غورو کې يئ.

دا روايت هم له بخاري پرته د حديث په هيڅ معروف کتاب کې؛ د صحاح سته په شمول نه دئ راغلی؛ يعني چې ټولو نورو کتابونو د راوړلو وړ نه دئ ګڼلی؛ د إسنادو له پلوه مطلق غريب دئ؛ راويان ئې دا دي: سَهْل بْن بَكَّار، وُهَيْب، عَمْرِو بْنِ يَحْيَى، عَبَّاس السَّاعِدِي او أَبُو حُمَيْدٍ السَّاعِدِيّ؛ امام بخاري ته له سَهْل بْن بَكَّار رسېدلی؛ د ده په اړه ابن حجر وايي: ثقة ربما وهم: ثقه دئ خو کله کله له خپل خيال او وهم څه وايي؛ د بل راوي وُهَيب په اړه وايي: ثقة ثبت لكنه تغير قليلا بآخرة: ثقه ګڼل شوی خو د عمر په پای کې لږ بدل شو؛ يعني چې دا روايت ډېر ډېر غريب او ناآشنا دئ او په راويانو کې ئې داسي ضعيف کسان هم ليدل کېږي. په متن کې ئې داسي څه مومو چې عقل ئې نه مني او هغه دا چې تېز باد يو کس په سر واخيست او د طئ پر غره ئې وغورځاوو. قرآن د عاد قوم د سخت تعذيب په اړه چې سرکښه سيلۍ پرې مسلطه شوې وه فرمايي:

وَأَمَّا عَادٌ فَأُهْلِكُواْ بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ ۝٦ سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَثَمَٰنِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومًا فَتَرَى ٱلْقَوْمَ فِيهَا صَرْعَىٰ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ۝٧ الحاقه

او عاديان چې په سرکښې توند باد هلاك شول؛ اُوه شپې او اته ورځې ئې دا پرېکنده (سيلۍ) پرې مسلط کړه؛ دا قوم به دې په دې (وخت) کې داسي موندلی وو چې پرمخې پراته دي، لکه ستې د خرما، تشې او له جرړو ايستل شوې.

دغو آيتونو کې د عاد د سرکښ قوم د هلاکت ځرنګوالی په ډېره عبرتناکه توګه انځور شوی او ځو حقائق زموږ مخې ته ږدي:

الف: دې عذاب اُوه شپې او اته ورځې دوام وکړ؛ خو ولې اُوه شپې او

اته ورځي؟ ولي يوه اونۍ او يوازي اُوه شپې ورځي نه؟ آيا دا د دې لپاره چي ځرګند ګناهونه ئې تر پټو زيات وو؟ او يا د دې لپاره چي د ورځي په رڼا کي به ئې دومره جنايات کول چي د شپو په تياره کي به د دوی تر خيانتونو زيات ول؟ او يا له دې امله چي د اونۍ اُوه شپي ورځي به ئې په ګناه، عصيان او خيانت کي تېري کړې او د راتلونکي اونۍ په سبا به ئې هم د جنايت او خيانت کلك هوډ کاوو؟ ښايي دا ټول، ځکه چي الهي عذاب تل د معذب شوو خلکو له کړنو سره متناسب او ورته وي.

ب: عاديانو داسي لوړ لوړ او دنګ دنګ قدونه درلودل چي د دوی په څېر خلك په هيڅ ځای کي نه تر سترګو کېدل، د دې توندي سړې سيلۍ له کبله له داسي عبرتناك برخليك سره مخامخ شول چي د مړو اجساد ئې په هغې وراني سيمي کي د رنګو دېوالونو او نسکور شوو چتونو شاوخوا ته خواره واره پراته وو، داسي برېښېدل لکه د خرما کاواکه ستني چي له جرړو ايستل شوې او هري خوا ته نسکوري پرتې وي، د دوی ظاهر؛ ښايسته او ځواکمن برېښېدو خو منځ ئې تش او کاواك، ظاهر ئې د خرما د سمسورو او دنګو ونو په څېر برېښېدو او دا ګمان پرې کېدو چي جرړي به ئې په زمکي کي ژوري تللې وي؛ او آسمان هم په خپلي غېږ کي نيولې او قد ئې ورلوړ کړی، خو په حقيقت کي د دې ونو منځ تش او جرړي ئې وچي وې، چي په يوې توندي سيلۍ له جرړو وايستلی شوې او پر زمکه راپرېوتې.

ګورئ چي د سخت الهي عذاب دغي توندي او سرکښي سيلۍ هم څوك پر کوم غره نه دئ غورځولی؛ بلکي د خرما د ستو په څېر ئې نسکور کړي!! بادونه انسانان نسکورولی او رغړولی شي خو د خس او خاشاك په څېر ئې الوزولی نه شي.

قرآن د تبوك غزوې په اړه تفصيلي بحث لري؛ د التوبه سورې څو آيتونه ئې همدې بحث ته مختص کړي؛ په دې آيتونو کي نه يوازي د دې روايت دا خبري نه مومو؛ بلکي خلاف ئې دا مومو چي قرآن وايي دا غزوه

د دوبي د سختي گرمي په موسم کې وه؛ دومره گرمي چي منافقينو ويل: په دې گرمي کې د جهاد لپاره مه وځئ؛ آيت دا دئ:

فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلافَ رَسُولِ اللَّهِ وَكَرِهُوا أَنْ يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَالُوا لا تَنْفِرُوا فِي الْحَرِّ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا لَوْ كَانُوا يَفْقَهُونَ ﴿٨١﴾ التوبة

شا ته پرېښودل شوي (وگړي) د الله د رسول په خلاف په خپلي ناستي خوشحاله شول او له دې ئې کرکه وکړه چي د الله په لار کې په خپل مال او ځان سره جهاد وکړي او وئې ويل: په دې گرمي کې مه وځئ؛ (ورته) ووايه: د دوزخ اور تر ټولو زيات گرم دئ؛ کاش دوی پوهېدی.

د آيت له فحوی داسي معلومېږي چي د سورې دا برخه (له ۷۹ آيت د سورې تر پای پوري) د تبوك له غزوې وروسته او هغه مهال نازله شوې چي رسول الله صلی الله عليه و سلم له تبوك بېرته د مدينې په لوري خوځېدلی او لا مدينې ته نه وو رسېدلی، ځکه په دې آيت کې ويل شوي چي منافقين په دې خوښ شول چي وروسته پاته شي او په دې غزوې کې برخه وانخلي، ورپسې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي چي که الله تعالی هغوی ته ورستون کړې او دوی درنه وغوښتل چي په نورو غزواتو کې له تا سره برخه واخلي نو د رد ځواب ورکړه.

په دې ۵۱ آيتونو کې د تبوك د غزوې ډېر ابعاد؛ له تگ مخکې او وروسته ئې؛ په ډېر دقت او تفصيل سره څېړل شوي؛ د مخلصينو، منافقينو، شتمنو، غريبانو، مهاجرينو، انصارو، هغه چي د عذر له کبله پاته شوي، هغه چي بې له عذر او د منافقت له کبله پاته شوي، هغه چي نور ئې هم له تگ منع کول، هغه چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم او لښکر له بريالي راستنېدو وروسته ئې د خپلي پاته کېدا لپاره دلائل او عذرونه وړاندي کول؛ هغه مخلصين چي په خپلي غلطي ئې اعتراف کړی، د دوی له ډلې هغه درې جليل القدر صحابه چي اعتراف

ئې وکړ او د توبې قبلېدا ئې تر یوې نېټې وځنډول شوه؛ او بیا الله تعالی په قرآن کې د دوی او د توبې قبلېدا یادونه ئې وکړه، او ډېر نور مطالب؛ په دې ټولو آیتونو کې د دې روایت دا خبره نه مومو.

که د سرې او توندې سیلۍ واقعه رامنځته شوې وی؛ دومره تونده چې یو تن ئې په هوا کړی او لرې ئې پر غره غورځولی؛ نو د دې لوی لښکر ډېرو جنګیالیو به دا عجیبه او حیرانوونکې پېښه نورو ته ویلې وه او د حدیث ټولو کتابونو به راوړې وه؛ د دې کس نوم به اخیستل شوی وو، پلار، زوی او ورور به ئې ویلي وو چې زموږ له فلاني خپلوان سره د تبوك د غزوې په دوران کې څه وشول؛ خو دا خبرې نه په بخاري کې مومو او نه د حدیث او تاریخ په کتابونو کې!! دې ټولو ته په پام؛ په بشپړ یقین سره ویلی شو چې دا روایت نه د منلو دیٔ او نه بل ته د ویلو؛ اصولاً په ډېرو پوري د اړوند پېښو روایات هغه مهال د اعتبار وړ دي چې له ډېرو په یو ډول واورېدل شي؛ خو دا روایت داسې دیٔ چې نه له ټول لوی لښکر یو بل راوي لري؛ او نه په صحابه وو، تابعینو او اتباع تابعینو کې تر یوه زیات راویان.

## ۳۹ باب: په هغو حاصلاتو کي چې د باران یا په جاري اوبو خړوبېږي عشر (لسمه برخه) لازمېږي

۷۵۵ - عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ رضی الله عنهما عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «فِيمَا سَقَتِ السَّمَاءُ وَالْعُيُونُ؛ او كَانَ عَثَرِيًّا، الْعُشْرُ، وَمَا سُقِيَ بِالنَّضْحِ، نِصْفُ الْعُشْرِ». (بخاری: ۱۴۸۳)

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روایت دیٔ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: (په هغه (کښت) کي چې د آسمان او چینو په اوبو خړوبېږي او هغه چې په خپله خړوبېږي لسمه برخه (د حاصل ئې زکات) راځي؛ او کوم کښت چې په راایستونکو اوبو (لکه حیواني ارهټ او...) خړوبېږي؛ په هغوی کي د عشر نیمایي یا شلمه برخه (د حاصل

ئې زكات) دئ).

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ٦ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: سَعِيد بْن أَبِي مَرْيَم، عَبْدُ اللَّهِ بْن وَهْب، يُونُس بْن يَزِيد، الزُّهْرِيِّ، سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ او پلار ئې عبد الله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهما.

## ٤٠ باب: د خرما زكات د ټولولو په مهال اخيستل كېږي

۷٥٦ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُؤْتَى بِالتَّمْرِ عِنْدَ صِرَامِ النَّخْلِ، فَيَجِيءُ هَذَا بِتَمْرِهِ، وَهَذَا مِنْ تَمْرِهِ، حَتَّى يَصِيرَ عِنْدَهُ كَوْمًا مِنْ تَمْرٍ، فَجَعَلَ الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ رضى الله عنه يَلْعَبَانِ بِذَلِكَ التَّمْرِ، فَأَخَذَ أَحَدُهُمَا تَمْرَةً فَجَعَلَهَا فِي فِيهِ، فَنَظَرَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْرَجَهَا مِنْ فِيهِ، فَقَالَ: «أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ آلَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لا يَأْكُلُونَ الصَّدَقَةَ».

(بخارى: ١٤٨٥)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: د كجورو د راټولولو په مهال به رسول الله صلى الله عليه و سلم ته كجوري راوړل كېدلې؛ دې كس به خپلې كجوري ورته راوړې او هغه بل به خپلې كجوري؛ نو د ده خوا ته به د كجورو كُوټه (ډېرۍ) جوړه شوه؛ حسن او حسين رضي الله عنهما به له دې كجورو سره لوبې كولې؛ يوه ئې يوه خرما واخيستله او په خوله ئې كړه؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وكتل او د هغه له خولې ئې راوايستله؛ او وئې فرمايل: (آيا نه پوهېږې چې آل محمد؛ زكات او خيرات نه خوري؟).

تكرار: دا روايت په بخاري کې دوه ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ١٤٩١، ٣٠٧٢؛ غريب دئ؛ په ٦ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: عُمَر بْن مُحَمَّدِ بْنِ الحَسَنِ الأَسَدِي، پلار ئې مُحَمَّدِ بْنِ الحَسَنِ الأَسَدِي، إِبْرَاهِيم بْن طَهْمَان، مُحَمَّدِ بْنِ زِيَاد او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

توپیر: په یوه کي فَأَخَذَ أَحَدُهُمَا تَمْرَةً، فَجَعَلَهَا فِي فِيهِ په بل کي أَنَّ الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ أَخَذَ تَمْرَةً مِنْ تَمْرِ الصَّدَقَةِ، فَجَعَلَهَا فِي فِيهِ په يوه کي فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم "كِخٍ كِخٍ " لِيَطْرَحَهَا ثُمَّ قَالَ- «أَمَا شَعَرْتَ أَنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ» په بل کي فَقَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - بِالْفَارِسِيَّةِ: «كِخْ كِخْ، أَمَا تَعْرِفُ أَنَّا لاَ نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ» په بل کي فَقَالَ « أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ آلَ مُحَمَّدٍ - صلى الله عليه وسلم - لَا يَأْكُلُونَ الصَّدَقَةَ » راغلي.

د بخاري هغه روايت چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم په فارسي وفرمايل: كِخْ كِخْ أَمَا تَعْرِفُ أَنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ؛ هم غريب دئ او هم له بخاري پرته په بل هيڅ معروف كتاب کي نه دئ راغلی؛ يعني چي له امام بخاري پرته بل هيچا د اعتبار وړ نه دئ ګڼلی؛ كه چا په كوم غير معروف كتاب کي راوړی نو د بخاري په حواله ئې راوړی. روايت دا دئ:

٣٠٧٢ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زِيَادٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ أَخَذَ تَمْرَةً مِنْ تَمْرِ الصَّدَقَةِ فَجَعَلَهَا فِي فِيهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْفَارِسِيَّةِ كِخْ كِخْ أَمَا تَعْرِفُ أَنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ. بخارى

دا بايد په پام کي ولرو چي امام بخاري؛ د نيشاپور په فارسي ژبي ښار کي پاته شوی؛ ښايي د كخ كخ الفاظو منشأ دغه وي؛ او امام بخاري همدلته له داسي راوي اوربدلی وي چي په فارسي پوهېدو او هغه د عربي الفاظو په ځای د فارسي دا الفاظ كارولي.

## ٤١ باب: آيا څوك كولی شي خپل زكات (صدقات) وپېري؟

٧٥٧ - عَنْ عُمَرَ رضى الله عنه قَالَ: حَمَلْتُ عَلَى فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فَأَضَاعَهُ الَّذِى كَانَ عِنْدَهُ، فَأَرَدْتُ أَنْ أَشْتَرِيَهُ، وَظَنَنْتُ أَنَّهُ يَبِيعُهُ بِرُخْصٍ، فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «لا تَشْتَرِهِ، وَلا تَعُدْ فِي صَدَقَتِكَ، وَإِنْ أَعْطَاكَهُ بِدِرْهَمٍ، فَإِنَّ الْعَائِدَ

فِي صَدَقَتِهِ كَالْعَابِدِ فِي قَيْئِهِ». (بخاری: ۱٤۹۰)

۷۵۷- له عمر رضي الله عنه روایت دئ چي وايي: يوه سړي ته مي د الله په لار کي د جهاد لپاره آس ورکړ؛ خو دا (آس چي کله د هغه شو) نو ضائع او خوار ئې کړ؛ نو ومي غوښتل چي په بيع ئې بېرته ترې واخلم او گمان مي وکړ چي دی به ئې په ټيټه بيع وپلوري؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم مي وپوښتو؛ نو وئې ويل: (مه ئې پېره، خپلي صدقې ته مه ستنېږه، که څه هم په يوه درهم ئې درکړي، خپلي صدقې ته ستنېدونکی داسي دئ لکه خپل قې ته ستنېدونکی (لکه هغه چي خپل قې بېرته تېروي).

تکرار: دا روايت په بخاري کي څلور ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۲۶۲۳، ۲۶۳۶، ۲۹۷۰، ۳۰۰۳

توپير: په يوه کي فَأَرَدْتُ أَنْ أَشْتَرِيَهُ په بل کي فَأَرَدْتُ أَنْ أَشْتَرِيَهُ مِنْهُ په يوه کي وَظَنَنْتُ أَنَّهُ بَائِعُهُ بِرُخْصٍ په بل کي فَرَأَيْتُهُ يُبَاعُ په يوه کي لَا تَشْتَرِهِ، وَإِنْ أَعْطَاكَهُ بِدِرْهَمٍ وَاحِدٍ په بل کي لَا تَشْتَرِهِ، وَلَا تَعُدْ فِي صَدَقَتِكَ په بل کي لَا تَشْتَرِهِ وَإِنْ بِدِرْهَمٍ په يوه کي فَإِنَّ الْعَائِدَ فِي صَدَقَتِهِ كَالْعَائِدِ فِي قَيْئِهِ په بل کي فَإِنَّ الْعَائِدَ فِي هِبَتِهِ كَالْكَلْبِ يَعُودُ فِي قَيْئِهِ راغلي.

سره له دې ټولو توپيرونو چي په دغو رواياتو کي تر سترگو کېږي مطلب ئې يو دئ او هغه دا چي د صدقه شوي او په زکات کي ورکړی شوي مال له بېرته اخيستلو بايد ډډه وشي؛ که څه هم د يوه درهم بيع په بدل کي وي.

خو په دې اړه د علماءو تر منځ اختلاف دئ، ابْن بطال وايي: پورتني روايت ته په پام سره ډېری علماء دا مکروه گڼي چي څوك د خپل زکات مال بېرته په بيع واخلي؛ او دا د امام مَالك، د کوفې علماءو او امام شافِعِيّ وينا ده، که دا زکات وي يا خيرات او صدقه، خو که څوك خپله صدقه وپېري نو بيع ئې نه فسخ کېږي، غوره دا ده چي له دې ډډه وشي؛ او ابن مُنْذر وايي: حسن، عِكْرِمَة، رَبِيعَة او اَوْزَاعِي د خپلي صدقې

د پېرلو رخصت ورکړی، وايي: که د خپلي صدقې پېرل جائز نه وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به هغه هدیه هم نه قبلوله چي په اصل کي زکات او صدقه وه؛ بل ته د زکات په توګه ورکړی شوې او ده ته د هديې په توګه (لکه چي په ۷۲۵ روايت کي ورته اشاره وشوه: له ام عطیه رضي الله عنها روایت دیٔ چي وايي: نُسَیبه انصاریه رضي الله عنها ته یو پسه ور واستول شو، هغې د پسه څه برخه عائشې رضي الله عنها ته ور ولېږله، (عائشه رضي الله عنها وايي) بیا رسول الله صلی الله علیه و سلم راته وفرمایل: (آیا د خوړو لپاره څه درسره شته؟) ما ورته وویل: نه؛ یوازي هغه څه چي نُسَیبې رضي الله عنها له هغه پسه رالېږلې؛ نو وئې فرمایل: (رائې وړه، یقیناً چي هغه خپل اصلي ځای ته رسېدلې)؛ همدا راز په بل روایت کي داسي راغلي:... جَاءَت امْرَأَة إِلَى رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم فَقَالَت: يَا رَسُول الله إِنِّي تَصَدَّقت على أُمِّي بِجَارِيَة وَأَنَّهَا مَاتَت، قَالَ: وَجب أجرك وردهَا على الْمِيرَاث: یوه مېرمن رسول الله صلی الله علیه و سلم ته راغله او وئې ویل: خپلي مور ته مي یوه وینزه صدقه کړه، مور مي وفات شوه، (له وینزي سره څه وکړم)، رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ستا اجر درته واجب شو او په میراث کي ئې پرېښوده (یعني هغه اوس په میراث کي ګڼل کېږي او ستا شوه) که په دې صورت کي د صدقې او زکات اخیستل جائز وي نو په بیع ئې پېرل به ولي جائز نه وي؟!

## ۴۲ باب: د رسول الله صلی الله علیه و سلم د مېرمنو له لوري آزاد شوو غلامانو ته صدقه ورکول

۷۵۸ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما قَالَ: وَجَدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَاةً مَيِّتَةً، أُعْطِيَتْهَا مَوْلاةٌ لِمَيْمُونَةَ مِنَ الصَّدَقَةِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «هَلَّا انْتَفَعْتُمْ بِجِلْدِهَا؟» قَالُوا: إِنَّهَا مَيْتَةٌ. قَالَ: «إِنَّمَا حَرُمَ أَكْلُهَا». (بخاری:۱۴۹۲)

۷۵۸- له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دیٔ چي وايي: رسول الله صلی

الله علیه و سلم هغه پسه مړ وموند چي د میمونه رضي الله عنها آزادي شوې وينځې ته په صدقه کي ورکړی شوی وو، رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمايل: (ولي مو د هغه له پوستکي ګټه نه ده اخيستې؟) حاضرينو ووېل: دا خو مردار دئ؟ وئې فرمايل: "د دې خو يوازي خوړل حرام شوي".

تکرار: دا روايت په بخاري کي درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۲۲۲۱، ۵۵۳۱، ۵۵۳۲؛ غريب دئ؛ په ۵ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: سَعِيد بْن عُفَيْرٍ، ابْن وَهْب، يُونُس، ابْنِ شِهَاب، عُبَيْدُ اللَّهِ بْن عَبْدِ اللَّهِ او ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا.

توپیر: په يوه کي وَجَدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَاةً مَيِّتَةً أُعْطِيَتْهَا مَوْلَاةٌ لِمَيْمُونَةَ مِنَ الصَّدَقَةِ په بل کي أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِشَاةٍ مَيِّتَةٍ په بل کي مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَنْزٍ مَيْتَةٍ په يوه کي هَلَّا انْتَفَعْتُمْ بِجِلْدِهَا په بل کي هَلَّا اسْتَمْتَعْتُمْ بِإِهَابِهَا په بل کي مَا عَلَى أَهْلِهَا لَوِ انْتَفَعُوا بِإِهَابِهَا راغلي.

## ٤٣ باب: د زکات په حالت کي بدلون

۷۵۳ - عَنْ أَنَسٍ رضى الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِلَحْمٍ، تُصُدِّقَ بِهِ عَلَى بَرِيرَةَ، فَقَالَ: «هُوَ عَلَيْهَا صَدَقَةٌ، وَهُوَ لَنَا هَدِيَّةٌ». (بخارى: ۱٤۹٥)

۷۵۹- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته له هغي غوښي څه راوړل شوه چي بَرِيرَه رضي الله عنها ته په صدقه کي ورکړی شوې وه؛ وئې فرمايل: (دا هغې ته صدقه او موږ ته هديه ده).

تکرار: دا روايت په بخاري کي اته ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۲۵۷۷، ۵۰۹۷، ۱٤۹۳، ۲۵۷۸، ۵۲۷۹، ۵۲۸٤، ۵٤۳۰، ٦۷۵۱؛ غريب دئ؛ که څه هم په صحابه وو کي دوه راويان لري: عائشه او انس رضي الله عنهما؛ خو په نورو طبقو کي د يوه راويان دا دي: يَحْيَى بْن مُوسَى، وَكِيع،

شُعْبَة، قَتَادَة او أَنَس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او د بل راویان دا: إِسْمَاعِيل بْن عَبْدِ اللَّهِ، مَالِك، رَبِيعَة بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَاسِمِ بْنِ مُحَمَّد او عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا.

توپیر: په یوه کې أُتِيَ بِلَحْمٍ تُصُدِّقَ بِهِ عَلَى بَرِيرَةَ په بل کې أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلَحْمٍ فَقِيلَ تُصُدِّقَ عَلَى بَرِيرَةَ په بل کې فَقِيلَ لَحْمٌ تُصُدِّقَ عَلَى بَرِيرَةَ په بل کې وَأُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلَحْمٍ فَقُلْتُ هَذَا مَا تُصُدِّقَ بِهِ عَلَى بَرِيرَةَ په بل کې فَقِيلَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا تُصُدِّقَ عَلَى بَرِيرَةَ په بل کې وَلَكِنْ ذَلِكَ لَحْمٌ تُصُدِّقَ بِهِ عَلَى بَرِيرَةَ، وَأَنْتَ لَا تَأْكُلُ الصَّدَقَةَ په بل کې وَلَكِنَّهُ لَحْمٌ تُصُدِّقَ بِهِ عَلَى بَرِيرَةَ، فَأَهْدَتْهُ لَنَا په یوه کې هُوَ عَلَيْهَا صَدَقَةٌ، وَهُوَ لَنَا هَدِيَّةٌ په بل کې هُوَ لَهَا صَدَقَةٌ، وَلَنَا هَدِيَّةٌ په بل کې هُوَ صَدَقَةٌ عَلَيْهَا، وَهَدِيَّةٌ لَنَا راغلي.

دا روایت هم د دې رأيي تأييد کوي چې د صدقې او زکات حالت او کیفیت بدلیږي، یوه ته د زکات بڼه لري او بل ته د هدیې بڼه غوره کوي، کله چې زکات د چا لاس ته ورشي د هغه مال ګڼل کیږي؛ له دې وروسته د ده له نور مال سره کوم توپیر نه لري.

## ٤٤ باب: زکات له شتمنو اخیستل کیږي او فقیرانو ته ورکول کیږي

۷۵٤ - حَدِيثُ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رضى الله عنه وبَعَثِهِ إِلَى الْيَمَنِ تَقَدَّمَ وفى هَذِهِ الرِّوَايَةِ: «وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللَّهِ حِجَابٌ». (بخارى: ١٤٩٦)

یمن ته د معاذ رضي الله عنه د لیږلو حدیث مخکې تېر شو او په دې روایت کې راغلي: (... او د مظلوم له دعاء (ښېرا) ځان وساته ځکه چې د ده او الله تعالی تر منځ کومه پرده نه شته).

خو دا برخه له باب سره هیڅ مناسبت نه لري؛ باب دا دئ: زکات له شتمنو اخیستل کیږي او فقیرانو ته ورکول کیږي او دا روایت وایي: د مظلوم له دعاء (ښېرا) ځان وساته...

تکرار: دا روایت په بشپړه توګه په بخاري کې څو ځلې راغلی خو دغه

برخه ئې دوه ځلي نور په دغو شمېرو راغلې: ٢٤٤٨، ٤٣٤٧

## ٤٥ باب: د صدقه ورکوونکي لپاره د خير دعاء

٧٥٥ - عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى رضى الله عنه قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَاهُ قَوْمٌ بِصَدَقَتِهِمْ قَالَ: «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ فُلانٍ». فَأَتَاهُ أَبِي بِصَدَقَتِهِ، فَقَالَ: «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ أَبِي أَوْفَى». (بخارى: ١٤٩٧)

٧٦١- له عبدالله بن ابي اوفیٰ رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي وو چي کله به کوم قوم خپله صدقه او زکات ورته راوړ؛ نو وبه ئې فرمايل: (الهي! پر آل فلان رحمت وکړه). او پلار مي خپل زکات وروړ؛ نو وئې فرمايل: (بارئ ربه! په آل ابي اوفیٰ رحم وکړه).

تکرار: دا روايت په بخاري کې درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ٤١٦٦، ٦٣٣٢، ٦٣٥٩

توپير: په يوه کې إِذَا أَتَاهُ قَوْمٌ بِصَدَقَتِهِمْ په بل کې إِذَا أَتَاهُ قَوْمٌ بِصَدَقَةٍ په بل کې إِذَا أَتَاهُ رَجُلٌ بِصَدَقَةٍ په بل کې كَانَ إِذَا أَتَى رَجُلٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِصَدَقَتِهِ په يوه کې اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ فُلَانٍ په بل کې اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِمْ په بل کې اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ راغلي.

قرآن په دې اړه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته فرمايلي:

خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٠٣﴾ التوبة

له مالونو ئې داسي صدقه تر لاسه کړه چي پرې پاك او تزکيه ئې کړې او دعاء ورته وکړه؛ يقيناً چي ستا دعاء ورته يوه ډاډېينه ده؛ او الله پوه اورېدونکی دئ.

له دې معلومېږي چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم د ټولو دا ډول ويناوو، لارښوونو، اوامرو او قولي او فعلي سنت لپاره په قرآن کې

منشأ او شاهد موندلی شو؛ که هغه د فرائضو په ارتباط وي یا د فضائلو او مستحباتو په ارتباط؛ خو په قرآن ښه پوهېدا، په قرآن او روایت کې غور؛ او لازم فهم، درایت او فراست درلودل ایجابوي.

## ٤٦ باب: څه چي له سمندر په لاس راځي

د دې عنوان په لیدو او اورېدو سره هر څوك داسي فکر کوي چي ښایي مراد به ئې د بحر کبان او ماهیان وي او یا قیمتي تیږي او بل داسي څه چي په بحر کې موندل کېږي؛ خو کوم روایت چي تر دې عنوان لاندي راغلی؛ بل څه وایي: روایت دا دئ:

٧٥٦ - عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رضى الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم: «أَنَّ رَجُلاً مِنْ بَنِى إِسْرَائِيلَ سَأَلَ بَعْضَ بَنِى إِسْرَائِيلَ بِأَنْ يُسْلِفَهُ أَلْفَ دِينَارٍ، فَدَفَعَهَا إِلَيْهِ، فَخَرَجَ فِى الْبَحْرِ فَلَمْ يَجِدْ مَرْكَبًا، فَأَخَذَ خَشَبَةً فَنَقَرَهَا، فَأَدْخَلَ فِيهَا أَلْفَ دِينَارٍ، فَرَمَى بِهَا فِى الْبَحْرِ، فَخَرَجَ الرَّجُلُ الَّذِى كَانَ أَسْلَفَهُ فَإِذَا بِالْخَشَبَةِ، فَأَخَذَهَا لأَهْلِهِ حَطَبًا - فَذَكَرَ الْحَدِيثَ - فَلَمَّا نَشَرَهَا وَجَدَ الْمَالَ». (بخاری:١٤٩٨)

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: (د بني اسرائیلو یوه سړي له کوم بل اسرائیلي وغوښتل چي زر دینار په پور ورکړي، هغه ورکړل؛ نو پوروړی (د پور بېرته سپارلو په ورځ) د سمندر غاړي (ته ولاړ چي په کشتۍ کې سپور شي او قرض ورکوونکي ته ورشي او خپلي پیسې ورکړي)؛ خو کښتۍ ئې ونه موندله؛ نو یو لرگی ئې راواخیست، وئې کیندو او زر دینار ئې په کي داخل کړل؛ (سوری ئې بند کړ او لرگی ئې) په سمندر کي وغورځاوو؛ ناڅاپه هغه سړی چي ده ته ئې پور ورکړی وو (د سمندر بلي غاړي ته) راووت؛ ناڅاپه ئې همغه لرگی (په اوبو کي) ولید؛ نو کورنۍ ته ئې د خسو په توگه راونیولو؛ راوي مکمل حدیث بیانوي. په پای کي ئې راځي: کله چي ئې هغه پرانیست نو هغه مال (زر دینار) ئې په کي وموندل).

تكرار: دا روايت په بخاري کي شپږ ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۲۰٦۳، ۲۲۹۱، ۲٤۰٤، ۲٤۳۰، ۲۷۳٤، ٦۲٦۱

توپير: په دغو روايتو کي يوازي ۲۲۹۱ روايت په بشپړه توګه راغلی؛ نور ئې داسي دي چي که چا ته بشپړ روايت معلوم نه وي نو له هغوی نه يوازي خاص مطلب نه شي اخيستلی؛ بلکي احتمالاً ناسم پوهاوی او ناقص مطلب به ترې واخلي؛ لکه همدا پورتنی روايت چي په ناقصه توګه راغلی؛ او بشپړ مطلب نه شي افاده کولی. بشپړ روايت داسي دئ:

۲۲۹۱ - قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ: وَقَالَ اللَّيْثُ: حَدَّثَنِي جَعْفَرُ بْنُ رَبِيعَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ هُرْمُزَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَنَّهُ ذَكَرَ رَجُلًا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ، سَأَلَ بَعْضَ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنْ يُسْلِفَهُ أَلْفَ دِينَارٍ، فَقَالَ: ائْتِنِي بِالشُّهَدَاءِ أُشْهِدُهُمْ، فَقَالَ: كَفَى بِاللَّهِ شَهِيدًا، قَالَ: فَأْتِنِي بِالكَفِيلِ، قَالَ: كَفَى بِاللَّهِ كَفِيلًا، قَالَ: صَدَقْتَ، فَدَفَعَهَا إِلَيْهِ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى، فَخَرَجَ فِي البَحْرِ فَقَضَى حَاجَتَهُ، ثُمَّ التَمَسَ مَرْكَبًا يَرْكَبُهَا يَقْدَمُ عَلَيْهِ لِلْأَجَلِ الَّذِي أَجَّلَهُ، فَلَمْ يَجِدْ مَرْكَبًا، فَأَخَذَ خَشَبَةً فَنَقَرَهَا، فَأَدْخَلَ فِيهَا أَلْفَ دِينَارٍ وَصَحِيفَةً مِنْهُ إِلَى صَاحِبِهِ، ثُمَّ زَجَّجَ مَوْضِعَهَا، ثُمَّ أَتَى بِهَا إِلَى البَحْرِ، فَقَالَ: اللَّهُمَّ إِنَّكَ تَعْلَمُ أَنِّي كُنْتُ تَسَلَّفْتُ فُلاَنًا أَلْفَ دِينَارٍ، فَسَأَلَنِي كَفِيلاَ، فَقُلْتُ: كَفَى بِاللَّهِ كَفِيلًا، فَرَضِيَ بِكَ، وَسَأَلَنِي شَهِيدًا، فَقُلْتُ: كَفَى بِاللَّهِ شَهِيدًا، فَرَضِيَ بِكَ، وَأَنِّي جَهَدْتُ أَنْ أَجِدَ مَرْكَبًا أَبْعَثُ إِلَيْهِ الَّذِي لَهُ فَلَمْ أَقْدِرْ، وَإِنِّي أَسْتَوْدِعُكَهَا، فَرَمَى بِهَا فِي البَحْرِ حَتَّى وَلَجَتْ فِيهِ، ثُمَّ انْصَرَفَ وَهُوَ فِي ذَلِكَ يَلْتَمِسُ مَرْكَبًا يَخْرُجُ إِلَى بَلَدِهِ، فَخَرَجَ الرَّجُلُ الَّذِي كَانَ أَسْلَفَهُ، يَنْظُرُ لَعَلَّ مَرْكَبًا قَدْ جَاءَ بِمَالِهِ، فَإِذَا بِالخَشَبَةِ الَّتِي فِيهَا المَالُ، فَأَخَذَهَا لِأَهْلِهِ حَطَبًا، فَلَمَّا نَشَرَهَا وَجَدَ المَالَ وَالصَّحِيفَةَ، ثُمَّ قَدِمَ الَّذِي كَانَ أَسْلَفَهُ، فَأَتَى بِالأَلْفِ دِينَارٍ، فَقَالَ: وَاللَّهِ مَا زِلْتُ جَاهِدًا فِي طَلَبِ مَرْكَبٍ لِآتِيَكَ بِمَالِكَ، فَمَا وَجَدْتُ مَرْكَبًا قَبْلَ الَّذِي أَتَيْتُ فِيهِ، قَالَ:

هَلْ كُنْتَ بَعَثْتَ إِلَيَّ بِشَيْءٍ؟ قَالَ: أُخْبِرُكَ أَنِّي لَمْ أَجِدْ مَرْكَبًا قَبْلَ الَّذِى جِئْتُ فِيهِ، قَالَ: فَإِنَّ اللَّهَ قَدْ أَدَّى عَنْكَ الَّذِى بَعَثْتَ فِي الخَشَبَةِ، فَانْصَرِفْ بِالأَلْفِ الدِّينَارِ رَاشِدًا "

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: (د بني اسرائیلو یوه سړي له کوم بل اسرائیلي وغوښتل چي زر دینار په پور ورکړي؛ هغه ورته وویل: ما ته شاهدان راوله چي گواه ئې ونیسم؛ ده وویل: الله تعالی د شاهد په توگه کافي دئ؛ هغه ورته وویل: کوم ضامن راته راوله؛ ده ورته وویل: الله تعالی د ضامن په توگه کافي دئ؛ هغه وویل: رښتیا دي وویل؛ نو ده ته ئې تر ټاکلې نېټې ورکړل؛ نو پوروړی د سمندر له لاري ووت، خپل حاجتونه ئې تر سره کړل، بیا د سورلۍ په لټه کي شو چي په هغې سره هغي نېټي ته ځان ورسوي چي ټاکلې ئې وه، خو کښتۍ ئې ونه موندله؛ نو یو لرگی ئې راواخیست، وئې کیندو او زر دینار ئې په کي داخل کړل؛ سره له خپل یوه لیك خپل ملگري ته؛ بیا ئې دغه ځای وپوښلو، بیا ئې دا لرگی سمندر ته یووړ؛ نو وئې ویل: الهي! ته ښه پوهېږې چي ما له فلاني زر دینار په پور واخیستل، هغه له ما کفیل وغوښتو؛ ومي ویل: الله د کفیل په توگه کافي دئ؛ پر تا (د کفیل په توگه) راضي شو؛ او له ما ئې شاهد وغوښتو؛ ومي ویل: الله د شاهد په توگه کافي دئ؛ پر تا راضي شو؛ ما هڅه وکړه چي کومه سورلۍ پیدا کړم چي هغه ته خپل حق ورولېږم؛ خو ونه توانېدم؛ او زه ئې تا ته سپارم؛ نو هغه ئې په سمندر کي وغورځاوو؛ تر هغه چي په کي ننوت (ډوب شو)؛ بیا تر شا شو؛ په داسي حال کي چي دی هملته د سورلۍ په لټه کي وو چي خپل هېواد ته ولاړ شي؛ ناڅاپه هغه سړی چي ده ته ئې پور ورکړی وو (د سمندر بلي غاړي ته) راووت چي وگوري ښایي کومه سورلۍ به د ده مال ورته راوړي؛ ناڅاپه ئې همغه لرگی (په اوبو کي) ولید چي د ده پیسې په کي وې؛ نو هغه ئې کورنۍ ته د خسو په توگه راونیولو؛ کله چي ئې هغه پرانیست نو هغه مال (زر دینار) او

هغه پاڼه ئې ومونډل؛ بيا هغه سړی راغی چي پور ئې ورکړی وو؛ زر دينار ئې راوړل؛ او وئې ويل: قسم په خدای چي تل مي د سورلۍ لټه کوله چي ستا مال درکړم؛ خو تر دې وړاندي چي راشم سورلۍ مي ونه موندله؛ هغه ورته وويل: آيا کوم څه دي ما ته رالېږلي دي؟ وئې ويل: زه درته وايم تر دې وړاندي چي راشم سورلۍ مي ونه موندله، هغه ورته وويل: يقيناً چي الله تعالی ستا له لوري هغه څه اداء کړل چي په لرگي کي دي لېږلي وو؛ نو له زرو دينارو سره برياली ستون شه.

دا روايت د بخاري په تعليقاتو کي شمېرل شوی؛ او د سند اتصال ئې د صحيح حديث په څېر يقيني نه دئ؛ نه يوازي د اتصال له پلوه ئې بخاري ډاډه نه دئ؛ بلکي غريب دئ؛ اما د محتوی له پلوه څو ستونزي لري:

- يو ځای وايي: پوروړي زر دينار له يوه ليك سره په لرگي کي کښېښودل او لرگی ئې سيند ته غوځار کړ؛ او همدا لرگی د پور ورکوونکي لاس ته ورغی؛ خو وروسته وايي: پوروړی له زر دينار سره د پور ورکوونکي کور ته ورغی؛ او هغه ورته وويل: آيا کوم څه دي ما ته رالېږلي دي؟ وئې ويل: زه درته وايم تر دې وړاندي چي راشم سورلۍ مي ونه موندله؛ هغه ورته وويل: يقيناً چي الله تعالی ستا له لوري هغه څه اداء کړل چي په لرگي کي دي لېږلي وو؛ نو هغه ورته ويلي: له زرو دينارو سره برياλی ستون شه.

لکه چي گورئ په روايت کي څرگند تناقض ليدل کېږي!

- د روايت مطالب داسي دي چي نه يوازي مسلمان مکلف نه دئ پرې عمل وکړي بلکي د قرض او پور په ارتباط د قرآن په هغو لارښوونو مکلف دئ چي وايي: د قرض ورکولو په مهال شاهد، کاتب او د شاهد او کاتب په نه شتون کي يو څه په رهن او گرو کي له پور اخيستونکی تر لاسه کړئ؛ لکه چي فرمايي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى فَاكْتُبُوهُ وَلْيَكْتُبْ بَيْنَكُمْ كَاتِبٌ بِالْعَدْلِ وَلا يَأْبَ كَاتِبٌ أَنْ يَكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ اللَّهُ فَلْيَكْتُبْ وَلْيُمْلِلِ الَّذِى عَلَيْهِ الْحَقُّ وَلْيَتَّقِ اللَّهَ رَبَّهُ وَلا يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْئًا فَإِنْ كَانَ الَّذِى عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيهًا أَوْ ضَعِيفًا أَوْ لا يَسْتَطِيعُ أَنْ يُمِلَّ هُوَ فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهُ بِالْعَدْلِ وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِنْ رِجَالِكُمْ فَإِنْ لَمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاءِ أَنْ تَضِلَّ إِحْدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَاهُمَا الأُخْرَى وَلا يَأْبَ الشُّهَدَاءُ إِذَا مَا دُعُوا وَلا تَسْأَمُوا أَنْ تَكْتُبُوهُ صَغِيرًا أَوْ كَبِيرًا إِلَى أَجَلِهِ ذَلِكُمْ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ وَأَقْوَمُ لِلشَّهَادَةِ وَأَدْنَى أَلا تَرْتَابُوا إِلا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِيرُونَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَلا تَكْتُبُوهَا وَأَشْهِدُوا إِذَا تَبَايَعْتُمْ وَلا يُضَارَّ كَاتِبٌ وَلا شَهِيدٌ وَإِنْ تَفْعَلُوا فَإِنَّهُ فُسُوقٌ بِكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَيُعَلِّمُكُمُ اللَّهُ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٨٢﴾ وَإِنْ كُنْتُمْ عَلَى سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُوا كَاتِبًا فَرِهَانٌ مَقْبُوضَةٌ فَإِنْ أَمِنَ بَعْضُكُمْ بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ الَّذِى اؤْتُمِنَ أَمَانَتَهُ وَلْيَتَّقِ اللَّهَ رَبَّهُ وَلا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ وَمَنْ يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٢٨٣﴾ البقرة

اې مؤمنانو! كله چي په خپلو کي تر يوې نېټې د پور راکړه ورکړه کوئ؛ نو وئې ليکئ؛ كوم ليکونکی دي هغه په عدل سره ستاسو تر منځ وليکي او ليکونکی دي له ليکلو ډډه نه کوي؛ لکه څنګه چي الله ورښودلي همغسي ئې بايد وليکي او هغه څوك دي املاء وکړي (د ليك مطلب دي په خوله بيان کړي) چي حق (پور) ورباندي دئ او له خپل رب دي ووېرېږي او هيڅ څه دي نه ترې کموي او كه هغه څوك چي حق

وربانديي دئ ناپوه يا ضعيف وو او يا ئې املاء نه شوی کولی؛ نو د ده ولي دي عادلانه اقرار وکړي او له خپلو نارينه وو د شهادت لپاره دوه شاهدان ونيسئ؛ خو که دوه سړي نه وو نو ستاسي د خوښي له شاهدانو دي يو سړی او دوه ښځي وي چي که له دوی دواړو يوې خبره هېره کړه؛ بله به ئې ور په ياد کړي او کله چي شاهدان (د شهادت لپاره) وبلل شي؛ ډډه دي نه کوي او په دې کي اهمال مه کوئ چي تر خپلي خاصي نېټې يو پور وليکئ؛ لږ وي که ډېر؛ دا (ليکل) مو د الله په نزد کي ډېر عادلانه دئ او د شهادت مضبوطوونکی او دې ته ډېر نژدې چي په خپلو کي شك ونکړئ؛ مگر دا چي هغه حضوري او مخامخ تجارت وي چي په خپلو کي ئې لاس په لاس کوئ؛ نو بيا پر تاسو د دې گناه نه شته چي وئې نه ليکئ او کله چي مو په خپلو کي بيع کوله نو شاهدان ونيسئ؛ نه به ليکونکي ته تاوان رسول کېږي او نه شاهد ته او که مو داسي وکړل نو دا به ستاسو فسق او گناه شمېرلی شي او له الله ووېرېږئ او الله خو تاسو ته ښوونه کوي او الله خو په هر څه ښه پوه دئ. او که په سفر کي وئ او کوم کاتب مو ونه موندو؛ نو بيا مقبوضه رهن (گرو تر لاسه کول) دي او که ستاسو ځينو ځيني نور امين وگڼل (او اعتبار ئې پرې وکړ) نو امين گڼل شوی دي د هغه امانت بېرته ورکړي او له خپل رب دي ووېرېږي؛ او شهادتونه مه پټوئ او چا چي پټ کړ نو بې شکه چي زړه ئې گنهگار دئ او الله په هر هغه څه ښه پوه دئ چي تاسو ئې کوئ.

يعني الله تعالى او دين ئې دا خوښوي چي د پور په ورکړه راکړه کي بايد ټول هغه ضروري تدابير مراعات شي چي د شخړو، لانجو، اختلاف، د يوه بل کړولو او د چا د حق تلف کېدو باعث کېږي، د پور مقدار او نېټه به ليکئ، املاء به د پوروړي له خوا وي، که هغه له دې عاجز وو؛ نو وکيل او ولي به ئې دا کار کوي، کاتب به ئې په دقت، احتياط او عدالت سره ليکي، د هيچا پلوي به نه کوي، شاهدان به په منځ کي وي، غوره دا ده چي دواړه شاهدان نارينه وي، خو که دا ممکنه نه وه نو د

طرفينو په موافقه دي يو نارينه او دوه ښځي غوره شي؛ دا هم يوازي د دې لپاره چي که يوه ښځه خبره هېره کړي بله ئې ورپه ياد کړي، که مخامخ او لاس په لاس تجارت وو نو شاهد ونيسئ، د دغو کارونو نه کولو ته قرآن د جناح (گناه) په سترگه کتلي؛ که د سفر حالت وو، نه کاتب وو او نه شاهد، نو رهن او گرو اخيستی شئ، خو که يوه پر بل باور وکړ او له رهن پرته ئې پور ورکړ، پوروړی دي له الله ووېرېږي او امانت دي په خپل وخت مسترد کړي.

دلته د رهن صورت بيان شوی، که په سفر کې، د کاتب د نشتوالي په صورت کې چا ته د پور ورکولو ضرورت احساس شو؛ که غواړئ قرض ورکړئ، له پوروړي کوم څه په امانت واخلئ؛ د تضمين لپاره، کله چي ئې پور اداء کړ؛ امانت ئې مسترد کړئ. دا د مالي معاملاتو په اړه يوه جامع الهي لارښوونه ده چي بايد مراعات شي؛ عدم مراعات ئې هم له الهي لارښوونو مخالف عمل او سر غړاوی دئ او هم د ډېرو لانجو، شخړو او زړه بداوي باعث؛ دومره چي انسان په خپلو ښېگڼو او احسان پښېمان کړي.

متأسفانه نن له دې جواز هم سود خورو د سود لپاره حيله جوړه کړې؛ په داسي حال کې چي رهن يو امانت دئ او له هغه گټه اخيستل جائز نه دي، له هغه گټه اخيستل سود ته ورته کار دئ، سود خور له دې همغه گټه تر لاسه کوي چي د نقدو پيسو په ورکولو ئې تر لاسه کوي؛ اوس په ډېرو هېوادونو کې بډايان زمکي اخلي، کورونه پرې جوړوي، په رهن ئې ورکوي، د کور تر اصلي قيمت په کمه بيع ئې هغه چا ته په رهن ورکړي چي په دې کور کې به اوسېږي او له کرايي به خلاص وي، د کور مالك دا د رهن په نامه تر لاسه کړی مبلغ د گټي په نورو مواردو کې په کار واچوي، دوه کورونه په رهن ورکړي او د رهن په پيسو ئې دريیم کور جوړ کړي او په دې سره هومره گټه تر لاسه کړي چي د سود له بلي معاملې ئې نه شي تر لاسه کولی. ډېر خلك له بانکونو په سود

پیسې اخلي او بیا کورونه پرې جوړوي او په رهن ئې ورکوي، په ایران کې د کورونو مالکان اکثراً د کرایه پر ځای خپل کورونه په رهن ورکوي؛ او داسي رهن په حقیقت کې حرام کار ته د حلال بڼه ورکول دي.

تاسو گورئ چي اسلام د قضایاوو په اړه څومره دقت کړی او څنگه ئې د هري معاملې ټول جوانب په پام کې نیولي او دقیقي لارښووني ئې کړې، دا لارښووني باید د مسلمانانو د ټولو فردي او اجتماعي مسائلو لپاره بنسټ وي او د همدې په رڼا کې خپل اجتماعي ژوند تنظیم کړي، که د پور او مخامخ بیع او تجارت په اړه د اسلام تأکید او دقت دومره وي نو د نورو سترو اجتماعي مسائلو په اړه به ئې غوښتني او لارښووني څنگه وي؟!

دا الهي لارښووني مؤمنانو ته شوې، هر مؤمن ئې باید د قرض، تجارت او رهن په اړه مراعات کړي؛ که ئې مراعات نه کړي؛ نو هم ئې له الهي لارښوونو مخالفت کړی او هم به ئې دا عدم مراعات ده او نورو ته ستونزي زېږوي؛ قرآن همدا د عدالت او قسط لپاره ضروري گڼي؛ او هم د دې لپاره چي په پور، تجارت او رهن کې د دوی تر منځ لانجې راولاړې نه شي؛ یوازي هغه مهال د شاهدانو، لیکلو، تضمین او رهن شرط منتفي گڼل شوی چي نه کاتب وي، نه شاهد او نه داسي څه چي له پور اخیستونکي د تضمین لپاره تر لاسه شي.

٤٧ باب: د گنج او زېرمي زکات پنځمه برخه ده

۷۵۷ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْعَجْمَاءُ جُبَارٌ، وَالْبِئْرُ جُبَارٌ، وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ، وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ». (بخاری: ۱٤۹۹)

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: بوده (څاروي) هدر دي (د څاروي په کړنو خاوند ئې نه نیول کېږي)، څاه هدر دئ (که څوك په هغه کې ولوېږي خاوند ئې نه مجازات کېږي)، کان هدر دئ (که څوك په هغه کې ولوېږي خاوند ئې

نه مجازات كېږي)؛ او په ګنج کې خمس (پنځمه ئې زكات) دئ.

تكرار: دا روايت په بخاري کې درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۲۳۵۵، ۶۹۱۲، ۶۹۱۳

توپير: په يوه کې الْعَجْمَاءُ جُبَارٌ، وَالْبِئْرُ جُبَارٌ، وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ، وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ په بل کې الْعَجْمَاءُ جُرْحُهَا جُبَارٌ، وَالْبِئْرُ جُبَارٌ، وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ، وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ په بل کې الْعَجْمَاءُ عَقْلُهَا (ديت ئې) جُبَارٌ، وَالْبِئْرُ جُبَارٌ، وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ، وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ راغلي، له دې توپيرونو معلومېږي چې پورتنی روايت په بشپړه توګه نه دئ راغلی او ځيني الفاظ ترې پاته شوي؛ په اوسنۍ بڼې کې واضح مطلب نه افاده کوي؛ د روايت مطلب دا دئ: كه د چا څاروی بل ته تاوان ورسوي، د چا په كوهي کې څوك ولوېږي يا د كيندلو پر مهال څوك په کې مړ يا ژوبل شي او يا د چا په كان کې څوك مړ يا ژوبل شي؛ خاوند ئې مجرم نه ګڼل كېږي او د ديت او تاوان په وركولو نه ګمارل كېږي. دا مطلب په هغه صورت کې تر لاسه كولی شو چې په دوهمي او درېيمي فقرو کې هم د لومړۍ فقرې په څېر جُرْحُه مقدر وګڼو.

د روايت د وروستۍ فقرې په اړه د فقهاءو تر منځ د اختلاف شاهد يو. په هغه ګنج او خزانه کې چې د چا په كور او زمكې کې وموندل شي؛ ځيني ئې زكات خمس (پنځمه) بولي او ځيني ئې د زمكې د خاوند مال بولي او زكات ئې ۲٫۵ %.

په دې اړه امام بخاري او استادانو ئې پر امام ابو حنيفه او احنافو سختي نيوكې كړې؛ نيوکې ئې هم داسي نه دي لكه د اختلاف رأی په صورت کې يو د بل رأی او نظر په دلائلو او برهان او حجت سره ردول؛ د امام بخاري يو استاد او مرجع؛ د امام ابو حنيفه په ارتباط داسي الفاظ كارولي چې نه يوازي له يوه عالم سره نه ښايي؛ بلكي هر مسلمان او شريف انسان بايد ترې ډډه وكړي. كله ئې هغه د حديث منكر ګڼلی، كله ئې اهل الرأی يعني رأی ته پر حديث ترجيح وركوونكی؛ او دې ته

ورته تورونه؛ حتى په دوى كې داسې هم شته چې هغه ئې تكفير كړى!!

له امام ابو حنيفه رحمه الله سره د ځينو اختلاف دوه اساسي وجوهات لري؛ د ډېرو پر ثانوي اختلافاتو سربېره؛ لكه د عرب او عجم نژادي تعصبات؛ اساسي ئې دا دوه دي: ١- امام ابو حنيفه د رواياتو د صحت لپاره سخت شرائط وضع كړي؛ يوازې د راويانو ثقه والى ئې كافي نه دئ ګڼلى؛ غريب او آحاد روايات په هغه صورت كې د منلو وړ ګڼي چې په قرآن كې شاهد ولري؛ دا اصولي او پر احتياط مبتني تګلاره هغه ناپوهان نه خوښوي چې قرآن ته د روايت راجع كول ضروري نه ګڼي او هر هغه روايت مني چې د خپلو خاصو معيارونو له مخې ئې راويان ثقه او معتبر ګڼلي؛ او دوى ته منسوب شوى هر روايت صحيح او معتبر بولي؛ كه څه هم په قرآن كې هيڅ شاهد ونه لري او له نورو صحيح راوياتو سره هم تعارض ولري؛ بخاري له داسې رواياتو ډك دئ؛ اكثر مكرر روايات ئې همداسې دي. موږ او تاسو د دې درسونو په دوران كې په لسګونو همداسې روايات وليدل. ٢- د ځينو نورو مخالفت له دې كبله وو چې دى د اموي او عباسي دور د ظالمو او جابرو حكامو مخالف او د هغوى تر ستم لاندې وو او د هغو ملاتړ او حمايت ئې كولو او خپلو پلويانو او شاګردانو ته ئې سپارښتنه كوله چې د هغوى مرسته او ملګرتيا وكړي چې د دغو ظالمو امراءو او سلاطينو خلاف په جهاد بوخت ول؛ د امام ابو حنيفه مخالفين د درباروُنو مدافعين او مفتيان ول؛ له ده سره ئې مخالفت سياسي وو نه علمي او مذهبي؛ إن شاء الله په مناسب وخت كې به په دې اړه تفصيلي بحث كوو.

موږ په افغانستان كې هم د دې شاهد يو چې په عربي هيوادو پورې تړلې ډلې؛ د هغوى په وينا كله له يوه سره يو ځاى شوې او كله له بل سره؛ يو مهال د كابل له هغه ائتلافي حكومت سره ودرېدل چې د كمونستانو د حكومت له نسكورېدو وروسته؛ د هغې ائتلافي جبهې له لورې جوړ شو چې سي آى اې او كې جي بي له كمونستانو، غربپالو،

منافقينو او په عربي هېوادو پوري تړلو ډلو رامنځته کړه؛ امریکا او روسيې ئې مرسته کوله، وسلې او نظامي تجهیزات ئې ورته رالېږل، افغانی ئې ورته چاپولې او د افغانستان سفارتونه ئې د دوی په واك کې پرېښي وو؛ کله چې همدغو عربي هېوادونو د طالبانو حکومت تأییدولو؛ دا ډلې له دوی سره ودرېدلې؛ خو له هغه وروسته چې امارت اسلامي د اسامه بن لادن له سپارلو ډډه وکړه؛ نو د نظام له مخالفینو سره یو ځای شول؛ او بیا د اشغال په دوران کې د امریکایي حکومتونو په خوا کې ولاړ او په حکومت کې شریك ول.

**٤٨ باب: د الله تعالی دا قول: (...وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا...) التوبة ٦٠ او د زكات راغونډوونکو محاسبه له امام سره**

٧٥٨ - عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ رضى الله عنه قَالَ: اسْتَعْمَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلاً مِنَ الأَسْدِ عَلَى صَدَقَاتِ بَنِي سُلَيْمٍ، يُدْعَى ابْنَ اللُّتْبِيَّةِ، فَلَمَّا جَاءَ حَاسَبَهُ. (بخاری:۱۵۰۰)

٧٦٤- له ابو حمید ساعدي روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم د اَسْد قبیلې یوه سړي ته چې نوم ئې ابن لُتْبِيَّه وو د بني سُلَیم قبیلې زکات راټولولو دنده وسپارله او کله چې ئې زکات راټول کړ او راغی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم محاسبه ورسره وکړه.

تکرار: دا روایت په بخاري کې پنځه ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی: ۹۲۵، ۲۵۹۷، ٦٦٣٦، ٦٩٧٩، ٧١٧٤، د اکثرو راویان ئې په دریو طبقو کې دا دي: زهْرِی، عُرْوَةَ او أَبُو حُمَيْد السَّاعِدِی؛ د إسنادو له پلوه غریب دئ.

توپیرونه: لکه چې گورئ په دې روایاتو کې ډېر توپیرونه لیدل کېږي؛ په یوه کې اسْتَعْمَلَ ابْنَ الأُتَبِيَّةِ عَلَى صَدَقَاتِ بَنِي سُلَيْمٍ په بل کې اسْتَعْمَلَ رَجُلاً مِنْ بَنِی أَسْدٍ يُقَالُ لَهُ ابْنُ الأُتَبِيَّةِ په بل کې اسْتَعْمَلَ رَجُلًا مِنَ الأَزْدِ،

يُقَالُ لَهُ ابْنُ الأُتْبِيَّةِ عَلَى الصَّدَقَةِ، په يوه كي فَهَلَّا جَلَسْتَ فِي بَيْتِ أَبِيكَ، وَبَيْتِ أُمِّكَ حَتَّى تَأْتِيَكَ هَدِيَّتُكَ إِنْ كُنْتَ صَادِقًا په بل كي فَهَلَّا جَلَسَ فِي بَيْتِ أَبِيهِ، وَبَيْتِ أُمِّهِ حَتَّى تَأْتِيَهُ هَدِيَّتُهُ إِنْ كَانَ صَادِقًا، په يوه كي ثُمَّ رَفَعَ بِيَدِهِ حَتَّى رَأَيْنَا عُفْرَةَ إِبْطَيْهِ؛ په بل كي رَفَعَ يَدَهُ، حَتَّى إِنَّا لَنَنْظُرُ إِلَى عُفْرَةِ إِبْطَيْهِ (د تخرگ سپينوالى)، په بل كي ثُمَّ رَفَعَ يَدَهُ حَتَّى رُئِيَ بَيَاضُ إِبْطِهِ، په بل كي رَفَعَ يَدَهُ حَتَّى إِنَّا لَنَنْظُرُ إِلَى عُفْرَةِ إِبْطَيْهِ، په بل كي ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى رَأَيْنَا عُفْرَتَيْ إِبْطَيْهِ، په بل كي ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى رَأَيْتُ بَيَاضَ إِبْطَيْهِ او دې ته ورته نور توپيرونه ليدل كېږي.

په پورتني روايت كي دا برخه نه ده راغلې چي رسول الله صلى الله عليه و سلم پر منبر دا خبره كړې او په پاى كي ئې لاسونه دومره لوړ كړي چي تخرگونه ئې ليدل شوي او وئې فرمايل: أَلاَ هَلْ بَلَّغْتُ پام چي آيا خبره مي ورسوله؟ يا ئې داسي وفرمايل: اللَّهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ: بارئ ربه! آيا ما خبره ورسوله؟

## ٤٩ باب: امام د زكات اوښان په نښه كوي

٧٦٥- عن أَنَس بنِ مَالِكٍ رَضِى الله تَعَالَى عنهُ. قَالَ غَدَوْتُ إِلَى رسولِ الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم بِعَبْدِ الله بنِ أَبى طَلْحَة لِيُحنكَهُ فَوَافَيْتُهُ فِى يَدِهِ المِيسَمُ يَسِمُ إِبِلَ الصَّدَقَةِ.

بخارى: ١٥٠٢

٧٦٥- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: عبدالله بن ابي طلحه رضي الله عنه مي سبايي رسول الله ته يووړ چي د تبرک لپاره ئې په تالو خرما ورموښي؛ نو په داسي حال كي مي وليد چي په لاس كي ئې يو اوسپنيز سيخ وو او د زكات اوښان ئې پرې په نښه كول.

تكرار: دا روايت په بخاري كي همدا يو ځل راغلى. غريب دئ؛ له بخاري پرته په بل هيڅ مهم او معروف كتاب كي نه دئ راوړل شوى؛ كه څه هم شرح السنة للبغوي كي ويل شوي چي په صحيح مسلم كي هم راغلى؛ خو ما په كي ونه موندلو؛ الشامله د دې روايت هيڅ برخه په

صحیح مسلم کې ونه ښودله؛ نه دا برخه چې عَبْدِ الله بنِ أبِي طَلْحَة د دې لپاره په ماشومتوب کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وړل شوی چې په تالو خرما وروموښي او نه دا چې په داغ شوي سیخ ئې د زکات اوښان په نښه کول؛ په داغ شوي سیخ د حیوان داسي داغل چې پوستکی ئې وسوزېږي او هغه درد احساس کړي د رسول الله صلی الله علیه و سلم له نورو لارښوونو سره مغایرت لري؛ اما که داسي وي چې یوازي وړیه ئې وسوزوي بیا مانع نه لري؛ خو په روایت کې د دې وضاحت نه دئ شوی.

په صحیح مسلم کې د اسماء بنت ابوبکر رضي الله عنهما په اړه راغلي چې خپل زوی عبد الله بن زبیر ئې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وروړ چې خرما ئې په تالو وروموښي؛ نو هغه ئې واخیست او په خپلي غېږ کې ئې ونیولو او بیا ئې خرما راوغوښتله: (لِيُحَنِّكَهُ «فَأَخَذَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهَا، فَوَضَعَهُ فِي حَجْرِهِ، ثُمَّ دَعَا بِتَمْرَةٍ». خو دا روایت هم د سند له مخي داسي دئ چې په درېیمي طبقې کې هِشَام بْن عُرْوَةَ، له عُرْوَة بْن الزُّبَيْرِ او فَاطِمَة بِنْت الْمُنْذِرِ بْنِ الزُّبَيْرِ، اورېدلي خو دا نه دي ویل شوي چې دوی دواړو دا خبره له چا اورېدلې؛ د متن له پلوه دا ستونزه لري چې په روایت کې ویل شوي: بیا اسماء رضي الله عنها خپل زوی هغه مهال رسول الله صلی الله علیه و سلم ته راوست چې ۷- ۸ کلن وو او بیعت ئې ورسره وکړ؛ او دا له هغه روایت سره اړخ نه لګوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د ماشوم بیعت کول نه دي منلي.

کوم روایت چې ورپسې زموږ مخي ته راځي په تجرید الصریح کې نه دئ راوړل شوی:

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ نَاسًا مِنْ عُرَيْنَةَ اجْتَوَوْا المَدِينَةَ «فَرَخَّصَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَأْتُوا إِبِلَ الصَّدَقَةِ، فَيَشْرَبُوا مِنْ أَلْبَانِهَا، وَأَبْوَالِهَا»، فَقَتَلُوا

الرَّاعِيَ، وَاسْتَاقُوا الذَّوْدَ، فَأَرْسَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأُتِيَ بِهِمْ، فَقَطَّعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ، وَسَمَرَ أَعْيُنَهُمْ، وَتَرَكَهُمْ بِالحَرَّةِ يَعَضُّونَ الحِجَارَةَ تَابَعَهُ أَبُو قِلاَبَةَ، وَحُمَيْدٌ، وَثَابِتٌ، عَنْ أَنَسٍ. بخارى: ١٥٠١

له انس رضي الله عنه روايت دئ چي د عرينه قبيلې ځينو خلكو له دې كركه وښوده چي په مدينه كې پاته شي؛ (رسول الله صلى الله عليه و سلم اجازه وركړه چي د زكات اوښانو څرځاى ته ولاړ شي او شيدې او بولې ئې وڅښي)؛ خو هغوى شپون ووژلو او اوښان ئې په مخه كړل؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم (يو ټولگى پسي) ولېږلو او هغوى ئې راوستل؛ نو د هغوى لاس او پښې ئې پرې كړل، سترگي ئې په سرو ميخونو وداغلې او له تودو ډبرو ډك ډاگ كې ئې داسي پرېښودل چي (له تندي ئې) په ډبرو خولې لگولې؛ بخاري وايي چي ابو قِلابه، حُمَيد او ثابت له انس هم د دغه راوي متابعت كړى.

دا روايت په بخاري كې ٤ ځلي په دغو شمېرو راغلى: ١٥٠١، ٤١٩٢، ٥٦٨٦، ٥٧٢٧، غريب دئ؛ په صحابه وو كې يو راوي أنس رضي الله عنه او په تابعينو كې دوه راويان لري چي قتاده او أبو قِلَابَةَ دي؛

په سنن ابن ماجه كې په دې صيغه راغلى:

٢٥٧٨ - عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ أُنَاسًا مِنْ عُرَيْنَةَ قَدِمُوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاجْتَوَوْا الْمَدِينَةَ، فَقَالَ: «لَوْ خَرَجْتُمْ إِلَى ذَوْدٍ لَنَا، فَشَرِبْتُمْ مِنْ أَلْبَانِهَا وَأَبْوَالِهَا» فَفَعَلُوا. فَارْتَدُّوا عَنِ الْإِسْلَامِ، وَقَتَلُوا رَاعِيَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَاسْتَاقُوا ذَوْدَهُ، فَبَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ فِي طَلَبِهِمْ، فَجِيءَ بِهِمْ، فَقَطَعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ وَسَمَرَ أَعْيُنَهُمْ وَتَرَكَهُمْ بِالْحَرَّةِ حَتَّى مَاتُوا

له انس رضي الله عنه روايت دئ چي د عرينه قبيلې ځيني خلك رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغلل؛ نو له مدينې ئې كركه وښوده؛ وئې فرمايل:؛ (ښه به وي كه زموږ د اوښانو خوا ته ووځئ او شيدې او بولې

ئې وځښېٔ)؛ نو همداسي ئې وکړل؛ نو له اسلام مرتد شول، د رسول الله صلی الله علیه و سلم شپون ئې ووژلو او د هغه اوښان ئې په مخه کړل؛ رسول الله (یو ټولګی) د هغوی په موندلو او نیولو پسي ولېږو او هغوی ئې راوستل؛ نو د هغوی لاس او پښې ئې پرې کړل، سترګي ئې په سرو میخونو وداغلې او له تودو ډېرو ډك ډاګ کي ئې تر هغه پرېښودل چي مړه شول.

په معجم الاوسط کي دا هم په روایت کي مومو چي ویل شوي: کله چي دوی روغ شول؛ او له دې معلومېږي د عُرَینَه قبیلي دا خلك د بېمارۍ له کبله د اوښانو څرځای ته لېږل شوي وو.

د دې روایت په اړه باید دا مطالب په پام کي ولرو:

- غریب دیٔ په صحابه وو کي یو او په تابعینو کي دوه راویان لري.
- تجرید الصریح چي یوازي د بخاري غیر مکرر روایات ئې راوړي؛ دا روایت ئې نه دیٔ راوړی، معلومېږي چي قصداً او ځکه ئې نه دیٔ راوړی چي یا ئې إسناد ورته معتبر نه دي برېښېدلي او یا ئې متن. نورو کتابونو د مسلم، ابوداؤد او ترمذي په شمول هم ښایي له همدې کبله د راوړلو وړ نه دیٔ ګڼلی.
- رسول الله صلی الله علیه و سلم ته داسي څه منسوب شوي چي هم د قرآن خلاف دي او هم د رسول الله د وینا او عمل خلاف.
- د ټولو ژوو بولي ناپاکي او حرامي دي؛ که په جامه توی شي لمونځ ورسره نه کېږي او که پر زمکي توی شوې وي پر هغه زمکه لمونځ صحیح نه دیٔ؛ خاوره ئې د تیمم لپاره هم روا نه ده. څښل ئې حرام دي؛ دا ځکه چي مضر، پلیت او کرکجني دي؛ د ژوو بدن ئې ځکه طرح کوي چي د انسان صحت ته تاوان لري، که په بدن کي پاته شي او وتل ئې بند شي انسان وژني؛ قرآن تاواني شیان حرام کړي.
- اسلام سزاګاني ښودلې؛ په دې سزاګانو کي نه سوزول شته او نه په سره مېخ او سیخ د چا بدن او سترګي داغل شته؛ د محارب دښمن د مړو

مثله کول، لاس پښې، غوږ، پزه پرې کول نه شته؛ که چا غلا کړې وي لاس ئې له بند قطع کېږي، قاتل د مقتول د ورثه په غوښتنه وژل کېږي، قطاع الطريق؛ د لارو شوکماران؛ که يوازې مال لوټ کړي؛ لاس ئې قطع کېږي، که ئې ځوك ووژلو؛ قصاص کېږي، که ئې د غلا تر څنگ ځوك ووژلو؛ له وژلو وروسته د خلکو د عبرت لپاره پانسۍ کېږي؛ که ئې شوکې کړې وې نو لاس او پښه ئې په خلاف د يوه بل قطع کېږي؛ که مسلمان وو او د حکومت په خلاف ئې وسله وال بغاوت کړی وو؛ د هغوی خلاف تر هغه جنگ جائز دئ چې له بغاوت لاس واخلي؛ که ئې لاس واخيست په مخکيني جرم نه مواخذه کېږي؛ که د جنگ له ميدان وتښتېدو؛ نو نه به تعقيب کېږي؛ زخمي به ئې نه وژل کېږي، مړي به ئې نه مثله کېږي، مال او وسلې به ئې غنيمت نه گڼل کېږي، هر څه به ئې د کورنۍ غړو ته سپارل کېږي، ځوك حق نه لري د هغوی کورونو ته ننوځي؛ که څه هم مېرمني ئې د بام له سر مجاهدين په ډبرو ولي او ښکنځلي ورته کوي!!

• قرآن په صريح توگه او پرېکنده الفاظو فرمايي: له هغو سره وجنگېږي چې ستاسو خلاف جنگېږي؛ خو تېری مه کوئ چې الله تعالی تېري کوونکي نه خوښوي؛ په تېري کې دغه ټول شيان شامل دي.

د بخاري د ځينو رواياتو په پای کې دا راغلي: قَالَ قَتَادَةُ: فَحَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ سِيرِينَ: «أَنَّ ذَلِكَ كَانَ قَبْلَ أَنْ تَنْزِلَ الحُدُودُ»: قتاده ويلي: ما ته محمد بن سيرين ويلي: (دا د حدودو تر نازلېدو وړاندې وو)، د ځينو نورو په پای کې دا راغلي (بَعْدَ ذَلِكَ كَانَ يَنْهَى عَنِ الْمُثْلَةِ: تر دې وروسته به ئې له مثله کولو ممانعت کولو). يعني دا کار يو ځل شوی او هغه هم د حدودو تر نازلېدو مخکې؛ او وروسته بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم رسول الله له مثله کولو او داسې سزاگانو چې په دې روايت کې راغلي ممانعت کړی!

دغو مطالبو ته په پام سره ويلی شو چې دا روايت قطعاً د اعتبار وړ

نه دئ. خو متأسفانه ځيني کمعلمه افراد د دغسي رواياتو تر اغېز لاندي او د همدغو رواياتو په استناد؛ هر وحشت جائز ګڼي؛ پر خپلو مخکينيو ملګرو هم رحم نه کوي؛ نيسي ئې، لاس، پښې او سترګي ئې ورتړي، پر ېمونو ئې کښېنوي او منفجروي ئې؛ سرونه ئې ترې غوڅوي او د تيرو له پاسه ئې ږدي، په جوماتونو کي؛ د لمانځه، د قرآن تفسير، د حديث درسونو په جريان کي وحشيانه چاودني کوي، د بې ګناه او غير محارب خلکو د ګڼي ګوڼي او حتى د جنازو لمونځونو په ځای کي چاودني کوي.

موږ دوست او دښمن ته وايو: زموږ په دين کي؛ د مهربان رب له لوري رالېږل شوي دين کي؛ هغه چي پيغمبر ئې رحمة للعالمين دئ؛ داسي وحشيانه او بې رحمانه وژني نه شته؛ موږ د هر انسان په نسبت په خپل زړه کي ترحم او زړه سوی لرو؛ د کافر له عمل کرکه لرو نه د هغه له انساني ذات؛ زموږ پيغمبر عليه السلام وايي: د حيوان په ذبح کولو کي هم د مهربانۍ او زړه سوي طريقه غوره کړئ.

## ۲۵ کتاب- د فطر صدقه

### ۱ باب: د فطر صدقې وجوب

۷٦۷- عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: «كُنَّا نُخْرِجُ زَكَاةَ الفِطْرِ صَاعًا مِنْ طَعَامٍ، أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ، أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ، أَوْ صَاعًا مِنْ أَقِطٍ، أَوْ صَاعًا مِنْ زَبِيبٍ»

بخاری: ۱۵۰٦

۷٦۷- له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: موږ به (د رسول الله صلى الله عليه و سلم په زمانه کي) د واړه اختر صدقه يوه صاع خواړه ورکول، يا يوه صاع وربشي، يا يوه صاع خرما، يا يوه صاع کورت او يا يوه صاع مميز.

په دې روايت کې دا خوراکي توکي برابر ګڼل شوي: طعام چې مراد ئې غنم دي؛ وربشي، خرما، کورت او مميز؛ او د ټولو صدقه يو صاع؛ اما په نورو کې بيا دا مومو چې غنم نيم صاع (نژدې دوه کيلو) او نور يو صاع دي.

په دې کې د يوه تن ورځنى خوراك مراد دئ؛ نه جنس؛ د اجناسو بيه؛ له يوه جنس تر بل او له يوې سيمي تر بلي فرق کوي؛ چېري چې خرما زياته او غنم لږ کرل کېږي؛ د کجورو ارزښت تر غنمو لږ وي.

## ۲ باب: د فطر صدقې ورکړه د عيد تر لمانځه مخکي وي

۷٦٦ - عنِ ابنِ عُمَرَ رَضِى الله تَعَالَى عَنْهُمَا. قَالَ فَرَضَ رسولُ الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم زَكَاةَ الفِطْرِ صَاعا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعا مِنْ شَعِيرٍ عَلَى العَبْدِ وَالحُرِّ وَالذَّكَرِ وَالأُنْثَى وَالصَّغِيرِ وَالكَبِيرِ مِنَ المُسْلِمِينَ وَأَمَرَ بِهَا أَنْ تُؤَدَّى قَبْلَ خُرُوجِ النَّاسِ إِلَى الصَّلَاةِ.

بخاری: ۱۵۰۳

۷٦٦- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د فطر صدقه يوه صاع خرما، يا يوه صاع وربشي پر هر مسلمان؛ غلام او آزاد؛ نارينه او ښځي، واړه او لوى؛ فرض کړې او امر ئې کړى چې بايد د عيد لمانځه ته د خلکو تر وتلو وړاندي ورکړى شي.

تکرار: دا روايت په بخاري کې درې ځلي په دغو شمېرو راغلى: ۱۵۰۳، ۱۵۰٤ او ۱۵۰٦

توپيرونه: په يوه کې داسي ويل شوي: فَرَضَ زَكَاةَ الفِطْرِ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ؛ او صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ عَلَى كُلِّ حُرٍّ؛ او عَبْدٍ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى مِنَ المُسْلِمِينَ؛ په بل کې د صغير او کبير يادونه نه ده شوې، په بل کې كُنَّا نُخْرِجُ زَكَاةَ الفِطْرِ صَاعًا مِن طَعَامٍ، أَوْ صَاعًا مِن شَعِيرٍ، أَوْ صَاعًا مِن تَمْرٍ، أَوْ صَاعًا مِن أَقِطٍ، أَوْ صَاعًا مِن زَبِيبٍ»

٣ باب: د فطر صدقه پر آزاد او غلام دواړو لازمه ده

٧٦٨- عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَقَةَ الفِطْرِ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ؛ او صَاعًا مِنْ تَمْرٍ عَلَى الصَّغِيرِ وَالكَبِيرِ، وَالحُرِّ وَالمَمْلُوكِ» بخاری: ١٥١٢

٧٦٨- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د فطر صدقه يوه صاع وربشي يا يوه صاع خرما په هر واړه او لوی آزاد او غلام فرض کړې ده.

## ٢٦ کتاب - حج

١ باب: د حج فرضيت او فضيلت

وَقَوْلِ اللَّهِ: {وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ البَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا، وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ العَالَمِينَ} [آل عمران: ٩٧]

٧٦٩- عنْ عَبْدِ الله بنِ عَبَّاسٍ رَضِی الله عَنْهُمَا؛ قَالَ كانَ الفَضْلُ رَدِيفَ النبيِّ صَلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ، فَجَاءَتِ امْرَأَةٌ مِن خَثْعَمَ، فَجَعَلَ الفَضْلُ يَنْظُرُ إِلَيْهَا وتَنْظُرُ إِلَيْهِ، فَجَعَلَ النبيُّ صَلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ يَصْرِفُ وجْهَ الفَضْلِ إلى الشِّقِّ الآخَرِ، فَقالَتْ: إنَّ فَرِيضَةَ اللَّهِ أَدْرَكَتْ أَبِي شيخًا كَبِيرًا لا يَثْبُتُ عَلَى الرَّاحِلَةِ، أَفَأَحُجُّ عنْه؟ قالَ: نَعَمْ وذلكَ فی حَجَّةِ الوَدَاعِ. بخاری: ٣١٥١

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: په داسي حال کي چي فضل بن عباس د رسول الله صلى الله عليه و سلم تر شا وو؛ د خثعم قبيلې يوه مېرمن راغله؛ فضل هغې ته کتل او هغې فضل ته؛ رسول الله

صلی الله علیه و سلم د فضل مخ بل لوري ته واړاوو؛ مېرمني وویل: یا رسول الله! د حج فریضې په داسي حال کي زما پلار وموند چي زیات زوړ شوی؛ نه شي کولی پر سورلۍ سم تم شي؛ آیا زه ئې پر ځای حج وکړم؟ وئې فرمایل: هو؛ او دا د حجة الوداع په کال کي وو.

دا روایت په بخاري کي ۵ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۱۳ – ۱۸۵٤- ۱۸۵۵- ٤۳۹۹- ٦۲۲۸

له دې روایت څو اساسي مطالب تر لاسه کولی شو:

- د مېرمني مخ لوڅ وو؛ فضل بن عباس ورته کتل؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغه مخ بل لوري ته اړولی. او دا ښیي چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم په زمانه کي به حتی په حج کي هم د مېرمنو مخونه لوڅ وو؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم د مخ په پټولو نه دي ګمارلې.
- دا پېښه هم د رسول الله صلی الله علیه و سلم د عمر په پای او حجة الوداع کي رامنځته شوې؛ یعني داسي وخت کي چي په کوم بل روایت ئې تغییر محتمل نه دئ؛ یعني مېرمني د رسول الله صلی الله علیه و سلم په ټوله زمانه کي همداسي وې؛ له روایت معلومېږي چي مېرمنه هم له مخ پېژندل شوې او هم دا چي نوم ئې څه وو او د کومي قبیلې وه.
- رسول الله صلی الله علیه و سلم په اوښي سپور وو، فضل بن عباس ئې تر شا، دغي مېرمني ودرولی او دا پوښتنه ئې ترې کړې.
- رسول الله صلی الله علیه و سلم د پوښتني په ځواب کي هغې ته ویلي: ته کولی شې د خپل بوډا او معذور پلار په ځای حج وکړي.

پورتنی روایت چي د مُسند احمد، بخاري، مسلم، سنن أبي داؤد، سنن النسائي، سنن الترمذي، المعجم الکبیر للطبراني او سنن الدارمي؛ په څېر مهمو کتابونو راوړی ښیي چي که د مېرمنو مخ پټول ضروري وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به د خلکو په وړاندي د دې مېرمني

د لوڅ مخ په اړه سکوت نه کولو او حتماً به ئې هغه د مخ پر پټولو ګمارلې وه؛ او که ئې مخ پټ وو نو ابن عباس به نه وه پېژندلې چې دا ښایسته وه. دا د ابن حزم او د الباني په شمول د نورو محققینو استدلال دئ.

- او دا روایت چې وایي: مېرمني به په حج کې مخ او لاسونه نه پټوي؛ د حدیث ټولو مهمو او معروفو کتابونو لکه مسند احمد، بخاري، مسلم، سنن أبي داؤد، سنن النسائي، سنن ابن ماجه، سنن الترمذي، موطأ مالك، السنن الکبری للبیهقي، المعجم الاوسط، الشرح السنة للبغوي، صحیح ابن خزیمه او مسند ابي عوانه راوړی؛ په څرګنده او واضح توګه ښیي چې د مېرمني مخ او لاسونه په عوراتو کې شامل نه دي.
- دوی وایي: له دې ثابتېږي چې د مېرمنو د مخ څرګندېدا عورت (د عار او پېغور خبره) نه ده او پټول ئې لازمي نه دي؛ نه په لمانځه کې او نه له لمانځه بهر؛ او همدا د اکثر علماءو رأیه او وینا ده؛ او همدا د څلورو ائمه وو؛ أبو حنیفة، مالك، شافعي او احمد بن حنبل رحمهم الله مذهب دئ.

باید دې ته متوجه وو چې له مخ مراد هغه برخه ده چې په اوداسه کې مینځل کېږي؛ غوږونه، غاړه، د سر وېښتان په کې شامل نه دي؛ او له لاسونو مراد له بند لاندي تر ګوتو پوري او له پښې مراد له بېږیو لاندي د ګوتو تر سرونو پوري دي.

امام بخاري دا روایت د (وُجوبِ الحَجِّ وَفَضْلِهِ) تر عنوان لاندي راوړی؛ خو په روایت کې د حج د فرضیت او فضیلت په اړه هیڅ څه نه دي ویل شوي؛ اما قرآن په دې اړه فرمایي:

إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِى بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿٩٦﴾ فِيهِ ءَايَٰتٌۢ بَيِّنَٰتٌ مَّقَامُ إِبْرَٰهِيمَ ۖ وَمَن دَخَلَهُۥ كَانَ ءَامِنًا ۗ وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلْبَيْتِ مَنِ ٱسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ۚ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِىٌّ عَنِ ٱلْعَٰلَمِينَ

﴿٩٧﴾ آل عمران

يقينا لومړی کور چې د خلکو لپاره وضع شوی همغه دئ چې په مکه کې دئ؛ مبارك او د نړۍ والو لارښود. په هغه کې څرګندې نښې دي؛ د ابراهيم د ودرېدو ځای او څوك چې ورننوځي خوندي وي او د خلکو پر هغه چا ئې د الله لپاره حج کول لازم شوي چې د لارې په موندو وتوانېږي او چا چې کفر وکړ نو الله له نړۍ والو بې نياز دئ.

دا مبارك آيتونه څو لارښووني زموږ مخې ته ږدي:

• د مکې مکرمې دا کور؛ بيت الله؛ دا د ابراهيم او اسمعيل عليهما السلام په لاسونو جوړ شوی مبارك کور؛ لومړی کور دئ چې الله تعالی د خلکو لپاره غوره کړی؛ د عبادت لپاره او د قبلې په توګه؛ د الله تعالی له لوري او د هغه په حکم جوړ شوی.

• د دې خبرې د اثبات لپاره چې دا د الله له لوري وضع شوی لومړی کور دئ؛ څو دلائل وړاندې شوي:

۱- هلته د ابراهيم عليه السلام د اقامت ځای دئ، هلته د ابراهيم عليه السلام او د اسمعيل عليه السلام اولاد مېشت شوي، هلته د بنو اسمعيل شتون د دې څرګنده نښه ده چې دا کور د ابراهيم او اسمعيل عليهما السلام په لاسونو جوړ شوی، ټول عرب په دې متفق دي چې دا کور د دوی په لاس جوړ شوی. ځيني مفسرين؛ (مقام ابراهيم)؛ هغه تيږه بولي چې د دوو پښو نښه په کې ليدل کېږي او دا د ابراهيم عليه السلام د پښو نښې ګڼي؛ کېدی شي همداسې وي؛ خو د پښو په دې نښو سره دا ثابتول او مخالف پرې قانع کول ګران کار دئ چې کعبه د زمکې پر سر لومړی الهی کور دئ. اما مخکينی تعبير او دا چې له (مقام ابراهيم)؛ د ابراهيم عليه السلام او د ده د اولاد؛ بنو اسمعيل د اقامت سيمه او مېشت ځای مراد دئ؛ د هر هغه مخالف شك او اعتراض ته مقنع او پرېکنده ځواب وايي چې له دې پرته بله خبره کوي. يهودانو او

مسیحیانو ته هم؛ تاسو پوهېږئ چي ابراهیم علیه السلام تر موسی او عیسی علیهما السلام ډېر د مخه تېر شوی. په فلسطین کي د دوی دواړو قبله (بیت المقدس) تر کعبې ډېره وروسته جوړه شوې.

۲- ټول عرب قبائل د دې کور احترام کوي؛ هر کال به ئې د دې حج کولو، د حج په میاشتو کي به په حجاز کي امن او امان وو؛ هومره درناوی او احترام چي کله به څوك د دې کور په حریم کي داخل شو نو هغه له هر راز نیوني او مؤاخذې مصون وو، که به چا د خپل پلار قاتل هم هلته موند نو د دې کور د درناوي لپاره به ئې هلته او د حج په میاشتو کي انتقام نه اخیستلو؛ او دا د کعبې له جوړېدو تر نن پوري.

۳- ګورئ چي له پېړیو پېړیو رادې خوا خلك د الله لپاره د دې کور په خوا کي د حج مناسك تر سره کوي. دا لړۍ د ابراهیم علیه السلام له زمانې او له هغي ورځي چي کعبه د ده او د ده د زوی اسمعیل علیهما السلام په لاسونو جوړه شوه؛ په تېرو نژدې څلور نیم زرو کلونو کي د نړۍ له ګوټ ګوټ مؤمنان د حج لپاره دلته راتلل او د دې کور طوافونه ئې کول.

٤- ډېر خلك د دې کور په نسبت کافران شوي او د هغه د هتك حرمت او اعتبار ختمولو او حتی ورانولو لپاره ئې هڅي کړې، ابرهه ئې یو مثال دئ؛ خو الله تعالی په خپله د دې کور حفاظت کړی او له دې کور په دفاع او حفاظت کي ئې خپله استغنیٰ له ټولو عالمیانو په وار وار ثابته کړې. پر مکه د ابرهه یرغل د رسول الله صلی الله علیه و سلم له رسالت وړاندي شوی؛ هغه مهال عبدالمطلب د رسول الله صلی الله علیه و سلم نیکه د قریشو مشري کوله؛ تفصیلات ئې د عربانو په ټولو معتبرو تاریخونو کي راغلي. په تاریخونو، قصو، قصیدو او شعرونو کي د دې برید د تفصیلاتو تر څنګ د أَبُو رِغَال نومي کس یادونه هم شوې چي د طائف اوسېدونکو له ابرهه سره لېږلی وو چي د کعبې لار وروښيي؛ په لار کي مړ او هملته دفن شو؛ هر عرب چي به په هغه لار تګ راتګ کولو نو

د ده قبر به ئې په ډېرو ويشتلو؛ دومره ډېري پرې وورېدې چي د ډېرو غونډۍ پرې جوړه شوه.

مورږ هم ډېر ابو رغالان لرو؛ هغه چي جرم ئې د عربو تر ابو رغال ډېر ستر او قبيح دئ؛ اشغالگرانو ته ئې پر هېواد د بريد بلنه ورکړې؛ د هغوی تر فرمان لاندي د ملت خلاف جنگېدلي؛ له اشغالگرانو ئې غوښتل چي پر افغانانو غټ غټ بمونه ووروئ؛ د بي ۵۲ بمونه ئې هم کافي نه گڼل او هغه ئې له زرگري جنگ سره تشبيه کولو؛ هغه چي د دښمن جنگي جهازونو ته به ئې کوردیناتونه ورکول؛ له دغو سره باید همغه څه وشي چي د طائف له ابو رغال سره شوي.

د کعبې په اړه دا بحث هم ضروري برېښي چي په ۲۰۱٦ ميلادي کال کي؛ دن گيبسون نومي کانادايي ليکوال؛ د The sacred city (مقدس ښار) په نامه فيلم خپور کړ؛ د فيلم محتوی ئې د يوه کتاب په بڼه کي نشر کړه چي (د قرآن جغرافيه) نوم ئې ورته غوره کړی. په مجازي رسنيو کي د فيلم انعکاس ډېر سريع او زيات وو؛ له هر څه ئې په واضح توگه جوته وه چي تر شا ئې د يوې شتمني او ستري شبکې لاس دئ؛ د دې فيلم جوړوونکی د فيلم په پيل کي راڅرگندېږي او ادعاء کوي چي دېرش کالونه ئې د مکې شاوخوا سيمو کي تېر کړي؛ څېړني او تحقيقات ئې کړي؛ او گواکي له ژورو او اوږدمهاله تحقيقاتو وروسته دې نتيجې ته رسېدلی چي اصلي کعبه هغه نه ده چي نن د نړۍ يو مليارد (نژدې دوه مليارد) مسلمانان؛ هره ورځ پنځه ځلي د توري ډبري لوري ته لمونځ کوي؛ اصلي کعبه د اردن په جنوب؛ د پيټرا ښار کي وه؛ محمد عليه السلام هم د هغه ځای اوسېدونکی وو او کعبه هم هلته وه، دن گيبسون ادعاء کوي چي د کعبې په اړه تر ۸۰۰ ميلادي کال وړاندي هيڅ مستند او موثق مدرك او سند نه شته!!؛ ادعاء کوي چي دا خبره هغو دوه عرب پوهانو ورته کړې چي نه ئې غوښتل نومونه ئې ياد شي!! همدا راز دا ادعاء هم کوي چي د قرآن په يوه آيت کي د لومړۍ کعبې موقعيت د بکه په نامه ياد

شوی؛ او دا د مکې نه بلکې په اردن کې د یوه زوړ ښار نوم دئ!! د ځینو داسې سیمو نومونه هم اخلي چې د جوماتونو محرابونه ئې د مکې پر ځای د همدې ښار په استقامت دي؛ داسې سیمې چې که هلته انسان ۵- ۱۰ درجو پورې شمال ته ودرېږي نو قبله به ئې په اردن کې وي او که جنوب ته همدومره درجې کوږ شي نو قبله به ئې په یمن کې وي!!!

راشئ د دې مغرض او اجیر تش په نامه محقق دغه کچه او بې بنسټه ادعاءګانې د قرآن د پورتنیو لارښوونو او دلائلو په رڼا کې وځېړو چې د ده اجدادو ته ئې ۱٤٤۰ کاله وړاندې په همدې اړه ځوابونه ورکړي. د قرآن له پورتنې آیت معلومېږي چې:

• د ده اجدادو هم دا نه منله چې کعبه لومړی الهي کور دئ چې د ابراهیم او اسمعیل علیهما السلام په لاس جوړ شوی؛ هغوی بیت المقدس لومړنی معبد ګڼلو؛ په بایبل کې د سلیمان علیه السلام او موسی علیه السلام په لاس د داسې مجللو معبدونو یادونه شوې چې په سلګونو کیلو سره او سپین زر ئې یوازې په لوښو کې کارول شوي او ډېر مس، قیمتي ډبرې او اعلی لرګي. یهودان هغه مهال فلسطین ته راغلي چې له مصر د موسی علیه السلام تر قیادت لاندې ووتل؛ ډېره موده په سینا کې پاته شول او وروسته فلسطین د دوی لاس ته ورغی؛ د دوی ټول معبدونه د بیت المقدس په شمول؛ د ابراهیم علیه السلام د کړوسیانو په لاس جوړ شوي؛ خو کعبه په خپله د ابراهیم او د ده د مشر زوی اسمعیل علیهما السلام په لاس جوړه شوې. نو له شك پرته لومړنی مسجد؛ مسجدالحرام دئ نه مسجد الاقصی او د یهودانو او مسیحیانو معبد په فلسطین کې.

• بایبل وایي چې ابراهیم علیه السلام خپله مېرمن هاجر علیها السلام؛ د خپلې مخکینۍ مېرمنې سارا علیها السلام په غوښتنه؛ له کور وایستله او لرې ئې د یوې چینې خوا ته له خپل ماشوم زوی اسمعیل علیه السلام سره یوازې پرېښوده؛ خو قرآن وایي چې هغه ئې له خپل

تې خور زوی اسمعیل علیه السلام سره؛ د الله تعالی په حکم د مکې په وچې وادي کې پرېښوده؛ همدلته او همدغه وخت د اسمعیل علیه السلام تر پښو لاندي د زمزم چینه راوخوټېده. کله چې اسمعیل علیه السلام تنکۍ ځواني ته ورسېد؛ ابراهیم علیه السلام په خپلي مکرري رؤیا کې ولیدل چې دی ذبح کوي؛ همدا لومړی زوی د الله تعالی په لار کې ذبح کول او وقف کول د جاهلیت د دور مذهبي دود وو؛ الله تعالی غوښتل چې دا جاهلانه دود د تل لپاره او د ابراهیم علیه السلام په لاس له منځه یوسي؛ ابراهیم علیه السلام خپله رؤیا له زوی سره شریکه کړه او هغه ورته وویل: پلار جانه! په څه چې مأمور شوی یې هغه تر سره کړه؛ إن شاء الله ما به صابر ومومې. دواړه دې ته چمتو شول؛ یو د خپل لومړي زوی ذبح کولو ته او بل په تنکۍ ځوانۍ کې ذبح کېدو ته؛ الله تعالی ابراهیم علیه السلام ته وفرمایل: خپل خوب دي رښتینی کړ؛ د څاروي ذبح کول د زوی ذبح کولو ځای ناستی شو؛ او همدا د حج د مناسکو یوه برخه شوه. په دې ستري آزموینې کې له بریا وروسته؛ د الله تعالی لومړنی کور؛ همدلته د دواړو په لاس جوړ شو.

- د زمزم دغه چینه باعث شوه چې لومړی د یمنیانو یوه قافله د هغې خوا کې مېشت او ځای پر ځای شي او وروسته ورو ورو دا ځای په یوه ستر مذهبي، سیاسي او تجارتي مرکز بدل شي. اسمعیل علیه السلام له یمنیانو سره خپلوي کړې، د ده له اولاد د بني اسمعیل په نامه ستره قبیله جوړه شوې چې تر ننه ئې همدا نوم دئ او همدا مکه ئې اصلي او اساسي ټاټوبی.

- دا هر څه دومره واضح دي چې نه یوازي د عربانو بچی بچی ترې خبر دئ؛ بلکې یو نیم ملیارد مسلمانان پرې باور لري، په تواتر سره له یوه نسل بل ته انتقال شوي، د کعبې له جوړېدو بیا تر ننه په تېرو نژدې څلور نیم زره کلونو کې هر کال په سلګونو زره او اوس هر کال نژدې درې ملیون حاجیان همدې مکې ته درومي او هلته هر څه په خپلو

ستړګو ګوري او عملاً ئې تر سره کوي، د کعبې طواف، د هاجر عليها السلام د سعي او د صفا او مروه تر منځ ورو او تېز تګ؛ دقيقاً د هاجر په څېر، د اسمعيل عليه السلام د محتمل ذبحي ځای او هلته د څاروي ذبح کول، د زمزم چينه، په مکه کې د بني اسمعيل قبيله او دا هر څه د هغه کتاب له لارښوونو سره سم مومي چې ١٤٤٠ کاله وړاندي نازل شوی او تر ننه نه يوازي په بشپړه توګه له هر پلوه خوندي او محفوظ پاته شوی؛ دومره چې په زير او زبر کې ئې هم معمولي تغيير نه دئ راغلی؛ بلکې په دې کتاب کې د ګڼ شمېر معروفو ځايونو او تاريخي پېښو يادونه شوې؛ مکه، مدينه؛ دا د رسول الله صلى الله عليه و سلم مهجر او د لوی اسلامي خلافت دارالخلافه، بدر، حنين، د احد او احزاب سترو جګړو يادونه، د اصحاب فيل يادونه چې سالار ئې ابرهه بن صباح غوښتل کعبه ورانه کړي، په صنعاء کې ئې ستره کنيسه جوړه کړه، غوښتل ئې ټول عرب د کعبې له حج دې لوري ته راواړوي، له دې پرته ئې بله چاره ونه موندله چې مکه فتح او کعبه ورانه کړي، له ستر لښکر سره د مکې په لور وخوځېدو؛ په لومړي ځل عرب له داسي ستر لښکر او په جګړي کې له فيلانو کار اخيستل ليدلي، سره له دې په يمن او د لاري په اوږدو کې د عربو ګڼ شمېر قبائلو د هغه مقابله کړې؛ خو له ماتي سره مخامخ شوي؛ د مکې خوا ته رسېدلی او همدلته الله تعالى د ده ټول لښکر تباه کړی او د جنګياليو غوښي ئې مرغانو خوړلې. دا ټول موقعيتونه د مکې شاوخوا کې دي او دا ټولي تاريخي جګړې د مکې شاوخوا کې رامنځته شوې.

- قريشو له رسول الله صلى الله عليه و سلم او د ده په مشرۍ له مسلمانانو سره درې سترې جګړي درلودې: بدر، احد او الاحزاب؛ دا جګړي هم په قرآن کې په ډېر تفصيل سره راغلې او هم د عربو په تاريخ کې؛ ځايونه او موقعيتونه ئې څرګند دي، د دواړو لوريو د جنګياليو او د مړو، شهيدانو او زخميانو شمېر ئې معلوم دئ، د سترو سترو شخصيتونو

مرګ ژوبله ئې معلومه ده؛ د احد په جګړي کې رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپله ټپي شو او تره ئې حمزه رضي الله عنه شهید شو. په حدیبیه کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم او قریشو تر منځ یوه تاریخي معاهده لاسلیك شوه؛ له مخي ئې د لسو کلونو لپاره اوربند وشو او جګړي متوقف شوې، دې معاهدې ته قرآن د فتح مبین نوم ورکړ، په پای کې مکه له جنګ پرته د رسول الله صلی الله علیه و سلم له لوري فتح شوه او له خپل لوی لس زره کسیز لښکر سره د فاتح په توګه مکې ته داخل شو او قریشو ته ئې عفو وکړه، له عمرې وروسته د مدینې په لور د ستنېدو په دوران کې د هوازن قبیلې په ناڅاپي توګه د ده پر لښکر برید وکړ، ستر لښکر ئې دې ناڅاپي برید داسي پرېشان کړ چي دی ئې یوازي پرېښود؛ قرآن دا پېښه هم په ډېري اغېزمني بڼې کې څېړلې ده. له دن ګیبسون پوښتنه کوو: آیا په حجاز کې د دېرش کلن اقامت او تحقیق په دوران کې؛ له دې ټولو څرګندو حقائقو بې خبره پاته شوی یې؟!! نه دي له چا دا نومونه اورېدلي، نه د دې سترو سترو جګړو قصې او نتائج ئې چا درسره شریك کړې؟ له دې هم نه یې خبر شوی چي دا هر څه د مکې او مدینې شاوخوا مشهورو سیمو کې رامنځته شوي؟! آیا دا هر څه او ژوندی تاریخ ئې؛ له دې سیمي د یوې جعلي ویډیو پر مټ؛ اردن ته انتقالول ممکن دي؟ داسي سفیه او ساده انسان به هم پیدا شي چي له تا سره ئې ومني.

• د رسول الله صلی الله علیه و سلم د پیدایښت نېټه او ځای هم معلوم دئ او قبر ئې هم، د پلار نوم ئې هم معلوم دئ (عبدالله) او د مور او قبیلې ئې هم، نیکه او جد ئې هم؛ عبدالمطلب او هاشم، حتی د رضاعي مور نوم او د هغې قبیله هم معلومه او په تاریخ کې ثبت، د مېرمنو نومونه او قبرونه ئې هم معلوم دي. دا ټول په مکه او مدینه کې دي؛ نه د اردن په جنوب او د پېټرا ښار کې!! هیڅ داسي مورد نه شو موندلې چي وښیي محمد علیه السلام یا د کورنۍ او قبیلې کوم غړی ئې

هلته اوسېدلی او هلته په دغو مشهورو نومونو كوم ځای او كلی چا ليدلی. آيا له دن گيبسون پرته به داسي انسان پيدا شي چي دا ټول حقائق له پامه وغورځوي او ترې انكار وكړي؟!! د ده مأموريت او هڅه دا وه او دا دېرش كلونه ئې د دې لپاره په سعودي او اردن كې تېر كړي چي وكولی شي داسي مدارك تر لاسه كړې چي د اسلام او مسلمانانو په ضد د يوې اغېزمني تبليغاتي وسيلې په توگه ترې استفاده وكړي او له حقائقو بې خبر مسلمانان او غير مسلمانان په شك كې واچوي او وئې غولوي؛ خو د ټولو شيطاني هڅو نتيجه ئې همدا مسخره ويډيو وه. دی د نورو مستشرقينو په څېر د صليبيانو او صهيونستانو له لوري استخدام شوی؛ په دې موخه دغو عربې هېوادو ته لېږل شوی چي د اسلام خلاف تبليغاتي مواد پيدا كړي؛ بل څه ئې يا نه دي موندلي او يا د ده مخكينيو ملگرو پرې كار كړی؛ دا عنوان او موضوع ورته جالبه معلومه شوې چي ثابته كړي؛ مسلمانانو د كعبې په اړه هم اشتباه كړې او د ابراهيم عليه السلام په لاس د جوړي شوې اصلي كعبې پر ځای ئې غير اصلي كعبه غوره كړې!! دا نه د مكارو دښمنانو نوې هڅه ده او نه وروستۍ؛ تر ده وړاندي حتی د رسول الله صلی الله عليه و سلم په زمانه كې همدغو يهودانو او صليبيانو د لومړۍ قبلې په اړه دې ته ورته غلط او بې بنسټه تبليغات او ادعاءگاني درلودې؛ چي قرآن د دوی د غلطو ادعاءگانو د ترديد لپاره د مخكينيو دلائلو تر څنگ دا دلائل هم وړاندي كوي:

- د دن گيبسون دا ادعاء هم ډېره مسخره او مضحكه ده؛ د يوه محقق نه بلكي د يوه متعنت او مغرض انسان ادعاء ته ورته؛ چي وايي: د مكې په شرق كې ئې داسي زاړه مساجد ليدلي چي محراب ئې د مكې پر ځای د اردن جنوب ته مخامخ وو!! دې جناب ته بايد ووايو: هغه زاړه مساجد او د هغوی د محرابونو استقامت قطعاً او له علمي پلوه د اعتبار وړ نه دي چي د سمت معلومولو له اوسنيو مخكي تللو وسائلو (قطب نما) پرته جوړ شوي؛ د ټولو دغو محرابونو استقامت د تخمين له

مخي ټاکل شوی؛ څوك چي د ایران، افغانستان، پاکستان او هند په څېر لري پرتو هېوادو کې زاړه جوماتونه له نژدې وګوري او له همدغو وسائلو په استفادې سره ئې د محرابونو استقامت وڅېړي نو ورته معلومه به شي چي شمال او جنوب ته په ۵ - ۱۰ درجې تفاوت سره به ئې سمت یا اردن ته وي او یا یمن ته؛ داسي زوړ جومات به قطعاً ونه مومئ چي سل په سلو کې مستقیماً د کعبې په استقامت وي. د کابل او مکې تر منځ نژدې ۳۰۰۰ کیلومتر واټن دئ، که په کابل کې د یوه جومات محراب ۱۰ درجې شمال یا جنوب ته کوږ جوړ شوی وي؛ نو استقامت به ئې له کعبې نژدې ۵۰۰ کیلومتر شمال یا جنوب ته وي؛ او په هند کې درې - څلور درجې شمال او جنوب ته کږېدل؛ زموږ استقامت له کعبې همدومره شمال او جنوب ته کږوي.

دن کیبسون ټول زاړه جوماتونه او د محرابونو استقامتونه ئې په دریو ډولو وېشلی؛ دې ته ئې سیاسي رنګ ورکړی او د عباسیانو او امویانو اختلاف ئې د هغه اصلي سبب ګڼلی: ۱- کعبې ته مخامخ، ۲- پیټرا ته مخامخ او ۳- د پیټرا او مکې تر منځ د مکې شمال ته مخامخ!! یعني د امویانو، عباسیانو او بې طرف مسلمانانو جوماتونه!!! خو که دا ښاغلی افغانستان ته راشي نو په یوې وړې سیمي کې به داسي جوماتونه همدا اوس او په ۲۱ مې پېړۍ کې وګوري چي له دغو دریو لوریو علاوه؛ د مکې جنوب یمن کې او د صنعاء او مکې تر منځ یوه لوري ته به مخامخ وي؛ او وجه ئې هم سیاسي نه بلکي د تخمین له مخي د محرابونو د جوړولو ستونزه ده؛ قرآن دغه حقیقت ته په پام سره ویلي چي هر ځای وئ په لمانځه کې مو مخ د کعبې لوري ته واړوئ؛ هر لوري ته چي مخ واړوئ الله تعالی په همغه لوري کې دئ؛ الله تعالی هیڅوك تر خپل توان په زیات څه نه ګماري، ستا تخمیني قبله هم مني، د اسلام له نظره که څوك داسي ځای کې وي چي د قبلې لوری ورته معلوم نه وي؛ د تخمین له مخي یوه لوري ته لمونځ وکړي؛ نو که وروسته ورته معلومه شي چي

بل لوري ته ئې ځونځ کړی؛ ځونځ ئې صحیح شوی او اعاده ئې پرې لازمه نه ده.

د دن ګیبسون دا ادعاء هم په بشپړه توګه او کاملاً دروغ ده چي تر اتمي میلادي پېړۍ وړاندي؛ د کعبې په اړه هیڅ لیکلي موثق معلومات نه شو موندلی!! داسي ادعاء یوازي هغه څوك کولی شي چي په دروغ ویلو کي ډېر جرئ او جسور وي. ده او د ده همفکرانو ته وایو:

۱- یو موثق مدرك خو قرآن دئ چي تاسو ولیدل په څومره دقیقه توګه ئې د مکې او کعبې په اړه بحث کړی او حقائق ئې بیان کړي. دا قرآن په شپږمي میلادي پېړۍ کي نازل او خلکو ته رسېدلی. ۲- د عربو هر تاریخ لیکونکي د مکې د څرنګوالي او تاریخ په اړه تفصیلي بحثونه کړي، ۳- عرب شعراءو او لیکوالو خپل شعرونه او لیکنې پرې ښایسته کړې. ٤- د کعبې د جوړېدو له ورځي تر نن پوري په ملیاردونو عرب او غیر عرب مسلمانانو د کعبې اړوند مسائل په شفوي توګه نورو ته بیان کړي او تر موږ پوري رارسېدلي. ۵- اما د دن ګیبسون جعلي او مسخره خبره له ده پرته بل ویونکی او مدعي په ټول تاریخ کي نه لري!!! تاریخي شواهد او د قرآن محکم او مقنع دلائل ښیي چي کعبه د زمکي پر سر د الله تعالی له لوري لومړی غوره شوی مبارك کور دئ.

دن ګیبسون د دې ادعاء جسارت هم کړی چي ووایي: اصلي مکه به حتماً په داسي ځای کي وه چي هلته به لوی ښار وو، مهم تجارتي مرکز، کاروان سرایونه، باغونه، زراعتي زمکي، د ښار چاپېر امنیتي دېوال او د مهمو ښارونو د هغه مهال ټول نور ضروري مشخصات؛ خو په اوسنۍ مکه کي نه د زمکي پر سر د داسي ښار هیڅ آثار او نښي لیدل شوې او نه د کیندنو په ترځ کي موندل شوې؛ نه د تعمیرونو او دېوالونو آثار او نه د زراعت او زراعتي زمکو او باغونو!! خو د پیټرا په ښار کي دا ټول آثار هم د زمکي پر سر شته او هم تر خاورو لاندي موندل شوې!! دې جناب ته باید ووایو:

قرآن وايي چي کعبه په داسي ځای کي د ابراهيم عليه السلام په لاس جوړه شوې چي غير ذي زرع وادي وه؛ بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ، نه په کي اوبه وې، نه بوټي او وني او نه انسان او آثار ئې؛ قرآن له ابراهيم عليه السلام داسي نقل قول کوي:

رَّبَّنَآ إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ عِندَ بَيۡتِكَ ٱلۡمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱجۡعَلۡ أَفۡـِٔدَةً مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهۡوِيٓ إِلَيۡهِمۡ وَٱرۡزُقۡهُم مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَشۡكُرُونَ ٣٧ ابراهيم

اې زموږ ربه! ما خو د خپل اولاد ځيني؛ ستا د محترم کور خوا ته په داسي بېديا کي مېشت کړل چي بې بوټي (بېديا) ده؛ اې زموږ ربه! د دې لپاره چي لمونځ اقامه کړی شي؛ د خلکو زړونه د دوی لوري ته رامات کړه او له مېوو روزي ورکړه چي شکر پر ځای کړي.

د قرآن له دغو آيتونو چي د ابراهيم عليه السلام دعاء ئې په ډېري اغېزمني او زړه راښکونکې بڼې کي انځور کړې؛ څو خبري په صراحت سره معلومېږي:

- ابراهيم عليه السلام خپله مېرمن هاجر او زوی ئې اسمعيل عليهما السلام د مکې په بېديا کي هغه مهال پرېښودل چي هغه ناو سپېره ډاګ وو او هېڅ بوټی په کي نه راټوکېدو؛ نه په کي بل انسان وو او نه هيڅ حيوان.
- دا کار ئې د الله تعالی په امر او په دې موخه کړی وو چي دلته به څو کاله وروسته د الله تعالی محترم کور (بيت الله) جوړوي. په دې سره د بايبل هغه ادعاء تکذيب شوې چي وايي: سارا د ابراهيم عليه السلام بلي مېرمني؛ له ده وغوښتل چي هاجر او زوی ئې له کوره وشړي او ده هم دا کار وکړ!! تفصيل ئې په (بايبل د قرآن په رڼا کي) ولولئ.
- د دوی لپاره ئې د رزق او د دوی په لوري د خلکو د زړونو د راماتېدو دعاء ئې وکړه. دا ځکه چي په هغي وچي بېديا کي نه بل انسان

اوسېدو او نه بوټي، وني او اوبه وې.

- مطمئن وو چي الله تعالی به دا دعاء داسي قبلوي لکه ده ته چي ئې په زړښت کي اولاد ورکړ.
- د دعاء له الفاظو معلومېږي چي اسمعیل علیه السلام تر اسحق علیه السلام مشر وو، لومړی ئې د اسمعیل او ورپسې د اسحاق نوم اخیستی؛ او په دې سره ئې د بایبل هغه ادعاء رد کړې چي وایي: اسحاق د ابراهیم یوازینی مشر زوی وو. د بایبل دا ادعاء هم په خپله د بایبل خلاف ده او هم د قرآن.
- د دعاء په الفاظو کي د ده قوي عاطفه او د مېرمني، زوی او ټولو مؤمنانو په اړه د ده ژور زړه سوی او قوي مینه د ځپاند سیند په څېر انځور شوې. د دې دعاء په اورېدو سره به د هر مهربان پلار او هر زړه سواند داعي له سترګو اوښکي بهېږي؛ ابراهیم علیه السلام هغه څوك د خپلي ډلي غړی او د خپل کاروان همسفر بولي چي د ده متابعت کوي، له ده سره په فکري او اخلاقي لحاظ ورته والی لري، د نسبي اړیکو پر ځای فکري او اخلاقي اړیکي د اعتبار وړ ګڼي، هغه چا ته د مهربان بخښونکي رب بخښنه او مغفرت غواړي چي د الله په لوري تګ کي د ده ملګرتیا نه کوي.

دغو حقائقو ته په پام سره آیا کولی شو ومنو چي دن ګیبسون په رښتیا دېرش کاله تحقیقات کړي؟ په همدې اوږدې مودې کي له دې هم نه دئ خبر شوی چي قرآن د دې وچي (غَيْرِ ذِي زَرْعٍ) بې بوټي وادي په اړه څه ویلي؟ څنګه او کله دا بېدیا په یوه آباد ښار او ام القراء بدله شوې، د حجاز ستر تجارتي مرکز او د نړۍ ستر مذهبي محور ترې جوړ شوی؟! هغه دې ته هم نه دئ متوجه شوی چي په ناپوهۍ سره په داسي څه اعتراف کوي چي نه یوازي د ده ادعاء تکذیبوي بلکي د قرآن حقانیت هم ثابتوي!! هلته چي وایي: په اوسنۍ مکه کي نه د زمکي پر سر د کوم لوی ښار آثار او نښي لیدل شوې او نه د کیندونو په ترځ کي

موندل شوې؛ نه د تعميرونو او دېوالونو آثار او نه د زراعت او زراعتي زمکو او باغونو! ښاغليه! نو دا خو همغه خبري دي چي قرآن کړې؛ دا څېړني او کيندني او نتائج ئې د قرآن د وينا تأييد کوي نه ترديد؛ د دغو څېړنو د نتائجو په اورېدو سره خو هر حقپال انسان بايد د قرآن په وړاندي د تسليمۍ لاسونه لوړ کړي؛ دا خو د قرآن يو علمي إعجاز دئ نه د اعتراض وړ کوم مطلب!! د کعبې د موقعيت په اړه خو يوازي د عرب ولس او د دوی مذهبي او تاريخي کتابونه د مرجع او مأخذ په توګه د اعتبار وړ دي؛ نه ستا په څېړ له بهر راغلی مأمور چي هدف او غرض ئې بل ورته ټاکلی؛ هغه چي دی ئې استخدام کړی؛ ستا ادعاء نه علمي ارزښت لري او نه تحقيقي؛ فقط يوه بې بنسټه ادعاء ده؛ د خپلي حق الزحمې د روا کولو لپاره جعلي ادعاء او د ثابتولو ناکامه هڅه!!

حقيقت دا دئ چي د اسلام په ضد د دښمنانو ټول تبليغات؛ همداسي د دن ګيبسون د دې ويډيو او کتاب په څېر دروغجن، مسخره او له عقدې او کينې راټوکېدلي دي.

د حج د فضيلت او فرضيت اړوند بل آيت دا دئ: البقرة: ۱۹٦

**وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ...**

او حج او عمره د الله لپاره تر سره کړئ، که مو مخنيوی وشو نو بيا (ئې فديه) د قربانۍ هغه څاروی دئ چي ميسر وي....

يعني ستاسو حج او عمره بايد د الله لپاره وي، کله چي د حج او عمرې اراده وکړئ؛ بايد تر سره ئې کړئ؛ که له مانع او خنډ سره مخامخ شوئ نو له احرام تر وتلو د مخه بايد يو څاروی؛ لږ تر لږه يو پسه؛ د حرم زمکي ته د ذبحي لپاره ولېږئ؛

۲ باب: د الله تعالی د دې قول: (يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ ... ) الحج: ۲۸

۷۷۰ - عنِ ابنِ عُمَرَ رَضِى الله تَعَالَى عَنْهُمَا، قَالَ رَأَيْتُ رَسولَ الله صلى الله عَلَيْهِ

وَسلم يَرْكَبُ رَحِلَتَهُ بِذِى الحُلَيْفَةِ ثُمَّ يُهِلُّ حَتَّى تَسْتَوِىَ بِهِ قائِمَةً. بخارى: ١٥١٤

٧٧٠- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم مي وليد چي په ذوالحليفه كي پر خپله اوښه سپور شو او هغه مهال ئې تلبيه (لبيك اللهم لبيك... ويل) پيل كړل چي اوښه تر ده لاندي او برابره ودرېده.

دا روايت له هغه آيت سره چي په ترجمة الباب كي راوړل شوی؛ واضح مناسبت نه لري؛ آيت دا دئ:

وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ ﴿٢٧﴾ لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَعْلُومَاتٍ... ﴿٧٨﴾ الحج

او په خلكو كي د حج اعلان وكړه، چي پلي او پر ډنگرو ډنگرو اوښو سپاره به له لري لري لارو درته راځي. د دې لپاره چي ځان ته د گټو شاهد وي او په څو معلومو ورځو كي د الله نوم ياد كړي...

يعني ابراهيم عليه السلام ته دا لارښوونه شوې وه چي د كعبې له جوړولو وروسته په خلكو كي د حج اعلان وكړي، دا اطمئنان وركړی شوی وو چي د همدې بلني په طفيل به د الله تعالى مخلص بندگان د دې كور لوري ته پلي او پر داسي سورليو سپاره له لرو لرو سيمو رادرومي چي د اوږدو مزلونو له كبله به ډنگر شوي وي، دلته به د ډېرو مادي او معنوي گټو او بركاتو شاهد وي. په روايت كي فقط دومره راغلي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په ذوالحليفه كي پر خپلي اوښي سپور شو او هغه مهال ئې تلبيه (لبيك اللهم لبيك... ويل) پيل كړله چي اوښه تر ده لاندي برابره ودرېده.

## ٣ باب: په بار وړونكي اوښ سره حج اداء كول

٧٧١ – عن أنس بن مالك رضى الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَجَّ

عَلَى رَحْلٍ وَكَانَتْ زَامِلَتَهُ. بخاری: ١٥١٧

٧٧١- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي يوه اوښ حج ته سفر وکړ چي فقط همدا ئې سورلۍ وه؛ (د لاري توښه ئې هم پرې بار وه).

٧٧٢ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مَعَهَا أَخَاهَا عَبْدَ الرَّحْمَنِ، فَأَعْمَرَهَا مِنَ التَّنْعِيمِ، وَحَمَلَهَا عَلَى قَتَبٍ» بخاری: ١٥١٦

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي (رسول الله صلى الله عليه و سلم له دې سره ورور ئې عبد الرحمن ولېږو او له تنعيم ئې عمره پرې وکړه؛ او په کجاوه کي ئې سپره کړه؛

## ٤ باب: د مبرور حج فضيلت

٧٧٢- عنْ عائِشَةَ أُمِّ المؤْمِنِينَ رَضِي الله تَعَالَى عَنْهَا أَنَّها قالَتْ يَا رسولَ الله نَرَى الجِهَادَ أَفْضَلَ العمَلِ أَفَلَا نُجَاهِدُ قَالَ لَا لاكِنْ أَفْضلَ الجِهادِ حَجٌّ مَبرُورٌ. بخارى: ١٥٢٠

له ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها روايت دئ چي وئې وويل: يا رسول الله! فکر کوو چي جهاد تر ټولو غوره عمل دئ؛ نو آيا موږ (ښځي) جهاد ونه کړو؟ وئې فرمايل: نه؛ ستاسو لپاره غوره جهاد مبرور حج دئ).

٧٧٣ - عن أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِي الله تَعَالَى عنهُ؛ قَالَ سَمِعْتُ النبيّ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم يقُولُ مَنْ حَجَّ لله فلَمْ يَرْفُثْ ولَمْ يَفْسُقْ رجَعَ كَيَوْمِ ولَدَتْهُ أُمُّهُ. بخارى: ١٥٢١

٧٧٣- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اورېدلي چي فرمايل ئې: "چا چي خاص د الله تعالى لپاره حج وکړ او له فحشاء او بد کارۍ ئې ځان وساتو؛ داسي بېرته ستنېږي لکه چي مور نوی زېږولی وي".

دې ته بايد متوجه وو چي يقيناً الله تعالى غفور دئ؛ هره گناه

بخښي او خپلو بندګانو ته ئې ويلي:

قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿٥٣﴾ الزمر

زما هغو بندګانو ته چي پر خپل ځان ئې تېرى کړى؛ ووايه: د الله له رحمت مه مأيوسه کېږئ؛ الله ټول ګناهونه بخښي؛ يقيناً چي هغه مهربان بخښونکى دئ.

خو ځيني ګناهونه داسي دي چي بخښنه ئې په خاصو شرائطو پوري مربوطه ده؛ له هغه پرته ئې الله تعالى نه بخښي؛ څوك چي د بل په حق کي تېرى وکړي؛ که دا د بل به پر پت او عزت تېرى وي او که پر ځان او مال ئې؛ تر هغه چي ئې مظلوم او هغه چي تېرى پرې شوى؛ ونه بخښي؛ الله تعالى ئې نه بخښي؛ نه په توبه، نه حج، روژه او زکات؛ او نه د بل نېك عمل له امله؛ په داسي مواردو کي توبه، د عدم تکرار کلك عهد، د ظلم او تېري جبران او د مظلوم رضايت او بخښنه؛ ضروري او د الله تعالى له لوري بخښنه ورپوري مشروطه ده.

همدا حج داسي دئ چي کله ځيني ترې راستانه شي؛ تر وړاندي لا زيات په ګناه او فساد کي غرق شي؛ د (حاجي صاحب) له روستاړي د خلکو د غولولو لپاره استفاده کوي؛ په داسي حال کي چي له حج راستنېدل ئې بايد داسي وى لکه ماشوم چي له مور دنيا ته راځي؛ له پاك زړه او نېکو عزائمو سره او له مخکينيو ګناهونو او فسادونو پاك شوى. يقيناً د چا حج چي رښتنى حج وي؛ د الله تعالى کور ته تګ وي، د هغه د کور دړي ته ودرېدل وي، طواف ئې واقعاً د بيت الله طواف وي، د ابراهيم، اسمعيل او هاجر پر ګامونو ګام ايښودل وي؛ د حجر الاسود مسح کول او ښکولول ئې له الله تعالى سره د بندګۍ او اطاعت صادقانه تعهد او تړون وي؛ له حج به حتماً همداسي راستنېږي لکه ماشوم چي له خپلي مور نوې دنيا ته راځي.

د هجرت په دوران کې یو کس چې د (قاري صاحب) په نامه مشهور شوی وو؛ له خلکو به ئې په دې نامه پیسې اخیستلې چې په کار ئې اچوي او په زړه پوري ګټه به ورکوي؛ څو میاشتې به ئې ډېره ګټه ورکړه؛ همدا به هم د دې باعث شوه چې هم دی مزید مقدار قاري صاحب ته وسپاري او هم به ئې نور تشویق کړل چې دې ګټوري معاملې ته راوړاندې شي او د خپلې شتمنیو ډېره برخه قاري صاحب ته وسپاري؛ ځینو ته به ئې ویل: زه به استخاره وکړم چې ستا پیسې په امانت او د تجارت لپاره واخلم که نه؛ د دې استخارې ځواب به حتماً مثبت وو او د ده اعتبار به ئې څو برابره زیات کړ؛ ډېر ئې لوټ کړل او څه موده وروسته له نظرونو پټ شو. ما په څو کلونو کې دوه همداسې ټګماران لیدلي؛ وېرېږم چې اوس دواړو په کوم ګمرك کې ریاست او مدیریت نه وي موندلی؛ نو کله کله حاجی کېدل او قاري کېدل داسې وي.

**٥ باب: میقات (ټاکل شوی وخت او ځای چې دلته ترې مراد د احرام تړلو ځای دئ)**

٧٧٤ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَّتَ لِأَهْلِ المَدِينَةِ ذَا الحُلَيْفَةِ، وَلِأَهْلِ الشَّأْمِ الجُحْفَةَ، وَلِأَهْلِ نَجْدٍ قَرْنَ المَنَازِلِ، وَلِأَهْلِ اليَمَنِ يَلَمْلَمَ، هُنَّ لَهُنَّ، وَلِمَنْ أَتَى عَلَيْهِنَّ مِنْ غَيْرِهِنَّ مِمَّنْ أَرَادَ الحَجَّ وَالعُمْرَةَ، وَمَنْ كَانَ دُونَ ذَلِكَ، فَمِنْ حَيْثُ أَنْشَأَ حَتَّى أَهْلُ مَكَّةَ مِنْ مَكَّةَ» بخاری: ١٥٣٠

٧٧٤- له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم د مدینې د اوسېدونکو لپاره ذوالحُلَیفه، د شامیانو لپاره جُحفَه، د اهل نجد لپاره قرن المنازل او د یمنیانو لپاره یلملم؛ د میقات په توګه ټاکلي دي او فرمایلي ئې دي: دا ځایونه د دې سیمو د اوسېدونکو او هغو نورو کسانو لپاره چې د حج او عمرې لپاره له دې سیمو تېرېږي میقاتونه دي او څوک چې له دې میقاتونو آخوا مکې ته لنډ وي؛ د هغوی میقات هغه ځای دئ چې د حج نیت کوي؛ حتی چې د مکې د

خلکو لپاره په خپله مکه میقات دئ.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ٦ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٥٢٤، ١٥٢٦، ١٥٢٩، ١٥٣٠، ١٨٤٥ او ٧٣٤٤

توپيرونه ئې دا دي: په يوه کي وَلِمَنْ أَتَى عَلَيْهِنَّ مِنْ غَيْرِهِنَّ مِمَّنْ أَرَادَ الحَجَّ وَالعُمْرَةَ، په بل کي وَلِمَنْ أَتَى عَلَيْهِنَّ مِنْ غَيْرِ أَهْلِهِنَّ لِمَنْ كَانَ يُرِيدُ الحَجَّ وَالعُمْرَةَ په يوه کي وَمَنْ كَانَ دُونَ ذَلِكَ په بل کي فَمَنْ كَانَ دُونَهُنَّ په يوه کي فَمِنْ حَيْثُ أَنْشَأَ حَتَّى أَهْلُ مَكَّةَ مِنْ مَكَّةَ په بل کي فَمُهَلُّهُ مِنْ أَهْلِهِ، وَكَذَاكَ حَتَّى أَهْلُ مَكَّةَ يُهِلُّونَ مِنْهَا راغلي.

## ٦ باب: په ذو الحليفه کي لمونځ

٧٧٥- عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَاخَ بِالْبَطْحَاءِ بِذِى الْحُلَيْفَةِ، فَصَلَّى بِهَا. وَكَانَ عَبْدُاللَّهِ بْنُ عُمَرَ رضى الله عنهما يَفْعَلُ ذَلِكَ. (بخاری: ١٥٣٢)

٧٧٥- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم د ذوالحليفې په بَطحَاء (پراخ خوړ چي وړي تيږي پکي خورې وي) کي خپله اوښه چو کړه او لمونځ ئې وکړ؛ او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما داسي وو چي همدا کار به ئې کولو.

تکرار: دا روايت په بخاري کي همدا يو ځل راغلی.

## ٧ باب: د شجره له لاري د رسول الله صلی الله عليه و سلم سفر

٧٧٦ - عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَخْرُجُ مِنْ طَرِيقِ الشَّجَرَةِ، وَيَدْخُلُ مِنْ طَرِيقِ الْمُعَرَّسِ، وَأَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا خَرَجَ إِلَى مَكَّةَ يُصَلِّي فِي مسْجِدِ الشَّجَرَةِ، وَإِذَا رَجَعَ صَلَّى بِذِى الْحُلَيْفَةِ، بِبَطْنِ الْوَادِى، وَبَاتَ حَتَّى يُصْبِحَ. (بخاری:١٥٣٣)

٧٧٦- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول

الله صلی الله علیه و سلم به له مدینې د (شجره) له لاري سفر کاوو او د بېرته ستنېدو په وخت کي به د مُعَرَّس له لاري مدینې ته ننوتو او رسول الله صلی الله علیه و سلم به چي مکې ته روانېدو نو د شجره په جومات کي به ئې لمونځ کاوو او چي بېرته به راستون شو نو په ذوالحلیفه کي به ئې د درې منځ کي لمونځ وکړ؛ او شپه به ئې تر سهاره هملته تېره کړه.

تکرار: دا روایت هم په بخاري کي همدا یو ځل راغلی او غریب دئ.

۸ باب: د رسول الله صلی الله علیه و سلم دا قول چي: (عقیق مبارکه دره ده)

۷۷۷ - عَنْ عُمَرَ رضی الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِوَادِى الْعَقِيقِ يَقُولُ: «أَتَانِي اللَّيْلَةَ آتٍ مِنْ رَبِّي، فَقَالَ: صَلِّ فِي هَذَا الْوَادِى الْمُبَارَكِ، وَقُلْ عُمْرَةً فِي حَجَّةٍ». بخاری:۱۵۳٤

۷۷۷- له عمر رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: په عقیق دره کي مي له رسول الله صلی الله علیه و سلم واورېدل چي وئې فرمایل: (تېره شپه زما د رب له لوري یو راتلونکی راته راغی او وئې ویل: په دې مبارکه دره کي لمونځ وکړه او د حج او عمرې (یو ځایي تر سره کولو نیت وکړه).

دا روایت په بخاري کي ۳ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۳٤ - ۲۳۳۷ - ۷۳٤۳

د ټولو راویان دا دي: يَحْيَى، عِكْرِمَة، ابْن عَبَّاسٍ او عُمَر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُم تر منځ ئې دا توپیرونه دي: په یوه کي أَتَانِي اللَّيْلَةَ آتٍ په بل کي اللَّيْلَةَ أَتَانِي آتٍ په یوه کي وَقُلْ: عُمْرَةً فِي حَجَّةٍ په بل کي وَقُلْ: عُمْرَةٌ فِي حَجَّةٍ او په بل کي وَقُلْ: عُمْرَةٌ وَحَجَّةٌ.

۷۷۸ - عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضی الله عنهما عَنِ النَّبِيِّ صلی الله علیه و سلم: أَنَّهُ رُئِيَ وَهُوَ فِي مُعَرَّسٍ بِذِى الْحُلَيْفَةِ بِبَطْنِ الْوَادِى قِيلَ لَهُ إِنَّكَ بِبَطْحَاءَ مُبَارَكَةٍ. (بخاری:۱۵۳۵)

٧٧٨- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: نبي صلى الله عليه و سلم د ذوالحليفه دمه ځای کي وو؛ په خوب کي ورته وويل شول چي ته په يوه مبارک خوړ او دره کي يې.

دا روايت د مخکيني شرح ده او دا مطلب ئې واضح کړی چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته په خوب کي ويل شوي وو چي ته په مبارکي وادي کي يې او د يو ځايي حج او عمرې نيت وکړه. د بخاري په دغو ځلورو روايتونو کي دا مطلب تکراري راغلی: ١٥٣٣، ١٥٣٤، ١٥٣٥ او ١٧٩٩.

٩ باب: معطره جامې درې واري مينځل

٧٧٩ – عن يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ رضى الله عنه قَالَ لِعُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ: أَرِنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ يُوحَى إِلَيْهِ، قَالَ: " فَبَيْنَمَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْجِعْرَانَةِ، وَمَعَهُ نَفَرٌ مِنْ أَصْحَابِهِ، جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كَيْفَ تَرَى فِي رَجُلٍ أَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ، وَهُوَ مُتَضَمِّخٌ بِطِيبٍ، فَسَكَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاعَةً، فَجَاءَهُ الوَحْيُ، فَأَشَارَ عُمَرُ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ إِلَى يَعْلَى، فَجَاءَ يَعْلَى وَعَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَوْبٌ قَدْ أُظِلَّ بِهِ، فَأَدْخَلَ رَأْسَهُ، فَإِذَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحْمَرُّ الوَجْهِ، وَهُوَ يَغِطُّ، ثُمَّ سُرِّيَ عَنْهُ، فَقَالَ: «أَيْنَ الَّذِى سَأَلَ عَنِ العُمْرَةِ؟» فَأُتِيَ بِرَجُلٍ، فَقَالَ: «اغْسِلِ الطِّيبَ الَّذِى بِكَ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ، وَانْزِعْ عَنْكَ الجُبَّةَ، وَاصْنَعْ فِي عُمْرَتِكَ كَمَا تَصْنَعُ فِي حَجَّتِكَ» قُلْتُ لِعَطَاءٍ: أَرَادَ الإِنْقَاءَ حِينَ أَمَرَهُ أَنْ يَغْسِلَ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ؟ قَالَ: «نَعَمْ» بخاری: ١٥٣٦

٧٧٩- له يَعْلَى بن اميه رضي الله عنه روايت دئ چي عمر رضي الله عنه ته ئې وويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کي راوښيه چي وحي پرې نازلېږي؛ يعلى وايي: کله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په جعرانه کي وو؛ او يو شمېر اصحاب ئې ورسره ول؛ يو سړی ورته

راغی او وئې ویل: یا رسول الله! د هغه سړي په اړه څه رأی لرې چې د عمرې لپاره د احرام تړلو په وخت کې ئې عطر وهلي وي؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم څه شېبه سکوت وکړ؛ بیا وحي ورته راغله؛ عمر رضي الله عنه یعلی ته اشاره وکړه؛ یعلی په داسي حال کې راغی چې پر رسول الله صلى الله عليه و سلم یو څادر وو چې په هغه سره ئې پر ځان سیوری کړی وو؛ سر ئې ورننباسو او وئې لیدل چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم مخ سور شوی او له څوړ سره ساه وهي؛ بیا دا حالت ترې لرې شو؛ او وئې فرمایل: "هغه سړی څه شو چې د عمرې په اړه ئې پوښتلي وو؟" نو هغه راوستی شو؛ نو وئې فرمایل: هغه عطر درې ځلي ومینځه چې ستا پر جامه دي؛ چپنه دي وباسه او په عمره کې هغه څه وکړه چې په حج کې ئې کوې. عطاء ته مي وویل: آیا کله چې ئې ورته امر وکړ: درې ځلي ئې ومینځه؛ په دې سره ئې ښه پاکول غوښتل؟ وئې ویل: «هو؛»

تکرار: دا روایت په بخاري کې دوه ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۳۶، ۴۹۸۵؛ غریب دئ؛ په ٤ طبقو کې یو یو راوي لرې چې دا دي: ابْنِ جُرَيْجٍ، عَطَاء، صَفْوَان بْن يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ او يَعْلَى؛

توپیر: په یوه کې دا راغلي أَنَّ يَعْلَى، كَانَ يَقُولُ: لَيْتَنِي أَرَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ يُنْزَلُ عَلَيْهِ الوَحْيُ، په بل کې نه دي راغلي، په یوه کې فِي رَجُلٍ أَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ، وَهُوَ مُتَضَمِّخٌ بِطِيبٍ، په بل کې فِي رَجُلٍ أَحْرَمَ فِي جُبَّةٍ، بَعْدَ مَا تَضَمَّخَ بِطِيبٍ په یوه کې وَهُوَ يَغِطُّ، ثُمَّ سُرِّيَ عَنْهُ په بل کې يَغِطُّ كَذَلِكَ سَاعَةً، ثُمَّ سُرِّيَ عَنْهُ، راغلي.

**۱۰ باب: د احرام تړلو په مهال خوشبويي وهل او د احرام څرنګوالی**

۷۸۰ - عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: كُنْتُ أُطَيِّبُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِإِحْرَامِهِ حِينَ يُحْرِمُ، وَلِحِلِّهِ قَبْلَ أَنْ يَطُوفَ بِالْبَيْتِ. (بخاری: ۱۵۳۹)

٧٨٠ – د رسول الله صلی الله علیه و سلم له مېرمني؛ عائشې رضي الله عنها روایت دئ چي وایي: پر رسول الله صلی الله علیه و سلم به مي د احرام تړلو له کبله هغه مهال هم عطر وهل چي احرام به ئې تړلو او له احرام د وتلو لپاره هم؛ تر دې وړاندي چي د بیت الله طواف وکړي.

تکرار: دا روایت په بخاري کې دوه ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٢٦٧، ١٥٣٩

توپیر: په یوه کې كُنْتُ أُطَيِّبُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَطُوفُ عَلَى نِسَائِهِ، راغلي خو په بل کې دا برخه (فَيَطُوفُ عَلَى نِسَائِهِ) نه ده راغلې، په یوه کې (ثُمَّ يُصْبِحُ مُحْرِمًا يَنْضَخُ طِيبًا) راغلي؛ په بل کې نه دي راغلي؛ که څوك له ٢٦٧ روایت خبر نه وي نو د ١٥٣٩ روایت په مطلب سم نه شي پوهېدی؛ حتی په دې مغالطه کې پرېوځي چي ښایي د احرام په وخت کې عطر وهل جائز دي؛ حال دا چي ٢٦٧ روایت وضاحت کوي چي دا عطر وهل تر احرام وړاندي وو او د احرام تړلو په وخت کې به ئې د عطر آثار له منځه وړل (ثُمَّ يُصْبِحُ مُحْرِمًا يَنْضَخُ طِيبًا).

## ١١ باب: د احرام په وخت په وېښتانو څه وهل

٧٨١- عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُهِلُّ مُلَبِّدًا. بخارى: ١٥٤٠

٧٨١ – له ابن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چي وئې ویل: له رسول الله صلی الله علیه و سلم مي واورېدل چي په جگ غږ ئې الله یادولو (لبیك اللهم لبیك) ئې ویلو؛ په داسي حال کې چي په وېښتانو ئې کنډ وهلي (مُلَبِّدًا) وو.

تلبید په وېښتانو کنډ ته ورته څه وهل دي چي په تنظیمولو او پاك ساتلو کې ئې مرسته کوي؛ دا جائز دي او رسول الله صلی الله علیه و سلم همدا کار کړی وو؛ اما له دې پرته پر وېښتانو داسي څه وهل چي معطر او غوړ ئې کړي ممنوع دي.

تکرار: دا روایت په بخاري کې ۳ ځلې په دغو شمېرو راغلی: (۱۵۴۰)، (۵۹۱٤) او (۵۹۱۵)

توپیر: په یوه کې «لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالمُلْكَ، لَا شَرِيكَ لَكَ» راغلي په نورو کې نه دي راغلي)؛ په یوه کې راغلي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (مُلَبِّدًا) وو؛ او په بل کې راغلي:

۵۹۱٤ - عن عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ: «مَنْ ضَفَّرَ فَلْيَحْلِقْ، وَلاَ تَشَبَّهُوا بِالتَّلْبِيدِ»:

عمر رضي الله عنه وېلي: چا چې خپل وېښتان سره تاو کړي او کوڅۍ ئې ترې جوړې کړې وي نو هغه دې وخریي او له تلبید سره مشابهت مه کوئ)؛ یعني له دې دېره وکړئ چې(مُلَبِّدًا) ته ورته شئ؛ امام بخاري د دې تعارض په اړه څه نه دي ویلي؛ خو دا روایت ئې هم راوړی:

۵۹۱٦ - حَدَّثَنِي إِسْمَاعِيلُ، قَالَ: حَدَّثَنِي مَالِكٌ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ حَفْصَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا شَأْنُ النَّاسِ حَلُّوا بِعُمْرَةٍ وَلَمْ تَحْلِلْ أَنْتَ مِنْ عُمْرَتِكَ؟ قَالَ: «إِنِّي لَبَّدْتُ رَأْسِي، وَقَلَّدْتُ هَدْيِي فَلَا أَحِلُّ حَتَّى أَنْحَرَ».

د رسول الله صلی الله علیه و سلم له مېرمني حفصې رضي الله عنها روایت دئ چې ومې ویل: یا رسول الله! خلك د عمرې له احرام ووتل او ته لا د خپلې عمرې له احرام نه ئې وتلی؟ وئې فرمایل: ما پر خپلو وېښتانو کنډ وهلي وو او د هدي (څاروی) مې له ځان سره راوړی؛ تر هغه چې څاروی ذبح نه کړم له احرام نه وځم.

د روایت الفاظ داسې دي چې ښيي رسول الله صلی الله علیه و سلم د سر وېښتان په داسې څه تلبید کړي وو چې پر عمره کوونکي دم (د څاروي ذبح کول) لازموي. خو خبره داسې نه وه؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم یا یوازې د حج نیت کړی وو او یا د حج او عمرې یو ځایي

نيت؛ هدي ئې درلوده او تر هغه له احرام نه شو وتلی چې هدي ذبح کړي.

دا روايت په بخاري کې ۳ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۶۶- ۱۷۲۵ - ۵۹۱۶ -

۱۵۴۰ روايت وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم د احرام حالت کې داسي ليدل شوی چې مُلَبِّدًا وو؛ خو د بخاري پورتنی روايت چې درې ځلي ئې راوړی داسي ښيي چې په احرام کې دا کار ممنوع دئ؛ الفاظ ئې دا دي: مَنْ ضَفَّرَ فَلْيَحْلِقْ، وَلَا تَشَبَّهُوا بِالتَّلْبِيدِ: چا چې خپل وېښتان سره تاو کړي او کوڅۍ ئې ترې جوړې کړې وي نو هغه دې وخريي او له تلبيد سره مشابهت مه کوئ)؛ يعني چې تلبيد او حتی له تلبيد سره مشابهت ممنوع دئ؛ نو له دغو دواړو به کوم يو منو: ۱- رسول الله صلی الله عليه و سلم مُلَبَّدْ ليدل شوی؛ ۲- له تلبيد سره مشابهت ممنوع دئ؟ د بخاري مبتدئ طالب العلم نه شي کولی دا تعارض رفع او د دې ټولو ٦ رواياتو له منځ؛ اصح او ارجح غوره کړي؛ د ټولو رواياتو اصلي موضوع يوه ده او هغه دا چې آيا د احرام حالت کې پر وېښتانو کنډ وهل جائز دي که نه؛ او که څوك دا کار وکړي؛ قرباني (دم) پرې لازمېږي که نه؛ د دې موضوع لپاره يو روايت کافي وو؛ که احياناً دا ومنو او ووايو: خير دئ ټول؛ صحيح او غير صحيح؛ مکمل او ناقص روايات دي راوړل شي؛ نو د محدث دنده دا ده چې دا ټول روايات يو د بل خوا ته کښېږدي او وليکي چې کوم يو صحيح او بشپړ دئ.

که رواياتو ته ځير شو نو داسي معلومېږي چې تلبيد (کنډ په وېښتانو وهل) جائز دي؛ خو که نارينه له خپلو وېښتانو کوڅۍ جوړې کړې او يا ئې پر کوڅيو کنډ وهلي وي؛ وېښتان به خريي؛ او پر وېښتانو داسي څه وهل چې کنډ ته ورته وي؛ خو يا معطر وي او يا د غوړو او تېلو په څېر وي؛ جائز نه دي. ځکه په روايت کې داسي راغلي: مَنْ ضَفَّرَ فَلْيَحْلِقْ، وَلَا تَشَبَّهُوا بِالتَّلْبِيدِ؛ له تلبيد سره د مشابهت ممانعت؛ د کوڅيو د خريلو

له امر سره يو ځای راغلی او همدا پورتنی مطلب افاده کوي.

نن موږ له دې ستونزې سره مخامخ يو چې د بخاري په رواياتو استناد کوونکي او حتی ډېری مدرسين ئې داسي دي چې له کوم شيخ به ئې بخاري په لويه دوره کې يو ځلي او هغه هم سر سري اورېدلې وي او په همدې سره به له هغه شيخ الحديث، لوی مدرس او مفتي اعظم جوړ شوی وي!! د مسلمان د وژلو او په جوماتونو کې د چاودنو فتوی به ورکوي؛ يقيناً چې د نن زمانې د تکفيري ډلو فتنه له همدې راټوکېدلې؛ نيمچه ملايان ئې؛ چې قرآن له مخي سم نه شي لوستلی او د بخاري له سم او صحيح لوستلو عاجز دي؛ د غير يقيني سنت، مستحب او حتی فضائلو له مخي به د خپل مسلك مخالفين تکفيروي، واجب القتل به ئې ګڼي او د خدای په سپېڅلي کور؛ جومات کې به د لمانځه په وخت کې چاودني نه يوازي جائز بولي؛ بلکي داسي انتحاري چاودنو ته به د استشهادي عملياتو نوم ورکوي!!

دا هم بايد واضح شي چې د تلبيد معنی هغه څه په وېښتانو وهلو ته وايي چې له خورېدو او نامنظمه کېدو ئې مخنيوی کوي؛ او په خاصه بڼه او شکل کې ئې تنظيموي؛ د وېښتانو په حفاظت او د حشراتو د نفوذ په مخنيوي کې مرسته کوي؛ نه د عطر په څېر خوږ بوی لري او نه د غوړو او تېلو په څېر وېښتانو ته ځلا ورکوي.

په مخکينيو درسونو کې همداسي يو روايت مخي ته راغی چې له بخاري پرته په بل هيڅ کتاب کې نه دئ راغلی؛ هغه روايت چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم په فارسي وفرمايل: كِخْ كِخْ أَمَا تَعْرِفُ أَنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ؛ يعني چې رسول الله صلى الله عليه و سلم حسن رضي الله عنه ته چې ماشوم وو او د صدقې خرما ئې په خوله کړې وه؛ په دغو فارسي الفاظو سره وويل: دا مه خوره او وئې غورځوه؛ ځکه موږ صدقه نه خورو؛ ومو ويل چې دا روايت هم غريب دئ او هم له امام بخاري پرته بل هيچا د اعتبار وړ نه دئ ګڼلی؛ دا بايد په پام کې ولرو

چي امام بخاري؛ د نيشاپور په ښېر په ځينو فارسي ژبو ښارونو کې پاته شوی؛ ښايي د کخ کخ الفاظو منشأ دغه وي؛ يعني چي ښايي امام بخاري به همدلته له داسي راوي اورېدلی وي چي په فارسي پوهېدو او هغه د عربي الفاظو په ځای د فارسي دا الفاظ کارولي. ما د دې روايت د راويانو په اړه لنډه ښېړنه وکړه؛ يو شمېر راويان مي له نظره تېر کړل؛ لا مي د نيشاپور او نورو فارسی ژبو سيمو کوم راوي نه دئ موندلی؛ خو د بصرې راوي مي په کې موندلی؛ بصره له ايران سره په پوله پرته ده؛ ځيني اوسېدونکي ئې له فرهنگي او مذهبي پلوه له ايرانيانو سره ورته دي؛ ښايي د فارسي دا الفاظ له ايران هلته انتقال شوي او کوم راوي کارولي وي.

## ۱۲ باب: د ذوالحليفه له جومات احرام تړل

۷۸۲ - عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما قَالَ: مَا أَهَلَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا مِنْ عِنْدِ الْمَسْجِدِ. يَعْنِي: مَسْجِدَ ذِى الْحُلَيْفَةِ. (بخارى:۱۵٤۱)

۷۸۲- له ابن عمر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د ذوالحليفه له جومات پرته له بل ځای احرام نه دئ تړلی.

د دې روايت مکمله بڼه داسي ده:

۱۷۷۱ - عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: بَيْدَاؤُكُمْ هَذِهِ الَّتِي تَكْذِبُونَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهَا «مَا أَهَلَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِلَّا مِنْ عِنْدِ الْمَسْجِدِ يَعْنِي مَسْجِدَ ذِى الْحُلَيْفَةِ» سنن أبى داؤد

سالم بن عبد الله له خپل پلار (إبن عمر رضي الله عنهما) روايت كوي چي له خپل پلار ئې اورېدلي چي وئې ويل: ستاسو دا بېديا چي په اړه ئې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په ارتباط دروغ وايئ؛ (چي گواکې له دې ځای ئې احرام تړلی او تلبيه ئې پيل کړې)؛ رسول الله صلى الله

عليه و سلم د ذي الحليفه له مسجد پرته له بل ځای احرام او تلبيه نه ده کړې.

په عربي کي بيداء د پښتو له بېديا سره هممعنى ده؛ دا پر ذي الحليفه مشرفه بېديا ده چي ځينو له دې ځای د رسول الله صلى الله عليه و سلم د تلبيې ويلو ادعاء کوله؛ ابن عمر رضي الله عنه دا ادعاء رد کړې.

## ۱۳ باب: د حج په دوران کي په يوه سورلۍ د دوو نفرو سورېدل

۷۸۳ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنه: أَنَّ أُسَامَةَ رضى الله عنه كَانَ رِدْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عَرَفَةَ إِلَى الْمزْدَلِفَةِ، ثُمَّ أَرْدَفَ الْفَضْلَ مِنَ الْمزْدَلِفَةِ إِلَى منًى، فَكِلاهُمَا قَالَ: لَمْ يَزَلِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُلَبِّي حَتَّى رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ. (بخارى: ١٥٤٤)

۷۸۳- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: اسامه رضي الله عنه له عرفات تر مزدلفې پوري پر يوې سورلۍ د رسول الله صلى الله عليه و سلم تر شا سپور وو؛ بيا ئې فضل بن عباس رضي الله عنه له مزدلفې تر منٰى پوري تر شا سپور کړ؛ دوی دواړو ويلي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د شاتنۍ جمرې تر ويشتلو پوري تلبيه ويله.

دا روايت ۲ ځلي په بخاري کي په دغو شمېرو راغلی: ١٥٤٤ او ١٦٨٦؛ له هيڅ توپير پرته؛ غريب دئ؛ په ۷ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: زُهَيْر بْن حَرْب، وَهْب بْن جَرِير، پلار ئې جرير، يُونُس الأَيْلِيّ، الزُّهْرِيّ، عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ او ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا.

## ١٤ باب: د محرم لباس

٧٨٤ - عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما قَالَ: انْطَلَقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمَدِينَةِ، بَعْدَ مَا تَرَجَّلَ وَادَّهَنَ، وَلَبِسَ إِزَارَهُ وَرِدَاءَهُ، هُوَ وَأَصْحَابُهُ، فَلَمْ يَنْهَ عَنْ شَيْءٍ مِنَ الأَرْدِيَةِ وَالأُزُرِ تُلْبَسُ، إِلَّا الْمُزَعْفَرَةَ الَّتِي تَرْدَعُ عَلَى الْجِلْدِ، فَأَصْبَحَ بِذِي الْحُلَيْفَةِ،

رَكِبَ رَاحِلَتَهُ، حَتَّى اسْتَوَى عَلَى الْبَيْدَاءِ أَهَلَّ هُوَ وَأَصْحَابُهُ وَقَلَّدَ بَدَنَتَهُ، وَذَلِكَ لِخَمْسٍ بَقِينَ مِنْ ذِى الْقَعْدَةِ، فَقَدِمَ مَكَّةَ لأَرْبَعِ لَيَالٍ خَلَوْنَ مِنْ ذِى الْحَجَّةِ، فَطَافَ بِالْبَيْتِ وَسَعَى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، وَلَمْ يَحِلَّ مِنْ أَجْلِ بُدْنِهِ، لأَنَّهُ قَلَّدَهَا، ثُمَّ نَزَلَ بِأَعْلَى مَكَّةَ عِنْدَ الْحَجُونِ، وَهُوَ مُهِلٌّ بِالْحَجِّ، وَلَمْ يَقْرَبِ الْكَعْبَةَ بَعْدَ طَوَافِهِ بِهَا حَتَّى رَجَعَ مِنْ عَرَفَةَ، وَأَمَرَ أَصْحَابَهُ أَنْ يَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ وَبَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، ثُمَّ يُقَصِّرُوا مِنْ رُءُوسِهِمْ، ثُمَّ يَحِلُّوا، وَذَلِكَ لِمَنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ بَدَنَةٌ قَلَّدَهَا، وَمَنْ كَانَتْ مَعَهُ امْرَأَتُهُ فَهِيَ لَهُ حَلاَلٌ، وَالطِّيبُ وَالثِّيَابُ. (بخاری:۱۵٤۵)

۷۸٤- له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دیٔ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم او اصحاب ئې له سر غوړولو او ږمنځولو او د لونګ او څادر له اغوستلو وروسته؛ له مدینې روان شول او د هیڅ ډول څادر او لونګ له اغوستلو ئې ممانعت ونه کړ؛ مګر هغه چې په زعفرانو داسې معطر شوی وي چې اثر ئې پر پوستکي پاته کېږي؛ شپه ئې په ذوالحلیفه کې تېره کړه، سهار پر خپلې سورلۍ سپور او روان شو؛ تر هغه چې بیداء (بېدیا) ته ورسېدو؛ نو ده او یارانو ئې د تلبیې ویل پیل کړل او د هغو څارویو غاړو کې ئې (غاړه کۍ) واچولې چې د قربانۍ لپاره ئې راوستې وو؛ او دا هغه وخت وو چې د ذي القعدې میاشتې پنځه ورځې پاته وې. کله چې مکې ته ورسېد؛ د ذي الحجې څلور ورځې تېرې شوې وې؛ د بیت الله طواف ئې وکړ او د صفا او مروه تر منځ ئې سعي وکړه؛ او له دې امله له احرام ونه وتلو چې د قربانۍ لپاره ئې د خپلو څارویو په غاړو کې غاړه کۍ اچولې وې؛ بیا ئې د مکې په پورتنۍ برخه کې له حجون سره واړول؛ په داسې حال کې چې د حج نیت ئې کړی وو؛ له طواف وروسته؛ تر هغه کعبې ته نژدې نه شو چې له عرفات راستون شو؛ او خپلو یارانو ته ئې امر وکړ چې د بیت الله او صفا او مروه تر منځ طواف وکړي؛ بیا خپل وېښتان کم کړي او ورپسې له احرام ووځي؛ او دا د هغو

لپاره چې د قربانۍ داسي څاروي ورسره نه وو چې په غاړو کې ئې غاړه کۍ اچولو سره په نښه کړی وي؛ او له چا سره چې خپله مېرمن وي نو هغه، عطر وهل او جامې اغوستل ورته جائز دي.

تكرار: دا روايت په بخاري کې ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵٤۵، ۱٦۲۵

توپير: په يوه کې فقط دومره راغلي: قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ، فَطَافَ وَسَعَى بَيْنَ الصَّفَا، وَالمَرْوَةِ وَلَمْ يَقْرَبِ الكَعْبَةَ بَعْدَ طَوَافِهِ بِهَا، حَتَّى رَجَعَ مِنْ عَرَفَةَ»

په دې دواړو رواياتو کې د تعارض شاهد يو؛ سالم بن عبد الله له خپل پلار اورېدلي چې وئې ويل: ستاسو دا بېديا چې په اړه ئې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په ارتباط دروغ وايئ؛ (چې گواکې له دې ځای ئې تلبيه ويل پيل کړي)؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم د ذي الحليفه له مسجد پرته له بل ځای تلبيه نه ده کړې. اما دا روايت وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم شپه په ذوالحليفه کې تېره کړه، سهار پر خپلې سورلۍ سپور او روان شو؛ تر هغه چې بيداء (بېديا) ته ورسېدو؛ نو ده او يارانو ئې د تلبيې ويل پيل کړل. امام بخاري دا وضاحت نه دئ کړی چې په دغو دواړو کې کومه خبره صحيح ده؛ عمدة القاري د توجيه هڅه کړې خو توجيه ئې ډېره کمزورې ده؛ تعارضات دا دي: په يوه کې راغلي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم شپه په ذي الحليفه کې تېره او سبا ئې د ذي الحليفه له مسجد د تلبيې ويل پيل کړي؛ دا د ابن عمر روايت دئ؛ په بل کې ويل شوي رسول الله صلى الله عليه و سلم د ماسپښين لمونځ مدينه کې او د مازديگر دوه رکعته لمونځ په ذي الحليفه کې کړی؛ دا د انس رضي الله عنه روايت دئ؛ په بل کې ويل شوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د ماسپښين لمونځ په ذي الحليفه کې اداء کړ؛ بيا پر خپلې سورلۍ سپور او روان شو؛ کله چې بيداء ته ورسېدو د حج تلبيه ويل ئې پيل کړي؛ ابن عمر رضي الله عنه دا ردوي او دروغ ئې گڼي او

وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم له ذي الحليفه پرته په بل ځاى کې د تلبيې ويل نه دي پيل كړي.

كه په دغو کې هر روايت ومنل شي؛ هيڅ ستونزه نه رامنځته كېږي؛ ستونزه فقط دا ده چي په يوه كتاب کې متعارضي ويناوي د لوستونكو مخي ته ايښودل شوې او دا د هغوى ذهن مغشوشوي او د رواياتو په اړه ئې باور كمزورى كوي. نه مناسبه ده او نه د توجيه وړ چي په يوه كتاب کې داسي متعارض روايات راوړل شي او لوستونكو ته ونه ويل شي چي كوم يو ئې تر بل اصح دئ.

## ۱۵ باب: تلبيه

۷۸۵ - عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما: أَنَّ تَلْبِيَةَ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم: «لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ، لا شَرِيكَ لَكَ». (بخارى:۱٥٤۹)

۷۸۵- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم تلبيه داسي وه: «لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ، لا شَرِيكَ لَكَ»: حاضر او تيار يم ستا امر منلو ته اې زما مولا! چمتو يم منلو ته! چمتو يم؛ هيڅ شريك دي نه شته؛ چمتو يم؛ يقيناً چي ستايني او نعمتونه تا ته مختص دي؛ او واكمني هم؛ هيڅ شريك دي نه شته.

## ۱٦ باب: تر تلبيې وړاندي حمد، تسبيح او تكبير

۷۸٦ - عَنْ أَنَسٍ رضى الله عنه قَالَ: صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ مَعَهُ بِالْمَدِينَةِ الظُّهْرَ أَرْبَعًا، وَالْعَصْرَ بِذِى الْحُلَيْفَةِ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ بَاتَ بِهَا حَتَّى أَصْبَحَ، ثُمَّ رَكِبَ حَتَّى اسْتَوَتْ بِهِ عَلَى الْبَيْدَاءِ، حَمِدَ اللَّهَ، وَسَبَّحَ، وَكَبَّرَ، ثُمَّ أَهَلَّ بِحَجٍّ وَعُمْرَةٍ، وَأَهَلَّ النَّاسُ بِهِمَا، فَلَمَّا قَدِمْنَا أَمَرَ النَّاسَ، فَحَلُّوا حَتَّى كَانَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ، أَهَلُّوا بِالْحَجِّ، قَالَ:

وَنَحَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَدَنَاتٍ بِيَدِهِ قِيَامًا، وَذَبَحَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِينَةِ كَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ. (بخاری: ۱۵۵۱)

۷۸٦- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وئې ويل: رسول الله صلی الله عليه و سلم؛ په مدينه کې؛ چي موږ ورسره وو؛ د ماسپښين لمونځ څلور رکعته وکړ او د مازديگر لمونځ ئې په ذي الحليفه کي دوه رکعته وکړ؛ بيا ئې هملته شپه وکړه تر هغه چي شپه پرې سبا شوه؛ بيا سپور او روان شو تر هغه چي سورلۍ ئې برابر هغي بېديا ته ورسولو؛ د الله تعالی حمد، تسبيح او تکبير ئې وويلو؛ بيا ئې د حج او عمرې اداء کولو غږ وکړ؛ او خلکو هم په تلبيې سره د دواړو نيت څرگند کړ؛ کله چي مکې ته ورسېدو؛ خلکو ته ئې امر وکړ نو له احرام ووتل؛ تر هغه چي د ترويه ورځ (د ذي الحجې اتمه) شوه؛ د حج لپاره ئې تلبيه وکړه؛ راوي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپل لاس؛ څو اوښان په ولاړه حلال کړل؛ او رسول الله صلی الله عليه و سلم دوه برگ دوه کلن پسونه په مدينه کي حلال کړل.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ۳ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۵۱، ۱۷۱۲ او ۱۷۱٤

توپير: په يوه کي حَمِدَ اللَّهَ وَسَبَّحَ وَكَبَّرَ په بل کي فَجَعَلَ يُهَلِّلُ وَيُسَبِّحُ، په يوه کي حَتَّى اسْتَوَتْ بِهِ عَلَى الْبَيْدَاءِ په بل کي فَلَمَّا عَلَا عَلَى الْبَيْدَاءِ، په يوه کي ثُمَّ أَهَلَّ بِحَجٍّ وَعُمْرَةٍ په بل کي لَبَّى بِهِمَا جَمِيعًا، په يوه کي وَنَحَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَدَنَاتٍ بِيَدِهِ قِيَامًا، په بل کي «وَنَحَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ سَبْعَ بُدْنٍ قِيَامًا، په يوه کي كَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ په بل کي كَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ (ښکرور) راغلي.

لکه چي مخکي مو وويل د بخاري دا روايت له ۱۵٤۱ روايت سره ئې چي مخکي تېر شو جدي تعارض لري؛ په هغه کي ويل شوي: له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و

سلم د ذوالحليفه له جومات پرته له بل ځای تلبيه نه ده کړې؛ او حتى له بيداء (پر ذي الحليفه مشرفه بېديا)؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم د تلبيې پيلېدو ادعاء دروغ او كذب بولي او وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فقط د ذي الحليفه له جومات تلبيه پيل کړه: بَيْدَاؤُكُمْ هَذِهِ الَّتِي تَكْذِبُونَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهَا «مَا أَهَلَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِلَّا مِنْ عِنْدِ الْمَسْجِدِ يَعْنِي مَسْجِدَ ذِي الْحُلَيْفَةِ.

## ۱۷ باب: د تلبيې په وخت قبلې ته مخ اړول

۷۸۷ - عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضى الله عنه: أَنَّهُ كَانَ يُلَبِّي من ذِى الْحُلَيْفَةِ، ثُمَّ إِذَا بَلَغَ الْحَرَمَ يُمْسِكُ حَتَّى إِذَا جَاءَ ذَا طُوًى بَاتَ بِهِ، حَتَّى يُصْبِحَ، فَإِذَا صَلَّى الْغَدَاةَ اغْتَسَلَ، وَزَعَمَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَلَ ذَلِكَ. (بخارى: ۱۵۵۳)

۷۸۷- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي هغه به له ذي الحليفې تلبيه ويله؛ بيا کله چي به حرم ته ورسېد؛ بنده به ئې کړه؛ تر هغه چي (ذي طوى) ته به ورسېد؛ همهلته به ئې شپه کړه؛ تر هغه چي سبا به راويښ شو؛ کله چي به ئې د سهار لمونځ وکړ؛ نو وبه لمبېدو؛ او گمان ئې کاوو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم همداسي کول.

يادونه: دلته د باب او شرح باب تر منځ هيڅ ارتباط نه ليدل کېږي؛ باب داسي دئ: د تلبيې په وخت قبلې ته مخ اړول؛ خو په روايت کې د قبلې لوري ته مخ اړول نه شته!!

## ۱۸ باب: درې ته د کوزېدو په مهال تلبيه ويل

۷۸۸ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: «أَمَّا مُوسَى كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ إِذِ انْحَدَرَ فِي الْوَادِي يُلَبِّي». (بخارى:۱۵۵۵)

۷۸۸- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: نبي صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (... او موسى (عليه السلام) داسي وو لکه چي زه

ئې همدا اوس گورم چې درې ته کوزېږي او تلبيه وايي).

دا د يوه روايت يوه برخه ده چې په مطلب ئې هغه مهال سم پوهېدی شو چې ټول روايت خپلې مخې ته کښېږدو؛ ځکه دا واضح نه ده چې رسول الله صلی الله عليه و سلم موسی عليه السلام څنگه د تلبيې ويلو په حالت کې ليدلی؛ په خوب کې که په ويښه؛ بشپړ روايت داسې دئ:

۱۵۵۵ - عَنْ مُجَاهِدٍ، قَالَ: كُنَّا عِنْدَ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، فَذَكَرُوا الدَّجَّالَ أَنَّهُ قَالَ: مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ كَافِرٌ، فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: لَمْ أَسْمَعْهُ وَلَكِنَّهُ قَالَ: «أَمَّا مُوسَى كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ إِذْ انْحَدَرَ فِي الوَادِي يُلَبِّي» بخارى

له مجاهد روايت دئ چې ويلي ئې دي: د ابن عباس رضي الله عنهما خوا ته وو؛ حاضرينو د دجال يادونه وکړه چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: د دواړو سترگو تر منځ ئې د کافر کلمه ليکل شوې؛ ابن عباس وويل: دا مې نه دي ترې اورېدلي؛ خو وئې فرمايل: (... او موسی (عليه السلام) داسې وو لکه چې زه ئې همدا اوس گورم چې درې ته کوزېږي او تلبيه وايي).

تکرار: دا روايت په بخاري کې ۳ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۵۵- ۵۹۱۳- ۷۴۰۸ -

توپير: په يوه کې يوازې د دجال او موسی عليه السلام يادونه شوې او په بل کې پر دوی سربېره د ابراهيم عليه السلام يادونه هم شوې؛ ځينو محدثينو دا وضاحت هم کړی چې رسول الله صلی الله عليه و سلم په خوب کې ابراهيم او موسی عليهما السلام ليدلي وو.

دا هم ضروري برېښي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم په دې خوب کې عيسی عليه السلام او دجال هم ليدلي؛ او له دې معلومېږي چې د دجال په اړه د روايت منشأ رؤيا ده؛ نه قرآن او نه وحي. د دې رؤيا اړوند روايت داسې دئ:

۷۰۲٦ - عن عَبْدِ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " بَيْنَا أَنَا نَايِمٌ رَأَيْتُنِي أَطُوفُ بِالكَعْبَةِ، فَإِذَا رَجُلٌ آدَمُ، سَبْطُ الشَّعَرِ، بَيْنَ رَجُلَيْنِ، يَنْطُفُ رَأْسُهُ مَاءً، فَقُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالُوا: ابْنُ مَرْيَمَ، فَذَهَبْتُ أَلْتَفِتُ فَإِذَا رَجُلٌ أَحْمَرُ جَسِيمٌ، جَعْدُ الرَّأْسِ، أَعْوَرُ العَيْنِ اليُمْنَى، كَأَنَّ عَيْنَهُ عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ، قُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالُوا: هَذَا الدَّجَّالُ، أَقْرَبُ النَّاسِ بِهِ شَبَهًا ابْنُ قَطَنٍ " وَابْنُ قَطَنٍ رَجُلٌ مِنْ بَنِي المُصْطَلِقِ مِنْ خُزَاعَةَ. رواه البخاری

له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (په داسي حال کي چي ویده وم؛ ځان داسي گورم چي د کعبې طواف کوم؛ ناڅاپه یو غنم رنگی سړی چي وېښتان ئې گڼ دي؛ د دوو تنو تر منځ؛ له سر ئې د اوبو څاڅکي څڅېږي؛ ومي ویل: دا څوك دئ؟ وئې ویل: دا د مریمي زوی دئ؛ بیا ولاړم؛ شاوخوا مي کتل؛ ناڅاپه یو سړی گورم چي سور رنگی او پرېړ دئ، وېښتان ئې تاو شوي، په ښۍ سترگي ړوند دئ؛ سترگه ئې داسي ده لکه د انگور په یوه وږي کي غټه او جوته دانه. ومي ویل: دا څوك دئ؟ وئې ویل: دا دجال دئ؛ په خلکو کي ده ته نژدې ورته کس؛ ابْنُ قَطَن دئ). ابْنُ قَطَن د بَنِي المُصْطَلِقِ له قبیلې وو.

له دې روایت څو خبري په ډېر صراحت سره معلومېږي:

- رسول الله صلی الله علیه و سلم دجال په خوب کي لیدلی.
- یو انسان او د بني المصطلق قبیلې یوه تن ته ئې جسم، رنگ او وېشتان ورته وو.
- په ښۍ سترگي ړوند وو. (خو د ده په اړه صحیح مسلم کي راغلی روایت وایي چي دجال په کیڼې سترگي ړوند وو؛ تفصیلات به ئې وروسته وگورئ)؛ او دا ښیي چي صحیح مسلم او صحیح بخاري په خپلو منځونو کي داسي ژور تعارضات هم لري؛ ځیني داسي گمان کوي چي

دواړه به په بشپړه توګه او په ټولو روایاتو کې سره متفق وي؛ خو حقیقت دا دئ چې د دې دواړو روایاتو په څېر په ډېرو نورو کې هم ژور توپیرونه سره لري؛ امام مسلم یوازې په ١٥١٩ روایاتو کې له بخاري سره موافق دئ؛ په پاته نژدې ٦٠٠٠ روایاتو کې ورسره موافق نه دئ).

**١٩ باب: د رسول الله صلى الله عليه و سلم په زمانه کي د ده په څېر إهلال (د حج او عمرې نیت)**

٧٨٩ - عَنْ أَبِي مُوسَى رضى الله عنه قَالَ: بَعَثَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى قَوْمٍ بِالْيَمَنِ، فَجِئْتُ وَهُوَ بِالْبَطْحَاءِ، فَقَالَ: «بِمَا أَهْلَلْتَ»؟ قُلْتُ: أَهْلَلْتُ كَإِهْلَالِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم. قَالَ: «هَلْ مَعَكَ مِنْ هَدْيٍ»؟ قُلْتُ: لا. فَأَمَرَنِي فَطُفْتُ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، ثُمَّ أَمَرَنِي فَأَحْلَلْتُ، فَأَتَيْتُ امْرَأَةً مِنْ قَوْمِي، فَمَشَطَتْنِي؛ او غَسَلَتْ رَأْسِي. فَقَدِمَ عُمَرُ رضى الله عنه، فَقَالَ: إِنْ نَأْخُذْ بِكِتَابِ اللَّهِ فَإِنَّهُ يَأْمُرُنَا بِالتَّمَامِ، قَالَ اللَّهُ: وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ وَإِنْ نَأْخُذْ بِسُنَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنَّهُ لَمْ يَحِلَّ حَتَّى نَحَرَ الْهَدْيَ. (بخارى:١٥٥٩)

٧٨٩- ابو موسى رضي الله عنه وايي: زه رسول الله صلى الله عليه و سلم د يمن يوه قوم ته ولېږلم؛ په داسې حال کې (ترې) راغلم چې هغه په بَطْحَاء (د مکې او منیٰ تر منځ یو ځای) کې وو؛ وئې فرمایل: د څه نیت او اراده دې کړې (د حج که عمرې؟)؛ ومې ویل: د نبي صلى الله عليه و سلم د نیت په شان مې نیت کړی. وئې فرمایل: کومه هدي (د قربانۍ څاروي) درسره شته؟؛ ومې ویل: نه؛ بیا ئې امر راته وکړ نو ما د بیت الله او صفا او مروه طواف وکړ؛ بیا ئې امر راته وکړ او له احرام ووتلم؛ نو د خپل قوم یوې مېرمنې ته ورغلم؛ نو ئې وېښتان راږمنځ کړل؛ یا ئې سر راومینځلو. بیا چې عمر رضي الله عنه راوړاندې شو؛ وئې ویل: که د الله په کتاب تمسك وکړو؛ نو هغه د اتمام امر راته کوي؛ الله تعالی فرمايلي: وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّه: حج او عمره د الله لپاره بشپړه کړئ؛

او كه د رسول الله صلی الله علیه و سلم په سنت تمسك كوو نو دی تر هغه له احرام ونه وتلو چي هدي ئې ذبح كړه.

تکرار: دا روایت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۵۹، ۱۷۲٤

توپیر: په یوه کي يمن ته د ابو موسی رضي الله عنه د لېږلو او راستنېدلو یادونه شوې؛ په بل کي نه ده شوې؛ په یوه کي بِمَا أَهْلَلْتَ؟ په بل کي أَحَجَجْتَ؟، په یوه کي أَهْلَلْتُ كَإِهْلَالِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او په بل کي لَبَّيْكَ بِإِهْلَالٍ كَإِهْلَالِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، په یوه کي فَأَمَرَنِي، فَطُفْتُ بِالْبَيْتِ، وَبِالصَّفَا وَالمَرْوَةِ په بل کي أَحْسَنْتَ، انْطَلِقْ، فَطُفْ بِالْبَيْتِ، وَبِالصَّفَا وَالمَرْوَةِ، په یوه کي فَأَتَيْتُ امْرَأَةً مِنْ قَوْمِي، فَمَشَطَتْنِي - أَوْ غَسَلَتْ رَأْسِي په بل کي ثُمَّ أَتَيْتُ امْرَأَةً مِنْ نِسَاءِ بَنِي قَيْسٍ، فَفَلَتْ: رَأْسِي (وېښتان مې پرانیستل)، په یوه کي ثُمَّ أَهْلَلْتُ بِالحَجِّ، فَكُنْتُ أُفْتِي بِهِ النَّاسَ، حَتَّى خِلَافَةِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَذَكَرْتُهُ لَهُ، په بل کي دا مطلب نه دئ راغلی او داسي ویل شوي: فَقَدِمَ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ چي لازم وضاحت په کي نه شته؛ په دواړو کي د عمر رضي الله عنه دا وینا راغلې: إِنْ نَأْخُذْ بِكِتَابِ اللَّهِ فَإِنَّهُ يَأْمُرُنَا بِالتَّمَامِ، قَالَ اللَّهُ: {وَأَتِمُّوا الحَجَّ وَالعُمْرَةَ لِلَّهِ} [البقرة: ۱۹٦] وَإِنْ نَأْخُذْ بِسُنَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنَّهُ «لَمْ يَحِلَّ حَتَّى نَحَرَ الهَدْيَ»؛ نه امام بخاري دا وضاحت کړی چي د عمر رضي الله عنه د وینا مطلب څه دئ؛ او نه په دواړو روایتونو کي په دې اړه کافي وضاحت لیدل کېږي.

د ځینو محدثینو له آراءو داسي معلومېږي چي عمر رضي الله عنه د ابو موسی له فتوی او رأی سره توافق نه دئ کړی؛ د قرآن په آیت او د رسول الله صلی الله علیه و سلم په سنت ئې استناد کړی؛ څکه قرآن د حج بشپړولو لارښوونه کړې؛ یعني کله چي د حج لپاره احرام وتړئ او مناسك پيل كړئ نو تر بشپړېدو پوري ئې مه قطع کوئ؛ عمر رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه و سلم د حج په اړه وايي: وَإِنْ نَأْخُذْ

بِسُنَّةِ النَّبِيّ صلى الله عليه و سلم فَإِنَّهُ لَمْ يَحِلَّ حَتَّى نَحَرَ الْهَدْيَ. راشئ نسائي ته غوږ شو چي وايي:

أنَّ أبا مُوسى سَأَلَ عُمرَ عن ذلِك، فقال عُمرُ: قد عَلِمْتُ أنَّ رَسولَ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ قد فَعَلَه، ولكنْ كَرِهْتُ أنْ يَظلُّوا مُعرِّسينَ بهنَّ في الأراكِ، ثمَّ يَروحوا في الحجِّ تَقطُر رُؤوسُهم، ومعْناه: كَرِهْتُ التَّمتُّعَ؛ لأنَّه يَقتضي التَّحلُّلَ ووَطْءَ النِّساءِ إلى حِينِ الخُروجِ إلى الحجِّ. النسائي

يعني ابو موسى له عمر رضي الله عنه په دې اړه وپوښتل او هغه وويل: په دې پوهېږم چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپله دا كار كړی؛ خو دا مي خوښ نه شو چي حاجيان عرفات ته نژدې تر اراك پوري له خپلو مېرمنو سره نژدېکت کوي او بيا سبا د حج مناسك په داسي حال کي پيلوي چي له سرونو ئې اوبه څڅېږي (غسل ئې کړی)؛ او معنى ئې دا ده چي عمر رضي الله عنه ويلي: تمتع (له عمرې وروسته له احرام وتل) مي نه خوښېږي؛ دا ځکه چي تر هغه له احرام وتل او له مېرمنو سره نژدېکت ايجابوي چي د حج لپاره وځي.

رسول الله صلى الله عليه و سلم ابو موسى ته ځکه د عمرې له اداء کولو وروسته؛ له احرام د وتلو لارښوونه وکړه چي هغه نه د حج او عمرې د ګډ يا بېل؛ څرګنده اراده او نيت کړی وو او نه ئې له ځان سره هدي درلوده؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم د پوښتني په ځواب کي ئې ويلي: (أَهْلَلْتُ كَإِهْلَالِ النَّبِيّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)؛ يعني تا چي د حج او عمرې په اړه څه نيت کړی؛ زه به همغسي کوم؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته ويلي: د بيت الله طواف او د صفا او مروه سعي وکړه؛ بيا له احرام ووځه. د تمتع، قران او افراد حجونو تفصيلات به په خپل ځای کي وګورئ. وروستي حديث کي د دې وضاحت شوی.

## ۲۰ باب: د قرآن دا آیت: (الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَعْلُومَاتٌ ...) البقرة: ۱۹۷

۷۹۰ - عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها: وَحَدِيْثُهَا فِي الْحَجِّ قَدْ تَقَدَّمَ، قَالَتْ فِيْ هذِهِ الرِّوَايَةِ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ، وَلَيَالِي الْحَجِّ وَحُرُمِ الْحَجِّ، فَنَزَلْنَا بِسَرِفَ، قَالَتْ: فَخَرَجَ إِلَى أَصْحَابِهِ فَقَالَ: «مَنْ لَمْ يَكُنْ مِنْكُمْ مَعَهُ هَدْيٌ، فَأَحَبَّ أَنْ يَجْعَلَهَا عُمْرَةً فَلْيَفْعَلْ، وَمَنْ كَانَ مَعَهُ الْهَدْيُ فَلا». قَالَتْ: فَالآخِذُ بِهَا وَالتَّارِكُ لَهَا مِنْ أَصْحَابِهِ، قَالَتْ: فَأَمَّا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرِجَالٌ مِنْ أَصْحَابِهِ فَكَانُوا أَهْلَ قُوَّةٍ، وَكَانَ مَعَهُمُ الْهَدْيُ فَلَمْ يَقْدِرُوا عَلَى الْعُمْرَةِ. وَذَكَرَتْ بَاقِيَ الْحَدِيْثِ. (بخاری: ۱۵٦۰)

۷۹۰- د حج په اړه د عائشې رضي الله عنها روايت مخکې تېر شو او په دې روايت کې وايي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره د حج په مياشتو، د حج په شپو او د حج په حرماتو (محترمو مقاماتو، وختونو او حالتونو) کې له مدينې ووتو او په (سرف) کې مو واړول؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم خپلو اصحابو ته رووت او وئې فرمايل: "له چا سره چې هدي (د قرباني هغه څاروی چې حاجي ئې د قربانۍ په ورځ او د قربانۍ په خاص ځای کې ذبح کوي) نه وي او دا ئې خوښېږي چې عمره ئې کړي؛ نو همداسې دې وکړي؛ خو هغه چې هدي ورسره وي نو داسې دې نه کوي"؛ عائشې رضي الله عنها وويل: نو له يارانو ئې ځيني پرې عمل کوونکي شول او ځيني پرېښودونکي (د عمرې له نيت)؛ او وئې ويل: اما رسول الله صلی الله علیه و سلم او يو شمېر ياران ئې چې توانمن ول او هدي ورسره وه؛ د عمرې په اداء کولو قادر نه شول. پاته حديث ئې هم بيان کړ.

## ۲۱ باب: د حج ډولونه تمتع، قران او افراد...

۷۹۱ - وَعَنْهَا رضى الله عنها فِيْ رِوَايَةٍ قَالَتْ: خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وَلا نُرَى إِلَّا أَنَّهُ الْحَجُّ، فَلَمَّا قَدِمْنَا تَطَوَّفْنَا بِالْبَيْتِ، فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَمْ يَكُنْ سَاقَ الْهَدْيَ أَنْ يَحِلَّ، فَحَلَّ مَنْ لَمْ يَكُنْ سَاقَ الْهَدْيَ، وَنِسَاؤُهُ لَمْ يَسُقْنَ فَأَحْلَلْنَ، قَالَتْ صَفِيَّةُ: مَا أُرَانِي إِلَّا حَابِسَتُهُمْ قَالَ: «عَقْرَى حَلْقَى أَوَ مَا طُفْتِ يَوْمَ النَّحْرِ»؟ قَالَتْ: قُلْتُ: بَلَى قَالَ: «لا بَأْسَ انْفِرِي». (بخاری:۱۵۶۱)

۷۹۱ - او عائشه رضي الله عنها په بل روایت کي وایي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره له مدینې روان شوو او ګمان مو دا وو چي حج اداء کوو؛ مکې ته چي ورسیدو د بیت الله طواف مو وکړ، رسول الله صلی الله علیه و سلم امر وکړ چي چا هدي (د قربانۍ ځاروی) نه وي راوستلی له احرام دي ووځي؛ نو له چا سره چي هدي نه وه له احرام ووتل؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمنو له ځان سره هدي نه وې رواني کړې؛ نو له احرام ووتلې؛ صفیې رضي الله عنها وویل: فکر کوم چي زه د کاروان د تګ ایساروونکې یم؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم هغې ته دا دوه الفاظ وکارول (عَقْرَى حَلْقَى) او بیا ئې وفرمایل: آیا د لوی عید په ورځ دي طواف نه وو کړی؟ وئې ویل: هو؛ ولي نه؛ نو وئې فرمایل: پروا ئې نه شته حرکت وکړه.

تکرار: دا روایت په بخاري کې ٤ ځلي په دغو شمېرو راغلی:۱۵٦۱، ۱۷٦۲، ۱۷۷۱، ٦۱۵۷؛ مطلق غریب دیٔ؛ په ۳ طبقو کې یو یو راوي لري چي دا دي: إِبْرَاهِيم، الأَسْوَد او عَائِشَة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا.

توپیر: په یوه کې وَحَاضَتْ صَفِيَّةُ بِنْتُ حُيَيّ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَقْرَى حَلْقَى، إِنَّكِ لَحَابِسَتُنَا، یعني پیغمبر علیه السلام صفیې ته ویلي چي موږ له روانېدو راایساروې؛ په بل کې حَاضَتْ صَفِيَّةُ لَيْلَةَ النَّفْرِ فَقَالَتْ: مَا أُرَانِي إِلَّا حَابِسَتَكُمْ، قَالَ: النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «عَقْرَى حَلْقَى، أَطَافَتْ يَوْمَ النَّحْرِ؟ یعني صفیې ویلي چي ګمان کوم زه د روانېدو مانع یم!! او په بل کې د دواړو خلاف ویل شوي: أَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنْفِرَ، فَرَأَى صَفِيَّةَ عَلَى بَابِ خِبَائِهَا كَئِيبَةً حَزِينَةً، لِأَنَّهَا

حَاضَتْ، فَقَالَ: «عَقْرَى حَلْقَى - لُغَةٌ لِقُرَيْشٍ - إِنَّكِ لَحَابِسَتُنَا» يعني صفيه رضي الله عنها د رسول الله صلی الله علیه و سلم د اوسېدو ځای ته ورغلې؛ کله چې ئې هغه د دړي خوا ته پرېشانه او غمجنه ليدلې او پوه شوي چې له دې کبله غمجنه ده چې د وداع له طواف محرومه شوې نو رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته هغه الفاظ ويلي. خو بخاري نه دي ويلي چې له دغو رواياتو کوم يو ئې ارجح او د اعتبار وړ دئ؛ په بشپړ يقين سره ويلی شو چې په دې پېښې کې نه يوازې هيڅ داسې څه نه مومو چې له کبله ئې رسول الله صلى الله عليه و سلم صفيې رضي الله عنها ته کوم سخت او نامناسب لفظ وکاروي؛ بر عکس د هغې پرېشانه او د زړه سوي وړ حالت ته په پام سره بايد رسول الله صلى الله عليه و سلم هغې ته داسې څه ويلي وي چې انديښنه ئې رفع او خوشحاله ئې کړي.

د دې تکراري رواياتو په اړه څو وضاحتونه ضروري دي:

- د إسنادو له پلوه مطلق غريب دي؛ تر درېيمې طبقې پورې يو يو راوي لري چې دا دي: ابراهيم، اسود او عائشه رضي الله عنها. له هغه وروسته ئې راويان بېل بېل دي؛ بخاري له شپږمې طبقې راويانو تر لاسه کړي.
- سره له دې چې درې پر له پسې راويان ئې سره ورته دي خو په الفاظو کې ئې توپيرونه راغلي.
- حج په شپږم هجري کال کې فرض شوی؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم په لسم هجري کال حج کړی او همدا د ده يوازينی حج وو؛ نژدې سل زره حجاج ورسره وو؛ دا حج د حجة الوداع په نامه ياد شوی؛ خو د بخاري د رواياتو له الفاظو داسې معلومېږي لکه چې دا بېل بېل حجونه وو! ځينو داسې انګېرلې چې حج په اتم يا نهم هجري کال کې فرض شوی؛ حال دا چې د فرضيت حکم ئې له هغه آيت معلومېږي چې په شپږم هجري کال نازل شوی؛ آيت دا دئ: ((... وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ

حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلا ...)؛ دا د آل عمران سورې ۹۷ آيت دئ؛ دا سوره په شپږم هجري کال او د احد له جګړې وروسته نازله شوې؛ د آيت له الفاظو داسي معلومېږي چي حج تر دې وړاندي فرض شوی؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم تر بعثت وړاندي هم حج او عمره کړې. د بخاري په ۱۶۶٤ روايت کي راغلي چي جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ ويلي: تر بعثت وړاندي مي رسول الله صلی الله علیه و سلم په عرفات کي وليد او له ځان سره مي وويل: دا خو قريشي دئ؛ دلته څه کوي؟

په دې روايت کي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته دا وينا منسوب شوې چي ګواکي ام المؤمنين صفيه رضي الله عنها ته ئې ويلي: عَقْرَى حَلْقَى؛ شارحينو د دې الفاظو بېلي بېلي ژباړي او تعبيرونه کړي؛ چا ويلي چي دا د قريشو مهمل تکيه کلام وو؛ چا د ښېرا په معنی نيولي؛ چا د عقرى ربښه جرح او زخم نيولې او چا د حلقى ربښه حلق او ستونی او چا د وېښتانو خرېيل؛ او ځينو ويلي چي ګواکي رسول الله صلی الله علیه و سلم صفيې ته ويلي: رنځوره شې د ستوني په درد اخته شې!! نه پوهېږو څنګه څوك جرأت کوي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته داسي څه منسوب کړي؟!! او د داسي ويناوو راوړلو ګټه څه ده؟!! رسول الله صلی الله علیه و سلم د لوړو اخلاقو لپاره اسوه او قدوه وو؛ خپل ټول رسالت ئې په دې کي خلاصه کړی وو: بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ مَكَارِمِ الْأَخْلَاقِ: د دې لپاره مبعوث شوی يم چي اخلاقي مکارم بشپړ کړم؛ الله تعالی خو د حج په دوران کي حجاج له هر ډول شخړو، جدل، بد رد ويلو منع کړي، څنګه ومنو چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر ستر او عظيم شخصيت؛ د الله تعالی هغه رسول چي د رحمة للعلمين په نامه ئې ستايلی؛ هغه به خپلې درنې مېرمني ته داسي ښېرا کوي؟!! ولي د پنځمي او شپږمي طبقې د يوه راوي له لوري يوه تبع تابعي ته منسوب روايت (که قبول کړو چي هغه دا خبره کړې)؛ رانقلول مهم او ضروري وګڼو؟ هغه هم داسي روايت چي په هغه کي د رسول الله صلی الله علیه و سلم

په شأن کې هتك حرمت شوی؟! او ولې ئې داسې تعبير نه کړو چې رسول الله صلی الله عليه و سلم صفيه رضي الله عنها ډېره غمجنه او پرېشانه ليدلې؛ نو هغې ته ئې ويلي: آيا رنځوره يې؟ ستونی دي درد کوي؟ او کله چې پوه شوی صفيه له طواف د محروميت له کبله غمجنه ده؛ هغې ته ئې ويلي: آيا د افاضې طواف دي نه وو کړی؟ وئې ويل: هو؛ ولې نه؛ نو وئې فرمايل: پروا ئې نه شته؛ همغه درته کافي ده؛ حرکت وکړه.

په دې روايت کې دا نه مومو چې له طواف وروسته عائشې رضي الله عنها او نورو څه کړي؛ خو په نورو رواياتو کې د دې وضاحت شوی چې ځينو عمره کړې او بيا له احرام وتلي او ځيني له احرام نه دي وتلي؛ له دې روايت معلومېږي چې عائشه او د رسول الله صلی الله عليه و سلم نورو مېرمنو عمره کړې او له احرام وتلې؛ خو عائشې رضي الله عنها ته منسوب بل روايت کې راغلي چې دې عمره نه وه کړې؛ او د حج په پای کې له خپل ورور سره تنعيم ته د عمرې لپاره لېږل شوې؛ همدې ته په پام سره محققين وايي چې عائشې رضي الله عنها ته منسوب دغو روايتونو کې اضطراب او تعارض شته؛ له دواړو يوازي يو ئې صحيح کېدی شي؛ خو بخاري دواړه راوړي پرته له دې چې ووايي کوم ئې صحيح دئ!!

۷۹۲ - وَعَنْهَا رضى الله عنها فِيْ رِوَايَةٍ أُخْرَى قَالَتْ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ، فَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ، وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِحَجَّةٍ وَعُمْرَةٍ، وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِالْحَجِّ، وَأَهَلَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَجِّ، فَأَمَّا مَنْ أَهَلَّ بِالْحَجِّ أَوْ جَمَعَ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لَمْ يَحِلُّوا حَتَّى كَانَ يَوْمُ النَّحْرِ. (بخاری:۱۵۶۲)

۷۹۲- او له عائشې رضي الله عنها په بل روايت کي راغلي چې وئې ويل: د حجه الوداع په کال له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره روان شوو؛ نو له موږ ځينو يوازې د عمرې، ځينو د حج او عمرې او ځينو نورو يوازي د حج نيت وکړ او رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپله د حج نيت وکړ؛ نو چا چې د حج او عمرې دواړو نيت کړی وو؛ هغوی د

قرباني تر ورځي له احرام ونه وتل.

تکرار: دا روايت په بخاري کې ٤ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵٦۲، ٤٤۰۸، ۲٦۵۱، ٤۰۰

توپیر: په ځينو کې د حَجَّةِ الوَدَاعِ يادونه شوې او په ځينو کې نه؛ له ځينو داسي معلومېږي چې چا يوازي د عمرې نيت کړی وو، چا يوازي د حج او چا د حج او عمرې، رسول الله صلی الله عليه و سلم يوازي د حج نيت کړی وو؛ نو هغه چې يوازي د حج يا د حج او عمرې يو ځايي نيت کړی وو؛ هغوی تر هغه له احرام ونه وتل چې د قرباني ورځ راورسېده؛ له قرباني وروسته له احرام ووتل؛ له دغو رواياتو داسي معلومېږي ګواکې حج او عمره بېل بېل او په يوه سفر کې نه شته؛ د عائشې رضي الله عنها د دې روايت په اړه چې د دوهمي او درېيمي طبقې راويان ئې مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ نَوْفَلٍ او عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ دي؛ د ځينو رأی داسي ده: قَالَ مَالك: لَيْسَ الْعَمَل عندنَا على حَدِيث عُرْوَة عَن عَائِشَة قَدِيما وَلَا حَدِيثا، وَقَالَ أَبُو عمر: الْأَحَادِيث عَنْهَا مضطربة: مالك وايي: زموږ له نظره؛ په تېري زماني کې او اوس؛ په هغه روايت عمل کول نه شته چې عروه له عائشې رضي الله عنها نقل کړی؛ ابو عمر وايي: له عائشې رضي الله عنها په دې اړه راغلي روايات مضطرب دي (ځيني ئې يو څه وايي او ځيني ئې بل څه).

۷۹۳- عَنْ مَرْوَانَ بْنِ الحَكَمِ، قَالَ: شَهِدْتُ عُثْمَانَ، وَعَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا وَعُثْمَانُ «يَنْهَى عَنِ المُتْعَةِ، وَأَنْ يُجْمَعَ بَيْنَهُمَا»، فَلَمَّا «رَأَى عَلِيٌّ أَهَلَّ بِهِمَا، لَبَّيْكَ بِعُمْرَةٍ وَحَجَّةٍ»، قَالَ: «مَا كُنْتُ لِأَدَعَ سُنَّةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِقَوْلِ أَحَدٍ» (بخاری: ۱۵٦۳)

۷۹۳- له مروان بن الحکم روايت دئ چې وايي: عثمان او علي رضي الله عنهما مې ليدلي؛ په داسي حال کې چې عثمان د تمتع او دا چې حج او عمره په يوه سفر کې جمع کړی شي؛ ممانعت کولو؛ کله چې علي رضي

الله عنه دا حالت وليد نو د يو ځايي حج او عمرې نيت ئې ځرګند کړ او وئې ويل: لَبَّيْكَ بِعُمْرَةٍ وَحَجَّةٍ: د عمرې او حج لپاره تلبيه کوم؛ د هيچا په وينا به د رسول الله صلى الله عليه و سلم سنت پرېنږدم.

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ مطلق غريب دئ؛ په ٥ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: مُحَمَّد بْن بَشَّارٍ، غُنْدَر، شُعْبَة، الحَكَمِ، عَلِيّ بْنِ حُسَيْنٍ، مَرْوَانَ بْنِ الحَكَمِ؛ په روايت کې عثمان رضي الله عنه دا منسوب شوي چې ګواکې ده د تمتع له حج ممانعت کولو!! په داسې حال کې چې د تمتع د جواز په اړه د قرآن وينا دومره صريح ده چې هر څوك پرې پوهېږي؛ (...فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ...) البقرة ١٩٦؛ څنګه ومنو چې عثمان رضي الله عنه به د تمتع له حج ممانعت کولو؟!! که داسې ويل شوي وی چې عثمان رضي الله عنه افضل حالت ترجيح ورکوله؛ په داسې حال کې چې پوهېدو تمتع جائزه ده؛ دا اشکال او سوء تفاهم به نه رامنځته کېدو.

٧٩٤ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما قَالَ: كَانُوا يَرَوْنَ أَنَّ الْعُمْرَةَ فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ مِنْ أَفْجَرِ الْفُجُورِ فِي الأَرْضِ، وَيَجْعَلُونَ الْمُحَرَّمَ صَفَرًا، وَيَقُولُونَ: إِذَا بَرَا الدَّبَرْ وَعَفَا الأَثَرْ، وَانْسَلَخَ صَفَرْ، حَلَّتِ الْعُمْرَةُ لِمَنِ اعْتَمَرْ. قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ صَبِيحَةَ رَابِعَةٍ مُهِلِّينَ بِالْحَجِّ، فَأَمَرَهُمْ أَنْ يَجْعَلُوهَا عُمْرَةً، فَتَعَاظَمَ ذَلِكَ عِنْدَهُمْ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّ الْحِلِّ؟ قَالَ: «حِلٌّ كُلُّهُ». (بخارى:١٥٦٤)

٧٩٤- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: (خلکو داسې) انګېرل چې د حج په مياشتو کې عمره کول؛ په زمکې کې تر ټولو ستر فجور او ګناه ده؛ د محرم مياشت به ئې صفر نوموله او ويل به ئې: کله چې د اوښانو شاګاني (د بار وړلو له پرهرونو) جوړې شي او د (پرهرونو) نښې ئې له منځه ولاړې شي او د صفر مياشت تېره شي؛ نو هغو ته د عمرې کول روا شي چې د عمرې کولو نيت لري. رسول الله صلى الله عليه و سلم او اصحاب ئې د ذوالحجې د څلورمې په سهار مکې ته په

داسي حال کي ورسېدل چي د حج نيتونه ئې کړي وو، امر ئې ورته وکړ چي د حج نيت په عمره بدل کړي، دا ورته گران او دروند کار وبرېښېدو او وئې ويل: يا رسول الله! دا به له احرام څرنگه وتل وي؟ وئې فرمايل: په بشپړه توگه وتل.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ٦ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٠٨٥ - ١٥٦٤ - ١٦٥١ - ١٧٨٥ - ٣٨٣٢ - شپږم ځل له شمېرې پرته راغلی.

توپير: په يوه کي يُلَبُّونَ بِالحَجِّ، فَأَمَرَهُمْ أَنْ يَجْعَلُوهَا عُمْرَةً إِلَّا مَنْ مَعَهُ الهَدْيُ» په بل کي فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْحَابَهُ أَنْ يَجْعَلُوهَا عُمْرَةً، وَيَطُوفُوا ثُمَّ يُقَصِّرُوا وَيَحِلُّوا، په بل کي وَأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَذِنَ لِأَصْحَابِهِ أَنْ يَجْعَلُوهَا عُمْرَةً، يَطُوفُوا بِالْبَيْتِ، ثُمَّ يُقَصِّرُوا وَيَحِلُّوا، په بل کي مُهِلِّينَ بِالحَجِّ، وَأَمَرَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَجْعَلُوهَا عُمْرَةً؛ په يوه کي فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ الحِلِّ؟ قَالَ: «حِلٌّ كُلُّهُ» په بل کي أَلَكُمْ هَذِهِ خَاصَّةً يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «لَا، بَلْ لِلْأَبَدِ» په بل کي قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّ الحِلِّ قَالَ: «الحِلُّ كُلُّهُ؛ په يوه کي كَانُوا يَرَوْنَ أَنَّ العُمْرَةَ فِي أَشْهُرِ الحَجِّ مِنْ أَفْجَرِ الفُجُورِ فِي الأَرْضِ، په بل کي فَقَالُوا: نَنْطَلِقُ إِلَى منى وَذَكَرُ أَحَدِنَا يَقْطُرُ په بل کي كَانُوا يَرَوْنَ أَنَّ العُمْرَةَ فِي أَشْهُرِ الحَجِّ مِنَ الفُجُورِ فِي الأَرْضِ؛ په يوه کي وَلَيْسَ مَعَ أَحَدٍ مِنْهُمْ هَدْيٌ غَيْرَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَطَلْحَةَ، وَقَدِمَ عَلِيٌّ مِنَ اليَمَنِ وَمَعَهُ هَدْيٌ؛ خو په ٧٨٩ روايت کي د ابو موسى رضي الله عنه په اړه ويل شوي چي له يمن راغی: ...فَجِئْتُ (من اليمن) وَهُوَ بِالْبَطْحَاءِ، خو دلته د ابو موسى خبره د علي رضي الله عنه په ارتباط داسي راغلې: وَقَدِمَ عَلِيٌّ مِنَ اليَمَنِ وَمَعَهُ هَدْيٌ؛

لکه چي گورئ د بخاري په دې رواياتو کي ژور توپيرونه تر سترگو کېږي؛ له بلي خوا له هغو سره تعارض او تناقض لري چي وايي: عمره او حج يو ځايي نه دي اداء شوي؛ خو بخاري نه دي ويلي چي په دوی کي کوم يو اصح دئ؛ متعارض روايات همماله صحيح گڼل شوي؛ دا ځکه

چي هغه ته ئې راويان ثقه معلوم شوي؛ په داسي حال کې چي لازمه او ضروري ده د ثقه راويانو تر منځ هم بايد هغه مهال قضاوت وشي چي يناوي او روايات ئې مطابقت ونه لري او تر منځ ئې توپيرونه او تناقضات وي.

دا روايات سره له خپلو تعارضاتو؛ د داسي موضوع په اړه دي چي په قرآن کې ئې په ډېر وضاحت او تفصيل سره يادونه شوې؛ داسي چي هيڅ مزيد شرحي ته ضرورت نه ليدل کېږي؛ او دغه روايات د دې په ځای چي د مطلب په پوهاوي کې خاصه مرسته وکړي؛ ابهامات ئې راولاړ کړي؛ دغه ابهامات ئې د قرآن په رڼا کې رفع کولی شو او له مخي ئې په آسانۍ سره قضاوت کولی شو چي سم او ناسم روايت کوم دئ؛ قرآن فرمايي:

وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ فَإِذَا أَمِنْتُمْ فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ذَلِكَ لِمَنْ لَمْ يَكُنْ أَهْلُهُ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿۱۹۶﴾ البقرة

او حج او عمره د الله لپاره تر سره کړئ، که مو مخنيوی وشو نو بيا (ئې فديه) د قربانۍ هغه څاروی دئ چي ميسر وي او خپل سرونه تر هغه مه خريئ چي دا څاروی د حلالېدو خپل ځای ته ورسېږي، نو که ستاسو کوم څوك بيمار وي او يا د سر له کومي برخي ځورېږي؛ نو بيا فديه ده د روژې يا صدقې يا قربانۍ او بيا کله چي په امن شئ نو که څوك تر حج پوري له عمرې ګټه واخلي

نو بیا د قربانۍ هغه څاروی دئ چي میسر وي؛ او که چا ونه موندو نو بیا د حج په ورځو کې درې ورځي روژه او له راستنېدو وروسته اوه ورځي روژه ده؛ چي دا پوره لس ورځي کېږي، دا د هغه چا لپاره ده چي کورنۍ ئې د مسجد الحرام (د شا و خوا) اوسېدونکې نه وي؛ او له الله ووېرېږئ او په دې پوه شئ چي الله سخت عذاب ورکوونکی دئ.

يعني حج او عمره مو بايد د الله لپاره وي؛ کله چي د حج او عمرې اراده وکړئ؛ بايد تر سره ئې کړئ؛ که له خنډ سره مخامخ شوئ نو له احرام تر وتلو د مخه بايد يو څاروی؛ لږ تر لږه يو پسه؛ د حرم زمکي ته د ذبحي لپاره ولېږئ؛ تر هغه به خپل سر نه خرېيئ او له احرام به نه وځئ؛ چي دا څاروی خپل ځای ته نه وي رسېدلی، هغه بيمار ته چي د سر له وېښتانو ځورېږي او خرېيلو ته ئې اړ وي؛ دا کار کولی شي خو فديه به ورکوي؛ درې ورځي روژه، يا معادل ئې شپږو مسکينانو ته خواړه ورکول او يا د يوه څاروي ذبح. که په حج کولو موفق شوئ او غوښتل مو چي تر حج د مخه عمره اداء کړئ؛ نو فديه ئې د يوه څاروي ذبح کول دي، يو پسه يا د غويي او اوښ اومه برخه؛ خو که څوك په دې موفق نه شو؛ نو لس روژې به نيسي؛ درې ورځي د حج په دوران کې؛ د ذي الحجې له لسمي د مخه او اوه له ستنېدو وروسته. دا د تمتع اجازه هغو کسانو ته ورکړی شوې چي د مکې مکرمې اوسېدونکی نه وي. د مکې اوسېدونکې به حج او عمره بېل بېل اداء کوي، له بهر راغلو حجاجو ته دا سهولت ورکړی شوی چي حج او عمره يو په بل پسي په يوه احرام سره اداء کړي او يا لومړی عمره اداء کړي، له احرام ووځي او بيا د حج لپاره نوی احرام وتړي. يوه ته قِران او بل ته تمتع ويل شوي؛ د قران او تمتع په صورت کې هديه لازمه کېږي.

اوس تاسو ووايئ: آيا د عمرې او حج د څرنگوالي په اړه د قرآن له دې جامع او مشرح لارښوونو سره سره؛ د هغو متعارضو رواياتو راوړل ضروري دي؟؛ او که احياناً ضروري وي نو د همدغو لارښوونو په رڼا کې بايد يوازي هغه روايت راوړل شوی وی چي له قرآن سره مطابقت لري.

د قرآن دا صريح لارښووني او اړوند آيتونه ئې؛ د بقره په سورې کې

او تر دې حج څو کالونه وړاندې نازل شوي؛ ټول صحابه پرې پوهېدل؛ عجیبه ده چې موږ داسې روایتونه هم منو چې د عمر، عثمان او علي رضي الله عنهم په څېر سترو سترو او په قرآن او حدیث پوه صحابه وو ته داسې څه منسوبوي چې ګواکې دوی د حج او عمرې د څرنګوالي په اړه په خپلو منځونو کې اختلاف درلود!! په کار خو دا ده چې داسې روایات او راویان ئې هیڅ محدث د اعتبار وړ نه ګڼلی او دوی ئې د اختلاف اچوونکو په فهرست کې نیولی.

۷۹۵ - عَنْ حَفْصَةَ - رضى الله عنها - زَوْجِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - أَنَّهَا قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا شَأْنُ النَّاسِ حَلُّوا بِعُمْرَةٍ وَلَمْ تَحْلِلْ أَنْتَ مِنْ عُمْرَتِكَ؟ قَالَ: «إِنِّي لَبَّدْتُ رَأْسِي وَقَلَّدْتُ هَدْيِي، فَلا أَحِلُّ حَتَّى أَنْحَرَ». (بخاری: ۱۵٦٦)

۷۹۵- د رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمن حفصه رضي الله عنها وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته مې وویل: یا رسول الله! دا څه سبب دئ چې خلک د عمرې له اداء کولو وروسته له احرام ووتل؛ او ته له خپل احرام ونه وتلې؟ وئې فرمایل: "ما د خپل سر پر وېښتانو کنډ (هغه څه وهلي وو چې خاصه بڼه ورکولو کې مرسته کوي)؛ او هدي مې په نښه کړې وه؛ نو تر هغه چې هدي ذبح نه کړم له احرام نه وځم.

تکرار: دا روایت په بخاري کې ۳ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۱۵٦٦ - ۱۷۲۵ - ۵۹۱٦ –

توپیر: د دوي په متن کې هیڅ توپیر نه شته، په ٤ طبقو کې ئې راویان حفصه، ورور ئې عبد الله بن عمر، نافع او مالك دي؛ او په پنځمه کې ئې عبد الله بن یوسف او اسمعیل دي. خو نه پوهېږو چې حفصه رضي الله عنها به د قرآن د هغو څرګندو آیتونو په شتون کې چې ښايي په وار وار ئې له رسول الله صلی الله علیه و سلم هم اورېدلي وي او د قرآن د تلاوت په دوران کې هم؛ ولې به ئې دا پوښتنه کوله؟!!

۷۹٦ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنه: أَنَّهُ سَأَلَهُ رَجُلٌ عَنِ التَّمَتُّعِ وَقَالَ: نَهَانِيْ نَاسٌ

عَنْهُ، فَأَمَرَهُ بِهِ، قَالَ الرَّجُلُ: فَرَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ كَأَنَّ رَجُلاً يَقُولُ لِي: حَجٌّ مَبْرُورٌ، وَعُمْرَةٌ مُتَقَبَّلَةٌ، فَأَخْبَرْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ، فَقَالَ: سُنَّةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (بخاری:۱۵۷٦)

۷۹٦- له عبد الله بن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي يوه سړي د تمتع حج په اړه وپوښتلو؛ او وئې ويل: ځينو خلکو ترې منع کړی يم! نو پرې وئې ګمارو؛ هغه سړي (له حج وروسته) وويل: په خوب کي مي داسي څه وليدل چي يو سړی راته وايي: حج دي مبرور (غوره) او عمره دي مقبوله ده؛ نو ابن عباس مي (له خپل خوب) خبر کړ؛ هغه وويل: دا (د تمتع حج) د رسول الله صلى الله عليه و سلم سنت دئ.

نه پوهېږو آيا د قرآن د څرګندي لارښووني په شتون کي دې ته څه ضرورت شته چي د چا رؤيا د تمتع د اثبات لپاره وړاندي شي؟!!

۷۹۷ - عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللَّهِ رضى الله عنهما: أَنَّهُ حَجَّ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ سَاقَ الْبُدْنَ مَعَهُ، وَقَدْ أَهَلُّوا بِالْحَجِّ مُفْرَدًا، فَقَالَ لَهُمْ: «أَحِلُّوا مِنْ إِحْرَامِكُمْ بِطَوَافِ الْبَيْتِ وَبَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، وَقَصِّرُوا، ثُمَّ أَقِيمُوا حَلالاً، حَتَّى إِذَا كَانَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ فَأَهِلُّوا بِالْحَجِّ، وَاجْعَلُوا الَّتِي قَدِمْتُمْ بِهَا مُتْعَةً». فَقَالُوا: كَيْفَ نَجْعَلُهَا مُتْعَةً، وَقَدْ سَمَّيْنَا الْحَجَّ؟ فَقَالَ: «افْعَلُوا مَا أَمَرْتُكُمْ، فَلَوْلا أَنِّي سُقْتُ الْهَدْىَ لَفَعَلْتُ مِثْلَ الَّذِى أَمَرْتُكُمْ، وَلَكِنْ لا يَحِلُّ مِنِّي حَرَامٌ حَتَّى يَبْلُغَ الْهَدْىُ مَحِلَّهُ». فَفَعَلُوا. (بخاری: ۱۵٦۸)

۷۹۷- له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ئې هغه ورځ حج وکړ چي د قربانۍ اوښان ئې له ځان سره روان کړي وو؛ په داسي حال کي چي خلکو په يقيني توګه د افراد (يوازي) حج نيت کړی وو. نو هغوی ته ئې وفرمايل: "د بيت الله او صفا او مروې په طواف سره له احرام ووځئ او وېښتان لنډ کړئ؛ بيا تر هغه همداسي آزاد اوسئ چي د ترويه ورځ (د ذي الحجې اتمه)

راشي؛ بیا د حج نیت وکړئ او په دې سره خپل مفرد حج د تمتع په حج بدل کړئ". هغوی وویل: څنګه خپله عمره د تمتع عمره کړو په داسې حال کې چې د حج نوم مو ورکړی وو؟ نو وئې فرمایل: "همغه څه وکړئ چې امر ئې درته کوم؛ که ما هدي نه وی روان کړی نو د همغه څه په څېر به مې کولو چې تاسو ته ئې امر کوم؛ خو اوس تر هغه هیڅ حرام نه راته حلالېږي چې هدی خپل ځاکې ځای (مِنٰی) ته ورسېږي"؛ نو (صحابه وو) همداسې وکړل.

عمدة القاري په روایت کې د قصر (وېښتانو لنډولو) په ارتباط لیکلي: دلته ځکه د قصر یادونه شوې چې حلق (خرېیل) حج ته پاته شي.

### ۲۲ باب: د تمتع حج

۷۹۸ - عَنْ عِمْرَانَ رضى الله عنه قَالَ: تَمَتَّعْنَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَزَلَ الْقُرْآنُ، قَالَ رَجُلٌ بِرَأْيِهِ مَا شَاءَ. (بخاری:۱۵۷۱)

۷۹۸- له عمران رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: د رسول الله صلی الله علیه و سلم په زمانه کې مو د تمتع حج وکړ؛ بیا قرآن (په دې اړه) نازل شو، ورپسې یوه سړي له خپلې رأیې هغه څه وویل چې وئې غوښتل.

د روایت له فحوی داسې معلومېږي چې ښایي د راوي هدف له یوه شخص؛ عثمان یا عمر رضي الله عنهما وي؛ مخکې مو ولیدل چې د عثمان رضي الله عنه په اړه راغلي: يَنْهَى عَنِ الْمُتْعَةِ، وَأَنْ يُجْمَعَ بَيْنَهُمَا؛ له تمتع حج او له دې ئې ممانعت کړی وو چې دواړه (حج او عمره) یو ځای کړی شي. او عمر رضي الله عنه د قرآن په دې آیت (وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ) او رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې سنت چې عمره ئې ونه کړه؛ استناد کړی وو. نه له عمران رضي الله عنه سره ښایي چې دا دوه ستر شخصیتونه په دې صیغه یاد کړي او نه له امام بخاري سره ښایي چې داسې روایت د راوړلو وړ وګڼي؛ مګر د روایت دا برخه (فَنَزَلَ

الْقُرْآنُ) کافي نه ده چي ووايو دا روايت هیڅ اعتبار نه لري؛ ځکه د تمتع اړوند آیت تر دې حج ډېر وړاندي نازل شوی؛ خو دا روایت وایي: د رسول الله صلی الله علیه و سلم په زمانه کي مو د تمتع حج وکړ؛ بیا قرآن (په دې اړه) نازل شو!! څوك چي په قرآن پوه وي او له دې خبر وي چي دا آیت او د بقرې ټوله سوره؛ لومړۍ سوره ده چي په مدینه کي نازله شوې؛ هغه به څنګه دا روایت د اعتبار او استناد وړ ګڼي؟!

دا صحیح ده چي قرآن ویلي: (... فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ...) البقرة: ۱۹٦ خو داسي عمره کوونکی ئې په قرباني هم مکلف کړی؛ یعني افضل دا ده چي عمره او حج یو ځای نه کړی شي؛ عمر رضي الله عنه او وروسته عثمان رضي الله عنه همدې ته په پام سره خلك افضل کار ته تشویق کړي.

## ۲۳ باب: مکې ته د ننوتلو لار

۷۹۹ - عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضى الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم دَخَلَ مَكَّةَ مِنْ كَدَاءٍ، مِنَ الثَّنِيَّةِ الْعُلْيَا الَّتِي بِالْبَطْحَاءِ وَخَرَجَ مِنَ الثَّنِيَّةِ السُّفْلَى. (بخارى:۱۵۷۵)

۷۹۹- له ابن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چي: رسول الله صلی الله علیه و سلم مکې ته له (كَدَاء: د مکې لوړي کي غر)؛ په بَطْحَاء (مسیل او خوړ) کي د پرتې پورتنۍ څنډې له لوري داخل شو او د لاندینۍ څنډې له لاري ترې ووت.

## ۲٤ باب: د مکې فضیلت او جوړول ئې

۸۰۰ - عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتْ: سَأَلْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم عَنِ الْجَدْرِ، أَمِنَ الْبَيْتِ هُوَ؟ قَالَ: «نَعَمْ». قُلْتُ: فَمَا لَهُمْ لَمْ يُدْخِلُوهُ فِي الْبَيْتِ؟ قَالَ: «إِنَّ قَوْمَكِ قَصَّرَتْ بِهِمُ النَّفَقَةُ». قُلْتُ: فَمَا شَأْنُ بَابِهِ مُرْتَفِعًا؟ قَالَ: «فَعَلَ ذَلِكَ قَوْمُكِ لِيُدْخِلُوا مَنْ شَاءُوا، وَيَمْنَعُوا مَنْ شَاءُوا، وَلَوْلا أَنَّ قَوْمَكِ حَدِيثٌ عَهْدُهُمْ بِالْجَاهِلِيَّةِ،

فَأَخَافُ أَنْ تُنْكِرَ قُلُوبُهُمْ، أَنْ أُدْخِلَ الْجَدْرَ فِي الْبَيْتِ، وَأَنْ أُلْصِقَ بَابَهُ بِالأَرْضِ».

(بخاری:۱۵۸٤)

۸۰۰- له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چي وايي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم مي د دې دېوال (له کعبې بهر منحني دېوالگی) په اړه وپوښتل چي آيا دا هم د بيت الله برخه ده؟ وئې فرمايل: هو؛ ومي ويل: نو څه پرې شوي وو چي په کعبه کي ئې داخل نه کړ؟ وئې فرمايل: (ستا د قوم لگښت کم شوی وو) ومي ويل: دروازه ئې ولي له زمکي لوړه ده؟ وئې فرمايل: (ستا قوم د دې لپاره دا کار کړی چي هغه ننباسي چي غواړي ئې او هغه ترې منع کړي چي غواړي ئې؛ که ستا قوم داسي نه وی چي د جاهليت له دور سره ئې موده لنډه او نژدې ده؛ او دا وېره راسره نه وی چي د دوی زړونه به ئې بده وبولي؛ نو دا دېوال به مي په کعبه کي شامل کړی وو او دروازه به مې له زمکي سره نښلولې وه.

تکرار: دا روایت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۸٤ - ۷۲٤۳؛ مطلق غريب دئ؛ په ۵ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: مُسَدَّد، أَبُو الأَحْوَص، أَشْعَث، الأَسْوَدِ بْنِ يَزِيد او عَائِشَة رضي الله عنها.

توپير: دواړه د متن او ټولو راويانو له پلوه سره ورته دي.

د دې باب نوم؛ د مکې فضيلت او جوړول دئ؛ خو تاسو وليدل چي له پيل تر دې ځای پوري؛ په شرحي کي د کعبې د فضيلت په اړه هيڅ نه دي ويل شوي. ښايي ځيني به ووايي چي ولي د باب او شرحي په اړه مطابقت او مغايرت ته مکرر اشاره کېږي؟ هغوی ته په ځواب کي وايو: دا کار د بخاري هر شارح کړی؛ چا چي واضح مطابقت نه دئ موندلی؛ ليکلي ئې دي چي مطابقت نه شته او چا چي د مطابقت ثابتولو هڅه کړې؛ نو دلائل ئې ويلي. ما دلته او په نورو مواردو کي د هغو رأی راوړې چي دلائل مې صحيح موندلي.

۸۰۱ - وَفِيْ رِوَايَةٍ عَنْهَا رضی الله عنها: أَنَّ النَّبِيَّ صلی الله علیه و سلم قَالَ: «لَوْلا أَنَّ

قَوْمَكِ حَدِيثُ عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ، لأَمَرْتُ بِالْبَيْتِ فَهُدِمَ، فَأَدْخَلْتُ فِيهِ مَا أُخْرِجَ مِنْهُ، وَأَلْزَقْتُهُ بِالأَرْضِ، وَجَعَلْتُ لَهُ بَابَيْنِ بَابًا شَرْقِيًّا وَبَابًا غَرْبِيًّا، فَبَلَغْتُ بِهِ أَسَاسَ إِبْرَاهِيمَ». (بخاری:۱۵۸۶)

۸۰۱- او په يوه روايت کي له عائشې رضي الله عنها راغلي: نبي صلی الله عليه و سلم وفرمايل: (که ستا قوم د جاهليت زمانې ته نژدې نه وی؛ نو د کعبې په اړه به مي امر کړی وو چي ورانه کړی شي، بيا به مي هغه څه په کي شامل کړي وو چي ترې ايستل شوي؛ او د زمکي له سطحي سره به مي (د هغې سطح) يو برابر کړي وه او دوه دروازې به مي ورکړې وې؛ يوه شرقي دروازه او بله غربي دروازه او په دې توګه به مي د ابراهيم (عليه السلام په لاس جوړ شوي) بنسټ ته رسولې وه).

يوه يادونه: ما په ديارلس کلنۍ کي او هغه مهال چي د کعبې د جوړښت څرنګوالي په اړه هيڅ نه پوهېدم؛ نه مي له چا څه اورېدلي او نه مي څه لوستلي وو؛ په خوب کي مي کعبه داسي ليدلې چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم په دغه حديث کي ښودل شوې؛ زه له شرقي دروازې ننوځم، د مازديګر په لمانځه ودرېږم، همدا مهال رسول الله صلی الله عليه و سلم له يو شمېر يارانو سره ئې له غربي دروازې داخل شي، ما ته وګوري او تبسم وکړي؛ زه داسي وانګېرم چي ښايي ما د قبلې لوری غلط کړی؛ زه خو د معمول مطابق د غرب په لوري ودرېدلی يم؛ اوس خو زه د کعبې منځ کي يم، قبله به مي کوم لوري ته وي، ښايي ما اشتباه کړې نو ځکه رسول الله صلی الله عليه و سلم تبسم وکړ، په لمانځه کي ښي لاس ته راتاو شم، خپلې مخي ته د حطيم منحني دېوالګی د کعبې دننه وګورم، له ځان سره ووايم: له لمانځه وروسته به له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره روغبړ کوم، په رکوع کي او د سبحان ربي العظيم ويلو کي راويښ شوم. تر ننه څلور که پنځه ځلي کعبې ته د ننوتلو شرف راپه برخه شوی، لومړنی ئې په خوب کي او نور په ويښه. کله چي د

شوروي ځواکونو خلاف د جهاد دوران کې ما د سعودي ښایسته غنم رنګي ځوانان ولیدل چې په څېرو کې ئې ایمان ځلېدو؛ نو هغه خوب او په خوب کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د څېرې رنګ راپه یاد شو؛ چې همدغو ځوانانو ته ورته وو. د حکمة الباریٔ لومړي جلد په پیل کې مي د دې خوب تفصیلات لیکلي. زه دا رښتینې رؤیا؛ او عملي تحقق ئې؛ د الله تعالی دومره ستره پېرزوینه ګڼم چې د شکر له اداء کولو ئې ځان عاجز بولم؛ زما د ایمان په مضبوطولو کې ئې بې انتهاء مرسته راسره کړې؛ د دې رؤیا په اړه مي دا اوس او نژدې ٦٢ کالونه وروسته؛ احساس داسي دئ چې کله ئې په تنهائي او لمانځه کې راپه یاد کړم؛ اوښکې مي توی شي. آیا د داسي خوبونو د تفسیر او تأویل لپاره له دې پرته کومه بله توجیه موندلی شو چې دا د داسي ذات له لوري انسان ته الهام کېږي چې په غیب پوه دئ؟ آیا د ماضي او مستقبل د هغو پېښو په اړه چې انسان د خپلو حواسو په مرسته هیڅکله نه شي پرې پوهېدی؛ په رؤیا کې پوهېدا؛ او د غیب له عالم پیغامونه تر لاسه کول؛ همدا نه ثابتوي؟

۲۵ باب: د مکې د کورونو میراث، اخیستل، پلورل...

۸۰۲ - عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رضى الله عنه أَنَّهُ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيْنَ تَنْزِلُ فِي دَارِكَ بِمَكَّةَ؟ فَقَالَ: «وَهَلْ تَرَكَ عَقِيلٌ مِنْ رِبَاعٍ؛ او دُورٍ»؟ وَكَانَ عَقِيلٌ وَرِثَ أَبَا طَالِبٍ، هُوَ وَطَالِبٌ، وَلَمْ يَرِثْهُ جَعْفَرٌ وَلا عَلِيٌّ رضى الله عنهما شَيْئًا، لأَنَّهُمَا كَانَا مُسْلِمَيْنِ، وَكَانَ عَقِيلٌ وَطَالِبٌ كَافِرَيْنِ. فَكَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ: لاَ يَرِثُ الْمُؤْمِنُ الْكَافِرَ (بخاری:۱۵۸۸)

۸۰۲- له اسامه بن زید رضي الله عنهما روایت دئ چې وئې ویل: یا رسول الله! د مکې په کوم کور کي دي اړوې؟ وئې فرمایل: (آیا عقیل کومه خونه او کور پرېښی؟) د ابو طالب میراث؛ عقیل او طالب ته رسېدلی وو؛ نه جعفر کوم څه په میراث ترې وړی وو او نه علي رضي

الله عنهما؛ دا ځکه چي دوی دواړه مسلمانان وو؛ عقيل او طالب (د ابو طالب د وفات په وخت کي) کافران ول؛ (عقيل وروسته مسلمان شو خو طالب تر مرگ کافر پاته شو)؛ عمر بن الخطاب رضي الله عنه به ويل: مؤمن له کافر ميراث نه وړي.

دا روايت په بخاري کي يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ۷ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: أَصْبَغ، ابْن وَهْب، يُونُس، ابْنِ شِهَابٍ، عَلِيّ بْنِ حُسَيْن، عَمْرِو بْنِ عُثْمَان او أُسَامَة بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا؛

په دې روايت کي د مکې د فتح ورځ ته اشاره شوې؛ په همدغه ورځ اسامه بن زيد؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وويل: په مکې کي به په خپل کوم کور کي اړوې؟ د رسول الله صلى الله عليه و سلم ځواب دا وو چي جعفر او علي کور نه لري؛ ځکه چي د پلار له ميراث څه نه دي وررسېدلي او عقيل او طالب لا ايمان نه دئ راوړی نو د دوی کور ته نه شو تللی. د روايت په پای کي ويل شوي: قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: وَكَانُوا يَتَأَوَّلُونَ قَوْلَ اللَّهِ تَعَالَى: (إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَالَّذِينَ آوَوْا وَنَصَرُوا أُولَئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ) [الأنفال: ۷۲] الآيَةَ: يقيناً هغه چي ايمان ئې راوړی، هجرت ئې کړی، په خپلو مالونو او نفسونو سره ئې د الله په لار کي جهاد کړی او هغه چي (مهاجر ته ئې) پناه ورکړې او (د مجاهد) مرسته ئې کړې، دوی يو د بل اولياء دي. ابن شهاب ادعاء کړې چي گواکي صحابه وو به دا آيت داسي تعبيرولو چي مراد ئې د ميراث ولايت دئ؛ په داسي حال کي چي په دې آيت کي قطعاً د ميراث په اړه نه بحث شوی او نه ئې ترې وړاندي او وروسته آيتونه داسي دي چي د ميراث په موضوع پوري کوم تړاو ولري؛ د سورې دا برخه په مجموع کي د تناصر او يو د بل مرستي په ارتباط ده؛ د آيت مطالب دا دي:

- چا چي ايمان راوړی، د خپل ايمان په حکم ئې هجرت کړی، د الله په لار کي ئې په خپل سر او مال سره جهاد کړي، مالي او ځاني قرباني ئې

ورکړي، مهاجر ته ئې پناه ورکړې او د مجاهد ملګرتيا او ملاتړ ئې کړی؛ دوی يو د بل اولياء دي، يو له بله دفاع کوي، د يوې داسي کورنۍ غړي دي چي د هر بهرني دښمن په خلاف ګډ دريځ لري، په يوه تېری پر ټولو تېری ګڼي.

• او هغه چي ايمان ئې راوړی، خو هجرت ئې نه دئ کړی، له دوی سره د مخکينيو مؤمنانو له خوا، تر هغه پوري د موالات پورتنۍ اړيکي نه شته چي هجرت ونه کړي، خو که د دين په اړه مرسته ترې وغواړي د دوی مرسته پرې فرض ده؛ مګر د هغه قوم په ضد چي د مسلمانانو او د دوی تر منځ کوم تړون وي.

• د دې معنی دا ده چي اسلامي حکومت يوازي له هغو مؤمنانو په دفاع مکلف دئ چي د اسلامي حکومت تر سلطې لاندي هېواد کي ژوند کوي، خو هغه چي د کافرانو تر سلطې لاندي ژوند کوي، له دوی سره په دوه صورتونو کي مرسته لازمه ده: لومړی دا چي د دين په اړه مرستي ته اړ شوي وي، د دين په وجه تر ظلم او تېري لاندي وي او د اسلامي حکومت مرستي ته اړ وي او دوهم دا چي دا مرسته د هغه قوم او حکومت په ضد نه وي چي له اسلامي حکومت سره د عدم تعرض تړون لري.

ډېره عجيبه ده چي ابن شهاب له دې آيتونو د ميراث موضوع راباسي!!! ما په ځينو نورو مواردو کي هم پر آيتونو د ده استناد؛ همداسي ډېر ضعيف او بې ربطه موندلی.

## ۲٦ باب: په مکه کي د رسول الله صلی الله عليه و سلم اړول

۸۰۳ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم حِينَ أَرَادَ قُدُومَ مَكَّةَ: «مَنْزِلُنَا غَدًا إِنْ شَاءَ اللَّهُ بِخَيْفِ بَنِي كِنَانَةَ، حَيْثُ تَقَاسَمُوا عَلَى الْكُفْرِ». يَعْنِي: ذَلِكَ الْمُحَصَّبَ، وَذَلِكَ أَنَّ قُرَيْشًا وَكِنَانَةَ، تَحَالَفَتْ عَلَى بَنِي هَاشِمٍ

وَبَنِي عَبْدِالْمُطَّلِبِ؛ او بَنِي الْمُطَّلِبِ: أَنْ لا يُنَاكِحُوهُمْ وَلا يُبَايِعُوهُمْ، حَتَّى يُسْلِمُوا إِلَيْهِمُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم . (بخارى:۱۵۹۰)

۸۰۳- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم چي مکې ته د تلو اراده وکړه وئې فرمايل: (سبا به مو إن شاء الله د بني کنانه په خيف کي اړول وي؛ هغه ځای کي چي قريشو پر کفر لوړه کړې وه). يعني مراد ئې مُحَصَّبْ (شگلنه زمکه) وو؛ چېري چي قريش او بني کنانه د بني هاشم او بني عبدالمطلب يا بني المطلب په خلاف تړون کړی وو چي تر هغه به له دوی سره نه د نکاح کومه معامله کوي او نه د پېر پلور؛ چي نبي صلى الله عليه و سلم وروسپاري.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ٤ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۸۹ - ۱۵۹۰ - ۳۸۸۲ - ٤۲۸۵

توپير: په يوه کي حِينَ أَرَادَ قُدُومَ مَكَّةَ په بل کي حِينَ أَرَادَ حُنَيْنًا، په يوه کي وَهُوَ بِمِنًى راغلي په نورو کي نه دي راغلي؛ لکه چي گورئ په دې رواياتو کي جدي توپيرونه تر سترگو کېږي؛ سره له دې چي د ټولو راوي ابو هريره رضي الله عنه دئ! د بخاري لوستونکی نه پوهېږي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د مکې په لوري روان وو که د حنين لوري ته؛ هلته چي د حنين ستره جگړه رامنځته شوه. د حنين پېښه د اتم هجري کال د شوال مياشتي په ۱۳ رامنځته شوه؛ او دا د مکې له فتحي وروسته وه؛ مکه د اتم هجري کال د رمضان په لسمه فتح شوه؛ او د حنين پېښه نژدې يوه مياشت وروسته رامنځته شوې؛ پوښتنه دا ده چي په دغو متعارضو رواياتو کي چي راوي ئې يو دئ؛ يو ئې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم له منٰى مکې ته د تگ اراده وکړه؛ د دې معنى دا ده چي دا د حجة الوداع په کال وه؛ خو بل روايت وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د حنين اراده وکړه؛ په داسي حال کي چي د حنين پېښه تر حجة الوداع وړاندي وه؛ او هغه مهال رسول الله صلى الله عليه و سلم منٰى ته نه وو تللی؛ ځکه چي په عمره کي ځوك منٰى ته نه ځي؛ له دغو متعارضو رواياتو يوازي يو ئې صحيح گڼلی شو؛ امام بخاري دواړه هممهاله صحيح گڼلي!! د بخاري هيڅ شارح هم د دې تعارض رفع کولو په

اړه د منلو وړ توجیه نه ده وړاندي کړې؛ عمدة القاري ویلي چي کېدی شي دا دوه بېل بېل وختونه وي؛ بېل بېل وختونه یعني څه؟ له دغو روایاتو په ځرګنده توګه معلومېږي چي دا د هغه سفر مربوط روایات دي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د مکې له فتحي وروسته مکې ته داخل شو؛ او بیا په همدې سفر کې د حنین سره او ناڅاپي جګړه رامنځته شوه؛ په دې سفر کې رسول الله صلی الله علیه و سلم منٰی ته قطعاً نه دئ تللی؛ خو په روایت کې د ثابتو تاریخي واقعیتونو خلاف ویل شوي (وَهُوَ بِمِنٰى): او دی په منٰی کې وو!!

## ۲۷ باب: د کعبې شریفي ورانېدا

٨٠٤ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلی الله علیه و سلم قَالَ: «يُخَرِّبُ الْكَعْبَةَ ذُو السُّوَيْقَتَيْنِ مِنَ الْحَبَشَةِ». (بخاری:۱۵۹۱)

٨٠٤ – له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (د نریو لنګیو درلودونکی حبشي به کعبه ورانوي).

تکرار: دا روایت په بخاري کې ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۹۱ - ۱۵۹٦

تو‌پیر: د دواړو روایتونو متن سره ورته دئ، لومړي راویان ئې هم الزُّهْرِيّ، سَعِيد بْن الْمُسَيّب، أَبُو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دي؛ له زهري وروسته ئې راویان بېل بېل دي.

خو نه امام بخاري ویلي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم دا وړاندوینه د وحي له مخي کړې که د کومي رؤیا له مخي؛ او نه هم د بخاري کوم شارح؛ قرآن وایي: په زمکې او آسمانونو کې له الله تعالی پرته هیڅوك په غیب نه پوهېږي؛ په غیب د پوهېدا فقط دوه صورتونه دي: یقیني پوهه چي د الله تعالی له لوري وحي ده او ظني پوهه چي د رؤیا له لاري د انسان په برخه کېږي. آیا کولی شو یو داسي روایت ومنو چي غریب دئ او په دریو طبقو کې یو یو راوي لري، رسول الله صلی الله علیه و سلم ته په غیب پوهېدا منسوبوي؛ او دا هم د قرآن د صریحو

ګڼ شمېر آيتونو د قاطع حکم خلاف؛ روايت هم داسي چي د حديث هيڅ شارح نه دي ويلي او ويلي نه شي چي د کعبې د ورانولو پېښه به کله رامنځته کېږي؛ ځينو د قيامت له علائمو ګڼلې، ځينو د عيسى عليه السلام تر ظهور لږ وړاندي؛ د ورانوونکي په اړه هم بېل بېل شخصي آراء وړاندي شوي؛ لومړی راوي ئې په صحابه وو کي کوم شاهد نه لري او دوهم راوي ئې په تابعينو کي؛ د روايت د متن لپاره په ټول قرآن کي هيڅ تلويحي شاهد هم نه مومو؛ هو؛ په قرآن کي دا مومو چي فرمايي:

﴿... وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا وَلَيَنْصُرَنَّ اللَّهُ مَنْ يَنْصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٤٠﴾ الحج

... او که د خلکو ځيني په ځينو نورو سره د دفع کولو الهي سنت نه وی نو حتماً به صوامع (د رهبانانو عبادت ځايونه)، بيع (د نصرانيانو معبدونه)، صلوات (د يهودو معبدونه) او مساجد (د مسلمانانو جوماتونه) چي د الله نوم په کي زيات زيات يادېږي ټول وران شوي وو؛ او الله به هرو مرو هغو ته نصرت ورکوي چي د ده ملتيا کوي، يقيناً چي الله عزتمن ځواکمن دئ.

يعني دا ثابت، دائمي او نه بدلېدونکی الهي سنت دئ چي د خلکو د يوې ډلي ظلم او تېری د بلي په لاس دفع کوي، مظلومانو ته دا اجازه او توفيق ورکوي چي د ظالمانو او تېري کوونکو طغيان د دوی په لاس دفع کړي او د ظلم ټغر ټول کړي. که دا الهي سنت نه وئ نو حتماً به ټول هغه معبدونه وران شوي وو چي د الله تعالى نوم په کي يادېږي، که دا له خلکو لري په غرونو او ځنګلو کي د رهبانانو عبادت ځايونه دي، که د يهودو او نصاراوو معبدونه دي او که د مسلمانانو جوماتونه، د دې الهي لارښووني معنی دا ده چي کوم ولسونه ظالمانو ته تسليم شي، له خپلو حقوقو د دفاع لپاره د ظالمانو په خلاف د مقاومت لار غوره نه کړي، له خپلو انساني حقوقو او ديني اقدارو دفاع ونه کړي، د ظالمانو

مخي ته ونه دربېږي، د زور په ضد زور او د وسلې په خلاف وسله ونه کاروي؛ نو نه يوازي دا چي خپل حقوق به تر لاسه نه کړي بلکي معبدونه به ئې هم وران شي.

دا آيت په پرېکنده توګه اعلان کوي چي له ديني شعائرو او مقدسو ځايونو الله تعالى په دې توګه دفاع کوي چي يوه ډله په بلې ډلې دفع کوي، د خداى پالونکو په لاس هغه خلك دفع کوي چي غواړي عبادت ځايونه وران کړي، کله چي له شعائرو د دفاع لپاره خداى پالونکي ملا وتړي نو الله تعالى ئې مرسته کوي او په دين دښمنه ځواکونو برلاسي ورکوي، که دا الهي سنت نه وى نو د عبادت ټول مخکيني او اوسني ځايونه به وران شوي وو!! د دې معنى دا ده چي الله تعالى په خارق العاده توګه د خلکو له ديني مقدساتو او عبادت ځايونو دفاع نه کوي، له انسانانو پرته ئې په خپلو نورو لښکرو نه ساتي، په انسانانو ئې هم يوازي هلته ساتي چي دوى ئې ساتني ته ملا وتړي. تر هغه چي د الهي نصرت لپاره ښايسته او وړ خلك راپيدا نه شي؛ الله تعالى خپل نصرت او تائيد نه نازلوي. که داسي نه وى نو کعبه به په طبيعي پېښو کي نه ورانېده او په داخلي جګړو کي به تاوان نه وررسېدو؛ په دې روايت کي چي د کعبې د ورانېدا په اړه څه ګورو؛ همدا مطلب افاده کوي.

پوښتنه دا ده: که کوم غير مُسلِم انسان ووايي: د مسلمانانو قرآن يو څه وايي او د هغوى حديث بل څه؛ قرآن له هر ماسوى الله په غيب پوهېدا په قاطع او مکرره توګه نفى کوي؛ خو د دوى د حديث په کتابونو کي پيغمبر ته په غيب پوهېدا منسوب شوې؛ ځواب به مو څه وي؟ دې معترض ته به څنګه قناعت ورکوو چي په اسلام او په اساساتو کي ئې؛ په قرآن او حديث کي هيڅ تعارض او تناقض نه شته؛ محمد عليه السلام د الله تعالى رسول دئ او فقط هغه څه ئې مور ته ويلي چي وحي ئې ورته شوې؟!! که څوك له همدې کبله له ايمان راوړلو ډډه وکړي؛ مسئوليت به ئې يقيناً د هغه چا پر غاړه وي چي له قرآن سره

متعارض روايات د خلکو مخي ته ږدي. څوك چي له الله تعالی پرته بل چا ته په غيب پوهېدا منسوب کړي؛ که دا فرشته وي، پېری وي، انسان وي؛ که پيغمبر وي، که نجومي وي او که فال ليدونکی وي؛ او چا چي دا انتساب تصديق کړ؛ په حقيقت کي ئې د قرآن له وينا انکار کړی او پرې کافر شوی؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايي: چا چي د نجومي خبره تصديق کړه؛ په هغه قرآن کافر شوی چي پر محمد (عليه السلام) نازل شوی.

د روايت په ژباړي کي مي د پښتو دا لفظ راوړی؛ لنگی؛ په انگريزي کي دې ته ليگ (leg) وايي؛ په فارسي کي د لگد صيغه لرو؛ له دې معلومېږي چي د دغو الفاظو بنسټ يو دئ؛ همغسي لکه چي د برادر او (brother)، پدر او father، مادر او mother بنسټ يو دئ؛ او همغسي لکه چي د برادر، برار او ورور؛ خور او خواهر؛ او پلار او پدر بنسټ يو دئ؛ او دا ښيي چي د انسانانو ژبي مشترك بنسټ لري او ټول انسانان مشترك نژادي بنسټ او دا هر څه د قرآن هغه وينا تأييدوي چي وايي: انسانان له يوې جوړې پيدا شوي.

۸۰۵ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ: «كَأَنِّي بِهِ أَسْوَدَ أَفْحَجَ، يَقْلَعُهَا حَجَرًا حَجَرًا». (بخارى: ۱۵۹۵)

۸۰۵ – له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: (لکه چي زه همدا اوس يو توربخون، ارت لنگی (هغه چي دواړه لنگي ئې يو له بل لري وي) گورم چي (کعبه ورانوي) او يوه يوه تيږه ئې راباسي).

د دې روايت په اړه دا يادوني ضروري برېښي: ۱- په روايت کي د کعبې نوم نه دئ اخيستل شوی؛ ۲- له فحوی ئې داسي معلومېږي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د کعبې ورانېدا او ورانوونکی ئې په خوب کي ليدلي. ۳- روايت غريب دئ؛ په دريو طبقو کي يو يو راوي لري

چي دا دي: عُبَيدِ اللهِ بنِ الأخنَسِ، ابن أَبِي مُلَيكَةَ او ابن عباس رضي الله عنهما.

## ٢٨ باب: دا آيت چي فرمايي: (جَعَلَ اللَّهُ الْكَعْبَةَ...)

٨٠٦ - عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها قَالَتْ: كَانُوا يَصُومُونَ عَاشُورَاءَ قَبْلَ أَنْ يُفْرَضَ رَمَضَانُ، وَكَانَ يَوْمًا تُسْتَرُ فِيهِ الْكَعْبَةُ، فَلَمَّا فَرَضَ اللَّهُ رَمَضَانَ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم: «مَنْ شَاءَ أَنْ يَصُومَهُ فَلْيَصُمْهُ، وَمَنْ شَاءَ أَنْ يَتْرُكَهُ فَلْيَتْرُكْهُ». (بخاری:١٥٩٢)

٨٠٦ – له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: د رمضان د روژې له فرضېدو مخکي به خلکو د عاشوراء ورځ روژه نيوله او په همدې ورځ به کعبې ته (نوی) پوښ ورکول کېدو؛ خو کله چي الله تعالی د رمضان روژه فرض کړه؛ نو رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: (څوك چي غواړي په هغې کي روژه ونيسي ودې نيسي او څوك چي ئې پرېښودل غواړي نو پرې دې ږدي).

دا روايت په اصل کي د عاشوراء په اړه دئ؛ خو دلته تر دې باب لاندي راغلی: (دا آيت چي فرمايي: (جَعَلَ اللَّهُ الْكَعْبَةَ...)؛ په آيت کي چي څه راغلي په روايت کي په دې اړه څه نه دي ويل شوي؛ د آيت او روايت تر منځ هيڅ مناسبت نه شته؛ آيت د کعبې د حرمت په اړه بحث کړی؛ او روايت د عاشوراء د ورځي روژې په اړه او دا چي قريشو به په دې ورځ روژه نيوله او هر کال به ئې په دې ورځ پر کعبې غلاف (پوښ) غوړولو. له نورو رواياتو معلومېږي چي نه رسول الله صلی الله عليه و سلم په دې ورځ روژه او نه صحابه وو.

د عاشوراء په اړه روايات دومره متعارض او متضارب دي چي له منځه ئې د يوه غوراوی؛ گران او حتی مستحيل دئ. راشئ وگورو چي په رواياتو کي د عاشوراء په ارتباط څه راغلي. په دې اړه د بخاري يو

روایت دا دئ:

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: «كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُهُ فَلَمَّا قَدِمَ المَدِينَةَ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ كَانَ رَمَضَانُ الفَرِيضَةَ، وَتُرِكَ عَاشُورَاءُ، فَكَانَ مَنْ شَاءَ صَامَهُ وَمَنْ شَاءَ لَمْ يَصُمْهُ». بخاری: ۲۰۰۲

له عائشې (رضي الله عنها) روايت دئ چي وايي: قريشو به د جاهليت په زمانه کي د عاشوراء په ورځ روژه نيوله او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به هم په دې ورځ روژه نيوله او کله چي ئې مدينې ته هجرت وکړ نو بيا ئې هم دا ورځ روژه نيوله او نورو ته ئې د روژې نيولو امر وکړ خو کله چي د رمضان روژه فرض شوه نو د عاشوراء د ورځي روژه ئې پرېښوده بيا د هر چا خپله خوښه وه چي په دې ورځ ئې روژه نيوله او که نه.

دا روايت په بخاري کي اته ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۹۲، ۱۸۹۳، ۲۰۰۱، ۲۰۰۲، ۳۸۳۱، ٤٥٠١، ٤٥٠٢، ٤٥٠٣، ٤٥٠٤؛ د دغو رواياتو تر منځ دومره جدي او ژور توپيرونه او تعارضات تر سترګو کېږي چي يو په هغه صورت کي ترې غوره کولی شو چي نور ټول رد کړو؛ دلته چي د کوم مطلب شا ته زمکه په پيکه تور رنګ کي وينئ؛ د اړوند رواياتو هغه برخي دي چي يو د بل حلاف خبره په کي راغلې؛ په ځينو کي ويل شوي كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ په بل کي كَانُوا يَصُومُونَ عَاشُورَاءَ قَبْلَ أَنْ يُفْرَضَ رَمَضَانُ، وَكَانَ يَوْمًا تُسْتَرُ فِيهِ الْكَعْبَةُ، په بل کي صَامَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم عَاشُورَاءَ، وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ. فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ تُرِكَ، په بل کي أَنَّ قُرَيْشًا كَانَتْ تَصُومُ يَوْمَ عَاشُورَاءَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، ثُمَّ أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم بِصِيَامِهِ حَتَّى فُرِضَ رَمَضَانُ په بل کي كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَمَرَ بِصِيَامِ يَوْمِ عَاشُورَاءَ، فَلَمَّا

فُرِضَ رَمَضَانُ كَانَ مَنْ شَاءَ صَامَ، وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ. په بل كي كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ، وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ، فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ تَرَكَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ، فَمَنْ شَاءَ صَامَهُ، وَمَنْ شَاءَ تَرَكَهُ. په بل كي كَانَ عَاشُورَاءُ يَوْمًا تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ كَانَ مَنْ شَاءَ صَامَهُ، وَمَنْ شَاءَ لَا يَصُومُهُ په بل كي كَانَ عَاشُورَاءُ يَصُومُهُ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ قَالَ « مَنْ شَاءَ صَامَهُ، وَمَنْ شَاءَ لَمْ يَصُمْهُ» په بل كي كَانَ عَاشُورَاءُ يُصَامُ قَبْلَ رَمَضَانَ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ قَالَ « مَنْ شَاءَ صَامَ، وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ» په بل كي قَدِمَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ، فَرَأَى الْيَهُودَ تَصُومُ يَوْمَ عَاشُورَاءَ، فَقَالَ «مَا هَذَا»؛ قَالُوا هَذَا يَوْمٌ صَالِحٌ، هَذَا يَوْمٌ نَجَّى اللهُ بَنِى إِسْرَائِيلَ مِنْ عَدُوِّهِمْ، فَصَامَهُ مُوسَى. قَالَ «فَأَنَا أَحَقُّ بِمُوسَى مِنْكُمْ». فَصَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ. په بل كي قَالَ كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَعُدُّهُ الْيَهُودُ عِيدًا، قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم «فَصُومُوهُ أَنْتُمْ» په بل كي لَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ وَجَدَهُمْ يَصُومُونَ يَوْمًا، يَعْنِى عَاشُورَاءَ، فَقَالُوا هَذَا يَوْمٌ عَظِيمٌ، وَهْوَ يَوْمٌ نَجَّى اللهُ فِيهِ مُوسَى، وَأَغْرَقَ آلَ فِرْعَوْنَ، فَصَامَ مُوسَى شُكْرًا لِلَّهِ. فَقَالَ «أَنَا أَوْلَى بِمُوسَى مِنْهُمْ» فَصَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ. په بل كي أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم بَعَثَ رَجُلاً يُنَادِى فِي النَّاسِ، يَوْمَ عَاشُورَاءَ « أَنْ مَنْ أَكَلَ فَلْيُتِمَّ أَوْ فَلْيَصُمْ، وَمَنْ لَمْ يَأْكُلْ فَلَا يَأْكُلْ په بل كي أَرْسَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم غَدَاةَ عَاشُورَاءَ إِلَى قُرَى الأَنْصَارِ «مَنْ أَصْبَحَ مُفْطِرًا فَلْيُتِمَّ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ، وَمَنْ أَصْبَحَ صَائِمًا فَلْيَصُمْ». قَالَتْ فَكُنَّا نَصُومُهُ بَعْدُ، وَنُصَوِّمُ صِبْيَانَنَا، وَنَجْعَلُ لَهُمُ اللُّعْبَةَ مِنَ الْعِهْنِ، فَإِذَا بَكَى أَحَدُهُمْ عَلَى الطَّعَامِ أَعْطَيْنَاهُ ذَاكَ، حَتَّى يَكُونَ عِنْدَ الإِفْطَارِ. په بل كي قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَوْمَ عَاشُورَاءَ « إِنْ شَاءَ صَامَ» په بل كي أَمَرَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم رَجُلاً مِنْ أَسْلَمَ أَنْ أَذِّنْ فِي النَّاسِ «أَنَّ مَنْ كَانَ أَكَلَ فَلْيَصُمْ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ أَكَلَ فَلْيَصُمْ، فَإِنَّ الْيَوْمَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ» په بل كي أَنَّ

رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ لِرَجُلٍ مِنْ أَسْلَمَ « أَذِّنْ فِي قَوْمِكَ أَوْ فِي النَّاسِ يَوْمَ عَاشُورَاءَ أَنَّ مَنْ أَكَلَ فَلْيُتِمَّ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ أَكَلَ فَلْيَصُمْ » په ځينو کې ويل شوي: مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم يَتَحَرَّى صِيَامَ يَوْمٍ فَضَّلَهُ عَلَى غَيْرِهِ، إِلَّا هَذَا الْيَوْمَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ وَهَذَا الشَّهْرَ. يَعْنِي شَهْرَ رَمَضَانَ !! په ځينو کې قَالَ دَخَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ وَإِذَا أُنَاسٌ مِنَ الْيَهُودِ يُعَظِّمُونَ عَاشُورَاءَ وَيَصُومُونَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم « نَحْنُ أَحَقُّ بِصَوْمِهِ ». فَأَمَرَ بِصَوْمِهِ. په بل کې قَالَ لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ وَجَدَ الْيَهُودَ يَصُومُونَ عَاشُورَاءَ، فَسُئِلُوا عَنْ ذَلِكَ، فَقَالُوا هَذَا الْيَوْمُ الَّذِى أَظْفَرَ اللهُ فِيهِ مُوسَى وَبَنِى إِسْرَائِيلَ عَلَى فِرْعَوْنَ، وَنَحْنُ نَصُومُهُ تَعْظِيمًا لَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم « نَحْنُ أَوْلَى بِمُوسَى مِنْكُمْ ». ثُمَّ أَمَرَ بِصَوْمِهِ. په بل کې قَدِمَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ وَالْيَهُودُ تَصُومُ عَاشُورَاءَ فَقَالُوا هَذَا يَوْمٌ ظَهَرَ فِيهِ مُوسَى عَلَى فِرْعَوْنَ. فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم لأَصْحَابِهِ « أَنْتُمْ أَحَقُّ بِمُوسَى مِنْهُمْ، فَصُومُوا ». په بل کې لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ، وَالْيَهُودُ تَصُومُ عَاشُورَاءَ، فَسَأَلَهُمْ، فَقَالُوا هَذَا الْيَوْمُ الَّذِى ظَهَرَ فِيهِ مُوسَى عَلَى فِرْعَوْنَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم « نَحْنُ أَوْلَى بِمُوسَى مِنْهُمْ فَصُومُوهُ» په بل کې قَالَ صَامَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم عَاشُورَاءَ، وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ. فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ تُرِكَ. وَكَانَ عَبْدُ اللهِ لَا يَصُومُهُ، إِلَّا أَنْ يُوَافِقَ صَوْمَهُ. په بل کې د دې خلاف ويل شوي: كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَعُدُّهُ الْيَهُودُ عِيدًا، قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم « فَصُومُوهُ أَنْتُمْ» يعني يهودانو دا ورځ د عيد په توګه لمانځله او رسول الله صلى الله عليه و سلم له هغوی سره د مخالفت ښودلو په توګه وويل چې تاسو روژه ونيسئ؛ او دا د ټولو نورو رواياتو خلاف دئ. دا ځکه چې نور روايات وايي يهودانو به په دغې ورځ روژه نيوله او دا وايي هغوی دا ورځ د عيد په توګه لمانځله او رسول الله صلى الله عليه و سلم له دوی سره د عدم مشابهت لپاره صحابه وو ته وويل: تاسو په

دې ورځ روژه ونیسئ!!

کومه برخه چې په تت تور رنګ ښودل شوې؛ په دې کې یو مطلب په همدومره شمېر روایاتو کې په بېلې بېلې بڼې راغلی؛ د دغو متعارضو روایاتو تر منځ تعارضات او توپیرونه دا دي:

ځیني ئې وایي چې د عاشوراء روژه قریشو هم نیوله او رسول الله صلی الله علیه و سلم هم له همغه مهاله نیوله او ګواکې قریشو به په دغې ورځ پر کعبې نوی غلاف غوړاوو!! ځیني ئې وایي کله چې رسول الله صلی الله علیه و سلم مدینې ته راغی یهودان ئې ولیدل چې په دې ورځ روژه نیسي وئې پوښتل چې ولې په دې ورځ روژه نیسئ؟ هغوی وویل: دا یوه ستره ورځ ده، فرعون په کې غرق شوی او موسی علیه السلام ته بری ورپه برخه شوی، موږ د دغې ورځې د درناوي لپاره روژه نیسو؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل چې موږ تر یهودانو زیات د دې وړ یو چې د دې ورځې درناوی وکړو، نو په خپله ئې هم د روژې نیول پیل کړل او نورو ته ئې هم امر وکړ، ځیني ئې وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم تر رحلت لږ وړاندې د دې روژې نیول پیل کړل، چا ورته وویل: دا خو له یهودانو سره شباهت راځي، رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: د شباهت ختمولو لپاره به راتلونکی کال یوه ورځ مخکې هم روژه نیسم؛ خو هغه د دغې ورځې تر بیا رارسېدو وړاندې رحلت وکړ!! ځیني ئې وایي: یهودانو به دغه ورځ د عید او خوشحالۍ د ورځې په توګه لمانځله؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم له یهودو سره د عدم مشابهت په موخه وفرمایل: چې تاسو په دې ورځ روژه ونیسئ!! ځیني ئې وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د عاشوراء د ورځې سحر مهال اعلان وکړ او کلیو ته ئې ځوك ولېږو چې خلك خبر کړي او ورته ووایي: چا چې څه نه وي خوړلي روژې ته دې دوام ورکړي او چا چې څه خوړلي وي تر ماښامه دې څه نه خوري!! ځیني ئې وایي چې د روژې تر فرضېدو پورې دا روژه نیول کېده خو د

روژې له فرضېدو وروسته پرېښودل شوه او ځیني ئې د دې خبرې تر ښنګ دا هم علاوه کوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: د هر چا خپله خوښه چې په دې ورځ روژه نیسي که نه!! په یوه کې دا هم ویل شوي چې قریشو به په دغي ورځ د روژې تر څنګ د کعبې غلاف هم بدلولو!! په یوه کې راغلي چې عبد الله بن مسعود رضي الله عنه به په دې ورځ روژه نه نیوله مګر دا چې د ده د روژو په ورځو کې به راغله؛ او تاسو پوهېږئ چې عبد الله بن مسعود رضي الله عنه له مکې دور د رسول الله صلی الله علیه و سلم نژدې، مخلص او دروند یار پاته شوی او د هغو راویانو په ډلي کې چې تر نورو ئې له رسول الله صلی الله علیه و سلم زیات روایات نقل کړي؛ دی تر ټولو د پوخ عمر خاوند وو؛ د عاشوراء په ورځ د روژې نه نیول ئې ښیي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم نه په مکه کې دا روژه نیولې او نه په مدینه کې.

د دغو متعارضو روایاتو له منځه د یوه انتخاب محال او ناممکن دئ، امام بخاري هم نه دي ویلي چې په دغو متعارضو او متضادو روایاتو کې کوم یو ئې د متن، محتوی او إسنادو له پلوه صحیح او تر نورو غوره دئ؛ او په کوم دلیل؛ د بخاري هیڅ شارح هم نه ویلي او نه ویلی شي چې کوم روایت تر نورو غوره دئ!! دا د یوه اصل په توګه په پام کې ولرئ چې کله د یوې موضوع په اړه متعارض روایات مومو؛ داسي چې تر منځ ئې نه تلفیق ممکن وي او نه داسي دلیل موندلی شو چې یوه ته پر بل ترجیح ورکړو، په قرآن کې کوم شاهد ورته ونه مومو، په خپله دغو روایاتو کې هم د ترجیح وجه پیدا نه کړو نو په کار دا ده چې ټول یوې خوا ته پرېږدو، نه استناد پرې وکړو، نه ئې نورو ته ووایو او نه کوم یو د خپلې سلیقې له مخي غوره کړو؛ په ځانګړې توګه چې روایت د داسي مباح امورو په اړه وي چې د مستحب نوم هم نه شو ورکولی؛ لکه د عاشوراء په ورځ روژه.

د متعارضو روایاتو ستونزه د ټول اسلامي امت ګډه ستونزه ده؛ د

ټولو مذاهبو پلویان ورسره مخامخ دي؛ د امام حسین رضي الله عنه د شهادت د ورځي په اړه اختلاف هم له دغو روایاتو راولاړ شوی؛ که هغه روایات ومنو چي له مکې خوځېدلی نو دا ادعاء بیا نه شو منلی چي هغه د محرم په اوله نېټه کربلا ته رسېدلی او په لسمه ئې په شهادت رسېدلی؛ او که دا منو چي د محرم په لسمه په شهادت رسېدلی؛ نو باید داسي ثقه روایات پیدا کړو چي وښیي امام حسین رضي الله عنه له داسي سیمي خوځېدلی چي په دوو میاشتو کې تر کربلا رسېدلی!!

له تاسو سره مي دا وعده کړې وه چي د مکې او کربلا تر منځ واټن به په نقشه کې درښیم؛ او دا د دې لپاره چي وګورو آیا امام حسین رضي الله عنه د محرم په لسمه شهید شوی که نه؛ او دا ادعاء د چا له لوري شوې چي د تاریخ ستري پېښي دې ورځي ته منسوبوي او وایي: آدم علیه السلام په دغه ورځ پیدا شوی، له جنت تر راکوزېدا وروسته دی او مېرمن ئې په دغه ورځ سره یو ځای شوي، نوح علیه السلام په دغه ورځ ژغورل شوی، یونس علیه السلام په دغه ورځ د کب له ګېډې سالم وتلی، ابراهیم علیه السلام په دغه ورځ له اوره روغ وتلی!!! دا په داسي حال کې چي نه په قرآن کې د دې ادعاء لپاره کوم شاهد مومو، نه د رسول الله صلی الله علیه و سلم په احادیثو کې او نه په تاریخ کې؛ دا هسي هوائي خوشې ادعاء ګاني دي؛ احتمالاً یوه ادعاء څه ناڅه د منلو وي چي فرعون په دغه ورځ غرق شوی او موسی علیه السلام له بحر روغ تېر شوی؛ او دا هم د بایبل د ادعاء له مخي. دا ادعاء ګاني د همدې محرف بایبل په استناد د یهودانو له لوري شوې؛ هغوی د عاشوراء لسمه سپیځلې ګڼي او د ستر عید په توګه ئې لمانځي؛ دا لمانځنه تر نن پوري د هغه بایبل پلویان لمانځي چي د تورات، انجیل او زبور مجموعه ئې ګڼي؛ زموږ د دغه درسونو په ورځو کې هغوی عملاً د دې ورځي په لمانځني اوه ورځي مصروف دي؛ بایبل کې دوی ته ویل شوي: دا میاشت به هر کال ستاسو لومړۍ میاشت وي او لسمه به ئې تل یوه اونۍ

ځانځئ؛ دوی غواړي دې ورځې ته تاريخي اهميت ورکړی او دومره ئې سپېڅلې ثابته کړي چې وښيي د انساني تاريخ ټولې مهمې پېښې په همدې ورځ رامنځته شوې؛ بايبل وايي: خدای ځکه دا مياشت او دا ورځ سپېڅلې ګڼلې او ځانځل ئې لازم کړي چې موسی او بني اسرائيل ئې وژغورل او فرعون ئې په سمندر کې غرق کړ؛ محرم د قمري کال لومړۍ مياشت ده؛ همغسې لکه چې د بايبل له نظره د کال لومړۍ مياشت ده؛ او دا ښيي چې د بايبل د ليکلو په وخت کې همدا قمري تقويم رائج وو؛ ميلادي تقويم د مسيحيانو له تسلط وروسته رامنځته شوی؛ په دې مياشت کې د اسلامي تاريخ د بريا داسې پېښه نه مومو چې دې مياشتې ته ځانګړتيا او سپېڅلتيا ورکړي؛ فقط يوه ډېره غمجنه او دردونکې پېښه مومو چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم د ګران لمسي امام حسين رضي الله عنه شهادت ورته منسوب شوی؛ ملتونه او امتونه د بريا ورځې لمانځي نه د غم، وير او ماتې ورځې؛ اسلامي امت د غمونو ستري ورځې لري چې نه رسول الله صلی الله عليه و سلم او نه صحابه وو په خاصو مراسمو سره يادې کړې؛ لکه د رسول الله صلی الله عليه و سلم د رحلت ورځ، د حمزه، عمر، عثمان او علي رضي الله عنهم د شهادت ورځې، د احد ماته او په ترڅ کې ئې تر اويا زياتو صحابه وو شهادت. د کربلا او د امام حسين رضي الله عنه د شهادت په اړه په امت کې؛ نه يوازې بېلو بېلو مذاهبو تر منځ د رأی اختلاف مومو؛ بلکې د اهل تشيع تر منځ هم د اختلاف شاهد يو؛ په مجموع کې په دې اړه دوه رأی وړاندې شوې: ۱- هغه چې وايي: د ده شهادت د محرم په لسمه وو؛ ۲- د هغو رأی چې له دې سره موافق نه دي او وايي: د واقعيتونو او محاسباتو له مخې او هغو رواياتو ته په پام سره چې وايي: امام حسين رضي الله عنه د کربلا له غميزې وړاندې د حج په مراسمو کې د خپلې کورنۍ له غړو سره شرکت کړی؛ بيا د کوفې په لورې خوځېدلی؛ او ګواکې د ذي الحجې په پای کې کربلا ته رسېدلی؛ د يزيد پلويانو په کربلا کې د ده مخه نيولې؛ مذاکراتو

نتیجه نه ده ورکړې؛ مفسدینو او جنګ غوښتونکو شرارتونو ته ملا تړلې؛ جګړه ئې رامنځته کړې؛ په پایله کې ئې امام حسین رضي الله عنه؛ د خپلې کورنۍ د غړو او د سفر ملګرو له نژدې اویا تنو سره په شهادت رسېدلې؛ او هغه فاجعه رامنځته شوه چې له پرهارونو ئې تر ننه وینې بهېږي؛ دوی وایي: که دا روایت ومنل شي چې امام حسین رضي الله عنه د همغه کال د ذي الحجې شاوخوا لسمه کې له مکې د کوفې په لوري خوځېدلی وي؛ نو قطعاً ممکنه او عملي نه ده چې د محرم په اوله نېټه او تقریباً ۱٦ ورځو مزل سره کربلا ته رسېدلی وي.

د دې خونړۍ پېښې د دقیقي نیټې په اړه له همغه ورځې تر ننه پورې آراء بېل بېل دي؛ وجه ئې مختلف او متعارض روایات دي؛ که هغه روایات ومنل شي چې وایي: امام حسین رضي الله عنه د همدې کال په حج کې شرکت کړی؛ نو له مکې تر کربلا پورې واټن تر دوو میاشتو زیات پلي سفر ته ضرورت لري؛ دا فاصله په هوائي مستقیمي کرښې ۹۸۸ کیلومتره ده؛ د زمکې پر سر؛ له کږلېچونو او لوړو ژورو سره حد اوسط له ۱۵۰۰ تر ۱۷۰۰ کیلومتره پورې ښودل شوی؛ اوس خو د دقیقو نقشو او مخکې تللو وسائلو په مرسته؛ د دې فاصلې تعیین آسانه شوی او مخکینی اختلاف ختم شوی؛ نن هر څوك پوهېږي چې له مکې تر کربلا پورې؛ په پلي مزل او اوښانو سره په دوو میاشتو کې هم څوك نه شي رسېدلی؛ د فقهاءو له نظره د مسافر درې ورځنی سفر نژدې ۸۰ کیلومتره ښودل شوی؛ یعني د ورځې ۲٦ کیلومتره؛ که یو کاروان چې مېرمني او ماشومان هم په کې وي؛ هره ورځ حد اعظمي ۲٦ کیلومتره مزل ووهي؛ نو ۱۷۰۰ کیلومتره مسافه په ٦۵ ورځو کې وهل کېدی شي؛ د ځینو د ادعاء له مخې امام حسین رضي الله عنه تر شهادت وړاندې لس ورځې په کربلا کې پاته شوی؛ کربلا ته له رسېدو سره سم جنګ نه دئ پیل شوی؛ لس ورځې د هیئتونو په تبادله او مذاکراتو تېرې شوې او بیا جګړه پیل شوې؛ د ذي الحجې له ۱٤ چې د حج د مناسکو وروستۍ ورځ ده؛

تر ۱۰ د محرم پوري ۲٦ ورځي کېږي؛ له دې چې د کربلا هغه لس ورځي منفي کړو نو ١٦ ورځي پاته کېږي؛ په دې موده کې شا و خوا ١٦x ۲٦ = ٤١٦ کیلومتره مزل ممکن دئ؛ ځکه دمه، لمونځ، خوراك، اوښانو ته اوبه او واښه ورکول... نه پرېږدي چې په ورځ کې تر ۲٦ کیلومتره زیات مزل ووهي؛ ویل شوي چې په کاروان کې نژدې ٥۰۰ کسان؛ د ماشومانو او مېرمنو په ګډون شامل وو؛ په دې موده کې د امام حسین رضي الله عنه کاروان د مزل دریېمه برخه هم نه شوی وهلی؛ هغه کربلا ته د رسېدو لپاره؛ لږ تر لږه ٦٥ ورځو مزل ته ضرورت درلود؛ کوم عقل دا مني چې دا کاروان په ١٦ ورځو کې کربلا ته رسېدلی؛ په همغه ورځ جګړه پیل شوې او امام حسین رضي الله عنه په شهادت رسېدلی؟!! د اهل تشیع فقهاءو له نظره یو ورځنی پلی سفر (۲۱،٥ کیلومتره) ټاکل شوی؛ چې په داسي سفر کې به مسافر فرضي روژه نه نیسي او لمونځ به قصر کوي؛ چې په دې حساب به امام حسین رضي الله عنه په ١٦ ورځو کې ٣٤٤ کیلومتره مزل کړی وي؛ او (۱۳٥٦= ٣٤٤ - ۱۷۰۰) کیلومتره به لا ورته پاته وو. نو که دا ادعاء ومنل شي چې امام حسین رضي الله عنه د محرم په اوله نېټه کربلا ته رسېدلی؛ نو هغه بل روایت به ردوو چې دی د حج په شپو ورځو کې له مکې د کوفې په لور خوځېدلی؛ باید داسي روایات ومومو چې ښیي هغه تر دې نېټي ٥۰ ورځي وړاندي له بل ځای د کوفې په لوري حرکت کړی.

ځیني دا ادعاء هم نه مني چې وایي: امام حسین رضي الله عنه مکې ته راغلی، تر اتم د ذي الحجې په مکه کې پاته شوی؛ او په داسي حال کې په اتمه او د حج مناسکو تر پیلېدو یوه ورځ وړاندي؛ د کوفې په لوري خوځېدلی چې نژدې ٥۰۰ د کورنۍ غړي او پلویان ئې ورسره وو!! آیا کولی شو د امام حسین رضي الله عنه او د ده د درنې مؤمني کورنۍ په اړه دا وینا ومنو چې د حج له اداء کولو پرته د کوفې په لوري روان شوي؛ د کورنۍ غړو به ئې څنګه دا ورسره منله او دومره لوی شمېر پلویان به

ئې خنګه راضي کېدل چې له کوم دليل، خطر او ګواښ پرته؛ د حج کولو دا فرصت او سعادت له لاسه ورکړي؛ ولې او د کوم موجه دليل له مخې به ئې دومره عجله او تلوار کولو؟ څلور پنځه ورځې نور د حج اداء کولو لپاره پاته کېدا؛ نه دوی او د دوی منصوبې ته کوم تاوان رسولو او نه د دوی کوم دښمن ته د دوی په ضد د څه کولو مجال او فرصت ورکولو؛ يقيناً چې مکه تر بل هر ځای د دوی لپاره زيات ډاډه؛ خوندي او مصون ځای وو. يزيد نه په مدينه کې ده ته لاس اچولی شو او نه په مکه کې؛ او هغه هم د حج په موسم کې چې په لکونو حاجيان؛ د ستر اسلامي هېواد له مختلفو برخو راغونډ شوي وو؛ او که يزيد دا غلطي کړې وی؛ او د لکونو مخلصو مؤمنانو په شتون کې ئې د رسول الله صلی الله عليه و سلم لمسي او د نبوت د کورنۍ غړو ته لاس اچولی وی؛ نو همدا به د يزيد د ظالمانه واکمنۍ د فوري نسکورېدو مقدمه وه؛ کوفه او نجف د امام حسين رضي الله عنه لپاره تر ټولو زيات ناامنه او نامناسب ځای وو؛ پلار ئې همدلته شهيد کړی شو؛ يزيد کولی شو د وژلو تور په کوفيانو واچوي او له پېښې خپل برائت اعلان کړي.

دلته دوه نقشې ګورئ چې يوه ئې د مکې او کربلا تر منځ زمکنۍ لار راښيي چې ۱۶۷۹ کيلومتره ښودل شوې؛ او بله ئې هوائي واټن راښيي چې ۹۸۸ کيلومتره دئ.





ځیني د محرم الحرام ټوله میاشت دومره سپېځلې میاشت بولي چې له روژې پرته تر ټولو میاشتو ئې افضل ګڼي، دا په داسي حال کې چې نه په قرآن کې د دې میاشتي د ځانګړي فضیلت په اړه څه ویل شوي او نه په کوم صحیح حدیث کې، د اسلام له نظره ټولې ورځي او میاشتي یو برابر دي، د اوقاتو فضیلت ذاتي نه دئ، د هغه ځانګړي عمل له مخي یو وخت پر بل فضیلت مومي چې په هغه کې تر سره شوی. د روژې میاشت د دې لپاره افضل ګڼل شوې چې په دې کې قرآن نازل شوی، د قدر شپه له دې امله په دې نامه یاده شوې او تر زرو میاشتو غوره ګڼل شوې چې په همدې شپه پر رسول الله صلی الله علیه و سلم د قرآن نزول پیل شوی، څلور حرام میاشتي: رجب، ذي القعده، ذي الحجه او رجب له دې امله د اشهر الحرم په نامه یادي شوې چې په دې کې به د حج او عمرې مراسم ترسره کېدل.

ځیني د عاشوراء لسمه د مخکینیو امتونو او پیغمبرانو د سترو سترو بریاوو له ورځي سره تشبیه کوي؛ دې ته له پام پرته چې د هغو سترو سترو پېښو؛ د کربلا له پېښي سره هیڅ مناسبت او مماثلت نه شته، په هغوی کې الله تعالی ظالمان او د دین دښمنان هلاك کړي او پیغمبرانو علیهم السلام ته ئې بریا ورپه برخه کړې او له کړاوونو ئې ژغورلي، حال دا چې په کربلا کې د دغو ټولو تاریخي پېښو خلاف د حسین رضي الله عنه په شمول د ده د کورنۍ او پلویانو نژدې اویا غړي په شهادت

رسېدلي!! دې ته نه ګوري چې د عاشوراء د ورځې د سترو سترو تاريخي پېښو اړوند روايات ټول اسرائيلي روايات دي چې هيڅ وزن او ارزښت نه لري.

ځيني دې ورځې ته د يوم من ايام الله نوم ورکوي!! چې دا نُومَوَنه په بشپړه توګه غلطه ده؛ دا ځکه چې قرآن هغو سترو سترو ورځو ته د ايام الله نوم ورکړی چې د شر، فساد، کفر او شرك ستر ستر ځواکونه په سخت الهي عذاب اخته شوي او حقپالو ته ستره او تاريخي بريا ورپه برخه شوې. قرآن په اړه فرمايي:

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَى بِآيَاتِنَا أَنْ أَخْرِجْ قَوْمَكَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ وَذَكِّرْهُمْ بِأَيَّامِ اللَّهِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ۝ إبراهيم

او يقيناً چې موسی مو له خپلو آيتونو سره ولېږو چې خپل قوم دې له تيارو د نور لوري ته وباسه او (د پند په توګه) د الهي ورځو يادونه ورته وکړه؛ يقيناً چې په دې کې حتماً د هر تکړه صبر کوونکي شاکر لپاره ښکاره نښې دي.

يعني د موسی عليه السلام مأموريت دا وو چې خلك د کفر، شرك، جهل، ظلم او فساد له تيارو وباسي او د ايمان، صالح عمل، عدالت او شايسته ژوند روڼ سباوون پرې وګوري، ورته ويل شوي وو چې د قوم په وړاندې د هغو سترو سترو الهي ورځو يادونه وکړه چې د لويو لويو ظالمانو د واکمنۍ ماڼۍ په کې نسکورې شوې، مظلومان په کې ژغورل شوي او د ځمکې خلافت او وراثت ئې په برخه شوی. په دې تاريخي ورځو کې د هغو وګړو لپاره ښکاره نښې دي چې (صبر) او (شکر) ئې دوه څرګندې ځانګړتياوې دي؛ هغه چې د ستونزو او کړاوونو په وړاندې په مېړانه صبر کوي، نه مأيوس کېږي او نه په نيمې لارې کې ښې او کيڼ لوري ته منحرف کېږي؛ هغه چې د حق په لار کې پر خپل هر حالت راضي وي او د خپل رب د پېرزوينو قدر کوي.

د عاشوراء لسمه په اصل کې د يهودانو سپېڅلې ورځ ده؛ په بايبل کې

د هغې یادونه شوې، "د فصح عید" په نامه یاده شوې، دا د یهودانو ستر عید دئ؛ بایبل د فصح عید تر عنوان لاندي داسي کاږي: "خدای موسی او هارون ته وویل: له دې وروسته به ستاسو لپاره دا میاشت د کال لومړۍ او تر ټولو مهمه میاشت وي... هر کال به د دې میاشتي په لسمه هره کورنۍ یو وری تیاروي، که د کورنۍ شمېر کم وي؛ نو په خپل ګاونډ کي له بلي وړې کورنۍ سره دي ګډ شي، دا وری یا سېرلی به نر، بې عیبه او یو کلن وي، د همدې میاشتي د څوارلسمي په مازدیګر دي ټول اسرائیلیان دا وري قرباني کړي او د هغویویني دي د دروازو د ولاړو تیرانو او د هغو خونو د دروازو پر سر وشیندي چي د وري غوښه په کي خوړل کېږي... په همدې شپه دي دا غوښه وریته کړي او له پتیري ډوډۍ او ترخو سابه سره دې وخوري، غوښه به اومه او په اوبو کي پخه شوې نه خوري، بلکي ټوله به د سر، پښو، زړه او ینې په شمول وریته او ټوله به د همدې شپې تر سهاره خوري، که څه پاته شوه هغه به سوزوي (ښایي د دې لپاره چي غیر یهودي ته ئې تر پاته کېدو سوزول غوره دي)، د وري له خوړلو مخکي به خپلي څپلۍ په پښو کوئ، خپله عصا به په لاس کي نیسئ او د سفر لپاره به تیارېږئ...دا مراسم به د خدای فصح په نامه یادېږي، دا ځکه چي زه خدای یم او نن شپه به د مصر له سیمي تېرېږم او د مصریانو ټول مشران زامن او د دوی د څارویو لومړي پیدا شوي بچیان به وژنم او د دوی خدایانو ته به سزا ورکوم، کومي ویني چي تاسو د دروازو پر تیرانو شیندلې دا به د دې نښه وي چي دا کورونه ستاسي دي، زه به ئې په همدې سره پېژنم، له هغوی به تېرېږم او یوازي مصریان به وژنم!!! هر کال به د دې ورځي په یاد جشن نیسئ، په دې جشن کي چي اوه ورځي به وي یوازي پتیره ډوډۍ خورئ، په لومړۍ ورځ به خمیره له کوره بهر وړئ... ځکه که څوك په دغو ورځو کي د خمیره شوو اوړو ډوډۍ وخوري له اسرائیلیانو به شړل کېږي، په لومړۍ او اوومه ورځ به ټول په ګډه د خدای عبادت کوئ، په دغو دوو ورځو کي

به د خوراك له برابرولو پرته بل هيڅ كار نه كوئ!! بايبل دلته دا خبره درې ځلي تكراروي چي په دغو اوه ورځو كي به يوازي پتيره ډوډۍ خورئ، په كور كي به خميره نه ساتئ، څوك چي خميره ډوډۍ وخوړله له اسرائيليانو به طرد كېږي!!! دا به تر ابده پر تاسو واجب وي... دا د دې لپاره چي په دغي ورځي ما له مصر وژغورلئ!!! "

په ټول يقين سره ويلی شو چي د عاشوراء په اړه هر څه مسلمانو ته له يهودانو راانتقال شوي؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم په مدينې كي يهودان داسي ليدلي چي په دې ورځ روژه نيسي؛ پوښتنه ئې كړې چي دا ولي؟ يعني چي تر دې نېټې لا خبر نه وو چي يهودان دې ورځي ته د سپېڅلي ورځ په سترګه ګوري. نو د عاشوراء په اړه له راغلو متعارضو رواياتو يوازي هغه صحت ته قرين ګڼلی شو چي همدا په كي ويل شوي: كله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم مدينې ته راغی؛ يهودان ئې وليدل چي دا ورځ لمانځي؛ نو وئې پوښتل چي دا ولي؟ او ورته وويل شول: په دې ورځ موسى عليه السلام ژغورل شوی او فرعون غرق شوی.

۸۰۷ - عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضى الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَيُحَجَّنَّ الْبَيْتُ وَلَيُعْتَمَرَنَّ بَعْدَ خُرُوجِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ». (بخارى:۱۵۹۳)

۸۰۷ – له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (د يأجوج او مأجوج له راوتو وروسته به هم د بيت الله حج او عمره كېږي).

د يأجوج او مأجوج اړوند روايات په بخاري كي ۱۱ ځلي په دغو شمېرو راغلي: ۱۵۹۳ - ۳۳٤٦ - ۳۳٤۷ - ۳۳٤۸ - ۳۵۹۸ - ٤۷٤۱ - ۵۲۹۳ - ٦۵۳۰ - ۷۰۵۹ - ۷۱۳۵ - ۷۱۳٦ – بخاري د يأجوج و مأجوج لپاره دا باب ايښی: بَابُ قِصَّة يَأْجُوجَ، وَمَأْجُوجَ وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: قَالُوا {يَا ذَا الْقَرْنَيْنِ إِنَّ يَأْجُوجَ، وَمَأْجُوجَ مُفْسِدُونَ فِي الأَرْضِ} [الكهف: ۹٤]؛ د قرآن هغه آيتونه ئې راوړي چي د ذوالقرنين او يأجوج او مأجوج يادونه په

کې شوې.

په صحابه وو کې ئې راویان دا دي: أَبو سَعِید الخُدْرِي، زَيْنَب بِنْتِ جَحْشٍ او أَبو هُرَيْرَة. د دې ۱۱ روایاتو له مخې دا پرېکړه نه شئ کولئ چې ذوالقرنین څوك دئ، یأجوج او مأجوج څوك دي؛ دوی انسانان دي که بېل مخلوق؛ چېرې اوسېدل؛ هغه سد او بند چېرې دئ چې ذوالقرنین د دوی په وړاندې جوړ کړی؛ آیا دا سد اوس هم په خپل حال پاته دئ او تر قیامته به وي او که وران شوی؛ په بخاري کې د دې پوښتنو واضح ځواب نه شئ موندلی. حتی د دې روایاتو له مخې نه یوازې د یأجوج او مأجوج سم پېژندل گران کار دئ؛ بلکې له مزید پوښتنو سره به مخامخ کېږئ؛ حتی گمان به کوئ چې دوی له انسانانو او پېریانو پرته کوم بېل مخلوق دئ؛ قدونه ئې لنډ، سینې ئې پلنې او غوږونه ئې دومره ستر او اوږده چې د پرېوتو په وخت کې یو غوږ ورته توشك شي او بل ئې بړستنه!!

د ذوالقرنین او یأجوج او مأجوج په اړه په امت کې د جدي اختلاف شاهد یو، په تفسیرونو کې هم بېل بېل آراء مومو او په روایاتو کې هم کافي متعارض روایات. خو که د قرآن په رڼا کې ورته وگورو نو هغوی به د نورو انسانانو په څېر انسانان ومومو؛ راشئ وگورو چې قرآن په دې اړه څه ویلي او په رڼا کې ئې کومه رأیه او روایت د اعتبار وړ گڼلی شو!!

د قرآن په دوو آیتونو کې د یأجوج او مأجوج یادونه شوې: یو ئې د الکهف سورې ۹٤ آیت او بل ئې د الانبیاء سورې ۹٦ آیت دئ؛ د الکهف په سورې کې د دوی یادونه د ذوالقرنین د قصې په ضمن کې شوې او قصه داسې پیل شوې:

وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَن ذِي ٱلۡقَرۡنَيۡنِۖ قُلۡ سَأَتۡلُواْ عَلَيۡكُم مِّنۡهُ ذِكۡرًا ﴿٨٣﴾

د ذو القرنین په اړه تا پوښتي؛ ووایه: ژر به ئې څه یادونه درواوروم.

د الکهف په سورې کې پنځه قصې زموږ مخې ته راځي: ۱- د اصحاب

کهف د مؤمنو زلمیانو او د دوی د مشرك او ظالم قوم تر منځ د مبارزې قصه، ۲- د یوه مشرك شتمن او مؤمن نیستمن د عبرتناکې مرکې او محاورې قصه، ۳- د موسی علیه السلام او خضر د ګډ سفر قصه، ٤- د ذوالقرنین د سترو سترو فتوحاتو قصه او ٥- د آدم د پیدایښت هغه قصه چې ملائکو د ده په وړاندې سجده وکړه او ابلیس سرغړاوی وکړ.

په حقیقت کې دا سوره د همدې پنځو قصو مجموعه ده، خو لنډې لنډې، ډېر ښکلې، اغېزناکې او عبرتناکې قصې، الفاظ ئې جامع، اسلوب ئې ډېر جذاب او جالب، په هرې یوې کې ګڼ شمېر مهم مهم درسونه او ګټورې لارښوونې، دا قصې د دې سورې د محورې او اساسي موضوعاتو لپاره د تاریخي بېلګو په توګه وړاندې شوې.

دا د اهل کتاب اړوند قصې دي او د هغوی په مذهبي او تاریخي کتابونو کې ئې یادونه شوې؛ او قریشو د یوه شرارت په موخه له رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې اړه پوښتني کړې او غوښتل ئې رسول الله صلی الله علیه و سلم د دغو قصو په اړه داسې څه ووایي چې د اهل کتاب له ویناوو او تاریخي څرګندونو سره توپیر ولري چې بیا ئې د یوې تبلیغاتي حربې په توګه وکاروي او خلکو ته ووایي: دا دئ محمد (علیه السلام) د دغو تاریخي قصو په اړه د مخکینیو الهي کتابونو خلاف خبري کوي!! د دې سورې له ۸۳ آیت چې وایي: وَ يَسئَلُونَكَ عَن ذِى الْقَرْنَيِن قُلْ سأَتْلُوا عَلَيْكُم مِّنْهُ ذِكراً* همدا خبره معلومېږي.

د الکهف د سورې په دې آیت سره؛ هغه اغېزناکه او عبرتناکه تاریخي قصه پیل کېږي چې د یوه ځواکمن او فاتح زعیم په اړه ده؛ یو مؤمن بنده د داسې اقتدار او واکمنۍ په حالت کې ښیي چې د ملك لمن ئې د لویې وچې له ختیځ تر لوېدیځ غځېدلې، د شمال او جنوب په لورې خوره شوې، هیڅوك ئې مخې ته ودرېدی نه شي او د مقابلې توان ئې نه لري، ډول ډول وسائل او امکانات ئې په واك کې دي، خو دې زور او ځواك؛ نه مغرور کړی، نه ئې له خپل رب عصیان او بغاوت ته هڅولی

او نه ئې د نورو په حق کې ظلم او تېري ته تشویق کړی، د مظلوم مرسته کوي، د ظالم له شره ئې ژغوري، د مفتوحه سیمو له هستوگنو سره نېك او عادلانه چلن کوي او يوازې ظالمانو ته سزا ورکوي، فتوحات ئې د دې لپاره نه دي چې د جاه طلبۍ شوق پوره کړي، نورو ته خپل زور او ځواك وښيي او د نورو سیمو په نیولو سره د خپلې واکمنۍ لمن پراخه کړي، بلکې د يوه سپېڅلي هدف لپاره دي، غواړي خلك پر الله تعالی او آخرت ایمان راوړي او د ظالمانو له منگولو وژغورل شي. د دې آیت لاندیني مطالب توجه غواړي:

- دلته ویل شوي چې: (او د ذوالقرنین په اړه له تا پوښتني کوي)؛ له دې وینا معلومېږي چې د نورو پوښتنو په ضمن کې دا هم يوه پوښتنه وه؛ او دا ښيي چې په دې سورې کې د اصحاب کهف او د موسی علیه السلام او خضر د جهادي سفر په اړه راغلي مطالب او وضاحتونه هم د دوی د پوښتنو په ځواب کې وړاندې شوي. د آیت له دې فقرې (قُلۡ سَأَتۡلُواْ عَلَيۡكُم مِّنۡهُ ذِكۡرًا: ووایه: ژر به ئې څه یادونه دروا‌وروم) معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې اړه د وحي له راتلو وروسته هغوی ته دغه وینا کړې؛ هغه رأیه صحیح نه برېښي چې وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم لومړی له هغوی سره وعده کړې او بیا څه موده وروسته دا آیتونه نازل شوي؛ ځکه دا آیت په واضح توگه ښيي چې وعده د دغه آیت په لارښوونه شوې.
- دلته د ذوالقرنین نوم راغلی؛ چې لغوي معنی ئې د دوو ښکرونو خاوند ده، نه په قرآن کې د دې مزید وضاحت شوی چې دا څوك وو، نه په احادیثو کې او نه د تاریخ په کتابونو کې؛ ځينو ویلي چې دا یوناني سکندر اعظم وو او ځينو ویلي چې دا خورس (خسرو) د فارس ستر واکمن وو، په دې اړه په یقین سره څه ویل گران دي. دا هم یوه بله پوښتنه ده چې ولې د ذوالقرنین په نامه یاد شوی؟ آیا دا له دې کبله چې ده او فوځیانو به ئې داسي خولونه پر سر کول چې دوه ښکرونه به ئې ول، که د دې لپاره چې ده حقیقتاً په خپلې ککرې (کوپړۍ) کې د ښکرو په څېر دوه راوتلې غوټې درلودې؟ په دې اړه

هم څه واضح ځواب نه شو موندلی، خو د قرآن له وینا دومره معلومېږي چي قريش له دې نوم سره آشنا ول او د همدې ذوالقرنين په اړه ئې له رسول الله صلی الله عليه و سلم پوښتنه کړې، د قریشو د دې معرفت مرجع یهودان ول، باید د یهودانو په مذهبي او تاريخي کتابونو کي دا ولټول شي چي دوی د ذوالقرنين نوم چا ته ورکړی وو.

په بايبل کي د دانيال یوه جعلي او سر تر پايه بې بنسټه قصه مومو چي په ضمن کي ئې د دانيال داسي خوب ته اشاره شوې چي وايي: خوب مي لید چي د شوش په سیمي کي (دا سیمه اوس د ایران یوه برخه ده)؛ د نهر خوا ته ولاړ یم، یو مږ ګورم چي دوه جګ جګ ښکرونه ئې دي، د نهر په ژۍ کي ولاړ دئ، ناڅاپه ګورم چي یو ښاخ ئې ستر او تر بل جګ شو، دي مږ د مغرب، شمال او جنوب لوري ته ښکرونه وهل، هيڅ ځناور ئې مقابله نه شوی کولی او روغ نه شو ترې خلاصېدی، څه چي ئې غوښتل همغسي ئې کول او سترېدو، په داسي حال کي چي لګیا وم د دې صحنې په اړه مي فکر کولو ناڅاپه له لوېديځه یو وز راڅرګند شو، داسي تېز راروان وو چي پښې به ئې د منډې په حال کي پر زمکه نه لګېدې، دې وز چي یو ښکر ئې د دواړو سترګو تر منځ درلود په شدت سره د دوه ښکري مږ په لور ورغی، له ډېر غضب سره ئې پرې برید وکړ، دواړه ښکرونه ئې ورمات کړل او هغه ئې رانسکور کړ... ورپسې د جبرئیل له قوله چي ګواکي دانيال ته په خوب کي راڅرګند شوی؛ دا خوب داسي تعبیروي: هغه دوه ښکری مږ د ماد او فارس پاچايي ده، هغه وز چي د دواړو سترګو منځ کي ئې یو ښکر وو د یونان پاچايي ده، ښکر ئې د همدې ملك لومړی پاچا دئ، د ښکر ماتېدا او پر ځای ئې د څلورو ښکرونو راپيدا کېدا په دې معنی ده چي دا پاچايي به په څلورو برخو ووېشل شي(په خوب کي ئې راغلي دي چي یو ښکر ئې په څلورو ښکرونو بدل شو) او هره برخه به یو پاچا لري خو هيڅ یو به ئې د لومړي پاچا په څېر ځواکمن نه وي....

که تاسو د بايبل دغه برخه په دقت سره ولولئ نو يقيناً چي ډېر ژر به درته جوته شي چي (دانيال) يو جعلي نوم دئ؛ او په ده پوري تړل شوې خوبونه او خبري جعلي، له ځانه جوړ شوي او له سر تر پايه غلط او بې بنسټه دي، خو عجيبه ده چي دانيال ته منسوب دغه قصې، خوبونه او تعبيرونه ئې په مسلمانانو کي خواره شوي، دانيال د يوه معروف معبر په نامه پېژني او حتیٰ ځينو مفسرينو په خپلو تفسيرونو کي د ده خبري نقل کړې دي، دا په داسي حال کي چي عمر رضي الله عنه يو کس د دې لپاره سخت تنبيه کړ چي دانيال ته دغه منسوب خبري ئې تبليغ کړې وې او ورته وئې ويل چي زه پيغمبر عليه السلام د اهل کتابو د آثارو له لوستلو په کلکه منع کړی وم. د دې تفصيل د (بايبل د قرآن په رڼا کي) کتاب کي وګورئ، خو يهودان د بايبل دغي جعلي برخي ته تر نورو زيات ارزښت ورکوي، د همدې لپاره دا دوه ښکرى (ذوالقرنين) په دوی کي پېژندل شوی او معروف نوم وو او د فارس يو ستر واکمن ئې په همدې نامه ياداوو.

قرآن په دغو آيتونو کي د دې ستر فاتح مواصفات زموږ مخي تهږدي او هغه د يوه مؤمن او عادل واکمن او زعيم په توګه معرفي کوي:

إِنَّا مَكَّنَّا لَهُۥ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَءَاتَيۡنَٰهُ مِن كُلِّ شَيۡءٖ سَبَبٗا ﴿٨٤﴾ فَأَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿٨٥﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَغۡرِبَ ٱلشَّمۡسِ وَجَدَهَا تَغۡرُبُ فِي عَيۡنٍ حَمِئَةٖ وَوَجَدَ عِندَهَا قَوۡمٗاۗ قُلۡنَا يَٰذَا ٱلۡقَرۡنَيۡنِ إِمَّآ أَن تُعَذِّبَ وَإِمَّآ أَن تَتَّخِذَ فِيهِمۡ حُسۡنٗا ﴿٨٦﴾ قَالَ أَمَّا مَن ظَلَمَ فَسَوۡفَ نُعَذِّبُهُۥ ثُمَّ يُرَدُّ إِلَىٰ رَبِّهِۦ فَيُعَذِّبُهُۥ عَذَابٗا نُّكۡرٗا ﴿٨٧﴾ وَأَمَّا مَنۡ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَلَهُۥ جَزَآءً ٱلۡحُسۡنَىٰۖ وَسَنَقُولُ لَهُۥ مِنۡ أَمۡرِنَا يُسۡرٗا ﴿٨٨﴾ الكهف

يقيناً چي موږ هغه ته په زمکي کي تمکين ورکړی وو او ډول ډول اسباب مو ورکړي ول، نو د يوه (اقدام اړوند) سبب پسې شو؛ تر هغه چي د

لمر لوېدو حد ته ورسېدو؛ هغه ئې داسي وموند چي په تور رنګه ختېنه چينې کي پرېوځي؛ او د هغې خوا ته ئې يو قوم وموند؛ ومو ويل: اې ذو القرنينه! يا ئې تعذيب کړه يا د دوی په اړه نېك چلن غوره کړه؛ وئې ويل: اما هغه چي ظلم ئې کړی نو حتماً به ئې تعذيب کړو بيا به د خپل رب لوري ته ګرځول کېږي او هغه به ئې په ځانګړي بد عذاب اخته کړي؛ او هغه چي ايمان ئې راوړی او نېك عمل ئې کړی نو هغه ته غوره بدله ده او حتماً به هغه ته د خپلي سپارښتني آسانه وينا وکړو.

په دې مبارکو آيتونو کي دا لارښووني مومو:

- ذوالقرنين د نړۍ يو پياوړی او مضبوط واکمن وو، الله تعالی ډول ډول اسباب او امکانات ورکړي ول، له خپلو وسائلو او امکاناتو په استفادې سره ئې لومړی د لوېديځ په لوري مخه کړه، تر هغه ځای مخکي ولاړ او سيمي ئې يوه په بلي پسي فتح کړې چي د لمر لوېدو حد ته ورسېدو، داسي ځای ته چي پراخه ختېنه چينه ئې مخي ته حائل شوه، داسي ورته معلومېده چي لمر د همدې ختېني چينې په وروستۍ (غربي) ژۍ کي پرېوځي؛ د قرآن له وينا معلومېږي چي د دې چينې شرقي ژۍ ختېنه ده، د غرب په امتداد دومره اوږده پرته ده چي آخوا ته ئې هيڅ لوړه نه تر سترګو کېږي، د لمر د پرېوتو پر مهال داسي معلومېږي لکه چي لمر په همدې چينې کي پرېوځي. د قرآن له وينا دا هم معلومېږي چي دا کوم ستر بحر او سمندر نه وو بلکي چينې ته ورته بحيره وه؛ دغو لارښوونو ته په پام سره ويلی شو چي دا فاتح زعيم د يونان کوم پاچا نه شي کېدی، ځکه د يونان په غرب کي داسي بحيره نه تر سترګو کېږي، د کوچنۍ آسيا په غربي ساحل کي پرتې جزيرې او مديترانه داسي دي چي د قرآن د الفاظو مصداق ګڼل کېدی شي؛ نو د دې فاتح زعيم پلازمېنه به د دې سيمي ختيځ کي پرته وه؛ او دا د خورس په اړه تر سکندر اعظم زيات صدق کوي.




دې فاتح زعيم د دغي چينې خوا ته يو قوم وموند، داسي چي الله تعالى ده ته هم د دې قوم د تعذيب قدرت او توان وركړى وو او هم له دوى سره د نېك چلن توان؛ خو ده دا پرېكړه وكړه: چا چي ظلم كړى يا له دې وروسته ظلم وكړي مناسبه سزا وركوم، بيا به د خپل رب لوري ته درومي او الله تعالى به سخته سزا وركوي او هغه چي ايمان ئې راوړى او نېك عمل ئې كړى يا له دې وروسته ايمان راوړي او نېك عمل وكړي نو هغه ته به په دنيا او آخرت كي غوره بدله وركول كېږي او موږ به نه له هغه سره سختي كوو او نه به ئې پر سختو كارونو گمارو.

- له دې وينا په ډېر صراحت سره معلومېږي چي دا يو مؤمن او عادل زعيم وو، د مفتوحه سيمو له هستوگنو سره ئې عادلانه چلن كولو، ظالمانو ته ئې سزا وركوله، له مؤمنانو او نېكانو سره ئې نېك چلن كاوو، هدف ئې د زمكو لاندي كول او د نورو شتمني لوټل نه وو، د تاريخي شواهدو له مخي سكندر دا مواصفات نه درلودل، سكندر؛ چنگيز ته ورته فاتح وو، له تاريخي شواهدو دا معلومېږي چي خورس تر ډېره حده د همدې مواصفاتو خاوند وو.

ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٩﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ ٱلشَّمْسِ وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلَىٰ قَوْمٍ لَّمْ نَجْعَل لَّهُم مِّن دُونِهَا سِتْرًا ﴿٩٠﴾ كَذَٰلِكَ وَقَدْ أَحَطْنَا بِمَا لَدَيْهِ خُبْرًا ﴿٩١﴾

## الكهف

بيا (د بل كار لپاره) په اسبابو پسې شو؛ تر هغه چې د لمر ختو حد ته ورسېد؛ هغه ئې داسې وموند چې پر يوه داسې قوم راخېژي چې له هغه مو هيڅ حجاب او پرده نه ده ورته جوړه کړې؛ همداسې وو؛ او موږ يقيناً په هغه څه د خبرېدو له پلوه احاطه کړې چې له ده سره ول.

دا مبارك آيتونه د دې زعيم بل فاتحانه اقدام څېړي او وايي:

بيا ئې د بل اقدام لپاره تياری ونيو؛ د ختيځ په لور وخوځېدو، داسې سيمې ته ورسېدو چې د هستوگنو او لمر تر منځ نه چت حائل کېدو، نه کېږدۍ او نه جامې، نه ئې خونې او سمڅې درلودې، نه ئې کېږدۍ او نه جامې؛ د حيواناتو په څېر بربنډ ول.

له الفاظو داسې معلومېږي چې دا سيمه هم د کوم بحر په غربي ژۍ کې پرته وه، لمر به له راڅرگندېدو سره سم تر سترگو کېدو او وړانگې به ئې مخامخ او له کومې مانع پرته پر سيمې او هستوگنو ئې لگېدې. داسې معلومېږي چې دا به د هند هغه شرقي سيمه وي چې له بحر سره متصل پرته ده.




دا آيتونه مسلمانانو ته اطمئنان ورکوي چې د ذوالقرنين په اړه د قرآن دا وينا د هغه جامع او کامل علم له مخې ده چې الله تعالی ئې د

ده او د ده د امکاناتو او وسائلو په اړه لري.

ثُمَّ أَتۡبَعَ سَبَبًا ۝٩٢ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ بَيۡنَ ٱلسَّدَّيۡنِ وَجَدَ مِن دُونِهِمَا قَوۡمٗا لَّا يَكَادُونَ يَفۡقَهُونَ قَوۡلٗا ۝٩٣ الكهف

بيا (د بل کار لپاره) په اسبابو پسې شو؛ تر هغه چې د دوو غرونو منځ ته ورسېد؛ تر هغوی وړاندې ئې داسې قوم وموند چې دې ته نژدې نه وو چې په کومې وينا وپوهېږي.

دلته د ذوالقرنين بل سفر ته اشاره شوې خو لوری ئې نه دئ په ګوته شوی؛ دومره ويل شوي چې د دوو غرونو منځ ته ورسېد؛ د دغو غرونو خوا ته ئې داسې قوم موندلی چې په خبرې د پوهېدا وړتيا ئې دومره کمزورې وه چې په هيڅ وينا نه پوهېدو ته نژدې وو. په وروستيو آيتونو کې داسې اشارې مومو چې په مرسته ئې دا سيمه او ولس ئې پېژندی شو.




قَالُواْ يَٰذَا ٱلۡقَرۡنَيۡنِ إِنَّ يَأۡجُوجَ وَمَأۡجُوجَ مُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَهَلۡ نَجۡعَلُ لَكَ خَرۡجًا عَلَىٰٓ أَن تَجۡعَلَ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَهُمۡ سَدّٗا ۝٩٤ الكهف

وئې ويل: اې ذوالقرنين! يقيناً چې يأجوج او مأجوج په دې زمکې کې فساد خوروونکي دي؛ آيا کېدی شي چې تا ته څه خراج (ماليه) د دې لپاره

درکړو چې زموږ او دوی تر منځ کوم سد او مانع جوړ کړې.

له دې مبارك آيت څو خبرې معلومېږي:

- دا سیمه د يأجوج او مأجوج قوم ته نژدې پرته وه. دوی به د دوو غرونو له منځه راتېرېدل او د سیمې پر خلکو به ئې بریدونه کول، فساد او بې امني به ئې خوروله.
- د يأجوج او مأجوج تر بریدونو او گواښونو لاندې خلکو له ذوالقرنين غوښتې چې دا ناو بند کړي او د دې دواړو لوړو غرونو تر منځ داسې سد جوړ کړي چې د دغو بریدونو مخنیوی وکړي.
- دا ئې هم ورته ویلي چې د دې په بدل کې به موږ تا ته مالیه درکوو.

د يأجوج او مأجوج نومونه هم باید د یهودو په مذهبي کتابونو او تاریخي اسنادو کې ولټوو؛ ځکه دا نومونه د ذوالقرنين د قصې په ارتباط راغلي، د دوی په مذهبي کتابونو کې د دې یادونه شوې، دوی هغه قومونه د يأجوج او مأجوج په نامه یاد کړي چې د آسیا په شمال ختیځې برخو کې مېشت ول، بایبل وايي چې يأجوج او مأجوج د نوح علیه السلام د زوی یافث اولاد او هستوگنځی ئې د آسیا شمال ختیځه سیمه ده، (دې ته مو پام وي چې د قومونو د شجرو په اړه د بایبل وینا او ادعاء خوشې او بې بنسټه ادعاء ده او قرآن ئې ردوي؛ (خو دا د دې مانع نه گرځي چې وگورو دوی په دې اړه څه وايي) له دې خبرې معلومېږي چې د ذوالقرنين دا سفر د شمال په لوري وو، له تاریخي اسنادو دا هم جوتېږي چې د قفقاز په جنوب کې د دربند او داریال په نامه دوه سدونه تر سترگو کېږي چې ویل کېږي د تاتاري، منگولي، هن او سیتهین قومونو د یرغلونو د مخنیوي لپاره جوړ شوي وو. د بندونو موقعیتونه دا دي:




قَالَ مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيْرٌ فَأَعِينُونِي بِقُوَّةٍ أَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا
﴿٩٥﴾ ءَاتُونِي زُبَرَ ٱلْحَدِيدِ حَتَّىٰٓ إِذَا سَاوَىٰ بَيْنَ ٱلصَّدَفَيْنِ قَالَ ٱنفُخُواْ حَتَّىٰٓ
إِذَا جَعَلَهُۥ نَارًا قَالَ ءَاتُونِيٓ أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ﴿٩٦﴾ فَمَا ٱسْطَٰعُوٓاْ أَن يَظْهَرُوهُ
وَمَا ٱسْتَطَٰعُواْ لَهُۥ نَقْبًا ﴿٩٧﴾ قَالَ هَٰذَا رَحْمَةٌ مِّن رَّبِّي فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ رَبِّي
جَعَلَهُۥ دَكَّآءَ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّي حَقًّا ﴿٩٨﴾ وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَمُوجُ فِي
بَعْضٍ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَجَمَعْنَٰهُمْ جَمْعًا ﴿٩٩﴾ الكهف: ﴿٩٥﴾- ﴿٩٩﴾

وئې ويل: زما رب چي څه زما په واك كې راكړي هغه (ډېر او) غوره دي؛ نو په افرادي قوت سره زما ملتيا وكړئ چي ستاسو او دوی تر منځ بند جوړ كړم، د اوسپني ټوټې راته راوړئ؛ تر دې چي د دواړو لوړو څوكې ئې سره (وصل او برابري كړې)؛ وئې ويل: (اور) پو كړئ؛ تر دې چي هغه ئې اور (ته ورته سرې) وگرځولې؛ وئې ويل: ما ته ويلي شوي زېړ (مس) راوړئ چي پرې توی ئې كړم؛ نو نه په دې توانېدل چي پرې وخېژي او نه ئې په سوري كولو توانېدل. وئې ويل: دا زما د رب له لوري يوه پېرزوينه ده؛ نو كله چي زما د رب وعده راورسي له خاورو سره به ئې برابر كړي؛ او زما د رب وعده رښتينې ده؛ او په دې ورځ به پرېږدو

چې ځيني ئې د ځينو نورو ( په ليکو) کې د ځپو په ځېر ننوځي او په شپېلۍ کې به پو شي نو ټول به يو ځای راغونډ کړو.

د دې مبارکو آيتونو مهمې لارښوونې دا دي:

- ذوالقرنين په ځواب کې ورته وويل: ستاسو ماليه نه غواړم، تر دې ماليې هغه څه ډېر غوره دي چې زما رب راکړي، همدا راته کافي دي. او دا ښيي چې د ذوالقرنين فتوحات د يوه سپېڅلي مقصد لپاره وو نه د مفتوحه سيمو او قومونو د غارت او لوټلو لپاره.
- له ما سره د دې کار په بشپړولو او ترسره کولو کې د خپل وس مطابق مرسته وکړئ؛ چې ستاسو او د دوی تر منځ بند جوړ کړم؛ د اوسپني ټوټې او دړې راته راوړئ.
- دا د اوسپني ټوټې او دړې ئې د دواړو غرونو تر منځ داسې سر په سر ودرولې چې د دواړو له څوکو سره برابرې شوې.
- بيا ئې د اوسپني خوا ته سکاره کېښودل او اور ئې پرې بل کړ؛ خلکو ته ئې وويل چې اوس سکروټو ته د اړوند وسائلو په مرسته پو کړئ؛ تر هغه چې اوسپنه دومره سره شوه چې د اور په څېر شوه؛ نو خلکو ته ئې وويل: ما ته ويلي شوي زېړ (مس) راوړئ چې پرې توی ئې کړم؛ په دې توګه د اوسپني داسې مضبوط دېوال جوړ شو چې يأجوج او مأجوج نه پرې راواوښتی شو او نه ئې سوری کولی شو.
- په دې وخت کې ذوالقرنين د خپل رب شکر اداء کړ او وئې ويل: دا زما د رب له لوري يوه پېرزوينه ده، الله تعالی موږ ته د دې توفيق راکړ چې دا کار ترسره کړو، دا سد به تر هغه ولاړ وي چې الله تعالی ئې غواړي؛ خو کله چې زما د رب وعده راورسي مات مات او له خاورو سره به ئې برابر کړي؛ او زما د رب وعده رښتينې ده؛ هرومرو ترسره کېږي. دلته د الهي وعدې معنی يا د هغه سد د نسکورېدو نېټه ده او يا هغه نېټه ده چې الله تعالی د هر څه د مرګ او فناء کېدو لپاره ټاکلې.

د الانبياء په سورې کې د يأجوج او مأجوج په اړه داسې راغلي:

وَحَرَٰمٌ عَلَىٰ قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَآ أَنَّهُمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ﴿٩٥﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتۡ يَأۡجُوجُ وَمَأۡجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ ﴿٩٦﴾ وَٱقۡتَرَبَ ٱلۡوَعۡدُ ٱلۡحَقُّ فَإِذَا هِيَ شَٰخِصَةٌ أَبۡصَٰرُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَٰوَيۡلَنَا قَدۡ كُنَّا فِي غَفۡلَةٍ مِّنۡ هَٰذَا بَلۡ كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٩٧﴾ الانبياء

او پر یوه داسي کلي چي موږ هلاك کړی؛ حرامه ده چي بېرته به نه راګرځي؛ تر هغه چي يأجوج او مأجوج پرانيستل شي او دوی به له هري لوري راکوزېږي. او هغه رښتيني وعده رانژدې شوې ده؛ نو ناڅاپه به د هغو وګړو سترګي رډي رډي پاته شي چي کفر ئې کړی (وايي به) افسوس زموږ په حال؛ يقيناً چي موږ له دې غافل وو؛ بلکي ظالمان وو.

د دې آيتونو معنی دا ده چي هغه خلك به هم د الله تعالی په لور درومي چي په الهي عذاب اخته او هلاك شوي؛ دوی به هم د قيامت په ورځ بيا راژوندي کېږي، په دنيايي عذاب ئې اکتفاء نه کېږي، د الله تعالی په لوري نه ګرځېدا پرې حرامه ده. دا ثابته او نه بدلېدونکې الهي پرېکړه ده؛ دوی به هغه مهال له نورو سره يو ځای د الله تعالی په وړاندي ودرېږي چي قيامت راشي، د قيامت تر راتلو وړاندي به د يأجوج او مأجوج هغه ستره فتنه راڅرګنده شي چي د فساد او تباهي خورولو لپاره به له هري لوري راکوزېږي. تر هغه به دوی په خپلو قبرونو کې پراته وي چي يأجوج او مأجوج بيا د فساد خورولو مجال تر لاسه کړي، دا لار يو ځل بيا ورته پرانيستل شي، هغه مهال به بيا پر نورو سيمو د دوی يرغل پيل شي، يرغل به ئې داسي وي چي له هري لوري به راکوزېږي او بريدونه به کوي، خو دا به هغه مهال وي چي قيامت به ډېر رانژدې شوی وي او د الله تعالی په وړاندي د دوی ودرېدا به ډېر ژر ترسره شي.

ځينو له دغي فقرې (حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتۡ يَأۡجُوجُ وَمَأۡجُوجُ: تر هغه چي يأجوج او مأجوج پرانيستل شي)؛ دا انتباه اخيستې ده چي ښايي د

ذوالقرنين هغه سد به د قيامت تر رانژدې کېدو پوري همداسې روغ پاته وي او د يأجوج او مأجوج د راتېرېدو مخه به نيسي؛ خو هغه مهال به نسکور شي او دوی ته به د تېرېدو او پر نورو د يرغلونو مجال په لاس ورشي. خو دا انګېرنه له يوې خوا د آيت له الفاظو سره اړخ نه لګوي؛ ځکه آيت وايي چې هغه مهال به دوی له هري لوري راکوزېږي؛ يوازي د هغه يوه بند له لوري د راکوزېدو خبره نه کوي؛ بلکې وايي چې هيڅ لوړه او بند به د دوی مخنيوی نه شي کولی. له بلې خوا دا جوته ده چې دلته د دوی د شمېر زياتوالي ته اشاره شوې او د دومره زياتو خلکو مخنيوی په يوه واړه بند؛ هغه هم د يوې وړې سيمې په يوه ناو او خوړ کې؛ نه ممکن دئ او نه ئې عقل مني؛ له بلې خوا دا انګېرنه له الهي سننو سره اړخ نه لګوي؛ قومونه مري، ستر ستر او مضبوط مضبوط بندونه د وخت په تېرېدو سره شړېږي او نسکورېږي، د انسان وسائل او امکانات وده کوي، يو وخت په اوبو کې تګ، له غرونو اوښتل، په هوا کې الوتل ورته محال وو؛ خو اوس په لويو لويو بحرونو کې اوږده سفرونه کولی شي، له غرونو او بندونو تېرېدا څه چې له يوې وچې بلې ته د هوا له لاري درومي، فضاء ته سفرونه کوي او پر سپوږمۍ کوزېږي. د قرآن د يوه آيت داسې تعبير چې له واقعيتونو سره اړخ نه لګوي نه يوازي صحيح تعبير نه دئ بلکې د دې ستر او عظيم الشأن الهي کتاب په اړه بې ځايه شکونه راولاړوي. قرآن د هغه الله تعالی کتاب دئ چې دا ټول عالم ئې پيدا کړی او له ټولو اسرارو ئې خبر دئ؛ په دې کتاب کې يوه کلمه داسې نه شته چې د واقعيتونو خلاف وي او د انسان عقل ئې نه شي منلی. يأجوج او مأجوج د نورو انسانانو په څېر انسانان دي، ژوند او مرګ لري، د دوی په اړه به همغه څه وايو چې په بل هر انسان ئې اطلاق کېدی شي، د قرآن له نظره دا يو مفسد قوم وو، په زمکې کې ئې فساد او تباهي خوروله، د دوی خوا ته پراته خلك ترې تنګ ول، تل به ئې پر دوی غلچکي بريدونه کول او بېرته به تښتېدل، دوی ذو القرنين ته

شکایت وکړ، هغه د دغو بریدونو د مخنیوي لپاره په یوه ناو کې داسې اوسپنیز بند او سد جوړ کړ چې د هغوی بریدونه ئې تم کړل. دا د هغه مهال یو مؤثر تدبیر وو؛ د دې معنی دا نه ده چې همدا سد به تر قیامته پورې د دوی مخنیوی کوي.

د قرآن له وینا معلومېږي چې دا سد د یوه غره په خوړ کې جوړ شوی، د دې غره یوې خوا ته مېشت قوم نسبتاً متمدن قوم وو، ذوالقرنین ته د دوی دا وړاندیز چې د بند جوړولو په بدل کې مالیه (خراج) درکوو همدا مفهوم افاده کوي، یأجوج او مأجوج د دې غره په شمال کې اوسېدل، خو وحشي قوم وو، د دې خوړ له لارې راتېرېدل او پر دغو قومونو ئې غلچکي بریدونه کول او له تالان وروسته بېرته تښتېدل، د سد له جوړېدو وروسته د دوی دا غلچکي بریدونه متوقف شوي، له دې وروسته برید، تالان او بېرته تښتېدا ورته گرانه شوې، دا رأیه دقیقه نه ده چې گواکې دوی ستر ستر بریدونه کول او دا سد د دوی د داسې بریدونو مخنیوی کړی. داسې بند د لویو پلي بریدونو مخه نه شي نیولی، لوی پلی فوځ په غرونو رااوښتی شي، که د دوی بریدونه ستر ستر وی نو دا نسبتاً متمدن قومونه به هلته نه پاتې کېدل او لا دمخه به نورو سیمو ته کډه شوي وو، هغو چې دا رأیه ئې وړاندې کړې ښایي د دې سورې د (۹۹) آیت په اړه ئې دا گمان کړی وي چې دا د یأجوج او مأجوج په اړه دیٔ؛ حال دا چې دا آیت د قیامت د ورځې په اړه دیٔ؛ له (یومئذٍ) مراد د بند د ماتېدو ورځ نه ده؛ دا د قیامت ورځ ده، په دې ورځ به ټول خلك د بحر د څپو په څېر د محشر په لورې درومي، دا ځکه چې په (۱۰۰) آیت کې همدغه د (یومئذٍ) کلمه بیا تکرار شوې او ویل شوي چې په دې ورځ به په صور کې پو شي او دوزخ به کافرانو ته وښودل شي.

د دې احتمال هم شته چې د شمال له لورې د چنگیزیانو هغه ستر ستر او ورانوونکي بریدونه د همدې آیت مصداق وي چې له چین پیل او تر مدیترانې او هند پورې وغځېدل؛ په دې ټولې پراخې سیمې کې ئې

دومره ويني توی کړي، دومره انسانان ئې ووژل او دومره ښارونه ئې وسوزول چې په بشري تاريخ کې ئې نظير نه مومو. اسلامي خلافت ئې نسکور کړ، په بلخ او بغداد کې ئې دومره تباهي وکړه چې جبران ئې محال وو. ښايي د الانبياء سورې په ٩٥- ٩٦ آيتونو کې دغه حالت ته اشاره شوې وي او دا د قرآن يوه دقيقه وړاندوينه وي چې ترسره شوه؛ او ښايي دا وړاندوينه به تر قيامت وړاندې ترسره شي؛ هغه مهال به دا قوم يو ځل بيا په همداسې ستر شرارت لاس پورې کړي.

وَحَرَامٌ عَلَى قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا أَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿٩٥﴾ حَتَّى إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ ﴿٩٦﴾ الأنبياء

دا مطلب هم په يادولو ارزي چې ولې د ذوالقرنين د سفرونو په لړ کې د جنوب يادونه نه ده شوې؟ ما ته داسې معلومېږي چې د ذوالقرنين د پلازمېنې په جنوب کې بل هېواد نه وو، د ده هېواد په جنوب کې له سمندر سره نښتی وو او له دې معلومېږي چې پلازمېنه به ئې په خراسان کې وه او هېواد به ئې په جنوب کې تر سمندر پورې غځېدلی وو.

راشئ وګورو چې په رواياتو کې د يأجوج و مأجوج په اړه څه راغلي:

د بخاري په دولسو رواياتو کې د دوی يادونه شوې، په يوه روايت کې دا هم راغلي چې يوه سړي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وويل: ما د يأجوج او مأجوج سد وليد، د سد مواصفات ئې ورته بيان کړل، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: هغه دې (په خپلو سترګو) وليد؟ که دا روايت صحيح وي نو څو خبرې ترې معلومېږي: ١- د رسول الله صلى الله عليه و سلم تر زمانې دا سد په مکمله توګه موجود وو يا ئې ځينې برخې موجودې وې، ٢- دا کوم خارق العاده سد نه وو، لکه هغسې چې ځينې ګمان کوي، ٣- له عربو ډېر لرې پروت نه دئ بلکې دومره نژدې دئ چې يو کس توانېدلی هلته ولاړ شي او په خپلو سترګو ئې وګوري.

همدا راز آثارو کې راغلي چې د عمر رضي الله عنه په خلافت کې او په ۲۲ هجري قمري کال؛ د آذربايجان له فتحي وروسته؛ عبد الرحمن بن ربيعة د سيمي امير يو څوك د دې سد د ليدو لپاره لېږلی وو؛ هغه دا بند ليدلی وو او عمر رضي الله عنه ته ئې په اړه معلومات ورکړی وو.

همدا راز عباسي خليفة هارون الواثق چې له ۲۲۷ تر۲۳۲ هجري قمري پوري خليفه وو؛ يو کس ئې د سلام ترجمان په نامه له ۵۰ تنو سره موظف کړ چې ولاړ شي او دا بند وګوري؛ ولاړل او بند ئې له نژدې وليدو او تفصيلي راپور ئې خليفه ته وړاندي کړ؛ ويلي وو چې عرض ئې نژدې ۲۰۰ ذراع (تقريباً ۱۲۰ متره) وو.

د بخاري يو روايت دا دئ:

عَنْ زَيْنَبَ ابْنَةِ جَحْشٍ رضى الله عنها أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم دَخَلَ عَلَيْهَا فَزِعًا يَقُولُ « لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هَذِهِ ». وَحَلَّقَ بِإِصْبَعِهِ الإِبْهَامِ وَالَّتِي تَلِيهَا. قَالَتْ زَيْنَبُ ابْنَةُ جَحْشٍ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَنَهْلِكُ وَفِينَا الصَّالِحُونَ قَالَ « نَعَمْ إِذَا كَثُرَ الْخُبْثُ ».

له زينب بنت جحش رضي الله عنها روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم زموږ ځای ته په داسي حال کې راننوت چې وېرې اخيستی وو؛ وئې ويل: لا إله إلا الله؛ افسوس د عربو په حال له هغه شر چې يقيناً رانژدې شوی؛ نن د يأجوج او مأجوج په بند کې دومره سوری جوړ شو؛ بټه ګوته او ورپسې ئې سره وصل کړې؛ زينب وايي: ما ورته وويل: يا رسول الله! آيا په داسي حال کې به هم هلاك کېږو چې په موږ کې صالحان وي؟ وئې فرمايل: هو؛ کله چې پليتي (پليتان) زيات شي.

دا روايت چې په بخاري کې درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۳۵۹۸، ۷۰۵۹، ۷۱۳۵، د سند له مخي مطلق غريب دئ او په دريو طبقو کې يو يو راوي لري. د متن له پلوه په خپلو منځونو کې څو توپيرونه لري: په يوه کې راغلي: أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم دَخَلَ عَلَيْهَا فَزِعًا په بل

کې د دې خلاف راغلي اسْتَيْقَظَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم مِنَ النَّوْمِ مُحْمَرًّا وَجْهُهُ په يوه کې وَحَلَّقَ بِإِصْبَعِهِ وَبِالَّتِى تَلِيهَا په بل کې وَحَلَّقَ بِإِصْبَعَيْهِ الإِبْهَامِ وَالَّتِى تَلِيهَا او په بل کې وَعَقَدَ تِسْعِينَ. يو روايت وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم له خوبه راويښ شو، مخ ئې سور اوښتی وو او وئې ويل: لا إله إلا الله؛ افسوس د عربو په حال له هغه شر چې يقيناً رانژدې شوی؛ نن د يأجوج او مأجوج په بند کې دومره سوری جوړ شو؛ بټه گوته او ورپسې ئې سره وصل کړې؛ بل ئې وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسې حال کې زموږ ځای ته راننوت چې وېرې اخيستی وو او همدا خبره ئې وکړه خو په پای کې د ابهام گوتې يادونه نه کوي او وايي يوه او ورپسې گوته ئې سره وصل کړې. په يوه بل روايت کې د دې ټولو خلاف ويل شوي: « يُفْتَحُ الرَّدْمُ رَدْمُ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلَ هَذِهِ». وَعَقَدَ وُهَيْبٌ تِسْعِينَ، دلته د فتحت پر ځای يفتح راغلي چې له مخکيني سره جدي تعارض لري او ښيي چې دا سد به له دې وروسته سوری شي. او په بل کې داسې راغلي « فَتَحَ اللهُ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلَ هَذَا ». وَعَقَدَ بِيَدِهِ تِسْعِينَ.

که سره له دې ټولو تعارضاتو دا روايت صحيح وگڼو چې په سد کې سوری راپيدا شوی نو د دې معنی همغه ده چې ځينو درنو شارحينو کړې او دا ئې د دې فتنې د قرب او نژدېوالي په معنی اخيستې؛ نه په حقيقي معنی او په سد کې د سوري په معنی.

د بخاري بل روايت دا دئ:

عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِىِّ رضى الله عنه عَنِ النَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ « لَيُحَجَّنَّ الْبَيْتُ وَلَيُعْتَمَرَنَّ بَعْدَ خُرُوجِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ ». تَابَعَهُ أَبَانُ وَعِمْرَانُ عَنْ قَتَادَةَ. وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ عَنْ شُعْبَةَ قَالَ « لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى لاَ يُحَجَّ الْبَيْتُ ». وَالأَوَّلُ أَكْثَرُ سَمِعَ قَتَادَةُ عَبْدَ اللهِ وَعَبْدُ اللهِ أَبَا سَعِيدٍ.

له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله

عليه و سلم وفرمايل: د يأجوج او مأجوج له راوتلو وروسته به هم حج او عمره اداء کېږي. په بل روايت کې دا پرې اضافه شوي چې قيامت تر هغه نه راځي چې د بيت الله حج کول بند شي.

د بخاري څلور نور روايات داسي دي چې د مؤمنانو په پرتله د يأجوج او مأجوج شمېر داسي ښيي لکه يو په زرو کې؛ دا روايات هم د سند له مخي مطلق غريب دي؛ په دريو طبقو کې يو يو راوي لري او په څلورمي کې دوه.

د ذوالقرنين د قصې په پای کې د ده داسي خبري راوړل شوې چې د ده دا قصه او ټوله سوره د هغوی پر محور څرخي؛ او په دې سره قريشو ته ويل شوي: ستاسو مغرور مشران په خپلي داسي مشرۍ او زور ځواك مغرور شوي چې د ذوالقرنين د پراخ ملك په پرتله د يوه واړه کلي ملکانو ته ورته دي، هغه پر خدای او آخرت ايمان درلود، د مظلومانو مرسته ئې کوله، د نېکانو مل او ملاتړی وو، شرق، غرب او شمال ته له داسي سترو سترو فوځونو سره ولاړ چې هيڅوك ئې مخي ته نه شو تم کېدی، پرديو قومونو ته ئې له بدل او اجورې پرته لوی لوی کارونه کول، خو د قريشو دا مغرور مشران بتان لمانځي، آخرت نه مني، د الله تعالی پر آيتونو ملنډي وهي، د الله پر پيغمبر استهزاء کوي، د خپل قوم پر مظلومو او بې وزلو مؤمنانو ظلمونه کوي، عملونه ئې گنده، په فساد کې تر ستوني غرق، ټول هم او غم ئې دا چې بې وزلي او مظلومان ولوټي، وېره ئې له دې چې دې ذليل او قليل اقتدار ته ئې گواښ متوجه نه شي!!

د دې بحث په ترڅ کې به تاسو ته واضح شوې وي چې يأجوج او مأجوج د انسانانو د يوه قوم نوم دئ، وحشي قوم وو، په غرونو کې اوسېدل، کوم ښار او مرکزي حکومت ئې نه درلود، که نه نو ذوالقرنين به حتماً هغه فتح کړی وو، پر نورو قومونو ئې غلچکي بريدونه کول، د يوه سد له امله ئې دا غلچکي بريدونه متوقف شول؛ اوس که تاسو داسي وينا، رأيه او روايت واورئ چې وايي: دا کوم ځانگړی مخلوق وو، له

نورو انسانانو سره ئې ډېر ژور توپيرونه ول، دومره ستر ستر او پلن پلن غوږونه ئې ول چې يو به توشك او نيالۍ شو او بل بړستن؛ نو ستا قضاوت به د دې وينا په وړاندې يا دا وي چې دا خبره په بشپړه توګه غلطه، بې بنسټه او د قرآن خلاف ده او يا دا چې ووايې: د يوه غوږ توشك او بل غوږ بړستن معنى دا نه ده چې پلن پلن غوږونه ئې ول بلکې معنى ئې دا ده چې نه ئې توشك وو او نه بړستن، پر زمکه به داسې پرېوتل چې نه به ترې لاندې له خپل غوږ پرته بل څه وو او نه ئې له پاسه له خپل غوږ پرته کوم څادر او بړستن.

د دې قصې په پای کې د يوې داسې ښکلې او جامع تتمې شاهد يو چې دغه مطالب په کې ځلېږي؛ الله تعالى فرمايي: هغه ورځ راتلونکې ده چې خلك به له قبرونو راپاڅوو، ټول به د محشر په لوري داسې روان وي چې ځيني به د ځينو نورو په ليکو کې د ځپو په ځېر ننوځي، په شپېلۍ کې به پو شي نو ټول به يو ځای راغونډ کړو. په همدې سره د ذوالقرنين دا روزونکې او لارښوونکې ښکلې قصه پای ته رسوي او ورپسې د قيامت په ورځ د کافرانو حال بيانوي.

## ۲۹ باب: د کعبې ورانېدل

۸۰۸ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ: «كَأَنِّي بِهِ أَسْوَدَ أَفْحَجَ، يَقْلَعُهَا حَجَرًا حَجَرًا». (بخاری: ۱۵۹۵)

۸۰۸ – له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (لکه چې زه همدا اوس يو توربخون، ارت لينګی (هغه چې دواړه لينګي ئې يو له بل لرې وي) ګورم چې (کعبه ورانوي) او يوه يوه تيږه ئې راباسي).

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ مطلق غريب دئ؛ په ۵ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: عَمْرو بْن عَلِي، يَحْيَى بْن سَعِيد، عُبَيْد اللَّهِ بْن الأَخْنَس، ابْن أَبِي مُلَيْكَةَ او ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا؛ له بخاري او

مسند احمد پرته په بل هيڅ معروف کتاب کې نه دئ راغلی.

د دې روايت په اړه دوه يادونې ضروري برېښي: ۱- په روايت کې د کعبې نوم نه دئ اخيستل شوی؛ ۲- له فحوی ئې داسې معلومېږي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د کعبې ورانېدا او ورانوونکی ئې په خوب کې ليدلي.

## ۳۰ باب: الحجر الأسود

۸۰۸ - عَنْ عُمَرَ رضى الله عنه: أَنَّهُ جَاءَ إِلَى الْحَجَرِ الأَسْوَدِ فَقَبَّلَهُ، فَقَالَ: إِنِّي أَعْلَمُ أَنَّكَ حَجَرٌ، لا تَضُرُّ وَلا تَنْفَعُ، وَلَوْلا أَنِّي رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يُقَبِّلُكَ مَا قَبَّلْتُكَ. (بخاری: ۱۵۹۷)

۸۰۸ – له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې عمر رضي الله عنه حجر اسود ته راغی او ښکول (کوښل) ئې کړه؛ بيا ئې وويل: زه پوهېږم چې ته تيږه يې؛ نه زيان رسولی شې او نه ګټه؛ که رسول الله صلى الله عليه و سلم مې نه وی ليدلی چې تا ښکولوي؛ نو هيڅکله به مې نه وې ښکول کړې.

دا ډېره مهمه موضوع ده؛ د بيان لپاره ئې د عمر رضي الله عنه په څېر د مضبوط او قوي ايمان او د پراخې پوهې او درايت خاوند ته ضرورت وو؛ کعبه ټوله د دې زمکې له ډبرو جوړه شوې؛ د ابراهيم او اسمعيل عليهما السلام په لاسونو ئې بنسټ اېښودل شوی؛ په وار وار ورانه شوې او بيا رغول شوې؛ نه ئې دا حيثيت کموي چې د زمکې له ډبرو جوړه شوې او نه دا چې د سيلابونو، طوفانونو، جګړو په ترڅ کې او د اشرارو او د دښمنانو په لاس ورته صدمه رسېدلې؛ همدا چې د الله تعالى په إذن او امر او د يوه ستر پيغمبر او د تاريخ ستر موحد او بت ماتوونکي په لاس او د دې لپاره جوړه شوې چې موږ د قصرونو او قبرونو له طواف او ښکولولو مستغني کړي او انسانانو ته وښيي چې ستاسو طواف به يوازې د الله تعالى د کور طواف وي؛ نه له الله تعالى پرته د

بل کور، قصر او یا د کوم مړي قبر؛ همدغه ورته سپېڅلتیا او ارزښت ورکړی؛ حجر الاسود چې د کعبې جزء او یوه ډبره ده او د دې لپاره د کعبې په یوې ژۍ او د انسان د قد په اندازه له زمکې لوړه نصب شوې؛ حاجیان له همدې ځای خپل طواف پیلوي، لاس پرې ږدي او ښکولوي ئې؛ له دې احساس سره چې الله تعالی ته د اطاعت او بیعت لاس ورکوي.

په دې روایت کې دوه اساسي خبرې مومو: ۱- عمر رضي الله عنه ځکه حجر الأسود ښکول کړې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې همداسې لیدلی؛ ۲- د حجر الأسود د نورو تیږو په څېر یوه تیږه ګڼې؛ چې نه ذاتاً چا ته ضرر رسولی شي او نه ګټه؛ لکه چې بیت الله یوه استعاره ده؛ د مجاز په توګه کارول شوې؛ الله تعالی له دې ډېر ډېر لوړ دئ چې د زمکې پر سر او له ډبرو جوړه شوې وړه خونه ئې کور او د اوسېدو مکان وي؛ الله تعالی نه د زمان تابع دئ او نه په مکان محدود؛ مکان او زمان د مخلوق ځانګړتیا ده او الله تعالی په هیڅ څه کې مخلوق ته ورته نه دئ؛ نه ئې بیت الله مکان دئ او نه عرش؛ حجر الأسود او پر هغې لاس ایښودل او ښکولول ئې همداسې استعاره ده؛ د بیعت او اطاعت تمثیلولو لپاره؛ پر حجر الأسود لاس ایښودل داسې دي لکه له الله تعالی سره مصافحه او بیعت؛ لاندې روایات چې ګڼ شمېر کتابونو راوړی؛ همدا مطلب افاده کوي:

... قد ذُکرت علتان فی تقبیل الحجر ولمسه: إحداهما: أنّه قد رُوی فی الحدیث: "الحجرُ الأسودُ یمینُ اللّهِ فی الأرض". وکان ذلك فی ضرب المثل کمصافحة الملوك للبیعة، وتقبیل المملوك ید المالك. ثمّ روی بسنده عن ابن عبّاس - رضی اللّه عنهما-: أنّه قال: الحجرُ الأسودُ یمینُ اللّه فی الأرض، فمن لم یدركْ بیعةَ رسولِ اللّه، فمسحَ الحجرَ، فقد بایعَ اللّهَ ورسولَه.

وروی عن ابن عبّاس فی لفظ آخر، قال: الرُّکنُ الأسودُ یمینُ اللّه یصافحُ بها عباده،

كما يصافح أحدُكم أخاه. كشف اللثام شرح عمدة الأحكام، تحفة الأحوذى، فتح القدير

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: " الْحَجَرُ يَمِينُ اللهِ فِي الْأَرْضِ، فَمَنْ لَمْ يُدْرِكْ بَيْعَةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ اسْتَلَمَ الْحَجَرَ فَقَدْ بَايَعَ اللهَ وَرَسُولَهُ

عن ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا يَقُولُ: " هَذَا الرُّكْنُ يَمِينُ اللهِ فِي الْأَرْضِ، يُصَافِحُ بِهِ عِبَادَهُ مُصَافَحَةَ الرَّجُلِ أَخَاهُ " اخبار مكه للفاكهى

وَرُوِىَ فِي بَعْضِ الْحَدِيثِ «أَنَّ الْحَجَرَ يَمِينُ اللَّهِ فِي الْأَرْضِ»، وَالْمَعْنَى: أَنَّ مَنْ صَافَحَهُ فِي الْأَرْضِ، كَانَ لَهُ عِنْدَ اللَّهِ عَهْدٌ، فَكَانَ كَالْعَهْدِ تَعْقِدُهُ الْمُلُوكُ بِالْمُصَافَحَةِ لِمَنْ يُرِيدُ مُوَالاتَهُ، وَكَمَا يُصْفَقُ عَلَى أَيْدِى الْمُلُوكِ لِلْبَيْعَةِ. شرح السنة للبغوى

عن ابْنِ عَبَّاسٍ يَقُولُ: «الرُّكْنُ - يَعْنِي الْحَجَرَ - يَمِينُ اللَّهِ فِي الْأَرْضِ يُصَافِحُ بِهَا خَلْقَهُ مُصَافَحَةَ الرَّجُلِ أَخَاهُ، يَشْهَدُ لِمَنِ اسْتَلَمَهُ بِالْبِرِّ وَالْوَفَاءِ، وَالَّذِى نَفْسُ ابْنِ عَبَّاسٍ بِيَدِهِ، مَا حَاذَى بِهِ عَبْدٌ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللَّهَ تَعَالَى خَيْرًا إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ» مصنف عبدالرزاق الصنعانى

**د دغو رواياتو خلاصه دا ده: حجر الاسود او پر هغه لاس ایښودل او ښکولول ئې داسي دي لکه چي څوك الله تعالى ته د بيعت لاس ورکړي او د هغه لاس ښکول کړي.**

## ٣١ باب: کعبې ته نه داخلېدل

٨٠٩ - عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى رضى الله عنه قَالَ: اعْتَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم فَطَافَ بِالْبَيْتِ، وَصَلَّى خَلْفَ الْمَقَامِ رَكْعَتَيْنِ، وَمَعَهُ مَنْ يَسْتُرُهُ مِنَ النَّاسِ، فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ: أَدَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم الْكَعْبَةَ؟ قَالَ: لا. (بخارى:١٦٠٠)

**٨٠٩- له عبدالله بن ابي اوفى رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول**

الله صلی الله علیه و سلم عمره کوله، د بیت الله طواف ئې وکړ او د مقام ابراهیم شا ته ئې په داسي حال کي دوه رکعته لمونځ وکړ چي ملګرو ئې د خلکو له ازدحام ساتلو؛ چا له راوي (عبدالله) پوښتنه وکړه: آیا رسول الله کعبې ته ننوت؟ هغه ورته وویل: نه.

تکرار: دا روایت په بخاري کي ۱۱ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۳۹۵ - ۱۵٤۵ - ۱٦۰۰ - ۱٦۲۳ - ۱٦۲۷ - ۱٦٤۵ - ۱٦٤۷ - ۱٦۹۱ - ۱۷۰۸ - ۱۷٦۲ - ۱۷۹۳ -

توپیر: په هیڅ روایت کي دا نه دي راغلي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم کعبې ته داخل شو؛ د ټولو ګډ مطلب دا دئ چي اوه ځله ئې د کعبې طواف وکړ، بیا ئې مقام ابراهیم کي دوه رکعته لمونځ وکړ او بیا ئې اوه ځلي د صفا او مروه تر منځ سعي وکړه؛ په ځینو کي دا هم ویل شوي چي تر دې وروسته له احرام نه دئ وتلی او دا ځکه چي د حج نیت ئې کړی وو او هدي (د قربانۍ هغه څاروی چي په غاړکۍ سره په نښه کېږي) ورسره وو؛ په ځینو کي د قرآن دا آیت (لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ) راوړل شوی؛ د دې لپاره چي وښیي په حج کي به همغه څه کوو چي رسول الله صلی الله علیه و سلم کړي.

باب او ترې لاندي راوړل شوی روایت به په هغه صورت کي مطابقت درلود چي د عمرې یا حج یادونه هم شوې وی؛ دا ځکه چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د مکې له فتحي وروسته؛ کعبې ته داخل شوی، بتان ئې نسکور کړي؛ خو باب کعبې ته د نه داخلېدو خبره کوي؛ او ترې لاندي هغه روایت راغلی چي رسول الله صلی الله علیه و سلم په عمرې کي کعبې ته نه دئ داخل شوی. د عمرې عدم ذکر التباس رامنځته کړی.

## ۳۲ باب: د کعبې په منځ کي تکبیر

۸۱۱- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنهما قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلی الله علیه و سلم لَمَّا قَدِمَ أَبَى أَنْ يَدْخُلَ الْبَيْتَ، وَفِيهِ الآلِهَةُ، فَأَمَرَ بِهَا فَأُخْرِجَتْ، فَأَخْرَجُوا صُورَةَ إِبْرَاهِيمَ

وَإِسْمَاعِيلَ فِي أَيْدِيهِمَا الأَزْلامُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم: «قَاتَلَهُمُ اللَّهُ، أَمَا وَاللَّهِ لَقَدْ عَلِمُوا أَنَّهُمَا لَمْ يَسْتَقْسِمَا بِهَا قَطُّ». فَدَخَلَ الْبَيْتَ، فَكَبَّرَ فِي نَوَاحِيهِ وَلَمْ يُصَلِّ فِيهِ». (بخاری:۱۶۰۱)

۸۱۱ - له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم چي کله مکې ته ورسېد؛ نو په کعبه کي د بتانو د شتون له امله ئې کعبې ته له داخلېدو ډډه وکړه؛ د هغوی په اړه ئې امر وکړ؛ نو وايستل شول؛ د ابراهيم او اسماعيل (عليهما السلام) عکسونه ئې هم وايستل؛ په داسي حال کي چي د دواړو په لاسونو کي د فال غشي وو؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (الله تعالى دي (مشرکين) هلاك کړي؛ قسم په خدای چي دوی يقيناً په دې پوهېدل چي (ابراهيم او اسماعيل عليهما السلام) هيڅکله په غشو فال نه دئ نيولی)؛ وروسته بيت الله ته داخل شو، په ټولو خواوو کي ئې تکبير ووايو؛ خو لمونځ ئې په کې ونه کړ.

## ۳۳ باب: د طواف په وخت کي د رمل مشروعيت

۸۱۱- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ، فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ: إِنَّهُ يَقْدَمُ عَلَيْكُمْ وَقَدْ وَهَنَهُمْ حُمَّى يَثْرِبَ، فَأَمَرَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «أَنْ يَرْمُلُوا الأَشْوَاطَ الثَّلاَثَةَ، وَأَنْ يَمْشُوا مَا بَيْنَ الرُّكْنَيْنِ، وَلَمْ يَمْنَعْهُ أَنْ يَأْمُرَهُمْ أَنْ يَرْمُلُوا الأَشْوَاطَ كُلَّهَا إِلَّا الإِبْقَاءُ عَلَيْهِمْ» (بخاری: ۱۶۰۲)

۸۱۱- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: کله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم او اصحاب ئې مکې ته ورسېدل؛ نو مشرکينو وويل: دوی (مسلمانان) به په داسي حال کي تاسو ته راځي چي د مدينې تبو به ښه سست کړي وي؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم؛ (اصحابو) ته امر وکړ چي د طواف په دريو لومړيو دورو کي رمل وکړي (د پهلوانانو په شان؛ لنډ لنډ او تېز تېز ګامونه واخلي او اوږې وخوځوي)؛

خو د دوو رکنونو (رکن يماني او رکن حجر الأسود) تر منځ دي په کراره درومي. په ټولو دورو کي ئې د رمل امر؛ پر دوی د مهربانۍ له مخي ونه کړ (نه ئې غوښتل هغوی په تکليف شي).

تکرار: دا روايت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۶۰۲ - ٤٢٥٦

توپير: په دوی کي يوازي يو توپير ليدل کېږي او هغه دا چي په ٤٢٥٦ روايت کي دا مطالب اضافي راغلي: لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَامِهِ الَّذِي اسْتَأْمَنَ، قَالَ: «ارْمُلُوا» لِيَرَى الْمُشْرِكُونَ قُوَّتَهُمْ، وَالْمُشْرِكُونَ مِنْ قِبَلِ قُعَيْقِعَانَ: کله چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په هغه کال عمرې ته راغی چي قريشو د حديبيې معاهدې له مخي هغه ته د امن ډاډ ورکړی وو؛ وئې فرمايل: رمل او هروله وکړئ چي مشرکين ستاسو قوت وگوري؛ او مشرکين د قُعَيْقِعَانَ د لوړي له لوري پر دوی بر او مُشْرِف او د هغوی تر نظر لاندي وو.

## ۳٤ باب: مکې ته په رسېدو سره د حجر اسود استلام

۸۱۲ - عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضی الله عنهما قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلی الله عليه و سلم حِينَ يَقْدَمُ مَكَّةَ، إِذَا اسْتَلَمَ الرُّكْنَ الأَسْوَدَ؛ اولَ مَا يَطُوفُ يَخُبُّ ثَلاثَةَ أَطْوَافٍ مِنَ السَّبْعِ. (بخاری: ۱۶۰۳)

۸۱۲ – له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم مي هغه مهال وليدو چي مکې ته داخلېدو؛ د طواف په پيل کي ئې حجر اسود ښکول کړ؛ او د طواف له اوو دورو ئې په دريو لومړنيو دورو کي رمل کولو (گړندی تلو).

## ۳۵ باب: په حج او عمره کي رمل

۸۱۳ - عَنْ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رضی الله عنه: أَنَّهُ قَالَ: فَمَا لَنَا وَلِلرَّمَلِ، إِنَّمَا كُنَّا رَاءَيْنَا بِهِ الْمُشْرِكِينَ، وَقَدْ أَهْلَكَهُمُ اللَّهُ ثُمَّ قَالَ: شَيْءٌ صَنَعَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلا

تُحِبُّ أَنْ نَتْرُكَهُ. (بخاری: ۱۶۰۵)

۸۱۳ – له عمر رضي الله عنه روایت دئ چي وئې ویل: زموږ ئې له رمل سره څه؟ په دې سره خو مو هغه مهال خپل ځان مشرکینو ته ښودو؛ په داسي حال کې چي الله تعالی هغوی هلاك كړل؛ بیا ئې وویل: دا هغه څه دي چي نبي صلی الله علیه و سلم کړي؛ دا مو نه خوښېږي چي هغه پرېږدو.

د روایت له لومړۍ برخي داسي معلومېږي لکه چي عمر رضي الله عنه په طواف کې (رمل) سره تګ؛ د خاصو شرائطو اړوند کار او د ده د خلافت په وخت کې ئې ضرورت منتفي ګڼلی؛ خو د روایت وروستۍ برخه داسي ښيي چي دا (رمل) د رسول الله صلی الله علیه و سلم سنت دئ چي هیڅکله به ئې نه پرېږدو؛ له دې معلومېږي چي د روایت په انتقال کې له کوم راوي څه خلط شوي یا پاته شوي. همدا مطلب په بل روایت کې په دې بڼه راغلی:

عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: (رَأَيْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ - رضى الله عنه- جَاءَ إِلَى الْحَجَرِ الْأَسْوَدِ فَقَبَّلَهُ، فَقَالَ: إِنِّي أَعْلَمُ أَنَّكَ حَجَرٌ لَا تَضُرُّ وَلَا تَنْفَعُ، وَلَوْلَا أَنِّي رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُقَبِّلُكَ مَا قَبَّلْتُكَ؛ ثُمَّ قَالَ: فَمَا لَنَا وَلِلرَّمَلِ الْيَوْمَ وَالْكَشْفِ عَنْ الْمَنَاكِبِ؟ إِنَّمَا كُنَّا رَاءَيْنَا بِهِ الْمُشْرِكِينَ، وَقَدْ أَهْلَكَهُمْ اللهُ، ثُمَّ قَالَ: مَعَ ذَلِكَ شَيْءٌ صَنَعَهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فلا نُحِبُّ أَنْ نَتْرُكَهُ). الجامع الصحيح للسنن و المسانيد

زید بن اسلم له خپل پلار روایت کوي چي وایي: عمر رضي الله عنه مي ولیدو چي حجر الاسود ته راغی؛ ښکول ئې کړه او وئې ویل: ته یوه ډبره يې؛ نه تاوان رسولی شې او نه ګټه؛ که مي رسول الله صلی الله علیه و سلم نه وی لیدلی چي ښکلوي دي؛ ما به نه وې ښکل کړې؛ بیا ئې وویل: زموږ ئې نن له رمل او د اوږو له لوڅولو سره څه؟ په دې سره

خو مو هغه مهال خپل ځان مشرکینو ته ښودو؛ په داسي حال کي چي الله تعالی هغوی هلاك کړل؛ بیا ئې وویل: خو سره له دې دا هغه څه دي چي نبي صلی الله علیه و سلم کړي؛ دا مو نه خوښېږي چي هغه پرېږدو.

لکه چي گورئ په دې روایت کې د رمل تر څنگ د اوږو لوڅول هم راغلي او تر (شَيْءٌ صَنَعَهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ) وړاندي دا هم راغلي (مَعَ ذَلِكَ)؛

٨١٤ - عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: مَا تَرَكْتُ اسْتِلامَ هَذَيْنِ الرُّكْنَيْنِ فِي شِدَّةٍ وَلا رَخَاءٍ مُنْذُ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَلِمُهُمَا. (بخارى: ١٦٠٦)

٨١٤ – له ابن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چي وايي: له هغي ورځي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم مي لیدلی چي په دې دواړو رکنونو (یماني او حجر الاسود رکنونه) لاس راکاږي؛ ما نه په سخت حالت کي د دې دوو رکنونو استلام پرېښی او نه په آرام او له ازدحام پرته حالت کې.

### ٣٦ باب: په لکڼه د حجر اسود لمس کول

٨١٥ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: طَافَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ عَلَى بَعِيرٍ، يَسْتَلِمُ الرُّكْنَ بِمِحْجَنٍ. (بخارى: ١٦٠٧)

٨١٥ – له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم په حجه الوداع کي په داسي حال کې طواف کاوو چي پر اوښه سپور وو او د حجر الاسود استلام ئې په خپلي لکڼي سره کاوو (د لاس په ځای ئې خپله لکڼه پرې راکاږله).

### ٣٧ باب: د حجر اسود ښکولول

٨١٦ - عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضى الله عنه: أَنَّهُ سَأَلَه رَجُلٌ عَنِ اسْتِلامِ الْحَجَرِ، فَقَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَلِمُهُ وَيُقَبِّلُهُ. فَقَالَ الرجل: أَرَأَيْتَ إِنْ زُحِمْتُ،

أَرَأَيْتَ إِنْ غُلِبْتُ؟ قَالَ: اجْعَلْ أَرَأَيْتَ بِالْيَمَنِ، رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَلِمُهُ وَيُقَبِّلُهُ. (بخاری: ۱٦۱۱)

۸۱٦ -له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي يوه سړي د حجر اسود د استلام (لاس راکښلو) په اړه پوښتنه وکړه؛ ورته وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم مي ليدلی چي لاس ئې پرې راکښلی او ښکول کړې ئې ده؛ هغه سړي وويل: که په زحمت کېدم او که نه توانېدم؛ رأی دي څه ده؟ ابن عمر رضي الله عنهما وويل: دا د (أَرَأَيْتَ) خبره دي په يمن کې پرېږده؛ ما رسول صلى الله عليه و سلم ليدلی چي حجر اسود ئې استلام او ښکولوله.

## ۳۸ باب: مکي ته له رسېدو سره سم طواف

۸۱۷ - عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها: أَنَّ أَوَّلَ شَىْءٍ بَدَأَ بِهِ حِينَ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ تَوَضَّأَ، ثُمَّ طَافَ، ثُمَّ لَمْ تَكُنْ عُمْرَةً، ثُمَّ حَجَّ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ رضى الله عنه مِثْلَهُ. (بخاری: ۱٦۱٤)

۸۱۷ – له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي مکې ته له رسېدو وروسته د رسول الله صلى الله عليه و سلم لومړنی کار دا وو چي اودس ئې وکړ، بيا ئې طواف وکړ، بيا عمره نه وه، بيا وروسته ابو بکر او عمر رضي الله عنهما حج همداسي کړی.

تکرار: دا روايت په بخاري کې ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱٦۱٤ - ۱٦٤۱

توپير: په يوه کې عُرْوَةَ وايي: عَائِشَې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا راته وويل: مکې ته له رسېدو وروسته د رسول الله صلى الله عليه و سلم لومړنی کار دا وو چي اودس ئې وکړ، بيا ئې طواف وکړ، بيا عمره نه وه، أَبُو بَكْرٍ او عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا همداسي کړي، بيا عروه وايي: له خپل پلار سره مي حج کړی؛ لومړی کار ئې طواف وو؛ بيا مي مهاجرين او انصار ليدلي چي

همداسي ئې کول؛ او مور مي راته ویلي: دې او خور ئې او زبیر او فلاني فلاني د عمرې نیت کړی وو؛ کله چې له طواف فارغ شوي نو له احرام وتلي. په بل کې عُرْوَةَ وایي: عَائِشَې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا راته وویل: مکې ته له رسېدو وروسته د رسول الله صلی الله علیه و سلم لومړنی کار دا وو چې اودس ئې وکړ، بیا ئې طواف وکړ بیا عمره نه وه؛ عمر، عثمان، معاویه، عبد الله بن عمر رضي الله عنهم، همداسي وکړل، عروه وایي: بیا مي له خپل پلار زبیر بن عوام سره حج وکړ، همداسي ئې وکړل، مهاجرین او انصار مي لیدلي چې همداسي ئې کول، آخري کس چې مي لیدلی او همداسي ئې کړي عبد الله بن عمر دئ؛ د ټولو لومړی کار طواف وو؛ بیا د حج تر پای له احرام نه دي وتلي؛ مور او خاله مي ولیدلې چې لومړی کار ئې طواف وو، بیا د حج تر پای له احرام نه دي وتلې.

د بخاري له دې روایاتو داسي معلومېږي لکه چې هیچا د حج تر څنګ عمره نه وي کړې؛ نه رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ نه ابو بکر، عمر، عثمان، معاویه، عبد الله بن عمر، عروه، پلار ئې زبیر بن عوام او نه مهاجرین او انصار!! خو دا هم د قرآن له څرګند آیت سره اړخ نه لګوي او هم له روایاتو سره؛ قرآن د حج تر څنګ عمره جائز ګڼلې او رسول الله صلی الله علیه و سلم خپلو یارانو ته ویلي چې عمره وکړئ، له احرام ووځئ او بیا د حج لپاره احرام وتړئ.

باید د دې روایاتو ترڅنګ ویل شوي وی چې معنی ئې دا نه ده چې عمره کول جائز نه دي؛ بلکې معنی ئې دا ده چې د حج او عمرې بېل بېل اداء کول افضل دي؛ هغه چې عائشه رضي الله عنها او عروه رضي الله عنه ئې یادونه کړې؛ مراد ئې دا دئ چې دوی افضل کار غوره کړی.

۸۱۸ - عَن ابنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا: حَدِيْثُ طَوَافِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَقَدَّمَ قَرِيْباً وَزَادَ فِيْ هذِهِ الرِّوَايَةِ: أَنَّهُ كَانَ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ يَطُوفُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ. (بخاری: ۱٦۱٦)

۸۱۸ – له ابن عمر رضي الله عنهما د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د طواف حديث لړ وړاندي تېر شو؛ په دې روايت کې ئې دا پرې زياته کړې ده چې: رسول الله صلى الله عليه و سلم به له طواف وروسته دوه رکعته لمونځ کاوو او بيا به ئې د صفا او مروه تر منځ سعي کوله.

د بخاري دا روايت مختصر کړی شوی؛ اصلي بڼه ئې دا سي ده:

١٦١٦ - عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا: «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا طَافَ فِي الحَجِّ أَوِ العُمْرَةِ؛ اول مَا يَقْدَمُ سَعَى ثَلاَثَةَ أَطْوَافٍ، وَمَشَى أَرْبَعَةً، ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ يَطُوفُ بَيْنَ الصَّفَا وَالمَرْوَةِ»

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دیٔ چي کله به رسول الله صلى الله عليه و سلم په حج او عمره کې طواف کولو؛ نو په سر کې به ئې درې طوافونه له ګړندي تګ سره کول او څلور نور په آرام تګ سره؛ بيا به ئې دوه رکعتونه لمونځ وکړ او بيا به ئې د صفا او مروه سعي وکړه.

جامع ئې همدا وروستی روايت دیٔ؛ مخکینی ئې مبهم دیٔ او لوستونکی په شك کې غورځوي.

۳۹ باب: د طواف په مهال خبري

۸۱۹ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ وَهُوَ يَطُوفُ بِالْكَعْبَةِ بِإِنْسَانٍ، رَبَطَ يَدَهُ إِلَى إِنْسَانٍ بِسَيْرٍ أَوْ بِخَيْطٍ أَوْ بِشَيْءٍ غَيْرِ ذَلِكَ، فَقَطَعَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ ثُمَّ قَالَ: «قُدْهُ بِيَدِهِ». (بخاری: ١٦٢٠)

۸۱۹ – له ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روايت دیٔ چي: په داسي حال کې چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د کعبې طواف کولو؛ د يوه داسي انسان خوا ته تېرېدو چي خپل لاس ئې په تسمه، سنئ، تار يا بل شي د بل سړي له لاس سره تړلی وو، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپل لاس هغه غوڅ کړ او وئې فرمايل: (تر لاس ئې ونيسه او درسره بيايه ئې).

دا روایت تر دې باب (په طواف کې خبرې کول) لاندې راغلی؛ خو په روایت کې اصلي موضوع دا ده چې یوه کس بل کس د طواف په وخت کې داسې له ځان سره بېولو چې د هغه لاس ئې په تار یا سنۍ له خپل لاس سره تړلی وو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه تار غوڅ کړ او هغه سړي ته ئې وویل: لاس نیولی ئې بیایه؛ سره له دې چې په روایت کې خبرې کول راغلي خو که څوك وغواړي په دې پوه شي چې یو معذور کس په طواف کې د پړي او تسمې په مرسته له ځان سره بېول سم کار دئ که له لاس نیولی؛ په بابونو کې د لټون له لارې دا روایت نه شي موندلی.

## ٤٠ باب: لوڅ د طواف او مشرک د حج اجازه نه لري

۸۲۰ - عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضى الله عنه: أَنَّ أَبَا بَكْرٍ الصِّدِّيقَ رضى الله عنه بَعَثَهُ فِي الْحَجَّةِ الَّتِي أَمَّرَهُ عَلَيْهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ يَوْمَ النَّحْرِ فِي رَهْطٍ يُؤَذِّنُ فِي النَّاسِ: أَلا لايَحُجُّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ، وَلا يَطُوفُ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ. (بخاری: ۱۶۲۲)

۸۲۰ – له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ: ابو بکر رضي الله عنه په هغه حج کې چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم له لورې د حج امیر ټاکل شوی وو؛ تر حجة الوداع وړاندې؛ دی (ابو هریره) د یوه ټولې په ضمن کې توظیف کړ چې په خلکو کې دا اعلان وکړي: باید پوه وئ چې له سږ کال وروسته به نه مشرک حج کوي او نه به بربنډ کس طواف کوي.

تکرار: دا روایت په بخاري کې ٦ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۳۶۹ - ۱۶۲۲ - ۳۱۷۷ - ٤٦۵۵ - ٤٦۵٦ - ٤٦۵۷ -

توپیر: د ټولو هم متن سره ورته دئ او هم ئې د راویانو لړۍ؛ خو په تکرار سره ئې د راوړولو وجه څرګنده نه ده.

## ٤١ باب: تر عرفات وړاندي طواف

۸۲۱ - عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ، فَطَافَ وَسَعَى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، وَلَمْ يَقْرَبِ الْكَعْبَةَ بَعْدَ طَوَافِهِ بِهَا حَتَّى رَجَعَ مِنْ عَرَفَةَ. (بخاری: ۱۶۲۵)

۸۲۱ – له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم مکې ته ورسېد، طواف ئې وکړ او د صفا او مروه تر منځ ئې سعي وکړه؛ او له خپل طواف وروسته تر هغه کعبې ته نژدې شوی نه دئ چي له عرفات راستون شو.

تکرار: دا روایت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۵٤۵ - ۱٦۲۵

توپیر: دواړه د متن او راویانو له پلوه سره ورته دي او ښیي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم په حجة الوداع کي په طواف او سعي اکتفاء وکړه او د قربانۍ تر ورځي له احرام ونه وتلو.

## ٤٢ باب: حاجیانو ته اوبه ورکول

۸۲۲ - عَنِ ابن عمر رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: اسْتَأْذَنَ الْعَبَّاسُ بْنُ عَبْدِالْمُطَّلِبِ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَبِيتَ بِمَكَّةَ، لَيَالِيَ مِنًى، مِنْ أَجْلِ سِقَايَتِهِ، فَأَذِنَ لَهُ. (بخاری: ۱٦۳٤)

۸۲۲ – له ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روایت دئ چي وایي: عباس بن عبدالمطلب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ له رسول الله صلی الله علیه و سلم اجازه وغوښته چي حاجیانو ته د اوبو ورکولو لپاره د منٰی شپې په مکه کي تېرې کړي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم اجازه ورکړه.

۸۲۳ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ إِلَى السِّقَايَةِ فَاسْتَسْقَى، فَقَالَ الْعَبَّاسُ: يَا فَضْلُ، اذْهَبْ إِلَى أُمِّكَ، فَأْتِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَرَابٍ مِنْ عِنْدِهَا. فَقَالَ: «اسْقِنِي» قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّهُمْ يَجْعَلُونَ أَيْدِيَهُمْ فِيهِ، قَالَ: «اسْقِنِي». فَشَرِبَ مِنْهُ، ثُمَّ أَتَى زَمْزَمَ، وَهُمْ يَسْقُونَ وَيَعْمَلُونَ فِيهَا، فَقَالَ: «اعْمَلُوا فَإِنَّكُمْ عَلَى عَمَلٍ صَالِحٍ». ثُمَّ قَالَ: «لَوْلَا أَنْ تُغْلَبُوا لَنَزَلْتُ حَتَّى أَضَعَ الْحَبْلَ عَلَى هَذِهِ». يَعْنِي عَاتِقَهُ وَأَشَارَ إِلَى عَاتِقِهِ. (بخاری: ۱۶۳۵)

۸۲۳ - له ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روايت دئ چي: رسول الله صلی الله علیه و سلم حاجیانو ته د اوبو ورکولو ځای ته راغی او اوبه ئې وغوښتلې؛ عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خپل زوی ته وویل: اې فضله! مور ته دي ورشه او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته اوبه ترې راوړه؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: "(له همدې ځای) اوبه راکړه"عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وویل: یا رسول الله! په دې اوبو کي خلک لاسونه وهي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (اوبه راکړه)؛ عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ اوبه ورکړې او رسول الله صلی الله علیه و سلم وڅښلې، بیا زمزم ته ورغی او هلته خلکو نورو ته اوبه ورکولې او کار ئې په کي کاوو (اوبه ئې د زمزم له کوهي راایستلې)؛ نو وئې فرمایل: دې کار ته ادامه ورکړئ؛ تاسو په نېک او د خیر په کار بوخت یئ) بیا ئې وویل: (که داسي نه وی چي د اوبو په راایستو کې زه درسره کار وکړم؛ او همدا د دې باعث شي چي دومره خلك راغونډ شي چي تاسو ئې په ټولو کې ناتوان شئ؛ حتماً درکوزېدم چي دا رسۍ پر خپلي دې غاړي واچوم).

د روایت د وروستۍ برخي په اړه د ځینو تعبیر داسي دئ چي ګواکې رسول الله صلی الله علیه و سلم هغوی ته ویلي: که پر امت د مشقت وېره نه وی نو په خپله به د اوبو په راایستلو کې له دوی سره یو ځای شوی وو؛ داسي نه چي بیا خلك زما دې کار ته د یوه سنت په سترګه وګوري او تر سره کول به ئې دوی په تکلیف کړي. خو دا تعبیر او توجیه د روایت له فحوی او الفاظو سره اړخ نه لګوي؛ ځکه په تُغْلَبُوا کې خطاب هغو ته متوجه دئ چي هغه مهال ئې له کوهي اوبه راایستلې؛ نه ټول

امت ته.

٨٢٤ - وَعَنْهُ فِيْ رِوَايَةٍ قَالَ: سَقَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ زَمْزَمَ، فَشَرِبَ وَهُوَ قَائِمٌ. وَفِيْ رِوَايَةٍ عَنْهُ: أَنَّهُ مَاكَانَ يَوْمَئِذٍ إِلَّا عَلَى بَعِيرٍ. (بخارى: ١٣٦٧)

٨٢٤ - او له (ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما) په بل روايت کې راغلي چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته مي د زمزم اوبه ورکړې؛ نو وئې څښلې په داسي حال کې چې ولاړ وو. او له ده په بل روايت کې راغلي: په دې ورځ هغه پر اوښ سپور وو.

دا روايت د بخاري په مختصر کې راوړل شوی خو په بخاري کې نه شته؛ د بخاري د کوم روايت آدرس چې ورکړی شوی (١٣٦٧)؛ دا شمېره هم صحيح نه ده؛ د دې شمېرې روايت داسي دئ:

١٣٦٧ - حَدَّثَنَا آدَمُ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ العَزِيزِ بْنُ صُهَيْبٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: مَرُّوا بِجَنَازَةٍ، فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا خَيْرًا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَجَبَتْ» ثُمَّ مَرُّوا بِأُخْرَى فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا شَرًّا، فَقَالَ: «وَجَبَتْ» فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: مَا وَجَبَتْ؟ قَالَ: «هَذَا أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ خَيْرًا، فَوَجَبَتْ لَهُ الجَنَّةُ، وَهَذَا أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ شَرًّا، فَوَجَبَتْ لَهُ النَّارُ، أَنْتُمْ شُهَدَاءُ اللَّهِ فِي الأَرْضِ»

له انس بن مالك رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: د يوې جنازې خوا ته تېر شول؛ د هغه ئې ښه ستاينه او توصيف وکړ؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ورته واجب شو؛ بيا پر بلې جنازې تېر شول؛ نو هغه ئې په بدو وستايلو؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ورته واجب شو؛ نو عمر رضي الله عنه وويل: څه واجب شول؟ وئې فرمايل: دا يو داسې وو چې تاسو په خير وستايلو نو هغه ته جنت واجب شو؛ او دا بل تاسو په بدو وستايلو نو د دوزخ اور ورته واجب شو؛ تاسو په زمکې کې د الله تعالى شاهدان يئ.

قرآن په دې اړه فرمايي:

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا .... ﴿١٤٣﴾ البقرة

او همدا راز مو تاسو غوره امت وګرځولئ؛ چې تاسو پر خلکو شاهدان وئ او پيغمبر پر تاسو شاهد وي...

د آيت د دې برخې معنی دا ده: له دې وروسته به د هدايت ډيوې د مسلمانانو په لاس کې وي، د دوی د کړنو له مخې به خلك په دې پوهېږي چې حقيقت څه ته ويل کېږي، حقيقي دين کوم دئ، د الله په اړه مو عقيده څنګه وي او څنګه د ده عبادت وکړو او څنګه د يوه واقعي مخلص بنده په څېر ژوند وکړو؟ دوی، د دوی فکر او عقيده او د دوی عملي ژوند به د نورو لپاره د شاهد حيثيت لري او د مسلمانانو لپاره به پيغمبر شاهد وي.

په بخاري کې چې په دې ارتباط کوم روايت راغلی هغه دا دئ:

١٦٣٧ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ هُوَ ابْنُ سَلاَمٍ، أَخْبَرَنَا الفَزَارِيُّ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، أَنَّ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما حَدَّثَهُ قَالَ: «سَقَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ زَمْزَمَ، فَشَرِبَ وَهُوَ قَائِمٌ» قَالَ عَاصِمٌ: فَحَلَفَ عِكْرِمَةُ مَا كَانَ يَوْمَئِذٍ إِلَّا عَلَى بَعِيرٍ.

د عاصم دا وينا چې عکرمه لوړه وکړه چې رسول الله صلی الله عليه و سلم په دې ورځ په اوښي سپور وو؛ مقصد ئې دا دئ چې د ابن عباس روايت صحيح نه دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم په ولاړه اوبه څښلې دي؛ دا ځکه چې هغه په اوښي سپور وو؛ امام بخاري نه دي ويلي چې د چا وينا صحيح ده؛ خو د ابن عباس له روايت سره متصل د عکرمه وينا او لوړه راوړل ښيي چې دی د ابن عباس له روايت سره موافق نه دئ او د بخاري هر لوستونکی هم له دې روايت همدا مطلب اخلي؛ دا په داسي حال کې چې ابن عباس په دې ارتباط يوازي نه دئ؛ د

رسول الله صلى الله عليه و سلم د کورنۍ دوه نور مهم غړي؛ عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْها او علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هم ورسره دي؛ راشئ د هغوی روايتونه هم وګورو:

٥٥٨٤ - عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: " رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي حَافِيًا وَمُنْتَعِلًا وَيَشْرَبُ قَائِمًا وَقَاعِدًا وَيَنْصَرِفُ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ لَا يُبَالِي أَيَّ ذَلِكَ كَانَ". شُعَبُ الْإِيمَانِ لِلْبَيْهَقِيِّ

له عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْها روايت دئ چي وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم مي ليدلى چي لوڅي پښې او په کپيو (پڼو) کي ئې لمونځ کولو، په ولاړه او ناسته ئې څښلي، له ښي او کيڼ لوري له لمانځه وتلى؛ د دې پروا ئې نه کوله چي له دغو کوم يو ئې وي.

د عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْها دغه روايت په دغو کتابونو کي راغلى: السنن الکبرى للبيهقي، شُعَبُ الايمان.

٥٦١٥ - عَنِ النَّزَّالِ، قَالَ: أَتَى عَلِيٌّ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ عَلَى بَابِ الرَّحَبَةِ «فَشَرِبَ قَائِمًا» فَقَالَ: إِنَّ نَاسًا يَكْرَهُ أَحَدُهُمْ أَنْ يَشْرَبَ وَهُوَ قَائِمٌ، وَإِنِّي «رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَلَ كَمَا رَأَيْتُمُونِي فَعَلْتُ» بخارى: ٥٦١٥

له نزال روايت دئ چي علي رضي الله عنه باب الرحبه (د کوفې د يوه مسجد دروازې) ته راغى او په ولاړه ئې اوبه وڅښلې؛ بيا ئې وويل: ځيني خلك داسي دي چي په ولاړه د اوبو له څښلو کرکه کوي؛ او ما رسول الله صلى الله عليه و سلم ليدلى چي همداسي ئې وکړل؛ لکه څنګه چي تاسو زه وليدم چي څه مي وکړل. يعني همداسي ئې په ولاړه اوبه وڅښلې چي تاسو زه پرې وليدم.

عَن ابْن عَبَّاس: أَن النَّبِي صلى الله عَلَيْهِ وَسلم، شرب من زَمْزَم وَهُوَ قَائِم، وَقَالَ: هَذَا حَدِيث حسن صَحِيح، وَرَوَاهُ النَّسَائِيّ أَيْضا، وَفِي لفظ: سقيت النَّبِي صلى الله عَلَيْهِ

وَسلم من زَمْزَم فَشرب وَهُوَ قَائِم. عمدة القارى

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د زمزم اوبه په ولاړه وڅښلې؛ عمدة القاري وايي: دا حسن او صحيح حديث دئ؛ نسائي هم روايت کړی؛ او په دې الفاظو: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته مې د زمزم اوبه ورکړې؛ په داسې حال کې ئې وڅښلې چې ولاړ وو.

لاندې روايات هم دغه خبره کوي:

٥٥٨٥ - عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: " رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْتَعِلُ قَائِمًا وَقَاعِدًا وَيَشْرَبُ قَائِمًا وَقَاعِدًا وَيَنْفَتِلُ عَنْ يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ. شُعَبُ الايمان

٣٥١٢ - عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمْشِي حَافِيًا وَنَاعِلًا وَيَشْرَبُ قَائِمًا وَقَاعِدًا وَيَنْفَتِلُ عَنْ يَمِينِهِ وَيَسَارِهِ وَيَصُومُ فِي السَّفَرِ وَيُفْطِرُ» مسند البزار

٦٧٨٣ - عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ قَالَ: أَنَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «يَنْفَتِلُ عَنْ يَمِينِهِ، وَعَنْ شِمَالِهِ فِي الصَّلَاةِ، وَيَشْرَبُ قَائِمًا وَقَاعِدًا، وَيُصَلِّي حَافِيًا وَنَاعِلًا، وَيَصُومُ فِي السَّفَرِ وَيُفْطِرُ» مسند احمد

٤٢٥٥ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْها، قَالَتْ: " رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي حَافِيًا، وَمُتَنَعِّلًا، وَيَشْرَبُ قَائِمًا، وَقَاعِدًا، وَيَنْصَرِفُ عَنْ يَمِينِهِ، وَعَنْ شِمَالِهِ، وَلَا يُبَالِي أَيُّ ذَلِكَ كَانَ " السنن الكبرى للبيهقى

پوښتنه دا ده چې د بخاري له دغو متعارضو رواياتو به کوم يو غوره کوو او د کوم دليل له مخې؟ علي رضي الله عنه ته منسوب روايت چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم زما په خبر په ولاړه اوبه وڅښلې او که عکرمه ته منسوب روايت چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و

سلم په اوښه سپور وو او ګواکې د ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما دا وينا سمه نه ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د زمزم اوبه په ولاړه څښلې دي؟ د رسول الله صلی الله علیه و سلم د کورنۍ درې مهم غړي: عائشه، علي او ابن عباس رضي الله عنهم شهادت ورکوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په ولاړه اوبه څښلې؛ د دوی شهادت به منو که د عکرمه ادعاء چې هيڅ شاهد نه لري؟ امام بخاري ولې دا وضاحت نه دئ کړی چې کوم يو ئې صحيح او د اعتبار وړ دئ؟! او که نن کوم اهل حديث يوه مسلمان ته له دې کبله په بده سترګه ګوري چې په ولاړه ئې اوبه څښلې؛ او هغه هم د بخاري په يوه روايت د استناد له مخې؛ او دا بل ئې د بخاري پر بل روايت د إستناد له مخې بد ګڼې؛ او همدا نفرتونه زېږوي؛ ګناه او مسئوليت به ئې د چا پر غاړه وي؟

په ولاړه د اوبو څښلو په ارتباط داسې روايات هم مومو چې ښيي دې کار ته د داسې حرام په سترګه ګوري چې څښونکی ئې بايد بېرته وګرځوي (استفراغ ئې کړي)؛ د دې رواياتو په اړه څو جدي او بې ځوابه پوښتنې لرو: ١- د حرمت لپاره ئې بايد په قرآن کې صريح حکم ولرو؛ چې نه شته او د نهې تر څنګ بايد هغه د عذاب مستحق ګڼل شوی وي چې په ولاړه اوبه څښي؛ او داسې څه ومومو چې ښيي دا کار انسان ته ضرر لري. ٢- د هغه روايت په اړه به څه وايو چې د سند له پلوه مشهور دئ او راويان ئې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د کورنۍ درې غړي؛ او وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم په ولاړه اوبه څښلې؛ او په دې کې ئې هيڅ باك نه وو چې په ناسته ئې څښي که په ولاړه؛ هم ئې د زمزم اوبه په ولاړه څښلې او هم په نورو وختونو کې عادي اوبه؟!! ٣- په روايت کې دا مبالغه چې په ولاړه څښلې اوبه بايد استفراغ شي؛ ښيي چې د اعتناء او اعتبار وړ نه دئ.؛ ځکه اوبه حلالې دي او په ولاړه ئې څښل؛ که ممنوع وي نو فقط د مکروه عمل په حد کې به وي؛ نه دا چې حلالې اوبه حرامې کړي او هغه هم دومره چې بايد

استفراغ شي.

## ٤٣ باب: د صفا او مروه تر منځ د سعي وجوب

٨٢٥ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْها: أَنَّهَا سَأَلَهَا ابْنُ أُخْتِهَا عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: (إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا). قَالَ: فَوَاللَّهِ مَا عَلَى أَحَدٍ جُنَاحٌ أَنْ لا يَطُوفَ بِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، قَالَتْ: بِئْسَ مَا قُلْتَ يَا ابْنَ أُخْتِي، إِنَّ هَذِهِ لَوْ كَانَتْ كَمَا أَوَّلْتَهَا عَلَيْهِ، كَانَتْ لا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ لا يَتَطَوَّفَ بِهِمَا، وَلَكِنَّهَا أُنْزِلَتْ فِي الأَنْصَارِ، كَانُوا قَبْلَ أَنْ يُسْلِمُوا يُهِلُّونَ لِمَنَاةَ الطَّاغِيَةِ، الَّتِي كَانُوا يَعْبُدُونَهَا عِنْدَ الْمُشَلَّلِ، فَكَانَ مَنْ أَهَلَّ يَتَحَرَّجُ أَنْ يَطُوفَ بِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، فَلَمَّا أَسْلَمُوا سَأَلُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا كُنَّا نَتَحَرَّجُ أَنْ نَطُوفَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: (إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ) الآيَةَ. قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْها: وَقَدْ سَنَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطَّوَافَ بَيْنَهُمَا، فَلَيْسَ لأَحَدٍ أَنْ يَتْرُكَ الطَّوَافَ بَيْنَهُمَا. (بخاري: ١٦٤٣)

٨٢٥ –له عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْها روايت دئ چي خوريې ئې؛ عروه بن زبير رضي الله عنهما؛ د الله تعالى د دې قول په اړه پوښتنه وکړه (إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا) او وئې ويل: په الله قسم چي څوك د صفا او مروه تر منځ سعي ونه کړي پر هغه کومه گناه نه شته! عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْها وويل: خوريې! ډېره بده خبره دي وکړه؛ که د دې آيت معنى داسي وى لکه چي ته ئې وايې؛ نو بايد الفاظ ئې داسي وى: (لَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ لا يَتَطَوَّفَ بِهِمَا): که طواف ئې ونه کړ؛ نو گناه پرې نه شته؛ مگر دا آيت د انصارو په اړه نازل شوى، هغوى مخکي تر دې چي مسلمان شي؛ د طاغي او باطل منات عبادت کولو او د هغه په نامه به ئې له مُشَلَّلِ

(الجحفة ته نژدې يو ځای)؛ د حج نيت کولو؛ او چا چې به د حج نيت کولو زړه به ئې نه غوښتل چې د صفا او مروه سعي وکړي؛ (دا ځکه چې پر صفا او مروه د نائله او اساف په نامه دوه بتان وو چې د انصارو نه خوښېدل)؛ کله چې هغوی اسلام قبول کړ؛ له رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې په دې اړه وپوښتل او وئې ويل: يا رسول الله! موږ له دې کرکه درلوده چې د صفا او مروه تر منځ سعي وکړو! نو الله تعالی دا حکم نازل کړ: (إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا). عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْها وويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم د صفا او مروه تر منځ سعي سنت ګرځولې ده؛ هيڅوک دا حق نه لري چې د دوی تر منځ سعي پرېږدي.

## ٤٤ باب: د صفا او مروه تر منځ د سعي په اړه

٨٢٦ - عَنِ ابن عمر رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا طَافَ الطَّوَافَ الأَوَّلَ خَبَّ ثَلاثًا وَمَشَى أَرْبَعًا. وَكَانَ يَسْعَى بَطْنَ الْمَسِيلِ إِذَا طَافَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ. (بخارى: ١٦٤٤)

٨٢٦ – له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به چې لومړی طواف کاوو؛ نو په دريو لومړنيو دورو کې به ئې رمل (ګړندی تګ) کولو او په څلورو نورو کې به عادي روان وو؛ او چې کله به ئې د صفا او مروه تر منځ طواف کولو نو په مسيل (خوړ) کې به ئې سعي کوله.

## ٤٥ باب: حائضه ښځه له طواف پرته د حج ټول مناسک اداء کولی شي

٨٢٧ - عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللَّهِ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: أَهَلَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ وَأَصْحَابُهُ بِالْحَجِّ، وَلَيْسَ مَعَ أَحَدٍ مِنْهُمْ هَدْىٌ غَيْرَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وَطَلْحَةَ، وَقَدِمَ عَلِيٌّ مِنَ الْيَمَنِ وَمَعَهُ هَدْيٌ، فَقَالَ: أَهْلَلْتُ بِمَا أَهَلَّ بِهِ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم، فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْحَابَهُ أَنْ يَجْعَلُوهَا عُمْرَةً، وَيَطُوفُوا، ثُمَّ يُقَصِّرُوا وَيَحِلُّوا إِلَّا مَنْ كَانَ مَعَهُ الْهَدْيُ، فَقَالُوا: ..... فَبَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «لَوِ اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِي مَا اسْتَدْبَرْتُ مَا أَهْدَيْتُ، وَلَوْلا أَنَّ مَعِي الْهَدْيَ لَأَحْلَلْتُ». (بخاری: ١٦٥١)

٨٢٧- له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم او اصحابو ئې د حج نیت وکړ؛ له رسول الله صلی الله علیه و سلم او طلحه پرته له هیچا سره هدي نه وه؛ او علي رضي الله عنه له یمن راغی او له هغه سره هم هدي وه؛ او وئې ویل: د هغه څه نیت مي کړی دئ چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم نیت دئ؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم خپلو یارانو ته امر وکړ چي د عمرې (نیت او سفر) ئې کړي؛ طواف دي وکړي، وېښتان دي لنډ کړي او له احرام دي ووځي؛ مګر هغه چي هدي ورسره وي؛ نو هغوی وویل: ..... دا خبره تر رسول الله صلی الله علیه و سلم ورسېده نو وئې فرمایل: که په هغه څه چي وروسته پوه شوی یم وړاندي پوه شوی وی نو له ځان سره به مي هدي نه وه روانه کړې؛ او که له ما سره هدي نه وی نو حتماً به له احرام وتلم.

دا روایت په بخاري کي ٤ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٦٥١ - ١٧٨٥ - ٧٢٢٩ - ٧٢٣٠؛ په اړه ئې دا خبري ضروري برېښي:

- لومړي راویان ئې عائشه او جابر بن عبد الله رضي الله عنهما دي؛ جابر رضي الله عنه ته منسوب روایت کي یوه فقره داسي ده چي قطعاً د راوړلو او یادولو وړ نه ده؛ محال ده چي صحابه وو دي داسي څه ویلي وي؛ ما دا فقره او ترجمه ئې نه ده راوړې؛ دا روایت د إسنادو له پلوه غریب دئ او په پنځو طبقو کي یو یو راوي لري؛ د دواړو له منځه غوره ئې هغه دئ چي عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْها ته منسوب دئ.

- د رواياتو اصلي موضوع دا ده چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په حجة الوداع کې هغو صحابه وو ته چي هدي ورسره نه وه؛ فرمايلي: له طواف او سعي وروسته وېښتان لنډ کړئ او له احرام ووځئ؛ په ځينو دا خبره گرانه ټمامه شوې او د مخکيني دود خلاف ئې گڼلې؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم هغوی ته ويلي: که له ما سره هدي نه وی نو همدا کار مي کولو. نو صحابه وو د رسول الله صلى الله عليه و سلم امر پر ځای کړ.
- عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْها د خپل ښځينه مشکل له کبله طواف او لمونځ نه شو کولی؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم هغې ته لارښوونه وکړه چي د حج ټول مناسك دي له طواف او لمانځه پرته اداء کړه؛ په پای کې ئې هغه له خپل ورور عبدالرحمن سره ولېږله چي له تنعيم د عمرې لپاره احرام وتړي.

## ٤٦ باب: د ترويې په ورځ د ماسپښين لمونځ چېري اداء کېږي

٨٢٨ - عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ سَأَلَهُ رَجُلٌ فَقَالَ لَهُ: أَخْبِرْنِي بِشَيْءٍ عَقَلْتَهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْنَ صَلَّى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ؟ قَالَ: بِمِنًى، قَالَ: فَأَيْنَ صَلَّى الْعَصْرَ يَوْمَ النَّفْرِ؟ قَالَ: بِالأَبْطَحِ، ثُمَّ قَالَ: افْعَلْ كَمَا يَفْعَلُ أُمَرَاؤُكَ. (بخارى: ١٦٥٣)

٨٢٨ –له انس بن مالك رضي الله عنه روايت دئ چي يوه سړي ترې پوښتنه وکړه او ورته وئې ويل: څه چي دي له رسول الله صلى الله عليه و سلم زده کړي هغه راوښيه؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم د ترويې په ورځ د ماسپښين او مازديگر لمونځونه چېري اداء کړل؟ وئې ويل: په منٰى کي؛ (پوښتونکي) وويل: له منٰى د ستنېدو په ورځ ئې د مازديگر لمونځ چېري وکړ؟ انس رضي الله عنه وويل: په ابطح کي؛ ورپسې ئې وويل: اميران دي چي څه کوي؛ همغه کوه.

## ٤٧ باب: د عرفات د ورځې روژه

٨٢٩ - عَنْ أُمِّ الْفَضْلِ رَضِىَ اللَّهُ عَنْها قَالَت: شَكَّ النَّاسُ يَوْمَ عَرَفَةَ فِي صَوْمِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَبَعَثْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَرَابٍ فَشَرِبَهُ. (بخاری: ١٦٥٨)

٨٢٩ – له ام الفضل رَضِيَ اللَّهُ عَنْها روايت دئ چي وايي: خلک د عرفات په ورځ د رسول الله صلى الله عليه و سلم د روژې په اړه شکمن شول (چي روژه دئ که نه)؛ نو ما د څښلو لپاره رسول الله صلى الله عليه و سلم ته څه ورولېږل او وئې څښل. (له دې معلومه شوه چي روژه نه وو).

د روايت په شرحي کي بايد ويل شوي وی چي دا د حج په دوران کي وو نو ځکه رسول الله صلى الله عليه و سلم روژه نه وه نيولې؛ او خلکو ځکه شك کړی چي د مخکي په خبر به ئې ښايي نن هم روژه نيولې وي. دې ته بايد متوجه وو چي نهم د ذي الحجه د يوم العرفه په نامه يادېږي؛ په دې ورځ روژه نيول ډېر ثواب لري؛ خو دا د هغه چا لپاره چي حج ته نه وي تللی؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپله دا روژه نيوله او نورو ته ئې سپارښتنه کوله.

پرون مو په نعلينو کي د لمانځه په اړه عائشې رضي الله عنها ته منسوب روايت درلود چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم مي ليدلی چي لوخي پښې او په کپيو (پڼو) کي ئې لمونځ کولو، په ولاړه او ناسته ئې څښلې، له ښي او کيڼ لوري له لمانځه وتلی؛ د دې پروا ئې نه کوله چي له دغو کوم يو ئې وي. د نعلينو په اړه په قرآن کي يو آيت هم لرو چي فرمايي:

فَلَمَّآ أَتَىٰهَا نُودِىَ يَٰمُوسَىٰٓ ﴿١١﴾ إِنِّىٓ أَنَا۠ رَبُّكَ فَٱخْلَعْ نَعْلَيْكَ إِنَّكَ بِٱلْوَادِ ٱلْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٢﴾ طه

نو کله چې ورغی؛ پرې غږ شو: اې موسی! یقیناً چې زه ستا رب یم؛ نو پڼې دې وباسه؛ یقیناً چې ته د طویٰ په سپېڅلې ناو کې یې.

دلته موسی علیه السلام ته ویل شوي چې پڼې دې وباسه؛ ځکه چې ته په سپېڅلي ځای کې یې. باید وګورو چې آیا په هر سپېڅلي ځای کې د پښو لوڅول او پڼې ایستل ضروري او د پیغمبرانو علیهم السلام د تګلارې مطابق دي او د الله تعالی خوښېږي؟ آیا موږ هم مکلف یو چې په سپېڅلي ځای کې پښې لوڅې کړو؛ که نه؟ ځیني په دې باور دي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په پڼو کې لمونځ کولو؛ هغوی د بخاري په دې روایت استناد کوي چې وایي:

عن سَعِيدِ بْنِ يَزِيدَ الأَزْدِيِّ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ أَكَانَ النَّبِيُّ صلی الله علیه و سلم يُصَلِّي فِي نَعْلَيْهِ قَالَ نَعَمْ. (بخاری:۳۸٦)

له سعید بن یزید الأزدي روایت دئ چې له انس بن مالك مې وپوښتل: آیا رسول الله صلی الله علیه و سلم له پڼو سره لمونځ کاوو؟ وئې ویل: هو.

دا روایت یو ځل بیا هم په بخاري کې تکرار شوی، دواړه روایتونه د الفاظو او محتوی له پلوه سره ورته دي؛ غریب دئ او راویان ئې په دوو طبقو کې یو یو؛ سَعِيد بْن يَزِيد الأَزْدِي او انس رضی الله عنه دي. خو دا روایات نه وایي چې پیغمبر علیه السلام ئې په جومات کې که له جومات بهر، په سفر کې که په حضر کې، پر فرش که پر زمکه له پڼو سره په لمانځه لیدلی؛ تل ئې همداسې لیدلی که یو ځل؟ داسې روایات هم شته چې وایي رسول الله صلی الله علیه و سلم په لوڅو پښو او له پڼو پرته لمونځ کړی. که دا روایت د انس او هرماس رضی الله عنهما په څېر له داسې کم عمره صحابه وو روایت شوی چې لنډه موده ئې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره تېره کړې؛ په مقابل کې ئې نور روایات له مشرانو او د عائشې رضی الله عنها په څېر صحابه وو روایت شوي. له دغو دواړو روایاتو به

کوم یوه غوره کوو؟ له بلي خوا قرآن وايي چي الله تعالی موسی علیه السلام ته د طور په غره کي د ملاقات پر مهال وویل چي پڼې دي وباسه، ته د طوئ سپېڅلې درې کي یې. د روایت تعارض به له دې آیت سره څنگه توجیه کوو؟ دغو خبرو ته په پام سره ویلی شو چي له پڼو سره لمونځ یو استثنائي حالت دئ نه دائمي او ارجح حالت؛ همغسي لکه پر موزو مسح چي استنثائي حالت دئ؛ غوره او ارجح رأیه دا ده چي له ضرورت پرته نه جومات ته له پڼو، څپلیو، بوټونو او کپیو سره ننوځو او نه پر مصلی او فرش لمونځ ورسره وکړو، په دې توگه به موږ د قرآن آیت هم مراعات کړی وي او پر حدیث به مو هم عمل کړی وي.

که څوك پر زمکه له فرش او مصلی پرته لمونځ کوي کولی شي له خپلو پڼو سره لمونځ وکړي، که بشپړه مصلی نه لري کولی شي د سجدې پر ځای وړه ټوټه وغوړوي او که نه سجده هم پر زمکه وکړي. ځکه په روایاتو کي راځي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم همداسي کړي دي.

که څوك مجبور وي او له دې پرته بله چاره نه لري چي له لوړو بوټونو یا موزې سره جومات ته ننوځي؛ نو ښه دا ده چي له ځان سره داسي پلاستیکي یا د ټوټې خلطه ولري چي بوټونو ته ئې ورواغوندي؛ جوماتونه باید داسي جوړ شي چي له دروازې سره ئې د بوټونو لپاره جعبې وي، کُلپ او کونجي ولري، لمونځ کوونکي خپل بوټونه په کي کښېږدي؛ کلپ ئې کړي او کلي له ځان سره واخلي.

متأسفانه اوس داسي ښاغلي هم وینو چي بخاري به ئې پرته له دې چي سم پرې پوه شوی وي؛ له کوم چا لوستلې وي؛ او هغه هم په دې موخه چي ژر د فضیلت دستار پر سر وروتړل شي او د کوم جومات امامت ئې په برخه شي او همدا ئې د روزي مدرك شي؛ دا روایت به ئې تر سترگو شوی وي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم له کپیو سره لمونځ کړی؛ نو له بوټونو سره به مست مست او په جگه غاړه جومات ته ننوځي او له خلکو به هم دا انتظار لري چي وئې ستايي او په حدیث

پوه ئې وګڼې؛ دا په داسې حال کې چې نه به د بخارې له هغه روایت خبر وې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم کله لوڅې پښې لمونځ کړی او کله له کپیو سره؛ د قرآن له دې آیت به هم خبر نه وې چې الله تعالی موسی علیه السلام ته وفرمایل: اې موسی! زه ستا رب یم؛ کپړې دې وباسه؛ ته د طوی په سپېڅلې ناو کې یې. دا ښاغلې د دې پروا هم نه کوې چې خلك له دې سره حساسیت لرې چې څوك له بوټونو سره د دوی جومات ته ننوځې؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم د خلکو حساسیت ته په پام سره ونه غوښتل چې کعبه ورانه کړې او په هغې بنې ئې ورغوې چې ابراهیم علیه السلام جوړه کړې وه. خدای مو د هغې ورځې له لیدو وساته چې دا ښاغلې په داسې وخت کې جومات ته ننوځې چې کوم شتمن عرب؛ له ډالر او ریال ډکو جیبونو سره؛ هلته حاضر وې!!! هغوی ته وایو: حق لرئ د خپل پلار نیکه مذهب بدل او د خپلې خوښې مذهب غوره کړئ؛ خو د الله لپاره او د خپل عقل او ایمان په حکم؛ نه د ډالر او ریال لپاره.

## ٤٨ باب: د عرفات په ورځ په غرمه کې روانېدل

٨٣٠ - عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ أَتَى يَوْمَ عَرَفَةَ، حِينَ زَالَتِ الشَّمْسُ، فَصَاحَ عِنْدَ سُرَادِقِ الْحَجَّاجِ، فَخَرَجَ وَعَلَيْهِ مِلْحَفَةٌ مُعَصْفَرَةٌ، فَقَالَ: مَا لَكَ يَا أَبَا عَبْدِالرَّحْمَنِ؟ فَقَالَ: الرَّوَاحَ إِنْ كُنْتَ تُرِيدُ السُّنَّةَ، قَالَ: هَذِهِ السَّاعَةَ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَأَنْظِرْنِي حَتَّى أُفِيضَ عَلَى رَأْسِي ثُمَّ أَخْرُجُ، فَنَزَلَ حَتَّى خَرَجَ الْحَجَّاجُ، فَقَالَ لَهُ سَالِمُ بْنُ عَبْدِاللهِ - وَكَانَ مَعَ أَبِيهِ - إِنْ كُنْتَ تُرِيدُ السُّنَّةَ فَاقْصُرِ الْخُطْبَةَ، وَعَجِّلِ الْوُقُوفَ، فَجَعَلَ يَنْظُرُ إِلَى عَبْدِاللَّهِ، فَلَمَّا رَأَى ذَلِكَ عَبْدُاللَّهِ قَالَ: صَدَقَ. وَكَانَ عَبْدُالْمَلِكِ قَدْ كَتَبَ إِلَى الْحَجَّاجِ أَنْ لا يُخَالِفَ ابْنَ عُمَرَ فِي الْحَجِّ. (بخاری: ١٦٦٠)

٨٣٠ - روایت دئ چې ابن عمر رضي الله عنهما د عرفات په ورځ د لمر له زوال وروسته راغی او د حجاج د خیمې له شاوخوا ولاړې پردې سره

ئې غړ کړ؛ حجاج په داسي حال کي چي معصفر (په عصفر رنګ شوی) لوی لونګ ئې اغوستی وو؛ راووت او وئې ویل: څه خبره ده اې ابو عبد الرحمانه؟ ابن عمر رضي الله عنهما ورته وویل: که د سنتو متابعت کوې نو باید حرکت وکړې؛ حجاج وویل: همدا اوس؟ وئې ویل: هو؛ (حجاج) وویل: نو دومره وخت راکړه چي پر سر مي اوبه واچوم؛ او راووځم؛ ابن عمر رضي الله عنهما (له خپلي سورلۍ) کوز شو؛ تر هغه چي حجاج راووت؛ سالم بن عبدالله چي له خپل پلار سره وو؛ حجاج ته وویل: که په سنتو عمل کوې نو خطبه لنډه کړه او پر عرفات درېدو ته بېړه وکړه؛ حجاج؛ عبدالله رضي الله عنه ته وکتل؛ کله چي عبدالله رضي الله عنه ورته متوجه شو؛ نو وئې ویل: سالم رښتیا وایي. او حجاج ته عبدالملک لیکلي وو چي د حج په امورو کي به د ابن عمر رضي الله عنهما مخالفت نه کوي.

تکرار: دا روایت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۶۶۰-۱۶۶۳

توپیر: په یوه کي (كَتَبَ عَبْدُ المَلِكِ إِلَى الحَجَّاجِ: أَنْ لَا يُخَالِفَ ابْنَ عُمَرَ فِي الحَجِّ) په بل کي أَنَّ عَبْدَ المَلِكِ بْنَ مَرْوَانَ، كَتَبَ إِلَى الحَجَّاجِ أَنْ يَأْتَمَّ بِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ فِي الحَجِّ؛ په یوه کي دا مطلب د روایت په سر کي او په بل کي د روایت په پای کي راغلی، په یوه کي فَصَاحَ عِنْدَ سُرَادِقِ الحَجَّاجِ، فَخَرَجَ وَعَلَيْهِ مِلْحَفَةٌ مُعَصْفَرَةٌ فَقَالَ: مَا لَكَ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ په بل کي فَصَاحَ عِنْدَ فُسْطَاطِهِ (غړدی) أَيْنَ هَذَا؟ په یوه کي الرَّوَاحَ إِنْ كُنْتَ تُرِيدُ السُّنَّةَ په بل کي یوازي الرَّوَاحَ؛ په یوه کي فَأَنْظِرْنِي حَتَّى أُفِيضَ عَلَى رَأْسِي په بل کي أَنْظِرْنِي أُفِيضُ عَلَيَّ مَاءً راغلي.

## ٤٩ باب: د عرفات موقف (درېدو ځای) ته بېړه

۸۳۰- عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ عَبْدَ المَلِكِ بْنَ مَرْوَانَ، كَتَبَ إِلَى الحَجَّاجِ أَنْ يَأْتَمَّ بِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ فِي الحَجِّ، فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ عَرَفَةَ، جَاءَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا وَأَنَا

مَعَهُ حِينَ زَاغَتِ الشَّمْسُ أَوْ زَالَتْ، فَصَاحَ عِنْدَ فُسْطَاطِهِ أَيْنَ هَذَا؟ فَخَرَجَ إِلَيْهِ فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: «الرَّوَاحَ» فَقَالَ: الآنَ، قَالَ: «نَعَمْ»، قَالَ: أَنْظِرْنِي أُفِيضُ عَلَيَّ مَاءً، فَنَزَلَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا حَتَّى خَرَجَ، فَسَارَ بَيْنِي وَبَيْنَ أَبِي فَقُلْتُ: إِنْ كُنْتَ تُرِيدُ أَنْ تُصِيبَ السُّنَّةَ اليَوْمَ فَاقْصُرِ الخُطْبَةَ وَعَجِّلِ الوُقُوفَ فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ «صَدَقَ»

بخاری: ١٦٦٣

له سالم بن عبد الله روایت دئ چي عبد الملك بن مروان حجاج ته ليكلي وو چي په حج كي به په عبد الله بن عمر پسي اقتداء كوي؛ نو كله چي د عرفې ورځ وه نو عبد الله بن عمر رضي الله عنهما راغی او زه ورسره وم؛ هغه مهال چي لمر كوږ شوی یا ئې زوال كړی وو؛ نو د هغه لویي كېږدۍ خوا ته ئې غږ كړ: دا چېري دئ؟ نو ورته راووتو او ابن عمر وويل: په تلوار سره خوځېدل دي؛ حجاج وويل: همدا اوس؟ وئې ويل: هو؛ هغه وويل: وخت راكړه چي پر ځان اوبه واچوم؛ نو ابن عمر رضي الله عنهما كوز شو تر هغه چي دی راووت؛ نو زما او زما د پلار تر منځ روان شو؛ او ما وويل: كه غواړې په سنت عمل كول دي په برخه شي نو خطبه لنډه كړه او د وقوف لوري ته تلوار وكړه؛ او ابن عمر وويل: رښتيا ئې ويلي.

د بخاري له پورتنيو دواړو روايتونو داسي معلومېږي چي امام بخاري ته دا روايات د داسي چا له لوري رسېدلي چي د حجاج پلوي وو او په دې روايت سره ئې هڅه كړې هغه د رسول الله صلى الله عليه و سلم سنت او د عبدالملك اوامرو ته مطيع وښيي؛ دا په داسي حال كي چي د هغه لاسونه د ډېرو مظلومو مسلمانانو او سترو شخصيتونو په وينو سره شوي؛ د تاريخ له سترو قاتلانو يو معروف قاتل تېر شوی؛ د عبد الملك بن مروان له لوري د عبد الله بن زبير رضي الله عنهما خلاف د جنگ لپاره مكې ته ولېږل شو؛ مكه ئې محاصره كړه، په منجنيق سره ئې پر مكې ډبري او اورونه ورول، د كعبې ځيني برخي په همدې بريد

کې ونړېدې؛ د عبد الله بن زبیر په وژلو ئې اکتفاء ونه کړه بلکې مثله او پانسۍ ئې کړ، لاس ئې ترې پرې کړ او خپل ورور محمد بن یوسف ته ئې ولېږو، د عبد الله بن زبیر مور؛ اسماء بنت ابو بکر؛ د عائشې خور؛ هغه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم او ابو بکر رضي الله عنه ته ئې د ثور ځمځي ته هره ورځ طعاموررسولو؛ هغې ته ئې اجازه نه ورکوله چې د خپل زوی جسد د آخري ځل لپاره د پانسۍ په حال کې وګوري!! د ده ټول پلویان؛ مخلص مؤمنان، د مسلمانانو نخبه صالحین او مجاهدین ول؛ دوی ئې یا شهیدان کړل، یا زنداني یا له مکې خواره واره؛ د مکې پر اوسېدونکو ئې د عبد الله بن زبیر د ملګرتیا له کبله له هیڅ ظلم ډډه ونه کړه؛ ډېر صحابه او تابعین؛ ده او لښکریانو ئې وژلي؛ د همدې ظلمونو په بدل کې عبد الملك بن مروان؛ د مکې او ټول حجاز والي وټاکلو او وروسته ئې عراق ته د اموي سلطنت د مخالفینو خلاف جنګ ته ولېږو؛ هلته ئې همغه څه وکړل چې په مکه کې ئې کړي ول؛ پاڅون ئې وځپلو او ستر ستر شخصیتونه ئې ووژل؛ سعید بن جبیر یو له هغو علماءو او فقهاءو وو چې په ډېره ظالمانه توګه ئې ووژلو؛ مسلمان تاریخ لیکونکو د هغه د ظلمونو او قتلونو ډېري او تفصیلي قصې راوړې.

ډېره عجیبه ده چې امام بخاري داسې روایت په خپل کتاب کې راوړی چې دا مجرم او قاتل د رسول الله صلی الله علیه و سلم د سنت تابع معرفي کوي!! او عبد الله بن عمر او زوی ئې سالم رضي الله عنهما؛ د همدې ظالم او قاتل د حج معلمان ښیي!! امام بخاري رحمه الله دا روایت له ابن شهاب زهري تر لاسه کړی؛ او هغه د جابرو اموي حکامو کلك مدافع وو؛ د هغه له لوري تدوین شوو روایاتو کې به ډېر داسې روایات وموئ چې د امویانو د مخالفینو په اړه نامناسب اظهارات شوي.

نن مورږ او ټول اسلامي امت د داسې تکفیري ډلو له فتنې سره مخامخ یو چې په جوماتونو کې د جَمعي لمانځه په مهال چاودنې کوي؛ دعوتګران،

مجاهد شخصیتونه، د جوماتونو امامان او خطیبان وژني؛ جومات ته د تگ راتگ په لار کې خپلو مخالفینو ته کمین نیسي او بمونه ورته ښخوي؛ انتحاري عملیاتو ته د استشهادي عملیاتو نوم ورکوي؛ خو له دغو جنایاتو سره سره گمان کوي چې لار ئې سمه او جنت ته د رسېدو لنډه او آسانه لار همدا ده؛ د همدوی په اړه ځیني ناپوهان وایي: جگې پایڅې؛ اوږدې ږيرې، په رانجو توري سترگې، په جیب کې ئې مسواك، په لاس کې ئې تسبیح... ښيي چې دوی مسلمانان دي!! خو حقیقت بیا دا دئ چې: څوك د یوه مؤمن او بې گناه انسان یو ځاځکی وینه توی کړي؛ یا د هغه د ویني تویېدو کې د بل مرسته وکړي؛ حتی د یوې کلمې په شطر سره؛ د قیامت په ورځ به د الله تعالی په وړاندي داسي ودرېږي چې پر تندي به ئې لیکل شوي وي: د الله له رحمت مأیوس. همغسي چې عمر رضي الله عنه وایي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم مي اورېدلي چې فرمایل ئې:

"مَنْ أَعَانَ عَلَى قَتْلِ مُؤْمِنٍ وَلَوْ بِشَطْرِ كَلِمَةٍ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ: آيِسٌ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ "

عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَزَوَالُ الدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللَّهِ مِنْ قَتْلِ مُؤْمِنٍ بِغَيْرِ حَقٍّ»

له براء بن عازب روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: یقیناً چې الله تعالی ته د ټولي نړۍ ورانېدا په ناحقه د یوه مؤمن تر وژل کېدا ډېره آسانه ده.

دا ښکلی اثر د دغو وگړو حالت ښه انځوروي چې وایي:

«لیس الإیمان بالتمنی و لا بالتحلي؛ ولکن هو ما وقر فی القلب وصدقه العمل، وأن قوما غرتهم الأمانی حتی خرجوا من الدنیا ولا حسنة لهم وقالوا نحن نحسن الظن بالله وكذبوا، لو احسنوا الظن لأحسنوا العمل»

ایمان نه په تمنٰی او هیلي سره دئ او نه په بڼې جوړولو او عبا او قبا سره؛ إیمان هغه څه دئ چې په زړه کې ځای نیسي او عمل ئې رښتینولي ثابتوي؛ ځیني داسي دي چې هیلو دوکه کړي؛ دومره چې کله له دنیا درومي نو هیڅ نېك عمل ئې نه وي؛ او وايي به: پر الله (د عفوی او بخښني) نېك گمان لرو؛ خو دروغ وايي؛ که ئې گمان نېك وي نو خپل عمل به ئې نېك کړی وو!!

## ۵۰ باب: پر عرفات درېدل

۸۳۸ - عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: أَضْلَلْتُ بَعِيرًا لِي فَذَهَبْتُ أَطْلُبُهُ يَوْمَ عَرَفَةَ، فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - وَاقِفًا بِعَرَفَةَ فَقُلْتُ: هَذَا وَاللَّهِ مِنَ الْحُمْسِ فَمَا شَأْنُهُ هَاهُنَا. (بخارى: ١٦٦٤)

۸۳۱ – له جبیر بن مطعم رضي الله عنه روایت دئ چې وايي: اوښ مي ورک شوی وو؛ د عرفات په ورځ ورپسي گرځېدم؛ نو رسول الله صلى الله علیه و سلم مي ولید چې په عرفات کې ولاړ دئ؛ له ځان سره مي وویل: والله چې دا خو قریشي دئ؛ نو دلته څه کوي؟

دا روایت په بخاري کې همدا یو ځل راغلی؛ له بخاري پرته په نورو کتابونو کې نه تر سترگو کېږي؛ روایت داسي دئ چې په همدې موجوده بڼې کې ډېر مبهم دئ؛ دا نه ترې معلومېږي چې رسول الله صلى الله علیه و سلم ئې کله په عرفات کې لیدلی؛ تر بعثت وړاندي که وروسته؛ امام بخاري هم د دې وضاحت نه دئ کړی چې دا پېښه کله رامنځته شوې؛ خو له نورو مدارکو معلومېږي چې دا د جاهلیت د دور او د هغه مهال واقعه ده چې قریش به د حج د مناسکو په لړ کې عرفات ته نه تلل؛ ځان ئې تر نورو لوړ او په دین کې کلك گڼل؛ ویل ئې له قریشو سره نه ښايي چې د حج په ورځو کې له حرم ووځي؛ جبیر بن مطعم دغه مهال رسول الله صلى الله علیه و سلم په عرفات کې لیدلی او تعجب ئې کړی چې یو قریشي څنگه عرفات ته راغلی! له دې بل روایت په واضح

توګه معلومېږي چې دا تر بعثت وړاندې قصه ده.

عَن جُبَير بن مطعم، قَالَ: أضللت حمارا لى فِي الجَاهِلِيَّة فَوَجَدته بِعَرَفَة، فَرَأَيْت رَسُول الله، صلى الله عَلَيْهِ وَسلم، وَاقِفًا بِعَرَفَات مَعَ النَّاس، فَلَمَّا أسلمت عرفت أَن الله وَفقه لذَلِك. رواه اسحاق بن راهويه

له جبیر بن مُطْعِم روایت دئ چې وایي: د جاهلیت زمانه کې مې خپل خر ورک کړی وو؛ په عرفات کې مې وموندو؛ نو دا مهال مې رسول الله صلی الله علیه و سلم له ځینو خلکو سره په عرفات کې ولاړ ولید؛ کله چې مسلمان شوم پوه شوم چې الله تعالی په همدې موفق کړ.

قرآن مؤمنانو ته لارښوونه کړې چې حج به ئې له عرفات پیل کېږي او له نورو حاجیانو سره به یو ځای ترې راکوزېږي (ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ...) البقرة ١٩٩

## ٥١ باب: له عرفات د مزدلفې په لور د ستنېدو څرنګوالی

٨٣٢ - عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ سُئِلَ عن سِيرِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ حِينَ دَفَعَ، قَالَ: كَانَ يَسِيرُ الْعَنَقَ، فَإِذَا وَجَدَ فَجْوَةً نَصَّ. (بخاری: ١٦٦٦)

٨٣٢ – روایت دئ چې اسامه بن زید رضي الله عنه په حجة الوداع کې له عرفات د مزدلفې په لور د رسول الله صلی الله علیه و سلم د ستنېدو د څرنګوالي په اړه وپوښتل شو؛ اسامه رضي الله عنه وویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم عادي (د سوکه او تېز تر منځ حالت کې) روان وو؛ خو که لار به ئې په کوم ځای کې تشه او پراخه ولیده؛ نو لږ به ګړندی شو.

## ٥٢ باب: له عرفات د راستنېدو په وخت کې خلکو ته د آرامۍ امر

٨٣٣ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما: أَنَّهُ دَفَعَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ

عَرَفَةَ، فَسَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَاءَهُ زَجْرًا شَدِيدًا، وَضَرْبًا وَصَوْتًا لِلإِبِلِ، فَأَشَارَ بِسَوْطِهِ إِلَيْهِمْ وَقَالَ: «أَيُّهَا النَّاسُ عَلَيْكُمْ بِالسَّكِينَةِ فَإِنَّ الْبِرَّ لَيْسَ بِالإِيضَاعِ». (بخارى: ١٦٧١)

٨٣٣ - له ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روايت دئ چي دی له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره يو ځای؛ د عرفې په ورځ؛ له عرفات د مزدلفې په لور ستنېدو؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم له شا د خلکو شور- ځوږ او د اوښانو د وهلو او ځغلولو غږونه واورېدل؛ نو په خپلې متروکې ئې هغوی ته اشاره وکړه او وئې فرمايل: (اې خلکو! آرام او وقار سره ځئ؛ نيکي دا نه ده چي خپلې سورلۍ وځغلوئ).

## ٥٣ باب: د مزدلفې په شپه کمزوري کسان تر نورو وړاندي لېږل.

٨٣٤ - عَنْ أَسْمَاءَ بَنْتِ أَبِيْ بَكْرٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنهما: أَنَّهَا نَزَلَتْ لَيْلَةَ جَمْعٍ عِنْدَ الْمُزْدَلِفَةِ، فَقَامَتْ تُصَلِّي، فَصَلَّتْ سَاعَةً، ثُمَّ قَالَتْ: يَا بُنَيَّ، هَلْ غَابَ الْقَمَرُ؟ قَالَ: لا، فَصَلَّتْ سَاعَةً، ثُمَّ قَالَتْ: يَا بُنَيَّ هَلْ غَابَ الْقَمَرُ؟ قال: نَعَمْ، قَالَتْ: فَارْتَحِلُوا، فَارْتَحَلْنَا وَمَضَيْنَا، حَتَّى رَمَتِ الْجَمْرَةَ، ثُمَّ رَجَعَتْ فَصَلَّتِ الصُّبْحَ فِي مَنْزِلِهَا، فقال لَهَا: يَا هَنْتَاهُ، مَا أُرَانَا إِلَّا قَدْ غَلَّسْنَا، قَالَتْ: يَا بُنَيَّ، إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَذِنَ لِلظُّعُنِ. (بخارى: ١٦٧٩)

٨٣٤ - له اسماء بنت ابو بكر رضي الله عنهما روايت دئ چي د غونډېدو (مزدلفې) په شپه ئې په مزدلفه کي واړول، بيا لمانځه ته پاڅېده، لمونځ ئې وکړ بيا ئې وويل: زويه! سپوږمۍ لوېدلې؟ هغه ورته وويل: نه؛ نو بيا ئې د څه وخت لپاره لمونځ وکړ؛ ورپسې ئې وپوښتل: سپوږمۍ لوېدلې؟ وئې ويل: هو؛ اسماء رَضِيَ اللَّهُ عَنْها وويل: خوځېدو ته تيار شئ؛ نو تيار شوو او وخوځېدو؛ تر هغه چي (منٰی ته ولاړو او اسماء رَضِيَ اللَّهُ عَنْها) جمره (عقبه) وويشته؛ بيا راستنه شوه او د سهار لمونځ

ئې په خپل هستوګنځي کې اداء کړ، (راوي) وايي: ما ورته وويل: يا فلانۍ فکر کوم موږ په تياره کې راغلي يو! هغې راته وويل: زويه! رسول الله صلى الله عليه و سلم ښځو ته د دې اجازه ورکړې ده.

په روايت کې د مزدلفې شپې ته؛ د (لَيْلَةَ جَمْعٍ: د غونډېدو شپه) نوم ورکړى شوى؛ دا ځکه چې حاجيان دغه شپه په مزدلفه کې په ګډه او صحراء کې تېروي؛ دا هم د يادوني وړ ده چې ولې دا ځاى د مزدلفه: د نژدې کېدو ځاى؛ په نامه ياد شوى؟ يوه ډېره ظريفه او لطيفه توجيه دا ده چې دا هغه ځاى ته نژدې ده چې په سبا ئې حاجيان د دريو ځلو ځاى ته درومي؛ په لومړۍ ورځ د واړه او متوسط ځلي له خوا تېرېږي او تر ټولو ستر وروستني ځلي ته ځان رسوي او په اوو (۷) داسي وړو تيږو ئې ولي چې د کارتوس د مردکي په اندازه وي؛ دقيقاً دې ته ورته چې د مجاهدينو يو ټولى؛ د شپې په تياره کې د دښمن سنګرونو ته ځان رسوي او سبا سحر تر دې وړاندي چې دښمن خبر شي او د دفاع لپاره تيارى ونيسي بريد پرې کوي. دا درې ځلي په حقيقت کې د هغو دريو ځواکونو سمبولونه دي چې قرآن ئې د فرعون، هامان او قارون په بڼې کې انځوروي؛ هغه چې په شرك ځپلې او جهل ځپلې غير اسلامي ټولني کې پر ولسونو حکومت کوي؛ فرعون د اقتدار او واکمنۍ بېلګه، هامان د شيطاني او غولوونکي مذهبي قيادت بېلګه او قارون د ناروا شتمنيو خاوندانو بېلګه؛ قرآن وايي چې موسى عليه السلام او هر پيغمبر د همدغو درې ګونو ځواکونو د مقابلې لپاره لېږل شوى:

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَى بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُبِينٍ ﴿٢٣﴾ إِلَى فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَقَارُونَ فَقَالُوا سَاحِرٌ كَذَّابٌ ﴿٢٤﴾ غافر

او يقيناً چې موږ موسى له خپلو آيتونو او څرګندو دلائلو سره فرعون، هامان او قارون ته ولېږو؛ او هغوى وويل: دروغجن کوډګر دئ.

په دې مبارکو آيتونو کې د حق او باطل تر منځ د مبارزې څرګنده

تاریخي بېلګه وړاندي شوې؛ یوه لوري ته تش لاسی موسی علیه السلام دئ او بل لوري ته د مصر د دریو ځواکونو مشران (فرعون، هامان او قارون)، د زور، تزویر او زر خاوندان، موسی علیه السلام داسي حق دین وروړی چي په تأیید کي ئې آیتونه او څرګند دلائل وړاندي کړي.

الله تعالی موسی علیه السلام له خپلو آیتونو او څرګندو دلائلو سره فرعون، هامان او قارون ته ولېږو، د دې لپاره ئې مصر ته ولېږو چي لومړی د فرعون، بیا د هامان او په پای کي د قارون مقابله وکړي؛ یعني ده ته ئې اصلي دښمنان ورښودلي، دا وضاحت ئې ورته کړی چي په مصر کي به ستا مقابله له چا چا سره وي، خو دا ئې هم ورته ویلي چي څنګه به ئې مقابله کوې، لومړی د چا او ورپسې د چا، د ټولو خو په تدریج سره، داسي چي یوه ته به پر بل اولویت ورکوې، اصلي او لومړی دښمن فرعون دئ، لومړۍ مقابله باید له ده سره وي، داسي نه چي په نورو جبهاتو کي تر دې وړاندي مصروف شې او تر ټولو خطرناك او اصلي دښمن درنه پاته شي!! په لومړي سر کي به د فرعون مقابله کوې، بیا د هامان او ورپسې د قارون؛ ځوك چي د موسی علیه السلام په لار د تلو اراده لري نو د دغو دریو خطرناکو دښمنانو مقابلې ته به ملا تړي. هم به د ظالم فرعون، هم د ټګمار هامان او هم د شتمن قارون مقابله کوي، د تاریخ په اوږدو کي تل دغو دریو ځواکونو د پیغمبرانو علیهم السلام مقابله کړې.

په جاهلي نظام کي فرعون محور دئ او هامان او قارون ئې ښی او کیڼ لاسونه.

د حج په مناسکو کي د جمراتو ویشتل شامل دي؛ درې ځلي: ستر، متوسط او ووړ؛ ستر ئې تر نورو شا ته؛ په لومړۍ ورځ د ستر ویشتل؛ له دوو؛ واړه او متوسط تېرېدل او په دوهمه او درېیمه ورځ ټول یو په بل پسي ویشتل؛ په اوو تیږو؛ د اوئ د ورځو برابر؛ یعني هره ورځ ئې ویشتل؛ حج تا ته همدا درس درکوي. جمرة الکبری په لومړۍ ورځ؛

یوازي او د احرام په لباس کې ویشتل کېږي، په نورو ورځو کې درې واړه او له احرام وتلي لباس کې یو په بل پسې ویشتل کېږي.

په حج کې څو ځایونو ته تګ لرو؛ هر ځای په خاص نامه یاد شوی او یو مهم مطلب افاده کوي: کعبه او طواف ئې؛ کعبه چې د بیت الحرام په نامه یاده شوې؛ په زمکې کې د خدای د محترم او قدرمن کور لپاره تمثال او سمبول؛ خدای له دې مستغني او ډېر لوړ دئ چې مکان ته اړ وي او د زمکې یو وړوکي کور ئې هستوګنځی وي؛ موږ دې ته اړ یو چې کله غواړو د الله تعالی لوري ته لاړ شو، د هغه په درشل کې د ودرېدو هیله او تلوسه مو تر سره او خړوبه شي؛ یو ځای او لوری ولرو، زموږ دې اړتیا او تلوسې ته د ځواب لپاره؛ اسلام موږ ته د کور په خوا کې جومات ټاکلی، جومات د خدای کور دئ او په ګډه د خدای په وړاندې زموږ د غونډېدو او ودرېدو ځای؛ په دې کور کې هره ورځ پنځه ځلې د خدای په وړاندې لاس تړلي ودرېږو، په وړاندې ئې رکوع او سجده کوو؛ د نړۍ په کچه ئې موږ ته یو ستر او سپېڅلی کور له ستر حریم سره ټاکلی، په عمر کې یو ځل به د توان او امکان په صورت کې د بیت الله حریم کې راغونډېږو او د دغه کور طواف به کوو؛ اوه ځلې؛ د اونۍ د ورځو له شمېر سره برابر؛ یعني چې دا د حج د مناسکو په ضمن کې اوه ځلې دئ خو په حقیقت کې زموږ د ټول عمر د ټولو ورځو لپاره یوه اشاره؛ موږ ته راښیي چې طواف به مو یوازې د الله تعالی د کور طواف وي؛ نه د بل کور؛ او نه د قصرونو او قبرونو طواف؛ د خدای دې کور ته د بیت العتیق نوم ورکړی شوی؛ یعني د آزادۍ کور؛ هغه چې انسان د انسان له بندګۍ او غلامۍ ژغوري؛ کله چې د دې کور حریم ته ننوځو؛ نو د تلبیې له شعار او شعور سره به ننوځو: لبیك اللهم لبیك، لبیك لا شریك لك لبیك، ان الحمد و النعمة لك والملك لا شریك لك؛ همدا به مکرر وایو؛ له خاصې جامې سره به ننوځو؛ داسې جامه چې هر ډول تبعیض او توپیر له منځه وړي؛ فقط یو څادر او یو لونګ؛ دا جامه به

نه معطره وي او نه رنګ شوې او ګنډل شوې، د پاچا او ګدا، غني او فقیر او د ټولو جامه سره ورته؛ کله چې د بیت الله خوا ته رسېږو نو لومړی کار به طواف وي؛ دا اوه ځلي طواف به له حجر الاسود پیلوو؛ په حجر الاسود لاس ایښودل داسي دي لکه الله تعالی ته لاس ورکول؛ نو همدا به مو له خپل رب سره د اطاعت او بندګۍ ژمنه، تعهد او بیعت وي، ښکولول ئې داسي دي لکه د الله تعالی لاس ښکولول؛ دا فقط زموږ یوې تلوسې ته ځواب ویل دي؛ الله تعالی همغسي چې کور او مکان ته ضرورت نه لري؛ له دې هم لوړ دئ چې په خپل ذات او صفاتو کې کوم مخلوق ته ورته وي او اعضاء او جوارح ولري؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم د بیت الله له طواف وروسته په مقام ابراهیم کې دوه رکعته لمونځ کړی، مقام ابراهیم یعني د ابراهیم علیه السلام د ودرېدو ځای، په قرآن کې د مقام ابراهیم یادونه شوې خو د دې لپاره چې ثابته کړي کعبه لومړنی کور دئ چې په زمکه کې، د الله تعالی په حکم او د ابراهیم او اسمعیل علیهما السلام په لاس جوړ شوی؛ په مکه کې د بنو اسمعیل (د اسمعیل علیه السلام اولاد) شتون ښیي چې دا کور د بنو اسمعیلو د جد او د یهودانو د ټولو پیغمبرانو جد؛ په لاس جوړ شوی؛ د دې مهمي ادعاء د اثبات لپاره د مخکیني مضبوط دلیل تر څنګ؛ قرآن درې نور دلائل هم وړاندي کړي: ۱- د ابراهیم علیه السلام له زمانې بیا تر ننه؛ په تېرو نژدې څلوېښتو پېړیو کې؛ خلکو د الله تعالی له لوري د حج د یوې فریضې په توګه د دې کور طواف کړی، ۲- ټولو عربو قبائلو د دې کور دومره درناوی کړی چې څوك به د دې کور حریم ته داخل شو؛ نو تر وتلو پوري به له هر راز تېري خوندي وو؛ که چا به د خپل پلار او ورور قاتل هم دلته موندو نو د دې کور د درناوي لپاره به ئې هغه ته له څه ویلو ډډه کوله؛ که چا به د حج او عمرې لپاره د دې کور لوري ته سفر کولو نو د سفر په دوران کې به د حجاز په ټولې پراخې سیمې کې له هر ډول تعرض او شوکو خوندي وو؛ ۳- چا چې د دې کور د ورانولو

او سپکاوي هڅه کړي؛ الله تعالی د هغه هڅه شنډه کړې؛ همغسي لکه چي د ابرهه هڅه ئې شنډه کړه. د بيت الله له طواف وروسته د صفا او مروه تر منځ اوه ځلي سعي کوو، صفا او مروه دوه غونډۍ دي چي هاجر عليها السلام د هغوی تر منځ په منډه او آرام تګ کړی وو؛ په دې موخه چي کوم مرستندوی ومومي او زوی ئې اسمعيل عليه السلام او دا په خپله له تندي وږغوري؛ په اوم طواف کي د اسمعيل تر پښو لاندي د زمزم هغه چينه راوخوټېده چي دا ده تر ۴۰۰۰ کاله زيات موده تېرېږي چي له هغې اوبه راخوټېږي؛ او دا ځکه چي کله ابراهيم عليه السلام هاجر له خپل تي خور ماشوم سره په هغي وحشتناکي بيديا کي يوازي پرېښوده؛ هغه ته ئې وويل: موږ چا ته پرېږدې؟ هغه ورته وويل: الله تعالی ته؛ او دې په ځواب کي ورته وويل: الله تعالی راته کافي دئ؛ هغه به مو نه ضائع کوي؛ د دې توکل، اعتماد او پر خپل رب باور او هغه ځان ته کافي ګڼلو بدله دا وه چي الله تعالی د دې سعي د حج په مناسکو کي شامله کړه؛ داسي چي تر قيامته به حاجيان د خدای د کور له طواف وروسته؛ او متصل ئې؛ د دې مخلص بنده؛ سعي تکراروي؛ د دې په څېر به د دغو دواړو غونډيو تر منځ؛ کټ مټ همغسي سعي کوې چي دې کړې وه؛ اوه ځلي سعي؛ ښايي هاجر عليها السلام به تر دې لږ يا ډېره سعي کړې وي؛ خو ستا سعي به اوه ځلي؛ د اونۍ د ورځو په شمېر وي؛ يعني هره ورځ او تل به د هغې په څېر پر الله تعالی توکل کوې او خپل رب به ځان ته کافي ګڼې. حاجيان له عرفات وړاندي په منٰی کي توقف کوي؛ منٰی چي د ځينو محققينو له نظره ئې رېښه إيمان دئ؛ يعني د ايمان ټاټوبی؛ عرفات چي رېښه ئې معرفت دئ؛ د حج لومړی منسك؛ علم او معرفت د ايمان پيل دئ او ايمان ئې پايله؛ دا علم او معرفت دئ چي په ايمان منتج کېږي؛ مزدلفه چي د نژدې کېدو ځای دئ؛ قرآن د المشعر الحرام په نامه ياد کړی؛ يعني د محترم او د قدر وړ شعور او فکر ځای او وخت؛ رجمات: هغه چي ويشتل کېږي او بايد

وویشتل شي؛ هغه ځای چې درې ځلې رجم کېږي؛ او مزدلفه همدې محل ته نژدې ځای؛ د شپې له لوري دې ځای ته رسېدل؛ یعني د شپې له لوري او پرته له دې چې دښمن خبر شي هغه ته د سبا برید لپاره نژدې ځان رسول او سهار ئې تر برید لاندې نیول؛ په برید کې هم دا په پام کې نیول چې تر ټولو ستر دښمن؛ هغه چې د دوه نورو دښمنانو شا ته وي؛ پر هغه تر نورو وړاندې برید کول؛ په اوو تیږو ئې ویشتل؛ ولې اوه تیږي؛ ولې نه تر دې کم او نه زیات؛ د اونۍ د ورځو د شمېر په اندازه؛ یعني چې هره ورځ به ئې ولې؛ په خپل ټول ژوند کې او تر هغه چې په منٰی (د ایمان سنگر) کې یې؛ هره ورځ به ئې رجم کوې؛ یعني د خپل برید لاندې به ئې نیسې؛ که دا په لاس وي او که په ژبه؛ شیطان د الله تعالی له لوري رجم شوی؛ دا د انسي شیطانانو ځلې به ته رجم کوې؛ د قرباني څاروي ذبح کول؛ په هغه ځای کې چې ابراهیم علیه السلام د یوه خوب له مخې؛ د خپل زلمي زوی قرباني کولو ته چمتو شوی وو؛ او قرباني ته چمتو زلمی زوی ئې دې ته تیار وو او د ذبح کېدو لپاره ئې سر پر زمکه ایښی وو؛ خو الله تعالی د هغه په بدل کې د پسه ذبح کول او په خپله او مسکینانو ئې خوړل؛ کافي وگڼل او په دې سره ئې د جاهلیت هغه دود د تل لپاره لغوه کړ چې مشر زوی به د خدای په نامه خو د جهل او شرك له کبله د بتانو پښو ته او د خدای په نامه ذبح کېدل؛ همدلته د ابراهیم علیه السلام هغه خاطره او د الله تعالی هغه پېرزوینه رایادول چې د زامنو د ذبح کولو جاهلانه دود ئې د څاروي په ذبح کولو بدل کړ؛ هغه هم الله تعالی ته هدیه او ستا او مسکین بنده د خوراك لپاره.

۸۳۵ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللَّهُ عَنْها قَالَتْ: نَزَلْنَا الْمُزْدَلِفَةَ، فَاسْتَأْذَنَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَوْدَةُ أَنْ تَدْفَعَ قَبْلَ حَطْمَةِ النَّاسِ، وَكَانَتِ امْرَأَةً بَطِيئَةً، فَأَذِنَ لَهَا، فَدَفَعَتْ قَبْلَ حَطْمَةِ النَّاسِ، وَأَقَمْنَا حَتَّى أَصْبَحْنَا نَحْنُ، ثُمَّ دَفَعْنَا بِدَفْعِهِ، فَلأَنْ أَكُونَ

اسْتَأْذَنْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا اسْتَأْذَنَتْ سَوْدَةُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ مَفْرُوحٍ بِهِ. (بخاری: ١٦٨١)

٨٣٥ - له عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْها روایت دئ چي وایي: په مزدلفه کي مو واړول، هلته سوده رضي الله عنها چي په تگ کي سوکه مېرمن وه؛ له رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې اجازه وغوښتله چي د خلکو تر ازدحام وړاندي منٰی ته ولاړه شي؛ نو اجازه ئې ورکړه؛ او هغه د خلکو له ازدحام مخکي ولاړه؛ او موږ تر سهار هملته پاته شوو؛ بیا له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره یو ځای روان شوو؛ که ما هم له رسول الله صلى الله عليه و سلم د سوده رضي الله عنها په څېر د مخکي تگ اجازه غوښتې وی؛ دا د هغه کار په څېر راته غوره برېښي چي انسان پرې خوشحاله کېږي.

## ٥٤ باب: په مزدلفه کي د سهار لمونځ

٨٣٦ - عَنْ عَبْدِاللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ قَدِمَ جَمْعًا فَصَلَّى الصَّلاتَيْنِ، كُلَّ صَلاةٍ وَحْدَهَا بِأَذَانٍ وَإِقَامَةٍ، وَالْعَشَاءُ بَيْنَهُمَا، ثُمَّ صَلَّى الْفَجْرَ حِينَ طَلَعَ الْفَجْرُ، قَائِلٌ يَقُولُ: طَلَعَ الْفَجْرُ، وَقَائِلٌ يَقُولُ: لَمْ يَطْلُعِ الْفَجْرُ، ثُمَّ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ هَاتَيْنِ الصَّلاتَيْنِ حُوِّلَتَا عَنْ وَقْتِهِمَا فِي هَذَا الْمَكَانِ، الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ، فَلا يَقْدَمُ النَّاسُ جَمْعًا حَتَّى يُعْتِمُوا، وَصَلاةَ الْفَجْرِ هَذِهِ السَّاعَةَ»، ثُمَّ وَقَفَ حَتَّى أَسْفَرَ، ثُمَّ قَالَ: لَوْ أَنَّ أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ أَفَاضَ الآنَ أَصَابَ السُّنَّةَ. فَمَا أَدْرِي أَقَوْلُهُ كَانَ أَسْرَعَ أَمْ دَفْعُ عُثْمَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، فَلَمْ يَزَلْ يُلَبِّي حَتَّى رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ يَوْمَ النَّحْرِ. (بخاری: ١٦٨٣)

٨٣٦ -له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روایت دئ چي هغه مزدلفې ته ورسېد؛ او دوه لمونځونه (ماښام او ماخستن) ئې وکړل؛ هر لمونځ بېل او په ځانگړي اذان او اقامت سره؛ ماښامنی خواړه ئې تر منځ؛ بیا ئې

هغه مهال د ګهیځ لمونځ وکړ چي سباوون ځرګند شوی وو؛ یوه ویونکي وویل چي سباوون ځرګند شوی وو؛ او بل وویل: لا سباوون نه وو راختلی؛ بیا ئې وویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: دا دواړه لمونځونه؛ ماښام او ماختن؛ په دې مکان کي له خپل ټاکلي وخت بدلون مومي؛ (ماښام د ماختن تر وخت ځنډول کېږي)؛ خلک تر هغه مزدلفې ته نه رارسي چي (ماختن) تیاره شوی نه وي؛ او بیا د سهار لمونځ په خپل دغه وخت کي وي؛ بیا (عبدالله بن مسعود رضي الله عنه) تر هغه تم شو چي ښه رڼا شوه؛ بیا ئې وویل: که امیر المؤمنین (عثمان رضي الله عنه) همدا اوس ووځي نو د سنتو متابعت به ئې کړی وي، راوي (عبدالرحمن بن یزید) وایي: نه پوهېږم چي د عبدالله رضي الله عنه وینا لومړی وه که (له مزدلفې) د عثمان رضي الله عنه خوځېدل؛ عبدالله بن مسعود رضي الله عنه تر هغه تلبیه ویله چي د قربانۍ په ورځ ئې شاتنۍ جمره په تیږو وویشتله.

## ۵۵ باب: له مزدلفې د حرکت وخت

**٨٣٧ - عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ صَلَّى بِجَمْعٍ الصُّبْحَ، ثُمَّ وَقَفَ فَقَالَ: إِنَّ الْمُشْرِكِينَ كَانُوا لا يُفِيضُونَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، وَيَقُولُونَ: أَشْرِقْ ثَبِيرُ، وَأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالَفَهُمْ، ثُمَّ أَفَاضَ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ. (بخاری: ١٦٨٤)**

٨٣٧ – له عمر رضي الله عنه روایت دئ چي ده د سهار لمونځ په مزدلفه کي وکړ؛ بیا ودرېد او وئې ویل: مشرکین به تر هغه (له مزدلفې) نه وتل چي لمر به نه وو راختلی؛ او ویل به ئې: ثبیره! لمر دي ښه دربانديي راوځېږي؛ (ثبیر په مزدلفه کي لوی غر دئ؛ مشرکین به تر هغه نه خوځېدل چي لمر به په (ثبیر) باندي نه وو ځرګند شوی)؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم د دوی خلاف له لمر ختلو وړاندي د منٰی په لور روان شو.

## ۵۶ باب: د قربانۍ پر اوښ سپرېدل

۸۳۸ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلاً يَسُوقُ بَدَنَةً، فَقَالَ: «ارْكَبْهَا». فَقَالَ: إِنَّهَا بَدَنَةٌ، فَقَالَ: «ارْكَبْهَا». قَالَ: إِنَّهَا بَدَنَةٌ، قَالَ: «ارْكَبْهَا وَيْلَكَ». فِي الثَّالِثَةِ أَوْ فِي الثَّانِيَةِ. (بخاری: ۱۶۸۹)

۸۳۸ – له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ: رسول الله صلى الله عليه و سلم يو سړی وليد چي د قربانۍ اوښ ئې ورسره روان کړی؛ وئې فرمايل: (پرې سپور شه)؛ هغه وويل: دا د قربانۍ اوښ دئ! وئې فرمايل: (ورباندي سپور شه)؛ هغه وويل: دا د قربانۍ اوښ دئ! وئې فرمايل: (افسوس پر تا؛ پرې سپور شه)؛ او دغه خبره ئې په دوهم يا درېيم ځل وکړه.

## ۵۷ باب: څوک چي د حج لپاره هدي له ځان سره بوځي

۸۳۹ - عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما قَالَ: تَمَتَّعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ، وَأَهْدَى، فَسَاقَ مَعَهُ الْهَدْىَ مِنْ ذِى الْحُلَيْفَةِ، وَبَدَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَهَلَّ بِالْعُمْرَةِ، ثُمَّ أَهَلَّ بِالْحَجِّ، فَتَمَتَّعَ النَّاسُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ، فَكَانَ مِنَ النَّاسِ مَنْ أَهْدَى فَسَاقَ الْهَدْىَ، وَمِنْهُمْ مَنْ لَمْ يُهْدِ، فَلَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ، قَالَ لِلنَّاسِ: «مَنْ كَانَ مِنْكُمْ أَهْدَى فَإِنَّهُ لا يَحِلُّ لِشَيْءٍ حَرُمَ مِنْهُ حَتَّى يَقْضِيَ حَجَّهُ، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ مِنْكُمْ أَهْدَى، فَلْيَطُفْ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، وَلْيُقَصِّرْ وَلْيَحْلِلْ، ثُمَّ لِيُهِلَّ بِالْحَجِّ، فَمَنْ لَمْ يَجِدْ هَدْيًا فَلْيَصُمْ ثَلاثَةَ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةً إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ». (بخاری: ۱۶۹۱)

۸۳۹ – له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: په حجة الوداع کي رسول الله صلى الله عليه و سلم تر حج وړاندي له عمرې برخه من شو؛ (عمره او حج ئې يو ځای او يوه احرام سره اداء کړل)؛ له ذي الحليفه

ئې هدي (د قربانۍ څاروی) له ځان سره روان کړ، رسول الله صلی الله علیه و سلم لومړی د عمرې بیا د حج نیت وکړ، خلك هم له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره تر حج وړاندي له عمرې متمتع شول؛ له خلکو ځیني داسي وو چي د قربانۍ نیت ئې کړی وو او څاروي ئې له ځان سره روان کړي وو او ځینو د قربانۍ نیت نه وو کړی؛ نو کله چي رسول الله صلی الله علیه و سلم مکې ته ورسېد؛ خلکو ته ئې وفرمایل: (له تاسو چي څوک هدي له ځان سره لري؛ نو دوی دي تر هغه چي خپل حج پای ته ورسوي؛ هیڅ داسي څه ځان ته حلال نه ګڼي چي ترې منع شوي؛ خو هغه چي هدي نه لري؛ هغوی دي د بیت الله طواف او د صفا او مروه تر منځ سعي وکړي، د سر وېښتان دي لنډ کړي او له احرام دي ووځي؛ بیا دي د حج نیت وکړي؛ او که څوك هدي نه مومي (وس ئې نه لري)؛ نو درې ورځي (د ذي الحجې ۷، ۸، ۹) روژه دي د حج په دوران کې ونیسي او اوه ورځي کله چي خپلې کورنۍ ته ستون شي)

## ۵۸ باب: په ذي الحلیفه کي د قربانۍ د اوښ په نښه کول او ورپسې احرام تړل

۸۴۰ - عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ وَمَرْوَانَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالا: خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَمَنَ الْحُدَيْبِيَةِ مِنَ الْمَدِينَةِ فِي بِضْعَ عَشْرَةَ مِائَةً مِنْ أَصْحَابِهِ، حَتَّى إِذَا كَانُوا بِذِى الْحُلَيْفَةِ، قَلَّدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْهَدْىَ وَأَشْعَرَهُ، وَأَحْرَمَ بِالْعُمْرَةِ. (بخاری: ۱٦۹٤، ۱٦۹٥ )

۸۴۰- له مِسْوَر بن مَخْرَمَه او مروان رضي الله عنهما روایت دئ چي وایي: رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حدیبیې صلحې په موده کې؛ له څو سوه خپلو یارانو سره له مدینې ووت؛ تر هغه چي ذي الحلیفه ته ورسېدل، هلته رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هدي ته غاړکۍ واچوله او په نښه ئې کړ او د عمرې لپاره ئې احرام وتړلو.

## ۵۹ باب: د قربانۍ اوښانو ته په خپل لاس د غاړکيو اچول

٨٤١ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْها: أَنَّهَا بَلَغَهَا: أَنَّ عَبْدَاللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: مَنْ أَهْدَى هَدْيًا، حَرُمَ عَلَيْهِ مَا يَحْرُمُ عَلَى الْحَاجِّ، حَتَّى يُنْحَرَ هَدْيُهُ، فَقَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْها: لَيْسَ كَمَا قَالَ، أَنَا فَتَلْتُ قَلَائِدَ هَدْيِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدَيَّ، ثُمَّ قَلَّدَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدَيْهِ، ثُمَّ بَعَثَ بِهَا مَعَ أَبِي، فَلَمْ يَحْرُمْ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْءٌ أَحَلَّهُ اللَّهُ لَهُ حَتَّى نُحِرَ الْهَدْيُ . (بخارى: ١٧٠٠)

٨٤١ – له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي دې ته دا خبره ورسېده چي عبدالله بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما ويلي: چا چي هدي لبږلې وي؛ پر هغه د هدي تر ذبح کېدو پورې ټول هغه شيان حرام دي چي د حاجي لپاره حرام شوي دي؛ نو عائشې رضي الله عنها وويل: داسي نه ده لکه چي هغه ويلي؛ ما په خپل لاس د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قربانۍ څارويو ته غاړکۍ واوبدلې، بيا رسول الله صلی الله عليه و سلم همغه غاړکۍ په خپل لاس د اوښانو په غاړو کي واچولې؛ بيا ئې زما له پلار سره واستول او د حج د قربانۍ د څاروي تر حلالېدو پورې پر رسول الله صلی الله عليه و سلم د الله تعالی له خوا له حلال شويو شيانو هيڅ شی هم حرام نه شو.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ٢ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٧٠٠ - ٢٣١٧

توپير: يو توپير ئې په راويانو کي دئ؛ د يوه وروستی راوي عَبْدُ اللَّهِ بْن يُوسُفَ دئ او د بل إِسْمَاعِيل بْن عَبْدِ اللَّهِ، بل توپير ئې دا دئ چي په يوه کي ويل شوي: زِيَادَ بْنَ أَبِي سُفْيَانَ كَتَبَ إِلَى عَائِشَةَ او په بل کي دا مطلب نه دئ راغلی.

د ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما په دې روايت کي ابهام دئ؛ له الفاظو

ئې داسي نه معلومېږي چي دا هدي د داسي چا له لوري لېږل کېږي چي فقط هدي لېږي؛ پرته له دې چي د حج یا عمرې نیت او اراده ئې کړې وي؛ په روايت کي به دا مطالب مقدر نيسو (په داسي حال کي چي د حج نیت ئې نه وي کړی)؛ د ده د روايت بشپړه بڼه دا ده:

(إِن من بعث بهديه إِلَى مَكَّة وَأَقَام هُوَ، فَإِنَّهُ يلْزمه أَن يجْتَنب مَا يجتنبه الْمحرم حَتَّى ينْحَر هَدْيه)

څوك چي مکې ته په داسي حال کي هدي ولېږي چي په خپله (د حج یا عمرې) په سفر نه وځي؛ نو پرې لازمه ده له هر هغه څه اجتناب وکړي چي محرم ترې اجتناب کوي؛ تر هغه چي هدي ئې ذبح شي.

خو نورو د دې رأی خلاف د عائشې رضي الله عنها وينا تأييد کړې او ويلي ئې دي:

لَا يجب على من بعث بِهَدى أَن يتجرد عَن ثِيَابه وَلَا يتْرك شَيْء مِمَّا يتْركهُ الْمحرم إِلاَّ بِدُخُولِهِ فِي الْإِحْرَام، إِمَّا بِحَجّ وَإِمَّا بِعُمْرَة:

پر هغه چا چي هدي ئې (له بل چا سره) لېږلې وي؛ نه د جامو ايستل (بدلول) پرې لازمېږي او نه دا چي هغه څه به ترك کوي چي محرم ئې ترك کوي؛ مګر دا چي د حج یا عمرې لپاره احرام وتړي.

ښايي عبد الله بْن عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما د بقرې سورې د ۱۹٦ آيت له دې فقرې (... فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ وَلا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ ....) داسي انګېرلې وي چي هر هدي لېږونکی؛ که د حج او عمرې اراده ئې کړې خو له خنډ او مانع سره مخامخ شوی؛ او هدي پرې لازمه شوې او تر هغه به له احرام نه وځي چي هدي ئې خپل محل ته نه وي رسېدلې؛ او که له حج او عمرې پرته له بل سره هدي لېږي؛ دا به هم تر هغه له محظوراتو ډډه کوي چي هدي ئې خپل محل ته ورسېږي؛ خو عائشې رضي الله عنها د هغه دا انګېرنه او قياس تصحيح کړی او ويلي ئې دي: رسول الله صلى الله عليه و سلم زما د پلار

په لاس په داسي حال کي هدي ولېږله چي په مدينه کي پاته وو او د حج لپاره نه وو تللی؛ خو هغه د محظوراتو په مراعات ځان مکلف نه دئ ګڼلی؛ د څاروي تر حلالېدو پورې؛ پر رسول الله صلی الله عليه و سلم د الله تعالی له خوا له حلال شويو شيانو هيڅ شی هم نه وو حرام شوی!!

٦٠ باب: پسونو ته غاړکۍ اچول

٨٤٢ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنها قَالَتْ: أَهْدَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّةً غَنَمًا. وَفِي رِوَايَةٍ: أَنَّهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَلَّدَ الْغَنَمَ وَيُقِيمُ فِي أَهْلِهِ حَلالاً عِنْدِي. (بخاری: ١٧٠١_ ١٧٠٢)

٨٤٢ — له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وئې ويل: يو ځل رسول الله صلی الله عليه و سلم يو پسه د حج د قربانۍ لپاره ولېږو؛ او په بل روايت کي راغلي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د قربانۍ پسه ته غاړکۍ واچوله او پخپله له احرام آزاد له خپلې کورنۍ سره پاته شو.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ٢ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٧٠١-١٧٠٢-

توپير: په يوه کي قَلَّدَ الْغَنَمَ په بل کي كُنْتُ أَفْتِلُ الْقَلاَئِدَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَيُقَلِّدُ الغَنَمَ په يوه کي فِي أَهْلِهِ حَلالاً عِنْدِي په بل کي وَيُقِيمُ فِي أَهْلِهِ حَلاَلًا راغلي.

له رواياتو په واضح توګه معلومېږي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم تر احرام وړاندي او هغه مهال چي لا ئې احرام نه دئ تړلی او په مدينه کي له خپلې کورنۍ سره پاته وو؛ له ابو بکر رضي الله عنه سره ئې هدي لېږلې؛ په کار وه چي په مخکيني (١٧٠٠) روايت کي دا وضاحت شوی وی؛ له دې پرته هغه روايت د بخاري هر لوستونکی په شك کي اچوي.

## ٦١ باب: غاړکۍ د وړیو وي

۸٤٣ - وَفِيْ رِوَايَةٍ عَنْهَا قَالَتْ: فَتَلْتُ قَلاَئِدَهَا مِنْ عِهْنٍ كَانَ عِنْدِي . (بخاری: ۱۷۰۵)

٨٤٣ – او له دې (عائشه رضي الله عنها) په بل روایت کي راغلي چي وئې ویل: د هغوی غاړکۍ مي له هغو وړیو واوبدلې چي راسره وې.

له باب داسي معلومېږي چي غاړه کۍ باید له وړیو جوړي شي خو له روایت داسي نه معلومېږي؛ عائشې رضي الله عنها فقط دا ویلي چي له هغو وړیو مي جوړي کړې چي راسره وې.

## ٦٢ باب: د اوښانو ځل په خیرات کي ورکول

۸٤٤ - عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: أَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَتَصَدَّقَ بِجِلالِ الْبُدْنِ الَّتِي نَحَرْتُ وَبِجُلُودِهَا. (بخاری: ۱۷۰۷)

٨٤٤ - له علي رضي الله عنه روایت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم امر راته وکړ چي د قربانۍ د حلال شویو اوښانو ځلونه او پوستکي صدقه کړم.

تکرار: دا روایت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۷۰۷-۲۲۹۹

توپیر: په یوه کي أَنْ أَتَصَدَّقَ بِجِلالِ الْبُدْنِ الَّتي نَحَرْتُ وَبِجُلُودِهَا په بل کي أَنْ أَتَصَدَّقَ بِجِلاَلِ البُدْنِ الَّتِي نُحِرَتْ، وَبِجُلُودِهَا؛ یعني په یوه کي ویل شوي چي ما ذبح کړ او په بل کي ذبح کوونکی معلوم نه دئ.

## ٦٣ باب: د خپلو مېرمنو لپاره د هغوی له اجازې پرته غوایان قرباني کول

۸٤٥ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْها تَقُولُ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِخَمْسٍ بَقِينَ مِنْ ذِي الْقَعْدَةِ، تَقَدَّمَ وَفِيْ هذِهِ الرِّوَايَةِ زِيَادَةٌ: فَدُخِلَ عَلَيْنَا يَوْمَ النَّحْرِ بِلَحْمِ بَقَرٍ، فَقُلْتُ: مَا هَذَا ؟ قَالَ: نَحَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَزْوَاجِهِ.

(بخاری: ۱۷۰۷)

۸٤٥ – له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وئې ويل: له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره په داسي حال کي روان شوو چي د ذي القعدې پنځه ورځي پاته وې؛ دا حديث مخکي تېر شوی؛ په اوسني کي دا زياتونه ده: د لوی عيد په ورځ د غوايي غوښه راته راوړل شوه؛ ما وويل: دا څه دي؟ راوړونکي وويل: رسول الله صلی الله عليه و سلم د خپلو مېرمنو لپاره قرباني کړې ده.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ۳ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۷۰۹ - ۱۷۲۰ - ۲۹۵۲ -

توپير: په يوه کي فَلَمَّا دَنَوْنَا مِنْ مَكَّةَ په بل کي حَتَّى إِذَا دَنَوْنَا مِنْ مَكَّةَ؛ په يوه کي مَنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ هَدْيٌ إِذَا طَافَ وَسَعَى بَيْنَ الصَّفَا وَالمَرْوَةِ أَنْ يَحِلَّ په بل کي مَنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ هَدْيٌ، إِذَا طَافَ بِالْبَيْتِ، ثُمَّ يَحِلُّ؛ د صفا او مروې تر منځ د سعي له راوړلو پرته؛ نه پوهېږو چي بخاري دا ناقص روايت ولي راوړی؛ که څوك له بشپړ روايت خبر نه وي او په لومړي عمل کولو ټينګار وکړي؛ نتيجه به ئې اختلاف رامنځته کېدا وي؛ داسي ناقص روايت راوړل د ګټي پر ځای تاوان کوي؛ که احياناً راوړل لابدي وي نو محدث بايد دا وضاحت وکړي چي کوم يو ئې ناقص دئ او د نقص مورد په ګوته کړي؛ دلته په روايت کي له طواف وروسته او متصل له احرام وتل راغلي؛ پرته له دې چي د صفا او مروه تر منځ د سعي يادونه وشي؛ او دا صحيح نه دئ؛ حاجي به له سعي وروسته له احرام وځي نه تر دې وړاندي.

که څه هم د دغو دريو رواياتو په پای کي دا فقره (قَالَ يَحْيَى: فَذَكَرْتُ هَذَا الحَدِيثَ لِلْقَاسِمِ، فَقَالَ: أَتَتْكَ بِالحَدِيثِ عَلَى وَجْهِهِ: يحيى وويل: دا حديث مي قاسم ته ياد کړ؛ هغه وويل: په سمه توګه ئې حديث درته راوړی)؛ خو ۱۷۲۰ روايت ځکه ناقص دئ چي د صفا او مروه تر منځ د سعي يادونه په کي نه ده شوې.

٦٤ باب: د رسول صلی الله علیه و سلم د قربانۍ په ځای کې قرباني

٨٤٦ - عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ رضی الله عنهما: أَنَّهُ كَانَ يَنْحَرُ فِي الْمَنْحَرِ. قَالَ عُبَيْدُاللَّهِ يعني: مَنْحَرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (بخاری: ۱۷۱۰)

٨٤٦ – له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چې هغه به د قربانۍ په ځای کې قرباني کوله؛ (د روایت راوي) عبیدالله وایي: یعني د رسول الله صلی الله علیه و سلم منحر (د قربانۍځای) کې.

٦٥ باب: د تړل شوي اوښ حلالول

٨٤٧ - وَعَنْهُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ رَأَى رَجُلاً قَدْ أَنَاخَ بَدَنَتَهُ يَنْحَرُهَا، قَالَ: ابْعَثْهَا قِيَامًا مُقَيَّدَةً سُنَّةَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (بخاری: ۱۷۱۳)

٨٤٧ – او له همده (ابن عمر) رضي الله عنهما روایت دئ چې یو سړی ئې ولید چې د قربانۍ خپل اوښ په داسي حال کې حلالوي چې چو کړی ئې دئ؛ ابن عمر رضي الله عنهما وویل: تړل شوی ولاړ ئې ودروه؛ (بیا ئې حلال کړه)؛ همدا د رسول الله صلی الله علیه و سلم سنت دئ.

د اوښ ذبح کولو سنت دا دئ چې یوه مخکینۍ کیڼه پښه ئې له ورون سره په پړي وتړل شي؛ په دریو پښو ولاړ پرېښودی شي، بیا ئې د غاړي ببخ (حلقوم) کې په زور سره تېزه چاړه ووهل شي، چې په دې سره د ویني بهېدا پیل کېږي، د زیاتي ویني په وتلو سره هغه په اړخ څملي، له هغه وروسته چې سا ئې وخېژي او خوځېدا ئې بنده شي؛ ټوټې ټوټې کېدی شي.

٦٦ باب: قصاب ته دي له قربانۍ څه نه ورکول کېږي

٨٤٨ - عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: أَمَرَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَقُومَ عَلَى الْبُدْنِ، وَلا أُعْطِيَ عَلَيْهَا شَيْئًا فِي جِزَارَتِهَا. (بخاری: ۱۷۱٦)

٨٤٨ – له علي رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله

عليه و سلم امر راته وکړ چې د قربانۍ اوښانو ذبح کولو نظارت وکړم؛ او هيڅ څه ئې په اجورې کې ورنه کړم.

په دې روايت کې د هغو سلو اوښانو قرباني کولو ته اشاره شوې چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په حجه الوداع کې قرباني کړي وو؛ ٦٣ ئې په خپل لاس ذبح کړي او د پاته نورو په ذبح کولو ئې علي رضي الله عنه گمارلی او هغه ته ئې ويلي: د دغو اوښانو هيڅ څه؛ د څل او پوستکي په شمول قصاب ته د اجورې په توگه ورنه کړي؛ بلکې ټول صدقه کړي.

## ٦٧ باب: د قربانۍ له غوښې څومره وخوړل شي او څومره صدقه شي؟

٨٤٩ - عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: كُنَّا لا نَأْكُلُ مِنْ لُحُومِ بُدْنِنَا فَوْقَ ثَلاثِ مِنًى فَرَخَّصَ لَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «كُلُوا وَتَزَوَّدُوا» فَأَكَلْنَا وَتَزَوَّدْنَا. (بخاری: ۱۷۱۹)

۸۴۹ – له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: په پيل کې به مو د حج د قربانۍ له غوښې د منٰی له دريو ورځو (د ذي الحجی ۱۰، ۱۱، ۱۲)؛ وروسته څه نه خوړل؛ بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم اجازه راکړه او وئې فرمايل: (وخورئ او توښه ئې کړئ؛ يعنی درسره وئې ساتئ). نو موږ هم وخوړه او هم مو له ځان سره وساتله.

## ٦٨ باب: له احرام د آزادېدو په مهال د سر وېښتانو خرييل يا لنډول

٨٥٠ - عن ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قال: حَلَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّتِهِ. (بخاری: ۱۷۲۶)

۸۵۰ – له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپل حج کې سر وخرييو.

٨٥١ - وعنه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اللَّهُمَّ ارْحَمِ

الْمُحَلِّقِينَ» قَالُوا: وَالْمُقَصِّرِينَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: «اللَّهُمَّ ارْحَمِ الْمُحَلِّقِينَ» قَالُوا: وَالْمُقَصِّرِينَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: «وَالْمُقَصِّرِينَ». (بخارى: ۱۷۲۷)

۸۵۱ – او له همده (ابن عمر رضي الله عنهما) روايت دئ چي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (خدايه! پر سر خرېيونكو رحم وكړه)؛ يارانو ئې وويل: يا رسول الله صلى الله! او پر هغو هم چي وېښتان ئې لنډ كړي؛ وئې فرمايل: (خدايه! پر سر خرېيونكو رحم وكړه)؛ يارانو ئې بيا وويل: يا رسول الله صلى الله! او پر هغو هم چي وېښتان ئې لنډ كړي؛ وئې فرمايل: (او په لنډوونكو هم).

۸۵۲ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُحَلِّقِينَ» قَالُوا: وَلِلْمُقَصِّرِينَ، قَالَ: «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُحَلِّقِينَ»، قَالُوا: وَلِلْمُقَصِّرِينَ، قَالَهَا ثَلاَثًا، قَالَ: «وَلِلْمُقَصِّرِينَ» (بخارى: ۱۷۲۸)

۸۵۲ – له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: الهي! محلقينو ته بخښنه وكړه؛ يارانو ئې وويل: او مقصرينو ته هم؛ وئې فرمايل: الهي! محلقينو ته بخښنه وكړه؛ يارانو ئې وويل: او مقصرينو ته هم؛ درې ځلي ئې همدا وويل؛ بيا ئې وفرمايل: او مقصرينو ته هم.

۸۵۳ - عَنْ مُعَاوِيَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَصَّرْتُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِشْقَصٍ. (بخارى: ۱۷۳۰)

۸۵۳ – له معاويه رضي الله عنه روايت دئ چي وئې ويل: د رسول الله صلى الله عليه و سلم د سر وېښتان مي په پلن سر لرونكي غشي لنډ كړل.

دا د مكې له فتحې او د معاويه له مسلمانېدو وروسته او د هغه مهال پېښه ده چي رسول الله صلى الله عليه و سلم عمره وكړه او دا د جعرانه عمره په نامه ياده شوه؛ د همدې عمرې په پاى كې معاويه د رسول الله صلى الله عليه و سلم وېښتان لنډ كړي؛ بخاري دا روايت د

دې لپاره راوړی چې وښيي په حج او عمره کې قصر جائز او د سنت مطابق دئ.

## ٦٩ باب: د جمرو ويشتل

٨٥٤ - عَنْ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أنه سأله رجل: مَتَى أَرْمِي الْجِمَارَ قَالَ: إِذَا رَمَى إِمَامُكَ فَارْمِهْ، فَأَعَدْتُ عَلَيْهِ الْمَسْأَلَةَ قَالَ: كُنَّا نَتَحَيَّنُ فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ رَمَيْنَا. (بخاری: ١٧٤٦)

٨٥٤ - له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې يوه سړي ترې وپوښتل: جمرې څه وخت وولم؟ وئې ويل: کله چې ستا امام وويشتلې ته ئې هم ووله؛ (راوي) وايي ما خپله پوښتنه بيا ورته تکرار کړه؛ نو وئې ويل: موږ به انتظار کولو؛ کله چې به لمر زوال وکړ (لوېديځ ته به مايل شو)؛ جمرې به مو وويشتلې.

دا روايت وايي چې موږ به جمرات له زوال وروسته رمي کول؛ خو تاسو تر دې وړاندې د بخاري: ١٦٧٩ روايت کې واورېدل چې اسماء بنت ابو بکر رضي الله عنها سحر وختي جمرة العقبه ويشتلې او بيا ئې ګهيځ لمونځ کړی؛ او ويلي ئې دي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ښځو ته د دې اجازه ورکړې ده. بخاري دا وضاحت نه دئ کړی چې د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما په روايت کې له دې عامي وينا: موږ به له زوال وروسته جمرات ويشتل؛ ښځې هم شاملې دي که نه؛ د روايت له الفاظو د هغوی استثناء نه معلومېږي؛ نو يا به وايو چې د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما په روايت کې له دې کبله نقص دئ چې مېرمنې ئې نه دي مستثنی کړې او يا به وايو چې د رواياتو تر منځ تعارض دئ او ناچار يو به ترې غوره کوو؛ د بخاري لوستونکی نه پوهېږي چې په کوم روايت به عمل کوي او ارجح ئې کوم دئ.

## ۷۰ باب: د درېٍ له منځه د جمرو ويشتل

۸۵۵ - عَنْ عَبْدِاللَّهِ بن مسعود رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ أنه رَمَى مِنْ بَطْنِ الْوَادِى فقيل له: إِنَّ نَاسًا يَرْمُونَهَا مِنْ فَوْقِهَا، فَقَالَ: وَالَّذِى لا إِلَهَ غَيْرُهُ هَذَا مَقَامُ الَّذِى أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . (بخارى: ۱۷٤۷)

۸۵۵ – له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي ده د درېٍ له منځه جمرېٍ وويشتلېٍ؛ ده ته وويل شو: ځيني خلک خو ئېٍ د درېٍ له پورتنۍ برخي ولي؟ وئېٍ ويل: قسم په هغه ذات چي له ده پرته بل إله او معبود نه شته؛ دا د هغه چا مکان او مقام دئ چي د بقرېٍ سوره پرېٍ نازله شوېٍ.

دا روايت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۷٤۷ - ۱۷٤۹ –

توپير: په يوه کي رَمَى عَبْدُ اللَّهِ مِنْ بَطْنِ الوَادِي په بل کي فَرَآهُ يَرْمِي الجَمْرَةَ الكُبْرَى بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ، فَجَعَلَ البَيْتَ عَنْ يَسَارِهِ وَمِنًى عَنْ يَمِينِهِ، په يوه کي إِنَّ نَاسًا يَرْمُونَهَا مِنْ فَوْقِهَا؟ ... وَالَّذِي لاَ إِلَهَ غَيْرُهُ، راغلي په بل کي دا الفاظ او مطلب نه شته.

په ۱۷٤۷ روايت کي دوه ابهامات ليدل کېږي: ۱- د وادي بطن او منځ ويل شوی چي مطلب ئېٍ واضح نه دئ، ۲- د دېٍ فقرېٍ (هَذَا مَقَامُ الَّذِي أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُورَةُ البَقَرَةِ)؛ الفاظ او ترکيب ئېٍ داسي دئ چي گواکي د بقرېٍ سوره همدلته نازله شوېٍ وي؛ په داسي حال کي چي د بقرېٍ سوره لومړۍ مدنېٍ سوره ده چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم تر حج نژدېٍ نه (۹) کاله وړاندي نازله شوېٍ؛ که څه هم په دېٍ سوره کي د حج اړوند اکثر لارښووني راغلېٍ؛ خو په هيڅ آيت کي ئېٍ صراحتاً او تلويحاً داسي څه نه دي راغلي چي وښيي جمرېٍ به له کوم مکان ويشتل کېږي.

په ۱۷٤۹روايت کي راوي ويلی: له عبد الله بن مسعود سره مي حج وکړ؛ هغه ئېٍ ليدلی چي شاتنۍ جمره ئېٍ په اوو تيږو ويشتلېٍ؛ په داسي

توګه چي بيت الله ئې کينې لاس او منٰی ئې ښي لاس ته کړې وه؛ يعني چي همدا د وادي د بطن تعبير دئ!

## ۷۱ باب: جمرې په اوو وړو تيږو ويشتل کېږي

۸۵۶ - وعنه رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ انْتَهَى إِلَى الْجَمْرَةِ الْكُبْرَى جَعَلَ الْبَيْتَ عَنْ يَسَارِهِ وَمِنًى عَنْ يَمِينِهِ وَرَمَى بِسَبْعٍ وَقَالَ هَكَذَا رَمَى الَّذِى أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

۸۵۶ – او له ده (ابن مسعود رضي الله عنه) روايت دئ چي تر لويې جمرې (جمرة العقبه: شاتنۍ جمرې) پورې ولاړ؛ داسي ودرېد چي بيت الله ئې کينې لوري ته او منٰی ئې ښۍ لوري ته کړه او په اوو (تيږو) ئې وويشتله او وئې ويل: همداسي هغه چا وويشتله چي د بقرې سوره پرې نازله شوې (صلى الله عليه و سلم).

په دې روايت کې هغه ابهام رفع شوی چي په ۱۷۴۷ روايت کې تر سترګو کېږي.

## ۷۲ باب: د شاتنۍ جمرې له ويشتلو وروسته نه درېدل

۸۵۷ - عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّهُ كَانَ يَرْمِى الْجَمْرَةَ الدُّنْيَا بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ، يُكَبِّرُ عَلَى إِثْرِ كُلِّ حَصَاةٍ، ثُمَّ يَتَقَدَّمُ حَتَّى يُسْهِلَ، فَيَقُومَ مُسْتَقْبِلَ القِبْلَةِ، فَيَقُومُ طَوِيلًا، وَيَدْعُو وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ، ثُمَّ يَرْمِى الوُسْطَى، ثُمَّ يَأْخُذُ ذَاتَ الشِّمَالِ فَيَسْتَهِلُ، وَيَقُومُ مُسْتَقْبِلَ القِبْلَةِ، فَيَقُومُ طَوِيلًا، وَيَدْعُو وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ، وَيَقُومُ طَوِيلًا، ثُمَّ يَرْمِى جَمْرَةَ ذَاتِ العَقَبَةِ مِنْ بَطْنِ الوَادِى، وَلاَ يَقِفُ عِنْدَهَا، ثُمَّ يَنْصَرِفُ، فَيَقُولُ «هَكَذَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُهُ» (بخارى: ۱۷۵۱)

۸۵۷ – روايت دئ چي ابن عمر رضي الله عنهما به نژدې يا لومړنۍ جمره په اوو وړو تيږو ويشتله او په هرې تيږې پسې به ئې متصل تکبير (الله

اکبر) وایو؛ بیا به مخکې ولاړ تر هغه چې اواري ته به برابر شو، هلته به قبلې ته مخامخ ودرېدو؛ اوږده شېبه به ولاړ وو؛ دعاء به ئې کوله او لاسونه به ئې لوړول؛ ورپسې به ئې منځنۍ جمره ویشتله، بیا به کیڼ لوري ته ولاړ او اواري ته به برابر شو، قبلې ته به مخامخ ودرېدو، ډېر ځنډ به ولاړ وو؛ دعاء به ئې کوله او لاسونه به ئې لوړول؛ له ډېر ودرېدو وروسته به ئې د درې له لاندینۍ برخې جمره عقبه ویشتله او هلته به نه درېدو، ستون به شو او ویل به ئې: رسول الله صلی الله علیه و سلم مې لیدلی چې همداسې ئې کول.

تکرار: دا روایت په بخاري کې ۲ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۱۷۵۱ - ۱۷۵۲

توپیر: په متن کې ئې عادي توپیرونه شته؛ د اسنادو له پلوه داسې دي چې د یوه راویان دا دي: عُثْمَان بْن أَبِي شَيْبَة، طَلْحَة بْن يَحْيَى، يُونُس، الزُّهْرِيّ، سَالِم او ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما او د بل دا: إِسْمَاعِيل بْن عَبْدِ اللَّهِ، ورور ئې سُلَيْمَانَ، يُونُس بْنِ يَزِيد، ابْنِ شِهَاب، سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ او عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ رضي الله عنهما. په دواړو کې د جمراتو د ویشتلو ترتیب او څرنګوالی توضیح شوی.

د دغو دریو ځلو ویشتل داسې دي: کله چې حاجي د لوی اختر په لومړۍ ورځ؛ لسم د ذي الحجې؛ د ځلو ځای ته رسي؛ هلته به درې د ډېرو ځلي ومومي؛ دا د ویشتلو وړ ځلي دي، د ویشتلو لپاره جوړ شوي؛ د شیطانانو ځلي نه دي؛ شیطان یو دئ او نه لیدل کېږي؛ دا د هغو ځلي دي چې لیدل کېږي؛ له شیطان سره زموږ جګړه فکري او اعتقادي وي؛ هغه موږ وسوسه کوي او موږ ئې په خپل ایمان سره وسوسې شنډوو؛ خو له دغو ځلو سره زموږ مقابله باید داسې وي چې وئې ولو؛ هره ورځ به ئې ولو، تر هغه چې د ایمان په سنګر او وادي کې وو دوی به ولو؛ له لیدو او نژدې کېدو سره سم به پر هغوی برید کوو؛ دا د هرې جاهلې او غیر دیني ټولنې درې واکمنې څېرې تمثیلوي؛ فرعون، هامان او قارون

ګمئيلوي؛ هغه چي موسی عليه السلام او هر پيغمبر ئې مقابلې ته لېږل شوي او تللي؛ ستا مخي ته به په لومړۍ او په پيل کي ووړ ځلی راځرګند شي؛ بيا منځنی ځلی؛ له دواړو به تېرېږي وروستي او لوی ځلي ته به ځان رسوي؛ حاجي به په يولسمه او دولسمه د ذي الحجي همدلته د ځلو د ويشتلو لپاره راځي؛ درې واړه ځلي به يو په بل پسي ولي؛ که ئې تلوار نه وو او وخت ئې درلود نو ديارلسمه ورځ به هم دا کار کوي؛ د لوی ځلي ويشتلو وخت د لوی اختر لومړۍ ورځي د ملر له راختلو تر زوال د ملر ده؛ ضعيفان، مريضان، بوډاګان کولی شي له مزدلفې منٰی ته ولاړ شي؛ د يوم النحر شپې د سپوږمۍ له لوېدو سره سم او کله چي وتوانېږي لوی ځلي ته ورسېږي؛ همغه مهال ئې ويشتل ورته جائز دي.

خو په ايام تشريق (د ذي الحجې ۱۱-۱۲-۱۳) کي د ځلو ويشتلو وخت د ملر له زوال (چي د ماسپښين لمونځ روا کېږي) تر ملر ولېدو پوري دئ؛ البته د هغو لپاره چي څه عذر نه لري؛ او د معذورو لپاره د شپې له لوري ئې هم ويشتل جائز دئ.

دا هم يو سنت دئ چي د هري تيږي له ويشتلو سره (الله اکبر: الله تر ټولو ستر دئ) وويل شي؛ او دا هم سنت دئ چي ايام التشريق (۱۱-۱۲-۱۳ د ذي الحجې) کي د واړه ځلي له رمي (تيږو ويشتلو) وروسته؛ د دعاء لپاره قبلې ته مخ کړي، په داسي فارغ ځای کي ودرېږي چي خپل کيڼ لاس ته ئې کړي، لاسونه اوچت او دعاء وکړي؛ همدا راز د منځني ځلي له ويشتلو وروسته؛ په داسي فارغ ځای کي ودرېږي چي دا ځلی ئې ښي لاس ته کړی وي؛ او اوږده دعاء وکړي؛ خو د شاتني ځلي له ويشتلو وروسته دعاء کول نه شته؛ يعني چي لوی دښمن دي ويشتلی؛ کار دي بشپړ شوی او ستا د مبارزې يو پړاو بشپړ شوی او د دې پړاو مأموريت دي پای ته رسېدلی.

د لومړي او وروستي ځلي تر منځ نژدې نيم کيلومتر (٤٤٧) متر واټن دئ؛ ۲۰۰ متر د لومړي او منځني تر منځ او ۲٤۷ متره د منځني او شاتني

تر منځ.

هغه حاجي ته چي تلوار لري؛ جائزه ده چي د اختر په درېيمه ورځ؛ د جمراتو له ويشتلو وروسته له منٰی ووځي او مکې ته مخه کړي؛ خو تر ملر لوېدو وړاندي به وځي؛ که ونه توانېدو او وځنډېدو نو په منٰی کي به پاته کېږي او په سبا به ئې هم درې واړه ځلي ولي.

## ۷۳ باب: د وداع طواف

۸۵۸ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: أُمِرَ النَّاسُ أَنْ يَكُونَ آخِرُ عَهْدِهِمْ بِالْبَيْتِ إِلَّا أَنَّهُ خُفِّفَ عَنِ الْحَائِضِ. (بخاری: ۱۷۵۵)

۸۵۸ – له ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روايت دئ چي وايي: خلکو ته امر شوی چي په حج کي ئې وروستی عمل له بيت الله سره وي (طواف وکړي)، خو حائضه ښځه له دې کار معافه ده.

۸۵۹ - عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ ثُمَّ رَقَدَ رَقْدَةً بِالْمُحَصَّبِ ثُمَّ رَكِبَ إِلَى الْبَيْتِ فَطَافَ بِهِ. (بخاری: ۱۷۵٦)

۸۵۹ – له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي: رسول الله صلی الله عليه و سلم د ماسپښين، مازديگر، ماښام او ماخستن لمونځونه وکړل؛ بيا لږ ساعت په محصب کي (د مکې او منٰی تر منځ پراخ ډاگ) کې ويده شو، وروسته سپور شو او بيت الله ته ولاړ طواف ئې وکړ.

## ۷۴ باب: که ښځه له طواف افاضه وروسته حائضه شي

۸٦۰ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: رُخِّصَ لِلْحَائِضِ أَنْ تَنْفِرَ إِذَا أَفَاضَتْ. قَالَ: وَسَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ يَقُولُ: إِنَّهَا لا تَنْفِرُ ثُمَّ سَمِعْتُهُ يَقُولُ: بَعْدُ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ لَهُنَّ. (بخاری: ۱۷٦۰ـ ۱۷٦۱)

۸٦۰ – له ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روايت دئ چي وايي: کومه ښځه

چي له طواف افاضه وروسته حائضه شي؛ هغې ته دا اجازه شته چي له طواف وداع پرته خپل وطن ته ستنه شي.

يو راوي وايي: له ابن عمر رضي الله عنهما مي اورېدلي چي ويل ئې: دا ښځه دي نه ځي (تر هغه چي له حيض پاکه شي او د وداع طواف وکړي)؛ خو وروسته مي دا ترې واورېدل چي ويل ئې: رسول الله صلى الله عليه و سلم ښځو ته (د تلو) اجازه ورکړې. يعنى کومه ښځه چي د افاضه طواف (د زيارت طواف) وکړي، بيا حائضه شي؛ هغې ته اجازه ده چي د وداع له طواف پرته خپل ملک ته ستنه شي.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ٤ ځلي په دغو شمېرو راغلى: ٣٢٩ - ٣٣٠ - ١٧٦٠ - ١٧٦١ -

توپير: ٣٢٩ او ١٧٦٠ روايتونه د متن له پلوه کاملاً سره ورته دي؛ د إسنادو له پلوه يوازي په پنځمه طبقه کي توپير لري؛ د يوه پنځم راوي معلى بن اسد دئ او د بل مسلم. خو ١٧٦١روايت بيا داسي دئ چي له مخکينيو دواړو سره تعارض لري؛ په سر کي راوي وايي: له ابن عمر مي واورېدل چي ويل ئې: حائضې مېرمني دي د وداع له طواف پرته نه درومي؛ بيا مي ترې واورېدل: وروسته رسول الله صلى الله عليه و سلم هغوى ته (د تلو) اجازه ورکړه.

## ٧٥ باب: په محصب کي اړول

٨٦١ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: لَيْسَ التَّحْصِيبُ بِشَىْءٍ إِنَّمَا هُوَ مَنْزِلٌ نَزَلَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . (بخارى: ١٧٦٦)

٨٦١ – له ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روايت دئ چي وايي: په محصب کي اړول يا تم کېدل کوم (لازمي ديني کار) نه دئ؛ بلکي دا هغه ځاى دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په کي اړولي وو.

### ۷۶ باب: په ذي طُوی کي اړول

۸۶۲ - عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ كَانَ إِذَا أَقْبَلَ بَاتَ بِذِی طُوًى حَتَّى إِذَا أَصْبَحَ دَخَلَ وَإِذَا نَفَرَ مَرَّ بِذِی طُوًى وَبَاتَ بِهَا حَتَّى يُصْبِحَ وَكَانَ يَذْكُرُ أَنَّ النَّبِیَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَفْعَلُ ذَلِكَ. (بخاری: ۱۷۶۹)

۸٦۲ – له ابن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چي کله به مکې ته راغی؛ شپه به ئې په ذي طُوی کي تېروله او چي سهار به شو مکې ته به ننوت او چي کله به له مکې (د مدینې په لوري) روانېدو؛ په ذي طوی به تېرېدو؛ شپه به ئې هلته سهار کړه او ویل به ئې: رسول الله صلی الله علیه و سلم به همداسي کول.

## ۲۷ کتاب: عمره

### ۱ باب: د عمرې وجوب او فضیلت

۸٦۳ ـ عَنْ أَبِی هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا، وَالْحَجُّ الْمَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا الْجَنَّةُ». (بخاری: ۱۷۷۳)

۸٦۳ – له ابو هريرة رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: (یوه عمره تر بلي عمرې د دواړو تر منځ د شویو گناهونو کفاره ده او مبرور حج (منل شوی او ښه حج) له جنت پرته بله بدله نه لري).

مبرور حج هغه دئ چي (ارکان، شروط، سنن او هر څه ئې په سمه توگه اداء شي؛ خاص د الله تعالی د رضاء حاصلولو لپاره وي، په ښه نیت او په حلال مال تر سره شي).

دا باید په پام کې ولرو چې ځینې ګناهونه داسې دي چې هیڅ نېك عمل ئې نه شي جبیره کولی؛ لکه د چا غیبت کول، پر چا تهمت لګول، د چا حق خوړل، پر چا ظلم کول، مال، زمکه او کور ئې غصبول ... الله تعالی د دغو ګناهونو د بخښلو واك هغو ته سپارلی چې حق ئې خوړل شوی او ظلم پرې شوی. د داسې روایاتو خوا ته دا یادونه ضروري او حتمي ده که نه نو ستونزې راولاړوي؛ ظالمانو او تېرې کوونکو ته د ظلم او تېرې جسارت ورکوي.

## ٢ باب: له حج مخکې عمره

٨٦٤ ـ عَنِ ابْنَ عُمَرَ رَضِیَ اللَّهُ عَنْهُما: أَنَّهُ سُئِلَ عَنِ الْعُمْرَةِ قَبْلَ الْحَجِّ، فَقَالَ: لا بَأْسَ وقَالَ: اعْتَمَرَ النَّبِیُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ أَنْ يَحُجَّ. (بخاری: ١٧٧٤)

٨٦٤ -له ابن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چې: تر حج وړاندې عمرې په اړه پوښتنه ترې وشوه؟ او وئې ویل: پروا نه لري (له حج اداء کولو مخکې هم عمره صحیح ده) او وئې ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم مخکې تر دې چې حج وکړي عمره اداء کړې ده.

تکرار: دا روایت په بخاري کې ٢ ځلې په دغو شمېرو ١٧٧٤ - ١٧٨١ - راغلی او یو ځل بې شمېرې.

توپیر: په دوو کې ویل شوي: قَبْلَ أَنْ يَحُجَّ او په بل کې ویل شوي: قَبْلَ أَنْ يَحُجَّ مَرَّتَيْنِ.

دا موضوع او اړوند روایات ئې دومره په تکرار سره په بخاري کې راغلي چې هیڅ توجیه ورته نه شو موندلی؛ په داسې حال کې چې موضوع ډېره څرګنده ده او په اړه ئې د قرآن لارښوونه هم ډېره واضح ده؛ فقط یو روایت او همغه چې له قرآن سره مطابقت لري؛ او هغه روایات باید قطعاً نه وی راوړل شوي چې د قرآن له لارښوونو سره مغایرت لري.

### ٣ باب: رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څو عمرې کړې دي

٨٦٥ ـ عَنْ عَبْدُاللَّهِ بْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما أنه قيل لَهُ: كَمِ اعْتَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: أَرْبَعًا إِحْدَاهُنَّ فِي رَجَبٍ، قال السائل: فقلت لعَايِشَةَ: يَا أُمَّاهُ أَلا تَسْمَعِينَ مَا يَقُولُ أَبُوعَبْدِالرَّحْمَنِ؟ قَالَتْ: مَا يَقُولُ؟ قَالَ: يَقُولُ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعْتَمَرَ أَرْبَعَ عُمَرَاتٍ إِحْدَاهُنَّ فِي رَجَبٍ. قَالَتْ: يَرْحَمُ اللَّهُ أَبَا عَبْدِالرَّحْمَنِ مَا اعْتَمَرَ عُمْرَةً إِلَّا وَهُوَ شَاهِدُهُ وَمَا اعْتَمَرَ فِي رَجَبٍ قَطُّ. (بخارى: ١٧٧٦)

٨٦٥ – له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وپوښتل شو: رسول الله صلى الله عليه و سلم څو عمرې اداء کړې دي؟ وئې ويل: څلور ځلي چي يوه ئې په رجب کي وه؛ پوښتونکي وويل: عائشې رضي الله عنها ته مي وويل: اې مورې! آيا نه اورې چي ابو عبدالرحمن (عبدالله بن عمر) څه وايي؟ هغې وويل: څه وايي؟ ده وويل: وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم څلور عمرې کړې دي چي يوه ئې د رجب مياشت کي وه؛ عائشې وويل: الله تعالى دي پر ابو عبدالرحمن رحم وکړي؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم چي هره عمره کړې (ابو عبدالرحمن) به ورسره وو؛ (سره له دې ئې اشتباه کړې)؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم په رجب کي هيڅ عمره نه ده کړې.

يعني ابن عمر رضي الله عنهما سهواً دا خبره کړې چي رسول صلى الله عليه و سلم يوه عمره په رجب کي اداء کړې ده.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ٢ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٧٧٥ - ١٧٧٦

توپير: په دواړو رواياتو کي د باب اړوند مسائل سره ورته دي او د ابن عمر رضي الله عنهما دا رأى ترديدوي چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم يوه عمره په رجب کي وه.

٨٦٦ ـ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أنه سئل: كَمِ اعْتَمَرَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم؟

قَالَ: أَرْبَعًا: عُمْرَةُ الْحُدَيْبِيَةِ فِي ذِي الْقَعْدَةِ حَيْثُ صَدَّهُ الْمُشْرِكُونَ، وَعُمْرَةٌ مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ فِي ذِي الْقَعْدَةِ، حَيْثُ صَالَحَهُمْ، وَعُمْرَةُ الْجِعِرَّانَةِ إِذْ قَسَمَ غَنِيمَةَ، أُرَاهُ ـ حُنَيْنٍ. قُلْتُ: كَمْ حَجَّ؟ قَالَ: وَاحِدَةً. (بخاری: ١٧٧٨)

٨٦٦ - له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وپوښتل شو: رسول الله صلی الله علیه و سلم څو عمرې کړې دي؟ وئې ويل: څلور؛ یوه د حدیبیې عمره چي په ذي القعده کي وه او مشرکينو ئې (مکې ته د داخلېدو) مخنيوی وکړ؛ بله عمره د راتلونکي کال ذي القعده کي؛ لکه څنگه چي ئې له هغوی (مشرکينو) سره مصالحه کړې وه او د جَعِرَّانه عمره؛ داسي انگېرم چي په همدې وخت کي ئې د حنين غنيمتونه وويشل. راوي وايي: ومي ويل: څو ځله ئې حج کړی دئ؟ انس رضي الله عنه وويل: يو ځل.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ٣ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٧٧٨- ٤٢٥٣ - ٤٢٥٤ -

توپير: د ټولو رواياتو اصلي مطلب سره ورته دئ او وايي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم څلور عمرې کړې؛ په ١٧٧٨ راويت کي د عمرو تفصيلات هم بيان شوي؛ خو يوازي درې ئې ښودل شوې او څلورمه نه ده ښودل شوې؛ په نورو کي يوازي تعداد ښودل شوی؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم څلورمه عمره د حجة الوداع په کال او له حج سره يو ځای وه؛ چي په پورتنيو رواياتو کي ئې يادونه نه ده شوې.

٨٦٧ – عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: سَأَلْتُ أَنَسًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، فَقَالَ: «اعْتَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَيْثُ رَدُّوهُ، وَمِنَ القَابِلِ عُمْرَةَ الحُدَيْبِيَةِ، وَعُمْرَةً فِي ذِي القَعْدَةِ، وَعُمْرَةً مَعَ حَجَّتِهِ»، (بخاری: ١٧٧٩)

٨٦٧ - له قتادة رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له انس رضي الله عنه مي پوښتنه وکړه؛ هغه وويل: رسول الله صلی الله علیه و سلم يوه

هغه عمره وکړه چي (مشرکينو) ستون کړ؛ (مخنيوی ئې وکړ)، بله ئې د حديبيې عمرې پسي راتلونکې عمره، بله ئې په ذي القعده کي او وروستۍ ئې له حج سره يو ځای عمره.

تکرار: دا روايت په بخاري کې ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۷۷۹ - ۱۷۸۰

توپير: په ۱۷۸۰ روايت کې ويل شوي چي درې عمرې ئې په ذي القعده کې وې او څلورمه ئې له حج سره يو ځای (ذي الحجه کې). دا مطلب په نورو کې نه دئ راغلی.

٨٦٨ ـ عَنِ الْبَرَاء بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، يَقُولُ: «اعْتَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذِي الْقَعْدَةِ قَبْلَ أَنْ يَحُجَّ مَرَّتَيْنِ». (بخاری: ۱۷۸۱)

٨٦٨ – له براء بن عازب رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم تر دې وړاندي چي حج وکړي؛ دوه ځلي ئې په ذي القعده کې عمره کړې ده.

دا روايت له هغو سره تعارض لري چي وايي د رسول الله صلى الله عليه و سلم له څلورو عمرو درې ئې په ذي القعده کې وې او يوه ئې له حج سره يو ځای په ذي الحجه کې؛ بخاري نه دي ويلي چي ولي ئې دا روايت د هغو نورو په شتون کې راوړی او ولي ئې نه دي ويلي چي کوم يو ئې اصح دئ او په کوم دليل؟ د ټولو تکراري رواياتو په اړه د بخاري اسلوب همدا دئ!! تکراري روايات ئې هم د کتاب له څلورو نژدې درې برخي؛ د کمپيوټر د دقيقي شمېرې له مخي د بخاري ټول صحيح او مرفوع روايات ۷۵۶۳ دي؛ او په التجريد الصريح للجامع الصحيح کې د بخاري غير مکرر روايات ۲۲۰۶ دي. چي په دې توګه ۵۳۵۷ مکرر راغلي. له دې معلومېږي چي د بخاري له اوو پنځه برخي مکرر او دوه برخي غير مکرر روايات دي. داسي روايات هم لري چي شپږ دېرش ځله ئې په تکرار سره راوړي، کله ئې د دې لپاره دا کار کړی چي له يوه راوي ئې

په یوه صیغه تر لاسه کړی او له بل په څه توپیر سره په بله صیغه، کله ئې د یوې موضوع لپاره د دلیل په توګه او کله د بلې موضوع لپاره، خو داسې تکرارونه هم شته چې موخه او وجه ئې څرګنده نه ده، په اکثرو مکررو روایاتو کې ئې لږ او ډېر توپیرونه تر سترګو کېږي، په ځینو کې ئې تعارض او په ځینو کې تضاد.

عمدة القاري کې راغلي: ... پوه شه چې په هغه روایت کې چې منصور ئې له مجاهد روایت کوي راغلي چې یوه عمره په رجب کې وه؛ إِسْحَاق له مجاهد او هغه له ابْن عمر روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم دوه ځلي عمره کړې؛ دا خبره عائشې ته ورسېده او هغې وویل: اعْتَمر أَربع مَرَّات: څلور ځلي ئې عمره کړې؛ احمد او ابو داؤد دا روایت راوړی؛ نو منصور د عمرې د میاشتې په اړه او ابو اسحاق د عمرو د شمېر په اړه اختلاف کړی؛ او د مسلم د هغو راویانو په روایت کې چې له براء بن عازب ئې روایت کړی؛ داسې ویل شوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم تر حج وړاندې دوه ځلي په ذي القعده کې عمره کړې!؛ او په سُنَن أبو دَاوُد کې د شیخین (بخاري او مسلم) د إِسْنَاد په شرط؛ عائشې ته منسوب دا روایت راوړی چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم د شَوَّال میاشتې کې عمره وکړه؛ مَالك هم په خپل کتاب موطأ کې؛ او په (سنَن الدَّارَقُطْنِيّ) کې د عائشې دا روایت چې: (رسول الله صلی الله علیه و سلم په رمضان کې عمره وکړه؛ چې دا روایت غریب دئ؛ ابْن بطال وایي: صحِیح خبره دا ده چې درې عمرې ئې کړې او څلورمې ته ئې ځکه د عمرې نسبت کېدی شي چې خلك ئې پرې مأمور کړل او خلکو د ده په حضور کې عمل پرې وکړ؛ نه له دې امله چې په خپله ئې عمره کړې وي؛ په صحت ئې د عائشې رضي الله عنها دا عمل دلالت کوي چې د ابن عمر وینا ئې رد کړه او وئې ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم په رجب کې قطعاً عمره نه ده کړې. أَبُو عبد الْملك وایي: دا د ابن عمر وهم وو؛ ځکه د مسلمانانو اجماع په دې ده چې درې عمرې ئې کړې.

بيْهَقِيّ د عائشې رضي الله عنها دا روايت راوړی چې راوي ئې عروه دئ او وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم درې عمرې کړې: يوه عمْرَة په شَوَّال کې او دوه عمرې په ذِي الْقعدَة کې، ابو داؤد د هشام دا روايت راوړی چې وايي: (يوه عمره ئې په ذِي الْقعدَة او بله په شَوَّال کې کړي)؛ بَيْهَقِيّ د ابو هريره رضي الله عنه دا روايت هم راوړی چې وايي: (رسول الله صلی الله عليه و سلم درې عمرې کړې ټولې ئې په ذِي الْقعدَة کې). او د شوال په مياشت کې د عمرې اړوند روايت چې عائشې رضي الله عنها ته منسوب شوی؛ عمدة القاري ليکلي: زموږ شيخ وايي: ښايي د شوال له عمرې د عَائِشَې رضي الله عنها مراد د حديبيې عمره وي خو صحيح خبره دا ده چې دا عمره هم په ذِي الْقعدَة کې وه....

دا دئ گورئ چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم د عمرو د شمېر په اړه په بخاري او د رواياتو نورو کتابونو کې څومره مختلف او متعارض روايات راغلي؛ دوه، درې او څلور عمرې ئې گڼي، ځيني وايي چې درې عمرې په ذي القعده کې وې او يوه له حج سره يو ځای ذي الحجه کې، ځينو د ابن عمر رضي الله عنهما دا روايت راوړی چې وايي د رسول الله صلی الله عليه و سلم يوه عمره د رجب مياشت کې وه، خو عائشه رضي الله عنها دا ادعاء ردوي او وايي هيڅ کله ئې په رجب کې عمره نه ده کړې؛ ځيني ئې شمېر څلور بولي خو يوازې د دريو نومونه ئې ياد کړي او څلورمه ئې نه ده ښودلې؛ ځيني د حديبې هغه عمره هم په کې شمېري چې رسول الله صلی الله عليه و سلم او صحابه وو نه طواف کړی او نه د صفا او مروه سعي؛ او نه پرېښودل شوي چې مکې ته داخل شي؛ او دې ته ورته اختلافات او تعارضات؛ له دغو متعارضو رواياتو به کوم يو او د کوم دليل له مخې غوره کوو؟ ولې بخاري په اکثرو تکراري رواياتو کې همداسې متعارض روايات راوړي او ټولو ته د صحيح نوم ورکړی شوی؟ هغه چې ځان ته اهل حديث وايي او د بخاري په اړه وايي: اصح الکتب بعد کتاب الله؛ او حتی د بخاري هغه روايات چې له

نورو رواياتو سره ئې څرګند تعارض او تناقض لري او په قرآن کې ورته هيڅ شاهد نه مومي؛ داسي ګڼي لکه د قرآن آيات؛ تر دې هم وړاندې درومي؛ او هغه ځای ته رسي چي که روايت د قرآن له آيتونو سره اړخ نه لګوي؛ نو همدې روايت ته د قرآن پر صريح او واضح آياتونو ترجيح ورکوي!! او دا په داسي حال کې چي دی او د ده هغه شيخ او استاد چي ده ترې بخاري لوستلې؛ نه به ئې قرآن په سمه توګه زده وي او نه بخاري؛ له دوی پوښتنه کوم: رسول الله صلی الله عليه و سلم څو عمرې کړې؟ د شمېر په اړه ئې د بخاري کوم روايت اصح او ارجح دئ او تاسو ئې منئ او په کوم دليل ئې ارجح ګڼئ؟ د بخاري د سلګونو تکراري او متعارضو رواياتو په اړه دغه سوالونه مطرح دي چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم د عمرو د شمېر په اړه مطرح دي؛ او عمرې هم داسي څه چي د اختلاف مجال او احتمال په کې ډېر لږ؛ ځکه په سلګونو او زرګونو ياران ئې ورسره وو؛ له نېټې ئې هم ټول خبر وو او له شمېر ئې هم؛ ټولو هر څه په خپلو سترګو ليدلي؛ که د داسي څرګندو اجتماعي چارو په اړه د يوه کتاب په رواياتو کې دومره پراخ اختلافات وي؛ نو د هغو امورو په اړه به ئې اختلاف څومره وي چي لږ شمېر افراد ترې خبرېدی شي؟ دې ته په پام سره بايد ومنو چي له رواياتو احکام رااېستل داسي چا ته ضرورت لري چي: ١- په قرآن او حديث پوه وي، ٢- د متعارضو رواياتو له منځ د ارجح او اصح انتخابولو وړتيا او پوهه ولري، ٣- د حديث په يوه کتاب اکتفاء ونه کړي او په اړه ئې ړوند او کوڼ تعصب ونه لري، ٤- هر روايت ئې د قرآن، مُسَلَّم صحيح حديث او د ايمان او عقل په تله وتلي او يوازي هغه ومني چي په دې يوازينۍ تلي کې دروند خېژي او د منلو وړ برېښي.

٤ باب: د تنعيم عمره

٨٦٩ـ عَن عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَخْبَرَهُ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ «أَمَرَهُ أَنْ يُرْدِفَ عَائِشَةَ، وَيُعْمِرَهَا مِنَ التَّنْعِيمِ»، و أن سُرَاقَةَ بْنَ مَالِكِ ابْنِ جُعْشُمٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لَقِيَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعَقَبَةِ وَهُوَ يَرْمِيهَا فَقَالَ: أَلَكُمْ هَذِهِ خَاصَّةً يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ: «لا بَلْ لِلأَبَدِ». (بخارى: ١٧٨٤-١٧٨٥)

٨٦٩ - له عبدالرحمن بن ابي بكر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته امر وکړ چي عائشه رضي الله عنها له ځان سره سپره کړه او له تنعيم عمره پرې وکړه. او دا چي سُرَاقه بن مالک بن جُعْشُم رضي الله عنه په داسي حال کي له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره مخامخ شو چي جمره عقبه ئې ويشتله او وئې ويل: يا رسول الله! آيا دا ستاسو لپاره مختص او ځانګړې ده؟ وئې فرمايل: نه؛ دا تر ابده (د ټولو لپاره) ده.

سراقه بن مالک په دې حج کي داسي څه ليدلي چي تر دې وړاندي ئې نه وو ليدلي؛ لومړی ځل دئ چي حج او عمره يو ځايي او په ذي الحجه کي ګوري؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم صحابه وو ته وويل چي همداسي وکړئ او ورته وئې ويل: که ما له ځان سره هدي نه وی راوستی نو همداسي مي کول؛ نو سراقه ځکه وويل: يا رسول الله! دا يوازي ستاسو لپاره او فقط په همدې کال کي ده؟! وئې فرمايل: (نه؛ تر ابده (د ټولو لپاره).

## ٥ باب: له حج وروسته له هدي پرته عمره

٨٧٠ ـ حديث عائشة رضى الله عنها فى الحج تكرر كثيراً وقد تقدم بتمامه (بخارى: ١٧٨٦ ـ ١٥٢١ ـ ١٥٦١)

٨٧٠ - د حج په اړه د عائشې رضي الله عنها حديث ډېر ځلي تکرار او مخکي په بشپړه توګه تېر شو.

١٧٨٦ - عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُوَافِينَ لِهِلاَلِ ذِى الحَجَّةِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُهِلَّ

بِعُمْرَةٍ فَلْيُهِلَّ، وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُهِلَّ بِحَجَّةٍ فَلْيُهِلَّ، وَلَوْلاَ أَنِّي أَهْدَيْتُ لأَهْلَلْتُ بِعُمْرَةٍ»، فَمِنْهُمْ مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ، وَمِنْهُمْ مَنْ أَهَلَّ بِحَجَّةٍ، وَكُنْتُ مِمَّنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ، فَحِضْتُ قَبْلَ أَنْ أَدْخُلَ مَكَّةَ، فَأَدْرَكَنِي يَوْمُ عَرَفَةَ وَأَنَا حَائِضٌ، فَشَكَوْتُ ذَلِكَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «دَعِي عُمْرَتَكِ، وَانْقُضِي رَأْسَكِ وَامْتَشِطِي، وَأَهِلِّي بِالحَجِّ»، فَفَعَلْتُ، فَلَمَّا كَانَتْ لَيْلَةُ الحَصْبَةِ، أَرْسَلَ مَعِي عَبْدَ الرَّحْمَنِ إِلَى التَّنْعِيمِ. فَأَرْدَفَهَا، فَأَهَلَّتْ بِعُمْرَةٍ مَكَانَ عُمْرَتِهَا، فَقَضَى اللَّهُ حَجَّهَا وَعُمْرَتَهَا، وَلَمْ يَكُنْ فِي شَيْءٍ مِنْ ذَلِكَ هَدْيٌ، وَلاَ صَدَقَةٌ، وَلاَ صَوْمٌ

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره په داسي حال کي ووتلو چي د ذي الحجې سپوږمۍ رابره کېدو ته نژدې شوې وه؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: «څوك چي د عمرې نيت خوښوي نو همدا نيت دي وکړي؛ او څوك چي د حج نيت خوښوي همدا نيت دي وکړي؛ او که ما د قربانۍ هدي نه وی راوستې نو حتماً به مي د عمرې نيت کړی وو»؛ نو ځينو د عمرې او ځينو د حج نيت وکړ؛ او زه له هغو وم چي د عمرې نيت ئې کړی وو؛ خو تر دې وړاندي چي مکې ته ننوځو په مياشتني ښځينه عادت اخته شوم؛ نو د عرفې ورځ په داسي حال کي راباندي راغله چي زه په حيض کي وم؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته مي د دې شکايت وکړ؛ وئې فرمايل: «عمره دي پرېږده؛ ويښتان دي پرانيزه او ږمنځ ئې کړه؛ او د حج نيت وکړه» همداسي مي وکړل، نو کله چي د حَصْبه شپه (له ايام تشريق وروسته او له منیٰ د مکې په لوري تګ کي په مُحَصَّب کي د پاته کېدو شپه) راغله؛ له ما سره ئې عَبْدَ الرَّحْمَنِ تر تنعيم ولېږو. راوي وايي: نو له ځان سره ئې تر شا سپره کړه؛ د عمرې نيت ئې وکړ؛ د خپلي عمرې په عوض کي؛ نو الله تعالى ئې هم حج تر سره کړ او هم عمره؛ نو په دې کي نه له هدي څه وو او نه د صدقې او روژې.

## ٦ باب: د عمرې ثواب د تكليف په اندازه دئ

٨٧١ ـ عَن عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، يَصْدُرُ النَّاسُ بِنُسُكَيْنِ، وَأَصْدُرُ بِنُسُكٍ؟ فَقِيلَ لَهَا: «انْتَظِرِى، فَإِذَا طَهُرْتِ، فَاخْرُجِى إِلَى التَّنْعِيمِ، فَأَهِلِّى ثُمَّ ائْتِينَا بِمَكَانِ كَذَا، وَلَكِنَّهَا عَلَى قَدْرِ نَفَقَتِكِ أَوْ نَصَبِكِ» (بخارى: ١٧٨٧)

٨٧١ - روايت دئ چي عائشې رضي الله عنها وويل: يا رسول الله! خلک به له دوو نُسُکو (ديني وجائبو: حج او عمرې) اداء کولو سره ستنېږي او زه به له يوه سره! نو ورته وويل شول: انتظار وکړه چي (لمونځ درته روا شي او له حيض) ووځې؛ بيا تنعيم ته ولاړه شه او د (عمرې) احرام وتړه او بيا په فلاني ځای کي موږ ته ځان راورسوه؛ خو دا (عمره) داسي ده چي (ثواب ئې) ستا د لګښتونو او زيارونو په اندازه دئ؛ (ځومره چي دي زيات پرې لګولي او زيات زيار دي په کي ايستلی همدومره به دي ثواب زيات وي).

## ٧ باب: عمره کوونکی کله له احرامه وتلی شي

٨٧٢ ـ عَنْ أَسْمَاء بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ رضى الله عنها، كُلَّمَا مَرَّتْ بِالحَجُونِ تَقُول: «صَلَّى اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مُحَمَّدٍ لَقَدْ نَزَلْنَا مَعَهُ هَا هُنَا، وَنَحْنُ يَوْمَئِذٍ خِفَافٌ قَلِيلٌ ظَهْرُنَا قَلِيلَةٌ أَزْوَادُنَا، فَاعْتَمَرْتُ أَنَا وَأُخْتِي عَائِشَةُ، وَالزُّبَيْرُ، وَفُلاَنٌ وَفُلاَنٌ، فَلَمَّا مَسَحْنَا البَيْتَ أَحْلَلْنَا ثُمَّ أَهْلَلْنَا مِنَ العَشِيِّ بِالحَجِّ» (بخارى: ١٧٩٦)

٨٧٢ - روايت دئ چي اسماء بنت ابو بکر رضي الله عنهما به چي هر ځل پر (حجون: د مکې د اوسېدونکو هدېره) تېرېده نو ويل به ئې: الله تعالی دي پر خپل رسول محمد؛ رحمتونه نازل کړي؛ موږ په همدغه ځای کي ورسره اړولي وو، هغه وخت زموږ متاع او سامان لږ او سپك وو، د سپرلۍ څاروي مو لږ وو؛ او توښه مو کمه وه؛ ما او خور مي عائشې رضي الله عنها او زبير او فلاني او فلاني؛ عمره وکړه او کله چي مو د بيت الله طواف وکړ؛ نو له احرام ووتلو؛ او بيا مو له زوال وروسته د حج

لپاره احرامونه وتړل.

دا روایت څو ستونزي لري؛

- د بخاري له ۸۷۱ او ۱۷۸٦روایت سره جدي تناقض لري چي وایي: عائشې رضي الله عنها له حج وروسته عمره کړې نه تر حج وړاندي؛ له حج وروسته ئې ویلي: یا رسول الله! خلک به له دوو نُسُکو (دیني وجائبو: حج او عمرې) اداء کولو سره ستنېږي او زه به له یوه (حج) سره! ... نو هغه ئې د عمرې لپاره له خپل ورور سره تنعیم ته ولېږله...
- بله ستونزه ئې دا ده چي په کي ویل شوي: د بیت الله له طواف وروسته له احرام ووتلو؛ په کار خو دا وه چي دا هم په کي ویل شوي وی (او د صفا او مروه تر منځ مو سعي وکړه)؛ په عمرې کي خو هغه مهال له احرام وتل دي چي د صفا او مروه سعي هم بشپړه شوې وي.

ابن حزم د دې روایت په اړه ویلي:

.... هَذِهِ وَهْلَةٌ لَا خَفَاءَ بِهَا عَلَى أَحَدٍ مِمَّنْ لَهُ أَقَلُّ عِلْمٍ بِالْحَدِيثِ لِوَجْهَيْنِ بَاطِلَيْنِ فِيهِ بِلَا شَكٍّ: أَحَدُهُمَا قَوْلُهُ فِيهِ: فَاعْتَمَرْتُ أَنَا وَأُخْتِي عَائِشَةُ، وَلَا خِلَافَ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ أَهْلِ النَّقْلِ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا لَمْ تَعْتَمِرْ أَوَّلَ دُخُولِهَا مَكَّةَ، وَلِذَلِكَ أَعْمَرَهَا عَلَيْهِ السَّلَامُ مِنَ التَّنْعِيمِ، وَبَعْدَ تَمَامِ الْحَجِّ لَيْلَةَ الْحَصْبَةِ، .... وَالْمَوْضِعُ الثَّانِي قَوْلُهُ فِيهِ: فَلَمَّا مَسَحْنَا الْبَيْتَ أَحْلَلْنَا، ثُمَّ أَهْلَلْنَا مِنَ الْعَشِيِّ بِالْحَجِّ، وَهَذَا بَاطِلٌ لَا شَكَّ فِيهِ، لِأَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، وَأَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، وَابْنَ عَبَّاسٍ، وَعَائِشَةَ كُلَّهُمْ رَوَوْا أَنَّ الْإِحْلَالَ كَانَ يَوْمَ دُخُولِهِمْ مَكَّةَ، وَأَنَّ إِهْلَالَهُمْ بِالْحَجِّ كَانَ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ وَبَيْنَ الْيَوْمَيْنِ الْمَذْكُورَيْنِ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ بِلَا شَكٍّ،

.... دا هسي یوه واهمه ده؛ له چا سره چي د حدیث تر ټولو لږ پوهه هم وي پرې پټه نه ده؛ د دوه باطل او ناسم وجوهاتو له کبله چي په دې روایت کي دي: یوه ئې دا وینا چي ما او خور مي عائشې عمره وکړه؛

په داسي حال کي چي په دې کي د اهل نقل هيڅ خلاف نه شته چي عائشې رضي الله عنها مکې ته د داخلېدو په مهال عمره نه وه کړې؛ له همدې کبله رسول الله صلی الله عليه و سلم له تنعيم عمره پرې وکړه؛ هغه هم د حج له بشپړېدو وروسته او د حَصْبَه په شپه؛ او بله ئې دا وينا چي له طواف وروسته له احرام ووتلو او ماښام مو د حج نيت وکړ؛ چي دا له شك پرته غلطه خبره ده؛ ځکه جَابِر بْن عَبْدِ اللَّهِ، أَنَس بْن مَالِكٍ، ابْن عَبَّاسٍ؛ او عَائِشَةَ رضي الله عنهم ويلي چي احلال مکې ته د داخلېدو په ورځ وو او د حج نيت د ترويه (د ذي الحجې ۸) ورځ وو؛ چي د دغو دواړو ورځو تر منځ له شك پرته درې ورځي وې.

### ۸ باب: له حج، عمرې او جهاد د راستنېدو دعاء

۸۷۳ ـ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا قَفَلَ مِنْ غَزْوٍ أَوْ حَجٍّ أَوْ عُمْرَةٍ، يُكَبِّرُ عَلَى كُلِّ شَرَفٍ مِنَ الأَرْضِ ثَلاثَ تَكْبِيرَاتٍ ثُمَّ يَقُولُ: «لا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ سَاجِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ صَدَقَ اللَّهُ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الأَحْزَابَ وَحْدَهُ». (بخاری: ۱۷۹۷)

۸۷۳ - له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي: رسول الله صلی الله عليه و سلم به کله چي له غزا، حج او عمرې راستنېدو نو په لاري کي به ئې پر هري لوړي درې ځلي تکبيرونه ويل او وروسته به ئې ويل: (له الله پرته بل معبود نه شته، يو دئ؛ شريک ئې نه شته، واکمني د ده ده او ستايني ده ته دي او دی په هر څه قادر دئ؛ خپل رب ته ستنېدونکي، توبه ايستونکي، عبادت کوونکي، سجده کوونکي او ستايونکي يو، الله تعالی خپله وعده رښتينې کړه، له خپل بنده سره ئې مرسته وکړه او يوازې ده د دښمنانو ټولو ډلو ته ماته ورکړه.

په روايت کي د قرآن د يوه آيت دا الفاظ راغلي: آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ

سَاجِدُونَ؛ آیت داسي دئ:

التَّائِبُونَ الْعَابِدُونَ الْحَامِدُونَ السَّائِحُونَ الرَّاكِعُونَ السَّاجِدُونَ الآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَالْحَافِظُونَ لِحُدُودِ اللَّهِ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٢﴾ التوبة

همغه توبه کوونکي، عبادت کوونکي، ستایونکي، (د الله په لوري) سفر کوونکي، رکوع کوونکي، سجده کوونکي، په معروف ګمارونکي، له منکر منع کوونکي او د الله د حدودو ساتونکي؛ او دغو مؤمنانو ته زېرى ورکړه.

دا آیت د هغو مؤمنانو ځانګړتیاوي او مواصفات موږ ته راښيي چي له خپل رب سره ئې دا معامله او مبایعه تر سره کړې چي خپل سر او مال ئې د جنت په بدل کي پر الله تعالى پلورلي؛ دا مبایعه تر دې وړاندي آیت کي داسي ښودل شوې:

إِنَّ ٱللَّهَ ٱشۡتَرَىٰ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَنفُسَهُمۡ وَأَمۡوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ ٱلۡجَنَّةَۚ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيَقۡتُلُونَ وَيُقۡتَلُونَۖ وَعۡدًا عَلَيۡهِ حَقّٗا فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَٱلۡإِنجِيلِ وَٱلۡقُرۡءَانِۚ وَمَنۡ أَوۡفَىٰ بِعَهۡدِهِۦ مِنَ ٱللَّهِۚ فَٱسۡتَبۡشِرُواْ بِبَيۡعِكُمُ ٱلَّذِي بَايَعۡتُم بِهِۦۚ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿١١١﴾ التوبه

یقیناً چي الله له مؤمنانو د دوى سرونه او مالونه اخیستي دي؛ په دې پار چې جنت به ئې په برخه کېږى؛ نو دوى د الله په لار کي جنګېږي، وژني او وژل کېږي؛ رښتینې وعده چي په تورات، انجیل او قرآن کي ئې پر ځان (منلې ده)؛ او تر الله به څوك په خپلي وعدې ډېر وفا کوونکى وي؟ نو پر خپل هغه پېر پلور خوښ اوسئ چي تر سره کړى مو دئ؛ او همدا ستره بریا ده.

وروسته او په ۱۱۲ آیت کي د دې مبایعې او پېر پلور؛ معنى او مقتضیات او د دغو ژمنو مؤمنانو مواصفات داسي ښودل شوي:

- دوی توبه کوونکي دي؛ که معمولي غلطي ترې وشي؛ ژر د خپل رب لوري ته راګرځي او پر خپلې ژمنې د عمل کولو مجدد هوډ کوي.
- دوی عبادت کوونکي دي؛ له خپل رب سره ئې معامله داسې وي لکه د مريي معامله له خپل بادار سره.
- دوی ستايونکي دي؛ تل او په هر حالت کې د خپل رب په ستاينې مشغول وي.
- (د الله په لوري) سفر کوونکي، هر خوځښت ئې د خپل رب لوري ته سفر وي او په هغه لار درومي چې خپل رب ته ئې وررسوي؛ د سائحون ډېر تعبيرونه شوي خو تر ټولو غوره ئې همدا دئ.
- دوی رکوع کوونکي دي؛ تل د خپل رب پر عظمت اعتراف کوي او په وړاندې ئې سر ټيټوي.
- دوی سجده کوونکي دي؛ تل د خپل رب په وړاندې د مضطر او محتاج بنده په توګه تندی پر زمکه ږدي؛ او د الله تعالی پښو ته لوېږي.
- دوی پر معروف ګمارونکي دي؛ دا خپل الهي مأموريت ګڼي چې خلکو ته بلنه ورکړي او پر نېکو کارونو ئې وګماري؛ نه فقط په وينا او دعوت سره؛ بلکې له خپلو ټولو امکاناتو په استفادې سره عملاً خلك شېګڼو او معروف ته چمتو کول؛ ګمارل همدې ته وايي.
- دوی له منکر منع کوونکي دي؛ دا خپل ديني مسئوليت بولي چې د هر کرغېړن او ناروا کار مخنيوی وکړي؛ دا هم نه فقط په وينا او انتقاد سره؛ بلکې عملاً خلك له بدو او منکراتو راګرځول؛ نهي دې ته وايي.
- او دوی د الهي حدودو او د الله د دين د پولو ساتونکي دي؛ نه پرېږدي څوك له دغو حدودو تېر شي او له دغو پولو آخوا واوړي.

دغو مؤمنانو ته زېرى ورکړه چې په رښتيا سره ئې خپله ژمنه تر سره کړې، له الله تعالی سره ئې کړې معامله او معاهده په صادقانه او رښتينې توګه سر ته رسولې او الله تعالی به له دوی سره په خپلې ژمنې وفا کوي.

ګورئ چې له الله تعالی سره د مؤمنانو د بیع او شراء (پېر پلور) دا معاهده څومره درنه ده او څومره ستر ستر مسئولیتونه او دندې د مسلمان پر اوږو ږدي؟!!

رسول الله صلی الله علیه و سلم له غزواتو د راستنېدو په مهال او په خپلې دعاء کې؛ دغو مهمو مطالبو ته اشاره کوله.

٩ باب: د حاجیانو هر کلی

٨٧٤ ـ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ اسْتَقْبَلَتْهُ أُغَيْلِمَةُ بَنِي عَبْدِالْمُطَّلِبِ فَحَمَلَ وَاحِدًا بَيْنَ يَدَيْهِ وَآخَرَ خَلْفَهُ. (بخاری: ١٧٩٨)

٨٧٤ - له ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم چې مکې ته ورسېد؛ د بني عبدالمطلب تنکیو ځوانانو ئې هرکلی وکړ او رسول الله صلی الله علیه و سلم یو هلک خپلې مخې او بل ئې خپلې شا ته ورسره سپور کړ.

١٠ باب: ماښام له سفره راګرځېدل

٨٧٥ ـ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَطْرُقُ أَهْلَهُ، كَانَ لاَ يَدْخُلُ إِلَّا غُدْوَةً أَوْ عَشِيَّةً» (بخاری: ١٨٠٠)

٨٧٥ - له انس رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم به د شپې له لوري د کور دړه نه ټکوله (له سفر راګرځېدا او کور ته ننوتل به ئې داسي نه وو چې له ماښام وروسته او په ناڅاپي توګه د کور دړه وټکوي او داخل شي؛ بلکې سهار او یا له ماسپښین وروسته به کور ته ننوت).

ولې ئې دا کار کولو؟ د دې پوښتني په ځواب کې بېل بېل وجوهات په ګوته شوي او دلائل او موخي ئې ښودل شوې؛ د ځینو کمزورو او نامناسبو توجیهاتو په شمول؛ ښایي مناسبه توجیه ئې فقط دا وي چې

له اوږده سفر وروسته؛ په ناڅاپي توګه او د کورنۍ له خبرولو پرته؛ په شپه کې کور ته ننوتل؛ هم د مېرمني د خفګان، اذيت او بد ګمانۍ باعث کېږي؛ چي ولې ئې له وړاندي احوال نه دئ لېږلی چي لازم تياری ونيسي؛ هم کور او خونه صفا کړي او هم ځان او جامه داسي جوړ کړي چي له خپل مېړه سره د مخامخ کېدو په وخت کې ئې خوښوي؛ نه ئې ځان تيار کړی او نه ئې کور او خونه صفا کړې؛ کېدی شي دا د دواړو د لږ او ډېر خفګان باعث شي او د دوی تر منځ ميني، درناوي، احترام او حتی اعتماد او باور ته صدمه ورسوي؛ او له مېرمني سره دا انديښنه راولاړه کړي او ګمان وکړي چي داسي پټ او بې خبره راتګ به ئې ښايي د دې لپاره وي چي زما په اړه بې اعتماد او شکمن شوی. مناسب صورت دا دئ چي يا خو د ورځي له لوري کور ته ستون شي او يا ئې مېرمن د راتګ له نېټې خبره وي او دا مجال ورکړی شوی وي چي بشپړ او د خپل زړه مطابق تياری ئې نيولی وي. که په مخکي زمانه کې دا کار ګران وو اوس خو ډېر آسان شوی؛ د ټيلفون له لاري کولی شي کورنۍ ته اطلاع ورکړي؛ نه خبرول ئې يقيناً يو ډول بد اخلاقي، بې ادبي او د خپلي کورنۍ په نسبت بې اعتنائي ده او تر ټولو بده ئې دا چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم د سنت او لارښووني خلاف عمل دئ.

۸۷٦ ـ عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَطْرُقَ أَهْلَهُ لَيْلاً. (بخاری: ۱۸۰۱)

۸۷٦ - له جابر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم له دې نهي کړې چي څوك د شپې له لوري د خپل کور دړه په داسي حال کې وټکوي (چي له اوږده سفر راستون شوی او په ناڅاپي توګه او د کورنۍ له خبرولو پرته کور ته ننوتل غواړي).

## ۱۱ باب: مدينې ته له نژدې کېدو وروسته بيړه

۸۷۷ ـ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَدِمَ

مِنْ سَفَرٍ، فَأَبْصَرَ دَرَجَاتِ الْمَدِينَةِ، أَوْضَعَ نَاقَتَهُ وَإِنْ كَانَتْ دَابَّةٌ حَرَّكَهَا»، وزاد فى رواية مِنْ حُبِّهَا. (بخارى: ١٨٠٢)

٨٧٧ – له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به چي له سفره راستون شو؛ او د مديني لوړي (د ونو او ودانيو سرونه) به ئې وليدل؛ نو خپله اوښه به ئې تېزه کړه او كه به بل ځاروى وو نو هغه به ئې وخوځولو؛ او په بل روايت كي (دا هم ويل شوي چي) دا ئې له مديني سره د محبت له امله وو.

## ١٢ باب: سفر يو ډول عذاب دئ

٨٧٨ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «السَّفَرُ قِطْعَةٌ مِنَ الْعَذَابِ يَمْنَعُ أَحَدَكُمْ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ وَنَوْمَهُ فَإِذَا قَضَى نَهْمَتَهُ فَلْيُعَجِّلْ إِلَى أَهْلِهِ». (بخارى: ١٨٠٤)

٨٧٨ – له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (سفر يو ډول عذاب دئ چي انسان له خوړو، څښاك او خوب منع كوي؛ نو كله چي څوك خپل حاجت تر سره كړي؛ د خپلي كورنۍ په لوري دي بېره وكړي).

تكرار: دا روايت په بخاري كي ٢ ځلي په دغو شمېرو راغلى: ١٨٠٤ - ٥٤٢٩

توپير: د دواړو راويان په څلورو طبقو كي سره ورته خو په پنځمه طبقه كي د يوه عَبْد اللَّهِ بْن مَسْلَمَة او د بل أَبُو نُعَيْمٍ دئ؛ د متن له پلوه ئې توپير يوازي دومره دئ چي په يوه كي دا راغلي (فَإِذَا قَضَى نَهْمَتُهُ مِنْ وَجْهِهِ: كله چي هغه څه تر سره شي چي هڅه ئې د هغه لپاره وه؛ نو د خپلي كورنۍ لوري ته دي تلوار وكړي)؛ او په بل كي يوازي نَهْمَتَهُ راغلي.

# ۲۸ كتاب: المُحْصَرِ... (له عمرې ايسار كړی شوی)

## ۱ باب: كه عمره كوونكی له مانع سره مخ شي

٨٧٩ ـ عن ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما قال: قَدْ أُحْصِرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَلَقَ رَأْسَهُ وَجَامَعَ نِسَاءَهُ وَنَحَرَ هَدْيَهُ حَتَّى اعْتَمَرَ عَامًا قَابِلاً. (بخارى: ١٨٠٩)

۸۷۹ - له ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د عمرې له اداء كولو ايسار كړی شو (په حديبيه كي)؛ نو له احرام ووتلو؛ د سر وېښتان خرېيل، جامې بدلول، له مېرمنو سره نژدېكت ورته جائز شو او هدي ئې ذبح كړ؛ تر هغه چي عمره ئې په راتلونكي كال كي اداء كړه.

## ۲ باب: په حج كي احصار (ايسارېدا)

٨٨٠ ـ عن ابْن عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما يَقُولُ: أَلَيْسَ حَسْبُكُمْ سُنَّةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ حُبِسَ أَحَدُكُمْ عَنِ الْحَجِّ طَافَ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ حَلَّ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ حَتَّى يَحُجَّ عَامًا قَابِلاً فَيُهْدِى أَوْ يَصُومُ إِنْ لَمْ يَجِدْ هَدْيًا. (بخارى: ١٨١٠)

۸۸۰ - له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي ويل ئې: آيا د رسول الله صلى الله عليه و سلم سنت درته كافي نه دئ؟ كه له تاسو كوم يو له حج ايسار كړی شو؛ نو د بيت الله طواف او د صفا او مروه تر منځ دي سعي وكړي او بيا دي له احرام ووځي (هر هغه څه دي ځان ته حلال وګڼي چي د حج له وجهي ورته حرام وو)؛ او په راتلونكي كال كي دي حج وكړي؛ نو له دې كبله دي يا قرباني وكړي او كه ئې وس نه لري

نو روژه دي ونيسي.

په دې روايت کې جدي ستونزه تر سترګو کېږي؛ او هغه دا چې رسول الله صلى الله عليه و سلم او ياران ئې په حديبيه کې مکې ته له ننوتو او د عمرې له اداء کولو منع شول؛ نه ئې طواف کړی او نه د صفا او مروه سعي؛ په دې اړه امت متفق دئ؛ اما له دې روايت داسي معلومېږي چې ګواکې رسول الله صلى الله عليه و سلم طواف او سعي کړې او له احرام وتلی؛ او ګواکې د احصار په صورت کې همداسي کول د رسول الله صلى الله عليه و سلم سنت دئ!! په دې روايت همدا نيوکه ابن حزم لري او وايي:

ولا خلاف بين أحد من الأمة كلها أن النبى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذ صُدَّ عَنِ البيت لَمْ يَطُف به وَلَا بالصفا والمروةِ بَل أَحَلَّ حيث كان بالحديبية ولا مزيد؛ وهذا الذى ذكره ابن عمر لم يقع قط لرسوله صلى الله عليه و سلم

په ټول امت کې هيڅوك له دې سره اختلاف نه لري چې کله بيت الله ته له رسېدو د رسول الله صلى الله عليه و سلم مخنيوی وشو؛ نو نه ئې د بيت الله طواف کړی او نه د صفا او مروه سعي؛ بلکې په همغه د حديبيې په کوم ځای کې چې وو؛ له احرام وتلی؛ نه تر دې زيات بل څه؛ او دا څه چې ابن عمر ذکر کړي؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم په ارتباط قطعاً نه دي واقع شوي.

هر څوك پوهېږي چې دا روايت له هغه څه سره هيڅ اړخ نه لګوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم او يارانو ئې په حديبيه کې او د احصار په حالت کې کړي؛ نه مکې ته ننوتلي، نه ئې طواف کړی او نه د صفا او مروه سعي!! په بخاري او د حديث بل کتاب کې د داسي غلط روايت راوړل ډېر ډېر عجيب برېښي!!

## ٣ باب: د احصار په صورت کي بايد قرباني د سر وېښتانو له خرېيلو

وړاندي وي

٨٨١ ـ عَنِ الْمِسْوَرِ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحَرَ قَبْلَ أَنْ يَحْلِقَ وَأَمَرَ أَصْحَابَهُ بِذَلِكَ. (بخاری: ١٨١١)

٨٨١ - له مسور رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د وېښتانو تر خرېيلو وړاندي؛ هدي ذبح کړه او خپلو يارانو ته ئې د همدې امر وکړ.

په دې روايت کي د حديبيې صلحي اړوند حالت ته اشاره شوې چي قريشو د رسول الله صلی الله علیه و سلم او يارانو ئې مخنيوی وکړ او دې ته ئې پرېښنښودل چي مکې ته داخل شي او عمره اداء کړي؛ همدې ته احصار ويل کېږي.

٤ باب: دا آيت: «أَوْ صَدَقَةٍ»

٨٨٢ ـ عن كَعْب بْنَ عُجْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: وَقَفَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحُدَيْبِيَةِ وَرَأْسِى يَتَهَافَتُ قَمْلاً فَقَالَ: «يُؤْذِيكَ هَوَامُّكَ؟» قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: «فَاحْلِقْ رَأْسَكَ ـ أَوْ قَالَ: احْلِقْ» قَالَ: فِيَّ نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةَ: (فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ) إِلَى آخِرِهَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «صُمْ ثَلاثَةَ أَيَّامٍ؛ او تَصَدَّقْ بِفَرَقٍ بَيْنَ سِتَّةٍ؛ او انْسُكْ بِمَا تَيَسَّرَ». (بخاری: ١٨١٥)

٨٨٢ - له کعب بن عُجره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: په حديبيه کي رسول الله صلی الله علیه و سلم په داسي حال کي راته ودرېد چي زما له سر سپږي تويېدې؛ نو وئې فرمايل: (سپږي دي ځوروي؟)؛ عرض مي وکړ: هو؛ وئې فرمايل: (وېښتان دي وخرېيه) او يا ئې وفرمايل: «وئې خرېيه»؛ کعب رضي الله عنه وايي: دا آيت زما په اړه نازل شوی دئ: ((فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ... نو که له تاسو څوک بېمار وي او يا د سر له پلوه ځورېږي؛ نو

(كولى شي وېښتان وخرييي)؛ بيا د روژې يا صدقې يا قربانۍ فديه پرې لازمه ده...))؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (يا درې ورځې روژه ونيسه يا د يوه فَرَق پيمانه خواړه شپږو نفرو ته صدقه کړه او يا هغه څه قرباني کړه چې درته آسانه وي).

تكرار: دا روايت په بخاري کې ۵ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۸۱۵ - ۱۸۱۶ - ۴۱۹۰ - ۴۵۱۷ – ۵۷۰۳؛ غريب دئ؛ په ٦ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: مُسَدَّد، حَمَّاد، أَيُّوب، مُجَاهِد، ابْنِ أَبِي لَيْلَى او كَعْب بْن عُجْرَة.

توپير: په يوه کې وَرَأْسِي يَتَهَافَتُ قَمْلًا په بل کې وَالقَمْلُ يَتَنَاثَرُ عَلَى وَجْهِي، په يوه کې فَقَالَ: «يُؤْذِيكَ هَوَامُّكَ؟»، په بل کې«أَيُؤْذِيكَ هَوَامُّ رَأْسِكَ؟» په يوه کې فَقَالَ: ««مَا كُنْتُ أُرَى الوَجَعَ بَلَغَ بِكَ مَا أَرَى؛ أَوْ مَا كُنْتُ أُرَى الجَهْدَ بَلَغَ بِكَ مَا أَرَى؛ تَجِدُ شَاةً؟» په بل کې «مَا كُنْتُ أُرَى أَنَّ الْجَهْدَ قَدْ بَلَغَ بِكَ هَذَا، أَمَا تَجِدُ شَاةً؟» په يوه کې «صُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ؛ او تَصَدَّقْ بِفَرَقٍ بَيْنَ سِتَّةٍ؛ او انْسُكْ بِمَا تَيَسَّرَ» په بل کې وَصُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ؛ او أَطْعِمْ سِتَّةَ مَسَاكِينَ؛ او انْسُكْ نَسِيكَةً» او په بل کې أَمَا تَجِدُ شَاةً». قُلْتُ: لَا، قَالَ: «صُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ؛ او أَطْعِمْ سِتَّةَ مَسَاكِينَ لِكُلِّ مِسْكِينٍ نِصْفُ صَاعٍ مِنْ طَعَامٍ، وَاحْلِقْ رَأْسَكَ» په يوه کې قَالَ أَيُّوبُ: «لَا أَدْرِي بِأَيِّ هَذَا بَدَأَ» په بل کې قَالَ أَيُّوبُ: لَا أَدْرِي بِأَيَّتِهِنَّ بَدَأَ؛ په يوه کې قَالَ: فِيَّ نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ {فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ} [البقرة: ١٩٦] إِلَى آخِرِهَا، په بل کې فَنَزَلَتْ فِيَّ خَاصَّةً وَهْيَ لَكُمْ عَامَّةً راغلي.

له دې رواياتو داسې معلومېږي چې (فَرَق) د مدينې د خلكو هغه پيمانه وه چې له درې صاع سره برابره وه؛ د دومره خوراکي توکيو د وزن معادل چې د شپږو تنو د يوې ورځې لپاره كفايت كوي؛ هر يوه ته نيم صاع.

په روايت کې راغلي چې كعب بن عجره رضي الله عنه وويل: دا آيت خاص زما په اړه نازل شوی؛ آيا دا خبره صحيح ده؟ ځواب ځرگند دئ؛

چې دا آیت تر دې پېښې ډېر وړاندې نازل شوی؛ دا د بقرې سورې آیت دئ چې د حدیبیې تر پېښې ډېر وړاندې نازله شوې ده؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم د همدې آیت له مخې ده ته ویلې: (یا درې ورځې روژه ونیسه یا د یوه فَرَق پیمانه خواړه شپږو نفرو ته صدقه کړه او یا هغه څه قرباني کړه چې درته آسانه وي). په روایاتو کې به ډېر داسې مواردو سره مخامخ شئ چې یوه پېښه د کوم آیت شأن نزول ګڼل شوې؛ په داسې حال کې چې اړوند آیت به تر پېښې ډېر وړاندې نازل شوی وي؛ همداسې لکه چې په دې روایت کې مو ولیدل؛ هغه څوك پرې پوهېدی شي چې په قرآن پوه وي؛ ستونزه له دې رامنځته کېږي چې ځیني د آیت مصداق او شأن نزول نه شي سره بېلولی؛ شأن نزول د آیت تر نازلېدو وړاندې پېښه وي؛ اما مصداق ئې؛ وروسته تر قیامت پوري مشابه پېښې.

## ۵ باب: د فدیې اندازه نیمه پیمانه ده

۸۸۳ ـ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَعْقِلٍ، قَالَ: جَلَسْتُ إِلَى كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، فَسَأَلْتُهُ عَنِ الفِدْيَةِ، فَقَالَ: نَزَلَتْ فِيَّ خَاصَّةً، وَهِيَ لَكُمْ عَامَّةً، حُمِلْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالقَمْلُ يَتَنَاثَرُ عَلَى وَجْهِي، فَقَالَ: «مَا كُنْتُ أُرَى الوَجَعَ بَلَغَ بِكَ مَا أَرَى - أَوْ مَا كُنْتُ أُرَى الجَهْدَ بَلَغَ بِكَ مَا أَرَى - تَجِدُ شَاةً؟» فَقُلْتُ: لاَ، فَقَالَ: «فَصُمْ ثَلاَثَةَ أَيَّامٍ، او أَطْعِمْ سِتَّةَ مَسَاكِينَ، لِكُلِّ مِسْكِينٍ نِصْفَ صَاعٍ» (بخاری: ۱۸۱۶)

۸۸۳ – له عبدالله بن مَعْقِل روایت دئ چې وایي: له کعب بن عُجْرَه رضي الله عنه سره کښېناستم او د فدیې په اړه مي وپوښتلو؛ نو وئې ویل: دا آیت زما په اړه خاص نازل شوی؛ او ستاسو لپاره په عامه توګه؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم لوري ته بېول شوم؛ په داسې حال کې چې سپږې مي پر مخ خورېدې؛ وئې فرمایل: (داسې مي نه انګېرل چې

درد به دي هغه حد ته رسېدلی وي چي اوس ئې وينم)؛ او يا دا چي (نه مي انگېرل چي كړاو به دي هغه حد ته رسېدلی وي چي اوس ئې وينم): (آيا كوم پسه لرې؟) ومي ويل: نه؛ نو وئې فرمايل: نو درې ورځي روژه ونيسه يا شپږو مسكينانو ته خواړه وركړه؛ هر يوه ته نيمه صاع (پيمانه).

دا د مخكيني روايت تكرار دئ؛ تفصيلات ئې هلته وگورئ.

## ٢٩ كتاب: د ښكار فديه (كفاره)

### ١ باب: محرم هغه ښكار خوړلی شي چي غير محرم ئې ورته اهداء كړي

٨٨٤ ـ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: انْطَلَقْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فَأَحْرَمَ أَصْحَابُهُ وَلَمْ أُحْرِمْ، فَأُنْبِئْنَا بِعَدُوٍّ بِغَيْقَةَ فَتَوَجَّهْنَا نَحْوَهُمْ، فَبَصُرَ أَصْحَابِي بِحِمَارِ وَحْشٍ فَجَعَلَ بَعْضُهُمْ يَضْحَكُ إِلَى بَعْضٍ فَنَظَرْتُ فَرَأَيْتُهُ فَحَمَلْتُ عَلَيْهِ الْفَرَسَ فَطَعَنْتُهُ فَأَثْبَتُّهُ فَاسْتَعَنْتُهُمْ فَأَبَوْا أَنْ يُعِينُونِي فَأَكَلْنَا مِنْهُ ثُمَّ لَحِقْتُ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَخَشِينَا أَنْ نُقْتَطَعَ، أَرْفَعُ فَرَسِى شَأْوًا، وَأَسِيرُ عَلَيْهِ شَأْوًا فَلَقِيتُ رَجُلاً مِنْ بَنِي غِفَارٍ فِي جَوْفِ اللَّيْلِ، فَقُلْتُ: أَيْنَ تَرَكْتَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ فَقَالَ: تَرَكْتُهُ بِتَعْهَنَ وَهُوَ قَايِلٌ السُّقْيَا، فَلَحِقْتُ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَتَيْتُهُ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أَصْحَابَكَ أَرْسَلُوا يَقْرَءُونَ عَلَيْكَ السَّلامَ وَرَحْمَةَ اللَّهِ وَبَرَكَاتِهِ، وَإِنَّهُمْ قَدْ خَشُوا أَنْ يَقْتَطِعَهُمُ الْعَدُوُّ دُونَكَ فَانْظُرْهُمْ، فَفَعَلَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا اصَّدْنَا حِمَارَ وَحْشٍ وَإِنَّ عِنْدَنَا فَاضِلَةً فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لأَصْحَابِهِ: «كُلُوا» وَهُمْ مُحْرِمُونَ. (بخاری: ١٨٢١)

۸۸٤ - له ابو قتاده رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د حديبې په کال له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره روان شوو، نورو يارانو ئې احرام وتړلو؛ خو ما ونه تړلو؛ او د غَيْقَه په سيمه کي د دښمن په اړه خبر راکړل شو، نو د هغوی په لوري مو مخه کړه؛ زما ملګرو يو وحشي خر وليد او يوه بل ته په خندا شول؛ ما هغه لوري ته وکتلو او ومي ليدو؛ خپل آس مي وروځغلاوو، په نېزه مي وواهو او له پښو مي وغورځاوو، له ملګرو مي مرسته وغوښتله خو هغوی له دې ډډه وکړه چي مرسته راسره وکړي، له هغه مو څه برخه وخوړله؛ بيا په رسول الله صلی الله علیه و سلم پسي ورغلو او وډار شوو چي (دښمن) مو سره بېل نه کړي (زموږ تر منځ حائل نه شي)؛ نو کله به مي آس ځغلاوو او کله به مي سوکه او عادي روان کړی وو، په نيمه شپه کي مي د بني غفار يو سړی وليدو او پوښتنه مي ترې وکړه: رسول الله صلی الله علیه و سلم دي چېري تر شا پرېښود؟ هغه وويل: په (تَعْهَن) کي؛ غواړي غرمه په (سُقْيَا) کي تېره کړي، ورپسې وخوځېدم تر هغه چي وررورسېدم؛ نو ومي ويل: يا رسول الله! يارانو دي تا ته سلام او د الله تعالی رحمت او برکتونه لېږلي او وېرېدل چي له تا لري پاته نه شي، نو انتظار ورته وکړه، نو همداسي ئې وکړل؛ ومي ويل: يا رسول الله! يو وحشي خر مي ښکار کړ او څه (غوښه) ئې راسره پاته ده؛ نو خلکو ته ئې وفرمايل: (وئې خورئ) حال دا چي هغوی په احرام کي وو.

تکرار: دا روايت په بخاري کي ۲ ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۱۸۲۱ - ۱۸۲۲ – مطلق غريب دئ؛ په ۳ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: يَحْيَى، عَبْد اللَّه بْنِ أَبِي قَتَادَةَ؛ او پلار ئې ابو قتاده.

توپير: د يوه راويان دا دي: مُعَاذ بْن فَضَالَةَ، هِشَام، يَحْيَى، عَبْد اللَّه بْن أَبِي قَتَادَةَ؛ او پلار ئې ابو قتاده او د بل دا: سَعِيد بْن الرَّبِيعِ، عَلِي بْن الْمُبَارَكِ، يَحْيَى، عَبْد اللَّه بْنِ أَبِي قَتَادَةَ؛ او ابو قتاده؛ په يوه کي فَنَظَرْتُ فَإِذَا أَنَا بِحِمَارِ وَحْشٍ او په بل فَنَظَرْتُ فَرَأَيْتُهُ په يوه کي قَدْ خَشُوا أَنْ

يُقْتَطَعُوا دُونَكَ فَانْتَظِرْهُمْ په بل کې قَدْ خَشُوا أَنْ يَقْتَطِعَهُمُ العَدُوُّ دُونَكَ فَانْظُرْهُمْ، فَفَعَلَ راغلي. يعني چې بخاري يوازې د وروستيو دوو راويانو له کبله دا روايت دوه ځلي راوړی؛ نه په متن کې د خاص توپير له کبله.

## ٢ باب: محرم دې د ښکار په نيولو کې له غير محرم سره مرسته نه کوي

٨٨٥ ـ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالقَاحَةِ، وَمِنَّا المُحْرِمُ، وَمِنَّا غَيْرُ المُحْرِمِ، فَرَأَيْتُ أَصْحَابِي يَتَرَاءَوْنَ شَيْئًا، فَنَظَرْتُ، فَإِذَا حِمَارُ وَحْشٍ يَعْنِي وَقَعَ سَوْطُهُ، فَقَالُوا: لاَ نُعِينُكَ عَلَيْهِ بِشَيْءٍ، إِنَّا مُحْرِمُونَ، فَتَنَاوَلْتُهُ، فَأَخَذْتُهُ ثُمَّ أَتَيْتُ الحِمَارَ مِنْ وَرَاءِ أَكَمَةٍ، فَعَقَرْتُهُ، فَأَتَيْتُ بِهِ أَصْحَابِي، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: كُلُوا، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: لاَ تَأْكُلُوا، فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ أَمَامَنَا، فَسَأَلْتُهُ، فَقَالَ: «كُلُوهُ، حَلاَلٌ» (بخاری: ١٨٢٣)

٨٨٥ – له ابو قتادة رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: له نبي صلی الله عليه و سلم سره د قَاحَة په سيمه کې وو؛ ځيني مو محرم ول (احرام ئې تړلی وو) او ځيني غير محرم؛ پام مې شو چې ملګري مې يو بل ته څه ښيي؛ ما چې وکتل يو وحشي خر وو؛ متروکه ئې ولوېده؛ له ملګرو ئې مرسته وغوښتله؛ هغوی وويل: موږ دې په دې اړه مرسته نه شو کولی؛ موږ محرم يو؛ نو چاره مې وکړه او راوامې خستله؛ بيا د يوه کمر له شا وحشي خره ته ورغلم نو زخمي او ذبح مې کړ؛ او خپلو ملګرو ته مې راوړ؛ ځينو وويل: وئې خورئ او نورو وويل: مه ئې خورئ؛ بيا په داسې حال کې نبي صلی الله عليه و سلم ته راغلم چې تر موږ مخکې وو؛ نو پوښتنه مې ترې وکړه؛ وئې فرمايل: وئې خورئ؛ حلال دئ.

لکه چې ګورئ دا روايت له مخکيني سره ورته دئ او موضوع ئې يوه ده؛ خو تر مخکيني جامع او واضح دئ؛ په دې کې ويل شوي چې ځيني مو مُحْرِم او ځيني غير مُحْرِم وو؛ په مخکيني کې دا وضاحت نه

دئ شوی؛ په دې کې ویل شوي چې متروکه ترې ولوېده او ملګرو ئې د متروکې په اخیستلو کې مرسته ونه کړه؛ په مخکیني کې دا خبره نه ده شوې.

## ۳ باب: محرم باید غیر محرم ته ښکار په ګوته هم ورونه ښیي

۸۸۶ - وَعَنهُ فِي رِوَايَةٍ: أنهم لَمَّا أَتَوْا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَمِنْكُمْ أَحَدٌ أَمَرَهُ أَنْ يَحْمِلَ عَلَيْهَا أَوْ أَشَارَ إِلَيْهَا» قَالُوا: لا، قَالَ: «فَكُلُوا مَا بَقِيَ مِنْ لَحْمِهَا». (بخاری: ۱۸۲٤)

۸۸۶ – له ابو قتاده رضي الله عنه په بل روایت کې راغلي: هغوی چې کله رسول الله صلی الله علیه و سلم ته راغلل؛ ورته وئې فرمایل: (آیا له تاسو کوم یوه هغه (ابو قتاده) ته امر کړی چې ښکار ئې کړي او یا ئې د ښکار لوري ته اشاره کړې؟ وئې ویل: نه؛ وئې فرمایل: (نو د ښکار پاته غوښه وخورئ).

د دې روایت په اړه څو وضاحتونه ضروري دي:

دا مطلب د مخکینیو روایاتو یوه مهمه برخه ده چې په هغوی کې نه ده راغلې؛ په دې سره د هغوی یوه جدي تشه ډکېږي؛ او نیمګړتیا ئې بشپړه کېږي.

د دې روایت بشپړ متن داسې دئ:

۱۸۲٤ -عن عَبْدِ اللَّهِ بْن أَبِي قَتَادَةَ، أَنَّ أَبَاهُ، أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ حَاجًّا، فَخَرَجُوا مَعَهُ، فَصَرَفَ طَائِفَةً مِنْهُمْ فِيهِمْ أَبُو قَتَادَةَ، فَقَالَ: «خُذُوا سَاحِلَ البَحْرِ حَتَّى نَلْتَقِيَ» فَأَخَذُوا سَاحِلَ البَحْرِ، فَلَمَّا انْصَرَفُوا، أَحْرَمُوا كُلُّهُمْ إِلَّا أَبُو قَتَادَةَ لَمْ يُحْرِمْ، فَبَيْنَمَا هُمْ يَسِيرُونَ إِذْ رَأَوْا حُمُرَ وَحْشٍ، فَحَمَلَ أَبُو قَتَادَةَ عَلَى الحُمُرِ فَعَقَرَ مِنْهَا أَتَانًا، فَنَزَلُوا فَأَكَلُوا مِنْ لَحْمِهَا، وَقَالُوا: أَنَأْكُلُ لَحْمَ صَيْدٍ وَنَحْنُ مُحْرِمُونَ؟ فَحَمَلْنَا مَا بَقِيَ مِنْ لَحْمِ الأَتَانِ، فَلَمَّا أَتَوْا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا: يَا

رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا كُنَّا أَحْرَمْنَا، وَقَدْ كَانَ أَبُو قَتَادَةَ لَمْ يُحْرِمْ، فَرَأَيْنَا حُمُرَ وَحْشٍ فَحَمَلَ عَلَيْهَا أَبُو قَتَادَةَ، فَعَقَرَ مِنْهَا أَتَانًا، فَنَزَلْنَا، فَأَكَلْنَا مِنْ لَحْمِهَا، ثُمَّ قُلْنَا: أَنَأْكُلُ لَحْمَ صَيْدٍ وَنَحْنُ مُحْرِمُونَ؟ فَحَمَلْنَا مَا بَقِيَ مِنْ لَحْمِهَا، قَالَ: «أَمِنْكُمْ أَحَدٌ أَمَرَهُ أَنْ يَحْمِلَ عَلَيْهَا، او أَشَارَ إِلَيْهَا». قَالُوا: لاَ، قَالَ: «فَكُلُوا مَا بَقِيَ مِنْ لَحْمِهَا»

لکه چي گورئ دا روايت له مخکينيو سره ژور توپيرونه لري؛ که څه هم لومړني دوه راويان ئې سره ورته (ابو قتاده او زوی ئې عبد الله) دي؛ موضوع ئې هم يوه ده او د يوه سفر پېښه بيانوي؛ خو تفاوتونه ئې دومره دي لکه چي دا او مخکيني د بېلو بېلو سفرونو خبره کوي؛ په دې کې څو خبري له مخکينيو سره توپير لري:

- دلته ويل شوي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د حج په موخه له ځينو سره ووتو؛ او يوه ډله چي أبو قتاده هم په کې وو له دوی په بل لوري روان شول او أبو قتاده ورته وويل: د بحر ساحل ونيسئ تر هغه چي له نورو سره يو ځای شو؛ کله چي روان شول له أبو قتاده پرته نورو ټولو احرامونه وتړل؛ کله چي دوی روان وو ناڅاپي ئې يوه ډله وحشي خره وليدل؛ ابو قتاده پر خرو بريد وکړ او يوه خره ئې ژوبله او ذبح کړه؛ نو ټول کوز شول او د هغې غوښه ئې وخوړه؛ او وئې ويل: آيا په داسي حال کې د ښکار غوښه خورو چي په احرام کې يو؟ نو د خرې پاته غوښه مو له ځان سره واخيستله؛ کله چي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته راغلل وئې ويل: يا رسول الله! موږ احرامونه وتړل او ابو قتاده احرام ونه تړلو؛ وحشي خره مو وليدل؛ ابو قتاده پرې بريد وکړ او يوه خره ئې ژوبله او ذبحه کړه؛ نو کوز شوو او غوښه مو وخوړله؛ بيا مو په خپلو کې وويل: آيا په داسي حال کې د ښکار غوښه خورو چي په احرام کې يو؟ نو د خرې پاته غوښه مو له ځان سره واخيستله؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم ورته وفرمايل: (آيا له تاسو کوم يوه هغه (ابو قتاده) ته امر کړی چي ښکار ئې کړي او يا ئې د ښکار لوري ته اشاره کړې؟

وئې ویل: نه؛ وئې فرمایل: (نو د ښکار پاته غوښه وخورئ).

• که مخکیني روایات له دې سره پرتله کړو نو ویلی شو: دا بشپړ دئ او هغه نور ټول نه یوازي نیمګړي دي بلکي ډېري ستونزي لري او مطلب ئې په سمه او بشپړه توګه نه دئ منعکس کړی؛ له دوی ټولو یوازي دا غوره کولی شو؛ نور ئې ډېر ابهامات لري او مهم ضروري مطالب په کې نه دي راغلي. د دې لپاره هیڅ توجیه نه شو موندلی چي ولې د دې روایت په شتون کې داسي روایات هم د لوستونکي مخې ته ایښودل شوي چي نیمګړي دي، ابهامات لري او ستونزي زېږوي؟!!

• آیا داسي څوك شته چي د بخاري لوستونکو ته ووایي: د دې روایاتو کومي کومي خبري صحیح دي: دا چي ځیني په احرام کې او ځیني نه؛ او که له ټولو یوازي ابو قتاده احرام نه وو تړلی؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لومړی ابو قتاده رسېدلی که د هغه ملګري؟ دا قصه خپله ابو قتاده رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وکړه او که ملګرو ئې؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم کله هغوی ته وویل چي غوښه ئې وخورئ؛ تر دې پوښتني وروسته چي (آیا له تاسو کوم یوه هغه (ابو قتاده) ته امر کړی چي ښکار ئې کړي او یا ئې د ښکار لوري ته اشاره کړې؟) او که تر دې وړاندي؟ په دغو متعارضو روایاتو کې به کوم ته ترجیح ورکوو او د کوم دلیل له مخې؟ امام بخاري ولې دا متعارض روایت له ترجیح پرته راوړي او پر یوه او تر ټولو صحیح او بشپړ ئې اکتفاء نه ده کړې؟ آیا څوك شته چي د دې پوښتنو ځواب ووایي؟ پرته له دې چي ووایي: په دې روایاتو کې یقیناً چي ژور تعارضات شته؛ یوازي یو ئې صحیح ګڼلی شو او د صحیح په شتون کې د ناقصو روایاتو راوړل قطعاً مناسب نه دي.

### ٤ باب: که محرم ته وحشي خر ژوندی په سوغات کي ورکړل شي، نه دې مني

٨٨٧ ـ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما عَنِ الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ اللَّيْثِيِّ رَضِيَ

اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ أَهْدَى لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِمَارًا وَحْشِيًّا وَهُوَ بِالأَبْوَاءِ أَوْ بِوَدَّانَ فَرَدَّهُ عَلَيْهِ فَلَمَّا رَأَى مَا فِي وَجْهِهِ قَالَ: «إِنَّا لَمْ نَرُدَّهُ عَلَيْكَ إِلَّا أَنَّا حُرُمٌ». (بخاری: ۱۸۲۵)

۸۸۷ – له عبدالله بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روايت دئ چې صَعْب بن جَثَّامَةَ الليثي رضي الله عنه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته په داسې حال کې يو وحشي خر هديه کړ چې دی په (ابواء: د مدينې او مکې تر منځ يو خوړ دئ چې سېلابونه په کې راغونډېږي) يا (ودان: د الأبواء او الجحفة تر منځ يو ځای دئ) کې وو؛ خو بېرته ئې هغه ته ورکړ؛ کله چې ئې هغه څه وليدل چې د ده په څېره کې وو؛ (د خفګان نښې ئې وليدې) وئې فرمايل: (دا مو له دې پرته له کومې بلې وجهې بېرته نه دئ درګرځولی مګر دا چې موږ په احرام کې يو).

تکرار: دا روايت په بخاري کې ۳ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۱۸۲۵ - ۲۵۷۳ - ۲۵۹۶ - غريب دئ؛ په صحابه وو کې دوه او په نورو کې يو يو راوي لري چې دا دي: مَالِك، ابْنِ شِهَاب، عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُود، عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ.

توپير: يو تفاوت ئې په څلورمې او پنځمې طبقې راويانو کې دئ او په متن کې صرف دا توپير دي چې په يوه کې لَيْسَ بِنَا رَدٌّ عَلَيْكَ وَلَكِنَّا حُرُمٌ: له موږ سره ئې تا ته د ردولو کومه وجه نه شته؛ خو موږ محرم يو؛ او په نورو کې إِنَّا لَمْ نَرُدَّهُ عَلَيْكَ إِلَّا أَنَّا حُرُمٌ: موږ تا ته نه دئ رد کړی مګر له دې کبله چې موږ محرم يو؛ راغلي.

## ۵ باب: هغه شيان چې مُحْرِمِ ئې په حرم کې وژلی شي

۸۸۸ ـ عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «خَمْسٌ مِنَ الدَّوَابِّ كُلُّهُنَّ فَاسِقٌ يَقْتُلُنَّ فِي الْحَرَمِ الْغُرَابُ، وَالْحِدَأَةُ، وَالْعَقْرَبُ، وَالْفَأْرَةُ، وَالْكَلْبُ الْعَقُورُ». (بخاری: ۱۸۲۹)

٨٨٨ – له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (پنځه ژوي داسي دي چي ټول ضرري او ناکاره دي او په حرم کي هم وژل کېدی شي: کارغه، باښه، لړم، موږک او داړونکی سپی).

دا روایت په بخاري کي ٤ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٨٢٦- ١٨٢٨ - ١٨٢٩ - ٣٣١٥ - غریب دئ؛ په صحابه وو کي دوه راویان لري چي عبد الله بن عمر او عائشه رضي الله عنهم دي او په نورو طبقو کي یو یو راوي.

٨٨٩ ـ عَنْ عَبْدِاللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَارٍ بِمِنًى إِذْ نَزَلَ عَلَيْهِ (وَالْمُرْسَلاتِ) وَإِنَّهُ لَيَتْلُوهَا وَإِنِّي لأَتَلَقَّاهَا مِنْ فِيهِ، وَإِنَّ فَاهُ لَرَطْبٌ بِهَا، إِذْ وَثَبَتْ عَلَيْنَا حَيَّةٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اقْتُلُوهَا» فَابْتَدَرْنَاهَا فَذَهَبَتْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وُقِيَتْ شَرَّكُمْ كَمَا وُقِيتُمْ شَرَّهَا». (بخاری: ١٨٣٠)

٨٨٩ – له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: په داسي حال کي چي موږ له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره د (منٰی) په یوه غار کي وو چي د (والمرسلات) سوره پرې نازله شوه؛ او هغه لوستله او ما ئې له خولې تر لاسه کوله (زده کوله)؛ او لا ئې خوله په هغې لمده (لنده) وه چي یوه مار پر موږ حمله وکړه؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (مړ ئې کړئ)؛ موږ ورپسي ورغلو؛ خو مار ولاړ؛ بیا رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (هغه ستاسو له شر او ضرر داسي وژغورل شو لکه چي تاسو ئې له شر وژغورل شوئ).

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: عُمَر بْن حَفْصِ بْنِ غِيَاث، پلار ئې حفص، الأَعْمَش، إِبْرَاهِيم، الأَسْوَدِ او عَبْدِ اللَّهِ بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

٨٩٠ ـ عَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِلْوَزَغِ: «فُوَيْسِقٌ» وَلَمْ أَسْمَعْهُ أَمَرَ بِقَتْلِهِ.(بخارى: ١٨٣١)

٨٩٠ - د رسول الله صلى الله عليه و سلم له مېرمني عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ځرمښکۍ د (فُوَيسِق: وړه زيان رسوونکې) په نامه ياده کړې ده؛ خو دا مي نه دي ترې اورېدلي چي د وژلو امر ئې کړی وي.

تکرار: د ځرمښکۍ په اړه بخاري کي دوه نور روايات هم په دغو شمېرو راغلي: ٣٣٠٦ - ٣٣٥٩ -

توپیر: په دواړو کي ويل شوي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې د وژلو امر کړی (أَمَرَ بِقَتْلِهِ) او (أَمَرَ بِقَتْلِ الوَزَغِ)؛ دا هم پرې علاوه شوي: كَانَ يَنْفُخُ عَلَى إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ: يعني ځرمښکۍ به د ابراهيم عليه السلام د سوزولو هغه اور ته پو کول چي نمرود د ده د سوزولو لپاره بل کړی وو؛ په دې موخه چي اور لا تېز کړي.

امام بخاري نه دي ويلي چي په دغو متعارضو راوياتو کي کوم يو صحيح دئ: ١- هغه چي يوازي د پنځو نورو مضرو ژوو نوم په کي اخيستل شوی او د ځرمښکۍ نه؛ ٢- د عائشې رضي الله عنها روايت چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي د هغې د وژلو خبره نه ده اورېدلې؛ ٣- هغه روايات چي وايي په کورونو کي له تاسو سره اوسېدونکي ژوي؛ د يوه ډول کورني مارانو په شمول مه وژنئ؛ او معلومه ده چي ځرمښکۍ په دوی کي شامله ده؛ ٤- او د بخاري دغه روايت چي وايي: وئې وژنئ؟! امام بخاري د دې وضاحت نه دئ کړی. د داسي متعارضو رواياتو له منځ د يوه انتخاب فقيه ته ضرورت لري؛ په قرآن او حديث پوه فقيه ته؛ فقهاءو او د مذاهبو ائمه وو همدا کار کړی؛ په امت کي د موضوعي، جعلي، ضعيفو او متعارضو رواياتو له کبله شديد اختلافات رامنځته شوی وو؛ شمېر ئې لکونو ته رسېدلی، فقهاءو د فتنې

د ختمولو لپاره ملا وتړله؛ روايات ئې وچڼل، کره او ناکره؛ صحيح او ناصحيح ئې سره بېل کړل؛ د امت پوښتنو او غوښتنو ته ئې ځوابونه وويل؛ مخکيني پراخ او بې مهاره اختلافات ئې مهار کړل؛ هر يوه ئې په مليونونو مسلمانان په يوه صف کې ودرول؛ يقيناً چې د دوی په صادقانه هڅو سره د يوې ډېرې خطر ناکې فتنې مخنيوی وشو؛ ډېره عجيبه ده چې نن ناپوه او غرضي کړی د دغو درنو فقهاءو د رغنده هڅو په خلاف تبليغات کوي او د مذهبي اختلافاتو عامل ئې ګڼي؛ دا منو چې په امت کې د مذهبي اختلافاتو له کبله د ډېرو مؤمنانو ويني توی شوې؛ دومره چې له اصلي دښمنانو سره د نښتو په ترڅ کې نه دي توی شوې؛ دا نن نن موږ افغانان له همدې فتنې سره مخامخ يو؛ خو دا ائمه وو ته منسوبول هم جفا او ظلم دئ او هم کذب او افتراء؛ اختلافات د دښمن برېڅو او جاهلانو رامنځته کړی؛ د امت د کورنيو جګړو تر شا تل د دښمنانو لاس وو او دئ؛ پرون هم او نن هم؛ د فقهاءو راپاڅېدل د هغه مهال يو شديد ضرورت وو؛ که دوی نه وی خدای خبر چې امت به له څومره بدو او تورو ورځو سره مخامخ شوی وو؛ متأسفانه نن داسي افراد هم راټوکېدلي چې په کوم امام او مذهب پسي اقتداء محکوموي او حتی دې ته د شرك په سترګه ګوري؛ ډېری ئې هغه دي چې ځان ته اهل حديث او سلفي وايي؛ خو په حقيقت کې هغوی اهل حديث نه بلکې اهل بخاري دي؛ امام بخاري رحمه الله ئې امام او بخاري ئې مذهبي کتاب دئ؛ له بخاري پرته د حديث ټول کتابونه نه مني؛ او له بخاري ئې فهم او پوهه دومره کچه او کمزورې چې د هيڅ موضوع او مبحث او په هيڅ باب کې د دوو متعارضو رواياتو له منځه نه يوازي نه شي کولی ارجح او اصح ئې تفکيك کړي او غوره ئې وپېژني؛ بلکې هر يو د خپلې خوښي او سليقې روايت ترې غوره کوي؛ د همدې څرمښکۍ د وژلو او نه وژلو په اړه د پورتنيو پوښتنو ځوابولو وړتيا او ظرفيت نه لري!! يقيناً چې د مذهبي اختلافاتو ستر عامل همدا متعارض روايات دي. محدث

باید غوره او اصح روایت له دلیل سره ئې وښیي او دا پوښتنه د هري موضوع په ارتباط ځواب کړي چي د بخاري له متعارضو روایاتو به په کوم یوه عمل کوو؟ دا د اهل حدیث نوم ځان ته غوره کول په خپله کرکجن بدعت دئ؛ موحد او مسلمان؛ لومړی په قرآن او بیا په حدیث باور لري؛ په نامه کي د قرآن نفي کول او یوازي د حدیث یادونه؛ یقیناً چي قبیح بدعت دئ؛ د دې بدعت جرړي باید د دښمنانو په هغو توطئو کي ولټوو چي غواړي مسلمانان قرآن ته شا کړي او په بل څه مصروف شي؛ د همدې لپاره رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ تل او په مکرره توګه تأکید کړی چي د الله تعالی د کتاب په څنګ کي بل کتاب مه پرېږدئ؛ که څه هم دا د مخکنیو امتونو کتاب وي؛ د ژوند تر پایه ئې چا ته د حدیث لیکلو اجازه هم ورنه کړه؛ او وئې فرمایل: چا چي له قرآن پرته بل څه له ما لیکلي وي؛ هغه دي له منځه یوسي. ابو هریره وایي: موږ ټول لیکلي احادیث راغونډ کړل او ومو سوزول.

د بخاري له ۱۸۲۹ روایت معلومېږي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د مضرو مرغانو او خزندو د وژلو خبره کړې (پنځه ژوي داسي دي چي ټول ضرري او ناکاره دي او په حرم کي هم وژل کېدی شي: کارغه، باښه، لړم، موږک او داړونکی سپی). له دغو ژوو لړم چیچل کوي چي مار او ږمبري (غومبسي) هم پرې قیاس کېدی شي، سپی داړل کوي، باښه واړه چرګان تښتوي، کارغه غوښه او خوراکي توکی چي بهر پاته شي تښتوي، سپی داړل کوي؛ موږك غله، مېوه او جامې خوري او په خونو کي سوري جوړوي؛ په دغو پنځو کي نه د ځرمښکی یادونه شوې او نه ئې پر کوم یوه قیاسولی شو؛ ځکه نه یوازي کوم ضرر نه لري بلکه مضر حشرات خوري.

ما داسي عربان هم لیدلي چي د ځرمښکی وژل ئې ستره غزا او وژونکی ئې ستر غازي ګڼلو! په داسي روایاتو استناد کوي چي وایي: چا چي په اول ګوزار سره ووژله سل، پنځه سوه او... نیکي ورته لیکل کېږي؛

او داسي روايات هم لرو چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې د وژلو امر نه دئ كړى!! امام بخاري هم نه دي ويلي چي كوم روايت تر نورو زيات معتبر او د متابعت وړ دئ؛ آيا د ځرمښكۍ په اړه به مو باور دا وي چي هغې د نمرود هغه اور ته پو كول چي د ابراهيم عليه السلام د سوزولو لپاره ئې بل كړى وو؛ په دغو رواياتو كي خو د دغو ژوو د وژلو وجه د هغوى ضرر ښودل شوى؛ نه بل څه؛ كه څوك وغواړي ځرمښكۍ په دغو پنځو قياس كړي نو بايد د هغوى د ضرر په څېر كوم ضرر ورته ثابت كړي؛ او كه د ابراهيم عليه السلام اور ته پوه كول ئې د وژلو سبب او دليل وي نو د دغو پنځو ضرري ژوو لپاره هم بايد دې ته ورته سبب ولټوو؛ تحقيقات ښيي چي ځرمښكۍ نه مضر ده او نه زهرجنه؛ خوراك ئې د ماشو او مچانو په څېر حشرې دي؛ په غرب كي ئې ځيني خلك پالي او چينايان ئې خوري؛ اور ته ځرمښكۍ پو كول داسي دي لكه چي بايبل ويلي: آدم او حواء مار وغولول او له جنت ئې وايستل؛ مار تر ټولو حيواناتو ډېر ځيرك دئ؛ هغه جنت ته داخل شو او حواء ته ئې وويل: آيا په رښتيا تاسو ته ويل شوي چي دا مېوه مه خورئ؟ هغې وويل هو؛ كه ئې وخورو نو مرو؛ هغه ورته وويل: نه مرئ بلكي تلپاته ژوند مو په برخه كېږي؛... هغه ئې وغولوله؛... او الله هغه ته دا سزا واوروله: خاوري دي خوراك شه؛ او تگ دي په سينه؛ ستا او د آدم د مېرمن تر منځ به د تل لپاره دښمني وي؛ ته به ئې چيچې او هغه به ستا سر ځپي.

آيا داسي روايات منلى شو چي د إسنادو له پلوه غريب او د متن له پلوه د عقل او واقع خلاف وي؛ په ځرمښكۍ كي د پو كولو توان او ظرفيت نه شته او په مار كي نه تر نورو حيواناتو زياته ځېركتيا شته، نه د خبرو او د انسان د غولولو توان؛ د ځرمښكۍ په اړه به كومه خبره منو: هغه چي د نمرود اور ته ئې پو كول او كه هغه چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د پلونو آثار ئې هغه مهال ختمول چي غار ثور ته

ئې پناه وړې وه او قریش د هغه د وژلو لپاره د همدې غار خولې ته ورسېدل؟!!

ما په بخاري کې د تحقیق په پیل کې د یوه پاکستاني بریلوي تلویزیوني وینا اورېدله؛ مشهور شخص دئ؛ گوند او تلویزیون لري؛ اوس په غرب کې مېشت دئ؛ بریلویان د صوفیانو یوه ډله ده؛ پیغمبر علیه السلام په هر ځای کې حاضر و ناظر گڼي؛ پر اهل حدیث او سلفیانو ئې کلکې نیوکې کولې او ویل ئې: سلفیون کو بخاري نهي آتی؛ بخار آتی هي: سلفیان په بخاري نه پوهېږي؛ تبې او خارش نیولې؛ یعني چې دی او بریلوي پلویان ئې تر سلفیانو زیات او ښه په بخاري پوهېږي او باور پرې لري! یعني چې په بخاري کې داسې څه هم شته چې حتی بریلویان کولی شي د خپلو عقائدو او باورونو لپاره ترې سند او مستمسك جوړ کړي او داسې څه هم چې اهل حدیث د خپل مسلك په گټه پرې استناد کوي؛ او همدا ئې یوازینی مذهبي کتاب دئ؛ او دا دواړه څکه پرې إستناد کوي چې په ډېرو مواردو کې بخاري متعارض او تکراري روایات راوړي؛ داسې چې د بریلویانو او اهل حدیث په شمول؛ هر څوك کولی شي د خپلې خوښې روایت ترې غوره کړي. امام بخاري رحمه الله د روایاتو د صحت په اړه یوازې د سند صحت او د راویانو ثقه والې ته کتلې؛ د تکراري او متعارضو روایاتو راوړلو اصلي وجه ئې همدا ده؛ دا ئې د بخاري لوستونکو ته پرېښې چې یو ترې انتخاب کړي. موږ او تاسو د دې درسونو په دوران کې په لسگونو همداسې روایات ولیدل.

### ٦ باب: په مکه کې جنگ جواز نه لري

۸۹۱ ـ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ افْتَتَحَ مَكَّةَ: «لا هِجْرَةَ وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا».(بخاری: ۱۸۳٤)

۸۹۱ - له ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم د مکې د فتح په ورځ وفرمایل: (نور هجرت نه

شته، خو جهاد او نیت ئې شته که د جهاد بلنه درکړل شوه؛ نو جهاد ته ووځئ).

د باب عنوان داسي دئ (په مکه کي جنگ جواز نه لري)؛ خو په روایت کي دې موضوع ته هیڅ لري او نژدې اشاره نه مومو؛ بلکي د مکې له فتحي وروسته هجرت منتفي گڼل شوی او دا هم یوازي هغه هجرت دئ چي تر فتحي وړاندي مؤمنان مکلف وو چي له مکې به مدینې ته هجرت کوي؛ مگر هغه چي توان ئې نه لري؛ واضح ده چي له فتحي وروسته هغه هجرت پای ته رسېدلی؛ اما په دې سره د هجرت الهي حکم منسوخ شوی نه دئ؛ هجرت په عامه توگه تر قیامت پوري د جهاد تر څنگ دوام لري؛ او هر هغه مسلمان پرې مکلف دئ چي د ده پر سیمي او هېواد ظالمان او کافران مسلط شوي او د دوی تر سلطې لاندي نه شي کولی د اسلام له غوښتنو سره سم ژوند وکړي؛ دا هم باید په پام کي ولرو چي که کافران له مسلمانانو سره په مکه کي جنگ کوي نو الله تعالی هغوی ته اجازه ورکړې چي په مکه کي د کافرانو مقابله وکړي. قرآن فرمايي:

﴿...وَلا تُقَاتِلُوهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتَّى يُقَاتِلُوكُمْ فِيهِ فَإِنْ قَاتَلُوكُمْ فَاقْتُلُوهُمْ كَذَلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ ﴿١٩١﴾ البقرة

... په مسجد الحرام کي تر هغه له هغوی سره مه جنگېږئ چي دوی له تاسو سره په کي وجنگېږي؛ که درسره وجنگېدل نو تاسو هم ورسره وجنگېږئ؛ همدا د دغو کافرانو سزا ده.

دا وضاحتونه ډېر زیات ضروري دي؛ له دې پرته او یوازي د روایت همدا اوسنۍ بڼه ناقصه ده او لوستونکي په مغالطه کي اچوي.

**۷ باب: د مُحرِم لپاره ښکر لگول**

۸۹۲ ـ عَنِ ابْنِ بُحَيْنَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: احْتَجَمَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم وَهُوَ

مُحْرِمٌ بِلَحْيِ جَمَلٍ فِي وَسَطِ رَأْسِهِ. (بخارى: ١٨٣٦)

٨٩٢ – له ابن بُحَيْنَه رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کي چي په احرام کي وو؛ په (لَحْي جمل: چي د مکې او مدينې تر منځ د يوه ځای نوم دئ) د خپل سر په َمنځنۍ برخي کي ښکر ولګاوو.

تکرار: دا روايت په بخاري کې ٢١ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٨٣٥ - ١٨٣٦ - ١٩٣٨ - ١٩٣٩ - ٢١٠٣ - ٢٠٨٦ - ٢٢٧٨ - ٢٢٧٩ - ٥٦٨٠ - ٥٦٩٤ - ٥٦٩٥ - ٥٦٩٦ - ٥٧٠٠ - ٥٧٠١ - ٥٦٩١ - ٥٦٩٤ - ٥٦٩٥ - ٥٦٩٦ - ٥٦٩٨ - ٥٧٠٠ - ٥٧٠١ -

توپير: په صحابه وو کې د دې رواياتو راويان درې دي: عبد الله بْنِ عَبَّاسٍ، أَنَسٍ بن مالك او عَبْدَ اللَّهِ ابْنَ بُحَيْنَةَ رضي الله عنهم؛ يعني چي دا روايت د بخاري په (مشهورو) رواياتو کې راځي؛ د بخاري اکثر روايات غريب دي چي په صحابه وو کې يو يو راوي لري، لږ ئې عزيز او ډېر لږ ئې مشهور دي؛ دا روايت که څه هم په صحابه وو کې درې راويان لري؛ خو يوازي په هغه صورت کې به د مشهورو رواياتو په ضمن کې ګڼل کېږي چي په نورو طبقو کې هم درې او تر درې زيات راويان ولري.

د دغو ٢١ رواياتو د بحث اصلي موضوع حجامت: د رګ وهل او وينه ايستل دي؛ (الحجامة هي شق العرق ومص الدم منه)؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم په زمانه کې د علاج څو معروفې او مروجي طريقې وې: حجامت، په اور سره شوي سيخ داغل، په ګوتې او ټوټې سره د ستوني هغي برخي باندي زور کول چي په درد اخته شوې او په دې توګه له هغه وينه ايستل، د عسل شربت، د قُسْطُ البَحْرِي په نامه هغه نبات او جرړي ئې چي په هند او خاصتاً کشمير کې موندل کېږي او د بحر له لاري به عرب هېوادو ته انتقالېدل او د ستوني درد لپاره کارول کېدل. رسول الله صلى الله عليه و سلم د داغلو په اړه ويلي چي نه مي خوښېږي او ممانعت ئې کړی او په ستوني کې په ګوتې يا ټوټې سره زور کول او

وينه ترې ايستل ئې نه دي خوښ شوي او فرمايلي ئې دي چې په دې سره ماشومان مه ځوروئ او په ځای ئې قُسط البحري وکاروئ. د رواياتو له فحوی او الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا نه يوازې د هغه وخت معمول او معروف علاجونه وو بلکې ځيني ئې په نورو هېوادو او ولسونو کې هم کارېدل. په سور شوي سيخ سره د زخمونو او ټپونو داغل خو په ټولې نړۍ کې عام وو؛ دومره چې له دې پرته به زخمونه گنده شول او د زخمي په مرگ به منتج شول. رسول الله صلی الله عليه و سلم چې د دغو معمول علاجونو په اړه څه ويلي دا نه د رسالت برخه ده او نه د وحي له مخې دي؛ او نه هم د داسې سنت په ضمن کې راځي چې مسلمان پرې مکلف وي او ثواب پرې مرتب کېږي؛ هغه چې په خپله ئې ممانعت ترې کړی؛ فقط په همدې مکلف يو؛ له دغو رواياتو همدا مطلب اخيستل کېږي:

۵۶۹۶ - عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ أَجْرِ الحَجَّامِ، فَقَالَ: احْتَجَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، حَجَمَهُ أَبُو طَيْبَةَ، وَأَعْطَاهُ صَاعَيْنِ مِنْ طَعَامٍ، وَكَلَّمَ مَوَالِيَهُ فَخَفَّفُوا عَنْهُ، وَقَالَ: «إِنَّ أَمْثَلَ مَا تَدَاوَيْتُمْ بِهِ الحِجَامَةُ، وَالقُسْطُ البَحْرِيُّ» وَقَالَ: «لاَ تُعَذِّبُوا صِبْيَانَكُمْ بِالْغَمْزِ مِنَ العُذْرَةِ، وَعَلَيْكُمْ بِالقُسْطِ»

له انس رضي الله عنه روايت دئ چې د حجام (ښکر لگوونکي يا وينه ايستونکي) د بدلې او اجورې په اړه وپوښتل شو؛ وئې ويل: رسول الله صلی الله عليه و سلم حِجامت کړی؛ ابو طيبه ئې حِجامت وکړ؛ د خوړو دوه صاع (پيمانې) ئې ورکړې؛ او د ده له مالکانو سره ئې خبرې وکړې نو د ده (خراج ) ئې راکم کړ؛ او وئې فرمايل: ستاسو غوره چې پرې تداوي کوئ حِجامت او قُسْطُ البحري دي؛ او وئې فرمايل: د خپلو ماشومانو په ستونې کې د درد معالجې لپاره گوتې مه وهئ؛ له قُسط کار واخلئ.

۵۶۸۰ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما، قَالَ: " الشِّفَاءُ فِي ثَلاَثَةٍ: شَرْبَةِ عَسَلٍ وَشَرْطَةِ

مِحْجَمٍ، وَكَيَّةِ نَارٍ، وَأَنْهَى أُمَّتِي عَنِ الكَيِّ "

له ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روایت دئ چي وايي: شفاء په دريو کي ده: د شاتو شربت، د مِحْجَم وهل (هغه آله او چاړه چي له رګونو د وينو ايستلو لپاره پر غوښي وهل کيږي؛ او هغه آله او ښکر هم چي وينه پرې رااېستل کيږي) او كَيَّة نار (په اور سور شوی اوسپنيز سيخ چي د داغلو لپاره کارول کيږي)؛ او خپل امت له داغلو منع کوم.

٥٧٠٢ - عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنْ كَانَ فِي شَيْءٍ مِنْ أَدْوِيَتِكُمْ خَيْرٌ، فَفِي شَرْبَةِ عَسَلٍ؛ او شَرْطَةِ مِحْجَمٍ؛ او لَذْعَةٍ مِنْ نَارٍ، وَمَا أُحِبُّ أَنْ أَكْتَوِيَ»

له جابر بن عبد الله رضي الله عنه روايت دئ چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي واورېدل چي فرمايل ئې: که ستاسو د علاج او دواګانو په کوم څه کي خير او ګټه وي نو د شاتو شربت، د مِحْجَم وهل (ښکر لګول) او په اور سره لړ سوزول؛ او دا نه خوښوم چي په سره سيخ داغل وکړم.

له جابر رضي الله عنه دا روايت هم راغلی:

٥٦٨٣ - عن جابِرِ بنِ عبدِ الله رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: سَمِعْتُ النبىَّ، صلى الله عَلَيْهِ وَسلم، يَقُولُ: إنْ كانَ فِي شَىْءٍ مِنْ أدْوِيَتِكُمْ أوْ: يَكُونُ فِي شىءٍ مِنْ أدْوِيَتِكُمْ خَيْرٌ فَفى شَرْطَةِ مِحْجَمٍ أوْ شَرْبَةِ عَسَلٍ أوْ لَذْعَةٍ بِنار تُوافِقُ الدَّاءَ، وَمَا أُحِبُّ أنْ أكْتَوِىَ. عمدة القارى

له جابر بن عبد الله رضي الله عنه روايت دئ چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي واورېدل چي فرمايل ئې: که ستاسو د علاجونو او دواګانو په کوم څه کي خير او ګټه وي او يا وي به؛ نو د مِحْجَم وهل (ښکر لګول)، د شاتو شربت؛ او په اور سره داسي لړ سوزول چي له مرض سره مطابقت ولري؛ او دا نه خوښوم چي په سره سيخ داغل وکړم.

لړ داغل اوس هم په طب کې معمول دئ؛ کوم خالونه او داغونه چې په پوستکي کې راپيدا کېږي؛ او د غوټي په بڼې کې وي؛ جلدي ډاکټران ئې په خاصي وسيلې سره سوزوي او له منځه ځي.

په دغو رواياتو کې دا هم راغلي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسې حال کې حجامت کړی چې يا په احرام کې وو او يا روژه وو؛ يعني په دې سره نه روژه ماتېږي او نه حجامت د احرام منافي دئ. په دغو دوو روايتونو کې همدا مطالب راغلي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما، قَالَ: «احْتَجَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ صَائِمٌ». بخاری: ١٩٣٩

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «احْتَجَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ» بخاری: ٥٦٩٥

په ځينو روايتونو کې دا هم راغلي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم حجامت کوونکي ته مزد او بدله ورکړې؛ که اجوره ورکول حرام وی نو نه به ئې ورکوله؛ د بخاري دغه روايت همدا خبره کوي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما، قَالَ: «احْتَجَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَعْطَى الَّذِي حَجَمَهُ» وَلَوْ كَانَ حَرَامًا لَمْ يُعْطِهِ. بخاری: ٢١٠٣

## ٨ باب: د مُحْرِمِ نکاح

٨٩٣ـ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما، «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَ مَيْمُونَةَ وَهُوَ مُحْرِمٌ» (بخاری: ١٨٣٧)

٨٩٣- له ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روايت دئ چې: رسول الله صلى الله عليه و سلم د احرام په حال کي له ميمونه رضي الله عنها سره واده وکړ.

خو داسې روايات هم مومو چې محرم ته نکاح کول جائز نه بولي؛ لکه دا روايت چې په صحيح مسلم کې درې ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٣٤٣١- ٣٤٢٩- ٣٤٣٣-

٣٤٣١- عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: لاَ يَنْكِحُ الْمُحْرِمُ، وَلاَ يُنْكَحُ، وَلاَ يَخْطُبُ. مسلم

له عثمان بن عفان رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: محرم دي نه څوك په نكاح كوي او نه دي په نكاح وركول كېږي او نه دي چا ته د نكاح پيغام لېږي.

د دغو دواړو متعارضو آراء او رواياتو په اړه بايد ووايو:

د بخاري دا روايت (١٨٣٧)؛ مُسلم، نسَائِيّ، ابْن مَاجَه، ترْمِذِيّ، ابْن حِبَان، بيهقي؛ او طَحاوِيّ راوړی. أبو هُرَيْرَة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هم روايت كړی، إِبْرَاهِيم النَّخعِيّ، الثَّوْري، عَطَاء بن أَبِي رَبَاح، الحَكَم بن عُتَيْبَةَ، حَمَّاد بن أَبِي سُلَيْمَان، عِكْرِمَة، مَسْرُوق، أَبُو حنيفَة، أَبُو يُوسُف، مُحَمّد، رحمهم الله په همدې روايت استناد كړی او ويلي ئې دي: محرم ته په نكاح كولو كې هيڅ مانع او حرج نه شته؛ خو تر هغه به نژدېكت ورسره نه كوي چي له احرام ووځي؛ او همدا د ابْن عَبَّاس او ابْن مَسْعُود رضي الله عنهما وينا هم ده؛ پر دې ټولو علاوه؛ د دې رأيي د صحت لپاره دا مضبوط دلائل لرو:

- د رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمن ميمونه رضي الله عنها وايي چي هغه په داسي حال كې نكاح شوې چي رسول الله صلى الله عليه و سلم محرم وو.
- أبو هُرَيْرَة، ابْن عَبَّاس او ابْن مَسْعُود رضي الله عنهم هم د ميمونې رضي الله عنها په څنګ كې شاهدان دي.
- نكاح داسي ده لكه هره بله انساني معامله او معاهده؛ كه په حج او د احرام حالت كې تجارت او پېر پلور جائز وي؛ نكاح به ولې جائز نه وي؟!
- قرآن د احرام په حالت كې د مجامعت نهي كړې؛ د نكاح ممانعت لپاره په قرآن كې كوم شاهد نه مومو.

### ٩ باب: د محرم غسل

٨٩٤ ـ عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ قِيلَ لَهُ: كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْسِلُ رَأْسَهُ وَهُوَ مُحْرِمٌ؟ فَوَضَعَ أَبُو أَيُّوبَ يَدَهُ عَلَى الثَّوْبِ فَطَأْطَأَهُ حَتَّى بَدَا لِي رَأْسُهُ، ثُمَّ قَالَ لإِنْسَانٍ يَصُبُّ عَلَيْهِ: اصْبُبْ، فَصَبَّ عَلَى رَأْسِهِ، ثُمَّ حَرَّكَ رَأْسَهُ بِيَدَيْهِ، فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ وَقَالَ: هَكَذَا رَأَيْتُهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُ. (بخارى: ١٨٤٠)

٨٩٤ – له ابو ايوب انصاري رضي الله عنه روايت دئ چي ده ته وويل شول: رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم به د احرام په حالت کي خپل سر څنگه مينځلو؟ ابو ايوب پر هغي ټوټې لاس کښېښود (چي ځان ته ئې پرده کړې وه) را کوزه ئې کړه؛ سر ئې ترې ښکاره شو؛ بيا ئې هغه سړي ته چي اوبه ئې پرې اچولې وويل: اوبه راباندي واچوه؛ هغه ئې پر سر اوبه واچولې؛ بيا ئې د خپل سر وېښتان په دواړو لاسونو وخوځول؛ نو مخکي او شا ته ئې کړل او وئې ويل: رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم مي (د احرام حالت کي) ليدلی چي همداسي ئې کول.

### ١٠ باب: مکې او حرم ته له احرام پرته ننوتل

٨٩٥ ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَامَ الْفَتْحِ وَعَلَى رَأْسِهِ الْمِغْفَرُ فَلَمَّا نَزَعَهُ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ: إِنَّ ابْنَ خَطَلٍ مُتَعَلِّقٌ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ فَقَالَ: «اقْتُلُوهُ». (بخارى: ١٨٤٦)

٨٩٥ – له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د مکې د فتح په کال په داسي حال کي داخل شو چي پر سر ئې خول (اوسپنيزه خولۍ يا داسي زغره چي سر او مخ؛ له سترگو پرته؛ پوښي)، کله چي ئې هغه ايسته کړ؛ يو سړی راغی او وئې ويل: ابن خطل د کعبې له پردې يا غلاف سره جوخت پټ شوی؛ وئې فرمايل:

(وې وژنئ).

ابن خطل چې اصلي نوم ئې عبدالله بن هلال وو؛ مسلمان شوی وو؛ يو مسلمان ئې ووژلو؛ (وتښتېدو) او مرتد شو. هم د ارتداد له کبله او هم د يوه مسلمان د وژلو په جرم د وژلو وړ وو.

تکرار: دا روايت په بخاري کې څلور ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۱۸٤٦ - ۳۰٤٤ - ٤۲۸٦ - ۵۸۰۸ -

توپیر: لومړي دوه (۱۸٤٦ - ۳۰٤٤) يوازې د څلورمي طبقې راويانو کې توپير لري، درېيم روايت (٤۲۸٦) له مخکينيو دواړو سره دا توپير لري چې دغه مطلب په کې اضافه شوی (قَالَ مَالِكٌ: «وَلَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا نُرَى وَاللَّهُ أَعْلَمُ يَوْمَئِذٍ مُحْرِمًا»: مالك وويل: موږ ته داسې برېښي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم به دغه ورځ محرم نه وو؛ الله تعالی ښه پوهېږي. په څلورم کې د ابن خطل د وژلو خبره هم نه ده راغلې.

د روايت يوازې دا برخه له باب سره تړاو او همغږي لري چې رسول الله صلی الله عليه و سلم مکې ته داسې داخل شوی چې خُول ئې پر سر وو او دا د دې نښه ده چې هغه احرام نه وو تړلی؛ ځکه په احرام کې بايد سر لوڅ وي؛ خو دې موضوع ته په روايت کې په واضح توګه اشاره نه ده شوې او تر روايت وروسته هم نه دي ويل شوي؛ د بخاري لوستونکی له ډېر دقت او غور وروسته پرې پوهېدی شي؛ هغه هم د نورو رواياتو په مرسته.

## ۱۱ باب: د مړي لپاره حج او نذر

۸۹٦ ـ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنهُما أَنَّ امْرَأَةً مِنْ جُهَيْنَةَ جَاءَتْ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ: إِنَّ أُمِّى نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ فَلَمْ تَحُجَّ حَتَّى مَاتَتْ، أَفَأَحُجُّ عَنْهَا؟ قَالَ: «نَعَمْ حُجِّى عَنْهَا أَرَأَيْتِ لَوْ كَانَ عَلَى أُمِّكِ دَيْنٌ أَكُنْتِ قَاضِيَةً؟ اقْضُوا اللَّهَ فَاللَّهُ أَحَقُّ

بِالْوَفَاءِ». (بخاری: ١٨٥٢)

٨٩٦ – له ابْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما روايت دئ چي د جُهَينَه قبيلې يوه ښځه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغله او وئې ويل: مور مي نذر ايښى وو چي حج به كوي؛ خو تر هغه ئې حج ونه كړ چي مړه شوه؛ نو آيا زه د هغې لپاره حج وكړم؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (هو؛ د هغې لپاره حج وكړه؛ وگوره كه دي پر مور كوم قرض وى؛ نو تا به اداء كولو؟! د الله تعالى قرض (حق) اداء كړئ؛ هغه تر هر چا زيات د وفاء حقدار دئ)

## ١٢ باب: د ماشومانو حج

٨٩٧ ـ عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: حُجَّ بِي مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا ابْنُ سَبْعِ سِنِينَ. (بخاری: ١٨٥٨)

٨٩٧ – له سائب بن يزيد رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: هغه وخت چي زه لا اوه كلن وم له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره حج ته بېول شوى وم. (پلار ئې له ځان سره حج ته بېولى وو).

## ١٣ باب د ښځو حج

٨٩٨ ـ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما، قَالَ: لَمَّا رَجَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حَجَّتِهِ قَالَ لِأُمِّ سِنَانٍ الأَنْصَارِيَّةِ: «مَا مَنَعَكِ مِنَ الحَجِّ؟»، قَالَتْ: أَبُو فُلاَنٍ، تَعْنِي زَوْجَهَا، كَانَ لَهُ نَاضِحَانِ حَجَّ عَلَى أَحَدِهِمَا، وَالآخَرُ يَسْقِي أَرْضًا لَنَا، قَالَ: «فَإِنَّ عُمْرَةً فِي رَمَضَانَ تَقْضِي حَجَّةً أَوْ حَجَّةً مَعِي» (بخاری: ١٨٦٣)

٨٩٨ – له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: كله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم له حج راستون شو؛ ام سنان انصاريه رضي الله عنها ته ئې وفرمايل: (څه شي له حج منع كړې؟) وئې ويل: ابو فلان؛ مقصد ئې خپل خاوند وو؛ دوه اوښان ئې درلودل (له كوهي د اوبو

راايستلو اوښان)؛ پر يوه خپله حج ته ولاړ او بل زمکه راته خړوبوي؛ وئې فرمايل: (د روژې مياشت کې عمره؛ له حج سره برابره ده يا له ما سره يو ځای حج سره).

دا روايت په مسلم کې په دې صيغه راغلی:

۳۰۱۴- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: لِامْرَأَةٍ مِنَ الأَنْصَارِ يُقَالُ لَهَا أُمُّ سِنَانٍ مَا مَنَعَكِ أَنْ تَكُونِي حَجَجْتِ مَعَنَا؟ قَالَتْ: نَاضِحَانِ كَانَا لأَبِي فُلاَنٍ، زَوْجِهَا، حَجَّ هُوَ وَابْنُهُ عَلَى أَحَدِهِمَا، وَكَانَ الآخَرُ يَسْقِي عَلَيْهِ غُلاَمُنَا، قَالَ: فَعُمْرَةٌ فِي رَمَضَانَ تَقْضِي حَجَّةً، أَوْ حَجَّةً مَعِي.

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د انصارو يوې مېرمنې ته چې ام سنان يادېده؛ وويل: (څه شي له دې منع کړې چې له موږ سره دې حج کړی وی؟) وئې ويل: ابو فلان؛ يعني خاوند ئې؛ دوه اوښان درلودل؛ (له کوهي د اوبو راايستلو اوښان)؛ پر يوه ئې دی او زوی ئې حج ته ولاړل؛ او پر بل ئې زموږ غلام زمکه خړوبوله؛ وئې فرمايل: (د روژې مياشت کې عمره؛ له حج سره برابره ده يا له ما سره يو ځای حج سره).

گورئ چې په دواړو کې کافي توپيرونه شته؛ سره له دې چې لومړنی راوي ئې يو دئ؛ وروستنيو راويانو ئې په الفاظو کې تغيير راوستی او ځيني مطالب ترې پاته شوي؛ لکه دا چې يو ئې وايي: زما خاوند پر يوه اوښ حج ته ولاړ، او بل ئې وايي: زما خاوند او زوی ئې پر يوه اوښ حج ته ولاړل، يو ئې وايي: بل زمکه راته خړوبوي بل ئې وايي: پر بل ئې زموږ غلام زمکه خړوبوي.

د روايت په آخر کې راغلي: فَعُمْرَةٌ فِي رَمَضَانَ تَقْضِي حَجَّةً؛ د (تَقْضِي حَجَّةً) تحت اللفظي او اصلي معنی دا ده چې عمره داسي ده لکه چې حج ئې کړی وي؛ يا د قضائي حج معادل ده؛ يعني که له چا حج قضاء او پاته شو؛ نو عمره به ئې ځای ناستې شي؛ اما دې ته په پام سره چې نه عمره د حج ځای ناستې ده او نه په ثواب او اجر کې ورسره برابرېدی شي؛ مگر د هغه چا عمره چې د حج نيت ئې درلود؛ د عذر له کبله حج

ترې پاته شوی او د روژې میاشت کې ئې عمره کړې؛ خو د بیا حج کولو توان او مجال پیدا نه کړي؛ په دې صورت کې کېدی شي عمره ئې حج محسوب شي؛ اما د (تَقْضِي حَجَّةً) دا تعبیر چي عمره به ئې په ثواب کې له حج سره برابره وي؛ نه له ادبي او لغوي پلوه سم تعبیر دئ او نه حقیقتاً عمره له حج سره برابرېدی شي؛ غالب احتمال دا دئ چي کوم راوي نه دئ توانېدلی د رسول الله صلی الله علیه و سلم د وینا اصلي الفاظ په سمه توګه انتقال کړي؛ دا ستونزه په ډېرى روایاتو کې تر سترګو کېږي؛ د بخاري په اکثرو تکراري روایاتو کې ئې شاهد یو؛ د بخاري او مسلم په پورتنیو روایاتو کې ئې هم وینو.

د بخاري کتاب چي په کوم روایت پیل شوی او ۷ ځله نور په دغو شمېرو تکراري راوړل شوی: : ۱- ٥٤ - ۲۵۲۹ - ۳۸۹۸ - ۵۰۷۰ - ٦٦٨٩ - ٦٩٥٣ - ۲۵۲۷- په هغوی کې هم داسي توپیرونه مومو: په یوه کې (الاعمال) او په بل کې (العمل)، په یوه کې (النیة) او په بل کې (النیات)، په یوه کې (لامرئٍ) او په بل کې (لکل امرئٍ)، په یوه کې إِلَى دُنْيَا او په بل کې لِدُنْيَا او همداسي نور توپیرونه. دا توپیرونه په دغو روایاتو او مطالبو کې ئې دومره پراخ او ژور تفاوت رامنځته کوي چي له منځه ئې یوازي یو انتخابولی او صحیح ګڼلی شو؛ امام بخاري د روایاتو إسنادو ته په پام سره ټول راوړي او د متن او محتوی په اړه ئې قضاوت نه دئ کړی او دا ئې لوستونکو ته پرېښی چي کوم ترې غوره کوي، دا حکم ئې نه دئ کړی چي کوم روایت له کومو الفاظو او ترکیب سره ارجح ورته برېښي، حال دا چي دا ډېره مهمه او ضروري مسئله ده، که نه نو لوستونکی په شك کې لوېږي چي په یوې موضوع پوري اړوند روایاتو کې کوم یو ومني، په کوم یوه عمل وکړي، په یوې جملې کې د یوه لفظ تغییر په معنی کې ډېر بدلون راولي، لکه په دغه لومړني روایت کې لوستونکي ته دا پوښتنه راولاړېږي: ټول اعمال په نیت پوري تړلي دي او که کوم خاص عمل؟ (ځکه، په یوه کې العمل او په بل کې الاعمال) راغلي، پیغمبر علیه السلام

د (نية) صيغه كارولې كه د (نيات)؟، د هر چا هر عمل د هغه په نيت پوري تړلی او د نيت له مخي به له هغه سره معامله کېږي او که د يوه خاص کس عمل ته به د هغه د خاص نيت له مخي بدله ورکول کېږي؟ د رسول الله صلی الله عليه و سلم د وينا اصلي بڼه كوم روايت او کوم الفاظ او تركيب ئې منعکس کړې؟

همدا راز که دغو رواياتو ته ځير شئ نو هرومرو به دا پوښتنه درسره پيدا کېږي چي پيغمبر عليه السلام تر دې د مخه څه ويل؟ آيا د هجرت په اړه ئې خبري کولې که پر دې چي د عمل تعلق له نيت سره څنگه دئ؟ د بحث اصلي موضوع څه وه؟ ځکه يوازي په دې خبري له پوهېدو وروسته ويلی شو چي د نيت او عمل تر منځ دا تعلق عام دئ كه خاص؟ يوازي د هجرت په څېر نيك عمل احتواء کوي که هر عمل؟ هر عمل خو ځکه نه شو نيولی چي د بد عمل په اړه د عمل له مخي قضاوت کېږي نه د عامل د نيت له مخي؛ که څوك د رشوت، غصب او غلا په پيسو حج ته ولاړشي؛ د حج نيت ئې نه ارزښت لري او نه د نيت له مخي د غلا او غصب توجيه کېدی شي؛ او داسي تعبير د قرآن له دې وينا سره تناقض لري چي فرمايي: (وَأَنْ لَيْسَ لِلإِنْسَانِ إِلا مَا سَعَى) النجم ۳۹؛ يعني انسان ته فقط د خپل عمل او سعي بدله ورکول کېږي.

د روايت له وروستۍ برخي داسي معلومېږي چي پيغمبر عليه السلام د هجرت په اړه بحث کولو، د همدې بحث په ترڅ کي ئې ويلي چي هجرت هغه عمل دئ چي د انسان نيت ئې څرنگوالی ټاکي او دا چي د خدای لپاره دئ او که د دنيا لپاره. تفصيل ئې د حكمة البارئ په لومړي جلد کي وگورئ.

د مسلم او بخاري د دغو رواياتو په اړه بايد ووايو چي د مسلم روايت د بخاري تر روايت واضح او بشپړ برېښي؛ که غواړو له دوی دواړو يو غوره کړو نو د مسلم روايت به غوره کوو.

د ښځو حج تر باب لاندي دا روايت هم راغلی:

٨٩٩ ـ عَنْ قَزَعَةَ قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا سَعِيدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وَقَدْ غَزَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ غَزْوَةً قَالَ: أَرْبَعٌ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ قَالَ: يُحَدِّثُهُنَّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَعْجَبْنَنِي وَآنَقْنَنِي: «أَنْ لا تُسَافِرَ امْرَأَةٌ مَسِيرَةَ يَوْمَيْنِ لَيْسَ مَعَهَا زَوْجُهَا أَوْ ذُو مَحْرَمٍ، وَلا صَوْمَ يَوْمَيْنِ الْفِطْرِ وَالأَضْحَى، وَلا صَلاةَ بَعْدَ صَلاتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ وَبَعْدَ الصُّبْحِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، وَلا تُشَدُّ الرِّحَالُ إِلَّا إِلَى ثَلاثَةِ مَسَاجِدَ: مَسْجِدِ الْحَرَامِ، وَمَسْجِدِي، وَمَسْجِدِ الأَقْصَى». (بخاری: ١٨٦٤)

٨٩٩ - له قَزَعَة روايت دئ چي وئې ويل: له ابو سعيد رضي الله عنه چي له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره ئې په دولسو غزاگانو کي غزا کړې؛ اورېدلي چي وئې ويل: څلور خبري چي له رسول الله صلی الله عليه و سلم مي اورېدلې؛ او يا راوي وويل: له نبي صلی الله عليه و سلم ئې روايت کولې؛ چي ډېري مي خوښي شوې او ډېر ئې خوشحاله کړی يم: (دا چي ښځه دي د دوو ورځو په واټن سفر نه کوي په داسي حال کي چي خاوند او محرم ورسره نه وي؛ دا چي په دوو ورځو کي روژه نه شته: ووړ اختر او لوی اختر؛ دا چي له دوو لمونځونو وروسته لمونځ نه شته؛ له مازديگر وروسته تر هغه چي لمر ولوېږي او د سهار له لمانځه وروسته تر هغه چي لمر راوخيژي؛ او دا چي يوازي دريو جوماتونو ته سفر کېدی شي: مسجد الحرام، مسجد نبوي او مسجد الاقصی).

تکرار: دا روايت په بخاري کي ٢ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١١٩٧ - ١٨٦٤؛ مطلق غريب دئ؛ په ٥ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: سُلَيْمَان بْن حَرْب، شُعْبَة، عَبْدِ المَلِكِ بْنِ عُمَيْر، قَزَعَة، او أَبو سَعِيد رضي الله عنه.

توپير: يوازي د پنځمي طبقې راويان ئې بېل دي؛ متن ئې يو دئ.

د روايت اساسي لارښووني دا دي: ١- مېرمني له خاوند او مَحْرَم پرته

د دوو ورځو په واټن سفر کولی شي؛ تر دې اوږد سفر کې باید محرم ورسره وي. ٢- د دوو اخترونو په ورځو کې روژه نیول نه شته. ٣- د مازدیگر له لمانځه وروسته تر ماښام پوري او د گهیځ له لمانځه وروسته تر لمر ختو پوري لمونځ نه شته. ٤- یوازې په پورتنیو دریو جوماتونو کې د لمونځ کولو په موخه سفر صحیح دي نه په کوم بل مسجد کې.

د مېرمنو د سفر په اړه د بخاري بل روایت داسي دئ:

١٠٨٨ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَاليَوْمِ الآخِرِ أَنْ تُسَافِرَ مَسِيرَةَ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ لَيْسَ مَعَهَا حُرْمَةٌ» تَابَعَهُ يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، وَسُهَيْلٌ، وَمَالِكٌ، عَنِ المَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ

یعني په مخکیني روایت کې ویل شوي: مېرمني له خاوند او مَحْرَم پرته یوازې د دوو ورځو په واټن سفر کولی شي؛ خو په ورپسې روایت کې ویل شوي: هغه مېرمن چي په خدای او د آخرت په ورځې باور لري؛ ورته جائزه نه ده چي له مَحرَم پرته د یوې شپې او ورځ په واټن سفر وکړي؛ په بخاري کې دا نه مومو چي کوم روایت به معتبر گڼو؛ د دوو ورځو روایت که تر یوې شپې او ورځې راکم. د بخاري له هغه روایت چي ابو هریره رضي الله عنه ته منسوب شوی؛ داسي معلومېږي لکه چي له مېرمني سره په هغه سفر کې د مَحْرَم شتون فرض دئ چي د یوې شپې او ورځ په واټن وي!! او له مَحرَم پرته سفر ورته جائز نه دئ!! له بلې خوا د بخاري دا دواړه روایات چي په خپل منځ کې تعارض لري؛ د مسلم له هغه روایت سره تعارض لري چي وایي: مؤمني مېرمني ته له محرم پرته داسي سفر جائز نه دئ چي تر دریو شپو او ورځو زیات وي؛ په داسي حال کې چي د بخاري او مسلم د روایاتو راوي هم یو کس او ابو سعید خدري رضي الله عنه دئ!!

په صحیح مسلم کې د ښځو د سفر په اړه دا روایت راغلی:

٣٢٤٩- عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لاَ يَحِلُّ

لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ، أَنْ تُسَافِرَ سَفَرًا يَكُونُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَصَاعِدًا، إِلَّا وَمَعَهَا أَبُوهَا؛ او ابْنُهَا؛ او زَوْجُهَا؛ او أَخُوهَا؛ او ذُو مَحْرَمٍ مِنْهَا.

له أبو سعید خدري روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: هغي مېرمني ته چي په خدای او آخرت ایمان لري؛ روا نه ده داسي سفر وکړي چي د دریو ورځو او تر دې زیات وي؛ مگر دا چي پلار ئې، یا زوی ئې، یا مېره ئې، یا ورور ئې او یا کوم بل مَحْرَم ئې ورسره وي.

احنافو د مسلم روایت ته ترجیح ورکړې؛ او د دې ترجیح لپاره دلائل شته؛ چي ستاسو مخي ته به راشي.

لکه چي گورئ دلته له محرم پرته د مېرمنو مجاز سفر د حد او اندازې په اړه هم د بخاري د دوو روایاتو تر منځ د تعارض شاهد یو او هم د بخاري او مسلم د روایاتو تر منځ؛ بخاري ابو سعید خدري رضي الله عنه ته یو روایت منسوب کړی او مسلم بل روایت؛ د دواړو روایاتو تر منځ کافي تعارض دئ؛ څه به کوو او په کوم روایت به عمل کوو؟ له دغو متعارضو روایاتو به کوم یو غوره کوو؟ په قرآن کي د مېرمنو د یوازي سفر او د محرم د شتون په اړه څه نه دي ویل شوي؛ یوازي په هغه صورت کي ئې فرض گڼلی شو چي په قرآن کي مو د امر او وجوب صیغه موندلې وی؛ او عدم مراعات ئې د سزا وړ عمل. احنافو دغو مسائلو او مطالبو ته په پام سره ویلي: مسلمانه مېرمن مکلفه ده چي د حج په شمول په هر هغه سفر کي چي تر دریو شپو ورځو زیات وي؛ محرم ورسره وي؛ خو که کومه مېرمن له محرم پرته حج ته ولاړه شي؛ نو حج ئې صحیح دئ او دا فریضه ئې اداء شوې؛ خو دا کار ئې مکروه دئ؛ اما که له داسي ځای حج ته ځي چي تر دریو شپو ورځو کم سفر ترې غواړي؛ نو داسي سفر له کوم محرم پرته ورته جائز دئ.

البته د خلوت او د خپلې گاڼې او زینت نه ښودلو په ارتباط په قرآن

کې واضح او صریح لارښوونې مومو؛ لکه چې فرمايي:

لَا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِي آبَائِهِنَّ وَلَا أَبْنَائِهِنَّ وَلَا إِخْوَانِهِنَّ وَلَا أَبْنَاءِ إِخْوَانِهِنَّ وَلَا أَبْنَاءِ أَخَوَاتِهِنَّ وَلَا نِسَائِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ وَاتَّقِينَ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا ﴿٥٥﴾ الأحزاب

پر دوی نه د خپلو پلرونو په اړه څه ګناه شته، نه د خپلو ورونو، نه د خپلو وربرونو، نه د خپلو خوریيو، نه د خپلوانو ښځو؛ او نه د وينځو په اړه؛ او له الله ووېرېږئ؛ يقيناً چې الله پر هر څه شاهد دئ.

په دې مبارك آيت کې دغه کسان له مخکيني حکم مستثنی شوي او پر دې مکلف نه دي چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم له مېرمنو سره به د حجاب له شا خبرې کوي: د دوی پلرونه، ورونه، وربرونه، خوريي، خپلوانې ښځې او وينځې او غلامان ئې.

د (لَا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ) له فقرې معلومېږي چې د دې استثناء عدم مراعات او له دغو خپلوانو پرته له نورو سره له لازم ستر پرته ليدنه ګناه ده.

د آيت د پای دا فقرې چې وايي: له الله ووېرېږئ، يقيناً چې الله پر هر څه شاهد دئ؛ ښيي چې دا آيت له مخکيني سره تړلی دئ او دا فقرې د مخکينيو مطالبو په ارتباط راغلې دي. د دې تفصيل د پلوشې شپږم جلد؛ د احزاب سورې په تفسير کې وګورئ.

اما د محرم د لزوم په اړه نه په قرآن کې صراحتاً څه مومو او نه اشارتاً؛ نو ځکه احنافو تر ټولو اخف حالت غوره کړی او عدم مراعات ته ئې د داسې مکروه په سترګه کتلي چې د مېرمنې حج ته کوم زيان نه رسوي.

## ١٤ باب: مکې ته د پلې تګ نذر

٩٠٠ ـ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى شَيْخًا يُهَادَى بَيْنَ

ابْنَيْهِ قَالَ: «مَا بَالُ هَذَا؟» قَالُوا: نَذَرَ أَنْ يَمْشِيَ، قَالَ: «إِنَّ اللَّهَ عَنْ تَعْذِيبِ هَذَا نَفْسَهُ لَغَنِيٌّ» وَأَمَرَهُ أَنْ يَرْكَبَ. (بخاری: ۱۸۶۵)

۹۰۰ – له انس رضي الله عنه روایت دئ: نبي صلی الله علیه و سلم یو سپین ږیری ولید چي په دوو زامنو ئې تکیه کړې روان دئ؛ وئې فرمایل: (په دې څه شوي؟) هغوی وویل: نذر ئې ایښی چي پلی به ځي. وئې فرمایل: (الله تعالی له دې غني او بې نیاز دئ چي دا سړی خپل ځان په عذاب کړي؛ او امر ئې ورته وکړ چي سپور شي.

یعني داسي عمل د الله تعالی نه خوښېږي او ارزښت نه ورکوي.

په روایت کي دا نه دي ویل شوي چي د حج لپاره روان دئ او لوستونکی نه پوهېږي چي دا نذر ئې د څه لپاره منلی! په صحیح مسلم کي هم په دې صیغه راغلی؛ خو په صحیح ابن خزیمه او مسند ابي یعلی کي دا روایت په بشپړه توگه داسي راغلی:

۳۰٤٤ - عَنْ أَنَسٍ؛ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَأَى شَيْخًا كَبِيرًا يُهَادَى بَيْنَ ابْنَيْهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "مَا هَذَا؟" قَالُوا: نَذَرَ أَنْ يَمْشِيَ إِلَى الْبَيْتِ. قَالَ: "إِنَّ اللَّهَ عَنْ تَعْذِيبِ هَذَا نَفْسَهُ لَغَنِيٌّ" قَالَ: فَأَمَرَهُ أَنْ يَرْكَبَ. صحيح ابن خُزَيْمَه، مُسْنَد ابى يعلى

له انس رضي الله عنه روایت دئ: نبي صلی الله علیه و سلم یو سپین ږیری ولید چي په دوو زامنو ئې تکیه کړې روان دئ؛ وئې فرمایل: (په دې څه شوي؟) هغوی وویل: نذر ئې ایښی چي بیت الله ته به پلی ځي. وئې فرمایل: (الله تعالی له دې غني او بې نیاز دئ چي دا سړی خپل ځان په عذاب کړي)؛ او امر ئې ورته وکړ چي سپور شي.

د مُصَنَّف ابن ابي شیبه په روایت کي د بیت الله په ځای کعبه راغلې.

۹۰۱ ـ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: نَذَرَتْ أُخْتِي أَنْ تَمْشِيَ إِلَى بَيْتِ اللَّهِ،

وَأَمَرَتْنِي أَنْ أَسْتَفْتِيَ لَهَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَفْتَيْتُهُ فَقَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لِتَمْشِ وَلْتَرْكَبْ». (بخاری: ۱۸٦٦)

۹۰۱ - له عقبه بن عامر رضي الله عنه روایت دئ چي وايي: خور مي نذر ايښی وو چي بيت الله ته به پلې ځي او زه ئې وګمارلم چي په دې اړه له رسول الله صلی الله عليه و سلم فتوی ورته وغواړم؛ ما فتوی ترې وغوښتله؛ نو وئې فرمايل: (کله دي پلې ځي او کله دي سپره).

## د حج او عمرې کتابونو خلاصه

زما حج کوونکيه مؤمن ورور خور! آيا کله دي په زړه کې دا طمع راولاړه شوې چي کاش د الله دربار ته د رسېدو مجال وی او ده ته مخامخ د حاجتونو د وړاندي کولو مکان او امکان؛ چي په دغه او هغه دروازه کې د ودرېدو پر ځای د الله دروازې ته ودرېدلی وی او د حاجتونو تر سره کېدو لپاره مي يوې بلې مرجع ته د لاس اوږدولو پر ځای الله ته مخه کړې وی او خپل عرائض مي د ده مخي ته ايښی وی؟ (حج) دغي تلوسې، هيلي او هوډ ته الهي ځواب دئ؛ په حج سره ته دا اراده کوې چي له بل هر درشل د تل لپاره مخ اړوم، الله ته مخه کوم، هغه ځان ته کافي ګڼم، د ده د کور طواف کوم، د ده د کور دړې ته ودرېږم، له ده سره ژمنه کوم، چي بيا به نه د بل قصر، کور او ګور طواف کوم او نه به د مرستي لپاره د بل د کور دړه ټکوم. حج له بل هر کور او دروازې استغنیٰ او يوازې د الله کور ته ورتګ او د ده د دروازې د ټکولو اراده کول دي، يوازې نه او د خپلي خوښي په وخت کې هم نه؛ په معين وخت کې او د نړۍ له نورو حج کوونکو سره يو ځای او ټول په يو رنګ جامو کې؛ کفن ته ورته جامه؛ يو څادر او يو لونګ؛ دلته به د نړۍ له ټولو

حجاجو سره د يووالي مظاهره کوي، ټول تفاوتونه به شا ته غورځوي، له ځان سنګارولو، د عطر له استعمال، د نوکانو او ويښتانو له اخيستلو، له خپلو مېرمنو سره له نژدې والي او له هرې ګناه او له يوه بل سره له شخړو به په کلکه ډډه کوي، د بېديا د حيواناتو له ښکار او د هغه په ښکار کې له بل سره له هر راز مرستې به هم ډډه کوي، ته خو د الله کور ته روان يې، غواړې د الله د کور طواف وکړې، غواړې له الله سره خپلې ژمنې تازه کړې او د همدې لپاره په حجر الاسود لاس ږدې، ته غواړې د ابراهيم په مقام کې ودرېږې، غواړې د هاجر خاطره دریاده کړې او د دې په څېر د صفا او مروې تر منځ سعی وکړې، ته غواړې د اسمعيل عليه السلام د قربانۍ خاطره ژوندۍ کړې، تا اراده کړې چې له منٰی (د ايمان ځای) عرفات ( د معرفت) خلاص میدان ته په رڼا ورځ کې ولاړ شې او هلته له خپل رب سره راز او نياز وکړې او بيا له هغه ځای راتلونکې شپه هغه ځای ته ځان رسوې چې د دريو خطرناکو دښمنانو د ځلو ځای ته نژدې دئ (مزدلفه)، دلته به د سبا ورځې د مقابلې او د دښمن د ويشتلو لپاره تياری نيسې، سبا او په لومړۍ ورځ به يوازې لوی ځلی د لومړي او دوهم شا ته ولاړ ځلی؛ جمرة الکبری ولې؛ اوه تيرې، د اونۍ د ورځو په شمېر، هره تيره د کارتوس د مردکې په اندازه، په دې ورځ به د لومړيو دوو جمرة الاولٰی او جمرة الوسطٰی له ويشتلو ډډه کوې، د دوی له څنګ به تېرېږې، درېيم او تر ټولو ستر ته به ځان رسوې، په دې لومړۍ ورځ به يوازې دغه په نښه کوې، خو په سبا او بل سبا او تر هغه چې په منٰی کې وې؛ هره ورځ به؛ درې واړه؛ يو په بل پسې ولې. دا درې ځلې هغه درې خطرناك دښمنان تمثيلوي چې ټول پيغمبران ئې مقابلې ته تللي؛ د الله د دين په لار کې ستر خنډونه؛ د الله پر مظلومو او بې وسه بندګانو ظلم کوونکي؛ هغه چې د هر واقعي عالم، هر مخلص دعوتګر، هر مصلح او هر عدالت غوښتونکي مخې ته ودرېدلي، د حق په خلاف ئې د باطل ملګرتيا کړې، د زر، زور او تزوير ځواکونه؛ فرعون،

هامان او قارون؛ يو د لښکرو خاوند، بل د کوډګرو مشر، درېيم د خزانو څښتن؛ جعلي سردار، سؤالګر سيد او خائن ثروتمن؛ جاني ملك، جبون ملا او جابر زمکه وال؛ غدار پاچا، مکار پير او سود خور بډای؛ يو ماليه اخلې، بل شکرانه، بل سود او د بې وزلې او محتاج ټول شته.

د مشعر الحرام لفظي ترکيب او دغي سيمي ته دا نوم ورکول هم د خاص تأمل وړ دئ، مشعر الحرام (د درانه او محترم شعور ځای) د مزدلفې د وروستۍ برخي نوم دئ، دلته بايد الله په خاصه توګه زيات ياد کړئ، سبا يوه جګړه په مخکي لرئ، جمرة الکبرى به په نښه کوئ، دا داسي ده لکه چي له دښمن سره د مخامخ کېدو په وخت کي د الله تعالى د زيات يادولو امر شوی، يوازي دا نه چي په ژبه به الله الله وايې، بلکي دلته به په خاصه توګه دا درپه يادوې چي الله د هر څه مالك او په هر څه قادر دئ، هر څه د ده په اراده ترسره کېږي، ماته او بريا د ده په لاس کي ده، د مرګ ژوند پرېکړه دی کوي، وېره دي بايد يوازي له الله وي، نه د دښمن له زور ځواك او وسلو او لښکرو. د مزدلفې دا شپه چي تر شنه آسمان لاندي ئې په بېديا کي تېروې؛ داسي ده لکه چي دښمن ته د شپې له لوري نژدې شوی يې، د بريد لپاره دي پوره تيارى نيولى، شپه د دښمن د مرکز خوا ته په تياره کي او تر شنه آسمان لاندي تېروې او سبا به پرې بريد کوې.

په حج کي به ستاسو راکوزېدل هم ټولو ته ورته وي؛ نه د قريشو په څېر چي تر عرفات به نه تلل؛ عرفات ئې له حرم بهر ګڼلو؛ له مزدلفې به مکې ته د طواف لپاره راکوز شول. دوی له عوامو او غير قريشو ځان لوړ ګڼلو؛ خو دې کار ته ئې هم مذهبي حيله جوړه کړې وه؛ ويل ئې چي عرفات له حرم بهر دئ؛ موږ غواړو د حرم په حدودو کي پاته شو؛ دوی د کعبې جوړښت هم له هغه حالت وايست چي ابراهيم عليه السلام جوړه کړې وه، د کعبې د فرش سطح ئې له زمکي لوړه کړه، يوه دروازه ئې بنده کړه، بلې دروازې ته ئې کولپ واچاوو، هر چا ته ئې د

ننوتو اجازه نه ورکوله، یوازې د خپلې خوښې شخصیتونو ته به ئې د ننوتو اجازه ورکوله، هغه کور چې الله د (الناس) لپاره جوړ کړی وو، دوې دروازې ئې وې، هر څوك له کومې مانع پرته ورننوتی شو؛ قریشو هغه طبقاتي کړه او د خواصو د ننوتو لپاره ئې مختص کړه.

لکه څنګه چې الله تعالی له عرفات د راکوزېدو په اړه فرمایي چې له نورو سره یو ځای راکوز شئ، دا یو ځای راکوزېدل په جهاد کې هم ستر اهمیت لري، له دښمن سره د نښتو په وخت کې به هم له میدان ستاسو وتل منظم وي، له نورو سره یو ځای، نه بېل بېل او نامنظم؛ نامنظم او متشتت راکوزېدل اکثراً ستر ستر مشکلات راولاړوي او ډېر ځله د فاتح لښکر فتح په ماتې بدلوي. دې ته دې باید پام وي چې پیغمبر علیه السلام حج ته د ټول اسلام نوم ورکړی، د حج په مناسکو کې ټول اسلام تمثیلېږي، جامه ئې د جامې د حلال او حرام حدود، حجاب ئې د حجاب حدود، جمع صلاتین ئې د جمع صلاتین څرنګوالی، ... بیانوي، داسې نه شي کېدی چې یو څه دې په حج او حرم کې جائز وي او له حرم بهر ناجائز، د تقوی او احتیاط تر ټولو ستر او خاص ځای همدا حرم دئ، دلته چې الله تعالی څه جائز ګڼلي، له دې ځایه بهر په اولٰی درجه جائز دي او دلته چې څه حرام ګڼل شوي له دې ځایه بهر هم حرام دي، فسق او جدال ئې دلته حرام کړی، بهر ئې هم حرام کړی، په احرام کې له خپلو مېرمنو سره مباشرت ئې منع کړی، له دې ځایه بهر ئې هم په روژه او اعتکاف کې مباشرت منع کړی. د ښځې او نارینه د ستر او حجاب ضروري او فرضي حد همغه دئ چې د حج په دوران کې باید مراعات شي او د جمع صلاتین او د تقدیم او تأخیر حکم ئې همغه دئ چې په عرفات او مزدلفه کې ترسره کېږي.

ستا د حج حاصل به دا وي چې له خپل رب سره دې اړیکې مضبوطې شي، له دې وروسته به دې تل په ژبه د ده نوم وي، تر هر څه او هر چا به ئې زیات یادوې، تر خپل پلار هم زیات، له هغو کسانو به نه وې

چې یوازې د دنیا په لټه کې وي، که له الله څه غواړي نو یوازې دنیا غواړي، ته به له خپل رب د دنیا او آخرت ښېګڼې غواړې.

په منیٰ کې د قیام په ورځو کې خپل رب زیات یاد کړئ؛ که دوه ورځې وي او که درې؛ نه په تلوار کوونکي څه الزام شته او نه په ځنډ کوونکي.

## د حج احکام او ارکان

حج د اسلام پنځم رکن دئ، لغوي معنی ئې (قصد او اراده ده)؛ یعني د خپل رب کور ته د سفر هوډ؛ حاج، الحاج، حجي او حاجي؛ هغه چا ته ویل کېږي چې د الله تعالی کور (بیت الله) ته د تګ اراده ئې کړې؛ او هغه ته هم چې د حج مناسك ئې تر سره کړي؛ یعني چې حاجي له حج وروسته هم هوډمن او متعهد پاته کېږي چې تل به د الله تعالی د کور طواف کوونکی وي؛ او د دې معنی دا ده چې ته په حج سره یو داسې سفر پیلوې چې له تا دائمي تګ غواړي؛ دا ستا ټول ژوند احتواء کوي او په دې سپېڅلي سفر او مناسکو کې ئې ټول اسلام تمثیل شوی؛ هر آزاد، عاقل، بالغ، روغ او غني مسلمان په ژوند کې یو ځل د دې فریضې په اداء کولو مکلف دئ؛ غني او توانمن یعني هغه چې (د ژوند ټول لومړني ضرورتونه لکه کور، ضروري سامان، ورځني لګښتونه ئې تأمین وي؛) پر دې سربېره د سفر د مصارفو له عهدې وتلی شي او له امنیتي پلوه له کوم خنډ او ګواښ سره مخامخ نه وي؛ تر بېرته راستنېدو پورې د خپلې کورنۍ نفقه ولري؛ له ښځې سره د محرم شتون ضروري دئ؛ که محرم ونه لري که څه هم حج پرې فرض شوی وي؛ له اداء کولو ئې معاف ده؛ خو که سره دې ئې له محرم پرته حج وکړ؛ نو حج ئې صحیح دئ خو داسې کول مکروه دي. که د کور او مکې تر منځ د سفر واټن او موده تر درېو شپو ورځو کمه وي نو د محرم شتون ضروري نه

دئ؛

د بيت الله شاوخوا يوه ساحه د حرم په نامه ټاكل شوې؛ پنځو لوريو ته ئې داسي پنځه ځايونه ټاكل شوي چي حاجيان او عمره كوونكي به له دې ځايونو احرام سره داخلېږي؛ د مدينې لوري ته (ذو الحليفه)، د عراق لوري ته (ذَاتَ عِرْقٍ) چي د يوه واړه غـره نوم دئ، د شام لوري ته (جُحفه)، د نجد لوري ته د (قرن) په نامه يو غر او د يمن لوري ته (يلملم) دي؛ هغه چي كور ئې د ميقاتونو او مكې تر منځ وي؛ ميقات ئې د (حل: هغه ساحه ده چي د دوی د كور او مكې تر منځ وي)؛ او هغو خلكو ته چي په مكه كي اوسي؛ د احرام تړلو ځای ئې د مكې حرم او د عمرې لپاره ئې د (حل) ساحه ده؛ هغه خلك چي د حج او عمرې لپاره په الوتكو كي درومي نو يا به د سپرېدو وخت كي احرامونه تړي او يا به د الوتكو له عمله پوښتنه كوي چي كله به اړوند ميقات ته رسي چي احرام وتړي.

ښه دا ده چي تر احرام تړلو وړاندي غسل وشي؛ خو كه دا كار ګران وي نو اودس ورته كفايت كوي؛ بيا دي خپلي مخكينۍ جامې په يوه ټادر او لونګ بدلي كړي؛ د احرام دوه ركعته لمونځ دي اداء كړي، د حج يا عمرې نيت دي وكړي؛ او د تلبيې دا جملات دي ووايي: «لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالمُلْكَ، لاَ شَرِيكَ لَكَ»: حاضر او تيار يم ستا امر منلو ته اې زما مولا! چمتو يم منلو ته! چمتو يم؛ هيڅ شريك دي نه شته؛ چمتو يم؛ يقيناً چي ستايني او نعمتونه تا ته مختص دي؛ او واكمني هم؛ هيڅ شريك دي نه شته. كه كولی شي او زړه ئې غواړي نور دې ته ورته كلمات دي پرې علاوه كړي؛ په همدې سره په احرام كي داخل شو؛ د خپلي خوښي اوږده دعاء دي وكړي؛ كه مأثوره دعاګاني ئې زده وي؛ او كه نه نو په خپلي مورنۍ ژبي دي دعاء وكړي؛ احرام ته له داخلېدو وروسته به له هغو كارونو ډډه كوي چي په احرام كي ئې له كولو ممانعت شوی؛ د ټولو حرام ويناوو او

کارونو په شمول له ځینو جائز او حلال ویناوو او کارونو هم؛ لکه جنسي اړیکي او اړوند خبري ئې؛ ناوړه خبري، شخړي او جدل، د نوکانو او وېښتانو پرې کول، لنډول او خرېیل، د خزنده وژنه، ښکار او له بل سره په ښکار کې مرسته، ګنډلي جامې، کوټ او چپنه اغوستل، سر او پښې پټول، داسي څه په پښو کول چي د پښو ښړۍ په کې پټي شي، په ځان او جامه عطر وهل، هغه جامه دي نه اغوندی چي د (ورس)، زعفران یا (عصفر) په څېر بوټو رنګ او معطر شوې وي، مُحْرِم کولی شي چي د جنابت یا تودوخي له کبله غسل وکړي؛ خو نه به صابون کاروي، نه بل داسي څه چي د عطر بوی لري؛ په نوکانو یا ځیر شي به ځان نه موښي، کولی شي د چترۍ یا بل شي سیوري ته شي، له هر لمانځه وروسته، په هر لوړ او ځوړ او د حاجیانو له هري ډلي سره مخامخ کېدو په وخت کې دي تلبیه وایي.

کله چي محرم د مکې ښار ته داخل شي نو د کعبې په لیدو سره دي دا تکبیرونه ووایي: اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ وَلِلَّهِ الْحَمْدُ؛ او که کولی شي دا دعاء دي وکړي: اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوابَ رَحْمَتِكَ، اللَّهُمَّ زِدْ بَيْتَكَ هَذَا تَشْرِيفًا وَتَعْظِيمًا وَتَكْرِيمًا، وَبِرًّا وَمَهَابَةً، وَزِدْ مَنْ شَرَّفَهُ وَعَظَّمَهُ مِمَّنْ حَجَّهُ وَاعْتَمَرَهُ تَعْظِيمًا وَتَشْرِيفًا وَبِرًّا وَمَهابَةً؛ که ئې نه شي کولی او په معنی ئې نه پوهېږي نو ښه به دا وي چي په خپلي مورنۍ ژبي ئې ووایي: الهي! د رحمت دړې دي زما مخي ته پرانیزه؛ الهي! د دې خپل کور شرف، عظمت، کرامت، ښېګڼه او هیبت زیات کړه؛ او د هغه چا شرف، عظمت، کرامت، ښېګڼه او هیبت هم زیات کړه چي هغه ئې په شرافت او عظمت سره وستایو. خپل طواف دي له حجر الاسود پیل کړي؛ که ورته ممکنه وه نو په حجر الاسود دي لاس کښېږدي او هغه دي ښکل کړي؛ که نه نو خپل لاسونه دي داسي د هغې لوري ته لوړ کړي لکه چي پر هغې لاس راکاږي؛ حجر الاسود ته مخامخ دي لاسونه تر اوږو لوړ کړي؛ داسي چي رغوي ئې د هغې په لوري وي؛

تکبیرونه دي ووايي؛ د حجر الاسود مسح کول او ښکلول سنت دي؛ سمه نه ده چي د دې سنت لپاره خلك أذيت کړی شي؛ د هغوی ځورول او تنګول ناروا دي؛ له همدې ځای او په ښي لوري دي خپل طوافونه پیل کړي، په طواف کي دي خپل څادر داسي پر ځان واچوي چي یوه خوا ئې پر کيڼي اوږې وي او بله خوا ئې له ښي تخرګ راوباسي او پر کيڼي اوږې ئې واچوي؛ او ښۍ اوږه لوڅه پرېږدي؛ اوه ځلي به د کعبې طواف وکړي (پرې راوبه ګرځي) په لومړیو دریو ځلو کي به ئې تګ په رمل سره وي (په لنډو لنډو ګامونو سره ګړندی تګ او اوږې خوځول)؛ په پاته څلورو کي به ئې تګ عادي وي، هر ځل چي حجر الاسود ته رسېږي که ورته ممکنه او آسانه وه هغه دي مسح کړي؛ خپل طوافونه دي په حجر الاسود پای ته ورسوي، بیا دي په هغه ځای کي دوه رکعته واجب لمونځ وکړي چي د مقام ابراهیم (د ابراهیم علیه السلام د ودرېدو ځای) په نامه یادېږي، د مسجد الحرام په هري برخي کي دا دوه رکعته لمونځ کولی شي، په قرآن کي د مقام ابراهیم یادونه شوې خو د هغو دلائلو په ضمن کي چي ښيي کعبه هغه لومړنی کور دئ چي د الله تعالی له لوري وضع شوی او د ابراهیم علیه السلام په لاس په مکه کي جوړ شوی؛ په مکه کي د ابراهیم علیه السلام د اولاد؛ بنو اسمعیل شتون ثابتوي چي دا کور د ده په لاس جوړ شوی؛ اوس د کعبې شرقي لوري ته؛ په څو متره واټن کي او د هنداري یوې غرفه کي داسي تیږه ایښودل شوې چي د دوو پښو پلونو نښي په کي لیدل کېږي. د حاجي دا لومړی طواف؛ د طواف قدوم په نامه یادېږي چي سنت دئ؛ موخه ئې د کعبې درناوی او احترام دئ؛ د مکې پر اوسېدونکو نه شته؛ بیا به د صفا غونډۍ ته ځي؛ افضل دا ده چي د صفا له اړوند دروازې ورشي؛ خو له بلي لاري ورتګ کي هیڅ حرج نه شته؛ دومره دي غونډۍ ته لوړ شي چي کعبه ولیدی شي، بیت الله ته دي مخامخ ودرېږي، همغه تکبیرونه دي ووايي، د خپلي خوښي اوږده او له دې احساس او هیلي سره دعاء وکړه چي الله تعالی به ئې

قبلوي، د صفا او مروه پر غونډیو هاجر علیها السلام دعاء کړې او الله تعالی ئې دعاء قبوله کړې؛ نو دا د دعاء ګانو د قبلېدو ځای دیٔ؛ له صفا به په عادي ګامونو کوزېږې او د مروه په لوري به خوځېږې، کله چې د شېلې منځ ته ورسېږې؛ د لاري یوې برخې کې به په منډه ځې؛ دا برخه اوس داسې په نښه شوې چې په پیل او پای کې ئې؛ د لاري دواړو اړخونو ته؛ رنګ شوې ستني او شنه ګروپونه تر سترګو کېږي؛ او تا ته ښیي چې د منډې برخه دغه ده؛ هاجر علیها السلام همدلته منډه کړې او د حاجي دا منډه د هغې خاطرې یادول دي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم هم دلته منډه کړې ده؛ کله چې له دې برخې تېر شې نو بیا به په عادي ګامونو تر مروه پوري درومې؛ هلته به همغه څه کوې چې په صفا کې دي کړي؛ په دې سره د صفا او مروه تر منځ ستا له اوو وارونو تګ یو وار بشپړ کېږي؛ شپږ نور به هم تر سره کوې؛ له صفا دي پیل کړي وو او په مروه به ئې پای ته رسوې؛ له دې وروسته دي حاجي تر هغه په مکه کې پاته شي چې منٰی ته به درومي؛ د مخکې په څېر دي طوافونه او له هر ځل اوو طوافونو وروسته دوه رکعتونه لمونځ کوي.

سنت دا دیٔ چې د مسجد الحرام امام به د ذي الحجې په اومه او د ماسپښین له لمانځه وروسته؛ خلکو ته دوه خطبې اوروي او په دې خطبو کې به هغوی ته د حج د مناسکو په اړه ضروري لارښووني کوي؛ په اتمه به د سهار له لمانځه وروسته؛ له حاجیانو سره له ښار وځي او د منٰی په لوري به درومي؛ د ذي الحجې تر نهمي به په منٰی کې پاته کېږي؛ په نهمه ورځ او سهار له لمانځه وروسته به د عرفات په لوري روانېږي؛ دا هم سنت دیٔ چې عرفات ته تر روانېدو وړاندي غسل وکړي؛ په عرفات کې به د ماسپښین او مازدیګر لمونځونه یو په بل پسي، په یوه اذان او دوو اقامتو او د ماسپښین لمانځه په وخت کې اداء کېږي؛ امام به تر لمانځه وړاندي دوې خطبې وايي؛ په خطبو کې به د حج په اړه د ضروري لارښوونو په شمول د ټول اسلامي امت د مهمو قضایاوو په اړه داسي

څه وايي چي دا ستر او سپېڅلی محل او مهال ئې ايجابوي؛ دا په حقيقت كي د ټول اسلامي امت ستره كلنۍ غونډه ده؛ دلته بايد د امت ټولي ستونزي او هغه گواښونه چي ورسره مخامخ دي، هغه مسئوليتونه چي دوی ته متوجه دي؛ په گوته شي؛ دا د اسلامي امت د يووالي لپاره مهم او اغېزمن فرصت دیٔ؛ له كورنيو او بهرنيو گواښونو سره د گډي مقابلې لپاره د واحد تصميم نيولو فرصت؛ د امام خطبه بايد همغسي وي لكه د رسول الله صلى الله عليه و سلم خطبه؛ كه څوك د كوم عذر له كبله ونه توانېدو چي دا دواړه لمونځونه د امام په اقتداء كي اداء كړي؛ نو له بل جماعت پرته به ئې يوازي او يو په بل پسي اداء كوي.

د عرفات ميدان كي او د جبل الرحمة خوا ته؛ د دعاء ښه فرصت او وخت دیٔ؛ غوره ده چي دا دعاء مو په گډه وي او ټول حاجيان په كي برخه واخلي؛ داسي چي امام دعاء كوي او خلك آمين وايي؛ كه چا دا فرصت له لاسه وركړ؛ كېدی شي په بېلو بېلو ټوليو كي په گډه دعاء وكړي؛ له لمر لوېدو وروسته به حاجيان له عرفات راكوزېږي او آرام آرام به د مزدلفې په لوري روانېږي، دې سيمي ته له دې كبله د مزدلفې نوم وركړی شوی چي د دريو جمراتو خوا ته نژدې پرته ده؛ (إزلاف) نژدې كېدو ته وايي؛ حاجيان دلته د شپې په تياره كي او ماخستن رسېږي؛ او دا كټ مټ داسي ده لكه مجاهدين چي د شپې په تياره كي ځان دښمن ته رسوي؛ شپه هملته تېروي او سبا په مناسب وخت كي او په داسي حال كي چي دښمن غافل دیٔ او دفاع ورته گرانه؛ بريد پرې كوي؛ ځيني داسي انگېري چي گواكي دلته آدم او حواء عليهما السلام نژدې شوي او په عرفات كي ئې سره پېژندلي؛ دا ادعاءگاني هيڅ بنسټ نه لري؛ نه په دې كي د مفسرينو او علماءو اجماع ده چي آدم او حواء عليهما السلام په آسمان او آسماني جنت كي پيدا شوي او نه په دې كي چي زمكي ته بېل راكوز كړی شوي؛ او نه په دې كي چي چېري ئې سره ليدلي؛ او نه په دې اړه صحيح او معتبر روايت لرو؛ آدم زموږ جد دیٔ؛ هر څه ئې موږ ته

ورته دي؛ زمکنی مخلوق دئ، په زمکي کي پیدا شوی، وفات شوی او له همدې زمکي به له خپلو ټولو اولادونو سره یو ځای د قیامت په ورځ له خاوري راپاڅي؛ جنت او دوزخ به ئې هم په همدې زمکي کي وي. په همدې مزدلفه کي د مشعر الحرام په نامه یو غر دئ؛ امام به سره له حاجیانو همدلته ودرېږي او په ګډه به دعاء کوي؛ همدلته به د ماښام او ماخستن لمونځونه؛ د ماخستن په وخت، په یوه اذان او یوه اقامت سره اداء کېږي. د مشعر الحرام تحت اللفظي معنی؛ د دروند او محترم شعور وخت او ځای دئ؛ دلته به حاجیان د سبا ورځي مقابلې لپاره ٤٩ وړې ډبري راټولوي؛ د غټ نخود په اندازه؛ یا د کارتوس د مردکي په اندازه؛ له دې سره د مشعر الحرام نوم هم خاص مناسبت لري؛ ډېر ظریف مناسبت؛ له دښمن سره د مقابلې لپاره تر وسلې او تجهیزاتو وړاندي؛ د الله د لاري مؤمن مجاهد لوړ، سپیڅلي او دروند شعور، فکر او آرمان ته ضرورت لري؛ بې فرهنګ، بې هدف او بې مفکورې جنګیالي د الله په لار کي د جنګېدو وړتیا نه لري؛ مزدلفه، مشعر الحرام، دلته د تیږو راغونډول او جمراتو ته ځان چمتو کول؛ موږ ته همدا پیغام له ځان سره لري.

له عرفات تر مزدلفې پوري د لاري په اوږدو کي د ماښام لمونځ اداء کول روا نه دي؛ که څه هم ماخستن داخل شوی وي؛ دا دواړه لمونځونه باید په مزدلفه کي او د ماخستن له لمانځه سره یو ځای اداء شي؛ د عرفات او مزدلفې جمع صلاتین؛ ښیي چي په سفر کي داسي لمونځ جائز دئ؛ د مزدلفې وضعیت ته په پام سره ځینو علماءو دا فتوی ورکړې چي لمونځونه په وړو وړو جماعتونو کي اداء کېدی شي؛ د امام ابو حنیفه رأی دا ده چي "دلته د لمانځه لپاره جماعت شرط نه دئ"؛ همغسي لکه د جنګ میدان ته څېرمه او د محارب دښمن خوا ته سیمي کي چي په جماعت سره لمونځ ښه دئ؛ خو د کافي او ضروري امنیتي تدابیرو په شرط او له جماعت پرته لمونځ هم جائز دئ؛ دلته به د سهار لمونځ هم په

لومړي وخت کې اداء کېږي؛ تر ملا ختو وړاندې به له دې ځای د منٰی په لوري وځي او کله چې منٰی ته ورسېږي نو لومړی کار به ئې جمراتو ته ځان رسول او وروستنی ځلي ویشتل وي؛ له لومړي او منځني ځلي به تېرېږي او وروستنی به په اوو تیږو داسې ولي چې په یوه یوه ئې په نښه کړي او له هرې یوې سره به بسم الله الله اکبر وايي؛ له ویشتلو وروسته دې هلته توقف نه کوي؛ او ترې تېر دې شي؛ په کومو تیږو چې ځلي ویشتل شوي؛ بیا ئې کارول مکروه ګڼل شوي؛ د ویشتلو وخت په اړه ځیني له ملا خاته تر ملا لوېدو او ځیني له ملا ختو تر زوال پوري ګڼي؛ مریض، ضعیف او سپین ږیرو ته دا رخصت ورکړی شوی چې د ځلو ویشتلو لپاره وکیل ونیسي. چا چې د تمتع حج کړی؛ یعني عمره ئې کړې، بیا له احرام وتلي او بیا ئې منٰی ته د تګ په ورځ د حج لپاره احرام تړلی او چا چې حج او عمره په یوه احرام اداء کړي؛ پر دوی د یوه پسه او هغه ته ورته، یا په اوو تنو یو اوښ یا غوېی ذبح کول واجب دي، همدې ته د هدي نوم ورکړی شوی؛ دا به په ایام النحر کې ذبح کوي؛ غوښه به ئې فقراءو ته ورکوي؛ که څوك ئې توان نه لري نو لس ورځې به روژه نیسي؛ درې ورځې تر عرفې وړاندې په حج کې او اوه ورځې کله چې کور ته ستون شي؛ قرآن په دې اړه فرمايي:

... فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ... ﴿١٩٦﴾ البقرة

... نو که څوك تر حج پوري له عمرې ګټه واخلي نو بیا د قربانۍ هغه څاروی دئ چې میسر وي...

په هغه چا چې د إفراد حج نیت ئې کړی؛ هدي نه شته مګر په هغه صورت کې چې کوم واجب ترك کړي یا کوم ممنوعه کار وکړي.

د هدي بل ډول هغه مستحب هدي ده چې تطوعاً؛ په خپله خوښه او محض د الله تعالی رضاء تر لاسه کولو لپاره وي؛ حاجي، عمره کوونکی او هر مسلمان ئې وړاندې کوي؛ حرم ته ئې لېږي چې هلته ذبح شي.

اما د لوی اختر قرباني چي پر هر غني لازمه ده؛ ځيني ئې مؤكد سنت ګڼي او ځيني ئې واجب؛ په يوه كس يو پسه او هغه ته ورته څاروی، يا په اوو تنو يو اوښ يا غويي؛ حاجي ئې په حج كي يا ئې په خپل كور كي د ده په كفالت بل څوك ذبح كوي. دا د ابراهيم عليه السلام هغه قرباني رایادول دي چي غوښتل ئې د خپل خوب له مخي يوازينی مشر زوی ذبح كړي؛ دواړه تيار شول؛ الله تعالی دا قرباني ترې قبوله كړه او په بدل كي ئې د پسه قرباني ترې منظوره شوه او په دې سره د جاهليت د دور هغه دود د تل لپاره مردود او نفي شو چي خلكو به د خدای او بتانو په نامه خپل مشران زامن ذبح كول؛ موږ د دې الهي پېرزويني د شكر اداء كولو او د الله تعالی د رضاء حاصلولو لپاره دا قرباني وړاندي كوو.

د ذبح لپاره د احنافو او ځينو نورو په رأی درې ورځي دي؛ د لوی اختر لومړۍ ورځ او ورپسې دوه ورځي؛ او د ځينو له نظره څلور ورځي.

واجب هدي هغه ده چي د تمتع او قران حج له كبله لازمېږي او يا د كوم واجب عمل ترك كولو او د كوم ممنوع كار په كولو سره واجبېږي.

كه له كوم حاجي د حج له واجباتو كوم واجب پاته شي؛ لكه له ميقات احرام تېرل؛ په مينا او مزدلفه كي شپه تېرول؛ د وداع طواف پاته شي؛ نو پر هغه دم (د څاروي قرباني كول) لازمېږي؛ د عدم توان په صورت كي لس ورځي روژه؛ درې د حج موسم كي او اوه ئې كور ته له ستنېدو وروسته.

كه له چا په عرفات كي حضور پاته شو؛ د يوم النحر سحر پرې راغی؛ نو حج ئې ونه شو؛ پر هغه د حج قضاء او د يوه څاروي ذبح كول او مسكينانو ته ئې غوښه وركول لازم ده. او كه محرم حاجي؛ د حج د مناسكو له پيل وروسته؛ د كوم خنډ او مانع له كبله؛ ونه توانېدو خپل حج بشپړ كړي؛ لكه د مرض له كبله يا د امنيتي موانع او خنډونو له كبله؛ پر هغه هم هدي لازمه ده؛ هلته به له احرام وځي چي ذبيحه ئې

په خپل محل کې ذبح شي. قرآن په دې اړه فرمايي:

"... فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ وَلاَ تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّى يَبْلُغَ الْهَدْىُ مَحِلَّهُ...".

... که مو مخنيوی وشو نو بيا (ئې فديه) د قربانۍ هغه څاروی دئ چي ميسر وي او خپل سرونه تر هغه مه خرېيئ چي دا څاروی د حلالېدو خپل ځای ته ورسېږي ...

په احرام کې د هغو کارونو چي ممانعت ترې شوی؛ لکه وېښتان کمول او خرېيل، ګنډلې جامه اغوستل، عطر وهل، نوکان قطع کول؛ کفاره ئې دا ده چي يو له دغو کارونو به کوي: فديه؛ درې ورځي روژه او شپږو مسکينانو ته خواړه؛ هر مسکين ته نيمه پيمانه (تقريباً يوه نيمه کيلو) خرما، غنم، وربشي يا بل خوراکي توکی.

له خپلو مېرمنو سره د احرام په حالت کې د جنسي نژدېکت له کبله؛ حج فاسدېږي او قضاء ايجابوي؛ او علاوه پر دې د يوه اوښ يا غوايي قرباني کول ئې کفاره ده.

په احرام کې د ښکار او په حرم کې ئې د وژلو کفاره؛ ښکار شوي حيوان ته ورته حيوان قرباني کول دي.

په حج کې د تېريو او ممنوعه چارو د ارتکاب څرنګوالي او د هغوی د کفارې په اړه د فقهاءو له لوري تفصيلي بحثونه شوي؛ د مزيد معلومات لپاره د فقه کتابونو ته رجوع وکړئ.

له دې وروسته حاجي له احرام وځي او د احرام د حالت ممنوعه شيان ورته روا کېږي؛ له خپلو مېرمنو سره له نژدېکت پرته.

بيا به حاجي په همدغه ورځ، يا په ورپسې دوو ورځو (١١،١٢ او ١٣) د ذي الحجې د طواف لپاره مکې ته ځي؛ اوه طوافه به کوي؛ دې ته د زيارت طواف ويل شوي او د حج له فرائضو دئ، د رکن طواف، افاضې طواف او د يوم النحر طواف په نامه هم يادېږي؛ د دې طواف

اصلي ورځ همدا د يوم النحر ورځ ده چي د قرباني څاروي په کي ذبح کېږي. د احنافو له نظره د حج فرائض درې دي: احرام اغوستل، په عرفات کي توقف او د زيارت طواف، که له دغو هر يو ترك شي نو حج فاسد کېږي؛ که حاجي د قدوم له طواف وروسته د صفا او مروه تر منځ سعي کړې وي؛ د زيارت په طواف کي دي رمل (په لنډو ګړندي ګامونو تګ او اوږې خوځول) نه کوي، که نه نو رمل به هم کوي، له دې وروسته په بشپړه توګه له احرام وتلی ګڼل کېږي؛ له مېرمنو سره د نژدېکت په شمول؛ د احرام د دوران ټول ممنوعه شيان ورته روا شوي. د زيارت له طواف وروسته بېرته منٰی ته درومي؛ شپه هلته تېروي؛ سبا د ماښام له زوال وروسته به د جمراتو درې ځلي؛ هر يو په اوو (۷) تيږو ولي؛ له بسم الله الله اکبر سره؛ ويشتل به له لومړي ځلي پيلوي؛ دوهم او درېيم ورپسې، د لومړي او دوهم له ويشتلو وروسته د هغوی يوه لوري ته لنډ تمېږي او دعاء به کوي؛ خو د وروستني ځلي له ويشتلو وروسته له توقف پرته روانېږي؛ او په منٰی کي خپل ځای ته ستنېږي؛ سبا به د پرون په څېر دا ځلي ولي؛ له دې وروسته حاجي کولی شي له منٰی ووځي او مکې ته ولاړ شي؛ همغسي چي قرآن فرمايي: (... فَمَنْ تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلا إِثْمَ عَلَيْهِ...): نو که څوك په دوو ورځو اکتفاء وکړي او عجله وکړي؛ نو هيڅ ګناه پرې نه شته)؛ خو که پاته شو نو بيا به هم ځلي ولي. همدلته د منٰی توقف بشپړ شوی او حاجيان د مکې په لوري درومي؛ هلته به حاجي آخري ځل اوه طوافونه کوي چي د صدر يا رجوع طواف په نامه يادېږي او پر هغو حاجيانو واجب دئ چي له بهر مکې ته راغلي؛ د مکې پر اوسېدونکو حاجيانو واجب نه دئ؛ په دې طواف کي رمل هم نه شته؛ په همدې طواف سره د حاجي حج بشپړ شي.

د حج يوه مهمه برخه هغه دعاءګاني دي چي د طواف، صفا او مروه پر غونډيو، عرفات او مزدلفې کي د توقف په وخت او نورو مناسبتونو کي بايد وشي؛ که څوك په عربي پوهېږي او مأثوره دعاءګاني ئې زده او

حفظ وي او يا ئې ليکلې له ځان سره لري؛ همدا دعاءگاني دي وکړي؛ د قرآن هغه دعاءگاني دي وکړي چي پيغمبرانو عليهم السلام کړې او الله تعالى قبلولې کړې؛ که نه نو په خپله ژبه د خپل زړه د خوښي جائز دعاءگاني دي وکړي؛ هيله مي دا ده چي دا دعاءگاني په کې شاملي کړئ؛ چي زه ئې هم په ثواب کې درسره شريك شم:

زما مولا! ستا لوري ته د نژدې کېدو له عزم او ارادې سره راغلى يم؛ ستا هغه کور ته راغلى يم چي د ابراهيم خليل الله (د خداى ډېر نژدې دوست) او اسمعيل ذبيح الله (د الله لپاره ذبح شوى)؛ په لاس او ستا په امر جوړ شوى او تا د بيت الله نوم ورکړى؛ دا ستا کور دئ؛ او زه ستا د دغه کور دړي ته ودرېږم، په ټيټ سر، کږه غاړه، اوښلنو سترگو سره راغلى يم؛ د گناهونو له درانه پېټي سره؛ د بخښني او مغفرت له هيلي سره؛ ستا دا وينا مي اورېدلې او کلك ايمان پرې لرم: (قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ: ووايه: اې زما هغو بندگانو چي پر خپل ځان ئې تېرى کړى؛ په ډېرو گناهونو سره ئې پر ځان ظلم کړى؛ د الله له رحمت مه ناهيلي کېږئ؛ يقيناً چي هغه ټول گناهونه بخښي؛ بې له شکه چي هغه ډېر مهربان بخښونکى دئ)؛ نه يوازي گناهونه بخښي؛ بلکې پر خپل توبه کوونکي گنهگار بنده د خپل رحمت او پېرزويني سيورى غوړوي؛ مهربان بخښونکى دئ.

خدايه! د خپلي دغي وعدې له مخي؛ ټول گناهونه مي راته وبخښه؛ واړه او ستر ئې، پټ او ښرگند ئې؛ هغه چي پرې پوهېږم گناه مي کړې او هغه چي نه پرې پوهېږم؛ که تر نن وړاندي د بل کور دړي ته ودرېدلى يم، له بل چا مي وېره او طمع کړې؛ د بل لمن مي نيولې؛ د هغو په ښېر شوى يم چي د قصرونو او قبرونو طواف ئې کړى؛ توبه مي ده؛ بيا به داسي غلطي نه کوم، تا ځان ته کافي گڼم، نن ستا د کور خوا ته همدا ژمنه کوم، په حجر الاسود لاس ږدم؛ او دا له تا سره د اطاعت او بيعت

کلك او دائمي تعهد؛ غواړم د ابراهیم، اسمعیل او هاجر علیهم السلام په څېر شم؛ هغه چي یوه ئې په زړښت او هغه مهال چي ځوان زوی ته سخت اړ وو او همدا ئې یوه لویه تمنا؛ دې ته چمتو شو چي همدا زوی ستا لپاره قرباني کړي؛ بل ئې هغه چي په تنکۍ ځواني کې ذبح کېدو ته تیار شو؛ او بل ئې هغه چي د مکې په وچې، له ژوو او بوټو تشې وحشتناکې وادي کې له تې خور ماشوم سره یوازې پرېښودی شوه؛ خاوند ئې ستا په حکم یوازې پرېښوده؛ او کله چي هغه ورته وویل: الله ته مو سپارم؛ نو هغې وویل: الله راته کافي دئ؛ او یقیناً چي ته ورته کافي شوې؛ د زمزم چینه د هغې د ماشوم زوی پښو ته راوخوټېده؛ دا دئ په زرگونو کلونه تېر شول خو هغه چینه لا همغسي خوټېږي؛ کله چي ابراهیم علیه السلام دوی په دې وحشتناکې وادي کې پرېښودل؛ تا ته ئې وسپارل، دعاء ئې وکړه چي خدایه! د دوی لوري ته د خلکو زړونه رامات کړه، د روزي انتظام ئې وکړه؛ تا ئې دعاء قبوله کړه؛ همغه وحشتناکه وادي د نړۍ په ستر سیاسي، اقتصادي او مذهبي مرکز بدله شوه؛ دا نن چي هر کال په ملیونونو حاجیان ستا کور ته راځي؛ په حقیقت کې د ابراهیم علیه السلام دعوت ته لبیك وایي؛ د دوی راتگ د ده د دعاء مصداق او مظهر دئ؛ خدایه! زما دعاءگاني همغسي قبولي کړې چي د ابراهیم او هاجر علیهما السلام دعاء گاني دي قبولي کړې؛ د صفا او مروه په سر دعاءگاني مي د هغې دعاءگانو ته ورته کړې؛ زموږ مهربان مولا! ما وبخښې، زما پر ملگرو، خپلوانو او زما پر مظلوم ملت رحم وکړې؛ د محمد علیه السلام پر ځورېدلي امت خپل پراخ رحمت پېرزو کړې، تېر مجد او عظمت ئې احیاء کړې او پر موږ هغه ورځ وگورې چي د اسلام پرتمین بیرغ د نړۍ په گوټ گوټ کې رپانده وي او د شر او فساد ځواکونه په ټولي نړۍ کې داسي ځپل شوي وي چي په هیڅ گوټ کې ئې هیڅ مسلمان ته په کږو سترگو د کتلو جسارت ونه کړي؛ د هغي ورځي د رارسېدو په هیله؛ آمین

## ۳۰ کتاب: د مدینې منورې فضائل

تر دې وړاندې چې د مدینې فضائلو په اړه د کتاب اړوند بحث پیل کړو باید ووایو چې مکه د مدینه والو په لاس فتح شوه؛ د مکې قریشو رسول الله صلی الله علیه و سلم او یاران ئې له مکې وایستل، د ده یاران ئې ځورول، وهل، وژل، د ګرمي ببدیا په شګو کې ئې څملول او پرسینو ئې درنې ډبرې ایښودلې، په درو ئې وهل، په نېزو ئې وژل؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم د وژلو پرېکړه ئې وکړه؛ د مدینې خلکو پناه ورکړه؛ کله چې د مدینې یوه دروند پلاوي د حج موسم او په منٰی کې هغه ته بلنه ورکړه چې مدینې ته راشي او دوی به ئې د دښمنانو په وړاندې دفاع کوي؛ یو زلمی د پلاوي له منځه پاڅېد او خپلو مدینه والو ته ئې په خطاب کې وویل: آیا پوهېږئ د دې بلنې او پناه ورکولو پایله به څه وي؟ ټول عرب به ستاسو خلاف متحد کېږي، له تېکو وتلې توري به ئې ستاسو پر سر او غاړو راپرېوځي؛ ستاسو زامن به وژل کېږي، لوڼې او مېرمنې به مو په اسارت نیول کېږي؛ آیا دې ته چمتو یئ؟ که چمتو یئ نو بلنه ورکړئ او پر عهد کلك ودرېږئ؛ اجر به ئې الله تعالی درکوي؛ او که نه شئ کولی نو خپل عذر وړاندې کړئ الله تعالی به ئې قبول کړي؛ یقیناً چې دا همدومره خطرناك تصمیم وو؛ دوی په بشپړ اخلاص او صداقت سره دا تعهد وکړ؛ مدینه د دعوت په مرکز بدله شوه، د اسلام او ایمان رڼا له همدې مرکز د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسېده؛ د مدینې د انصارو په قربانیو سره ورسېده؛ داسې چې د مدینې د مسلمانانو اکثر له مدینې بهر په شهادت رسېدلي او لږ ئې په مدینه کې وفات شوي؛ په ډېرو اسلامي هېوادو کې به د هغوی قبرونه ومومئ؛ یقیناً چې ټول اسلامي امت؛ په خپل اسلام او ایمان کې د مدینې د انصارو پوروړي دي؛

دا چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د مكې له فتحې وروسته نه په خپله هلته پاته شو او نه ئې نورو ته اجازه وركړه چې هلته پاته شي؛ ټول ببرته مدينې ته ستانه شول؛ همدا شرف او فضيلت د مدينې لپاره كافي دئ.

## ١ باب: د مدينې حرم

٩٠٢ ـ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «المَدِينَةُ حَرَمٌ مِنْ كَذَا إِلَى كَذَا، لاَ يُقْطَعُ شَجَرُهَا، وَلاَ يُحْدَثُ فِيهَا حَدَثٌ، مَنْ أَحْدَثَ حَدَثًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالمَلاَئِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ». (بخارى: ١٨٦٧)

٩٠٢ – له انس رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (مدينه له دې ځاى تر دې ځاى حرم دئ (د عير له غره د احد تر غره پورې)؛ نه به ئې ونې قطع كېږي او نه به نادودې او د اسلام خلاف كارونه په كې كېږي؛ او څوك چې دا ناوړه كارونه په كې وكړي؛ پر هغه دې د الله تعالى، ملائكو او ټولو خلكو لعنت وي).

د رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې ارشاد كې مؤمنانو ته دا لارښوونه ځلېږي چې په هر هغه مهم ښار كې چې د دوى لپاره د پلازمېنې په څېر مركزي حيثيت لري؛ هلته بايد داسې تدابير ونيول شي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په مدينه كې ونيول؛ د مدينې يوه برخه ئې د داسې حرم او حريم په توګه وټاكله چې ونې او بوټې به ئې نه وهل كېږي، له نادودو او فساد به په كلكه ډډه كېږي؛ دلته بايد بشپړ امنيت تأمين وي، له اخلاقي او معنوي پلوه هم تصفيه او تزكيه شوې وي، بدو خلكو ته په كې ځاى نه وي، شرير افراد ترې وايستل شي. همدا كار ابراهيم عليه السلام په مكه كې وكړ؛ د مكې لپاره پراخ حرم د ابراهيم عليه السلام له زمانې ټاكل شوى؛ نن د نړۍ په ټولو پلازمينو كې يوه ساحه د شنې او محفوظ سيمې (green zone) په نامه يادول كېږي.

۹۰۳ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «حُرِّمَ مَا بَيْنَ لاَبَتَيِ المَدِينَةِ عَلَى لِسَانِي»، قَالَ: وَأَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَنِي حَارِثَةَ، فَقَالَ: أَرَاكُمْ يَا بَنِي حَارِثَةَ قَدْ خَرَجْتُمْ مِنَ الحَرَمِ، ثُمَّ التَفَتَ، فَقَالَ: «بَلْ أَنْتُمْ فِيهِ». (بخاری: ۱۸۶۹)

۹۰۳ – له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (د مدينې د دوه لابته وو تر منځ سيمه؛ زما په ژبه د حرمت او درناوي وړ ګڼل شوې)؛ (لابته هغه بېديا ته ويل کېږي چي تورو ډبرو پوښلې؛ احتمالاً د ډېري تودوخي له کبله توري شوې؛ د مدينې منورې شرقي او غربي لوريو ته همداسي ډاګونه وو)؛ راوي وويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم د بني حارثه قبيلې ته ورغی او وئې فرمايل: (اې بني حارثه! داسي انګېرم چي تاسو له حرم وتلي يئ)؛ بيا ئې يوې بلي خوا ته وکتل او وئې فرمايل: (نه؛ تاسو په حرم کي يئ).

په دې روايت کې دا برخه «حُرِّمَ مَا بَيْنَ لاَبَتَي الْمَدِينَةِ عَلَى لِسَانِي»: (د مدينې د دوو بېدياوو تر منځ سيمه؛ زما په ژبهَ د حرمت او درناوي وړ ګڼل شوې)؛ خاصه توجه ايجابوي؛ بايد پوه شو چي ولې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: زما په ژبه د درناوي او حرمت وړ ګڼل شوې؟ د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا او دې ته ورته ويناوي ښيي چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم ويناوي څو حالتونه لري: ۱- هغه چي د الله تعالى له لوري ده ته وحي شوې. ۲- هغه چي د همدې وحي په شرح او تفصيل کې ئې فرمايلي. ۳- هغه چي د ده خپل کلام او رأی افاده کوي. په لومړنيو دوو کې رسول الله صلى الله عليه و سلم هيڅ څه له ځانه نه دي ويلي؛ د الله تعالى کلام ئې په بشپړ امانت او له تغيير پرته ويلی او بيان کړی؛ پرته له دې چي په الفاظو کې ئې څه تغيير او بدلون راوړي او يا ئې په مفهوم او محتوی کې څه کمی او زياتی وکړي. اما دريېم صورت ئې داسي دئ چي هم ئې کلام او الفاظ د ده دي او هم

ئې مفهوم او محتوی؛ ځيني ئې د ده شخصي ژوند پورې مربوط وېناوې دي او ځيني ئې د چارو په ارتباط د ده لارښوونې او رأی؛ په دې روايت کې د رسول الله صلی الله عليه و سلم دا وينا (زما په ژبه د حرمت وړ ګڼل شوې)؛ د رسول الله صلی الله عليه و سلم د کلام درېيم صورت بيانوي او ښيي چې دا لارښوونه نه د وحي له مخې ده او نه د وحي د شرح او تفصيل له مخې؛ بلکې ده په خپله لازم ګڼلې چې د مدينې لپاره يو حرم وټاکې؛ همغسې لکه چې ابراهيم عليه السلام د مکې لپاره يو حرم ټاکلی؛ د روايت دوهمه برخه چې وايي(: أَرَاكُمْ يَا بَنِي حَارِثَةَ قَدْ خَرَجْتُمْ مِنَ الحَرَمِ، ثُمَّ التَفَتَ، فَقَالَ: «بَلْ أَنْتُمْ فِيهِ»: (اې بني حارثه! داسې انګېرم چې تاسو له حرم وتلي يئ)؛ بيا ئې يوې بلې خوا ته وکتل او وئې فرمايل: (نه؛ تاسو په حرم کې يئ)؛ له دې په ځرګنده توګه معلومېږي چې دا د ده خپله رأيه وه؛ د شخصي ژوند اړوند کلام بېلګې ئې دا دي چې ويلي ئې دي: دا خوراك او مېوه مې خوښېږي، دا جامه او هغه رنګ مې خوښ دئ؛ نن به له فلاني سره ګورم او دا به ورته وايم؛ د چارو په اړه د کلام بېلګې دا چې د بدر، احد او خندق جنګونو په اړه ئې لارښوونې کړې؛ متأسفانه ځيني داسې دي چې دا درې واړه سره خلط کړي؛ له تفکيك ئې عاجز وي؛ ګمان او ادعاء ئې دا وي چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم هر کلام؛ د الله تعالی له لوري وحي ده!! او استناد ئې هم پر دې آيت وي:(وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى)؛ (إِنْ هُوَ إِلا وَحْيٌ يُوحَى): النجم: ۳- ٤: او له خپلې هوی او هوس خبرې نه کوي، دا نه دئ مګر داسې وحي چې وحي کېږي. خو دوی دې ته متوجه نه دي چې په دوهم آيت کې په (هُوَ) سره قرآن ته اشاره شوې او په څلورم کې مزيد وضاحت شوی چې وايي: عَلَّمَهُۥ شَدِيدُ ٱلۡقُوَىٰ: دا قرآن د پياوړي او شديد القوی مَلَك له لوري ده ته وحي شوی؛ د دې فرښتې نوري ځانګړتياوې داسې بيانوي:

ذُو مِرَّةٖ فَٱسۡتَوَىٰ ۝٦ وَهُوَ بِٱلۡأُفُقِ ٱلۡأَعۡلَىٰ ۝٧ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّىٰ ۝٨ فَكَانَ قَابَ

قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَىٰ ۝٩ فَأَوْحَىٰٓ إِلَىٰ عَبْدِهِۦ مَآ أَوْحَىٰ ۝١٠

د مکنت او متانت خاوند؛ چې برابر شو؛ حال دا چې هغه په لوړ پاس کې وو، بیا نژدې شو نو کوز راغی، نو د دوو لیندیو په واټن وو یا تر دې هم ورنژدې، نو د ده بنده ته ئې هغه څه وحي کړ چې وحي ئې کړ.

د دې مبارکو آیتونو معنی فقط دا ده چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم له لوري وړاندې شوی قرآن د ده خپل کتاب او د ده د وینا وو مجموعه نه ده، دا خو یوازې هغه وحي ده چې د یوه پیاوړي او شدید القوی ملك له لوري ده ته وحي شوی؛ دلته په (هو) سره قرآن ته اشاره شوې نه بل څه ته او نه د رسول الله صلی الله علیه و سلم هرې وینا ته، د رسول الله صلی الله علیه و سلم ډېرې وېناوې نه وحي وې او نه د وحي شرح او تفسیر، بلکې د ده خپلې خبرې وې، دا درې باید سره خلط نه کړو؛ قرآن وحي ده، حدیث د وحي شرح او تفسیر دئ؛ او پر دې دواړو سربېره رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپل شخصي ورځني ژوند کې ډېرې داسې خبرې کړې چې نه د وحي نوم ورکولی شو او نه ئې د وحي شرح او تفسیر ګڼلی شو؛ لکه دا چې رسول الله صلی الله علیه و سلم هره ورځ چا ته د کوم کار کولو سپارښتنه کړې، څه ئې د خوراك او څښاك لپاره غوښتي، د کوم جنګ پرېکړه ئې کړې، کومه ډله ئې کوم لوري ته لېږلې، د ډلې غړي ئې غوره کړي؛ او دې ته ورته نور کارونه؛ آیا ویلی شو چې دا هره وینا او د ورځني ژوند هر ووړ او لوی کار ئې د وحي له مخې وو؟! جبرئیل علیه السلام ورته راغلی او دا لارښوونې ئې هغه ته کړې؛ ویده شه، پاڅه، وخوره وڅښه؟!! رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د وحي پیل او پای او اړوند آیتونه ئې معلوم دي؛ د العلق سورې لومړي پنځه آیتونه ئې پیل او د المائده سورې ۳ آیت دا برخه ئې آخري وحي وه: (....الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا ....)؛ او په همدې سره قرآن بشپړ شوی او د وحي لړۍ پای ته رسېدلې.

په پنځم آيت کې ويل شوي: د مضبوط ځواك خاوند ورښودلی، د متانت خاوند، چې برابر شو حال دا چې هغه په لوړ پاس کې وو، بيا نژدې شو نو كوز راغی، نو د دوو ليندیو په واټن وو يا تر دې هم ورنژدې، نو د ده بنده ته ئې هغه څه وحي کړ چې وحي ئې کړ. نو دغه زړه هغه څه دروغ ونه ګڼل چې ليدلي ئې وو.

که څه هم د دې مبارکو آيتونو الفاظ ډېر واضح او مطلب ئې ډېر ښرګند دئ او د صاف زړه خاوند په آسانۍ سره پرې پوهېږي چې دلته څو خبرو ته اشاره شوې: د جبرئيل عليه السلام له لوري د قرآن وحي، په لومړي ځل په خپلي اصلي بڼې کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ځان ښودل، هغه هم د آسمان په لوړي غبرګ کې، بيا دومره ورنژدې کېدل لکه د دوو ليندیو تر منځ واټن، خو متأسفانه ځېني تور زړي او د کږې سليقې خاوندان دا آيتونه تحريفوي او وايي: الله تعالى رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ځان ښودلی، ورنژدې شوی، دا پېښه د معراج په سفر پوري تړي او دا مخامخ ملاقات په لامكان کې او د عرش له پاسه ګڼي!!! راشئ وګورو چې دا تحريف څومره کوږ او د قرآن د ښرګندو لارښوونو خلاف دئ. لاندې مطالبو ته ځير شئ:

- د التكوير په سوره کې د النجم د سورې دغه مطالب په دې صيغه راغلي:

إِنَّهُۥ لَقَوۡلُ رَسُولٖ كَرِيمٖ ﴿١٩﴾ ذِي قُوَّةٍ عِندَ ذِي ٱلۡعَرۡشِ مَكِينٖ ﴿٢٠﴾ مُّطَاعٖ ثَمَّ أَمِينٖ ﴿٢١﴾

بې شكه چې دا (قرآن) د عزتمن استازي وينا ده، د عرش خاوند ته مخور او ځواكمن، هلته منل شوی او امين.

لکه چې ګورئ دلته د وحي حامل ملك په څو صفتونو ياد شوی: كريم، ذي قوة، د عرش خاوند ته مخور او ځواكمن، او په هغه مقام کې مطاع او امين؛ آيا دا مواصفات له فرشتې پرته بل څه ته راجع کولی شو؟

آیا دا وینا: د عرش خاوند ته مخور او ځواکمن، هلته منل شوی او امین؛ له جبرئیل پرته په چا ئې اطلاق کېدی شي؟ او همدا فرشته د النجم د سورې په آیتونو کې په دې صفتونو یاده شوې: شدید القوی، ذو مره، لکه چې په دې دواړو سورتونو کې دا دوه صفات د وحي حامل فرشتې ته منسوب شوي همدا راز د قرآن په هیڅ آیت کې الله تعالی د (شدید القوی) او (ذو مره) په صفت نه دیٔ یاد شوی.

رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د فرشتې دا نژدې کېدا په هغه حدیث کې هم په څرگنده توگه راغلې چې پر رسول الله صلی الله علیه و سلم د وحي د نزول پیل زموږ مخي ته په دې الفاظو بږدي:

... حَتَّى فَجِئَهُ الحَقُّ، وَهُوَ فِي غَارِ حِرَاءٍ فَجَاءَهُ المَلَكُ، فَقَالَ: اقْرَأْ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا أَنَا بِقَارِئٍ»، قَالَ: " فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الجُهْدَ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي، فَقَالَ: اقْرَأْ، قُلْتُ: مَا أَنَا بِقَارِئٍ، فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّانِيَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الجُهْدَ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ: اقْرَأْ، قُلْتُ: مَا أَنَا بِقَارِئٍ، فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّالِثَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الجُهْدَ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي، فَقَالَ: (ٱقْرَأْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلَّذِى خَلَقَ۝١ خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِنْ عَلَقٍ۝٢ ٱقْرَأْ وَرَبُّكَ ٱلْأَكْرَمُ۝٣ ٱلَّذِى عَلَّمَ بِٱلْقَلَمِ۝٤)". إِلَى قَوْلِهِ (عَلَّمَ ٱلْإِنسَٰنَ مَا لَمْ يَعْلَمْ). صحیح ابن حبان، مسلم و بخاری

...ترهغه چې وحي په داسې حال کې ورته راغله چې د حراء په غار کې وو؛ فرشته ورته راغله ورته وئې ویل: ولوله! رسول الله صلی الله علیه و سلم وویل: (زه خو لوستونکی نه یم)؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايي: فرشتې په غېږ کې داسې کلك ونیولم چې وس او زغم مې په پای ته رسېدو شو، هغې پرېښودم او راته وئې ویل: ولوله؛ ما وویل: (زه لوستونکی نه یم)؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم وايي: هغې فرشتې بیا ونیولم او دومره ئې ټینگ کړم چې څومره مې تحمل کولی شو؛ بیا ئې پرېښودم او وئې ویل: ولوله؛ ما وویل: (زه لوستونکی نه یم)؛ دریېیم

ځل ئې بيا ونيولم؛ دومره ئې ټينګ کړم چې زغم مې په پاى ته رسېدو شو، بيا ئې خوشى کړم او راته وئې ويل: (ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ.........) (ولوله د خپل هغه رب په نامه چې هر څه ئې پيدا کړي دي؛ انسان ئې له ځوړند توکې پيدا کړى؛ ولوله ستا رب تر ټولو زيات کريم او د زيات عزت خاوند دئ).

دا حديث په ډېر صراحت سره د پورتنيو مبارکو آيتونو شرح زموږ په وړاندي ږدي او ښيي چې د فرشتې هغه نژدې کېدا څنګه وه.

ځيني دا مبارك آيتونه غلط تعبيروي او وايي الله تعالى رسول الله صلى الله عليه و سلم ته دومره ورنژدې شوى لكه د دوو ليندېو په واټن!! دوى نه يوازي د قرآن ځرګنده وينا تحريفوي او د دې آيتونو هغه تفسير ردوي چې قرآن په خپله وړاندي کړى؛ بلكې هغه څه وايي چې د توحيد له عقيدې سره تصادم كوي.

دوى ادعاء كوي چې ګواكې دلته د رسول الله صلى الله عليه و سلم معراج ته او د معراج په سفر كې له الله تعالى سره ملاقات ته اشاره شوې!!! حال دا چې دا سوره د معراج له روحاني سفر نژدې اته کاله وړاندي نازله شوې، ډېر ناپوه او په غرض او مرض اخته انسان به دا جسارت كوي چې دا مبارك آيتونه د معراج په سفر پورې وتړي!!

متأسفانه ځيني د قرآن دا ټول وضاحتونه له پامه غورځوي او د خپل غلط تعبير په تأييد كې دا استدلال كوي چې په آيت كې فاوحى الى عبده ما اوحى راغلي؛ ګواكې په (عبده) كې ضمير هغه چا ته راجع دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ئې مخامخ وحي كوله نو دا وحي د الله تعالى له لوري وه او دا نژدې كېدا هم د ده له لوري!! په داسي حال كې چې دا تعبير له يوې خوا د النجم او التكوير د سورتو له اړوند آيتونو سره په بشپړه توګه مغايرت لري او له بلې خوا داسي صحيح الإسناد روايت نه مومو چې په سلف كې دا غلط تعبير ورته منسوب شوى وي؛ په دې اړه ټول متفق دي چې په عبده كې ضمير الله تعالى ته راجع دئ

او د اوحى فاعل د وحي حامل فرشته ده؛ د دې اعتراض چې ولې ضمیر الله تعالی ته راجع کېږي په داسي حال کې چې تر دې وړاندې د الله نوم نه دئ یاد شوی؛ ځواب دا دئ چې د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې کله چې د ضمیر مرجع کوم ځرګند شی یا شخص وي نو هلته ضمیر همدې مرجع ته راجع شوی که څه هم د هغه نوم په ځرګنده توګه وروسته یا وړاندې نه وي یاد شوی؛ لکه د النجم سورې په څلورم آیت کې (هو) قرآن ته راجع دئ که څه هم تر دې وړاندې د قرآن یادونه نه ده شوې؛ او لکه د التکویر د سورې په پورتني آیت کې په (إنه) سره قرآن ته اشاره شوې، یا د القدر د سورې په (انزلنٰه) کې قرآن ته اشاره شوې سره له دې چې په ټولې سورې کې د قرآن یادونه نه ده شوې.

دې ته مو پام وي چې قرآن موږ ته په ډېر صراحت سره وایي چې انسان ته په دنیا کې او په دغو سترګو د الله تعالی لیدل محال دي؛ د هغه چا په اړه چې ویلي ئې دي: خدای راوښیئ چې په خپلو سترګو ئې وګورو!! داسي فرمایي: ځان ورته ستر برېښېدلی!!

وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْنَا ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ أَوْ نَرَىٰ رَبَّنَا ۗ لَقَدِ ٱسْتَكْبَرُوا۟ فِىٓ أَنفُسِهِمْ وَعَتَوْ عُتُوًّا كَبِيرًا ﴿٢١﴾ الفرقان

او هغو چې زموږ د ملاقات هیله نه لري؛ وویل: ولې پر موږ فرشتې نه نازلېږي او خپل رب نه ګورو؛ یقیناً چې د خپل ځان په اړه ئې د لوی والي احساس وکړ؛ او په ستري سرکښۍ سره ئې سرکښي وکړه.

په دې مبارك آیت کې لاندې الهي ارشادات زموږ مخې ته ځلېږي:

• هغه چې په ګناهونو کې غرق دي، د همدې ګناهونو له کبله له الله تعالی سره د ملاقات پایلو ته هیڅ هیله نه شي درلودی؛ نو ځکه قیامت او له الله تعالی سره مخامخېدا تکذیبوي؛ په دې اړه د نورو بې بنسټو دلائلو تر څنګ وایي: دا د وحي فرشتې ولې یوازې پر رسول الله صلی الله علیه و سلم نازلېږي؛ ولې مخامخ پر موږ نه نازلېږي؟ څنګه

ومنو چي هغه ته راځي او موږ ته نه؛ هغه ئې ليدى شي او موږ نه؟!! ولې الله تعالى موږ ته خپل ځان نه ښيي او په خپله مخامخ زموږ لارښوونه نه کوي؟ ولې په خپله موږ ته نه وايي چي دا مي پيغمبر دئ او دا مي پيغام؟!!

الله تعالى د دوى د وينا او مطالبې په ځواب کې فرمايي: يقيناً چي دوى ته خپل ځان ډېر ستر برېښي، غواړي د عالمونو ستر رب په خپلو ورو او ضعيفو سترګو وګوري، د دوى په وړاندي ودرېږي او دا غوښتنه ترې وکړي چي لطفاً زما پيغمبر ومنئ او زما پيغام قبول کړئ!! دا وړوکى او کمزورى انسان چي په خپلې زمکي کې ئې حيثيت د يوې وړې ذرې دئ، د ټول عالم په پرتله خو د ده او د ده د ټولي زمکي او شمسي نظام د حيثيت ټاکلو لپاره نه کومه تله موندى شو او نه کوم وزن او معيار، دا وړوکى او حقير انسان څنګه په ډېره خوله دا مطالبه کوي چي د آسمانونو او زمکي رب دي وګوري او د دوى په وړاندي دي حاضر شي؟!!!

قرآن وايي: موسى عليه السلام د الله تعالى د ليدلو هيله وکړه او الله تعالى په ځواب کې ورته وفرمايل: هيڅکله مي ليدلى نه شې.

راشئ د وروستي نازل شوي آيت په اړه دا روايت هم له نظره تېر کړو:

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْيَهُودِ قَالَ لَهُ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ! آيَةٌ فِى كِتَابِكُمْ تقرءونها، لَوْ عَلَيْنَا مَعْشَرَ الْيَهُودِ نَزَلَتْ لَاتَّخَذْنَا ذَلِكَ الْيَوْمَ عِيدًا، قَالَ: أَيَّةُ آيَةٍ؟ قَالَ: الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِى وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِيناً، فقال عُمَرُ: قَدْ عَرَفْنَا ذَلِكَ الْيَوْمَ وَالْمَكَانَ الَّذِى نَزَلَتْ فِيهِ عَلَى النَّبِىِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ قَائِمٌ بِعَرَفَةَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، أَشَارَ عُمَرُ إِلَى أَنَّ ذَلِكَ الْيَوْمَ كَانَ عِيدًا لَنَا.

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: يوه يهودي هغه

ته وويل: يا امير المؤمنين! د خپل كتاب داسي يو آيت لولئ چي كه پر موږ يهودانو نازل شوى وى نو دا ورځ به مو د عيد ورځ گرځولې وه؛ وئې ويل: كوم آيت؟ يهودي وويل: الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلاَمَ دِيناً؛ نو عمر رضي الله عنه وويل: دا ورځ هم په يقين سره پېژنو او هغه ځاى هم چي دا آيت پر رسول الله صلى الله عليه و سلم نازل شو؛ په داسي حال كې چي دى د جمعې په ورځ په عرفات كې ولاړ وو. راوي وايي چي عمر رضي الله عنه دې ته اشاره وكړه چي همدا ورځ زموږ عيد وو.

٩٠٤ ـ عَنْ عَلِيٍّ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: مَا عِنْدَنَا شَيْءٌ إِلَّا كِتَابُ اللَّهِ، وَهَذِهِ الصَّحِيفَةُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " المَدِينَةُ حَرَمٌ، مَا بَيْنَ عَائِرٍ إِلَى كَذَا، مَنْ أَحْدَثَ فِيهَا حَدَثًا؛ او آوَى مُحْدِثًا، فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالمَلاَئِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لاَ يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلاَ عَدْلٌ، وَقَالَ: ذِمَّةُ المُسْلِمِينَ وَاحِدَةٌ، فَمَنْ أَخْفَرَ مُسْلِمًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالمَلاَئِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لاَ يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ، وَلاَ عَدْلٌ، وَمَنْ تَوَلَّى قَوْمًا بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيهِ، فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالمَلاَئِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لاَ يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ، وَلاَ عَدْلٌ "

(بخارى: ١٨٧٠)

٩٠٤ – له علي رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له موږ سره د الله تعالى له كتاب او د رسول الله صلى الله عليه و سلم له دې پاڼي پرته بل شى نه شته؛ هغه (ليكلې لارښوونه) دا ده: "مدينه له عائر غره تر فلانۍ منطقې (ثور غره) پوري حرم دئ؛ چا چي په دې كي (د قرآن او سنت خلاف) كوم بدعت وكړ؛ يا ئې كوم باغي او جاني ته پناه وركړه؛ نو پر هغه دي د الله تعالى، ملائكو او ټولو خلكو لعنت وي؛ د هغه نه كوم (صرف: توبه) د قبلېدو ده او نه كوم (عدل: فديه)؛ او وئې فرمايل: د مسلمانانو عهد او امان يو دئ، كه چا د مسلمان عهد مات كړ پر هغه به د الله تعالى، ملائكو او ټولو خلكو لعنت وي؛ د هغه نه كوم (صرف: توبه) د قبلېدو ده او نه كوم (عدل: فديه)؛ ((ځينو صرف: فرض گڼلى

او عدل: نفل؛ خو غوره ترجمه لومړنۍ ده)؛ او چا چي د خپلو اولياءو (حليفانو او تړون والو) له اجازې پرته له (مخالف) قوم سره د دوستۍ (تړون) وکړ؛ پر هغه به د الله تعالی، ملائکو او ټولو خلکو لعنت وي د هغه نه کوم (صرف: توبه) د قبلېدو ده او نه کوم (عدل: فديه)).

د دې روايت په اړه څو خبري بايد په پام کې ولرو:

- علي رضي الله عنه دا خبره هغه مهال کړې چي يو چا وپوښتلو: آيا له دې قرآن پرته له تاسو سره بل څه شته؟ هغه وويل: نه؛ مګر دا پاڼه چي زما د توري په لاستي کې ده؛ يوه پاڼه ئې راوئې ايستله چي په هغې کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته منسوب دغه وينا ليکل شوې وه.
- د دې پاڼي د محتوی په اړه هم روايات تر ډېره حده متعارض دي؛ په ځينو کې يو څه او په ځينو کې بل څه راغلي؛ په ځينو کې دا هم راغلي چي مسلمان د کافر په مقابل (د وژلو په بدل) کې نه وژل کېږي؛ په داسي حال کې چي که کافر معاهد او اهل ذمه وي؛ قاتل ئې قصاص او وژل کېږي.
- له دې روايت معلومېږي چي له صحابه وو او حتی د علي رضي الله عنه په څېر شخصيتونو سره؛ له همدې قرآن پرته چي تر موږ پوري رارسېدلی؛ نه بل قرآن وو او نه د رسول الله صلی الله عليه و سلم له لارښوونو او احاديثو کوم بل ليکلی حديث.
- د مکې او مدينې حرمونه مؤمنانو ته دا درس ورکوي چي د عبادت ځايونو او جوماتونو درناوی به کوئ؛ دلته بايد د انسان هر څه؛ سر، مال او عزت خوندي وي؛ حتی که هغه ستا دښمن او ستا د پلار قاتل وي؛ حتی که دا د قريشو او د هغوی د حليفانو په څېر وي چي مسلمانان ئې له مکې شړلي، د بيت الله په حرم کې ئې وژلي او تعذيب کړي وي؛ او د مسلمانانو خلاف ئې په ټولو جګړو کې د قريشو ملګرتيا کړې وي؛ که د حج او عمرې په نيت او د بيت الله په لوري تلل او ستاسو له سيمي تېرېدل؛ نه يوازي مزاحمت به ئې نه کوئ او صدمه به نه وررسوئ بلکي مرسته به ئې کوئ؛ قرآن په دې اړه فرمايي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تُحِلُّوا شَعَائِرَ اللَّهِ وَلا الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلا الْهَدْيَ وَلا الْقَلائِدَ وَلا آمِّينَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُونَ فَضْلا مِنْ رَبِّهِمْ وَرِضْوَانًا وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوا وَلا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ أَنْ صَدُّوكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ أَنْ تَعْتَدُوا وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلا تَعَاوَنُوا عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ۝٢ المائدة

اې مؤمنانو! مه د الهي نښو بې حرمتي کوئ او مه د محترمي مياشتي او مه کعبې ته د هديه شوي څاروي او مه د هغو څارويو چي په غاړو کي ئې غړوندي وي او مه بيت الحرام ته د خپل رب د فضل او رضاء په لټه کي د تلونکو؛ او ښکار هغه وخت وکړئ چي له احرام ووځئ او د کوم قوم دا دښمني دي تاسو تېري کولو ته ونه هڅوي چي له مسجد الحرام ئې منع کړئ، په ښېګڼي او تقوی کي يو د بل مرسته وکړئ، په ګناه او تېري کي يو د بل مرسته مه کوئ او له الله ووېرېږئ. بې شکه چي الله سخت عذاب ورکوونکی دئ.

دا الهي لارښوونه هم د قريشو په اړه ده او هم د دوی د حليفانو په اړه او هم تر قيامت پوري د هر دښمن په اړه. خو متأسفانه اوس د اسلام تر پوښښ لاندي داسي ډلي راټوکېدلې چي هر څه ئې د دې الهي لارښوونو خلاف دي؛ کار ئې په جوماتونو او مدرسو کي چاودني او د علماءو، امامانو، خطيبانو، خداپالو او مجاهدو شخصيتونو ترور دئ؛ له دين او دنيا بې خبره ځوانکي به دوکه کوي او په جوماتونو کي د انتحاري عملياتو لپاره به ئې چمتو کوي!! د مور او پلار له غېږي او روزني محروم ماشوم به په لاس ورشي؛ په کوم خلوت کي او له ټولني لري به ئې تر روزني لاندي ونيسي، د هغه ذهن به په زهرجنو افکارو او باورونو ولړي؛ د مسلمانانو په خلاف به ئې ذهن او زړه له کرکي او عداوت ډك کړي، په جومات او د لمانځه په وخت؛ انتحاري عملياتو ته به ئې چمتو کړي، په لسګونو او سلګونو لمونځ کوونکي به د الله تعالی په کور (جومات) کي په وينو کي ورغړوي؛ همدا مظلوم شهيدان به واجب القتل او مباح الدم ګڼي او د دوزخ مستحق او

همدا جاهل او وحشي قاتل به شهيد ګڼي او د جنت مستحق!! دا په داسي حال کي چي الله تعالی مؤمنانو ته وايي: چا چي پر تاسو سلام واچولو؛ نو هغه ته به نه وايي (لست مؤمناً: مؤمن نه يې)؛ يعني يوازي سلام هم کافي دئ چي هغه کافر ونه ګڼې او له وژلو ئې ډډه وکړې؛ قرآن فرمايي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَتَبَيَّنُوا وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلَامَ لَسْتَ مُؤْمِنًا تَبْتَغُونَ عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللَّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٌ كَذَلِكَ كُنْتُمْ مِنْ قَبْلُ فَمَنَّ اللَّهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوا إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿٩٤﴾ النساء

اې مؤمنانو! کله چي د الله په لار کي د جهاد لپاره وځئ نو ښه څېړنه کوئ او هغه چا ته چي پر تاسو سلام اچوي؛ دا مه وايئ چي ته مؤمن نه يې؛ په داسي حال کي چي دنيوی مال متاع لټوئ؛ نو له الله سره ډېر غنائم دي، تر دې مخکي تاسو هم دغسي وئ، خو الله درباندي احسان وکړ؛ نو ښه تحقيق کوئ، بې شکه چي الله په هغه څه ښه خبر دئ چي تاسو ئې کوئ؟

په دې مبارك آيت کي مؤمنانو ته لارښوونه شوې چي د جهاد په دوران کي به لاندي خبرو ته په کلکه پام کوئ:

۱. له خلکو سره په خپلي معاملې کي ډېر احتياط وکړئ، په دې اړه بايد ډېر محتاط وئ چي بې ګناه انسان؛ مخصوصاً کوم مسلمان ستاسو په لاس ونه وژل شي.

۲. څوك چي پر تاسو سلام اچوي او د سلام له اچولو ئې معلومېږي چي هغه مسلمان او د مسلمانانو خواخوږی دئ؛ د هغه په اړه دا مه واياست چي مسلمان نه دئ؛ يا ئې له وېري سلام اچولی او يا خدعه کوي؛ په همدې الفاظو ئې اکتفاء وکړئ، مسلمان ئې وګڼئ او له ځورولو او وژلو ئې ډډه وکړئ.

۳. مبادا د غنيمت په موخه د هغه په وينو خپل لاسونه سره کړئ؛ له الله سره ډېر غنائم دي، د هغو حلالو او له شك شبهې وتلو غنائمو تر لاسه کول وغواړئ.

٤. تر دې د مخه تاسو هم د دوی په څېر وئ، الله تعالی پر تاسو فضل وکړ او د مسلمانېدو توفيق ئې درکړ؛ په کار ده تاسو هم له دغو خلکو سره همغسې احسان وکړئ چې له تاسو سره شوی.

٥. په دې پوه شئ چې خبير خدای ستاسو له هر عمل او د هغه تر شا ستاسو له موخې او غرض ښه خبر دئ.

او قرآن د هغه چا په اړه چې يو مسلمان په ناحقه او قصداً ووژني؛ فرمايي:

وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا ﴿٩٣﴾ النساء

او څوك چې كوم مؤمن په قصد سره ووژني نو سزا ئې دوزخ دئ، تلپاته په هغه كې او الله پرې غضب كړی، لعنت ئې پرې ويلی او ستر عذاب ئې ورته تيار كړی.

په ناروا سره او عمداً او په داسې حال كې د يوه مؤمن وژل چې ښه ئې پېژني، له ايمان ئې خبر دئ او پر دې هم پوهېږي چې د ده د وژلو حق نه لري؛ نو د داسې كس اخروي سزا دا ده:

١. جهنم او په هغه كې د تل لپاره پاته كېدا.

٢. د الله غضب.

٣. د الله لعنت.

٤. ستر عذاب.

او دنيوي سزا ئې هغه ده چې د البقرة سورې په ۱۷۸ آيت كې بيان شوې.

خو د تكفيري ډلو بد مغز مفتيان به همدا وحشي او جاني قاتل؛ شهيد ګڼي

او استناد به ئې هم په كوم موضوعي او جعلي روايت وي؛ د حربي كافر او د لكونو مسلمانانو قاتلانو؛ كمونستانو، سيكولرانو له څنګ به تېرېدل او د هغوی په خلاف د استشهادي عملياتو له كولو به ئې ډډه كوله خو په جوماتونو او مدرسو كې به ئې د تفسير او حديث درسونو په وخت كې چاودنې كولې.

د إيمان جومات كې د انتحاري عملياتو لپاره چې څوك په تاجكستان كې روزل شوي او افغانستان ته رالېږل شوي وو؛ يو ئې ژوندى نيول شوى او په خپلو اعترافاتو كې ئې ويلي: لومړى زه او يو بل كس چې وروسته په همدې عملياتو كې تر چاودنې وړاندې ووژل شو؛ د عملياتو لپاره غوره شوي وو؛ يوه اونۍ وړاندې دې جومات ته راغلو؛ د خطيب وينا مي واورېدله؛ پرېكړه مي وكړه چې دا كار نه كوم؛ زما په ځاى بل څوك غوره شو او بله جمعه هغوى ولېږل شول او دواړه ووژل شول!! دوى له هغه تاجكستان راغلي وو چې تاجكستاني پرچميان تر ننه پرې حكومت كوي؛ هغه چې د شوروي استخباراتو (كې جي بي) غړي وو؛ د تاجكستان جوماتونه ئې يا وران كړي وو او يا په كابارو او سينما هالونو بدل كړي وو؛ د هغوى په خلاف عمليات نه كوي خو افغانستان ته راځي او د ايمان جومات كې د جمعې د لمانځه په وخت انتحاري عملياتو ته تيار شوي وو!!

بايد متوجه وو چې تقريباً د نړۍ ټولو لويو ښارونو؛ په ځانګړې توګه د هېوادونو پلازمېنو كې؛ مهمي سيمي؛ چېري چې د سلاطينو قصرونه، د جمهوري رياست ماڼۍ؛ وزارتونه، سفارتونه او دې ته ورته مهم تأسيسات وي؛ هم له امنيتي پلوه او هم له نورو اړخونو؛ د عامو سيمو په پرتله له خاصو امتيازاتو او توپيرونو برخمن وي؛ مضبوط امنيتي ملابند ترې راتاو وي؛ او د ننوتلو لپاره له خاصو امنيتي تدابيرو تېرېدل ايجابوي؛ اسلام د مكې او مدينې د حرمونو د حرمت او درناوي دائره پراخه او له امتياز او توپير پرته د ټولو لپاره برابر ټاكلې؛ امتياز ئې واكمنو او شتمنو ته نه بلكې ولسي كړى؛ د كعبې حرم ئې ډېر پراخ نيولى او د ابراهيم عليه السلام له زمانې تر ننه مراعات شوى؛ همداسي د مدينې منورې حرم هم پراخ دئ؛ په حرم كې نه يوازي فساد؛ ناوړه كارونه، جاني او مفسد ته پناه وركول منع دي؛ وني، ګلان او بوټي ئې وهل هم منع دي؛ دلته به

نه څوك د قرآن او سنت خلاف كوم عمل كوي او نه به ظالم، مفسد او له قرآن او سنت باغي انسان ته پناه وركوي.

علي رضي الله عنه ته منسوب دغه روايت چې وايي: له موږ سره له قرآن پرته بل څه نه شته؛ كه وي نو يوازې دا پاڼه ده؛ چې هغه ئې د خپلې تورې په لاستي يا تېكي كې ساتلې وه؛ دوه درې مختصرې كرښې وې؛ دا روايت لږ تأمل او غور غواړي؛ له دې معلومېږي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په وخت كې احاديث نه ليكل كېدل؛ د علي رضي الله عنه په څېر شخصيت هم له يوه حديث پرته بل ليكلى حديث له ځان سره نه درلود؛ يعني چې صحابه وو په قرآن اكتفاء كوله او احاديث ئې د قرآن شرح او تفسير گڼلو؛ متأسفانه ځينې ناپوهان چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته منسوب هر روايت او د كوم كتاب په حاشيه ليكلى هر تعبير او تفسير به داسې صحيح او سپېڅلى گڼي چې كه د قرآن له صريح او څرگند آيت سره جدي او ژور تعارض او مغايرت ولري؛ قرآن ته به شا كوي او پر مشكوك تعبير او مرجوح روايت به ټينگار كوي؛ اوس چې څوك دا خبره كوي چې قرآن كافي دئ، صحابه وو په قرآن اكتفاء كوله؛ يوازې هغه وينا به ئې منله چې له قرآن سره به ئې مطابقت درلود؛ دا خبره نه يوازې نه مني بلكې دې ته له حديث د انكار نوم وركوي؛!! كه دې جناب ته ووايو: ته وايې چې امام بخاري له شپږ لكه رواياتو دوه زره دوه سوه غير مكرر روايات غوره كړي او هغه ئې صحيح گڼلي؛ موږ ته ووايه: له ۵۹۸۰۰۰ پاته رواياتو سره ئې څه كړي؟! آيا هغوى ئې غير صحيح نه دي گڼلي؟ آيا د هغوى نه منل له حديث انكار دئ؟ چا چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د پيغمبر په توگه منلى او قرآن د الله له لورې پر پيغمبر نازل شوى كتاب مني او پرې ايمان لري؛ هغه به څنگه داسې روايت نه مني چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته په سمه او حقيقي معنى منسوب شوى وي او په صحت كې ئې هيڅ شك نه وي؟!! هر محدث په لسگونو زره روايات چڼلي او له منځه ئې كم شمېر صحيح موندلي او نور ئې لرې پرېښي او په خپل كتاب كې ئې له راوړلو ډډه كړې؛ دوى د غلطو رواياتو منكرين ول نه د صحيح حديث منكرين!! راشئ وگورو چې دا اختلافي

مسئله د قرآن په رڼا کې وڅېړو او وګورو چې په دې اړه ئې لارښوونه څه ده؟!

قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې موږ د الله تعالی په اطاعت مکلف کړي يو؛ او په واضحو الفاظو ئې په مکرره توګه موږ ته ويلي: (أَطِيعُوا اللَّهَ): د الله اطاعت وکړئ) دغه فقره په قرآن کې ۱۱ ځلي تکرار شوې؛ دغه مطلب په نورو الفاظو هم تکراراً راغلی؛ د الله تعالی اطاعت يعني د هغه قرآن اطاعت چې الله تعالی رالېږلی؛ بايد وګورو چې آيا د الله تعالی اطاعت د قرآن په اطاعت کې منحصر شوی؟ که داسې وي نو په دې اړه به مو ځواب څه وي چې قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې موږ د پيغمبر په اطاعت او متابعت هم مکلف کړي يو؟ آيا د پيغمبر اطاعت د قرآن په اطاعت کې شامل دئ او پيغمبر عليه السلام يوازې همدا قرآني لارښوونې او احکام موږ ته تشريح او تفسير کړي او په عمل کې ئې موږ ته ښودلې؟؛ او که نه الله تعالی خپل رسول ته پر قرآن علاوه نورې لارښوونې هم کړې او له اطيعوا الرسول مراد دغه پر قرآن سربېره لارښوونې دي؟ راشئ د دې پوښتنو ځواب په قرآن کې ولټوو؛ قرآن په صريحو الفاظو د پيغمبر اطاعت موږ ته داسې معرفي کړی:

مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ وَمَنْ تَوَلَّى فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ﴿۸۰﴾ النساء

څوك چې د پيغمبر اطاعت وکړي؛ په حقيقت کې ئې د الله اطاعت کړی او څوك چې مخ واړوي نو ته مو پردوی څارونکی نه يې لېږلی.

د پيغمبر اطاعت په حقيقت کې د الله اطاعت دئ او د ده مخالفت له الله سره مخالفت؛ او د الله تعالی اطاعت يعني د قرآن اطاعت؛ نو د پيغمبر اطاعت په حقيقت کې د قرآن اطاعت دئ او مخالفت ئې د قرآن مخالفت؛ ځکه له دغو آيتونو فقط همدا مطلب اخيستی شو؛ نه بل څه؛ همدا راز پيغمبر د الله تعالی استازی او رسول دئ؛ رسول هغه ته ويل کېږي چې د بل پيغام تر چا پورې رسوي؛ رسول په دې پيغام کې نه له خپل ځان څه زياتولی شي او نه ئې کمولی شي؛ دنده ئې فقط دا وي چې د مُرْسِلْ پيغام بل ته په بشپړه توګه او په امانت

سره ورسوي؛ پيغمبر د الله رسول دئ، نه د خلکو څارندوی؛ له ده دا پوښتنه نه کېږي چي ولي ئې خلك له مخالفت منع نه کړی شو، دی په دې نه دئ مکلف شوی، مکلفيت ئې دا دئ چي خلکو ته د الله دين ورسوي؛ او که د رسالت په ابلاغ کې کمی يا زياتی وکړي نو قرآن ورته فرمايلي:

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ لا يَهْدِى الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ ﴿٦٧﴾ المائدة

اې پيغمبره! هغه څه ورسوه چي د خپل رب له لوري درته نازل شوي او که دي ونه کړ؛ نو د ده پيغام دي نه دئ رسولی؛ او الله دي له خلکو ساتي؛ يقيناً چي الله دا کافر قوم نه هدايت کوي.

دا مطلب په همدې سورې کې د پيغمبر عليه السلام په اړه درې ځلي، ٦٧، ۹۲ او ۹۹ آيتونو کې او د مؤمنانو په اړه يو ځل په ۱۰۵ آيت کې راغلی؛ په دې آيت سره پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چي خپل رسالت له خوف، وېرې، تردد او تزلزل پرته په بشپړه توگه پای ته ورسوه، د هغه څه په تبليغ او ولس ته په رسولو کې هيڅ کمی او قصور مه کوه چي د خپل رب له لوري درکړی شوي؛ که داسي ونه کړې نو تا به خپل الهي رسالت نه وي تر سره کړی؛ د دښمنانو د مخالفتونو هيڅ پروا مه کوه؛ الله تعالی ستا ساتونکی دئ؛ که خلك ستا دعوت ته مثبت ځواب ونه وايي؛ مه مأيوسه کېږه او په خپل دعوت کې کمی مه راوله؛ داسي نه چي د خپل دعوت له نتائجو مأيوس شې او په نيمايي کې ئې پرېږدې؛ د خلکو د هدايت پرېکړه الله تعالی کوي؛ د دوی د عدم ايمان وجه دا ده چي الله تعالی دا کافر قوم د هدايت وړ نه گڼي.

له دې آيت په صريح توگه معلومېږي چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم رسالت او مسئوليت د قرآن په ابلاغ کې منحصر او محدود شوی؛ قرآن د الهي وحي مجموعه ده او د پيغمبر رسالت د دغه قرآن رسول او پلي کول دي؛ پيغمبر د همدې قرآن حامل، شارح، مفسر او بيانوونکی دئ؛ د ده په سينه کې ئې

د ساتني او حفظ ضمانت هم الله تعالی کړی او په سمه او دقيقه توگه ئې د بيانولو ضمانت هم د الله تعالی په ذمه دئ؛ نو د دين په اړه د رسول الله صلی الله عليه و سلم د ټولو ويناوو منشأ هم قرآن دئ او د ده په سنت او سلوك كې هم د قرآن لارښووني عملاً انځور شوې. له دې پرته بل تعبير او تأويل او دا ادعاء چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته پر قرآن سربېره نوره وحي هم نازله شوې؛ د قرآن له دغو صراحتونو سره اړخ نه لگوي او په قرآن كې هيڅ شاهد ورته نه مومو.

که رسول الله صلی الله عليه و سلم د حديث د ليكلو امر يا اجازه كړې وی؛ نو له علي رضي الله عنه سره خو به د رسول الله صلی الله عليه و سلم د احاديثو ضخيم ليكلی كتاب وو او لږ تر لږه څو هغه موارد خو به ئې حتماً ليكلي وو چې مستقلي او بېلې وحي او د ځينو په اصطلاح د خفي وحي نوم وركړی شوی؛ علي رضي الله عنه په ليك لوست پوهېدو او دا هم په غالب گمان د رسول الله صلی الله عليه و سلم د اهتمام له كبله؛ ځكه هغه له ماشومتوب د رسول الله صلی الله عليه و سلم په لاس روزل شوی او پلار ئې ده ته سپارلی وو؛ هغه مالي مشكلات درلودل؛ او رسول الله صلی الله عليه و سلم له خديجې رضي الله عنها سره له نكاح وروسته د شتمني خاوند شو؛ دې وفاداري او مخلصي مېرمني ئې خپل هر څه د ده په پښو كې وغورځول؛ علي رضي الله عنه د ده تر روزني او تربيت لاندي ستر شوی؛ او ليك لوست ئې زده كړی وو؛ خو ده يوازې يو ليكلی حديث له ځان سره درلود؛ نه د خفي وحي كومه ببلگه د ده له لوري ليكل شوې او نه كوم روايت!! د الله تعالی له لوري چې هره وحي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته شوې؛ نو په ډېر اهتمام سره ئې اورېدلې او ډېر ژر ئې د وحي كاتبان راغوښتي؛ هغه ئې ليكلې او ټول امت ته ئې په بشپړ امانت سره رسولې؛ او د اوسني قرآن په بڼه كې تر موږ پوري رارسېدلې. په دې كې هيڅ شك نه شته چې رسول الله صلی الله عليه و سلم؛ د رسالت له پيل تر پای پوري؛ نه يوازې د حديث ليكلو اجازه نه ده وركړې؛ بلكې په مكرره او مؤكده توگه ئې امر كړی چې له قرآن پرته بل څه له ما مه ليكئ؛ او چا چې بل څه ليكلي وي؛ هغه

دي له منځه يوسي. ابوهريره رضي الله عنه چي د رسالت په شلم کال ئې ايمان راوړی او يوازې درې کلونه له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره پاته شوی؛ هغه وايي: موږ د رسول الله صلی الله عليه و سلم د دغه حکم له مخي؛ ټول ليکلي احاديث يو ځای راغونډ کړل او ومو سوزول.

## ۲ باب: د مدينې فضيلت

۹۰۵ ـ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أُمِرْتُ بِقَرْيَةٍ تَأْكُلُ القُرَى، يَقُولُونَ يَثْرِبُ، وَهِىَ المَدِينَةُ، تَنْفِى النَّاسَ (و فى رواية: تَنْفِى خَبَثَها) كَمَا يَنْفِى الكِيرُ خَبَثَ الحَدِيدِ (و فى رواية: الخَبَثَ) ». (بخارى: ۱۸۷۱)

۹۰۵ – له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: (د داسي کلي په اړه راته امر شوی چي (نور) کلي خوري؛ يثرب ئې بولي؛ په داسي حال کې چي دا مدينه (ښار) دئ؛ خلك (د بل روايت له مخي: ناپاکان) ئې داسي شړي لکه چي بټۍ اوسپنه (له زنګ او خيرو) صفا کوي.

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ غريب دئ او په صحابه وو کې يوازې له ابو هريره روايت شوی؛ په نورو کتابونو کې هم راغلی خو له ځينو توپيرونو سره؛ د بخاري په روايت کې (يَقُولُونَ يَثْرِبُ)، (المَدِينَةُ، تَنْفِي النَّاسَ) او (يَنْفِي الكِيرُ خَبَثَ الحَدِيدِ) راغلي خو په مشکل الآثار کې (يُقالُ لها يَثرِبُ)، (المَدينةُ تَنفي خَبَثَها) او (يَنفي الكِيرُ الخَبَثَ) راغلي. د بخاري روايت کې دا ابهام دئ چي معلومه نه ده چا ويلي يثرب او مدينه کوم خلك شړي؛ خو د مشکل الآثار روايت کې دا ابهامات رفع شوی. روايت دا دئ:

عن أبى هريرة قال: قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمِرتُ بقَريةٍ تأكُلُ القُرى، يُقالُ لها: يَثرِبُ، وهى المَدينةُ تَنفى خَبَثَها، كما يَنفى الكِيرُ الخَبَثَ.. مشکل الآثار

د دې روايت په اړه څو پوښتني راولاړېږي:

- كله رسول الله صلى الله عليه و سلم دا وينا كړې؛ مكه کې که مدينه کې؛ د مدني دور په پيل؛ که منځ او پای کې؟ دا يوه وړاندوينه وه که واقع شوی حالت؟
- په روايت کې له دقت او غور وروسته کولی شو دې پوښتنو ته صحيح ځواب ووايو؛ له دلائلو معلومېږي چې دا وينا نه د مکي دور وينا ده او نه د مدني دور د پيل او وسط؛ دلائل ئې دا دي: ١- راوي ئې ابو هريره دئ؛ له ده پرته بل راوي نه لري؛ ابو هريره په اووم هجري کال او د خيبر له جګړې يا وروسته او يا د جګړې په دوران کې مدينې ته راغلی او ايمان ئې راوړی. له دې معلومېږي چې که رسول الله صلى الله عليه و سلم دا خبره کړې وي نو په مدينه کې به ئې کړې وي؛ او له هغه وروسته چې ابو هريره ايمان راوړی. ٢- د يثرب نوم رسول الله صلى الله عليه و سلم په مدينه بدل کړی؛ تر دې وړاندې هيڅا د مدينې په نامه نه دئ ياد کړی؛ د يثرب نامه کې د عيب اړخ ليدل کېږي؛ ملامتيا افاده کوي؛ نو ځکه رسول الله صلى الله عليه و سلم دا نوم بدل کړ. ٣- تر هغه چې په مدينه کې يهودان وو؛ بازار او مارکيټ د دوی په لاس کې وو، د اوس او خزرج قبيلو ډېری د دوی پوروړي وو؛ منافقين فعال ول او مدينه د دوی له شرارتونو تصفيه شوې نه وه؛ دې روايت مصداق نه درلود او هيڅا له رسول الله صلى الله عليه و سلم دا وينا نه ده اورېدلې؛ د خيبر له فتحي وروسته مدينه له ټولو کورنيو دښمنانو تصفيه شوه. د ابو هريره رضي الله عنه د رواياتو لړۍ له دې نېټې وروسته پيل شوې. که له چا سره دا انديښنه وي چې د أُمِرتُ بقَريةٍ معنی ښايي دا وي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په مکه کې ويلي چې الله تعالى ما ته امر کړی چې مدينې ته هجرت وکړم؛ نو ځکه کېدی شي دا د مکي دور وينا وي؛ هغوی ته وايو: نه د دې فقرې قطعي معنی دغه ده او نه د تأكُلُ القُرى معنی دا ده چې يثرب نور کلي خوري؛ مدينې نه تر اسلام وړاندې کلي خوړلي دي او نه وروسته؛ له اسلام وروسته خو ئې کلي آزاد

کړي او له ظلم، جهل او شرك ئې ژغورلي؛ د دې فقرې سمه ژباړه فقط دا ده چې (خواړه ئې له نورو سيمو او کليو دي)؛ او دا حالت هغه مهال رامنځته شو چې مدينه د امن ټاټوبی او د حجاز په سترـ ځواکمن مرکزي ښار او د تجارت په مهم مرکز او بيا د ستري امپراطورۍ په پلازمېني بدل شو.

- د بخاري روايت مبهم دئ؛ نه يوازي هيڅوك واضح مطلب نه شي ترې اخيستلی؛ بلکي داسي پوښتني ورته راولاړوي چې ځواب ئې نه مومي؛ نه ئې په خپله بخاري کې وضاحت مومو او نه ئې په کومي شرحي کې؛ د دې فقرې مطلب واضح نه دئ چې يثرب څنګه نور کلي خوري؟ آيا کلي خوړل کېدی شي؟ امام بخاري بايد دا پوښتني په خپله ځواب کړې وی؛ نه ئې شارحينو ته پرېښې وی او نه د صحيح بخاري لوستونکو ته.
- امام بخاري دا هم نه دي ويلي چې دا روايت له ابو هريره پرته بل راوي نه لري؛ خو په مُسند البزار کې له روايت سره متصل ليکل شوي چې له ابو هريره پرته له بل چا نه دئ روايت شوی؛ په کار دا ده چې محدث په خپله د هر روايت په پای کې وليکي چې د روايت د صحت درجه او اعتبار څومره دئ؛ غريب، عزيز، مشهور که متواتر دئ؛ د بخاري هر شارح بايد او حتماً دا تشه ډکه کړي؛ ځکه موږ د غريب روايت په منلو نه يوازي مکلف نه يو بلکي منل ئې د قرآن د لارښوونو او د احتياط منافي عمل دئ؛ د قرآن لارښوونه دا ده چې د مدعي خبره له شاهدانو وروسته ومنو؛ په حکمة الباریٔ کي تر ډېره حده دا اهتمام شوی چې د هر روايت د إسنادو درجه وړاندي او له نورو سره ئې مطابقت او مغايرت په ګوته شي.

## ۳ باب: مدينه غوره ځای دئ

۹۰۶ ـ عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَقْبَلْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ تَبُوكَ حَتَّى أَشْرَفْنَا عَلَى الْمَدِينَةِ، فَقَالَ: «هَذِهِ طَابَةُ». (بخاری: ۱۸۷۲)

٩٠٦ – له ابو حميد رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره يو ځای له تبوك راستانه شوو؛ كله چي مدينې ته لنډ شوو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: دا طابه يعني ډېر ښكلی، پاک او غوره ځای دئ).

تكرار: دا روايت په بخاري كې ٣ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٨٧٢، ١٤٨١، ٤٤٢٢؛ غريب دئ؛ په دريو طبقو كې يو يو راوي لري.

توپير: د ټولو لومړی راوي أَبِو حُمَيْد دئ؛ په دوو بعدي طبقو كې ئې هم روايان سره ورته؛ عَمْرُو بْنُ يَحْيَى او عَبَّاسِ بْنِ سَهْلِ دي. په نورو رواياتو كې د مدينې تر څنگ د احد غر او دا چي مونږ له هغه سره او هغه له مونږ سره متقابل محبت لري او د انصارو د غوره كليو او قبيلو يادونه هم شوې.

## ٤ باب: څوک چي له مدينې كركه وكړي

٩٠٧ - عَن أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «يَتْرُكُونَ المَدِينَةَ عَلَى خَيْرِ مَا كَانَتْ، لاَ يَغْشَاهَا إِلَّا العَوَافِ»، يُرِيدُ عَوَافِيَ السِّبَاعِ وَالطَّيْرِ - «وَآخِرُ مَنْ يُحْشَرُ رَاعِيَانِ مِنْ مُزَيْنَةَ، يُرِيدَانِ المَدِينَةَ، يَنْعِقَانِ بِغَنَمِهِمَا فَيَجِدَانِهَا وَحْشًا، حَتَّى إِذَا بَلَغَا ثَنِيَّةَ الوَدَاعِ، خَرَّا عَلَى وُجُوهِهِمَا». (بخاری: ١٨٧٤)

٩٠٧ – له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اورېدلي چي فرمايل ئې: "مدينه به تر وړاندي غوره حالت كي پرېږدي او له عواف (روزي لټوونكو) پرته به بل څوک په كې نه اوسي"؛ راوي وايي: له عوافي ئې مراد د ځناورو او مرغانو روزي لټوونكي وو؛ "او وروستي چي ورته راځي هغه به د مُزَينَه قبيلې دوه شپانه وي چي خپلي مېږي به د مدينې په لور بيايي؛ نارې به پرې وهي؛ خو مدينه به تشه ومومي؛ كله چي ثنية الوداع (د رخصتولو كنارې) ته

ورسېږي؛ دواړه به پړمخي پرېوځي (وبه مري).

دا روایت په بخاري کې همدا يو ځل راغلی؛ د سند له پلوه مطلق غريب دئ؛ په پنځو طبقو کې يوازې يو يو راوي لري چې دا دي: أَبُو اليَمَانِ، شُعَيْب، الزُّهْرِيِّ، سَعِيد بْن المُسَيِّبِ؛ او أَبُو هُرَيْرَةَ رضي الله عنه. هيڅ راوي ئې په خپلې طبقې کې له ځان سره شاهد نه لري. په نورو کتابونو کې هم له همدې متن او راويانو سره راغلی. د متن په اړه ئې بايد څو مطالب په پام کې ولرو:

• معلومه نه ده چې د روايت ارتباط له باب سره په څه کې دئ؛ باب دا دئ: څوک چې له مدينې کرکه وکړي؛ خو په روايت کې په دې اړه هيڅ څه نه ليدل کېږي!! مګر دا چې (يترکون المدينه) داسې تعبير شي چې د مدينې اوسېدونکې به له مدينې د کرکې له کبله هغه پرېږدي؛ او هغه هم په داسې حال کې چې مدينه به دا مهال تر بل هر مخکيني وخت ښه حالت کې وي!! که دا ومنو نو دا نه د قيامت د ورځې حالت ګڼلی شو او نه پر مدينې د دښمن له لورې د بريد حالت!! ځکه باب وايي چې خلك به مدينه په خپله خوښه خو له هغې د کرکې له کبله پرېږدي!!

• د حديث ځيني شارحين وايي دا به تر قيامت وړاندې پېښه وي، د قيامت د نښو او علامو په ضمن کې؛ او ګواکې د (يترکون المدينه) معنی دا ده چې خلك به ئې ومري او مدينه به تشه ترې پاته شي، خو ځيني بيا وايي چې دا حالت به پر مدينې د يوه ستر بريد په نتيجه کې رامنځته شي؛ او ګواکې همداسې حالت يو وخت پر مدينې راغلی؛ هستوګن ئې ترې وتلي او مدينه شاړه پاته شوې. دا تعبير له باب سره اړخ نه لګوي؛ ځکه پر مدينې د بريد له کبله د خلکو وتل د مجبوريت وتل وي نه له مدينې د کرکې له کبله؛ په روايت کې دا هم ويل شوي چې دوه شپانه به له خپلو رمو سره مدينې ته راشي؛ او هغه به تشه ومومي؛ له دې معلومېږي چې دا د قيامت پېښه نه شي کېدی؛ که د قيامت پېښه وی

نو شپانه به له نورو سره يو ځای مړه شوي وو؛ او بريد ئې ځكه نه شو ګڼلی چې كه داسي وی نو شپنو به بريدګر په مدينه كې ليدلي وو. ځيني وايي چې دا د رسول الله صلی الله عليه و سلم په معجزو كې راځي؛ هغوی ته وايو: ۱- دا ځكه معجزه نه شو ګڼلی چې معجزه د مخالف لوري د عاجزولو لپاره وي؛ كوم مخالف په دې سره متقاعد كړی شوی او متقاعد كولی شو؟! ۲- قرآن په ګڼ شمېر آيتونو كې او په مكرره توګه فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته هغه معجزې نه دي وركړی شوې چې مخكينيو پيغمبرانو ته وركړی شوې وې؛ د ده معجزه دغه قرآن دئ چې تر قيامت پوري به معجزه وي.

• د روايت د صحت او منلو په شروطو كې د شاهدانو تر څنګ له قرآن سره عدم تعارض تر ټولو مهم او اساسي شرط دئ؛ په دې روايت كې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته په غيب پوهېدا منسوب شوې؛ په داسي حال كې چې د قرآن ګڼ شمېر صريح آيتونه په تأكيد او تكرار سره وايي چې له الله تعالی پرته نه په زمكې كې څوك په غيب پوهېږي او نه په آسمانونو كې؛ هيڅ مخلوق په دې نه پوهېږي چې قيامت به كله راځي، دی به كله مري او بل به كله مري، سبا به له ده سره څه كېږي او له بل سره څه؟ په قرآن كې رسول الله صلی الله عليه و سلم امر شوی چې همدا خبري خلكو ته وكړي.

• فقهاء، ائمه او محدثين په دې متفق دي چې آحاد روايات (هغه چې راويان ئې په يوې يا څو طبقو كې يو يا دوه - درې وي)؛ په ځانګړې توګه هغه چې غريب وي او يو يو راوي ولري؛ په مهمو اعتقادي مسائلو او د احكامو په اړه يوازي په هغه صورت كې معتبر ګڼل كېدی شي چې په قرآن كې شاهد ولري او لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري.

• انسان په غيب د پوهېدو لپاره يوازي يوه يقيني وسيله لري چې د الله تعالی له لوري وحي ده؛ او يوه ظني وسيله چې رؤيا ده؛ په دې روايت كې نه دا ويل شوي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته په

دې اړه وحي شوې او نه دا چې په رؤیا کې ئې لیدلي؛ که وحي او رؤیا وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به حتماً ویلي وو؛ ډېرو صحابه وو به اورېدلي وو؛ د وحي په اړه د رسول الله صلی الله علیه و سلم اهتمام دومره زیات وو چې فوراً به ئې د وحي کاتبان راغوښتل چې وئې لیکي او نورو ته ئې له ځنډ پرته ورسوي.

د نني درس تر پیل وړاندې اجازه راکړئ د مخکیني درس د هغې ضمني موضوع او د هغو په اړه څه عرائض او وضاحتونه ولرم چې په جوماتونو کې د چاودني عاملین دي؛ مسئولیت ئې علناً مني او دې ته د استشهادي عملیاتو نوم ورکوي؛ تاسو او ټول ئې پېژنئ؛ د إیمان جومات کې د چاودني ناکامه منصوبه هم د دغې ډلې له لوري وه؛ دا تصمیم ئې په داسې حال کې نیولی وو چې موږ د دې ډلې په شمول له هیڅ افغان ډلې سره په جنگ کې ښکېل نه وو؛ گمان مو نه کولو چې په افغاني ډلو کې به داسې کومه ډله هم وموندل شي چې د نوم وروستاړی ئې اسلامي وي او د حزب اسلامي خلاف دې داسې ستر جنایت ته ملا وتړي؛ موږ هر افغان ته د طالبانو په شمول؛ هم له منبر دا مشوره ورکوله او هم په خاصو ناستو کې چې یوازې له هغو سره وجنگېږئ چې ستاسو خلاف جنگېږي؛ له هغو داعشیانو سره هم مه جنگېږئ چې له جنگ ئې لاس اخیستی او یا اوس لاس اخلي؛ خو د إیمان جومات پېښې کې د همدغو لاس وو؛ همدغه چې ځان د امام بخاري پلویان گڼي؛ خو یقیناً چې امام بخاري رحمه الله به له تکفیري پلویانو خپل رب ته شکایت کوي او د قیامت په ورځ به خپل برائت ترې اعلانوي؛ له دوی ځیني ځان اهل حدیث ته منسوبوي؛ خو اهل حدیث ترې برئ دي؛ امام بخاري او اهل حدیث نه د دوی له تکفیري افکارو او تگلارو سره موافق دي او نه په جوماتونو کې د هغوی له چاودنو سره. موږ د مسلمانانو یووالی غواړو؛ هغه چې له موږ سره ئې قبله شریکه ده؛ له تکفیرولو ئې ډډه کوو، مسلمان ته بد رد ویل د فاسقانو کار گڼو او وژل ئې له کفر سره مترادف؛

او دا ځکه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم همداسې فرمايلي. هغه چې خدای، قرآن او پيغمبر مني؛ له هغوی سره هر اختلاف د قرآن او سنت په رڼا کې حلول غواړو؛ او همدا د إيمان مقتضی او غوښتنه ګڼو.

تاسو وليدل چې ابو هريره رضي الله عنه ته منسوب هغه روايت کې زيات ابهامات او اضطرابات دي؛ ځيني فقرې ئې داسې دي چې له نورو سره اړخ نه لګوي؛ او شارحين هم نه دي توانېدلي ابهام رفع او توجيه ئې کړي؛ لکه دا: (يَتْرُكُونَ الْمَدِينَةَ عَلَى خَيْرِ مَا كَانَتْ)؛ چې معنی ئې دا ده: مدينه به په داسې حال کې پرېږدي چې د عمران، آبادي او د نعمتونو د کثرت او وفرت له پلوه به تر بل هر وخت ښه حالت کې وي؛ پوښتنه دا ده چې په داسې ښه حالت کې به ئې ولې پرېږدي او ولې به کرکه ترې کوي؟ او دا چې (وَآخِرُ مَنْ يُحْشَرُ رَاعِيَانِ مِنْ مُزَيْنَةَ) چې ژباړه ئې دا ده: او وروستني چې مدينې ته به راوستل شي د مُزَيْنَه قبيلې دوه شپانه به وي چې له خپلو رمو سره به مدينې ته راغونډ کړی شي؛ پوښتنه دا ده چې دا شپانه به څوك مديني ته په راتلو اړ کړي؟ د روايت دا فقره هم وضاحت ايجابوي: (حَتَّى إِذَا بَلَغَا ثَنِيَّةَ الْوَدَاعِ) تر هغه چې ثَنِيَّةَ الْوَدَاعِ ته ورسېږي؛ او دا د مدينې هغه کناره ده چې د شام لوري ته پرته ده او کله چې به د مدينې خلکو خپل مېلمانه، مسافر او کاروانونه رخصتول نو تر دې ځای به ئې بدرګه کول او دلته به ئې وداع او خدای پاماني ورسره کوله؛ پوښتنه دا ده چې دا شپانه ولې دلته پړمخي پرېوتي او مړه شوي؟!

اوس پوښتنه دا ده چې د دې روايت په اړه به څه کوو؟ غريب دئ، مبهم دئ، په قرآن کې ورته شاهد نه مومو، نه ئې د قيامت له علائمو ګڼلی شو او نه د بريد له کبله د مدينې تشه پاته کېدا، داسې وړاندوينه هم نه ده چې رسول الله صلى الله عليه و سلم يا د وحي له مخې کړې وي او يا د رؤيا له مخې...؟! غوره دا وه چې امام بخاري د لسګونو زرو هغو رواياتو په ضمن کې نيولی وی چې په بخاري کې ئې له راوړلو ډډه

کړې؛ او که ئې راوړل ضروري ګڼلی وی نو ټول ابهامات ئې رفع کړي وی او هغو پوښتنو ته ئې واضح او د قناعت وړ ځواب ویلی وی چې له هر لوستونکي سره راپیدا کېږي؛ د بخاري شارحینو باید لازم وضاحتونه کړي وی؛ ما داسې وضاحتونه ونه موندل.

په دې پسې متصل بل روایت داسې دئ چې له مدینې د ځینو خلکو د وتلو وجه زموږ مخې ته ږدي.

٩٠٨ ـ عَنْ سُفْيَانَ بْنِ أَبِي زُهَيْرٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «تُفْتَحُ الْيَمَنُ فَيَأْتِي قَوْمٌ يُبِسُّونَ، فَيَتَحَمَّلُونَ بِأَهْلِهِمْ وَمَنْ أَطَاعَهُمْ وَالْمَدِينَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ. وَتُفْتَحُ الشَّأْمُ فَيَأْتِي قَوْمٌ يُبِسُّونَ، فَيَتَحَمَّلُونَ بِأَهْلِيهِمْ وَمَنْ أَطَاعَهُمْ، وَالْمَدِينَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ. وَتُفْتَحُ الْعِرَاقُ فَيَأْتِي قَوْمٌ يُبِسُّونَ، فَيَتَحَمَّلُونَ بِأَهْلِيهِمْ وَمَنْ أَطَاعَهُمْ وَالْمَدِينَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ». (بخارى: ١٨٧٥)

٩٠٨ - له سفیان بن ابي زهیر رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم مې اورېدلي چې فرمایل ئې: (یمن به فتح شي؛ ځیني به داسې وي چې خپل اوښان به په تلوار سره راولي، اهل و عیال او هغه څوک به پرې سپروي چې خبره ئې مني او په بیړه به وځي؛ کاش پوهېدئ چې مدینه ورته غوره ده؛ شام به هم فتح شي؛ ځیني به داسې وي چې خپل اوښان به په تلوار سره راولي، اهل و عیال او هغه څوک به پرې سپروي چې خبره ئې مني او په بیړه به وځي؛ کاش پوهېدئ چې مدینه ورته غوره ده؛ او عراق به هم فتح شي؛ ځیني به داسې وي چې خپل اوښان به په تلوار سره راولي، اهل و عیال او هغه څوک به پرې سپروي چې خبره ئې مني او په بیړه به وځي؛ کاش پوهېدئ چې مدینه ورته غوره ده).

دا روایت هم په بخاري کې یو ځل راغلی؛ مطلق غریب دئ؛ په ٦

طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: عَبْد اللَّهِ بْن يُوسُف، مَالِك، هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، پلار ئې عُرْوَةَ، عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ او سُفْيَان بْنِ أَبِي زُهَيْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ په ځينو نورو کتابونو کې هم له همدې متن او إسنادو سره راغلی، توپير ئې له مخکيني سره دا دئ چې په واضح توگه ښيي د مدينې پرېښودل د فتوحاتو له کبله وو؛ د يمن، شام او عراق له فتح کېدو وروسته به ځيني خلك هڅه کوي له خپلو کورنيو، خپلوانو او قبيلو سره دغو مفتوحه سيمو ته ولاړ شي؛ يا له دې کبله چې مالي ستونزې به لري او يا دا طمع چې هلته به ئې تر مدينې سوکاله او مرفه ژوند په برخه شي؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم سپارښتنه کړې چې که پوه شي نو په مدينې کې پاته کېدا ورته غوره ده.

دا د درايت او فراست له مخې د رسول الله صلی الله عليه و سلم يوه دقيقه وړاندوينه گڼلی شو؛ چې يقيناً همداسې شوې.

په صحيح مسلم کې دا روايت تر دې باب لاندې راغلی: باب الترغيب في المدينة عند فتح الأمصار: د ښارونو د فتحې وخت کې؛ په مدينه کې پاته کېدو ته هڅونه؛ او دا له شك پرته د بخاري تر عنوان غوره او له روايت سره زيات مناسب دئ؛ د بخاري عنوان داسې دئ: څوك چې له مدينې کرکه وکړي؛ او تاسو وليدل چې تر دې باب لاندې راغلي روايات؛ يو ئې هم له باب سره همغږي او مناسبت نه لري.

## ٥ باب: ايمان به مدينې ته راغونډېږي

٩٠٩ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ الإِيمَانَ لَيَأْرِزُ إِلَى الْمَدِينَةِ كَمَا تَأْرِزُ الْحَيَّةُ إِلَى جُحْرِهَا». (بخارى: ١٨٧٦)

٩٠٩ – له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: ايمان به مدينې ته داسې راغونډ شي لکه مار چې خپل غار ته ستنېږي.

دا روايت هم په بخاري کې يو ځل راغلی او مطلق غريب دئ؛ په ٦

طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: إِبْرَاهِيم بْن المُنْذِرِ، أَنَس بْن عِيَاض، عُبَيْدُ اللَّهِ، خُبَيْبِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ او أَبُو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ په ځينو نورو کتابونو کې هم له همدې متن او إسنادو سره راغلی؛ په ځينو کتابونو کې ابن عمر رضي الله عنهما ته هم دا روايت منسوب شوی؛ خو د صحت په اړه ئې ملاحظات شته؛ راويان ئې دا دي: الْحَسَن بْن يُونُس، يَحْيَى بْن سُلَيْم الطَّائِفِي، عُبَيْدِ اللهِ، نَافِع او عبد الله بْنِ عُمَرَ رضي الله عنه. مسند البزار کې د يحيى بن سُلَيم په اړه راغلي چې له ده پرته هيڅا له عبيد الله دا روايت نه دئ نقل کړی؛ يحيى بن سليم په کې خطأ شوی؛ د عبيد الله په ارتباط چې يحيى بن سليم کوم حديث روايت کړی؛ نااشنا او منکر دئ. وقال البزار: إن يحيى بن سليم أخطأ فيه، وهو كما قال، وهو ضعيف في عبيد الله بن عمر". او نسائي د هغه په اړه وايي: هو منکر الحديث عن عبيد الله ....

د روايت مطلب ئې دا دئ: پر مسلمانانو به داسي حالت راشي چې ټوله نړۍ به پرې تنگه شي او مدينې ته به راغونډ شي؛ خو دا راغونډېدل ئې خپل غار ته د مار له راغونډېدو سره تشبيه شوی؛ چې قطعاً مناسبه تشبيه نه ده؛ د هيڅ مؤمن انسان زړه دا خبره نه مني چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به مؤمنان له مار او مدينه د مار له غار سره تشبيه کړې وي.

دغو دلائلو ته په پام سره ويلی شو چې د بخاري (١٨٧٦) روايت ډېر نا آشنا او غريب دئ؛ په صحابه وو کې هم يو راوي لري او په ورپسې پنځو نورو طبقو کې هم يو يو راوي؛ د داسي رواياتو په اړه چې د إسنادو له پلوه غريب وي؛ د متن له پلوه په قرآن کې شاهد ونه لري؛ نه ئې منل ضروري وي، نه ئې بل ته ويل مفيد او له دې احتمال سره توأم چې ښايي په دې سره به رسول الله صلى الله عليه و سلم ته داسي څه منسوب کړي چې هغه نه دي ويلي؛ په محدثينو کې يوه يا ځينو په خپلو کتابونو کې راوړي او ډېرو ئې له راوړلو ډډه کړې وي؛ او دا ځکه چې يا

ئې إسناد او متن معتبر نه دي موندلي او يا ئې راوړل ورته ضروري او مفيد نه دي برېښېدلي؛ د داسي رواياتو په ارتباط؛ د إيمان او درايت غوښتنه دا ده چي په منلو کې ئې هم احتياط وشي او بل ته ئې په ويلو کې هم؛ د مدينې په اړه د بخاري وروستني څو روايات له همدې جملې دي.

٦ باب: د مدينې له اوسيدونکو سره د فريب گناه

٩١٠ ـ عَنْ سَعْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «لاَ يَكِيدُ أَهْلَ المَدِينَةِ أَحَدٌ، إِلَّا انْمَاعَ كَمَا يَنْمَاعُ المِلْحُ فِي المَاءِ». (بخارى: ١٨٧٧)

٩١٠ – سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اورېدلي چي فرمايل ئې: "د مدينې له اهل (اوسيدونکو) سره هيڅوك دوكه او درغلي نه کوي؛ مگر دا چي ويلي به شي؛ داسي لکه مالگه چي په اوبو کي ويلي کېږي".

١٨٧٧ - حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، أَخْبَرَنَا الفَضْلُ، عَنْ جُعَيْدٍ، عَنْ عَائِشَةَ هِيَ بِنْتُ سَعْدٍ، قَالَتْ: سَمِعْتُ سَعْدًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «لاَ يَكِيدُ أَهْلَ المَدِينَةِ أَحَدٌ، إِلَّا انْمَاعَ كَمَا يَنْمَاعُ المِلْحُ فِي المَاءِ»

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ مطلق غريب دئ؛ په ٥ طبقو کې يو يو راوي لري چي دا دي: حُسَيْن بْن حُرَيْث، فَضْل، جُعَيْد، عَائِشَة د سعد لور او سَعْد رضي الله عنه؛ له بخاري پرته؛ په بل هيڅ مهم او معروف کتاب کې؛ د صحاح سته په شمول؛ نه دئ راغلی؛ که په بل غير معروف کتاب کې راغلی نو هغه هم له بخاري نقل کړی؛ او دا ښيي چي نورو محدثينو يا د دې روايت متن معتبر نه دئ گڼلی او يا ئې راويان؛ په روايت کې د مدينې خلک له اوبو او له دوی سره دوکه کوونکي له مالگي سره تشبيه شوي؛ يعني لکه مالگه چي د اوبو مخه نه شي ډب کولی او په خپله ويلي کېږي؛ دوی به همداسي شي.

## ٧ باب: د مدینې برجونه

٩١١ ـ عن أُسَامَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: أَشْرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أُطُمٍ، مِنْ آطَامِ المَدِينَةِ، فَقَالَ: «هَلْ تَرَوْنَ مَا أَرَى، إِنِّي لَأَرَى مَوَاقِعَ الفِتَنِ خِلاَلَ بُيُوتِكُمْ كَمَوَاقِعِ القَطْرِ». (بخاری: ١٨٧٨)

٩١١ - له اسامه رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د مدینې د برجونو پر یوه برج؛ لوړ ودرېدو او وئې فرمایل: (آیا تاسو هغه څه وینئ چې زه ئې وینم؟ بې له شکه چې زه ستاسو د کورونو منځ کې د فتنو راکوزېدو ځایونه داسي ګورم لکه د باران ورېدا چې سیمي او ځایونه ونیسي.

تکرار: دا روایت په بخاري کې ٤ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٨٧٨ - ٢٤٦٧ - ٣٥٩٧ – ٧٠٦٠؛ مطلق غریب دئ په دریو طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: ابْن شِهَاب، عُرْوَة او أُسَامَة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له دې وروسته ئې راویان بېل بېل دي.

توپیر: په یوه کې هَلْ تَرَوْنَ مَا أَرَى او په بل کې هَلْ تَرَوْنَ مَا أَرَى» قَالُوا: لاَ؛ په یوه کې إِنِّي لَأَرَى مَوَاقِعَ الفِتَنِ خِلاَلَ بُيُوتِكُمْ په بل کې إِنِّي أَرَى الفِتَنَ تَقَعُ خِلاَلَ بُيُوتِكُمْ په بل کې فَإِنِّي لَأَرَى الفِتَنَ تَقَعُ خِلاَلَ بُيُوتِكُمْ؛ په یوه کې كَمَوَاقِعِ القَطْرِ په بل کې مَوَاقِعَ القَطْرِ او په بل کې كَوَقْعِ القَطْرِ.

مسند البزار وايي: وَهَذَا الْحَدِيثُ لَا نَعْلَمُهُ يُرْوَى بِهَذَا اللَّفْظِ إِلَّا عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ: او دا حدیث داسي دئ چې په دې الفاظو او سند سره ئې له اسامه پرته له بل چا نه مومو.

په مسند احمد کې دا روایت په دې صیغه راغلی:

٢١٨١٠ - عَنْ أُسَامَةَ، قَالَ: أَشْرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أُطُمٍ مِنْ آطَامِ الْمَدِينَةِ فَقَالَ: «هَلْ تَرَوْنَ مَا أَرَى؟» قَالُوا: لَا. قَالَ: «إِنِّي لَأَرَى الْفِتَنَ تَقَعُ خِلَالَ بُيُوتِكُمْ كَوَقْعِ الْمَطَرِ» مسند احمد

لکه چې گورئ د مسند احمد د روايت الفاظ او ترکيب ئې؛ د بخاري تر روايت ډېر واضح دي.

دې ته بايد متوجه وو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم مدينه په داسي حال کې پرېښې او رحلت ئې کړی چې له معنوي، اخلاقي او ديني پلوه لوړي څوکي او اوج ته رسېدلې وه، فتنې ځپل شوې وې، د کفر او نفاق ټغر ټول شوی وو؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم د وينا معنى دا نه ده چې هغه مهال فتنې د کوم مجسم توکي او باران په څېر پر مدينې ورېدلې؛ که دا روايت صحيح وي نو معنى ئې له دې پرته بل څه نه شو گڼلی چې رسول الله صلى الله عليه و سلم؛ د رسولانه درايت او فراست له مخي خپل ياران د هغو احتمالي فتنو راتلو ته متوجه کړي چې د هر پيغمبر امت ورسره مخامخ شوی؛ لکه هغه فتنې چې د عمر، عثمان او علي رضي الله عنهم په شهادت منتج شوې.

## ٨ باب: دجال مدينې ته نه شي ننوتلی

٩١٢ ـ عَنْ أَبِي بَكْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لا يَدْخُلُ الْمَدِينَةَ رُعْبُ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ لَهَا يَوْمَئِذٍ سَبْعَةُ أَبْوَابٍ عَلَى كُلِّ بَابٍ مَلَكَانِ». (بخاری: ١٨٧٩)

٩١٢ – أبو بكرة رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (د دجال رعب او ترهه مدينې ته نه شي ننوتلی، هغه وخت به مدينه اوه دروازې لري چې په هري دروازې کې به دوې ملائکي ولاړي وي).

دا روايت په بخاري کې ٢ ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ١٨٧٩ – ٧١٢٥؛ غريب دئ؛ په ٥ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: عَبْد العَزِيزِ بْن عَبْدِ اللَّهِ، إِبْرَاهِيم بْن سَعْد، سعد، د سعد پلار او أَبو بَكْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ په ځينو نورو کتابونو کې هم راغلی؛ متن ئې همدا دئ خو له څلورمي طبقې وروسته ئې راويان سره بېل دي.

دا روایت د بخاري له نورو روایاتو سره تعارض لري؛ لکه دا:

٩١٣ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَلَى أَنْقَابِ الْمَدِينَةِ مَلائِكَةٌ لا يَدْخُلُهَا الطَّاعُونُ وَلا الدَّجَّالُ». (بخاری: ١٨٨٠)

٩١٣ - له ابو هريره رضي الله عنه روایت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: (مدينې ته د ننوتلو لارو سره ملائکي ولاړي دي؛ نه طاعون ورداخلېدی شي او نه دجال).

تکرار: دا روایت په بخاري کې ٢ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٨٨٠ - ٧١٣٣

توپير: متن او په دريو طبقو کې ئې راويان سره ورته او دا دي: مَالِك، نُعَيْمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْمُجْمِرِ او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، له هغه وروسته بېل بېل دي. په مخکيني روایت کې ويل شوي وو چي د دجال رعب مدينې ته نه شي داخلېدی خو په دي کې ويل شوي چي دجال په خپله نه شي ننوتلی.

بلال رضي الله عنه مدينه د وبا وطن په نامه ياده کړې؛ د أنس بن مالك او جابر بن عبد الله رضي الله عنهما په روایت کې راغلي:

أن النبی صلی الله علیه وسلم قال: (... لا يدخل المدينة الدَّجالُ ولا الطَّاعونُ إنْ شاءَ الله)،

دا روایت په بخاري، مسند احمد او مسند أبي عوانه کې راغلی؛ په شرح کې ئې ويل شوي: بالجزم في الدجال، وبالتعليق بالمشيئة في الطاعون من غير جزم.

له انس رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: (... مدينې ته نه دجال ننوتلی شي او نه طاعون إن شاء الله)؛ يعني د دجال عدم دخول يقيني دئ خو د طاعون ظني او د الله تعالی مشيت پوري تړلی.

له محققينو يو تن وايي: ... كرونا مدينې ته هم ننوتله؛ ممكنه نه ده چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم حديث دي د واقعيتونو خلاف وي؛ ... د ده له نظره د حديث معنى دا ده چې د طاعون عدم دخول د الله تعالى مشيت پورې مربوط ګڼل شوى.

بخاري دواړه روايات راوړي؛ هغه هم چې إن شاء الله نه ده په کې راوړل شوې؛ دا وضاحت ئې هم نه دئ کړى چې کوم يو ئې تر بل غوره دئ!!

ځينو شارحينو ويلي چې طاعون او وباء توپير لري؛ طاعون مرګونى مرض دئ او نښه ئې دا ده چې آثار ئې په پوستکي کې راڅرګنديږي؛ او وباء د کولرا په څېر هغه بېماري ده چې کېدى شي مرګونې وي يا نه وي.

په بخاري کې دا روايت هم راغلى:

عَنْ أَبِي الأَسْوَدِ، قَالَ: أَتَيْتُ المَدِينَةَ وَقَدْ وَقَعَ بِهَا مَرَضٌ وَهُمْ يَمُوتُونَ مَوْتًا ذَرِيعًا،.....

بخارى: ٢٦٤٣

له أبو الأَسود روايت دئ چې مدينې ته راغلم په داسې حال کې چې مرض په کې خور شوى وو او خلك په سريع توګه مړه کېدل؛ ...

٩١٤ـ عَنِ أَنَس بْن مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «لَيْسَ مِنْ بَلَدٍ إِلَّا سَيَطَؤُهُ الدَّجَّالُ، إِلَّا مَكَّةَ، وَالمَدِينَةَ، لَيْسَ لَهُ مِنْ نِقَابِهَا نَقْبٌ، إِلَّا عَلَيْهِ المَلاَئِكَةُ صَافِّينَ يَحْرُسُونَهَا، ثُمَّ تَرْجُفُ المَدِينَةُ بِأَهْلِهَا ثَلاَثَ رَجَفَاتٍ، فَيُخْرِجُ اللَّهُ كُلَّ كَافِرٍ وَمُنَافِقٍ». (بخارى: ١٨٨١)

٩١٤ - له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي: (له مکې او مدينې پرته به بل داسې ښار نه وي چې دجال ئې تر پښو لاندې نه کړي؛ د دې دواړو ښارونو پر هره لار به ملائکې په ليکه ولاړې وي او ساتنه به ئې کوي؛ بيا به مدينه خپل

اوسيدونکي درې ځله ولړزوي او په دې سره به الله هر کافر او منافق ترې وباسي).

دا روايت په بخاري کې همدا يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: إِبْرَاهِيم بْن الْمُنْذِرِ، وَلِيد، أَبُو عَمْرو، إِسْحَاق او أَنَس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ د حديث په نورو معروفو کتابونو کې يوازې صحيح ابن حبان کې راغلی؛ له بخاري سره ئې په دوو طبقو؛ صحابه او تابعينو کې راويان سره ورته دي خو په نورو طبقو کې بېل دي؛ د متن له پلوه هم دوه توپيرونه لري: د صحيح ابن حبان په روايت کې راغلي: (فَيَنْزِلُ السَّبَخَةَ، فَتَرْجُفُ الْمَدِينَةُ) او (يَخْرُجُ إِلَيْهِ كُلُّ كَافِرٍ وَمُنَافِقٍ) خو په بخاري کې فَيَنْزِلُ السَّبَخَةَ نه دي راغلي او د يخرج اليه په ځای (فَيُخْرِجُ اللَّهُ كُلَّ كَافِرٍ وَمُنَافِقٍ) راغلي؛ د صحيح ابن حبان روايت داسي دئ:

٦٨٠٣ - عن إِسْحَاق بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: حَدَّثَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيْسَ مِنْ بَلَدٍ إِلَّا سَيَطَؤُهُ الدَّجَّالُ إِلَّا مَكَّةَ وَالْمَدِينَةَ، لَيْسَ نَقْبٌ مِنْ أَنْقَابِهَا إِلَّا عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ صَافِّينَ يَحْرُسُونَهَا، فَيَنْزِلُ السَّبَخَةَ، فَتَرْجُفُ الْمَدِينَةُ بِأَهْلِهَا ثَلَاثَ رَجَفَاتٍ يَخْرُجُ إِلَيْهِ كُلُّ كَافِرٍ وَمُنَافِقٍ» صحيح ابن حبان

له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (له مکې او مدينې پرته به بل داسې ښار نه وي چې دجال ئې تر پښو لاندې نه کړي؛ د دې دواړو ښارونو پر هره لار به ملائکې په ليکه ولاړې وي او ساتنه به ئې کوي؛ دجال به په شګلني او شوره زمکې کې واړوي؛ مدينه به خپل اوسيدونکي درې ځله ولړزوي؛ او په دې سره به هر کافر او منافق د دجال لوري ته ووځي).

٩١٥ ـ عَنِ أَبى سَعِيدٍ الْخُدْرِىَّ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثًا طَوِيلاً عَنِ الدَّجَّالِ فَكَانَ فِيمَا حَدَّثَنَا بِهِ أَنْ قَالَ: «يَأْتِى الدَّجَّالُ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْهِ أَنْ يَدْخُلَ نِقَابَ الْمَدِينَةِ. يَنْزِلُ بَعْضَ السِّبَاخِ الَّتِى بِالْمَدِينَةِ فَيَخْرُجُ إِلَيْهِ يَوْمَئِذٍ رَجُلٌ هُوَ خَيْرُ النَّاسِ أَوْ مِنْ خَيْرِ النَّاسِ فَيَقُولُ: أَشْهَدُ أَنَّكَ الدَّجَّالُ الَّذِى حَدَّثَنَا عَنْكَ

رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثَهُ، فَيَقُولُ الدَّجَّالُ: أَرَأَيْتَ إِنْ قَتَلْتُ هَذَا ثُمَّ أَحْيَيْتُهُ هَلْ تَشُكُّونَ فِي الأَمْرِ؟ فَيَقُولُونَ: لا فَيَقْتُلُهُ ثُمَّ يُحْيِيهِ فَيَقُولُ حِينَ يُحْيِيهِ: وَاللَّهِ مَا كُنْتُ قَطُّ أَشَدَّ بَصِيرَةً مِنِّي الْيَوْمَ، فَيَقُولُ الدَّجَّالُ: أَقْتُلُهُ. فَلا يُسَلَّطُ عَلَيْهِ». (بخاری: ۱۸۸۲)

۹۱۵ - له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم د دجال په اړه اوږدې خبرې راته وکړې او د دې خبرو په ترڅ کې ئې دا هم وفرمايل: (دجال به راشي او څرنګه چې ده ته د مدينې لارو او دروازو ته داخلېدل حرام دي؛ نو د مدينې د باندې په کومه شګلنه او شوره زمکې کې به واړوي؛ او د خلکو له منځ به يو غوره شخص يا يو له غورو اشخاصو ورووځي او ورته وبه وايي: ګواهي ورکوم چې ته هغه دجال يې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپلې وينا کې موږ ته ويلي؛ نو دجال به ووايي: څنګه به وي که دا شخص ووژنم بيا ئې بېرته را ژوندی کړم، نو آيا بيا به هم زما په اړه شک کوئ؟ نو خلک به ووايي: نه؛ دجال به ئې ووژني؛ بيا به ئې بېرته را ژوندی کړي؛ خو هغه به د بېرته را ژوندي کېدو په حال کې ووايي: قسم په خدای چې نن مې دومره کلك بصيرت په برخه شوی چې تر نن ورانډې مې هيڅ کله نه درلود؛ نو دجال به ووايي: وژنم ئې؛ خو پرې برلاسی به نه شي).

تکرار: دا روايت په بخاري کې ۲ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۱۸۸۲ - ۷۱۳۲

توپير: په يوه کې يَأْتِي الدَّجَّالُ، وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْهِ أَنْ يَدْخُلَ نِقَابَ المَدِينَةِ، يَنْزِلُ بَعْضَ السِّبَاخِ الَّتِي بِالْمَدِينَةِ، په بل کې يَأْتِي الدَّجَّالُ، وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْهِ أَنْ يَدْخُلَ نِقَابَ المَدِينَةِ، فَيَنْزِلُ بَعْضَ السِّبَاخِ الَّتِي تَلِي المَدِينَةَ په يوه کې فَيَقُولُ الدَّجَّالُ: أَرَأَيْتَ إِنْ قَتَلْتُ هَذَا، ثُمَّ أَحْيَيْتُهُ په بل کې أَرَأَيْتُمْ إِنْ قَتَلْتُ هَذَا، ثُمَّ أَحْيَيْتُهُ، په يوه کې فَلاَ أُسَلَّطُ عَلَيْهِ او په بل کې فَلاَ يُسَلَّطُ عَلَيْهِ

راغلي؛ او له دې معلومېږي چي په (١٨٨٢) روايت کې دوه څرګند اشکالات او ستونزي دي: د بَعْضَ السِّبَاخِ الَّتِي بِالْمَدِينَةِ او د أَرَأَيْتَ ستونزي؛ چي په (٧١٣٢) کې دا ستونزي رفع شوې او ويل شوي دي: فَيَنْزِلُ بَعْضَ السِّبَاخِ الَّتِي تَلِي المَدِينَةَ او أَرَأَيْتُمْ؛ دا ځکه چي په نورو رواياتو کې راغلي چي دجال مدينې ته نه شي داخلېدی؛ خو په (١٨٨٢) کې راغلي چي دجال به د مدينې په شګلن او مالګين ډاګ کې واړوي؛ او له أرأيت ئې داسي معلومېږي چي ګواکې دجال هغه غوره شخص ته دا خبره کړې؛ حال دا چي د وضعيت تقاضی دا ده چي خطاب به ئې د صحنې حاضرينو ته وو؛ همغسي چي دا بل روايت وايي او د أرأيتم صيغه ئې کارولې. د (٧١٣٢) روايت ستونزه دا ده چي د فَلاَ يُسَلَّطُ عَلَيْهِ پر ځای فَلاَ أُسَلَّطُ عَلَيْهِ صيغه په کې راغلې؛ او ګډه ستونزه ئې دا ده چي دجال ته د چا د ژوندي کولو واك او توان منسوب شوی؛ په داسي حال کې چي له الله تعالی پرته هېڅوك نه ژوندی شی پيدا کولی شي او نه مړی ژوندی کولی شي. عيسی عليه السلام ته د مړي ژوندي کولو معجزه ورکړی شوې خو ويل به ئې: مړي د الله په إذن ژوندي کوم؛ يعني چي دا زما ذاتي کار نه دئ. که څوك پوښتنه وکړي چي دجال څنګه دا غوره شخصيت يو ځل وژلی او ژوندی کولی شو؛ بيا ئې ولې نه شو وژلی؛ سره له دې چي د وژلو اراده ئې هم وکړه؟ ځواب به څه وي؟ قرآن فرمايي:

اللَّهُ الَّذِى خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُم مَّن يَفْعَلُ مِن ذَٰلِكُم مِّن شَىْءٍ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٤٠﴾ الروم

الله هغه ذات دئ چي تاسي ئې پيدا کړئ، بيا ئې تاسو ته روزي درکړه، بيا تاسي مړه کوي، بيا مو بېرته راژوندي کوي؛ آيا ستاسي له شريکانو داسي څوك شته چي له دې کارونو کوم يو وکړی شي؟! پاکې ده الله لره او هغه لوړ دئ له هغه څه چي دوی ئې ورسره شريك ګرځوي.

په دې مبارك آيت كې هغه ځلور امور په ګوته شوي چې الله تعالی ته مختص دي او په هغوی كې هيڅوك له ده سره شريك نه دئ: ١- د انسان پيدايښت، ٢- د هغه د رزق او روزي انتظام، ٣- د هغه د مرګ پرېکړه او ٤- د هغه بياراژوندی کول. د آيت په پای کې ويل شوي چې الله تعالی له دې عيب پاك او لدې نقص ډېر لوړ دئ چې په دغو څارو کې څوك د ځان شريك كړي؛ يعني څوك چې په دغو امورو کې كوم يو له الله تعالی پرته بل چا ته منسوب كړي هغه په حقيقت کې الله تعالی ته يو عيب او نقص منسوب كړی؛ حال دا چې الله تعالی له داسي عيب او نقص منزه او لوړ دئ.

دا هم بايد په پام کې ولرو چې دا دواړه روايات غريب دي او په ٣ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: ابْنِ شِهَاب، عُبَيْدُ اللَّهِ بْن عَبْدِ اللَّهِ او أَبُو سَعِيدٍ الخُدْرِيَّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. له مهمو او معروفو كتابونو يوازې بخاري او مسند احمد کې راغلی.

په قرآن کې د دجال هيڅ يادونه نه ده شوې؛ نه صراحتاً او نه اشارتاً؛ كه څه هم ځينو په ډېر تكلف سره هڅه كړې چې د قرآن له دوو داسي آيتونو چې نه دجال ته په کې اشاره شوې او نه ئې په مخكې او وروسته آيتونو کې د ده په اړه څه ويل شوي؛ د خپلې شخصي ادعاء لپاره كوم احتمالي او ناوارد دليل او اشاره راوباسي؛ يو ئې دا آيت دئ:

وَإِنْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكُونُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا ﴿١٥٩﴾ النساء

او د اهل كتاب به هيڅوك نه وي مګر داسي چې له خپل مرګ مخكې به هرومرو پر ده (عيسى عليه السلام) ايمان راوړي او د قيامت په ورځ به پرې شاهد وي.

په دې آيت کې د دجال په اړه هيڅ اشاره هم نه مومو؛ تعجب كوو چې څنګه او د كوم دليل له مخې ئې د دجال په اړه ګڼي؟!! دا آيت د

عيسى عليه السلام په اړه دئ او دقيق تفسير ئې دا دئ چي له اهل كتاب به هيڅوك داسي پاته نه شي چي له خپل مرگ مخکې د عيسى عليه السلام حقيقت ورته معلوم نه شي او په دې پوه نه شي چي هغه نه خداى وو او نه د خداى زوى؛ بلکې د خداى بنده او د هغه پيغمبر وو. هيله ده دا برخه د پلوشې تفسير کې وگورئ.

يو کمزورى تعبير او تفسير هم مومو چي وايي: د عيسى عليه السلام له راکوزېدو وروسته به ټول موجود اهل کتاب د ده له مرگ مخکې پر ده ايمان راوړي. لومړۍ ترجمه په څو دلائلو تر بلې صحيح او غوره ده:

- په لومړۍ ترجمې کې د آيت له خپلو الفاظو پرته هيڅ لفظ او مطلب نه دئ علاوه شوى؛ په داسي حال کې چي د آيت الفاظ کاملاً واضح دي او ښيي چي هر اهل کتاب به تر خپل مرگ وړاندي پر عيسى عليه السلام په سمه توگه ايمان راوړي؛ يعني د ده په اړه به خپل مخکيني غلط باورونه تصحيح کړي او پوه به شي چي عيسى عليه السلام نه خداى وو او نه د خداى زوى او ځاى ناستى؛ د آيت په دې فقرې (قبل موته) کې؛ ضمير (من اهل الكتب) ته راجع دئ نه عيسى عليه السلام ته؛ هر اهل کتاب ترې مراد دئ؛ نه د عيسى عليه السلام د راکوزېدو په وخت کې موجود اهل کتاب؛ او نور ترې مستثنى؛ د دې استثناء لپاره هيڅ دليل نه مومو؛ لومړۍ ترجمه له دې کبله هم غوره او دقيقه ده چي په آيت کې ټولو اهل کتاب ته اشاره شوې، حصر او استثناء په کې نه شته؛ خو په دوهمي ترجمې کې يوازي د عيسى عليه السلام د راکوزېدو په وخت کې موجود اهل کتاب اخيستل شوي او نور مستثنى شوي او دا بې دليله توجيه او استثناء ده.
- د قرآن له دې آيت او نورو لارښوونو معلومېږي چي د ژوند په پاى او هغه مهال چي انسان د مرگ پړاو ته نژدې شي؛ په خپلو غلطو باورونو به پوه او ډېر حقائق ورته څرگند شي او خپل اشتباهات به درك كړي؛ لکه د النساء سورې په ۹۷ آيت کې د هغو کسانو په اړه ويل شوي چي په دارالکفر کې پاته شوي وو، په خپله او د ملائکو له وينا به پوه شي چي پر خپل ځان

ئې ظلم کړی وو، هسې ئې د الله پراخه زمکه تنګه ګڼلې وه او له هجرت ئې ډډه کړې وه، په کار وه چې د خپل دين او ايمان د حفاظت لپاره ئې هجرت کړی وی او د کفر له سلطې ئې ځان آزاد کړی وی؟!

- هغه اهل کتاب چې عيسی عليه السلام د خدای زوی ګڼي او ګمان کوي چې د ده په وجه به له عذاب او الهي مؤاخذې خوندي وي؛ د خپل مرګ په وخت کې به پوه شي چې دا هسې بې بنياده هيلې وې، نه هغه خدای وو او نه د خدای زوی او نه له عذاب زموږ د ژغورنې ذمه وار.
- د قيامت په ورځ به هم وګوري چې عيسی عليه السلام د دوی خلاف شهادت ورکوي.

دوهم آيت چې ځيني ئې په ناسمه توګه داسي تعبيروي چې ګواکې په دې کې دجال ته اشاره شوې؛ دا دئ:

وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِلسَّاعَةِ فَلا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُونِ هَذَا صِرَاطٌ مُسْتَقِيمٌ ﴿٦١﴾ الزخرف

او هغه (عيسی عليه السلام) خو د قيامت لپاره يوه علامه او نښه ده؛ نو د دغي نښي په اړه شك مه کوئ او زما متابعت وکړئ؛ همدا مستقيمه لار ده.

د دې آيت په اړه څو خبري توجه ايجابوي:

- تر دې وړاندي دا آيتونه راغلي:

وَلَمَّا ضُرِبَ ٱبْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا إِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّونَ ﴿٥٧﴾ وَقَالُوٓاْ ءَأَٰلِهَتُنَا خَيْرٌ أَمْ هُوَ ۚ مَا ضَرَبُوهُ لَكَ إِلَّا جَدَلًۢا ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُونَ ﴿٥٨﴾ الزخرف

او کله چې د مريمې زوی د يوه مثال په توګه وړاندي شي؛ ناڅاپه ستا قوم ئې له کبله شور ځوږ جوړوي او وايي: آيا زموږ معبودان غوره دي که دی؟ تا ته ئې يوازې د يوه جدل په توګه بيانوي؛ بلکې دوی شخړن وګړي دي.

د آيت له سياق او سباق او له الفاظو ئې په څرګنده توګه معلومېږي چې قريشو د عيسی عليه السلام په اړه د قرآن په دغو ويناوو استدلال کړی چې وايي: عيسی عليه السلام په غيب پوهېدو، مړي ئې ژوندي کولی شول، له خټې جوړ شوي انځور ته ئې سا ورکولی شوه او بيماران ئې روغولی شول؛ قريشو به ويل: که د عيسی عليه السلام په اړه دا خبري منلی شئ نو زموږ د معبودانو په اړه ئې ولې نه منئ؟ موږ هم دې ته ورته عقيده لرو چې زموږ دا معبودان همدغه کارونه کولی شي چې عيسی عليه السلام کول. د آيت الفاظ داسي دي چې وايي: کله چې به د عيسی عليه السلام يادونه وشوه نو دوی به شور او ځوږ جوړولو؛ يعني دا کار په وار وار تکرار شوی. له وروستيو آيتونو هم په وضاحت سره معلومېږي چې خبره همداسي وه؛ ځکه وروسته ويل شوي: هغه خو يوازي يو داسي بنده وو چې پېرزوينه مو پرې وکړه او د بني اسرائيلو لپاره مو بېلګه وګرځاوو؛ او که مو غوښتلی نو له تاسو به مو په زمکي کي داسي فرشتې جوړي کړې وې چې ځای ناستې کېږي؛ نسل بالنسل به دوام کوي؛ او هغه خو د قيامت لپاره يوه علمي نښه ده؛ يعني تاسو هسي د عيسی عليه السلام په هغو معجزو استدلال کوئ او خپل شرکي عقائد پرې توجيه کوئ؛ هغه د الله تعالی بنده، د بني اسرائيلو لپاره يو مثال او د قيامت لپاره يوه نښه وو. د عيسی عليه السلام مثال يو استثنائي مثال دئ؛ بله بېلګه ئې نه شته؛ داسي معجزې يوازي ده ته ورکړی شوې وې؛ او دا نه له دې کبله چې الله تعالی دا کار نه شي کولی؛ الله تعالی دا هم کولی شي چې له تاسو داسي فرشتې جوړي کړي چې نسل به ئې په زمکي کي دوام کوي، خو نه هر څوك د عيسی عليه السلام په څېر کوي او نه تاسو د فرشتو په څېر. دې ته مو بايد پام وي چې نن هم ډېر مشرکين د پيغمبرانو عليهم السلام په دغسي معجزو استناد کوي او خپلو مړو او ژونديو پيرانو، مشائخو، اولياءو او معبودانو ته؛ په جعلي او دروغجنه توګه؛ همداسي خارق العاده چاري، علم غيب، د عالم په چارو کي د

تصرف واك او اختيار ثابتولو هڅه کوي؛ او دا په داسې حال کې چې قرآن په مکرره او صريح توګه فرمايي: الله تعالی په دې کې هيڅ شريك نه لري؛ نه په زمکې کې او نه په آسمانونو کې، نه په ژونديو کې او نه په مړو کې، نه په انسانانو کې او نه په فرشتو کې.

د ٦١ آيت په پای کې ويل شوي: نو د قيامت په اړه شك مه کوئ او زما متابعت وکړئ؛ همدا مستقيمه لار ده؛ له دې معلومېږي چې عيسی عليه السلام او د ده معجزې خلکو ته ښودله چې قيامت حق دئ، الله تعالی به مړي راژوندي کوي، الله تعالی عالم الغيب دئ او په دې پوهېږي چې خلك څه کوي، د عيسی عليه السلام په معجزو کې دغه مفاهيم انځور شوي او خلکو ته ښودل شوي چې که الله تعالی د يوه بنده په لاس دا کارونه کولی شي نو په خپله به ئې ولې نه شي کولی!!

آيا تاسو په دې آيتونو کې داسې څه وليدل چې دجال ته په کې اشاره شوې وي؟ آيا ډېره عجيبه نه ده چې څوك له دې آيتونو د دجال موضوع راوباسي؟! يوه چا ويلي: دجال د عيسی عليه السلام ضد دئ؛ يو له بل سره لازم او ملزوم؛ نو د عيسی عليه السلام له يادونې د دجال يادونه په ضمني توګه شوې!! او دا نو يقيناً د ملا بهادر او ملا نصر الدين استدلال ته ورته دئ!! ملا نصر الدين پېژنئ او له استدلالونو ئې خبر يئ؛ او ملا بهادر به شيخ الحديث شهيد مولوی حسن جان په خپلو درسونو کې هغه مهال يادولو چې د چا ډېره مسخره او کمزورې وينا به ئې وړاندې کوله او د ده له وينا سره به ئې تشبيه کوله؛ مولوي حسن جان لېون وزمو تکفيريانو شهيد کړ. له تکفيريانو مو هدف هغه دي چې کمال ئې د نورو کافرانول دي نه مسلمانول؛ هم په خپلو فتوی ګانو سره مسلمان تکفيروي او هم په خپلو کړنو سره خلك له اسلام متنفر کوي.

مکرر وايو چې په قرآن کې د دجال هيڅ يادونه نه ده شوې؛ نه صراحتاً او نه اشارتاً؛ خو په رواياتو کې د دجال خروج د يوې سترې فتنې په توګه ياد شوی؛ اما په اړوند رواياتو کې ئې ډېر تعارضات تر سترګو

کېږي؛ يو څرګند مثال ئې د بخاري او مسلم په رواياتو کې تعارض دئ؛ بخاري وايي ښۍ سترګه به ئې چيته وي؛ خو مسلم هغه روايت راوړی چې وايي کينه سترګه به ئې چيته وي؛ دا ولې استاد يو روايت راوړي او شاګرد ئې د هغه ضد روايت؟!! روايات دا دي:

٣٤٣٩ – عن عَبْدِ اللَّهِ بن عمر رضى الله عنهما: ذَكَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَوْمًا بَيْنَ ظَهْرَيِ النَّاسِ المَسِيحَ الدَّجَّالَ، فَقَالَ: " إِنَّ اللَّهَ لَيْسَ بِأَعْوَرَ، أَلاَ إِنَّ المَسِيحَ الدَّجَّالَ أَعْوَرُ العَيْنِ اليُمْنَى، كَأَنَّ عَيْنَهُ عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ. رواه البخارى

له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم يوه ورځ چې د خلکو منځ کې څرګند ناست وو د مسيح دجال يادونه ئې وکړه او وئې فرمايل: الله ړوند نه دئ؛ پام کوئ چې دجال په ښۍ سترګې ړوند دئ؛ سترګه ئې داسي ده لکه د انګور په يوه ورځې کې غټه او جوته دانه.

دا روايت په بخاري کې ٦ ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ٣٤٣٩ - ٣٤٤٠ - ٥٩٠٢ - ٦٩٩٩ - ٧٠٢٦ - ٧٤٠٧ -

او د مسلم روايت بيا د دې عکس خبره کوي او وايي:

٧٤٧٤- عَنْ حُذَيْفَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الدَّجَّالُ أَعْوَرُ الْعَيْنِ الْيُسْرَى، جُفَالُ الشَّعَرِ، مَعَهُ جَنَّةٌ وَنَارٌ، فَنَارُهُ جَنَّةٌ وَجَنَّتُهُ نَارٌ. صحيح مسلم

له حذيفه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: دجال داسي دئ چې کينه سترګه ئې چيته او ړنده ده؛ په ډېرو وېښتانو پوښلی؛ يو جنت او يو اور (دوزخ) به ورسره وي؛ داسي چې اور به ئې جنت وي او جنت ئې اور.

له دې دواړو متعارضو رواياتو به کوم يو صحيح ګڼو او په کوم دليل؟ د دې پوښتني ځواب په بخاري کې نه مومو؛ بخاري اصلاً د امام مسلم روايت نه دئ راوړی؛ بخاري د اکثرو هغو رواياتو په اړه همدا

کار کړی چي احناف پرې استناد کوي او تر نورو ئې اصح او ارجح ګڼي. د علمي تحقيق غوښتنه او د محدث مسئوليت دا دئ چي دواړه متعارض روايات په امانت سره راوړل شي او بيا يو او تر ټولو غوره ئې د دلائلو له مخي په ګوته شي. امام مسلم همدا کار کړی؛ د دجال په اړه ئې دواړه روايات راوړي.

دا هم ضروري بريښي چي واضح کړو رسول الله صلى الله عليه و سلم دجال په خوب کي ليدلی؛ نو د ده په اړه د روايت منشأ رؤيا ده؛ نه قرآن او نه وحي. د هغو ښاغلو رأی او هڅه ناسمه ده چي د دجال لپاره په قرآن کي منشأ لټوي او يا بېله وحي؛ د دې رؤيا اړوند روايت داسي دئ:

٧٠٢٦ - عن عَبْدِ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُنِي أَطُوفُ بِالكَعْبَةِ، فَإِذَا رَجُلٌ آدَمُ، سَبْطُ الشَّعَرِ، بَيْنَ رَجُلَيْنِ، يَنْطُفُ رَأْسُهُ مَاءً، فَقُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالُوا: ابْنُ مَرْيَمَ، فَذَهَبْتُ أَلْتَفِتُ فَإِذَا رَجُلٌ أَحْمَرُ جَسِيمٌ، جَعْدُ الرَّأْسِ، أَعْوَرُ العَيْنِ اليُمْنَى، كَأَنَّ عَيْنَهُ عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ، قُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالُوا: هَذَا الدَّجَّالُ، أَقْرَبُ النَّاسِ بِهِ شَبَهًا ابْنُ قَطَنٍ " وَابْنُ قَطَنٍ رَجُلٌ مِنْ بَنِي المُصْطَلِقِ مِنْ خُزَاعَةَ. رواه البخارى

له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (په داسي حال کي چي ويده وم؛ ځان داسي ګورم چي د کعبې طواف کوم؛ ناڅاپه يو غنم رنګی سړی وګورم چي وېښتان ئې ګڼ دي؛ د دوو تنو تر منځ؛ له سر ئې د اوبو څاڅکي څڅېږي؛ ومي ويل: دا څوك دئ؟ وئې ويل: دا د مريمې زوی دئ؛ بيا ولاړم؛ شاوخوا مي کتل؛ ناڅاپه يو سړی ګورم چي سور رنګی او پرېړ دئ، وېښتان ئې تاو شوي، په ښۍ سترګي ړوند دئ؛ سترګه ئې داسي ده لکه د انګور په يوه وږي کي غټه او جوته دانه. ومي ويل: دا څوك دئ؟ وئې ويل: دا

دجال دئ؛ په خلکو کې ده ته نژدې ورته کس؛ ابْنُ قَطَن دئ). ابْن قَطَن د بَنِي الْمُصْطَلِقِ له قبیلې وو.

له دې روایت څو خبرې په ډېر صراحت سره معلومېږي:

- رسول الله صلی الله علیه و سلم دجال په خوب کې لیدلی.
- یو انسان او د بني المصطلق قبیلې یوه تن ته ئې جسم، رنګ او وېشتان ورته وو.
- په ښۍ سترګې ړوند وو.
- او دا چې صحیح مسلم او صحیح بخاري په خپلو منځونو کې داسي ژور تعارضات هم لري؛ ځیني داسي ګمان کوي چې دواړه؛ استاد او شاګرد به په بشپړه توګه او په ټولو روایاتو کې سره متفق وي؛ خو حقیقت دا دئ چې د دې دواړو روایاتو په څېر په ډېرو نورو کې هم ژور توپیرونه سره لري. اما مسلم له بخاري سره یوازې په ١٥١٩روایاتو کې متفق دئ؛ او د بخاري په پاته ٦٠٠٠ روایاتو کې موافق نه دئ.

٩باب: مدینه خراب خلک له ځانه لرې کوي

٩١٦ ـ عَنْ جَابِرٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَايَعَهُ عَلَى الإِسْلاَمِ فَجَاءَ مِنَ الْغَدِ مَحْمُومًا فَقَالَ: أَقِلْنِي فَأَبَى ثَلاَثَ مِرَارٍ فَقَالَ: «الْمَدِينَةُ كَالْكِيرِ تَنْفِي خَبَثَهَا وَيَنْصَعُ طَيِّبُهَا». (بخاری: ١٨٨٣)

٩١٦ - له جابر رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: یو کوچی راغی او له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره ئې په اسلام (د عمل کولو) بیعت وکړ؛ سبا بیا په داسي حال کې راغی چې لالهانده او مضطرب وو؛ وئې ویل: تړون مې مات او فسخ کړه؛ (رسول الله صلی الله علیه و سلم) درې ځلې انکار وکړ؛ بیا ئې وفرمایل: (مدینه د اوسپني بټۍ په څېر ده؛ خپل ناپاك رټي او خپل پاک سوچه کوي.

تکرار: دا روایت په بخاري کې ٥ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ١٨٨٣ -

٧٢٠٩ - ٧٢١١ - ٧٢١٦ - ٧٣٢٢ -

توپیر: په یوه کې فَجَاءَ مِنَ الغَدِ مَحْمُومًا په بل کې فَأَصَابَ الأَعْرَابِيَّ وَعْكٌ بِالْمَدِينَةِ په بل کې فَأَصَابَهُ وَعْكٌ، په بل کې ثُمَّ جَاءَ الغَدَ مَحْمُومًا په یوه کې فَأَبَى ثَلَاثَ مِرَارٍ په بل کې ثُمَّ جَاءَهُ فَقَالَ: أَقِلْنِي بَيْعَتِي، فَأَبَى، ثُمَّ جَاءَهُ فَقَالَ: أَقِلْنِي بَيْعَتِي فَأَبَى، ثُمَّ جَاءَهُ فَقَالَ: أَقِلْنِي بَيْعَتِي، فَأَبَى.

## ١٠ باب: رسول الله صلى الله عليه و سلم د مدينې تشېدا نه خوښوله

٩١٧ ـ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اللَّهُمَّ اجْعَلْ بِالْمَدِينَةِ ضِعْفَيْ مَا جَعَلْتَ بِمَكَّةَ مِنَ الْبَرَكَةِ». (بخارى: ١٨٨٥)

٩١٧ - له انس رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (خدایه! په مدینې کې د هغه برکت دوه برابره واچوه چې مکې ته دې ورکړی).

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دئ، په دریو طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: يُونُس، ابْن شِهَاب او أَنَس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له دې وروسته ئې راویان بېل بېل دي؛ پر بخاري علاوه صحيح مسلم او مُسند البزار کې هم په دې صیغه راوړل شوی:

٦٣١٠- عَن أَنَس؛ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اللَّهُمَّ اجْعَلْ فِيهَا ضِعْفَيْ مَا جَعَلْتَ بِمَكَّةَ مِنَ الْبَرَكَةِ، يَعْنِي الْمَدِينَةَ.

خو البزار تر روایت لاندې لیکي: وَهَذَا الْحَدِيثُ لا نَعْلَمُ رَوَاهُ عَن الزُّهْرِيّ، عَن أَنَس إلاَّ يُونُس، وَرَوَاهُ عَنْ يُونُس ابْنُ وَهْبٍ وَغَيْرُهُ.

یعني له یونس پرته بل هیڅا له زهري او أنس نه دئ روایت کړی.

په دې باب کې چې بخاري کوم روایات راوړي له ځینو داسې معلومېږي چې دا به د مکې له فتحې وروسته وي؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا نه خوښېده چې خلك مدینه پرېږدي او خپل مخکیني وطن؛ مکې ته ستانه شي؛ له ځینو بیا داسې معلومېږي چې د بَنُو سَلِمَةَ

قبیلې غوښتل مسجد نبوي ته نژدې واړوي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته فرمایلي: له لرې جومات ته ستاسو راتګ لا زیات ثواب لري؛ ګواکې رسول الله صلی الله علیه و سلم نه غوښتل هغوی خپله سیمه تشه پرېږدي او مسجد نبوي ته نژدې واړوي.

٩١٨ ـ عَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها قَالَتْ: لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ وُعِكَ أَبُو بَكْرٍ وَبِلَالٌ فَكَانَ أَبُو بَكْرٍ إِذَا أَخَذَتْهُ الْحُمَّى يَقُولُ:

كُلُّ امْرِئٍ مُصَبَّحٌ فِي أَهْلِهِ     وَالْمَوْتُ أَدْنَى مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ

وَكَانَ بِلَالٌ إِذَا أُقْلِعَ عَنْهُ الْحُمَّى يَرْفَعُ عَقِيرَتَهُ يَقُولُ:

أَلَا لَيْتَ شِعْرِي هَلْ أَبِيتَنَّ لَيْلَةً     بِوَادٍ وَحَوْلِي إِذْخِرٌ وَجَلِيلُ

وَهَلْ أَرِدَنْ يَوْمًا مِيَاهَ مَجَنَّةٍ     وَهَلْ يَبْدُوَنْ لِي شَامَةٌ وَطَفِيلُ

قَالَ: «اللَّهُمَّ الْعَنْ شَيْبَةَ بْنَ رَبِيعَةَ وَعُتْبَةَ بْنَ رَبِيعَةَ وَأُمَيَّةَ بْنَ خَلَفٍ كَمَا أَخْرَجُونَا مِنْ أَرْضِنَا إِلَى أَرْضِ الْوَبَاءِ»، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «حَبِّبْ إِلَيْنَا الْمَدِينَةَ كَحُبِّنَا مَكَّةَ أَوْ أَشَدَّ، اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا وَفِي مُدِّنَا، وَصَحِّحْهَا لَنَا، وَانْقُلْ حُمَّاهَا إِلَى الْجُحْفَةِ» قَالَتْ: وَقَدِمْنَا الْمَدِينَةَ وَهِيَ أَوْبَأُ أَرْضِ اللَّهِ قَالَتْ فَكَانَ بُطْحَانُ يَجْرِي نَجْلاً. تعني ماءً آجنًا. (بخاری: ١٨٨٩)

٩١٨ - عائشه رضي الله عنها وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم چې مدینې ته هجرت وکړ؛ ابو بکر رضي الله عنه او بلال رضي الله عنه مریضان شول؛ پر ابو بکر رضي الله عنه به چې تبه راغله نو ویل به ئې: هر څوک په خپل کور کې شپه سهار کوي خو له دې بې خبره وي چې مرګ ئې د څپلۍ تر بند هم ورلنډ دئ. او له بلال رضي الله عنه به چې تبه پورته شوه نو په لوړ غږ به ئې ویل: کاش په دې پوهېدی چې بیا به په داسي میدان کې شپه تېروم چې شاوخوا به مي إذخر او جلیل نومي بوټي وي؛ آیا بیا به داسي ورځ راشي چې د مَجَنَّه چینې ته ورشم؟

او آيا بيا به مي د شامه او طَفِيل پر غرونو سترګي ولګېږي؟ او بيا به ئې ويل: خدايه! پر شيبه بن ربيعه، عتبه بن ربيعه او اميه بن خلف لعنت نازل کړه چي موږ ئې له خپلي سيمي د وبا سيمي ته وشړلو. رسول الله صلى الله عليه و سلم د دې خبرو له اورېدو وروسته وفرمايل: (خدايه! له مدينې سره زموږ په زړونو کي د مکې په څېر او تر هغې هم زياته مينه واچوه؛ خدايه! زموږ د صاع او مُد پيمانو کي برکت واچوه؛ او زموږ لپاره ئې سالمه او روغه ساته؛ تبه ئې جُحفې ته انتقال کړه؛ (په جُحْفَه کي هغه مهال يهودان اوسېدل). عائشه رضي الله عنها وايي: کله چي په پيل کي موږ مدينې ته راغلو نو دا تر ټولو سيمو زياته وبا لرونکې سيمه وه؛ د بُطْحَان په دره کي به بوی ناکې اوبه رواني وې.

تکرار: دا روايت په بخاري کې ٤ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٨٨٩ - ٣٩٢٦ - ٥٦٥٤ - ٥٦٧٧ -

توپير: د ټولو متن سره ورته دئ؛ مطلق غريب دئ؛ په دريو طبقو کې ئې راويان هم سره ورته او دا دي: هِشَام، پلار ئې عروه او عَائِشَة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا؛ له دې وروسته ئې راويان بېل بېل دي.

## ۳۱ کتاب: روژه

تر دې وړاندې چې د روژې اړوند روايات وڅېړو؛ ښه به وي چې د روژې اهميت، فضيلت، ضرورت، د انسان په معنوي او اخلاقي تربيت، جوړوني او روزنې او د ټولني په اصلاح کې د هغې ژور او پراخ اغېز وڅېړو؛ په دې ارتباط څو عرائض لرم:

- هر عبادت ځانته خاص حکمت او مصلحت لري؛ که دا روژه ده او که لمونځ، حج، زکات؛ او د الله تعالی په لار کې جهاد او بل هر عبادت؛ الله تعالی زموږ عبادت ته ضرورت نه لري؛ په داسې څه ئې ګمارلي يو چې موږ ورته ضرورت لرو او ګټه رارسوي.
- الله تعالی خپل بنده په هغه څه ګماري چې د دنيا او آخرت خير او ښېګڼه ئې په کې مضمر وي، له هغه څه ئې منع کوي چې مضر وي او انسان ته له جسمي او معنوي پلوه زيان رسوي؛ ګټور شيان ئې ورته حلال او تاواني شيان ئې حرام کړي، هغه چې ګټه ئې تر تاوان زياته وي هغه ئې حلال کړي او چې تاوان ئې تر ګټې زيات وي هغه ئې حرام کړي؛ او هغه چې ګټه او تاوان ئې سره برابر وي هغه ئې مباح ګرځولي؛ دا يوازې د خوراك په اړه نه ده بلکې د انسان د هر څه په اړه ده؛ هر مضر کار او څه ئې ورته حرام کړي او هر مفيد څه او عمل ئې ورته حلال کړی؛ د حِل او حُرمت منشأ او د حلال او حرام د تشخيص لپاره معيار او ملاك همدا دئ. هر هغه شی او کار چې يا مضر وي او يا خوشی او بېهوده نو بايد متيقن وې چې ممنوع او حرام دئ.
- قرآن په دې اړه کافي صراحتونه لري؛ متأسفانه هغه چې د دين له روح او حقيقت بې خبر دي؛ ګمان کوي چې ديني عبادات هسې تعبدي اعمال او مأموريتونه دي؛ له کوم دنيوي او انساني مصلحت او حکمت پرته؛ فقط يو

ديني مأموريت او محض تعبدی وظيفه، بدله او اجر ئې هم محدود او منحصر په آخرت پوري!! په داسي حال کي چي د انسان د هر عمل خير او شر لومړی په دنيا کي وررسي او بيا په آخرت کي؛ ښه دنيا ئې د ښه آخرت نښه او پيلامه ده؛ قرآن د روژې په اړه فرمايي: که روژه ونيسئ نو دا ستاسو په خير ده که وپوهېږئ:

... وَأَن تَصُومُواْ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ.

د قمار او شراب په اړه فرمايي:

يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡخَمۡرِ وَٱلۡمَيۡسِرِۖ قُلۡ فِيهِمَآ إِثۡمٞ كَبِيرٞ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَإِثۡمُهُمَآ أَكۡبَرُ مِن نَّفۡعِهِمَاۗ

د شراب او قمار په اړه تا پوښتي؛ ورته ووايه: په دوی کي ستره ګناه ده او د خلکو لپاره څه ګټې؛ خو ګناه ئې تر ګټې ډېره ستره ده.

دلته (إِثۡمٞ كَبِيرٞ): لويه ګناه؛ د (مَنَٰفِعُ): ګټې؛ په مقابل کي او (إِثۡمُهُمَآ) د (نَّفۡعِهِمَا) په مقابل کي راغلي؛ او دا ښيي چي اثم (ګناه) د ضرر او تاوان مترادف ده؛ او الله تعالی د شراب او قمار مادي او معنوي اضرار او تاوانونو ته په پام سره دواړه حرام کړي.

الله تعالی د روژې په اړه فرمايي:

شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِۚ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُۖ وَمَن كَانَ مَرِيضًا أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٖ فَعِدَّةٞ مِّنۡ أَيَّامٍ أُخَرَۗ يُرِيدُ ٱللَّهُ بِكُمُ ٱلۡيُسۡرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ ٱلۡعُسۡرَ وَلِتُكۡمِلُواْ ٱلۡعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُواْ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَىٰكُمۡ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ١٨٥ البقره

د روژې مياشت هغه ده چي په هغې کي قرآن نازل شوی؛ د خلکو لپاره لارښود، د هدايت څرګندي نښي او فرقان (د حق او باطل تفکيك او

بېلولو لپاره معيار او ملاك)؛ نو چې څوك دا مياشت ومومي هغه دې روژه ونيسي او څوك چې بيمار وي او يا په سفر كې؛ نو پر ده له نورو ورځو شمېر پوره كول لازم دي، الله تاسو ته د آسانتيا اراده لري او د سختي اراده درته نه لري، دا د دې لپاره چې شمېر (عدت) پوره كړئ او د دې لپاره چې الله د هغه څه لپاره په لويي ياد كړئ چې تاسو ئې هدايت كړئ او چې شكر وكړئ.

په دې مبارك آيت كې څو اساسي لارښوونې مومو:

- د دې مياشتې روژه د دې لپاره فرض كړى شوې چې په دې كې قرآن نازل شوى، دا د خلكو لپاره لارښود كتاب؛ دا د څرګندو لارښوونو او د حق او باطل تر منځ د فرق كولو لپاره روڼ څراغ؛ ستاسو په برخه شوى؛ د دې ستر نعمت د شكر اداء كولو لپاره بايد روژه ونيسئ.
- په دې روژې سره به تاسو د الله په لويي او عظمت اعتراف كړى وي او د همدې روژې او د قرآن د درناوي په وجه به مو هدايت په برخه شي.
- داسې ګمان مه كوئ چې الله تعالى له خپلو بندګانو سره د سختي كولو اراده لري؛ نه؛ هغه په خپلو بندګانو ډېر ډېر مهربان دئ؛ قرآن رالېږل او روژه فرض كول د ده د پېرزوينې او رحمت نښې او اسباب دي، له سختيو د ژغورنې لپاره ئې دا قرآن رالېږلى او د قرآن د راتلو د مياشتې روژه ئې فرض كړې.
- له دې آيت دا هم په څرګنده توګه معلومېږي چې د روژې مياشتې په داخلېدو سره د نړۍ پر ټولو مسلمانانو روژه نيول فرض كېږي؛ او د روژې مياشت هغه وخت پيل كېږي چې د دې مياشت سپوږمۍ له محاق ووځي او د نړۍ په كوم ځاى كې وليدل شي؛ له محاق وتل او چېري د هغې څرګندېدا معنى دا ده چې نوې مياشت پيل شوې او په ټولو روژه نيول لازم شوي؛ د دې آيت له مخې د مطالعو اختلاف اعتبار نه لري، داسې نه ده چې مياشتې په هر هېواد كې بېل بېل پيل او پاى

لري؛ بلکې په ټولې نړۍ کې يو پيل او يو پای لري؛ پيل او پای ئې په يوه معينه ورځ، ساعت، دقيقه او ثانيه وي.

راشئ وګورو چې د روژې او قرآن تر منځ څه تړاو دئ؟ ولې به د قرآن د نزول په مياشت کې روژه نيسو؟ ځواب ئې دا دئ:

قرآن د الله تعالی له لوري د انسان د ژغورنې او هدايت لپاره رالېږل شوی کتاب دئ؛ د انسان د فردي او اجتماعي ژوند د ټولو برخو د ښه تنظيم او له هر راز ظلم او فساد پاکې ټولنې د جوړولو په موخه؛ داسې چې انسان هغه لوړ مقام ته ورسوي چې پر زمکې د الله تعالی د خليفه په توګه عمل وکړي؛ د قرآن پر لارښوونو عمل او هغسې مثالي ټولنه جوړول؛ داسې خاصو خصائلو، مواصفاتو او ځانګړتياوو ته ضرورت لري چې ډېری ئې يوازې په روژې سره انسان کولی شي په خپل اخلاقي او معنوي شخصيت کې راوپنځوي، تقويه ئې کړي او په قرآن عمل کولو ته ځان چمتو او تيار کړي؛ ځينې ئې دا دي:

١- قرآن رالېږل شوی چې انسان د انسان له مريېتوب او غلامۍ وژغوري، له الله تعالی پرته ئې بل چا ته سر ټيټ نه وي، په ټولنې کې ئې عدالت قائم وي، يو پر بل د لويي احساس ونه کړي، هيڅوك ځان تر نورو لوړ ونه ګڼي او بل ته د حقارت په سترګه ونه ګوري، د شر او فساد ځواکونه وځپل شي، ظالم حکومتونه نسکور شي، د الله تعالی هغه دين د ټولنې په ټولو برخو کې حاکم شي چې حق او عدالت تأمينوي؛ او د انسانانو سر، مال او عزت له هر راز تېري او تجاوز خوندي کوي؛ دې هدف ته رسېدل داسې مجاهدينو ته ضرورت لري چې له حق او عدالت دفاع ته چمتو وي، د دې مبارزې د کړاوونو ګاللو په وړاندې صابر وي، لوړ همت او مضبوطه اراده ولري، لوږه او تنده ګاللی شي، نه د نس بنده وي او نه د هوس او نَفْس. دا مواصفات د روژې په نتيجه کې په انسان کې وده کوي، روژتي يوه مياشت له سحر تر ماښام صبر، ځان ساتنه، د نفس او هوس غوښتنو ته نه تسليمېدل، لوږه او تنده ګالل تمرينوي؛ دا يوه

مياشتنۍ تربيتي دوره په هغه کې د صبر او ځان ساتنې ماده تقويه کوي.

دا کټ مټ داسې ده لکه د کوماندو سرتېري چې په سختو تمرينونو ګمارل کېږي؛ لوږه او تنده ګالل، په خړو اوبو او ختو کې تګ او ځان پټول، په ځنګله کې له خوراك او څښاك پرته د اوږدې مودې لپاره يوازې پاته کېدا، په يوازې سر او له ملګرو پرته د شپې سفرونه او د خطر سيمې ته ننوتل؛ او د همدې سختو تمرينونو او مشقونو په نتيجه کې له هغه يو مضبوط او باهمته کوماندو سرتېرى جوړېدل؛ روژه دې ته ورته د مجاهدينو د روزلو تربيتي دوره ده.

۲. روژتي مکمل يوه مياشت؛ هره ورځ خپله خوله، هوس او شهوت ساتي، حتى له حلال خوراك او جائز جنسي تعلقاتو ډډه کوي، له حرامي وينا، دروغ، افتراء او تهمت؛ خپله خوله او ژبه ساتي، نه يوازې له حلال جنسي تعلقاتو ځان ساتي بلکې د حرام لوري ته له کتلو هم اجتناب کوي. دا مشق په ده کې د ځان ساتنې او هوس ته د نه تسليمېدو ماده او خصلت تقويه کوي؛ او دې ته ئې چمتو کوي چې د ژوند په ټولو برخو کې د قرآن سرې کرښې مراعات کړي او په جائز حد او پولې کې توقف وکړي.

۳. انسان په خپل ژوند کې دوه لارې غوره کولی شي: الف: د خداپالو او ديندارانو لار؛ هغه چې حلال او حرام، حق او باطل، جائز او ناجائز، ښه او بد لري او تر منځ ئې سرې کرښې باسي. ب: د سيکولرانو لار چې دا سرې کرښې او حدود په کې نه شته؛ حلال، حرام، جائز، ناجائز، حق، باطل، ښه او بد اخلاق نه شته.

٤. سالمه او رغنده انساني ټولنه له دغو سرو کرښو پرته نه شي جوړېدى؛ او دا ټولنه يوازې هغه مهال رامنځته کېدى شي چې انسان خپل حد وپېژني، له سرو کرښو د اوړېدو تلوسه ونه کړي او په خپل حد کې د ځان سمبالولو او اداره کولو وړتيا کسب کړي. روژه په انسان کې همدا وړتيا ځواکمنه کوي.

٥. ته چي يوه مياشت دا تمرين او مشق تر سره کوې چي وږی او تږی شې؛ سړې او خوږې اوبه او د خپلي خوښي خوندور خوراك دي مخي ته راشي؛ خو ځان سمبال کړې، خپل هوس ته نه تسليمېږې، د روژې په مياشت کي راټوکېدلی او ځواکمن شوی همدا خصلت او اراده باعث شي چي ته ټول کال او هر ځل چي له حرام توکي او عمل سره مخامخ شې؛ ځان سمبال او اداره کړې.

قرآن همداسي فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ١٨٣ البقره

اې مؤمنانو! پر تاسو روژه داسي فرض کړی شوې لکه تر تاسو پر مخکينيو چي فرض کړی شوې وه؛ د دې لپاره چي ځان ساتنه مو کړې وي (تقوی او د ځان ساتني مضبوطه اراده مو په برخه شي).

تقوی يعني د ځان ساتلو، سمبالولو او اداره کولو وړتيا او استعداد؛ يعني مضبوطه اراده؛ په چا کي چي مضبوطه او قوي اراده نه وي مثال ئې هغه موټر ته ورته وي چي بريکونه ئې سست او شړېدلي وي.

٦. روژه په مخکينيو امتونو هم فرض وه؛ د روژې هدف دا دئ چي په تاسو کي د تقوی او ځان ساتني ماده پياوړې شي، اراده مو مضبوطه شي، ځوك چي يوه مياشت له حلال رزق لاس اخيستل تمرين کړي، نفس ئې په وار وار له هغه مکرر غوښتني وکړي خو هغه ئې غوښتنو ته تسليم نه شي، ځان وساتي، له گنده خبرو، دروغ، افتراء، مکر، فريب او دوکې ډډه کول تمرين کړي؛ په دې سره د ده اراده مضبوطه او پياوړې شي او له روژې وروسته د نفس د ناجائزو او ناروا غوښتنو په وړاندي مقاومت او ځان ساتل ورته آسان شي.

٧. پيغمبر عليه السلام د روژې مياشت د صبر مياشت گڼلې؛ يعني روژه په تاسو کي صبر راپيدا کوي؛ او د صبر اجر جنت دئ.

٨. هغه روژه چي انسان له بد فعل، ناروا کړني، ناوړه او حرام وينا، حرام

رزق تر لاسه کول، فساد او ظلم منع نه کړي؛ د دين په معيارونو کې هيڅ ارزښت نه لري؛ دا روژه فقط لوږه او تنده ګالل دي؛ نه هغه روژه چې الله تعالی موږ پرې ګمارلي يو. د الله تعالی رسول فرمايي:

الصِّيَامُ جُنَّةٌ، فَإِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ يَوْمًا صَائِمًا، فَلَا يَجْهَلْ، وَلَا يَرْفُثْ، فَإِنِ امْرُؤٌ قَاتَلَهُ فَلْيَقُلْ إِنِّي صَائِمٌ» مسند احمد

روژه ډال دئ نو کله چې ستاسو کوم يو کومه ورځ روژه وي؛ نو نه به جاهلانه عملونه کوي؛ نه د بې حيائي خبري؛ او که څوك ورسره شخړه او جګړه کوي ودي وايي: زه روژه يم.

روژه يوه داسي مياشتنۍ تربيتي دوره ده چې مسلمانان د قرآن په لارښوونو عمل کولو ته چمتو کوي، کټ مټ داسي لکه د يوه فوځ سرتېري؛ مخصوصاً د کوماندو جنګيالي چې د روزني په مهال په سختو سختو کارونو ګمارل کېږي او د همدې روزني له امله مضبوط او زړه ور جنګيالي ترې جوړيږي.

روژه په روژتي کې دوه مهم خصلتونه تقويه کوي: تقوی او صبر.

تقوی: يعني د ټولو هغو سرو کرښو مراعات او له ماتولو او تېرېدو ئې ډډه کول چې قرآن د ژوند په ټولو برخو کې زموږ په وړاندي ترسيم کړې.

صبر: يعني د قرآن د حاکميت او د الهي نظام د تأسيس او د حق او عدالت د تأمين لپاره چې قرآن موږ په کوم جهاد او مبارزې مکلف کړي يو په دې کې ثابت قدم او صابر اوسېدل.

قرآن د بقرې په سوره کې د روژې يادونه او د هغې د فرضيت لارښوونه کړې؛ او په همدې سوره کې ئې د بني اسرائيلو د يوې قبيلې قصه زموږ مخي ته ايښې؛ چې په ترڅ کې ئې د روژې لپاره يو عملي او تاريخي مثال وړاندي شوی؛ او هغه داسي چې له موسی عليه السلام وروسته او هغه وخت چې بني اسرائيل په شرك او فساد اخته او له

سمي لاري منحرف شول؛ نو د جالوت په نامه يو ظالم او بې رحمه پاچا پرې مسلط شو؛ ډېر ئې ووژل، د دوی کورونه ئې لوټ او تاراج کړل او دوی ئې له خپل کور کلي وشړل؛ په دې وخت کې اشموئيل عليه السلام د دوی لارښوونه کوله؛ هغه ته ورغلل، له خپلو مخکينيو کړنو او د الله په لار کې د جهاد له نه کولو ئې ندامت وښودو او له هغه ئې د الله په لار کې د جهاد اجازه وغوښته؛ هغه د دوی مخکيني حالت ته په پام سره ورته وويل: مبادا جهاد درباندي فرض شي او بيا تاسو له هغه ډډه وکړئ؛ دوی ورته وويل: په داسي حال کې چي پر موږ ظلمونه شوي، له خپل کور او کلي شړل شوي يو؛ هيڅ داسي دليل نه ګورو چي د الله په لار کې ونه جنګېږو؛ خو چي ورته وويل شو: نو وسله واخلئ او له دښمن سره وجنګېږئ؛ يوازي معدودو کسانو تياری وښود، نور ټول له خپلي ژمني او د الله په لار کې له جنګېدو په ډډه شول. د الله پيغمبر ورته وويل: تاسو د يوه پاچا د ټاکلو غوښتنه کړې وه؛ دا دئ الله تعالی طالوت درته غوره کړی؛ د الله له دين اوښتي قوم ورته وويل: دی خو پر موږ د مشرۍ وړ نه دئ، نه د نسب له مخي او نه د مال او شتمنۍ له مخي؛ د ولس قيادت او زعامت خو بايد داسي چا ته وسپارل شي چي قيادت او زعامت له پلار نيکه ورته په ميراث پاته شوی وي، د کومي درنې او معتبري کورنۍ غړی وي، ښه ډېر مال او دولت ولري!! پيغمبر د دوی په ځواب کې وايي: دی خو الله غوره کړی، د زعامت او قيادت وړتيا هغه ورکړې، ښه پوه دئ او د ښه صحت او قوي بدن خاوند دئ؛ د مشرتابه غوره مواصفات خو همدا دي؛ خو دوی دې ته تيار نه وو چي د طالوت قيادت ومني، د دوی معيارونه بدل شوي وو، د زعامت د مواصفاتو په اړه ئې همغسي انګېرله چي بې دينه او لاروړکي قومونه ئې انګېري، د پيغمبر دا وينا ئې نه منله چي الله تعالی د دوی په ځېر نه دئ چي نسب او مال د قيادت لپاره ضروري وګڼي او طالوت دي سره له دې چي د مشرۍ وړ دئ؛ له دې کبله د مشر په توګه غوره نه کړي چي نادار دئ

او پلار نيکه ئې د قوم مشران نه وو پاته شوي؛ بالآخره او په نه زړه ئې د هغه مشري ومنله؛ خو له هغه سره ئې چلن داسې وو:

فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِٱلْجُنُودِ قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ مُبْتَلِيكُم بِنَهَرٍ فَمَن شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّي وَمَن لَّمْ يَطْعَمْهُ فَإِنَّهُۥ مِنِّيٓ إِلَّا مَنِ ٱغْتَرَفَ غُرْفَةًۢ بِيَدِهِۦ ۚ فَشَرِبُواْ مِنْهُ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۚ فَلَمَّا جَاوَزَهُۥ هُوَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ قَالُواْ لَا طَاقَةَ لَنَا ٱلْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ ۚ قَالَ ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُواْ ٱللَّهِ كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةًۢ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٢٤٩﴾ وَلَمَّا بَرَزُواْ لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ قَالُواْ رَبَّنَآ أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٥٠﴾ البقره

نو کله چې طالوت لښکري راوايستې؛ وئې ويل: الله په يوې ويالې سره ستاسو آزمويونکی دئ؛ نو چا چې ترې اوبه وڅښلې زما له ډلې به نه وي او چا چې (ئې خوند) ونه څکو؛ نو هغه زما دئ؛ مګر دا چې د خپل يوه لاس يوه لپه (اوبه) غوړپ کړي. خو د دوی له لږو پرته نورو هغه وڅښلې؛ نو کله چې دی او د ده مؤمن ملګري ترې واوښتل؛ وئې ويل: نن خو موږ د جـالوت او د ده د لښکرو (د مقابلې) توان نه لرو؛ خو هغو چې باورمن وو له الله سره مخامخ کېدونکي دي؛ وويل: څومره لږکي ټولګي د الله په اذن سره په ډېريو غالب شوي؛ الله خو له صابرانو سره دئ.

يعني جهاد د صابرانو کار دئ؛ بې صبره، بې همته، بې عزمه، بې ارادې او هغه ضعيف النفس کسان چې د کړاوونو ګاللو همت او حوصله نه لري؛ هغه جهاد نه شي کولی؛ د جهاد مشران بايد خپل مجاهدين وآزمويي او وګوري چې په دوی کې څوک د ستونزو او کړاوونو ګاللو ته تيار دئ، پياوړې متې، غښتلی زړه، لوړ همت، کلك عزم لري او

د صبر او زغم خاوند دئ؛ یوازې په دغو حساب وکړئ او د همدوی په ملګرتیا بسنه وکړئ؛ بې همته او بې صبره کسان د نیمې لارې ملګري وي او په سختو شېبو کې له خپل صف ببلېږي او خپل سنګر دښمن ته پرېږدي؛ د داسې کسانو ملګرتیا د ګټې پر ځای تاوان کوي؛ د همدې لپاره طالوت خپلو ملګرو ته وویل: له ما سره هغه څوك ملګرتیا کولی شي چې د دې راتلونکې نهر اوبه ونه څښي، په تنده کې صبر وکړي، هغه هم راسره تلی شي چې په یوه غوړپ اوبو اکتفاء وکړي، خو هغه چې ډك نس اوبه څښي؛ زما د ملګرتیا وړ نه دئ. (د طالوت دا آزموینه داسې ده لکه موږ چې په روژې مکلف شوي یو، دا په اصل کې د روژې لپاره یو مثال او بېلګه ده، په روژې سره په انسان کې د صبر او ځان ساتنې خصلت وده کوي)؛ د ده له لوی لښکر یوازې یو وړوکی ټولګی په دې آزموینې کې بریالي وختل او همدغو ته الله پر هغه مغرور او ظالم دښمن بری ورکړ. یعنې چې بری د صابرانو په برخه کېږي؛ هغه چې پر الله ئې باور وي، د هغه نصرت ته سترګې په لار وي، له الله په سنګر کې او د دښمن په وړاندې د صبر او استقامت غوښتنه کوي؛ نه د هغه چا په برخه چې د جنګیالیو شمېر ئې زیات وي. دا په وار وار لیدل شوې چې یوه وړوکې ټولګې ته الله تعالی په لوی لښکر فتح او بری ورکړی؛ دا ځکه چې الله د صابرانو مل دئ.

د روژې د فرضیت په لومړي آیت پسې متصل ویل شوي:

أَيَّامًا مَّعْدُودَٰتٍۚ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَۚ وَعَلَى ٱلَّذِينَ يُطِيقُونَهُۥ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍۖ فَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُۥۚ وَأَن تَصُومُوا۟ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٨٤﴾ البقره

څو شمېرلې ورځې؛ خو که څوك له تاسو بیمار وي او یا په سفر لګیا وي؛ نو بیا ئې له نورو ورځو د شمېر پوره کول دي؛ او پر هغه چا چې په تکلیف سره ئې نیولی شي؛ د یوه مسکین (د ورځنې) خوراك فدیه ده؛

نو که څوك په خپله خوښه د خیر کار ترسره کړي؛ دا ورته غوره دئ او که روژه ونیسئ؛ دا درته غوره ده؛ که وپوهېږئ.

دا خبره د توجه وړ ده چې د روژې فدیه د یوه کس ورځنی خوراك ټاکل شوی؛ د روژې یو هدف دا دئ چې مسلمانان د وږو له حال خبر شي او له بې وزلو سره مرستي ته تیار شي؛ چا چې لوږه نه وي لیدلې د وږو له حال نه خبرېږي.

قرآن د روژې د پیل او پای په اړه او دا چې څه کول په کې جائز دي؛ فرمایي:

أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ ٱلصِّيَامِ ٱلرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَآئِكُمْ ۚ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ۗ عَلِمَ ٱللَّهُ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنكُمْ ۖ فَٱلْـَٔـٰنَ بَـٰشِرُوهُنَّ وَٱبْتَغُوا۟ مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمْ ۚ وَكُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ ٱلْخَيْطُ ٱلْأَبْيَضُ مِنَ ٱلْخَيْطِ ٱلْأَسْوَدِ مِنَ ٱلْفَجْرِ ۖ ثُمَّ أَتِمُّوا۟ ٱلصِّيَامَ إِلَى ٱلَّيْلِ ۚ وَلَا تُبَـٰشِرُوهُنَّ وَأَنتُمْ عَـٰكِفُونَ فِى ٱلْمَسَـٰجِدِ ۗ تِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ فَلَا تَقْرَبُوهَا ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ ءَايَـٰتِهِۦ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿١٨٧﴾ البقره

له خپلو مېرمنو سره د روژې د شپې نژدې والی (جماع) درته حلال کړی شوې؛ هغوی ستاسو لپاره لباس او تاسو د دوی لپاره لباس یئ؛ الله په دې پوه شوی چې تاسو له ځان سره خیانت کولو؛ نو پر تاسو (له خپل رحمت سره) راوګرځېدو او عفو ئې درته وکړه؛ نو اوس له دوی سره مباشرت کوئ او هغه څه وغواړئ چې الله درته مقدر کړي (د اولاد درلودو په نیت نژدې والی وکړئ) او وخورئ او وڅښئ تر هغه چې د سباوون سپینه کرښه له توري درته څرګنده شي؛ بیا مو روژه تر شپې پوري پوره کړئ او له دوی سره په هغه وخت کې مباشرت مه

كـوئ چي په جـومـاتونو کې معتكف وئ؛ دا الهي حدود دي نو هغوی ته مه نژدې کېږئ؛ همدا راز الله خلكو ته خپل آيتونه بيانوي چي ځان وساتي.

په دې مبارك آيت کې څو مهمې لارښوونې شوې:

١. د روژې وخت د سحر د سپيني کرښي له راڅرگندېدو د شپې تر پيل پوري دئ.

١. په روژه کې له څو شيانو منع شوې يو: خوراك، څښاك او له جنسي مباشرت؛ د مېرمني او مېړه تر منځ مباشرت.

٢. ځينو به داسي انگېرله چي د روژې په شپه کې هم بايد له مباشرت ډډه وکړي؛ په دې آيت کې وضاحت شوی چي دا مباشرت جائز دئ.

٣. خو هغـه مهال مبـاشـرت مـه کـوئ چي په جـومـاتونو کې معتكف وئ.

٤. مسلمانانو داسي گمان کاوو چي د روژې په شپه له ويدېدو وروسته بايد له مېرمنو سره له نژدې والي ډډه وکړي، په دې اړه دوی ته کوم حکم نه وو شوی، که څه هم ځيني په دې باور دي چي دا کار په دوی حرام کړی شوی وو؛ خو نه په قرآن کې د داسي حرمت په اړه څه حکم راغلی او نه په حديث کې؛ په خپله ئې همداسي انگېرله؛ خو احياناً به ئې د خپل دغه ذهنيت خلاف کار وکړ او په دې سره به ئې د گناه او خيانت احساس کاوو؛ الله تعالی ورته په صريحو الفاظو د دې اجازه ورکړه او وئې فرمايل چي مېرمن د خاوند لپاره او خاوند د مېرمني لپاره له گناهونو د حفاظت سبب دئ؛ داسي لکه لباس چي انسان له تودوخي او يخنۍ ساتي.

٥. همدا راز ئې ورته وويل چي د مباشرت هدف او غايه بايد د اولاد درلودل وي؛ نه فقط د جنسي غريزې اشباع.

٦. دا وضاحت ئې هم وکړ چي د روژې وخت د سباوون د سپيني گاري

له راځرګندېدو د شپې تر پیل پوري دئ؛ شپه د لمر په لوېدو سره پیل کېږي؛ د پیغمبر علیه السلام یو مبارك ارشاد په دې مفهوم دئ چې تر هغه چې زما امت په افطار کې تلوار او په سیمي (پیشلمي) کې تأخیر کوي؛ د خیر طمع ئې کېدی شي؛ دا ځکه چې دا کار د دې نښه ده چې دوی د بې ځایه تقوی په نامه په دین کې له ځانه څه نه دي زیات کړي؛ د اکثرو امتونو انحراف له همدې ځای پیل شوی؛ مذهبي مشرانو او علماءو ئې له خپل لوري په دین کې زیاتوالی راوستی، د قرآن په اصطلاح د خلکو پېټي ئې درانه کړي او په لاس پښو کې ئې ورته زنځیرونه او زولنې اچولي؛ د هر پیغمبر یوه لویه دنده دا ګڼل چې راغلی دا اضافي پېټي د خلکو له اوږو راکوز کړي او دا زنځیرونه وشلوي. پیغمبر علیه السلام به د لمر له لوېدو سره سم خپله روژه ماتوله.

ځیني ناپوه معترضین ادعاء کوي چې روژه د انسان صحت ته ضرر لري!! دا په داسي حال کې چې نن له ساینسي پلوه هم ثابته شوې چې روژه بې شمېره صحي ګټې لري؛ څو ئې دا دي:

- د زړه بیماري، د ویني فشار، د شکر لوړوالی او پړسوب (د وزن زیاتوالی)؛ چې د اوسني دور ستر ستر او عام مرضونه دي او په ملیونونو انسانان ترې ځوریږي؛ ستر عامل ئې په خوراك کې بد نظمي، عدم تعادل او توازن او اسراف دئ او چاره ئې روژه. د امریکا ۵۰٪ وګړي لویان د شکر په مرض (دیابت) اخته دي؛ دا د یوې تحقیقاتي ادارې نشر شوې وینا ده؛ عامل ئې دا ښودلی چې امریکایان د خوړو په خوراك کې اسراف کوي او وزن ئې له طبیعي حالت زیات شوی. همدا مرض سترګو، پښتورګو او د بدن عصبي مزو ته صدمه رسوي او له کاره ئې غورځوي.
- روژه د انسان دماغ ته هغه فرصت ورکوي چې اضافي شحم او غوړ، ذخیره شوي غیر ضروري مواد تجزیه، تصفیه او مصرف کړي.
- انسان له یوې خوا تر ضرورت زیات خوراك کوي، داسي څه خوري چې کاذبه اشتهاء رامنځته کوي، لکه آچار او نور، داسي څه هم خوري چې نه

يوازي ورته ضرورت نه لري بلكې ضرر لري.

- دا خوراكونه د كال په اوږدو كې د ده په بدن كې تعادل له منځه وړي، په مضرو خواراكونو او توكو معتاد شي؛ لكه چاى، پيپسي، مخدره مواد، تر ضرورت زيات خواږه، مالګه او غوړ.

د مثال په توګه: د انسان لپاره د غوړ، خواږه (ګلوكوز) او مالګې ضرورت دومره دئ لكه په شيدو كې چې شته؛ همدا مقدار كافي او متوازن مقدار دئ؛ ماشوم تر دوو كلونو پورې خپل ټول غذائي ضرورتونه له همدغو شيدو تر لاسه كوي او ورته كافي دي. موږ دا طبيعي اندازه او مقدار نه مراعاتوو، دا عدم مراعات مو يا په شكر مبتلا كوي او يا په پړسوب، زيات چاغوالي؛ او يا د ضعف او كسالت او نورو مرضونو باعث شي.

- روژه له يوې خوا موږ ته فرصت راكوي چې په خوراك كې له اسراف، اعتياد او بدو عادتونو ځان وژغورو، له بلې خوا زموږ دماغ ته فرصت وركوي چې په بدن كې د ناسمو او مضرو خوراكونو راپيدا شوې ستونزې حل كړي، تعادل رامنځته كړي، بدن مو طبيعي حالت ته واړوي، ذخيره شوي شحم او نور توكي يا مصرف كړي او يا ئې دفع كړي.

- دماغ مو كله چې خوراك كوو نو له همدې د بدن ضرورتونه تأمينوي؛ او د مفيدو موادو له جذبولو او كارولو وروسته ئې فضله مواد له مختلفو لارو دفع كوي؛ د تنفس، خولو، ادرار او نورو لارو. خو كله چې اړ شي ذخيره شوي مواد وكاروي او د بدن ضروري انرژي او ويټامينونه تأمين كړي، نو له ذخيره شوو توكو او شحم استفاده كوي او فضله ئې د خولې له لارې دفع كوي، په روژه كې د خولې د بوى يو دليل همدا دئ.

- دماغ مو په كال كې يوې مياشت فراغت ته ضرورت لري چې بدن مو تصفيه كړي؛ او طبيعي، سالم او متعادل حالت ته ئې راوګرځوي.

دا عدت داسې دئ لكه چې يوه مېرمن واده شي، د لومړي مباشرت په نتيجه كې د دې په بدن كې خاص تغييرات رامنځته شي، له نوي حالت

سره ځان عيار کړي، ځانګړي هورمونونه ئې په بدن کې توليد شي، کله چې اولاد وزېږوي، يا ئې مېړه وفات شي يا طلاق کړی شي نو تر بل مباشرت؛ او بل ازدواج پوري بايد د عدت په نامه يوه موده له مباشرت ډډه وکړي؛ په يوه حالت کې نژدې څلوېښت ورځې، په بل کې درې حيضه او په بل کې څلور مياشتي او لس ورځې؛ دا عدت ئې د دې لپاره دئ چې بدن ئې عادي حالت ته راوګرځي او د مخکيني مباشرت اغيز او تأثيرات په بشپړه توګه له منځه ولاړ شي او نوي مباشرت ته چمتو شي؛ که په همدې موده کې مباشرت وکړي نو ستونزي ورته زېږوي او په هورمونونو کې ئې بدنظمي رامنځته کيږي.

نن ساينس ته ثابته شوې چې هر مباشرت د مېرمنو په بدن کې ځانګړي هورمونونه رامنځته کوي، که واده شوې مېرمن له پردي کس سره مباشرت وکړي نو د لابراتواري معايناتو له مخي دا تشخيص کېدی شي چې دې مېرمني له بل چا سره هم مباشرت کړی. موږ د خوراکونو په اړه همداسي عدت ته ضرورت لرو. روژه همداسي عدت دئ؛ د مضر عادتونو د تصحيح او تعديل او په سمو او رغنده عادتونو ئې د بدلولو موده او فرصت.

روژه موږ ته دا هم راښيي چې انسان کولی شي په دوه وخته خوراك بسنه وکړي؛ سحر او ماښام؛ او د شپې خوراك ئې بايد له خوب څو ساعتونه وړاندي وي؛ او دا هغه څه دي چې نن ئې متخصصين سپارښتنه کوي؛ او د ډېر چاغوالي يو عامل د شپې ناوخته خوراك او متصل ئې خوب بولي؛ که تاسو د ټولو مرغانو او حيواناتو د خوب او خوراك طبيعي او فطري ترتيب او تنظيم ته ځير شي نو وبه ګورئ چې سحر وختي راپاځي او خوراك کوي او ماښام خپل خوراك بندوي او څملي.

نژدې پنځوس کاله وړاندي؛ دقيقاً هغه مهال چې له زندان ووتلم؛ د روژې په اړه مي د يوه روسي طبيب کتاب ولوست؛ ده په روژې سره د ګڼ شمېر خطرناکو بيماريو علاج کړی وو؛ څلوېښت ورځنۍ مسلسله

روژه؛ خو داسي چي په دې موده کې به ئې تر علاج لاندې بيمار ته يوازې کله کله د تودو اوبو او خوږ چاى څښلو اجازه ورکوله؛ په توبرکلوز اخته مريضان ئې چي د نوموړي طبيب په وخت کې ئې علاج نه وو موندل شوى؛ له همدې لارې تداوي کړي وو، حتى د هغو افرادو نومونه او عکسونه ئې په کتاب کې راوړي وو چي سپين وېښتان ئې د همدې روژې په طفيل بېرته تور شوي وو.

زه له خپلي تجربې تاسو ته وايم:

- په روژه کې او مخصوصاً مازديگر لوري ته مي حالت تر بل وخت ښه وي او نشيط وم.
- ترجيح ورکوم چي پر يوې علمي موضوع بحث او وينا مي د روژې په حالت کې وي. دا ځکه چي د خوراك هضم، جذب او سلولونو ته انتقال د انسان مغز زيات مصروفوي او په روژه کې له دې مصروفيت فارغ وي.
- ما په اويا کلنۍ کې يو ځل وغوښتل د خپلو روژو تخميني شمېر معلوم کړم؛ ما تر هغه مهال بايد ٥٥ مياشتي فرضي روژه نيولې وى؛ له بلوغ وروسته تر ٧٠ کلنۍ پوري؛ خو ما نژدې ١٥٠ مياشتي روژه نيولې وه؛ اوس په ٧٥ کلنۍ کې يم؛ الحمد لله چي هيڅ مريضي نه لرم او گمان کوم چي يوه وجه ئې همدا روژه وه.

الله تعالى د انسان د بدن په هري حجرې کې داسي ماليکولونه خلق کړي چي ډېر مهم کاري معلومات و خاصو کارونو د ترسره کولو قدرت او وړتيا په کې تعبيه شوې؛ تر ټولو مشهور ماليکول ئې د اِمتور په نامه ياد شوى؛ د انسان بدن له نژدې ٣٧,٢ تريليون حجرو جوړ شوى؛ په هري حجرې کې هره ورځ دومره چاري تر سره کېږي چي ويلى شو د زمکي د ټولو انسانانو تر ورځني کار څو برابره زيات دي؛ د اِمتور ماليکولونه په دغو ټولو حجرو کې فعال او اغېزمن شتون لري؛ د ډېرو نورو وظائفو تر څنگ دوه مهم او اساسي کارونه تر سره کوي: ١- زړي،

ضعيفي او له صحي پلوه ناروغي حجرې تشخيصوي؛ او د رغولو هڅه ئې کوي؛ ۲- که د دې وړ نه وې چې ترميم او ورغول شي نو له منځه ئې وړي او په نوو حجرو ئې تعويضوي. داکټر سباتيني چې د اِمتور کاشف دئ؛ د دې ماليکول د کار او دندي څرنگوالى؛ د يوه مثال په ترڅ کې داسي انځوروي:

فرض کړئ د يوه ستر ښار رغول او جوړول؛ يوه ډېر ماهر او پوه مهندس ته سپارل شوى؛ هغه به زاړه تعميرونه يا رغوي او يا له منځه وړي او پر ځاى به ئې نوي تعميرونه جوړوي؛ هغه به دا پرېکړه کوي چې څومره تعميرونه تخريب کړي، څومره ترميم کړي، څومره نوي جوړ کړي، دا نوي څنگه وي، له کومو موادو ئې جوړ کړي، د هر کور او ټول ښار نقشه څنگه وي، څومره کارگران استخدام کړي؛ ښار بايد تل له کثافاتو پاک وساتي؛ دې ته ئې پام وي چې د هر کور او ټول ښار؛ هواء صافه او سالمه وي؛ د اِمتور حيثيت او دنده په بدن کې دغه ماهر انجنير ته ورته ده.

متخصصينو تر اوسه تقريباً ۴۸ هغه عوامل پېژندلي چې د امتور د فعاليتونو په څرنگوالي اغېز لري. امتور د حجراتو د جوړولو او ودي تر څنگ د اتوفيجي تر نامه لاندي د حجراتو د ترميم دنده هم په غاړه لري؛ که لازم مواد په واك کې ولري نوې حجرې جوړوي؛ خو که د دې موادو رسېدل وځنډېږي؛ د بيمارو او ضعيفو حجراتو له منځه وړلو او په نويو حجراتو ئې بدلولو ته مخه کړي؛ د اتوفيجي عمليې کاشف داکټر اوهسومي نومېږي چې په ۲۰۱۶ کې ئې د نوبل جائزه تر لاسه کړه؛ هغه دا وموندله چې هر څومره بدن ته د نويو موادو رسېدل وځنډېږي؛ امتور ته د ترميم فرصت په لاس ورځي؛ او د اتوفيجي عمليه مزيد فعاله کېږي؛ په همدې کې د انسان او نورو ژوو د روغتيا، ښه صحت او اوږد عمر راز پروت دئ؛ هغوى عملاً دا وموندله چې د کوسه په نامه يو ډول ستر ماهيان؛ له دې کبله تر ۴۰۰ کلونو پوري عمر کوي چې په حجراتو کې

ئې د اتوفيجي عمليه ډېره فعاله وي؛

متخصصينو ته اوس دا واضح شوې چې هر څومره بدن ته هغه غذائي مواد ژر ژر ورسېږي چې پروټين او ګلوکوز لري؛ په همدې پيمانه امتور د نويو حجراتو په توليد مصروف شي او بې تناسبه چاغي رامنځته کېږي؛ خو که امتور ته تر اتو ساعتونو زيات وخت؛ د زړو او بيمارو حجراتو د ترميم او له منځه وړلو فرصت ورکړی شي؛ د انسان په سلامتيا او اوږد عمر کې مرسته کوي؛ تر وخت وړاندې زړښت يو سبب او دليل دا دئ چې بدن ته دا فرصت او مجال نه دئ ورکړی شوی چې زړې، کمزورې او بيماري حجرې له منځه يوسي او ځای ئې نويو حجرو ته تخليه شي؛ روژه همدا فرصت او لازم شرائط د اتوفيجي عمليې لپاره چمتو کوي.

او له معنوي پلوه د روژې ارزښت دومره دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايي: يوه ورځ روژه او هغه هم په سنګر کې؛ انسان د اويا کلونو په واټن له دوزخ لري کوي. يعني له هغو عملونو ئې ساتي چې دوزخ ته ئې بيايي.

مخکې مو وويل چې روژه يوه مهمه تربيتي دوره ده؛ داسې لکه د سرتېرو او کوماندو ځواکونو د روزلو دوره چې په هغې کې سرتېري سخت مشقونه او تمرينونه کوي؛ منډې وهل، په سينه او څنګليو خوځېدا، له دېوالونو اوښتل، د اور له لمبو ټوپ وهل، په ځنګله کې په يوازې سر شپې او ورځې تېرول، له خوراك څښاك پرته؛ او هملته په ځنګله کې ځان ته خوراك لټول، لوږه او تنده ګالل، په اوبو او چکړ کې تګ ... او دې ته ورته سخت سخت تمرينونه، په همدې سره له هغه يو مضبوط او زړه ور سرتېری جوړېږي. د روژې يوه مياشتنۍ دوره همداسې تربيتي دوره ده. په همدې سره د الله د لارې هغه مجاهدين روزل کېدی شي چې د ستر قرآن د حملولو، پلې کولو، د نړۍ ګوټ ګوټ ته رسولو او د خدای پر زمکه د خدای دين قائمولو وړتيا او همت ولري؛ د دوی د روزنې لپاره

روژه يوه مهمه تربيتي دوره ده؛ لمونځ، زكات، حج او نور عبادات هم دې ته ورته د يوه مجاهد او داعي انسان په روزلو کې خپل خپل اغېز لري.

آيا پوهېږئ چې د قرآن خلاصه څه ده؟ ټول قرآن د فاتحې په سوره کې خلاصه شوی او د فاتحې محوري او مرکزي مضمون دا آيت دئ: إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ: يوازې ستا عبادت کوو او يوازې له تا مرسته غواړو؛ موږ هره ورځ په لسګونو ځله او په لمانځه کې او د الله تعالی په وړاندې همدا ستر تعهد کوو؛ له الله تعالی سره په مکرره او مؤکده توګه ژمنه کوو چې يوازې ستا عبادت کوو او يوازې له تا مرسته غواړو؛ له تا پرته نه بل چا ته سر ټيټوو او نه بل درشل ته لاس اوږدوو؛ د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام د رسالت او دعوت خلاصه همدا ده؛ نوح عليه السلام، هود، صالح، ابراهيم، موسی او عيسی عليهم السلام خپلو امتونو ته همدا ويلې: ... يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓ: اې زما ولسه! د الله عبادت وکړئ؛ له هغه پرته بل معبود نه لرئ.

رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي:

قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ كَلِمَةٖ سَوَآءِۭ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمۡ أَلَّا نَعۡبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشۡرِكَ بِهِۦ شَيۡـٔٗا وَلَا يَتَّخِذَ بَعۡضُنَا بَعۡضًا أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُولُواْ ٱشۡهَدُواْ بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ ﴿٦٤﴾ آل عمران

ووايه: اې اهل کتاب! هغه خبرې ته راشئ چې زموږ او ستاسو تر منځ يو شانته ده او هغه دا چې: له الله پرته به (د بل چا) عبادت نه کوو او هيڅ څه به ورسره نه شريکوو او زموږ ځينې به ځيني نور له الله پرته ارباب نه نيسي؛ خو که ئې دډه وکړه نو ورته ووايئ: شاهد اوسئ چې موږ منقاد او مسلمان يو.

اهل کتاب ته بلنه ورکړه چې راشئ هغې خبرې ته چې ستاسو اصلي دين ئې هم غوښتنه کوي او زموږ دين هم؛ او هغه دا چې:

- یوازې د یوه الله عبادت به کوو، له ده پرته به نه د بل چا عبادت کوو او نه به بل ته دعاء.
- هیڅ څه به له الله سره نه شریکوو.
- ځیني به د ځینو نورو لپاره (رب) نه وي، دا غلطي به نه کوو چې د ځان په څېر یوه انسان ته د رب مقام او منزلت ورکړو، دا ظلم به نه کوو چې ځیني د ځینو نورو لپاره له ځان اربابان جوړ کړي.

له دې آیت څو مهمې او اساسي خبرې معلومېږي:

- د دین اصلي او بنیادي خبرې همدا درې خبرې دي. ټول الهي دینونه همدا خبرې کوي. په کوم مذهب او دین کې چې د دغو دریو خبرو خلاف څه وموندل شي؛ هغه محرف مذهب او دین دیٔ.
- کله انسان هومره جاهل او ذلیل شي چې د ځان په څېر انسان ته د رب مقام ورکړي!! د هغه بنده شي، هغه ورته حلال او حرام ټاکي او دی ئې مني!! هغه له الله سره په الوهیت او ربوبیت کې شریك کړي، هغه ته دعاء کوي او له هغه غیبي مرسته غواړي.

د داسې ټولنې جوړول چې انسانان ئې له الله تعالی پرته بل ته نه د ذلت سر ټیټ کړي او نه د احتیاج لاس اوږد کړي؛ د هغه چا دنده او رسالت دیٔ چې پر الله تعالی د ایمان دعوی او اراده لري او قرآن ئې د ژوند لارښود وي. او داسې ټولنه یوازې هغه مجاهدین جوړولی شي چې د کلك عزم، لوړ همت، د لوی زړه خاوندان او صابر وي؛ ستونزې ګاللی شي او خپل هوی او هوس مهارولی شي؛ روژه له روژتي همداسې مجاهد جوړوي.

قرآن د روژې د بحث په ضمن کې فرمایي:

وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِى عَنِّى فَإِنِّى قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ۖ فَلْيَسْتَجِيبُوا۟ لِى وَلْيُؤْمِنُوا۟ بِى لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ﴿١٨٦﴾ البقره

او کله چې زما بندګان زما په اړه تا وپوښتي؛ نو زه یقیناً نژدې یم، کله

چي دعاء کوونکی راته دعاء وکړي نو دعاء ئې قبلوم، نو زما بلنه دي ومني او پر ما دي ایمان راوړي؛ چي رشد او کمال ته ورسي.

د روژې په بحث کي د دې خبري له کولو معلومېږي چي د روژې په حالت کي انسان خپل رب ته ډېر ورنژدې وي او دعاء ئې اجابت ته قریب.

د روژې د بحث په دوام کي د قرآن دا لارښوونه هم زموږ مخي ته ځلېږي:

وَلَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم بَيۡنَكُم بِٱلۡبَٰطِلِ وَتُدۡلُواْ بِهَآ إِلَى ٱلۡحُكَّامِ لِتَأۡكُلُواْ فَرِيقٗا مِّنۡ أَمۡوَٰلِ ٱلنَّاسِ بِٱلۡإِثۡمِ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿١٨٨﴾ البقره

او مالونه مو په خپلو کي په ناحقه مه خورئ او واکمنانو ته ئې د دې لپاره مه وړاندي کوئ چي د خلکو د مال کوم څه په ناروا وخورئ؛ په داسي حال کي چي پوهېږئ.

یعني له ناروا معاملاتو ډډه وکړئ، یو د بل مال په ناروا مه خورئ، حاکمانو ته د دې لپاره رشوتونه مه ورکوئ چي د دوی په زور د بل مال په ناحقه غصب کړئ؛ په داسي حال کي چي ښه پوهېږئ دا د بل مال دئ او غصب کول ئې درته حرام دي.

د روژې په بحث کي دا الهي لارښوونه ښیي چي روژه په اصل کي له حرامو د ځان ساتني او په حلال رزق د قناعت کولو لپاره فرض شوې، څوك چي د الله لپاره حلال رزق پرېږدي هغه به څنګه حرام خوري او د دې لپاره به حکامو ته رشوت ورکوي چي د بل مال په ناروا توګه غصب کړي.

## ١ باب: د روژې فضیلت

٩١٩ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الصِّيَامُ جُنَّةٌ فَلا يَرْفُثْ وَلا يَجْهَلْ وَإِنِ امْرُؤٌ قَاتَلَهُ أَوْ شَاتَمَهُ فَلْيَقُلْ: إِنِّي صَائِمٌ مَرَّتَيْنِ، وَالَّذِي

نَفْسِی بِیَدِهِ لَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْیَبُ عِنْدَ اللَّهِ تَعَالَی مِنْ رِیحِ الْمِسْكِ، یَتْرُكُ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ وَشَهْوَتَهُ مِنْ أَجْلِی؛ الصِّیَامُ لِی وَأَنَا أَجْزِی بِهِ وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا». (بخاری: ٤٩٨١)

٩١٩ – له ابو هریرة رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: (روژه ډال دئ؛ نو روژتی دي نه د فحش وینا کوي (نه جماع)؛ او نه جاهلانه اعمال؛ که کوم کس ورسره جګړه وکړي او یا ئې وښکنځي؛ نو ودي وایي: زه روژه یم؛ دوه ځلي؛ قسم په هغه ذات چي زما نفس د هغه په لاس کي دئ د روژتي د خولې بوی د الله تعالی په نزد کي د مشکو تر بوی ښکلی او غوره دئ؛ (الله تعالی فرمایي): روژتي خپل خواړه، څښاک او شهوت زما لپاره پرېږدي؛ روژه خاص زما لپاره ده او خاص زه ئې بدله ورکوم؛ دا په داسي حال کي چي هره نېکي لس برابره ثواب لري؛ (خو د روژې ثواب به الله تعالی په خپله ټاکي).

دا روایت په بخاري کي یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ٥ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: عَبْد اللَّهِ بْن مَسْلَمَة، مَالِك، أَبو الزِّنَادِ، الأَعْرَجِ او أَبو هُرَیْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري او مسلم پرته په بل هیڅ مهم کتاب کي نه دئ راوړل شوی؛ د دواړو راویان سره ورته دي؛ په متن کي ئې یوازي دومره توپیر شته چي د صحیح مسلم په روایت کي د مرتین پر ځای إِنِّي صَائِمٌ، إِنِّي صَائِمٌ راغلي.

## ٢ باب: د ریان دروازه خاص د روژتیانو لپاره ده

٩٢٠ - عَنْ سَهْلٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّی اللَّهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " إِنَّ فِي الجَنَّةِ بَابًا یُقَالُ لَهُ الرَّیَّانُ، یَدْخُلُ مِنْهُ الصَّائِمُونَ یَوْمَ القِیَامَةِ، لاَ یَدْخُلُ مِنْهُ أَحَدٌ غَیْرُهُمْ، یُقَالُ: أَیْنَ الصَّائِمُونَ؟ فَیَقُومُونَ لاَ یَدْخُلُ مِنْهُ أَحَدٌ غَیْرُهُمْ، فَإِذَا دَخَلُوا أُغْلِقَ فَلَمْ یَدْخُلْ مِنْهُ أَحَدٌ " بخاری: ١٨٩٦

٩٢٠ – له سهل رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه

و سلم فرمايلي: (په جنت کې يوه دروازه ده چې رَيَّان ورته ويل کېږي؛ د قيامت په ورځ به روژتيان ترې داخلېږي او له دوی پرته به هيڅوک نه ترې ننوځي؛ وبه ويل شي: روژه نيوونکي چېري دي؟ نو هغوی به پاځي؛ له دوی پرته به هيڅوک نه ترې ننوځي؛ او کله چې هغوی ننوځي وبه تړل شي؛ او هيڅوك به ترې داخل نه شي).

(الريان) د (الرَّيُّ) مبالغې صيغه ده؛ چې د تندې ضد ده؛ او معنی ئې ښه ډېر تنده ماتوونکی ده. صائم تندې ګاللې نو جنت ته له دغې دروازې ننوتل ورسره ښايي.

٩٢١ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ نُودِيَ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ: يَا عَبْدَ اللَّهِ، هَذَا خَيْرٌ، فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّلاةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّلاةِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجِهَادِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الْجِهَادِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصِّيَامِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الرَّيَّانِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّدَقَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّدَقَةِ» فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا عَلَى مَنْ دُعِيَ مِنْ تِلْكَ الأَبْوَابِ مِنْ ضَرُورَةٍ فَهَلْ يُدْعَى أَحَدٌ مِنْ تِلْكَ الأَبْوَابِ كُلِّهَا؟ قَالَ: «نَعَمْ وَأَرْجُو أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ». (بخاری: ١٨٩٧)

٩٢١ – له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: (څوک چې د الله تعالی په لار کې دوه ګوني (دوه شيان؛ لکه دوه جوړه جامې، دوه درهم او دينار...)؛ انفاق کړي؛ د جنت له دروازو به غږ شي: اې د خدای بنده! دا دروازه غوره ده؛ نو څوک چې د لمونځ کوونکو له ډلې وي د لمانځه له دروازې به وبلل شي، څوك چې د مجاهدينو له ډلې وي؛ د جهاد له دروازې، روژتي به د ريان له دروازې او صدقه ورکوونکی به د صدقې له دروازې وبلل شي). ابو بکر رضي الله عنه وويل: يا رسول الله! مور او پلار مې تر تا جار؛ هغه خو څه ضرر نه کوي چې له دې ټولو دروازو وبلل شي؟ او آيا داسي څوك به

هم وي چي له ټولو دروازو وبلل شي؟ وئې فرمايل: هو؛ هيله لرم چي ته له همدغو وې).

تكرار: دا روايت په بخاري كي ۳ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۸۹۷ - ۳۲۱٦ - ۳٦٦٦

توپير: په يوه كي مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ په بل كي مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ مِنْ شَيْءٍ مِنَ الأَشْيَاءِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، په يوه كي مَا عَلَى مَنْ دُعِيَ مِنْ تِلْكَ الأَبْوَابِ مِنْ ضَرُورَةٍ، فَهَلْ يُدْعَى أَحَدٌ مِنْ تِلْكَ الأَبْوَابِ كُلِّهَا؛ او په بل كي مَا عَلَى هَذَا الَّذِي يُدْعَى مِنْ تِلْكَ الأَبْوَابِ مِنْ ضَرُورَةٍ، وَقَالَ: هَلْ يُدْعَى مِنْهَا كُلِّهَا أَحَدٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ راغلي.

۹۲۲ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا جَاءَ رَمَضَانُ فُتِحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ».

۹۲۲ – له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (د رمضان مياشت چي راشي نو د جنت دروازې پرانيستل شي).

۹۲۳ - وفى رواية عنه قال: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا دَخَلَ شَهْرُ رَمَضَانَ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ جَهَنَّمَ وَسُلْسِلَتِ الشَّيَاطِينُ». (بخارى: ۱۸۹۹)

۹۲۳ - او په بل روايت كي ئې ويلي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (كله چي رمضان راشي د آسمان دروازې پرانيستل شي، د دوزخ دروازې بندي شي او شيطانان په زنځيرونو وتړل شي).

تكرار: دا روايت په بخاري كي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۸۹۹ - ۳۲۷۷-

توپير: سره له دې چي د دواړو رواياتو إسناد يو شان او په اته طبقو كي يو يو راوي لري؛ خو په متن كي ئې دا توپير دئ چي په يوه كي إِذَا دَخَلَ شَهْرُ رَمَضَانَ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ؛ او په بل كي إِذَا دَخَلَ رَمَضَانُ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ الجَنَّةِ؛ راغلي.

په نورو كتابونو كې هم دا روايت راغلى؛ په ځينو كې إِذَا دَخَلَ رَمَضَانُ فُتِحَتْ أَبْوَابُ الرَّحْمَةِ راغلې؛ اما د ټولو لومړى راوي ابو هريره او په څلورمې طبقې كې الزهري دئ؛ له ده وروسته راويان بېل بېل دي.

د دې روايت په ارتباط څو پوښتنې راولاړېږي چې ځواب ايجابوي:

- له دغو دريو روايتونو به كوم يو او د كوم دليل له مخې غوره كوو؟ ناچار او دې ته اړ يو چې يو به ترې غوره كوو؛ بايد وګورو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به كومه خبره كړې وي؛ د رمضان راتلو سره د جنت دروازې پرانيستل كېږي؛ كه د آسمان او كه د الله تعالى د رحمت؟ په دوى كې د رحمت دروازه له موضوع سره مناسبت لري؛ يعني د رمضان مياشت د الله تعالى رحمت ته د لاسرسي غوره فرصت دئ؛ كولى شو له خنډونو او موانعو تېر او د رحمن رب رحمت او پېرزوينې تر لاسه كړو؛ دا ځكه چې د الله تعالى رحمت په نېكو عملونو تر لاسه كېدى شي او نېك فرصتونه او وختونه ئې ظرف شي.
- دلته باب په حقيقي معنى راغلى كه په مجازي معنى او د يوې استعارې په توګه؟ ځواب كاملاً څرګند دئ او هغه دا چې په ټولو هغو مواردو كې چې د غير مجسم او معنوي امورو په ارتباط د مجسمو شيانو لپاره وضع شوي نومونه او الفاظ كارول كېږي؛ مجازي معنى ئې مراد وي او د استعارې په توګه راځي؛ د الله تعالى رحمت كوم مجسم شى نه دئ چې دروازه ولري او تړل كېدا او پرانيستېدا ايجابوي؛ معنى ئې فقط دا ده چې په روژې سره د الله تعالى رحمت ته د رسېدو لار راته پرانيستل كېږي.
- آيا د شيطان د تړل كېدو معنى دا ده چې لاس پښې ئې په زنځيرونو تړل كېږي او كه دا چې د فعاليت مجال پرې تنګ شي او د خلكو د بې لارې كولو فرصت او مجال له لاسه وركړي؛ همدا دوهمه توجيه سمه او دقيقه ده؛ دا ځكه چې عملاً ګورو په مليونونو انسانان د روژې له بركته د شيطان له شرارتونو خوندي پاته كېږي؛ همدا دوى خپل شيطانان مهار

کړي او د هغه وسوسو ته له تسليمېدو ځان ساتي؛ اما نور د مخکې په څېر د شيطان په لار روان او د هغه تر بريدونو لاندي وي.

يو چا تر دې روايت لاندي په خپل تعليق کې ليکلي:

قَالَ: (أَبْوَاب السَّمَاء)، وَفِي حَدِيث قُتَيْبَة الْمَاضِي قَالَ: (أَبْوَاب الْجنَّة)، وَقَالَ ابْن بطال: المُرَاد من السَّمَاء الْجنَّة بِقَرِينَة ذكر جَهَنَّم فِي مُقَابلَة. قلت: جَاءَ فِي رِوَايَة: (أَبْوَاب الرَّحْمَة)، وَلَا تعَارض فِي ذَلِك، فأبواب السَّمَاء يصعد مِنْهَا إِلَى الْجنَّة لِأَنَّهَا فَوق السَّمَاء، وَسَقْفُهَا عَرْشُ الرَّحْمَن كَمَا ثَبت فِي (الصَّحِيح).

(فتحت) المراد حقيقة الفتح وقيل هو كناية عن كثرة الطاعات. (أبواب السماء) المراد بالسماء الجنة لأنها يصعد منها إلى الجنة لأنها فوق السماء وسقفها عرش الرحمن. (سلست الشياطين) شدت بالسلاسل ومنعت من الوصول إلى بغيتها من إفساد المسلمين بالقدر الذي كانت تفعله في غير رمضان]؛

د دې وينا خلاصه دا ده چي د ده له نظره (فتحت) په حقيقي معنى راغلی او ګواکي عملاً د آسمان او جنت دروازې پرانيستل کېږي او د دوزخ دروازې تړل کېږي!! دا د اهل ظاهر رأی او ادعاء ده؛ دوی ته وايو:

قرآن د جنت او دوزخ د دروازو په اړه وايي: دا به هغه مهال پرانيستل کېږي چي قيامت تېر شوی، نوې زمکه او نوی آسمان خلق شوي، انسانان له قبرونو راپاڅېدلي، د حشر ميدان کې جمع شوي، محاسبه تر سره شوې، هر چا ته خپله عمل پاڼه ورکړی شوې، ډلي ډلي د فرشتو په معيت کې د جنت او دوزخ لوري ته خوځول شوي، جنت او دوزخ په همدغي نوې زمکي کې دوی ته رانژدې شوي، هره ډله به له خاصي لاري جنت او دوزخ ته ننوځي؛ دغه مهال به دا دروازې پرانيستل کېږي؛ قرآن فرمايي:

وَسِيقَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِلَى جَهَنَّمَ زُمَرًا حَتَّى إِذَا جَاءُوهَا فُتِحَتْ أَبْوَابُهَا

وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِنْكُمْ يَتْلُونَ عَلَيْكُمْ آيَاتِ رَبِّكُمْ وَيُنْذِرُونَكُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَذَا قَالُوا بَلَى وَلَكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ الْعَذَابِ عَلَى الْكَافِرِينَ ﴿٧١﴾ قِيلَ ادْخُلُوا أَبْوَابَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٧٢﴾ الزمر

او هغه به د دوزخ په لوري ډلي ډلي وخوځول شي چي کفر ئې کړی، تر هغه چي ورشي او دروازې ئې ورته پرانيستل شي او ځارونکي ئې ورته ووايي: آيا تاسو ته ستاسو له ډلي داسي پيغمبران نه وو درغلي چي ستاسو د رب آيتونه ئې درته لوستل او د خپلي دغي ورځي له مخامخېدو ئې وېرولئ؟ وبه وايي: ولي نه؛ خو د کافرانو په اړه د عذاب وينا تر سره شوه؛ وبه ويل شي: د دوزخ پر دروازو ننوځئ په هغه کې تلپاتي، نو د دغو کبرجنو مېشت ځای څومره بد دئ!!

وَسِيقَ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ إِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا حَتَّى إِذَا جَاءُوهَا وَفُتِحَتْ أَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلَامٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَادْخُلُوهَا خَالِدِينَ ﴿٧٣﴾ الزمر

او هغه به د جنت په لوري ډله ډله وخوځول شي چي له خپل رب وېرېدلي؛ تر هغه چي ورشي او دروازې ئې ورته پرانيستل شي او ځارونکي ئې ورته ووايي: سلام پر تاسو، ښېراز دي وئ، نو د تلپاتو په شان ورننوځئ.

د جنت او دوزخ دروازې دغه مهال پرانيستل کېږي نه تر دې وړاندي؛ او يوازي دغه مهال ئې پرانيستل معنی لري نه تر دې وړاندي.

د قرآن دا يقيني او له شك وتلې وينا به منو که د هغه روايت ظني ادعاء چي په څلورو طبقو؛ صحابه وو، تابعينو او اتباع تابعينو کې يو يو راوي لري؛ او امام بخاري ته له اتم نسل رسېدلي؛ او هغه هم په متعارضي بڼي کې؛ يو ئې د ابواب السماء خبره کوي او بل ئې د ابواب الجنة؟!!

مګر قرآن موږ ته دا لارښوونه نه ده کړې چي د يوه مدعي ادعاء او

وينا به هغه مهال معتبره ګڼو چي دوه، درې او حتی څلور شاهدان ولري؛ هغه هم په عادي مسائلو کې؛ د مهمو اعتقادي مسائلو په اړه به څنګه او ولې يوه فرد ته منسوب ظني ادعاء او وينا منو؟

مګر الله تعالی موږ ته دا لارښوونه نه ده کړې چي هر اختلاف به قرآن ته راجع کوو او وروستۍ پرېکړه به د قرآن له مخي کوو؟

که څوك پوښتنه وکړي: د روژې په مياشت کي د آسمان، جنت او دوزخ د دروازو تړل کېدا او پرانيستېدا به مؤمن ته څه ګټه رسوي او کافر ته څه تاوان؛ نه مؤمن اوس جنت ته درومي او نه کافر دوزخ ته!!؛ آيا اهل روايت د خپل منطق او اسلوب له مخي دې ته کوم معقول او د منلو وړ ځواب لري؟ د مُسند احمد روايت کي د ابواب السماء او ابواب الجنة په ځای ابواب الرحمه راغلې چي د بخاري تر رواياتو ارجح دئ؛ ولي مو د دې په ځای هغه روايات غوره کړي؛ د کوم دليل له مخي؟! مُسند احمد کي دا روايت په دې صيغه راغلی:

٧٧٨٠ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا دَخَلَ شَهْرُ رَمَضَانَ، فُتِّحَتْ أَبْوَابُ الرَّحْمَةِ، وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ جَهَنَّمَ، وَسُلْسِلَتِ الشَّيَاطِينُ"

٣ باب: رمضان که د رمضان مياشت

په بخاري کي دا باب داسي دئ: هَلْ يُقَالُ رَمَضَانُ أَوْ شَهْرُ رَمَضَانَ، وَمَنْ رَأَى كُلَّهُ وَاسِعًا: رمضان وويل شي او که د رمضان مياشت او که هغه چي پراخ ئې نيسي او ټول سم بولي)؛ عنوان له رواياتو سره ئې اړخ نه لګوي؛ ارتباط ئې واضح نه دئ؛ په صحيح مسلم کي ئې باب داسي دئ: (وجوب صوم رمضان لرؤية الهلال) او همدا له اړوند رواياتو سره واضح مناسبت لري.

٩٢٤ ـ عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَصُومُوا، وَإِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَأَفْطِرُوا، فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَاقْدُرُوا لَهُ»

يعنى: هِلالِ رَمَضَانَ. (بخارى: ١٩٠٠)

٩٢٤ - له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي واربدل چي فرمايل ئې: (كله چي د رمضان مياشت سپوږمۍ ووينئ نو روژه ونيسئ او چي (بله نوې سپوږمۍ) ووينئ؛ ماته ئې كړئ؛ او كه درباندي پټه شوه (سپوږمۍ نه ليدل كېده)؛ نو اندازه ئې ولګوئ؛ يعني د روژې مياشتي د سپوږمۍ.

له دې شرحي داسي معلومېږي چي كه د روژې مياشتي (سپوږمۍ) مو د وريځو او بل سبب له كبله ونه ليدله نو د شعبان مياشت پوره كړئ او بيا روژه پيل كړئ؛ همداسي به د روژې په پای كي كوئ.

ځينو روايت داسي تعبير كړی چي كه د روژې مياشت په پای كي د شوال مياشتي هلال ونه ګورئ نو ورته تكړه شئ (دېرشمه هم ونيسئ).

تكرار: دا روايت په بخاري كي ٢ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٩٠٠ - ١٩٠٦

توپير: په يوه كي إِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَصُومُوا، په بل كي لاَ تَصُومُوا حَتَّى تَرَوُا الْهِلاَلَ، په يوه كي وَإِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَأَفْطِرُوا په بل كي وَلاَ تُفْطِرُوا حَتَّى تَرَوْهُ په يوه كي فَاقْدُرُوا لَهُ (لِهِلاَلِ رَمَضَانَ) او په بل كي يوازي فَاقْدُرُوا لَهُ راغلي.

رسول الله صلى الله عليه و سلم د قمري مياشتي د عمر په اړه څوارلس پېړۍ وړاندي فرمايلي چي قمري مياشت ٢٩ ورځي ده؛ په داسي حال كي چي هغه مهال عام ذهنيت دا وو چي قمري مياشت دېرش ورځي ده!! دا هغه دقيقه او علمي وينا ده چي انسانان ئې اوس په حقيقت پوه شوي؛ ساينس پوهان وايي چي قمري مياشت ٢٩ ورځي ١٢ساعتونه ٤٤ دقيقې او ٣ ثانيې ده؛ راشئ دې رواياتو ته لږ ځير شئ:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: ذَكَرْنَا لَيْلَةَ الْقَدْرِ عِنْدَ رَسُولِ الله صلى الله عليه وسلم فَقَالَ: "كَمْ مَضَى مِنَ الشَّهْرِ" فَقُلْنَا: مَضَى اثْنَانِ وَعِشْرُونَ يَوْماً وَبَقِي ثَمَانٍ فَقَالَ: "لا" بَلْ مَضَى اثْنَانِ وَعِشْرُونَ يَوْماً وَبَقِي سَبْعٌ؛ الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ يَوْماً فَالْتَمِسُوهَا اللَّيْلَةَ" رواه ابن حبان

له ابو هريره روايت دئ چي وئې ويل: د رسول الله صلى الله عليه و سلم خوا ته مو د قدر شپې يادونه وکړه نو وئې فرمايل: د مياشتي څومره تېره شوې؟ ومو ويل: دوه ويشت ورځي تېري شوې او اته پاته دي. نو وئې فرمايل: نه؛ بلكي دوه ويشت ورځي تېري شوې او اوه پاته دي؛ مياشت نه ويشت ورځي ده؛ نو له مخي ئې دا شپه ولټوئ. (يعني د قدر شپه)

١٠٨٠- عَنْ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ: «الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ لَيْلَةً، لَا تَصُومُوا حَتَّى تَرَوْهُ، وَلَا تُفْطِرُوا حَتَّى تَرَوْهُ، إِلَّا أَنْ يُغَمَّ عَلَيْكُمْ، فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَاقْدِرُوا لَهُ» مسلم

٧٩٢٨ - عَنْ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ لَيْلَةً، لَا تَصُومُوا حَتَّى تَرَوْهُ، وَلَا تُفْطِرُوا حَتَّى تَرَوْهُ، إِلَّا أَنْ يُغَمَّ عَلَيْكُمْ، فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَاقْدُرُوا لَهُ " رَوَاهُ مُسْلِمٌ فِي الصَّحِيحِ عَنْ يَحْيَى بْنِ يَحْيَى، السنن الكبرى للبيهقى

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: مياشت نه ويشت ورځي ده؛ نو تر هغه روژه مه نيسئ چي وئې گورئ او مه ئې ماتوئ تر هغه چي وئې گورئ او كه دربانديې وپوښل شوه نو خپلي ټاكلې مودې ته ئې ورسوئ (دېرش ورځي پوره كړئ).

دې ته ورته روايات زيات دي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په مختلفو مواردو كې ويلي چي مياشت ٢٩ ورځي ده؛ همدا بايد د روژې د مياشتي د روژو اصلي شمېر ونيسو او دېرشمه به ئې يوازي هغه مهال نيسو چي د سپوږمۍ ليدل تثبيت نه شي؛ د ليدني لپاره ئې هم د دوو مسلمانو شاهدانو شهادت كافي دئ؛ دې روايت ته ځير شئ:

١٩ - (١٠٨١) وحَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ

زِيَادٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللهُ عَنْهُ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ، فَإِنْ غُمِّىَ عَلَيْكُمُ الشَّهْرُ فَعُدُّوا ثَلاثِينَ»

۲۰ - (۱۰۸۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ذَكَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْهِلَالَ فَقَالَ: «إِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَصُومُوا، وَإِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَأَفْطِرُوا، فَإِنْ أُغْمِىَ عَلَيْكُمْ فَعُدُّوا ثَلاثِينَ» صحيح مسلم

عن عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنُ زَيْدِ قَالَ أَلاَ إِنِّي قَدْ جَالَسْتُ أَصْحَابَ رَسُولِ اللهِ صَلى الله عَليه وسَلم وَسَاءَلْتُهُمْ أَلَا وَإِنَّهُمْ حَدَّثُونِى أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلى الله عَليه وسَلم قَالَ صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ وَانْسُكُوا لَهَا فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَأَتِمُّوا ثَلاَثِينَ وَإِنْ شَهِدَ شَاهِدَانِ مُسْلِمَانِ فَصُومُوا وَأَفْطِرُوا. مسند احمد

له ابو هريره روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وويل: په ليدو سره ئې روژه ونيسئ او په ليدو سره ئې ماته کړئ؛ او که مياشت درباندي شکمنه شوه نو دېرش ئې وګڼئ او که دوه عادل مسلمانان ئې د ليدو شهادت ورکړي نو روژه شئ او إفطار ئې کړئ.

راشئ وګورو چي قرآن په دې اړه څه لارښوونه لري؛ قرآن فرمايي:

... شَهْرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلْقُرْءَانُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٍ مِّنَ ٱلْهُدَىٰ وَٱلْفُرْقَانِ ۚ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ....

... د روژې مياشت هغه ده چي په هغې کي قرآن نازل شوی؛ د خلکو لپاره لارښود، د هدايت څرګندي نښي او فرقان (د حق او باطل د تفکيك او بېلولو لپاره معيار او ملاك)؛ نو چي څوك دا مياشت مومي هغه دي روژه ونيسي...

په دې مبارك آيت کي څو اساسي لارښووني مومو:

- د دې مياشتي روژه د دې لپاره فرض کړی شوې چي په دې کي قرآن

نازل شوی، دا د خلکو لپاره لارښود کتاب، دا د څرګندو لارښوونو او د حق او باطل تر منځ د فرق کولو لپاره روڼ څراغ په کې نازل شوی؛ د دې ستر نعمت د شکر اداء کولو لپاره باید روژه ونیسئ.

• په دې روژې سره به تاسو د الله په لويي او عظمت اعتراف کړی وي او د همدې روژې او د قرآن د درناوي له کبله به مو هدايت په برخه شي.

• له دې آيت دا هم په څرګنده توګه معلومېږي چې د روژې مياشتي په داخلېدو سره د نړۍ پر ټولو مسلمانانو روژه نيول فرض کېږي او د روژې مياشت هغه وخت پيل کېږي چې د دې مياشت سپوږمۍ له محاق ووځي او د نړۍ په کوم ځای کې وليدل شي؛ له محاق وتل او چېري د هغې څرګندېدلو معنی دا ده چې نوې مياشت پيل شوې او په ټولو روژه نيول لازم شوي؛ د دې آيت له مخي د مطالعو اختلاف اعتبار نه لري؛ داسي نه ده چې مياشتي په هر هېواد کي بېل بېل پيل او پای لري. د نړۍ په هر ځای کي چي د نوې مياشت سپوږمۍ وليدل شي؛ نو نوې مياشت پيل شوې؛ د ليدو لپاره ئې د دوو عادل شاهدانو ګواهي کافي ده؛ د نړۍ پر ټولو مسلمانانو ئې روژه نيول فرض کېږي.

• په آيت کي ويل شوي: (فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُۖ: نو چي څوك دا مياشت بيامومي هغه دي روژه ونيسي)؛ (شَهِدَ) هم د ليدو په معنی ده او هم د حاضرېدو په معنی؛ په قرآن کي هم د نَظَرَ او رأی په معنی کارول شوي او هم د حَضَرَ په معنی؛ داسي نه دي ويل شوي (فمن رأى منکم القمر: څوك چي له تاسو سپوږمۍ وګوري؛ که داسي ويل شوي وی نو مراد به ئې فقط رؤيت وو)؛ يعني د روژې نيول د روژې مياشتي په پيل پوري مربوطه ده؛ هر څوك چي دې مياشت ته ننوځي؛ نو روژه نيول پرې فرض شوه؛ که په خپله ئې وګوري يا بل څوك؛ او ورته ثابته شي چي دی اوس دې مياشتي ته داخل شوی؛ نو روژه ورباندي فرض شوه؛ البته د روژې مياشتي پيل او پای د سپوږمۍ له مخي ټاکلی

شو.

د میاشتو لپاره دوه معروف تقویمونه لرو؛ یو ئې د لمر پر محور د زمکې په حرکت پورې او بل ئې د زمکې پر محور د سپوږمۍ په حرکت پورې مربوط دئ؛ زمکه په درې سوه پنځه شپېته ورځو او څه د پاسه شپږو ساعتونو کې یو ځل د لمر پر محور څرخي؛ دې ته ځینو د یوه کال نوم ورکړی، هغه ئې په دولسو میاشتو وېشلی، ځینې ئې دېرش او ځینې ئې یو دېرش ورځې دي. او سپوږمۍ په (۲۹ ورځو ۱۲ساعتونو ٤٤ دقیقو او ۳ ثانیو) کې د رؤیت پړاو بشپړوي؛ دا موده ثابته ده؛ که څوك علمي محاسبې ته ارزښت ورکړي نو د بشپړ کال ټولې قمري میاشتې داسې ټاکل کېدی شي چې کمی او زیاتی به په کې نه راځي؛ د محاسبې له مخې دا معلومېدی شي چې سپوږمۍ کله خپل میاشتنی مدار بشپړوي، په کوم ځای کې، په کوم ساعت، دقیقه او ثانیه له سترګو پټېږي او چېري، په کوم ساعت، دقیقه او ثانیه راڅرګندېږي او د نوې میاشتې مدار پیلوي. دا چې اسلام د میاشتې د پیل او پای لپاره رؤیت ته اعتبار ورکړی دا ډېره دقیقه او علمي وینا ده، ځکه د سپوږمۍ په لیدو سره ثابته کېږي چې هغه د نوې میاشتې مدار ته داخله شوې. څوك چې رؤیت ته اعتبار نه ورکوي او د هرې سیمې لپاره د مستقل او بېل رؤیت خبره کوي له دین او علم ډېر بې خبر دئ. اوس او د مخکې تللو وسائلو په مرسته؛ هغه ثانیه او سیمه هم په دقیقه توګه معلومولی شو چې سپوږمۍ له محاق وځي، د مخکینۍ میاشتې مدار ئې بشپړ کېږي او د نوې میاشتې مدار پیلوي. دا هم ډېره علمي خبره ده چې د رؤیت لپاره د دوه متقي انسانانو شهادت کافي ګڼل شوی. ناپوهان او هغه ټګماران چې د دښمن له لورې ګمارل شوي چې په امت کې اختلافات راولاړ کړي؛ له دې موضوع هم د اختلاف وسیله جوړوي، شیعه او بریلویان له سعودي او سلفیانو سره د سیاسي او مذهبي اختلاف له کبله روژه او اختر یوه او حتیٰ دوه ورځې وروسته اعلانوي!! احناف د سپوږمۍ د مطالع

(راځرګندېدو) اختلاف د اعتبار وړ نه ګڼي؛ د قرآن، حديث او علم وينا همدا ده.

راشئ دا هم وګورو چې قرآن خپل مخاطب ته د سپوږمۍ رابره کېدو په اړه څه لارښوونې لري؛ قرآن د روژې د بحث په لړ کې د سپوږمۍ د ورو ورو سترېدو په اړه فرمايي:

﴿يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْأَهِلَّةِ ۖ قُلْ هِىَ مَوَٰقِيتُ لِلنَّاسِ وَٱلْحَجِّ ۗ وَلَيْسَ ٱلْبِرُّ بِأَن تَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِن ظُهُورِهَا وَلَٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنِ ٱتَّقَىٰ ۗ وَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَٰبِهَا ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ۝١٨٩﴾ البقره

د سپوږمۍ رابره کېدو په اړه تا پوښتي؛ ورته ووايه: دا د خلکو لپاره د وختونو او د حج د تعيين وسيله ده؛ او ښېګڼه دا نه ده چې کورونو ته له شا راشئ؛ بلکې ښېګڼه دا ده چې څوک ځان ساتنه وکړي؛ او کورونو ته له دروازو ننوځئ او له الله ووېرېږئ چې برياليي شئ.

خلکو به له پيغمبر عليه السلام راز راز پوښتني کولې او دا انتظار ئې درلود چې د دوی د هري پوښتني ځواب به ورکوي؛ د سپوږمۍ په اړه ئې هم ترې پوښتنه کوله چې دا څنګه راځرګنده شي، وړه وي، ورو ورو لويه شي، بېرته وړه شي او د مياشتي په پای کې له سترګو غائبه شي؟

دلته د دوی په ځواب کې دوه خبري شوې:

- الله تعالی سپوږمۍ د وخت تعيين لپاره په دې بڼه کې پيدا کړې، د وخت د تعيين لپاره داسي وسيله ده چې هر څوك، لوستی او نالوستی؛ هم د ساعتونو تعيين پرې کولی شي، هم د مياشتو او هم د کلونو؛ که ئې کوم کال د دوبي په لومړۍ مياشت کې روژه نيولې وه او سږ کال بيا په همدې مياشت کې روژه نيسي؛ ډېر ژر کولی شي پوه شي چې په ده باندي شپږ دېرش کاله تېر شوي؛ د وخت دا محاسبه او تشخيص له بلې لاري ډېر ګران دئ.

- خو دا چې د میاشتې حالت څنګه بدلیږي رابدلیږي؛ قرآن هغوی ته ویلي: اوس په دې پوهېدل تاسو ته ګران کار دئ؛ په یوه څه پوهېدل ځانته وخت او ځانته خاصه لار او مراتب لري؛ په خپل وخت او له خپلې لارې ئې د پوهېدو لپاره صبر وکړئ؛ لکه چې کورونو ته باید له خپلې دروازې ننوځئ نه له شا ئې؛ همدا راز په دې پوهېدل چې د سپوږمۍ حالت څنګه بدلیږي رابدلیږي؛ دا هم خپله خاصه لار او خاص وخت او داسې خاصې پوهې ته ضرورت لري چې اوس ئې تاسو نه لرئ؛ نو تر هغه صبر وکړئ چې په دې پوهېدل درته ممکن شي. احیاناً له خپل وخت مخکې د یوه څه په اړه پوښتنې؛ د دې پر ځای چې ګټه وکړي انسان ته ستونزې راولاړوي؛ قرآن دغه مطلب ته په دې آیت کې داسې اشاره کوي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَسۡـَٔلُواْ عَنۡ أَشۡيَآءَ إِن تُبۡدَ لَكُمۡ تَسُؤۡكُمۡ وَإِن تَسۡـَٔلُواْ عَنۡهَا حِينَ يُنَزَّلُ ٱلۡقُرۡءَانُ تُبۡدَ لَكُمۡ عَفَا ٱللَّهُ عَنۡهَاۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٞ ١٠١﴾ المائدة

اې مؤمنانو! د هغو شیانو په اړه پوښتنې مه کوئ چې که درته ښکاره شي نو خفه به مو کړي او که په اړه ئې هغه وخت پوښتنه وکړئ چې قرآن نازلیږي نو درته څرګند به شي؛ الله دې د دې عفو وکړي او الله حلیم بخښونکی دئ.

نن انسانانو ته جوته شوې چې سپوږمۍ په ۲۹ ورځو، ۱۲ ساعتونو، ٤٤ دقیقو او ۳ ثانیو کې یو ځل د زمکې او لمر تر منځ داسې واقع کیږي چې تیاره خوا ئې د زمکې لورې ته او رڼه خوا ئې د لمر لورې ته وي؛ دا مهال سپوږمۍ زموږ له سترګو په بشپړه توګه پټه وي؛ او کله داسې وي چې رڼه خوا ئې په بشپړه توګه د زمکې لورې ته وي؛ په دې انځور کې ئې کتلی شئ.




د زمکي پر محور د سپوږمۍ څرخېدا بيضوي مدار کي وي؛ کله زمکي ته ډېره نژدې او کله ډېره لري وي؛ کله ٣٨٤٣٩٧ کيلومتره او کله ٤٠٦٧٣١ کيلومتره وي؛ نو ځکه ئې کله حجم راته ستر برېښي او کله ووړ.

سپوږمۍ په ٢٧,٣ ورځو کي يو ځل هممهاله هم پر خپل محور راڅرخي او هم د زمکي پر محور او دا د دې باعث کېږي چي موږ تل د سپوږمۍ يوازي يو مخ کتلی شو او بل ئې تل له موږ بل لوري ته وي؛ که تاسو د شپې له لوري او هغه مهال سپوږمۍ ته ځير شئ چي بشپړه وي نو تور تور ځايونه به پکي وګورئ؛ دا هغه ځايونه دي چي د لمر وړانګي نه پرې لګېږي؛ يا د کومي لوړي سيورى پرې پروت وي او يا کندې وي؛ تل به سپوږمۍ همداسي وومئ؛ او دا ښيي چي تل ئې همدا مخ موږ ته وي؛ خو د دې معنی دا نه ده چي تل د سپوږمۍ روښانه مخ زموږ لوري او تياره ئې بل لوري ته او د لمر له رڼا محروم وي؛ سپوږۍ پر خپل محور راڅرخي او په دې سره د زمکي په څېر شپه او ورځ لري؛ خو شپه ئې زموږ د دوو اونيو برابره وي او ورځ ئې هم؛ نو ځکه ئې د ورځي له لوري د حرارت درجه تر ١٢٧ درجې سانتي ګراد رسي او د شپې له لوري تر منفي ١٧٣ درجې سانتي ګراد. دا چي موږ تل د سپوږمۍ يو لورى ګورو وجه ئې دا ده چي د زمکي پر محور د

سپوږمۍ چورلېدا او پر خپل محور د هغې چورلېدا ۲۷,۳ ورځو کې وي؛ خو له يوه رؤيت تر بل رؤيت پوري ئې ۲۹ ورځي ۱۲ ساعتونه ٤٤ دقيقې او ۳ ثانيې وخت نيسي. يعني د زمکې او سپوږمي وضعي او انتقالي حرکت داسي تنظيم شوی چي له کبله ئې د قمري مياشتو يو دقيق تقويم زموږ په وړاندي ترسيم شي.

٤ باب: په رمضان کي دروغ او وړباندي عمل نه پرېښودل

٩٢٥ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ».(بخارى: ١٩٠٣)

٩٢٥ – له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (څوک چي دروغ ويل او په دروغو عمل کول ترک نه کړي؛ نو الله تعالی دې ته هيڅ حاجت نه لري چي هغه خپل خوراک او څښاک پرېږدي).

تکرار: دا روايت په بخاري کي ۲ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۹۰۳ – ٦٠٥٧؛ غريب دئ؛ په ٤ طبقو کي يو يو راوي لري.

توپير: په إسنادو کي ئې توپير فقط دومره دئ چي په پنځمه طبقه کي ئې راويان بېل بېل او دوه دي؛ په متن کي ئې توپير دا دئ چي په يوه کي فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ او په بل کي فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ أَنْ يَدَعَ راغلي.

دا روايت ښيي چي د روژې موخه او هدف دا دئ چي انسان هم د خوراك څښاك په ارتباط خپله خوله سمبال کړي او هم د وينا او خبرو له پلوه؛ که څوك په روژه کي دروغ وايي او په دروغجنو خبرو عمل کوي؛ نو روژه ئې د الله تعالی په نزد کي هيڅ ارزښت نه لري.

٥ باب: چاته چي ښکنځلي وشي؛ نو آيا وايي به چي روژه يم؟

٩٢٦ ـ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ:

أَخْبَرَنِي عَطَاءٌ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ الزَّيَّاتِ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " قَالَ اللَّهُ: كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ، إِلَّا الصِّيَامَ، فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ، وَالصِّيَامُ جُنَّةٌ، وَإِذَا كَانَ يَوْمُ صَوْمِ أَحَدِكُمْ فَلاَ يَرْفُثْ وَلاَ يَصْخَبْ، فَإِنْ سَابَّهُ أَحَدٌ أَوْ قَاتَلَهُ، فَلْيَقُلْ إِنِّي امْرُؤٌ صَائِمٌ " «وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللَّهِ مِنْ رِيحِ المِسْكِ» " لِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ يَفْرَحُهُمَا: إِذَا أَفْطَرَ فَرِحَ، وَإِذَا لَقِيَ رَبَّهُ فَرِحَ بِصَوْمِهِ " (بخارى: ١٩٠٤)

٩٢٦ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((الله تعالى فرمايي: « د بني آدم هر عمل په خپله د ده لپاره دئ؛ خو روژه ئې زما لپاره ده او زه به ئې بدله يا ثواب ورکوم او روژه ډال دئ؛ نو که څوک روژه وي؛ نو خوشې کچه خبري او شخړي دي نه کوي؛ او چيغي دي نه وهي؛ او که چا ښکنځلي ورته وکړې او يا ئې جګړه ورسره کوله، نو ودي وايي: زه روژه يم؛ قسم په هغه ذات چي د محمد سا ئې په واک کي ده؛ د روژتي د خولې بوی الله ته د مشکو تر بوی ډېر په زړه پوري دئ؛ او د روژتي لپاره دوې خوشحالۍ دي چي دی خوشحالوي: هغه مهال چي روژه ماته کړي او خوشحال شي او هغه مهال چي له خپل رب سره مخامخ شي او پر خپلي روژې (او بدله ئې) خوشحال شي)).

تکرار: دا روايت په بخاري کي ٤ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٩٠٤ - ٥٩٢٧ - ٧٤٩٢ - ٧٥٣٨ -

توپير: په دغو رواياتو کي دا جدي توپير مومو: په يوه کي كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ إِلَّا الصَّوْمَ فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ په بل کي لِكُلِّ عَمَلٍ كَفَّارَةٌ وَالصَّوْمُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ راغلي.

څو پوښتني راولاړېږي چي ځواب غواړي:

- په داسي حال کي چي د انسان ټول عملونه بلا استثناء داسي دي

چي گټه او تاوان ئې ده ته رسي؛ هم په دنيا کې او هم په آخرت کې؛ په دې رواياتو کې ولې روژه له دې اصل مستثنی شوې؟

• په دغو روايتونو کې کوم يو ئې صحيح دئ؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته منسوب دا وينا چي وايي: (كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ إِلَّا الصَّوْمَ فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ) او که دا چي وايي (لِكُلِّ عَمَلٍ كَفَّارَةٌ وَالصَّوْمُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ)؛ ما د بخاري د ډېرو شارحينو توجيهات لوستلي؛ ځينو په ډېر تکلف سره هڅه کړې چي د منلو وړ توجيه ورته وړاندي کړي؛ خو نه دي توانېدلي او داسي څه ئې ويلي چي د زړه دړه نه ورته پرانيستل کېږي!

مسند احمد کې دا روايت په دې صيغه راغلی:

٧١٩٥ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، وَالصَّوْمُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ، يَذَرُ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ بِجَرَّايَ - قَالَ يَزِيدُ: مِنْ أَجْلِي - الصَّوْمُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ "

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: هره نېکي لس برابره ئې بدله لري؛ روژه زما لپاره ده زه به ئې بدله ورکوم؛ زما لپاره خوراك او څښاك پرېږدي؛ روژه زما لپاره ده؛ زه به ئې بدله ورکوم؛

د مسند احمد بل روايت داسي دئ:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ رَبَّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ يَقُولُ: يَا ابْنَ آدَمَ، بِكُلِّ حَسَنَةٍ عَشْرُ حَسَنَاتٍ إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ إِلَى أَضْعَافٍ كَثِيرَةٍ، وَالصَّوْمُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ، وَالصَّوْمُ جُنَّةٌ مِنَ النَّارِ "

له ابو هريره روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ستاسو رب فرمايلي: اې د آدم اولاده! د هري نېکي بدله کې لس ښېګڼې دي؛ تر اوو سوو زيات والي پوري او تر ډېرو زياتوالو پوري. او

روژه زما لپاره ده زه به ئې بدله ورکوم؛ او روژه د دوزخ د اور په وړاندې ډال ده.

بل ئې داسې دئ:

٩٨٨٨ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَرْوِيهِ عَنْ رَبِّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ: «كُلُّ الْعَمَلِ كَفَّارَةٌ، وَالصَّوْمُ لِي، وَأَنَا أَجْزِي بِهِ»

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ستاسو له رب روايت کوي او وايي: ټول عملونه کفاره دي او روژه زما لپاره ده؛ زه به ئې بدله ورکوم.

که د بخاري او مسند احمد په رواياتو کې غور وکړو نو څو خبرې راته جوته کېږي:

- د ټولو لومړنی راوي ابو هريره دئ.
- د دې معنی دا ده چې ابو هريره ته منسوب دغو متعارضو رواياتو کې يوازې يو به ئې صحيح وي او يوازې يو ترې غوره کولی شو.
- آيا له متعارضو رواياتو د يوه انتخاب؛ او نور ئې نه منل؛ له حديث انکار دئ؛ همغسې چې اهل حديث خپل رقيبان پرې تورنوي او په خلاف ئې همدا فتوی ورکوي؟!! دا نن د امت تر ٩٠٪ زيات مسلمانان د ځانځه د ځينو برخو په اړه د امام بخاري له رواياتو سره نه يوازې موافق نه دي بلکې د هغه خلاف عمل کوي؛ د قرائت خلف امام په اړه د بخاري روايات مرجوح گڼي او د قرآن د دې آيت خلاف ئې گڼي چې وايي: (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ الأعراف: ٢٠٤: کله چې قرآن لوستل کېږي نو غوږ ورته ونيسئ او خاموش اوسئ چې رحم درباندې وشي)؛ د رکوع او سجدې په تکبيرونو کې لاسونه نه لوړوي، د طاق رکعتونو تر منځ لنډه ناسته نه کوي؛ په جهر او لوړ غږ آمين نه وايي.... آيا دا ټول منکر حديث دي؟! ته چې د قرآن صريح او څرگند آيت نه منې او يوه غريب روايت ته د قرآن پر آيت ترجيح ورکوې؛ د

قرآن منکر نه يې او بل چي ستا غريب روايات نه درسره مني هغه د حديث منکر دئ؟! امام بخاري او هر محدث چي له لسګونو زرو رواياتو دوه درې زره؛ د منلو وړ ګڼلي او نور ئې په خپل کتاب کي د راوړلو وړ هم نه دي منلي؛ آيا دوی د حديث منکرين دي؟ ټول امت په يوه وادي کي او ته په بلي کي؛ ټول فقهاء او ائمه يو څه وايي او ته او ستا مذهب بل څه؛ هغه چي ټولو خلکو ته د لېوني په سترګه ګوري؛ يقيناً چي تر ټولو لوی لېونی دی دئ.

- په واضح توګه معلومېږي چي د مسند احمد روايات تر بخاري غوره، واضح او له ابهاماتو عاري دي.
- د بخاري په رواياتو کي ويل شوي لِكُلِّ عَمَلٍ كَفَّارَةٌ؛ هر عمل کفاره لري؛ دا مطلب مبهم دئ؛ کفاره معمولاً د ګناهونو او اشتباهاتو د جبران لپاره کارول کېږي؛ نه د نېك عمل لپاره؛ د مسند احمد په روايت کي داسي راغلي: الْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، وَالصَّوْمُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ،: هره نېکي لس برابره ئې بدله لري؛ روژه زما لپاره ده زه به ئې بدله ورکوم؛ دلته د روايت لومړی او ورپسې فقرو کي واضح همغږي او مناسبت شته؛ د مسند احمد بل روايت مزيد وضاحت کړی او وايي: بِكُلِّ حَسَنَةٍ عَشْرُ حَسَنَاتٍ إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ إِلَى أَضْعَافٍ كَثِيرَةٍ، وَالصَّوْمُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ، د هري نېکي بدله کي لس ښېګڼي دي؛ تر اوو سوو زيات والي پوري او تر ډېرو زياتوالو پوري؛ او روژه زما لپاره ده زه به ئې بدله ورکوم.
- همدا راز د بخاري روايت دا برخه لِكُلِّ عَمَلٍ كَفَّارَةٌ په مسند احمد کي په دې صيغه راغلې كُلُّ الْعَمَلِ كَفَّارَةٌ: هر عمل کفاره او جبيره ده؛ يعني هر عمل د يوه څه د جبران سبب شي؛ د انسان يو عيب اصلاح، يو نقص رفع، يوه غلطي تصحيح او يوه ګناه جبيره کړي؛ دا فقره واضح مفهوم افاده کوي او هغه بله مبهمه ده.

د دې روايت په اړه څو پوښتونو ته بايد ځواب وويل شي:

١- په روايت کي د دې فقرې مطلب او معنی څه ده: يَرْوِيهِ عَنْ رَبِّكُمْ عَزَّ

وَجَلَّ؟ آيا دا مطلب په قرآن کي راغلی او که رسول الله صلی الله علیه و سلم ته مستقله وحی شوې؟ د اهل روايت ادعاء خو به حتماً دا وي چي ګواکي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د بېلي او مستقلي وحي په ترڅ کي ويل شوي!! خو هغوی له ځانه دا خبره کوي او د خپلي ادعاء لپاره هيڅ ثبوت نه لري؛ دا ټول په قرآن کي راغلي.

٢- آيا د روايت دا فقره «كُلُّ الْعَمَلِ كَفَّارَةٌ»؛ په قرآن کي مومو که نه؟

٣- آيا دا مطلب هم په قرآن کي مومو: يَا ابْنَ آدَمَ، بِكُلِّ حَسَنَةٍ عَشْرُ حَسَنَاتٍ إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ إِلَى أَضْعَافٍ كَثِيرَةٍ؟

ځواب دا دئ:

هو؛ دا مطالب ټول په قرآن کي راغلي؛ اړوند آيتونه ئې دا دي:

مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلا يُجْزَى إِلا مِثْلَهَا وَهُمْ لا يُظْلَمُونَ ﴿١٦٠﴾ الأنعام

څوك چي نېكي وكړي نو ده ته ئې لس برابره بدله ده او څوك چي بد كار وكړي نو يوازي وَرته سزا به وركول كېږي او ظلم به نه پرې كېږي.

يعني له بنده سره د الله تعالی معامله په عدل او فضل ولاړه ده، چا چي نېك كار وكړ الله تعالی د خپل فضل له مخي لس برابره بدله وركوي او چا چي بد كار وكړ د خپل عدل له مخي ګناه ته ورته سزا وركوي.

مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنْبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنْبُلَةٍ مِائَةُ حَبَّةٍ وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٦١﴾ البقرة

د هغو كسانو مثال چي خپل مالونه د الله په لار کي لګوي؛ هغي دانې ته ورته دئ چي اوه وږي راوټوكوي، په هر وږي کي سل دانې او الله چي چا ته وغواړي ورته مضاعف كوي ئې او الله ښه پوه د وسعت

خاوند دئ.

یعني څوك چې خپل مال د الله په لار کې لګوي، دا کار د ده پر زړه، دماغ او شخصیت ژوري اغېزې او اثرات پرېږدي، ډېر ناوړه او خراب صفات او عادات ئې په غوره صفاتو او عاداتو بدلوي، حرص، بخل، له مال سره افراطي مینه، کبر، د مال له کبله په بل د لویې احساس، بې وزله او نادار انسان ته په سپکه سترګه کتل او ډېر نور اخلاقي رذائل له منځه وړي او پر ځای ئې ترحم، زړه سوی، ایثار، قناعت، په حلال رزق اکتفاء او ډېرو نورو انساني ارزښتونو او اخلاقو ته وده ورکوي، په پورتنې آیت کې د انفاق دا اثرات هومره ژور او پراخ ګڼل شوي لکه یوه دانه چې اوه داسې وږي راشنه کړي چې په هر یوه کې ئې سل دانې وي او تر دې هم زیات، دا ځکه چې الله ﷻ یوه د وسعت خاوند دئ،

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ۝٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا ۝٧١﴾ النساء

اې هغو چې ایمان ئې راوړی! د الله پروا وکړئ او په صفا او سمې وینا سره وینا کوئ؛ چې په دې سره به ستاسو عملونه درته اصلاح کړي او ګناهونه به مو درته وبخښي؛ او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړ نو یقیناً چې په سترې بریا سره بریالی شو.

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَتَّقُوا اللَّهَ يَجْعَلْ لَكُمْ فُرْقَانًا وَيُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ۝٢٩﴾ الأنفال

اې مؤمنانو! که تقوی وکړئ؛ الله تعالی به فرقان درکړي، بدي به مو له منځه یوسي او بخښنه به درته وکړي او الله د لوی فضل خاوند دئ.

یعني د تقوی په نتیجه کې به الله تعالی څو عنایات ستاسو په برخه کړي:

• داسي روڼ څراغ، دقيق محك او معيار، ژور بصيرت او فراست درکوي چي کولی شئ په هغه سره په پوره آسانۍ د حق او باطل، ښه او بد، مفيد او مضر، دوست او دښمن تر منځ توپير وکړئ او په هر وخت او هر حالت کي مناسبه فيصله وکړئ او ګټور تصميم ونيسئ. د ژورو حقائقو ادراك، د نظر وسعت، په پيچليو مسائلو او پداسي قضاياوو پوهېدل چي د سطحي نظر خاوندان ئې نه شي درك کولی، د تقوی نتيجه ده.

• ستاسو ناخوالي له به منځه يوسي، ستاسو فردي او اجتماعي وضعيت به اصلاح کړي، د سيئاتو او بديو هغه توري ورېځي به له منځه يوسي چي ستاسو پر فردي او اجتماعي ژوند ئې خپل وزر غوړولی.

• ستاسو ګناهونه به درته وبخښي. دې ته مو بايد پام وي چي د تکفير السيئات او تغفير الذنوب تر منځ توپير شته؛ يو ئې د ناخوالو او بدو خصلتونو د له منځه وړلو په معنی او بل ئې د ګناهونو د بخښني په معنی دئ.

لا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُمُ الْأَيْمَانَ فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ أَهْلِيكُمْ أَوْ كِسْوَتُهُمْ أَوْ تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ ذَلِكَ كَفَّارَةُ أَيْمَانِكُمْ إِذَا حَلَفْتُمْ ... ﴿٨٩﴾ المائدة

الله مو په لغو او خوشي قسمونو نه نيسي؛ خو په هغو قسمونو مو نيسي چي تړون مو پرې کلك کړی؛ نو کفاره ئې لسو مسکينانو ته د هغه طعام اوسط ورکول دي چي خپل ټبر ته ئې ورکوئ؛ يا جامې ورکول او يا د يوه مريي آزادول؛ نو چا چي دا ونه موندل نو درې ورځي روژه نيول دي؛ چي کله هم لوړه وکړئ؛ نو دا ستاسو د لوړو کفاره ده.

نو د دې وينا (ستاسو له رب روايت کوي او وايي: ټول عملونه کفاره

دي او روژه زما لپاره ده؛ زه به ئې بدله ورکوم)؛ معنی همدا پورتنی مطلب دئ؛ نه هغه څه چي اهل حديث ئې ادعاء کوي.

٦ باب: څوک چي په زنا کي د واقع کېدو وېره لري نو روژه دي نيسي

٩٢٧ ـ عَنْ عَبْدِاللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «مَنِ اسْتَطَاعَ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ». (بخارى: ١٩٠٥)

٩٢٧ - له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ملګري وو چي وئې فرمايل: ((څوک چي د نكاح وس لري نكاح دې وکړي؛ ځکه نكاح (له حرام نظره) د سترګو ساتونکې او د فرج (شرم ځايونو) مهاروونکې ده؛ خو که څوک د نكاح وس نه لري؛ نو پر هغه روژه لازمه ده؛ ځکه هغه د شهوت ماتونکې ده.

دا روايت په بخاري کې ۳ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٩٠٥ - ٥٠٦٥ - ٥٠٦٦؛ مطلق غريب دئ؛ په ٤ طبقو کې يو يو راوي لري چي دا دي: الأَعْمَش، إِبْرَاهِيم، عَلْقَمَة او عَبْد اللَّهِ بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. درې واړه د متن او سند له پلوه سره ورته دي.

٧ باب: د مياشتې په ليدو روژه نيسئ او په ليدو ئې عيد کوئ

٩٢٨ ـ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ لَيْلَةً فَلا تَصُومُوا حَتَّى تَرَوْهُ فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا الْعِدَّةَ ثَلاثِينَ». (بخارى: ١٩٠٧)

٩٢٨ - له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((مياشت نه ويشت شپې وي؛ تر هغه چي سپوږمۍ مو نه وي ليدلې؛ روژه مه نيسئ او که سپوږمۍ د ورېځي

يا غبار له امله ونشئ ليدلى؛ نو دېرش ورځي پوره کړئ)).

٩٢٩ ـ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رضى الله عنها أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آلَى مِنْ نِسَائِهِ شَهْرًا، فَلَمَّا مَضَى تِسْعَةٌ وَعِشْرُونَ يَوْمًا غَدَا أَوْ رَاحَ فَقِيلَ لَهُ: إِنَّكَ حَلَفْتَ أَنْ لا تَدْخُلَ شَهْرًا فَقَالَ: «إِنَّ الشَّهْرَ يَكُونُ تِسْعَةً وَعِشْرِينَ يَوْمًا». (بخارى: ١٩١٠)

٩٢٩ – له ام سلمه رضي الله عنها روايت دئ چي: يو ځل رسول الله صلى الله عليه و سلم له خپلو مېرمنو سره يوه مياشت ايلاء (مقاطعه) وکړه؛ کله چي نه ويشت ورځي تېري شوې؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم سهار يا له غرمې وروسته خپلو مېرمنو ته راغی؛ ورته وويل شول: تاسو خو قسم خوړلی وو چي يوه مياشت به له خپلو مېرمنو سره نه يو ځای کېږې؟ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (مياشت نه ويشت ورځي وي).

## ٨ باب: د عيدونو مياشتي نه کمېږي

٩٣٠ ـ عَنْ أَبِي بَكْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «شَهْرَانِ لا يَنْقُصَانِ: شَهْرَا عِيدٍ رَمَضَانُ وَذُو الْحَجَّةِ». (بخارى: ١٩١٢)

٩٣٠ – ابو بکرة رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه و سلم روايت کوي چي فرمايلي ئې دي: ((دوې مياشتي داسي دي چي نه کمېږي: د عيدونو دوه مياشتي: رمضان او ذوالحجه)).

دلته هغو دوو مياشتو ته اشاره شوې چي له عيدونو سره تړاو لري؛ د روژې مياشت چي د فطر (کمکی) عيد ورپسې دئ او ذو الحجه چي لوی اختر په کي دئ. د دې معنی څه ده چي دا مياشتي نه کمېږي؟ آيا معنی ئې دا ده چي دا دواړه به دېرش دېرش ورځي وي؟ او که دا چي دواړه هممهاله نه کمېږي؛ داسي چي دواړه به په يوه کال کي له دېرشو نه کمېږي؛ يعني که يوه کمه شي بله به بشپړه وي؟ او که معنی ئې له دې دواړو پرته بل څه ده؟ دقيقه رأی دا ده چي د مياشتو عمر برابر

دئ همغه څه دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي؛ ۲۹ ورځي او انسانان اوس پرې پوه شوي چي عمر ئې دېرش نه بلكي ۲۹,۵ ورځي دئ؛ او ټولي په بشپړه توگه سره برابري دي؛ يوه ثانيه توپير هم په کې نه شته؛ د کمېدو معنی دا ده چي که د روژې مياشتي پيل کې سپوږمۍ ونه ليدل شوه او په نتيجه کې ئې تاسو ۲۹ ورځي روژه ونيوله؛ په روژې کې مو هيڅ کمی او نقصان نه دئ رامنځته شوی او که د ذي الحجې سپوږمۍ د ورېځو او غبار له کبله ونه ليدل شوه او تاسو د حج په سفر ولاړئ او د همدې مياشتي په نهمه مو له عرفات د حج مناسك پيل او بشپړ کړل؛ او وروسته داسي معلومه شوه چي دا ورځ د ذي الحجې نهمه نه وه؛ نو ستاسو حج مقبول او منل شوی او کوم نقصان او کمی نه دئ په کې راغلی.

امام بخاری رحمه الله له إِسْحَاق بن رَاهْوَيْه؛ همدا وينا نقل کړې: ذكره البخاري عن إسحق أنهما تامان في الأجر والثواب وإن نقصا في العدد.

**۹ باب: د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا قول: نه ليک کولی شو او نه حساب**

۹۳۱ ـ عن ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «إِنَّا أُمَّةٌ أُمِّيَّةٌ لا نَكْتُبُ وَلا نَحْسُبُ الشَّهْرُ هَكَذَا وَهَكَذَا يَعْنِي مَرَّةً تِسْعَةً وَعِشْرِينَ وَمَرَّةً ثَلاثِينَ». (بخاری: ۱۹۱۳)

۹۳۱ – له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((موږ نالوستي ولس يو؛ نه ليکل کولی شو او نه حسابول؛ مياشت داسي او داسي وي (د لاسونو گوتو ته ئې اشاره وکړه)؛ چي کله نه ويشت او کله دېرش ورځي وي).

د بخاري دا روايت له هغو دوه وو روايتونو (۱۹۰۷ او ٦۱۹۱) سره تعارض لري چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: مياشت

نه ویشت شپې وي؛ د دواړو لومړی راوي هم عبد الله بن عمر رضي الله عنهما دئ؛ کوم یو ئې صحیح دئ؟؛ بخاري نه دئ په ګوته کړی؛ څه به کوو؛ د دوو متعارضو روایاتو له منځه یوازي یو به ئې احتمالاً صحیح وي؛ دې ته په پام سره چي نن علماً ثابته شوې چي قمري میاشتي دقیقاً ۲۹ ورځي ۱۲ ساعتونه، ٤٤ دقیقې او ۳ ثانیې وي؛ نو همغه روایت صحیح دئ چي دغه خبره کوي.

## ۱۰ باب: له رمضان یوه یا دوې ورځي مخکي روژه نه شته

٩٣٢ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لا يَتَقَدَّمَنَّ أَحَدُكُمْ رَمَضَانَ بِصَوْمِ يَوْمٍ أَوْ يَوْمَيْنِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ رَجُلٌ كَانَ يَصُومُ صَوْمَهُ فَلْيَصُمْ ذَلِكَ الْيَوْمَ». (بخارى: ١٩١٤)

٩٣٢ - له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي نبي صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((له تاسو دي هیڅوک له رمضان یوه یا دوه ورځي وړاندي روژه نه نیسي؛ مګر هغه چي (په همدغو ورځو کي ئې عادتاً) روژه نیوله؛ نو هغه دي روژه ونیسي)).

یعني د شك روژه نه شته؛ خو هغه څوك چي عادتاً د اونۍ په کومو ورځو کي روژه نیسي او همدا ورځي ئې د شك له ورځو سره برابري شي نو کولی شي خپله عادي روژه ونیسي؛ خو نه د روژې د میاشتي په نیت بلکي د مخکینیو عادي روژو په نیت.

## ۱۱ باب: د الله دا قول: (أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَائِكُمْ)

٩٣٣ ـ عَنِ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَا لَ: كَانَ أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ الرَّجُلُ صَائِمًا فَحَضَرَ الإِفْطَارُ فَنَامَ قَبْلَ أَنْ يُفْطِرَ لَمْ يَأْكُلْ لَيْلَتَهُ وَلا يَوْمَهُ حَتَّى يُمْسِيَ وَإِنَّ قَيْسَ بْنَ صِرْمَةَ الأَنْصَارِيَّ كَانَ صَائِمًا فَلَمَّا حَضَرَ الإِفْطَارُ أَتَى امْرَأَتَهُ فَقَالَ لَهَا: أَعِنْدَكِ طَعَامٌ؟ قَالَتْ لا وَلَكِنْ أَنْطَلِقُ فَأَطْلُبُ لَكَ وَكَانَ يَوْمَهُ يَعْمَلُ فَغَلَبَتْهُ

عَيْنَاهُ فَجَاءَتْهُ امْرَأَتُهُ فَلَمَّا رَأَتْهُ قَالَتْ: خَيْبَةً لَكَ فَلَمَّا انْتَصَفَ النَّهَارُ غُشِيَ عَلَيْهِ فَذُكِرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةَ: (أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَائِكُمْ) فَفَرِحُوا بِهَا فَرَحًا شَدِيدًا وَنَزَلَتْ: (وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ). (بخارى: ١٩١٥)

٩٣٣ - براء رضي الله عنه وايي: د محمد صلى الله عليه و سلم اصحاب داسي وو چي كه به كوم سړي روژه نيولې وه او روژه ماتى به تيار شو او دى به تر روژه ماتولو وړاندي ويده شو؛ نو نه به ئې په همدغه شپه څه خوړل او نه سبا ورځ؛ تر هغه چي بل ماشام به پرې راغى؛ قيس بن صِرمَه انصاري رضي الله عنه روژه وو، د روژه ماتي وخت شو، خپلي مېرمني ته ورغى او ورته وئې ويل: څه خواړه درسره شته؟ وئې ويل: نه؛ خو ځم چي درته وئې لټوم؛ قيس به د ورځي له لوري كار كولو؛ نو خوب پرې غالب شو؛ (سترگي ئې ويده شوې)؛ نو مېرمن ئې راغله او چي دى ئې وليد؛ وئې ويل: افسوس ستا پر حال؛ سبا چي ورځ نيمايي شوه بې سده شو؛ دا پېښه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ياده شوه؛ نو دا آيت نازل شو: أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَائِكُمْ: د روژې په شپه كې له خپلو مېرمنو سره نژدېكت (مباشرت) درته حلال كړى شوى؛ نو ډېر پرې خوشحاله شول او دا آيت نازل شو: وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ: او وخورئ وڅښئ تر هغه چي د سباوون سپينه گاره له توري درته جوته شي؛

له روايت داسي معلومېږي لكه چي يوازي يوه صحابي همدا كار كړى وي او آيت هم د ده په ارتباط نازل شوى وي!! خو د قرآن له آيت په واضح توگه معلومېږي چي د صحابه وو ډېرو همداسي انگېرله.

## ١٢ باب: د الله تعالى دا قول: ((وَكُلُوا وَاشْرَبُوا. . .))

٩٣٤ ـ عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ: (حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ

الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ) عَمَدْتُ إِلَى عِقَالٍ أَسْوَدَ وَإِلَى عِقَالٍ أَبْيَضَ فَجَعَلْتُهُمَا تَحْتَ وِسَادَتِي، فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ فِي اللَّيْلِ فَلا يَسْتَبِينُ لِي فَغَدَوْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْتُ لَهُ ذَلِكَ فَقَالَ: «إِنَّمَا ذَلِكَ سَوَادُ اللَّيْلِ وَبَيَاضُ النَّهَارِ».
(بخارى: ١٩١٦)

٩٣٤ - عدي بن حاتِم رضي الله عنه وايي: كله چي دا آيت نازل شو (حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ...) نو ما يو تور تار او يو سپين تار راواخيستل او تر بالښت لاندې مي کښېښودل، د شپې مي ورته کتل؛ خو نه راته جوتېدل؛ نو سهار رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورغلم او دا کيسه مي ورته وکړه؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ((دا د شپې تياره او د ورځي رڼا ده (يعني د شپې او ورځي هغه دوه کرښي دي چي د سباوون په پيل او د ماښام لوري ته ليدل کېږي).

## ١٣ باب: د پېشلمي او سهار لمانځه تر منځ څومره وخت وي

٩٣٥ ـ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: تَسَحَّرْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَامَ إِلَى الصَّلاةِ قُلْتُ: كَمْ كَانَ بَيْنَ الأَذَانِ وَالسَّحُورِ؟ قَالَ: قَدْرُ خَمْسِينَ آيَةً.
(بخارى: ١٩٢١)

٩٣٥ - زيد بن ثابت رضي الله عنه وايي: پېشلمى مو له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره وکړ؛ بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم لمانځه ته پاڅېد. ومي ويل: د آذان او پېشلمي تر منځ څومره وخت وو؟ وئې ويل: د پنځوسو آيتونو (د تلاوت) په اندازه.

په روايت کې يوازي د ٥٠ آيتونو خبره شوې؛ نه دا ويل شوي چي د ٥٠ آيتونو تلاوت او نه دا چي مراد ئې لنډ، متوسط که اوږده آيتونه دي او دا هم نه ترې معلومېږي چي دا د ګهيځ لمانځه آذان وو او که د سحري د پای اعلان. دا مطالب بايد د روايت په شرح کې وويل شي.

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ۵ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: مُسْلِم بْن إِبْرَاهِيم، هِشَام، قَتَادَة، أَنَسٍ او زَيْدِ بْنِ ثَابِت رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

د روژې د پیل او پای په اړه د قرآن وینا ډېره واضح او کافي ده؛ د سباوون تر راختو پورې ئې د مباشرت، خوراك او څښاك اجازه ورکړې؛ او فرمایي:

... فَالآنَ بَاشِرُوهُنَّ وَابْتَغُوا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ ... ﴿١٨٧﴾ البقرة

...نو اوس له دوی سره مباشرت کوئ او هغه څه وغواړئ چې الله درته مقدر کړي (د اولاد درلودو په نیت نژدې والی وکړئ) او وخورئ او وڅښئ تر هغه چې د سباوون سپینه کرښه له توري درته څرګنده شي؛ بیا مو روژه تر شپې پورې پوره کړئ...

له دې لارښوونې په بشپړ وضاحت سره معلومېږي چې د پېشلمي پای د سباوون تر راختو پورې دئ او د روژې پای د لمر تر لوېدو پورې دئ؛ یعني روژه د سباوون د سپیني ګاري له راڅرګندېدو د شپې تر پیل پورې ده؛ شپه د لمر په لوېدو سره پیل کېږي.

د زید بن ثابت رضي الله عنه له روایت یوازې دومره معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې په یوه پېشلمي کې داسې لیدلی چې له پېشلمي د سحر تر أذان پورې د ۵۰ آیتونو د تلاوت په اندازه فاصله وه؛ که دا د ۳۰ جزء د آیتونو په څېر لنډ لنډ وي؛ نو له ۵ تر ۱۰ دقیقو پورې نیسي؛ او که اوږده آیتونه وي نو د دې ٤- ۵ برابره زیات وخت نیسي؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم له لارښوونو په واضح توګه معلومېږي چې که أذان هم وشي او د چا په لاس کې اوبه وي او وئې څښي؛ په روژې کې ئې خلل نه رامنځته کېږي. (مشروط په دې چې أذان کې ځنډ نه وي شوی).

## ١٤ باب: پېشلمی برکت لري؛ خو واجب نه دئ

٩٣٦ ـ عن أَنَس بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَسَحَّرُوا فَإِنَّ فِي السَّحُورِ بَرَكَةً». (بخاری: ١٩٢٣)

٩٣٦ - له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: ((پېشلمی کوئ ځکه په پېشلمي کي برکت دئ)).

په پېشلمي کي هم له دې کبله برکت وي چي روژه به درته آسانه کړي؛ له تندي او لوږي به نه کړېږې او له دې پلوه هم چي کولی شې څو رکعته لمونځ وکړې يا تلاوت او دعاء.

## ١٥ باب: څوک چي د ورځي د روژې نيت وکړي

٩٣٧ ـ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ رَجُلاً يُنَادِي فِي النَّاسِ يَوْمَ عَاشُورَاءَ: «إِنَّ مَنْ أَكَلَ فَلْيُتِمَّ أَوْ فَلْيَصُمْ وَمَنْ لَمْ يَأْكُلْ فَلا يَأْكُلْ». (بخاری: ١٩٢٤)

٩٣٧ - له سلمه بن اکوع رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د عاشوراء په ورځ يو سړی ولېږو چي خلکو ته دا پيغام ورسوي: ((چا چي څه خوړلي وي؛ نو پاته ورځ دي بشپړه کړي او يا دا چي روژه دي ونيسي او چا چي څه نه وي خوړلي هغه دي څه نه خوري (د روژې نيت دي وکړي)).

د دې روايت په اړه ګڼ شمېر پوښتني راولاړېږي چي ځواب ايجابوي:

- له روايت معلومېږي چي د عاشوراء ورځي له روژې؛ نه رسول الله صلی الله عليه و سلم خبر وو او نه صحابه؛ په همدغه ورځ خبر شوی او د خلکو د خبرولو لپاره ئې څوك لېږلی. که خبر وی نو ډېر وړاندي به ئې صحابه وو ته ويلي وو؛ له ځينو رواياتو همدا معلومېږي چي رسول

الله صلى الله عليه و سلم په مدينه کې يهودان ليدلي يا چا ورته ويلي چې دوی په دې ورځ روژه نيسي؛ او دا ځکه چې گمان کوي موسی عليه السلام په دې ورځ بريالی شوی او فرعون غرق شوی؛ نو رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي چې موږ تر دوی ډېر احق يو چې دا ورځ روژه ونيسو؛ ... دا ئې هم ويلي چې له دوی سره د عدم مشابهت لپاره به راتلونکی کال يوه بله ورځ هم پرې علاوه کوو؛ خو تر دې وړاندې ئې رحلت وکړ. او له دې معلومېږي چې دا کار د رسول الله صلی الله عليه و سلم د حيات په آخري کال کې شوی!! دا روايات له هغو سره تناقض لري چې وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم حتی په مکه کې دا روژه نيوله؛ او قريشو به هم نيوله او گواکې قريشو به همدغه ورځ پر کعبې نوی غلاف غوړولو. کوم يو ئې صحيح دئ؟

- دا روژه نه فرض ده او نه واجب؛ د فرضيت لپاره هيڅ دليل نه مومو؛ نه په قرآن کې او نه د رسول الله صلی الله عليه و سلم په لارښوونو کې؛ که فرض وی نو رسول الله صلی الله عليه و سلم به حتماً صحابه پرې خبر کړي وو؛ ولې به ئې له سباوون وروسته څوك لېږلو چې خلك خبر کړې.
- څوك چې د ورځې په پيل کې څه وخوري؛ او پاته ورځ روژه شي؛ په دې روژې ئې فرضي ذمه نه اداء کېږي؛ بايد قضائي روژه ونيسي؛ خو که يوازې نيت ترې پاته وي او څه ئې نه وي خوړلي نو په نيت سره ئې روژه مقبوله ده.

بايد ووايو: عاشوراء هم يوه له هغو مسائلو ده چې په اړه ئې په امت کې د شديد اختلاف شاهد يو، دا اختلافات يا سياسي جرړې لري او يا له متعارضو او متضادو رواياتو راولاړ شوي. تر دې د مخه چې وگورو د عاشوراء اړوند روايات څه وايي، کوم يو ئې صحيح او د اعتبار وړ دئ او کوم ئې جعلي، موضوعي، ضعيف او بې اعتباره، د قرآن او سنت په رڼا کې د عاشوراء په اړه څه ويلی شو او په دې ورځ څه کول جائز او څه

ناجائز ګڼلی شو؛ باید هغو کرکجنو او د اسلام د بنسټیزو اصولو خلاف او د اسلام د روح او مزاج ضد اعمالو ته اشاره وکړو چې ځیني خلك ئې د مذهب تر نامه لاندې په دې ورځ ترسره کوي او هغه د ثواب کار او جنت ته د رسېدو وسیله بولي؛ داسې اعمال چې نه په قرآن کې ورته جواز موندلی شو، نه په سنت کې او نه د صحابه وو په منهج کې، نه له عقل سره اړخ لګوي او نه د یوه سلیم الفطرت انسان له مذهبي احساس سره.

د عاشوراء ورځ او مراسم ئې یهودي بنسټ لري؛ دوی معتقد دي چې د کال د لومړۍ میاشتې لسمه هغه ستره ورځ ده چې موسی علیه السلام او بني اسرائیل د فرعون له سلطې ژغورل شوي او فرعون غرق شوی؛ سپېڅلې ئې ګڼي او لمانځی ئې. په بایبل کې د فصح عید په نامه یو باب دئ چې همدې ورځې ته ځانګړی شوی؛ د فصح عید تر عنوان لاندې داسې کاږي:

"د فصح عید"

"خدای موسی او هارون ته وویل: له دې وروسته به ستاسو لپاره دا میاشت د کال لومړۍ او تر ټولو مهمه میاشت وي... هر کال به د دې میاشتې په لسمه هره کورنۍ یو وری تیاروي، که د کورنۍ شمېر کم وي؛ نو په خپل ګاونډ کې دې له بلې وړې کورنۍ سره ګډ شي، دا وری یا سېرلی به نر، بې عیبه او یو کلن وي، د همدې میاشتې د څوارلسمې په مازدیګر دې ټول اسرائیلیان دا وري قرباني کړي او د هغوی وینې دې د دروازو د ولاړو تیرانو او د هغو خونو د دروازو پر سر وشیندې چې د وري غوښه په کې خوړل کېږي... په همدې شپه دې دا غوښه وریته کړي او له پتیري ډوډۍ او ترخو سابه سره دې وخوري، غوښه به اومه او په اوبو کې پخه شوې نه خوري، بلکې ټوله به د سر، پښو، زړه او ینې په شمول وریته او ټوله به د همدې شپې تر سهاره خوري، که څه پاته شوه هغه به سوزوي (د دې لپاره چې غیر یهودي ته ئې تر پاته کېدو سوزول غوره دي)، د وري له خوړلو مخکې به خپلې څپلۍ په پښو کوئ، خپله عصا به

په لاس کې نیسئ او د سفر لپاره به تیاریږئ...دا مراسم به د خدای فصح په نامه یادیږي، دا ځکه چې زه خدای یم او نن شپه به د مصر له سیمې تېرېږم او د مصریانو ټول مشران زامن او د دوی د څارویو لومړي پیدا شوي بچیان به وژنم او د دوی خدایانو ته به سزا ورکوم، کومې وینې چې تاسو د دروازو پر تیرانو شیندلې دا به د دې نښه وي چې دا کورونه ستاسي دي، زه به ئې په همدې سره پېژنم، له هغوی به تېرېږم او یوازې مصریان به وژنم!!! هر کال به د دې ورځې په یاد جشن نیسئ، په دې جشن کې چې اوه ورځې به وې یوازې پتیره ډوډۍ خورئ، په لومړۍ ورځ به خمیره له کوره بهر وړئ... ځکه که څوك په دغو ورځو کې د خمیره شوو وړو ډوډۍ وخوري له اسرائیلیانو به شړل کېږي، په لومړۍ او اومه ورځ به ټول په ګډه د خدای عبادت کوئ، په دغو دوو ورځو کې به د خوراك له برابرولو پرته بل هیڅ کار نه کوئ!! بایبل دلته دا خبره درې ځلې تکراروي چې په دغو اوه ورځو کې به یوازې پتیره ډوډۍ خورئ، په کور کې به خمیره نه ساتئ، چا چې خمیره ډوډۍ وخوړله له اسرائیلیانو به طرد کېږي!!! دا به تر ابده پر تاسو واجب وي... دا د دې لپاره چې په دغې ورځې ما له مصر وژغورلئ!!! "

راشئ وګورو چې په روایاتو کې د عاشوراء په ارتباط څه راغلي. په دې اړه د بخاري یو روایت دا دئ:

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: «كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُهُ فَلَمَّا قَدِمَ المَدِينَةَ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ كَانَ رَمَضَانُ الفَرِيضَةَ، وَتُرِكَ عَاشُورَاءُ، فَكَانَ مَنْ شَاءَ صَامَهُ وَمَنْ شَاءَ لَمْ يَصُمْهُ» فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ كَانَ رَمَضَانُ الْفَرِيضَةَ وَتُرِكَ عَاشُورَاءُ فَكَانَ مَنْ شَاءَ صَامَهُ وَمَنْ شَاءَ لَمْ يَصُمْهُ. بخارى

له عائشې (رضي الله عنها) روایت دئ چې وایي: قریشو به د جاهلیت په زمانه کي د عاشوراء په ورځ روژه نیوله او رسول الله (صلی الله علیه

وسلم) به هم په دې ورځ روژه نيوله او كله چې ئې مدينې ته هجرت وکړ نو بيا ئې هم دا ورځ روژه نيوله او نورو ته ئې د روژې نيولو امر وکړ خو كله چې د رمضان روژه فرض شوه نو د عاشوراء د ورځې روژه ئې پرېښوده بيا د هر چا خپله خوښه وه چې په دې ورځ ئې روژه نيوله او كه نه.

دا روايت په بخاري كې شپږ ځلې نور په دغو شمېرو راغلی: ١٥٩٢، ١٨٩٣، ٢٠٠١، ٢٠٠٢، ٣٨٣١، ٤٥٠٢، د دغو رواياتو تر منځ جدي او ژور توپيرونه او تعارضات تر سترګو كېږي، دومره چې يو په هغه صورت كې ترې غوره كولی شو چې نور ټول رد کړو، په ځينو كې ويل شوي كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ په بل كې كَانُوا يَصُومُونَ عَاشُورَاءَ قَبْلَ أَنْ يُفْرَضَ رَمَضَانُ، وَكَانَ يَوْمًا تُسْتَرُ فِيهِ الْكَعْبَةُ، په بل كې صَامَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم عَاشُورَاءَ، وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ. فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ تُرِكَ، په بل كې أَنَّ قُرَيْشًا كَانَتْ تَصُومُ يَوْمَ عَاشُورَاءَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، ثُمَّ أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم بِصِيَامِهِ حَتَّى فُرِضَ رَمَضَانُ په بل كې كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَمَرَ بِصِيَامِ يَوْمِ عَاشُورَاءَ، فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ كَانَ مَنْ شَاءَ صَامَ، وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ. په بل كې كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ، وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ، فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ تَرَكَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ، فَمَنْ شَاءَ صَامَهُ، وَمَنْ شَاءَ تَرَكَهُ. په بل كې كَانَ عَاشُورَاءُ يَوْمًا تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ كَانَ مَنْ شَاءَ صَامَهُ، وَمَنْ شَاءَ لاَ يَصُومُهُ په بل كې كَانَ عَاشُورَاءُ يَصُومُهُ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ قَالَ « مَنْ شَاءَ صَامَهُ، وَمَنْ شَاءَ لَمْ يَصُمْهُ » په بل كې كَانَ عَاشُورَاءُ يُصَامُ قَبْلَ رَمَضَانَ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ قَالَ «مَنْ شَاءَ صَامَ، وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ» په بل كې قَدِمَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ، فَرَأَى الْيَهُودَ

تَصُومُ يَوْمَ عَاشُورَاءَ، فَقَالَ « مَا هَذَا ». قَالُوا هَذَا يَوْمٌ صَالِحٌ، هَذَا يَوْمٌ نَجَّى اللهُ بَنِى إِسْرَائِيلَ مِنْ عَدُوِّهِمْ، فَصَامَهُ مُوسَى. قَالَ «فَأَنَا أَحَقُّ بِمُوسَى مِنْكُمْ». فَصَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ. په بل كي قَالَ كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَعُدُّهُ الْيَهُودُ عِيدًا، قَالَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم «فَصُومُوهُ أَنْتُمْ» په بل كي لَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ وَجَدَهُمْ يَصُومُونَ يَوْمًا، يَعْنِى عَاشُورَاءَ، فَقَالُوا هَذَا يَوْمٌ عَظِيمٌ، وَهْوَ يَوْمٌ نَجَّى اللهُ فِيهِ مُوسَى، وَأَغْرَقَ آلَ فِرْعَوْنَ، فَصَامَ مُوسَى شُكْرًا لِلَّهِ. فَقَالَ « أَنَا أَوْلَى بِمُوسَى مِنْهُمْ ». فَصَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ. په بل كي أَنَّ النَّبِىَّ صلى الله عليه وسلم بَعَثَ رَجُلاً يُنَادِى فِى النَّاسِ، يَوْمَ عَاشُورَاءَ «أَنْ مَنْ أَكَلَ فَلْيُتِمَّ أَوْ فَلْيَصُمْ، وَمَنْ لَمْ يَأْكُلْ فَلاَ يَأْكُلْ په بل كي أَرْسَلَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم غَدَاةَ عَاشُورَاءَ إِلَى قُرَى الأَنْصَارِ «مَنْ أَصْبَحَ مُفْطِرًا فَلْيُتِمَّ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ، وَمَنْ أَصْبَحَ صَائِمًا فَلْيَصُمْ». قَالَتْ فَكُنَّا نَصُومُهُ بَعْدُ، وَنُصَوِّمُ صِبْيَانَنَا، وَنَجْعَلُ لَهُمُ اللُّعْبَةَ مِنَ الْعِهْنِ، فَإِذَا بَكَى أَحَدُهُمْ عَلَى الطَّعَامِ أَعْطَيْنَاهُ ذَاكَ، حَتَّى يَكُونَ عِنْدَ الإِفْطَارِ. په بل كي قَالَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم يَوْمَ عَاشُورَاءَ «إِنْ شَاءَ صَامَ» په بل كي أَمَرَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم رَجُلاً مِنْ أَسْلَمَ أَنْ أَذِّنْ فِى النَّاسِ « أَنَّ مَنْ كَانَ أَكَلَ فَلْيَصُمْ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ أَكَلَ فَلْيَصُمْ، فَإِنَّ الْيَوْمَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ» په بل كي أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ لِرَجُلٍ مِنْ أَسْلَمَ «أَذِّنْ فِى قَوْمِكَ أَوْ فِى النَّاسِ يَوْمَ عَاشُورَاءَ أَنَّ مَنْ أَكَلَ فَلْيُتِمَّ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ أَكَلَ فَلْيَصُمْ » په ځينو كي ويل شوي: مَا رَأَيْتُ النَّبِىَّ صلى الله عليه وسلم يَتَحَرَّى صِيَامَ يَوْمٍ فَضَّلَهُ عَلَى غَيْرِهِ، إِلاَّ هَذَا الْيَوْمَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ وَهَذَا الشَّهْرَ. يَعْنِى شَهْرَ رَمَضَانَ !! په ځينو كي قَالَ دَخَلَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ وَإِذَا أُنَاسٌ مِنَ الْيَهُودِ يُعَظِّمُونَ عَاشُورَاءَ وَيَصُومُونَهُ فَقَالَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم « نَحْنُ أَحَقُّ بِصَوْمِهِ ». فَأَمَرَ بِصَوْمِهِ. په بل كي قَالَ لَمَّا قَدِمَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ وَجَدَ الْيَهُودَ يَصُومُونَ عَاشُورَاءَ، فَسُئِلُوا عَنْ ذَلِكَ، فَقَالُوا هَذَا الْيَوْمُ الَّذِى أَظْفَرَ اللهُ فِيهِ مُوسَى وَبَنِى إِسْرَائِيلَ عَلَى فِرْعَوْنَ، وَنَحْنُ نَصُومُهُ تَعْظِيمًا لَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ

صلی الله علیه وسلم « نَحْنُ أَوْلَى بِمُوسَى مِنْكُمْ ». ثُمَّ أَمَرَ بِصَوْمِهِ. په بل کې قَدِمَ النَّبِیُّ صلی الله علیه وسلم الْمَدِینَةَ وَالْیَهُودُ تَصُومُ عَاشُورَاءَ فَقَالُوا هَذَا یَوْمٌ ظَهَرَ فِیهِ مُوسَى عَلَى فِرْعَوْنَ. فَقَالَ النَّبِیُّ صلی الله علیه وسلم لأَصْحَابِهِ « أَنْتُمْ أَحَقُّ بِمُوسَى مِنْهُمْ، فَصُومُوا ». په بل کې لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صلی الله علیه وسلم الْمَدِینَةَ، وَالْیَهُودُ تَصُومُ عَاشُورَاءَ، فَسَأَلَهُمْ، فَقَالُوا هَذَا الْیَوْمُ الَّذِى ظَهَرَ فِیهِ مُوسَى عَلَى فِرْعَوْنَ، فَقَالَ النَّبِیُّ صلی الله علیه وسلم « نَحْنُ أَوْلَى بِمُوسَى مِنْهُمْ فَصُومُوهُ » په بل کې قَالَ صَامَ النَّبِیُّ صلی الله علیه وسلم عَاشُورَاءَ، وَأَمَرَ بِصِیَامِهِ. فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ تُرِكَ. وَكَانَ عَبْدُ اللهِ لاَ یَصُومُهُ، إِلاَّ أَنْ یُوَافِقَ صَوْمَهُ. په بل کې د دې خلاف ویل شوي: كَانَ یَوْمُ عَاشُورَاءَ تَعُدُّهُ الْیَهُودُ عِیدًا، قَالَ النَّبِیُّ صلی الله علیه وسلم « فَصُومُوهُ أَنْتُمْ » یعني یهودانو دا ورځ د عید په توګه لمانځله او رسول الله صلی الله علیه و سلم له هغوی سره د مخالفت ښودلو په توګه وویل چې تاسو روژه ونیسئ؛ او دا د ټولو نورو روایاتو خلاف دئ. په یوه روایت کې دا هم ویل شوي: وَكَانَ عَبْدُ اللهِ لاَ یَصُومُهُ، إِلاَّ أَنْ یُوَافِقَ صَوْمَهُ: عبد الله بن مسعود داسي وو چې په دې ورځ به ئې روژه نه نیوله؛ مګر دا چې د ده له عادي نفلي روژو سره به برابره شوه؛ په دې اړه د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه دریځ او منهج باید تر نورو غوره او دلائل ئې مضبوط وګڼو؛ دا ځکه چې هغه د رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه زوړ یار او ملګری وو چې هم په مکه کې ورسره وو او هم په مدینه کې؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم د مکې له حالت هم ښه خبر وو او د مدینې له حالت او وضعیت هم؛ نور مهم راویان؛ عبد الله بن عباس، ابن عمر، ابو هریره او انس رضي الله عنهم؛ یا د مدینې په وروستیو کلونو کې بلوغ ته رسېدلي او یا ئې همدا مهال ایمان راوړی؛ ولې به د عبد الله بن مسعود روایت او منهج نه منو؟

موږ په الله تعالی، رسول او قرآن ئې ایمان لرو؛ له قرآن او لارښوونو ئې پوه شوي وو چې د دې ستر او عظیم کتاب حامل حتماً د الله تعالی

رسول دئ؛ څه چي له هغه موږ ته په امانت سره رارسېدلي؛ د ثقه او معتبرو راویانو په لاس او پر صحت ئې د قرآن لارښووني شهادت ورکوي؛ له ځنډ او تعلل پرته ئې منو او عمل پرې کوو؛ خپل شخصي افکار، آراء، سلیقه او مزاج په دېوال وهو او لري ئې غورځوو. د صحت لپاره ئې دا کافي ګڼو چي په قرآن کي ورته شاهد ومومو یا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري؛ حتی که راوي ئې ضعیف هم وي؛ متن ته ئې په پام سره هغه منو؛ د قرآن په احترام ئې منو؛ د قرآن مطابق خبره چي د هر چا له لوري وي؛ په منلو کي ئې ځنډ نه کوو. هیڅکله به رسول الله صلی الله علیه و سلم ته متعارضي ویناوي منسوب نه کړو او له هیچا به ئې ونه منو؛ نه په قرآن کي متعارض آیتونه شته او نه د رسول الله صلی الله علیه و سلم په ویناوو کي؛ هغه د الله تعالی رسول دئ؛ شأن ئې تر دې ډېر لوړ چي په ویناوو او لارښوونو کي ئې تعارض وي؛ د یوه روایت د ضعف لپاره دا کافي ده چي مطالب ئې متعارض او یو د بل خلاف وي.

د دغو متعارضو روایاتو تر منځ؛ اجمالاً تعارضات او توپیرونه دا دي:

ځیني ئې وایي چي د عاشوراء روژه قریشو هم نیوله او رسول الله صلی الله علیه و سلم هم له همغه مهاله نیوله او ګواکي قریشو به په دغي ورځ پر کعبې نوی غلاف غوړاوو!! ځیني ئې وایي کله چي رسول الله صلی الله علیه و سلم مدینې ته راغی یهودان ئې ولیدل چي په دې ورځ روژه نیسي وئې پوښتل چي ولې په دې ورځ روژه نیسئ؟ هغوی وویل: دا یوه ستره ورځ ده، فرعون په کي غرق شوی او موسی علیه السلام ته بری ورپه برخه شوی، موږ د دغي ورځي د درناوي لپاره روژه نیسو، رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل چي موږ تر یهودانو زیات د دې وړ یو چي د دې ورځي درناوی وکړو، نو په خپله ئې هم د روژې نیول پیل کړل او نورو ته ئې هم امر وکړ، ځیني ئې وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم تر رحلت لږ وړاندي د دې روژې نیول پیل کړل، چا ورته وویل: دا خو له یهودانو سره شباهت راځي، رسول

الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: د شباهت ختمولو لپاره به راتلونکی کال یوه ورځ مخکې هم روژه نیسم، خو هغه د دغې ورځې تر بیا رارسېدو وړاندې رحلت وکړ!! ځیني ئې وایي: یهودانو به دغه ورځ د عید او خوشحالۍ د ورځې په توګه لمانځله، رسول الله صلی الله علیه و سلم له یهودو سره د مخالفت په موخه وفرمایل: چې تاسو په دې ورځ روژه ونیسئ!! ځیني ئې وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د عاشوراء د ورځې سحر مهال اعلان وکړ او کلیو ته ئې ځوك ولېږل چې خلك خبر کړي او ورته ووایي: چا چې څه نه وي خوړلي روژې ته دې دوام ورکړي او چا چې څه خوړلي وي تر ماښامه دې څه نه خوري!! ځیني ئې وایي چې د روژې تر فرضېدو پورې دا روژه نیول کېده خو د روژې له فرضېدو وروسته پرېښودل شوه او ځیني ئې د دې خبرې تر څنګ دا هم علاوه کوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: د هر چا خپله خوښه چې په دې ورځ روژه نیسي که نه!! په یوه کې دا هم ویل شوي چې قریشو به په دغې ورځ د روژې تر څنګ د کعبې غلاف هم بدلولو!!

د دغو متعارضو روایاتو له منځه د یوه انتخاب محال او ناممکن دئ، امام بخاري هم نه دي ویلي چې په دغو متعارضو او متضادو روایاتو کې کوم یو ئې د متن، محتوی او اسنادو له پلوه صحیح او تر نورو غوره دئ؛ او په کوم دلیل، د بخاري هیڅ شارح هم نه ویلي او نه ویلی شي چې کوم روایت تر نورو غوره دئ!! دا د یوه اصل په توګه په پام کې ولرئ چې کله د یوې موضوع په اړه متعارض روایات مومو داسي چې تر منځ ئې نه تلفیق ممکن وي او نه داسي دلیل موندلی شو چې یوه ته پر بل ترجیح ورکړو، په قرآن کې کوم شاهد ورته ونه مومو، په خپله دغو روایاتو کې هم د ترجیح وجه پیدا نه کړو نو په کار دا ده چې ټول یوې خوا ته پرېږدو، نه استناد پرې وکړو، نه ئې نورو ته ووایو او نه کوم یو د خپلې سلیقې له مخې غوره کړو.

د عاشوراء په اړه متعارضو روایاتو ته په پام سره؛ زه دې نتیجې ته رسېدلی یم چې نه په خپله په دې ورځ روژه نیسم او نه بل ته د روژې نیولو مشوره ورکوم، دا راته غوره برېښي چې نفلي روژې یوازې په دې توګه وي: د عرفې ورځ، د شوال میاشتي شپږ ورځې، ایام بیض (د هري میاشتي دیارلسمه، څوارلسمه او پنځلسمه)، هره دوشنبه او پنجشنبه او یوه ورځ تر منځ. خو دې ته مو پام وي چې د دې ورځو هره روژه په ثواب کې یوه مسکین ته د یوې ورځې خوراك ورکولو حد ته نه رسېږي، د هغو واعظانو له مبالغو ډکو ویناوو ته ارزښت مه ورکوئ چې داسې روژې د جنت کیلي ګڼي او له ټولو مخکینیو او وروستنیو ګناهونو د پاکېدو وسیله!! او مقام ئې دومره لوړ ښيي چې نه په جهاد سره تر لاسه کېدی شي، نه په شهادت سره او نه په زکات او نورو فرائضو سره.

په دې ورځ خیراتونه مه کوئ، دا ځکه چې نه رسول الله صلی الله علیه و سلم داسې خیراتونه کړي او نه صحابه وو، داسې روایت نه مومو چې کوم صحابي دي د مړو لپاره خیرات کړی وي، هو؛ د خپلوانو مړو لپاره داسې خیریه کارونه کول چې ثواب ئې هغوی ته ورسېږي؛ جائز دئ؛ د عاشوراء د ماتم غونډو او جلسو ته مه ورځئ؛ که ورځئ نو باید خپل شرعي مسئولیت اداء کړئ او هلته چې کوم غیر شرعي کار او وینا ګورئ او اورئ؛ باید په اړه ئې خلکو ته حق وینا وکړئ؛ لکه ځانونه په زنځیرونو وهل، ماتم کول، مذهبي رقصونه او نور خرافات او د دین، مذهب او عقل ضد حرکات. که داسې ونه کړئ نو له دوی سره به په ګناه کې شریك وئ. د داسې جلسو په ضد؛ مسلحانه اقدامات، چاودني او انتحاري عملیات؛ هغه څه دي چې هیڅ عقلي او مذهبي توجیه ورته نه شو موندلی؛ نه رسول الله صلی الله علیه و سلم د کومي مذهبي ډلي په خلاف داسې کار کړی او نه صحابه وو؛ د مکي دور په ۱۳ کلونو کې ئې ډېر خرافات، شرکي ویناوي او حرکات، د بتانو لمانځنه، د کعبې لوڅ طوافونه، په طواف کې شپېلکي او لاسونه پړکول لیدلي؛ خو له حکیمانه

وعظ پرته ئې د هغوی خلاف هيڅ؛ پټ يا څرګند وسله وال غبرګون نه دئ ښودلی. هغه واکمنان له اسلام او اسلامي امت سره ستر ظلم کوي چي دغسي جلسو او جلوسونو ته اجازه ورکوي او تسهيلات ورته برابروي، هغه حکام دا کار کوي چي پردي پال دي او دنده ئې په اسلامي امت کې د اختلافاتو اور ته لمن وهل دي، مګر نه ګورئ چي په افغانستان او عراق کې دغو غونډو او مظاهرو هغه مهال زور واخيست چي صليبي ځواکونو اشغال کړل، همدا ځواکونه داسي حرکاتو ته هڅوني کوي او تسهيلات ورته برابروي هدف ئې د سني او شيعه تر منځ اختلافاتو ته لمن وهل وي.

## ١٦ باب: که په جُنُب روژتي سهار شي

٩٣٨ ـ عَنْ عَائِشَةَ وَأُمِّ سَلَمَةَ رضى الله عنهما أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم كَانَ يُدْرِكُهُ الْفَجْرُ وَهُوَ جُنُبٌ مِنْ أَهْلِهِ ثُمَّ يَغْتَسِلُ وَيَصُومُ. (بخارى: ١٩٢٥)

٩٣٨ - عائشه رضي الله عنها او ام سلمه رضي الله عنها وايي: کله کله به پر رسول الله صلی الله عليه و سلم له خپلو مېرمنو سره د نژدېکت له امله غسل لازم شوی وو او ورباندي سهار به شو، بيا به ئې غسل کولو او روژه به ئې نيوله.

يعني که پر چا غسل لازم شوی وي؛ د روژې نيت وکړي، غسل وکړي او روژه ونيسي؛ دا ورته جائز دي.

## ١٧ باب: په روژه کي خپله مېرمن په غېږ کي نيول

٩٣٩ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُ وَيُبَاشِرُ وَهُوَ صَائِمٌ وَكَانَ أَمْلَكَكُمْ لِإِرْبِهِ. (بخارى: ١٩٢٧)

٩٣٩ - عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم به په روژه کي هم ښکولول کول او هم په غېږ کي نيول؛ او هغه د خپل هوس مهارولو کې تر تاسو ډېر زيات واکمن وو.

## ۱۸ باب: كه څوک په هېره څه وخوري يا وڅښي

۹٤۰ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا نَسِيَ فَأَكَلَ وَشَرِبَ فَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ فَإِنَّمَا أَطْعَمَهُ اللَّهُ وَسَقَاهُ». (بخاری: ۱۹۳۳)

۹٤۰ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((كه ترې هېر وو او خوراك او څښاك ئې وكړل؛ نو خپله روژه دي بشپړه كړي؛ دا ځكه چي الله تعالى پرې خوراك او څښاك كړی)).

يعني په روژه كې په هېره سره څه خوړل او څښل؛ روژې ته زيان نه رسوي.

## ۱۹ باب: كه چا په روژه كي جماع وكړه ...

۹٤۱ ـ عَنِ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ جُلُوسٌ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ هَلَكْتُ، قَالَ: «مَا لَكَ؟» قَالَ: وَقَعْتُ عَلَى امْرَأَتِي وَأَنَا صَائِمٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هَلْ تَجِدُ رَقَبَةً تُعْتِقُهَا؟» قَالَ: لا، قَالَ: «فَهَلْ تَسْتَطِيعُ أَنْ تَصُومَ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ؟» قَالَ: لا، فَقَالَ: «فَهَلْ تَجِدُ إِطْعَامَ سِتِّينَ مِسْكِينًا؟» قَالَ: لا، قَالَ: فَمَكَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَيْنَا نَحْنُ عَلَى ذَلِكَ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَرَقٍ فِيهَا تَمْرٌ وَالْعَرَقُ الْمِكْتَلُ قَالَ: «أَيْنَ السَّائِلُ؟» فَقَالَ: أَنَا، قَالَ: «خُذْهَا فَتَصَدَّقْ بِهِ» فَقَالَ الرَّجُلُ: أَعَلَى أَفْقَرَ مِنِّي يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ فَوَاللَّهِ مَا بَيْنَ لابَتَيْهَا ـ يُرِيدُ الْحَرَّتَيْنِ ـ أَهْلُ بَيْتٍ أَفْقَرُ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي، فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَدَتْ أَنْيَابُهُ ثُمَّ قَالَ: «أَطْعِمْهُ أَهْلَكَ».

۹٤۱ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وئې ويل: موږ له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ناست وو چي يو سړی راغی او وئې ويل: يا رسول الله! هلاک شوم؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم

وفرمایل: ((څه دربانديي شوي؟)) وئې ویل: په داسي حال کې چې روژه وم له خپلې مېرمني سره مي نژدېکت کړی؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ((آیا کوم مریې مومې چې آزاد ئې کړې؟)) وئې ویل: نه؛ وئې فرمایل: ((کولی شې دوې میاشتي پر له پسې روژه ونیسې؟)) وئې ویل: نه؛ وئې فرمایل: ((آیا شپېتو مسکینانو ته د خوړو ورکولو وس لرې؟)) وئې ویل: نه؛ راوي وویل: نو رسول الله صلی الله علیه و سلم څه درنگ وکړ؛ موږ لا همداسي وو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته یوه غټه ټوکرۍ راوړل شوه چې خرما په کې وې ( عَرَق هغي پیمانې ته وايي چې ١٥ صاع وي او هره صاع نژدې دوه کیلوگرامه کېږي او ځیني ئې ٣٠ صاع بولي)؛ یا خو یوه پنډه خرما وې؛ وئې فرمایل: هغه سائل چېري دئ؟ وئې ویل: دغه یم؛ وئې فرمایل: ((وائې خله او صدقه ئې کړه)) هغه سړي وویل: یا رسول الله! آیا تر ما زیات فقیر ته؟ قسم په خدای چې د مدینې د د دوو شگلنو او له ډبرو ډکو بېدیاوو تر منځ؛ زما تر ټبر زیات فقیر نه شته؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي مسکی شو چې د انیاب غاښونه ئې ښکاره شول؛ بیا ئې وفرمایل: ((د خپلي کورنۍ پر غړو ئې وخوره)).

څو خبري باید په پام کې ولرو:

- رسول الله صلی الله علیه و سلم د قرآن د لارښووني مطابق هغه سړي ته ویلي چې د روژې د قصدي خوړلو کفاره؛ یا د یوه غلام آزادول دي، یا پر له پسې شپېته روژې او یا شپېته مسکینانو ته خواړه ورکول دي.
- د خرما دغه پیمانه یا پنډه به دومره وه چې د ٦٠ تنو د یوه ورځني خوراك لپاره کافي وې. نن که څوك د قصدي روژې خوړلو فدیه ورکوي نو همدومره به ورکوي.
- صدقه کول ئې پر مسکینو خپلوانو جائز دي.

## ۲۰ باب: په روژه کې ښکر لګول

۹٤۲ ـ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ وَاحْتَجَمَ وَهُوَ صَائِمٌ. (بخاری: ۱۹۳۸)

۹٤۲ - له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چي: رسول الله صلی الله علیه و سلم په داسي حال کې هم ښکر لګولی چي په احرام کي وو او په داسي حال کي هم چي روژه وو.

د حدیث مطلب دا دئ چي نه د احرام حالت کې د ويني ایستل منع دي او نه د روژې حالت کې. خو که په روژه کې د ويني ایستل؛ د روژتي د ضعف او کسالت باعث کېږي او روژه پرې سخته کوي؛ نو ځنډول ئې غوره دي.

## ۲۱ باب: د مسافر روژه

۹٤۳ ـ عَنِ عبدالله بنِ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَقَالَ لِرَجُلٍ: «انْزِلْ فَاجْدَحْ لِي» قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ الشَّمْسُ قَالَ: «انْزِلْ فَاجْدَحْ لِي» قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ الشَّمْسُ قَالَ: «انْزِلْ فَاجْدَحْ لِي» فَنَزَلَ فَجَدَحَ لَهُ فَشَرِبَ ثُمَّ رَمَى بِيَدِهِ هَا هُنَا ثُمَّ قَالَ: «إِذَا رَأَيْتُمُ اللَّيْلَ أَقْبَلَ مِنْ هَا هُنَا فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ». (بخاری: ۱۹٤۱)

۹٤۳ - له عبدالله بن ابي اوفی رضي الله عنه روایت دئ چي وايي: موږ له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره په یوه سفر کي وو چي یوه سړي ته ئې وفرمایل: ((کوز شه او زما لپاره ستوان (د اوربشو دلده په اوبو کې یا شیدې په اوبو کې) برابر کړه؛ هغه وویل: یا رسول الله! لمر لا شته؛ وئې فرمایل: ((کوز شه او ستوان راته جوړ کړه)) هغه بیا وویل: یا رسول الله! لمر لا شته؟! وئې فرمایل: ((کوز شه او ستوان راته جوړ کړه)) نو له اوښ کوز شو او ستوان ئې جوړ کړ؛ او رسول الله صلی الله

عليه و سلم وځښئل؛ بيا ئې په خپل لاس سره اشاره وکړه چې هلته (د مشرق لورې ته) او وئې فرمايل: ((كله چې تاسو شپه وليده چې له دې لورې راښکاره شوه؛ نو همدا مهال دې روژتې افطار وکړي)).

يعني د لمر له لوېدو او د شپې د نښې له راڅرګندېدو سره سم د روژه ماتى وخت رارسېږي.

تکرار: دا روايت په بخاري کې ۳ ځلي په دغو شمېرو راغلى: ۱۹٤۱ – ۱۹۵۸ -۵۲۹۷

توپيرونه: په يوه کې كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَقَالَ لِرَجُلٍ: «انْزِلْ فَاجْدَحْ لِي» په بل کې كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ، فَصَامَ حَتَّى أَمْسَى قَالَ لِرَجُلٍ: «انْزِلْ فَاجْدَحْ لِي» په يوه کې قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ الشَّمْسُ؟ په بل کې قَالَ: لَوِ انْتَظَرْتَ حَتَّى تُمْسِيَ؟ په بل کې قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ لَوْ أَمْسَيْتَ، إِنَّ عَلَيْكَ نَهَارًا، په يوه کې ثُمَّ رَمَى بِيَدِهِ هَا هُنَا، ثُمَّ قَالَ: «إِذَا رَأَيْتُمُ اللَّيْلَ أَقْبَلَ مِنْ هَا هُنَا، فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ» په بل کې إِذَا رَأَيْتَ اللَّيْلَ قَدْ أَقْبَلَ مِنْ هَا هُنَا، فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ» په بل کې ثُمَّ أَوْمَأَ بِيَدِهِ إِلَى المَشْرِقِ، فَقَالَ: «إِذَا رَأَيْتُمُ اللَّيْلَ قَدْ أَقْبَلَ مِنْ هَا هُنَا، فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ»

دا روايت په صحيح مسلم کې په دې صيغه راغلى:

٥٢ -عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ، فَلَمَّا غَابَتِ الشَّمْسُ قَالَ: «يَا فُلَانُ، انْزِلْ فَاجْدَحْ لَنَا» قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ عَلَيْكَ نَهَارًا، قَالَ: «انْزِلْ فَاجْدَحْ لَنَا» قَالَ: فَنَزَلَ فَجَدَحَ، فَأَتَاهُ بِهِ، فَشَرِبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ قَالَ: بِيَدِهِ «إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ مِنْ هَا هُنَا، وَجَاءَ اللَّيْلُ مِنْ هَا هُنَا، فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ»

له عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دئ چې وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره د روژې په مياشت کې په سفر کې وو؛ كله چې

لمر پرېوت؛ وئې فرمايل: اې فلانيه! كوز شه او موږ ته ستوان (په اوبو يا شيدو كې وربشي، غنم يا وريځې گډول) جوړ كړه؛ هغه وويل: يا رسول الله! لا تا باندې ورځ ده؛ وئې فرمايل: كوز شه او موږ ته ستوان جوړ كړه؛ نو كوز شو جوړ ئې كړ او ورئې كړ او رسول الله صلى الله عليه و سلم وڅښلو؛ بيا ئې وفرمايل: او په لاس سره ئې اشاره وكړه: كله چې لمر له دې ځاى غائب شو او شپه له دې ځاى راغله؛ نو همدا د روژتي د روژه ماتى وخت دئ.

لكه چې گورئ په صحيح مسلم كې دا روايت نسبت صحيح بخاري ته په واضح توگه راغلى او په كې ويل شوي چې دا سفر د روژې مياشت كې وو؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم د لمر له لوېدو سره سم له يوه صحابي سَوَيق غوښتي خو د جمع په صيغه (لنا) يعني چې نور هم روژه وو او د ټولو لپاره ئې خواړه غوښتي؛ د بخاري په روايت كې دا وضاحتونه نه مومو.

٩٤٤ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ حَمْزَةَ بْنَ عَمْرٍو الأَسْلَمِيَّ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَأَصُومُ فِي السَّفَرِ؟ وَكَانَ كَثِيرَ الصِّيَامِ فَقَالَ: «إِنْ شِئْتَ فَصُمْ وَإِنْ شِئْتَ فَأَفْطِرْ». (بخارى: ١٩٤٣)

٩٤٤ - د رسول الله صلى الله عليه و سلم له مېرمني عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: حمزه بن عمرو اسلمي؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وويل: آيا په سفر كي روژه ونيسم؟ او دى ډېر روژه نيوونكى وو؛ وئې فرمايل: ((كه دي نيول غوښتل وئې نيسه او كه دي نه نيول غوښتل وئې خوره)).

## ٢٢ باب: د روژې په دوران كي سفر

٩٤٥ ـ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ إِلَى مَكَّةَ فِي رَمَضَانَ فَصَامَ حَتَّى بَلَغَ الْكَدِيدَ. أَفْطَرَ فَأَفْطَرَ النَّاسُ. (بخارى: ١٩٤٤)

٩٤٥ - له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د رمضان په میاشت کي د مکې په لوري روان شو؛ روژه ئې نیولې وه؛ تر هغه چي (کدید) ته ورسېد؛ روژه ئې ماته کړه او خلکو هم ماته کړه.

تکرار: دا روایت په بخاري کې ۳ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٩٤٤ - ٢٩٥٣ - ٤٢٧٦ -

توپیرونه: په یوه کي خَرَجَ إِلَى مَكَّةَ فِي رَمَضَانَ په بل کي خَرَجَ فِي رَمَضَانَ په بل کي خَرَجَ فِي رَمَضَانَ مِنَ الْمَدِينَةِ په یوه کي فَصَامَ حَتَّى بَلَغَ الْكَدِيدَ، أَفْطَرَ فَأَفْطَرَ النَّاسُ په بل کي فَصَامَ حَتَّى بَلَغَ الْكَدِيدَ أَفْطَرَ په بل کي وَمَعَهُ عَشَرَةُ آلاَفٍ، وَذَلِكَ عَلَى رَأْسِ ثَمَانِ سِنِينَ وَنِصْفٍ مِنْ مَقْدَمِهِ الْمَدِينَةَ، فَسَارَ هُوَ وَمَنْ مَعَهُ مِنَ الْمُسْلِمِينَ إِلَى مَكَّةَ، يَصُومُ وَيَصُومُونَ، حَتَّى بَلَغَ الْكَدِيدَ، لکه چي گورئ وروستی روایت جامع دئ او د سفر تفصیلات په کي راغلي؛ خو دوه لومړني روایات ډېر مجمل او غیر واضح دي؛ په داسي حال کي چي د ټولو لومړی راوي یو او عبد الله بن عباس رضي الله عنهما دئ!! د جامع روایت په شتون کي د ناقص او مجمل روایت راوړل کله کله د گټي په ځای تاوان کوي؛ اصولاً باید په جامع روایت اکتفاء وشي.

### ٢٣ باب:

٩٤٦ ـ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رضى الله عنه قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ فِي يَوْمٍ حَارٍّ حَتَّى يَضَعَ الرَّجُلُ يَدَهُ عَلَى رَأْسِهِ مِنْ شِدَّةِ الْحَرِّ وَمَا فِينَا صَائِمٌ إِلَّا مَا كَانَ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَابْنِ رَوَاحَةَ. (بخارى: ١٩٤٥)

٩٤٦ - ابو درداء رضي الله عنه وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره په یوه سفر کي په داسي گرمه ورځ روان شوو چي سړي به له ډېري تودوخي لاس پر سر ایښود او له رسول الله صلى الله عليه و سلم او ابن رواحه پرته هیچا هم روژه نه وه نیولې.

دا روایت په صحیح مسلم کې په دې صیغه راغلی:

عَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: «خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ فِي حَرٍّ شَدِيدٍ، حَتَّى إِنْ كَانَ أَحَدُنَا لَيَضَعُ يَدَهُ عَلَى رَأْسِهِ مِنْ شِدَّةِ الْحَرِّ، وَمَا فِينَا صَائِمٌ، إِلَّا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَبْدُ اللهِ بْنُ رَوَاحَةَ»

د دواړو تر منځ توپیرونه دا دي: په بخاري کې داسي راغلي: وَمَا فِينَا صَائِمٌ إِلَّا مَا كَانَ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَابْنِ رَوَاحَةَ او په مسلم کې داسي: وَمَا فِينَا صَائِمٌ، إِلَّا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَبْدُ اللهِ بْنُ رَوَاحَةَ؛ د مسلم صيغه ډېره غوره او واضح ده.

## ٢٤ باب: (په سفر کي روژه غوره کار نه دئ)

٩٤٧ ـ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللَّهِ رضى الله عنه قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَرَأَى زِحَامًا وَرَجُلاً قَدْ ظُلِّلَ عَلَيْهِ فَقَالَ: «مَا هَذَا؟» فَقَالُوا: صَائِمٌ، فَقَالَ: «لَيْسَ مِنَ الْبِرِّ الصَّوْمُ فِي السَّفَرِ». (بخارى: ١٩٤٦)

٩٤٧ - له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم په يوه سفر کي وو؛ چي يوه ګڼه ګوڼه ئي وليده او يو سړی چي سيوری پرې جوړ شوی؛ وئې فرمايل: ((دا څه دي؟)) هغوی وويل: دا روژه دئ؛ نو وئې فرمايل: ((په سفر کي روژه نيول؛ د ښېګڼو له زمرې؛ نه ده)).

يعني داسي سفر کي چي له تندي او لوږي سره د مخامخ کېدو اندېښنه وي؛ صحيح نه ده چي څوك نفلي روژه ونيسي؛ دا ځکه چي الله تعالی هسي هم مسافر او مريض د روژې له نيولو معاف کړی او د قضائي نيولو سپارښتنه ئې ورته کړې؛ که په فرضي روژو کي الله تعالی موږ ته دا رخصت راکړی؛ ولي به په نفلي روژو کي ترې استفاده نه کوو؛ الله تعالی زموږ لپاره سوکالي او آساني خوښوي؛ زموږ د کړولو اراده نه لري؛ (... وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا

يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ ...) البقرة ١٨٥
... او څوك چي بېمار او په سفر وي؛ نو له نورو ورځو دي شمېر پوره کړي؛ الله ستا لپاره آسانتيا غواړي او کړاو نه غواړي...

## ٢٥ باب: په سفر کي د روژه خوړلو او نيولو په اړه..

٩٤٨ ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا نُسَافِرُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَعِبِ الصَّائِمُ عَلَى الْمُفْطِرِ وَلا الْمُفْطِرُ عَلَى الصَّائِمِ. (بخارى: ١٩٤٧)

٩٤٨ - له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره به مو سفرونه کول؛ نه به روژتي پر بې روژي نيوکه کوله او نه بې روژې پر روژتي.

يعني نه به روژتي هغو ته په ټيټه سترگه کتل چي روژه به ئې نه وه نيولې؛ او نه به بې روژې د روژه والو په اړه داسي انگېرل چي غلط کار ئې کړی. خو دا هم بايد په پام کي ولرو چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغه چا روژه نيول سم کار نه دئ گڼلی چي په سخته گرمي کي ئې روژه نيولې وه او بېهوشي پرې راغلې وه.

## ٢٦ باب: څوک چي مړ شي او روژه ورباندي قرض وي

٩٤٩ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامٌ صَامَ عَنْهُ وَلِيُّهُ». (بخارى: ١٩٥٢)

٩٤٩ - له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي: ((څوک چي مړ شي او روژه ورباندي قرض وي؛ نو د هغه ولي دي؛ د ده په عوض روژه ونيسي)).

٩٥٠ ـ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أُمِّي مَاتَتْ وَعَلَيْهَا صَوْمُ شَهْرٍ أَفَأَقْضِيهِ عَنْهَا قَالَ: « نَعَمْ، فَدَيْنُ اللَّهِ أَحَقُّ أَنْ يُقْضَى». (بخارى: ١٩٥٣)

۹۵۰ – له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: يو سړی رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغی او وئې ويل: يا رسول الله! مور مي مړه شوې او يوه مياشت روژه پرې قرض وه؛ نو آيا زه ئې د هغې لپاره قضائي راوړم؟ وئې فرمايل: ((هو؛ د الله تعالى قرض اداء كول تر نورو زيات وړ دئ)).

په دې اړه د فقهاءو او محدثينو تر منځ اختلاف دئ؛ ابن عباس رضي الله عنهما ته دوه متعارض روايات منسوب شوي؛ بل ئې دا دئ:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ رسول الله صلى الله عليه و سلم: «لَا يُصَلِّي أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ، وَلَا يَصُومُ أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ وَلَكِنْ يُطْعِمُ عَنْهُ مَكَانَ كُلِّ يَوْمٍ مُدًّا مِنْ حِنْطَةٍ» سنن الكبرى للنسائى

له ابن عباس روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: هيڅوك دي د بل په عوض کې لمونځ نه کوي او هيڅوك دي د بل په ځای روژه نه نيسي؛ خو د هري ورځي په ځای دي يو مد غنم صدقه وركړي.

احناف خپلو دلائلو ته په پام سره وايي: څوك چي ومري او روژه ئې پر ذمه پاته وي؛ هيڅوك دي د هغه په عوض روژه نه نيسي؛ خو كه مړي وصيت كړی وي نو د هغه وارث دي د هري ورځي په بدل کې يوه مسكين ته نيمه پيمانه غنم يا يوه پيمانه كجوري يا اوربشي وركړي.

قرطبي وايي: مالك ځكه دا روايت نه دئ راوړی چي وايي: د مدينې اوسېدونكي ئې نه دي ليدلي چي عمل ئې پرې كړی وي؛ بل دليل ئې دا دئ چي د سند او متن په اړه ئې اختلاف شوی؛ په رد کې ئې په دې آيت هم استناد شوی: ((وَلا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى... الانعام: ١٦٤)

## ٢٧ باب: روژتي به څه وخت روژه ماتوي

٩٥١ ـ حَدِيثُ عَبْدِاللَّهِ بْنَ أَبِي أَوْفَى رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ وَقَوْلُ النَّبِيِّ: «انْزِلْ فَاجْدَحْ لَنَا» تقدَّمَ قَرِيبًا وَفِي هَذِهِ الرِّوَايَةِ: «إِذَا رَأَيْتُمُ اللَّيْلَ أَقْبَلَ مِنْ هَا هُنَا فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ»

وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ قِبَلَ الْمَشْرِقِ. (بخاری: ۱۹۵۶)

۹۵۱ – د ابن ابي اوفی رضي الله عنه هغه حديث او د نبي صلی الله عليه و سلم هغه قول تېر شو چي فرمايلي ئې وو: ((كوز شه او زما لپاره خواړه برابر كړه))؛ او په دې روايت كي: ((كله چي وګورئ شپه له دې ځای رابره شوه؛ نو همدا د روژه ماتي وخت دئ)) او په خپلې ګوتي سره ئې د مشرق لوري ته اشاره وكړه.

## ۲۸ باب: په روژه ماتي كي بيړه

۹۵۲ ـ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لا يَزَالُ النَّاسُ بِخَيْرٍ مَا عَجَّلُوا الْفِطْرَ». (بخاری: ۱۹۵۷)

۹۵۲ – له سهل بن سعد رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: ((خلک تر هغه په خير دي چي په روژه ماتي كي بيړه كوي)).

يعني له بې ځايه تقوی؛ او په دين كي له څه زياتولو ډډه كول او له خپل ځان څه نه پرې علاوه كول؛ د دې نښه ده چي دوی خپل دين پېژندلی؛ د حلال او حرام پولي مراعاتوي؛ نه څه پرې زياتوي او نه ئې كموي.

حقيقت دا دئ چي په دين كي د انحراف لړۍ هغه مهال پيل كېږي چي دوكه مار مذهبی مشران؛ په دې موخه په دين كي لاسوهني كوي؛ حلال حراموي چي وښيي دوی ډېر متقي دي؛ لكه دا چي په روژې كي د ماښام اذان څو دقيقې وروسته كوي او پېشلمی تر نورو او تر خپل آخري وخت ډېر وړاندي كوي؛ په دې توګه د خلكو د ديني وجائبو پېټی درنوي او آزادی ئې محدودوي؛ دا په حقيقت كي تقوی نه؛ بلكي انحراف او رياء ده؛ قرآن د پيغمبرانو عليهم السلام په اړه فرمايي: يوه دنده ئې دا وي چي دا اضافي پېټي د خلكو له اوږو كوز او زنځيرونه مات كړي:

**... وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالأَغْلالَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنْزِلَ مَعَهُ أُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٥٧﴾ الأعراف**

**... او پاك شيان ورته حلال او ناولي ورته حرام گرځوي او بارونه ئې د دوی له اوږو راكوزوي او هغه زنځيرونه (شلوي) چې د دوی په لاسونو او پښو كې لوېدلي وو، نو چا چې پر هغه (پيغمبر) ايمان راوړ، د ده مرسته ئې وكړه او په هغې رڼا پسې ولاړل چې پر ده نازله شوې؛ همدا دوی برلاسي او بريالي دي.**

**گورئ چې پيغمبر د خلكو بارونه سپكوي، زنځيرونه شلوي، انسانان آزادوي، ټول پاك شيان چې پخوا د دوی ټگمارو مذهبي مشرانو يوه برخه ورته حرام كړي وو؛ حلال گرځوي او ټول ناولي شيان حرام شمېري، خلكو ته داسي نور او ځراغ وركوي چې له تيارو او خرافاتو وړاندي ووځي او د حقيقت روښانه دنيا ته لاړ شي. د قرآن له دې وينا په ډېر صراحت سره معلومېږي چې د مخكينيو امتونو مذهبي مشرانو په دين كې زيادت كړی، له خپل لوري ئې مذهبي مراسم رااېستلي، ډېر حلال شيان ئې پر خلكو حرام كړي، د خلكو آزادي ئې محدوده كړې، نوي قيود ئې وضع كړي او دا ئې د الله تعالی د دين برخه معرفي كړې. د ډېرو انحرافي مذاهبو خرافات او له ځانه جوړ شوي حلال او حرام به د قرآن د دغي وينا مصداق ومومئ.**

## ۲۹ باب: له لمر لوېدو مخكي روژه ماتول

**٩٥٣ ـ عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَتْ: «أَفْطَرْنَا عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ غَيْمٍ، ثُمَّ طَلَعَتِ الشَّمْسُ» (بخارى: ١٩٥٩)**

**٩٥٣ - اسماء بنت ابي بكر رضي الله عنها وايي: د رسول الله صلی الله عليه و سلم په زمانه كي مو يوه ورځ چې وريځ وه روژه ماته كړه؛**

وروسته بيا لمر را ښکاره شو.

لکه چي گورئ دا روايت ناقص دئ؛ دا مطلب نه دئ په کي راغلی چي د لمر له څرگندېدو وروسته ئې څه کړي؛ روژه ئې نيولې که نه؛ او دا روژه ئې صحيح او منل شوې ده که قضائي به ئې نيسي؟. د دغي ستونزي حلولو لپاره تر روايت وروسته دا مطلب راغلی: قِيلَ لِهِشَامٍ: فَأُمِرُوا بِالقَضَاءِ؟ قَالَ: «لاَ بُدَّ مِنْ قَضَاءٍ» وَقَالَ مَعْمَرٌ: سَمِعْتُ هِشَامًا لاَ أَدْرِي أَقَضَوْا أَمْ لاَ: هشام ته وويل شول: آيا په قضائي روژې وگمارل شول؟ وئې ويل: قضاء ئې حتمي ده؛ او مَعْمَر وويل: له هِشام مي اورېدلي: نه پوهېږم چي قضائي ئې ونيوله که نه.

خو څه چي په دې اړه ويل کېدی شي؛ هغه دا دي: د ورځي پاته برخه به روژه نيسي او بيا به د همدې ورځي قضايي راوړي.

## ٣٠ باب: د ماشومانو روژه

٩٥٤ ـ عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذٍ قَالَتْ: أَرْسَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَدَاةَ عَاشُورَاءَ إِلَى قُرَى الأَنْصَارِ: «مَنْ أَصْبَحَ مُفْطِرًا فَلْيُتِمَّ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ وَمَنْ أَصْبَحَ صَائِمًا فَلْيَصُمْ» قَالَتْ: فَكُنَّا نَصُومُهُ بَعْدُ وَنُصَوِّمُ صِبْيَانَنَا وَنَجْعَلُ لَهُمُ اللُّعْبَةَ مِنَ العِهْنِ فَإِذَا بَكَى أَحَدُهُمْ عَلَى الطَّعَامِ أَعْطَيْنَاهُ ذَاكَ حَتَّى يَكُونَ عِنْدَ الإِفْطَارِ. (بخارى: ١٩٦٠)

٩٥٤ - له رُبَيِّع بنت مُعَوِّذ رضي الله عنها روايت دئ وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم د عاشوراء په سهار د انصارو کليو ته خبر ولېږو چي: ((که چا سهار څه خوړلي وي؛ نو پاته ورځ دي بشپړه کړي (څه دي نه خوري) او څوك چي روژتي پاڅېدلی (څه ئې نه وي خوړلي)؛ نو روژه دي بشپړه کړي))؛ هغې وويل: موږ به له دې وروسته د عاشوراء په ورځ روژه نيوله او په ماشومانو به مو هم نيوله؛ له وړيو به مو يوه نانځکه ورته جوړوله؛ که به کوم يوه له لوږي وژړل؛ نو هغه به مو ورکړه؛ تر هغه چي د روژه ماتي وخت به شو.

د عاشوراء او په دې ورځ روژې په اړه مو تفصيلي بحث کړی؛ په اړوند روایاتو کې ئې دومره ژور او پراخ تقابل او تعارض دئ چې یو ترې غوره کول او صحیح ئې ګڼل ناشونی دئ؛ عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په دې ورځ روژه نه نیوله؛ مګر دا چې د ده له نفلي روژو سره به برابره شوه؛ خو دا به د ده عادي نفلي روژه وه؛ نه د عاشوراء د ورځې په نیت روژه؛ دې ته په پام سره هغه روایت صحیح ګڼلی شو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم مدینې ته له تګ وروسته او هغه مهال چې یهودان ئې داسې لیدلي چې دغه ورځ د جشن په توګه لمانځي او دا ځکه چې ګمان ئې کولو په دغې ورځ فرعون غرق شوی او دوی د موسی علیه السلام په مشرۍ بریالي شوي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: له موږ سره دا ښایي چې د موسی علیه السلام د بریا یادونه وکړو؛ خو چې روژه فرض شوه؛ وئې فرمایل: د هر چا خپله خوښه چې په دې ورځ روژه نیسي یا ئې نه نیسي.

## ۳۱ باب: د پیشلمي تر وخته د روژې دوام

٩٥٥ ـ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لا تُوَاصِلُوا فَأَيُّكُمْ إِذَا أَرَادَ أَنْ يُوَاصِلَ فَلْيُوَاصِلْ حَتَّى السَّحَرِ». (بخاری: ١٩٦٣)

٩٥٥ - له ابو سعید خدري رضي الله عنه روایت دئ چې له رسول الله صلی الله علیه و سلم مې اورېدلي: ((د یوې ورځې روژه له بلې سره مه وصلوئ؛ که څوک غواړي وصل ئې کړي؛ تر پېشلمي پورې دې وصل کړي)).

له روایت داسې معلومېږي چې له یوې خوا رسول الله صلی الله علیه و سلم د داسې روژې له نیولو ممانعت کړی چې دوه ورځې سره وصل شي؛ په یوه پېشلمي دوه روژې ونیول شي؛ خو له بلې خوا ویل شوي چې که څوك ئې وصلول غواړي نو تر پېشلمي پورې دې وصل کړي؛ یعني د دوو پېشلمیو تر منځ دې څه نه خوري؛ دوه پوښتنې راولاړېږي: ١- ولې به دا کار کوي؛ دا خو د ثواب کار نه دئ؛ رسول الله صلی الله علیه و

سلم ترې ممانعت کړی او دا ئې هم فرمايلي چې په افطار کې عجله وکړئ؟ ۲- الله تعالی فرمايي چې روژه د شپې تر پيل (ماښام) پورې بشپړه کړئ ((.... ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ...) البقرة ۱۸۷؛ يعني د روژې اتمام او بشپړېدا د شپې تر پيل پورې ده؛ او موږ ئې په اتمام ګمارلي يو؛ تر ماښام وروسته روژې ته دوام ورکول؛ د (أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ) له امر مخالفت دئ؛ او داسې دئ لکه چې موږ د فجر په دوه رکعته فرض لمونځ مکلف شوي يو او څوك دوه رکعته نور هم پرې علاوه کړي؛ ولې به د دې الهي لارښوونې مخالفت کوو؛ او دا به د ثواب کار ګڼو؟ ۳- دا روايت غريب دئ او په صحابه وو کې يوازې يو راوي لري چې أبو سعيد خدري دئ؛ آيا کولی شو دا روايت په داسې حال کې معتبر وګڼو او عمل پرې وکړو چې هم د قرآن له صريح آيت سره تعارض لري او هم د رسول الله صلی الله عليه و سلم له نورو احاديثو سره؟ مخکينی روايت په افطار کې د تلوار سپارښتنه کوي او ورپسې روايت د روژو له وصلولو ممانعت کوي.

## ۳۲ باب: د روژې وصلوونکي سزا

۹۵۶ ـ عَنِ أَبِى هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْوِصَالِ فِى الصَّوْمِ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ: إِنَّكَ تُوَاصِلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «وَأَيُّكُمْ مِثْلِى إِنِّى أَبِيتُ يُطْعِمُنِى رَبِّى وَيَسْقِينِ». فَلَمَّا أَبَوْا أَنْ يَنْتَهُوا عَنِ الْوِصَالِ وَاصَلَ بِهِمْ يَوْمًا ثُمَّ يَوْمًا ثُمَّ رَأَوُا الْهِلاَلَ فَقَالَ: «لَوْ تَأَخَّرَ لَزِدْتُكُمْ» كَالتَّنْكِيلِ لَهُمْ حِينَ أَبَوْا أَنْ يَنْتَهُوا. وفى رواية عنه قال لهم: «فَاكْلَفُوا مِنَ الْعَمَلِ مَا تُطِيقُونَ». (بخاری: ۱۹۶۵ ـ ۱۹۶۶)

۹۵۶ – له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم د روژې له وصلولو نهي وکړه؛ نو له مسلمانانو يوه سړي ورته وويل: يا رسول الله! ته خو ئې وصلوې؟ وئې فرمايل: ((له

تاسو کوم یو زما په څېر دئ؟ زه چي د شپې ویده شم رب مي هم خواړه راکوي او هم اوبه)) خو کله چي هغوی له دې ډډه وکړه چي له وصلولو لاس واخلي؛ نو یوه ورځ ئې پرې وصل کړه او بیا بله ورځ؛ بیا ئې د نوې میاشتي سپوږمۍ ولیده؛ نو وئې فرمایل: ((که ځنډېدلې وی نو درباندي زیاتوله مي))؛ کله چي ئې له عدم وصلولو ډډه وکړه نو د دوی د ترټلو لپاره ئې همداسي وکړل؛ او په بل روایت کي راغلي چي وئې فرمایل: ((هغه کار پر ځان لازم کړئ چي توان ئې لرئ)).

تکرار: دا روایت په بخاري کي ۵ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۹۶۵ - ۱۹۶۶ - ۶۸۵۱ - ۷۲۴۲ – ۷۲۹۹؛ غریب دئ؛ په صحابه وو کي یو او په نورو طبقو کي کله یو او کله دوه راویان لري؛ له بخاري پرته په بل هیڅ کتاب کي نه دئ راوړل شوی؛ یعنی هم غریب دئ او هم شاذ. او د روایت دا فقره (وَأَيُّكُمْ مِثْلِي، إِنِّي أَبِيتُ يُطْعِمُنِي رَبِّي وَيَسْقِينِ)؛ د بخاري په داسي مطلق غریب روایت کي راغلې؛ چي فقط په بخاري کي یو ځل راغلی؛ او په ۵ طبقو کي یو یو راوي لري چي دا دي: أَبُو اليَمَان، شُعَيْب، الزُّهْرِيّ، أَبُو سَلَمَةَ بْن عَبْدِ الرَّحْمَنِ او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

په متن کي ئې څو ستونزي دي:

- رسول الله صلی الله علیه و سلم صحابه د روژو له وصلولو منع کړي؛ ګواکي د رسول الله صلی الله علیه و سلم له ممانعت سره سره؛ صحابه وو دا کار کړی؛ د دې خبري منل ځکه ګران دي چي صحابه د قرآن د وینا له مخي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته دومره مطیع وو چي په سختو کارونو کي ئې هم د ده له لارښوونو مخالفت نه دئ کړی؛ ولي به په داسي کار کي مخالفت کوي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم تري ممانعت کړی؛ نه مستحب کار دئ او نه د ثواب؟!
- د دې منل هم ګران دي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم به د غصې له کبله او د صحابه وو د ترټلو په موخه؛ هغوی په دوو ورځو مسلسل روژو ګمارلي وي او که سپوږمۍ نه وی رابره شوې نو نوري ئې

هم پرې زياتولې!!

- د دې فقرې (إِنِّي أَبِيتُ يُطْعِمُنِي رَبِّي وَيَسْقِينِ)؛ په اړه دا توجيه وړاندې شوې: معناه يجعل الله تعالى فِيَّ قوة الطاعم والشارب: معنی ئې دا ده چې الله تعالی په ما کې هومره توان او قوت اچوي چې د طعام خوړونکي او اوبو څښونکي په برخه کېږي؛ په دې توجيه کې ډېر تکلف شوی.
- په داسې حال کې چې الله تعالی روژه موږ ته په واضح توګه تعريف کړې او اندازه ئې له سحر تر ماښام پورې ښودلې؛ ولې به رسول الله صلی الله علیه و سلم دوه روژې سره وصلولې او ولې به صحابه وو دا کار کولو؟ او که دا مستحب کار وی؛ ولې به رسول الله صلی الله علیه و سلم ترې ممانعت کولو؟ او ولې به ئې هغه تړل چې دوه روژې سره وصلولې؟!!

### ۳۳ باب: څوک چې بل ته د نفلي روژې د ماتولو قسم ورکړي

۹۵۷ ـ عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: آخَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ سَلْمَانَ وَأَبِي الدَّرْدَاءِ، فَزَارَ سَلْمَانُ أَبَا الدَّرْدَاءِ، فَرَأَى أُمَّ الدَّرْدَاءِ مُتَبَذِّلَةً فَقَالَ لَهَا: مَا شَأْنُكِ؟ قَالَتْ: أَخُوكَ أَبُو الدَّرْدَاءِ لَيْسَ لَهُ حَاجَةٌ فِي الدُّنْيَا، فَجَاءَ أَبُو الدَّرْدَاءِ فَصَنَعَ لَهُ طَعَامًا، فَقَالَ: كُلْ، قَالَ: فَإِنِّي صَائِمٌ، قَالَ: مَا أَنَا بِآكِلٍ حَتَّى تَأْكُلَ، قَالَ: فَأَكَلَ فَلَمَّا كَانَ اللَّيْلُ ذَهَبَ أَبُو الدَّرْدَاءِ يَقُومُ، قَالَ: نَمْ، فَنَامَ، ثُمَّ ذَهَبَ يَقُومُ، فَقَالَ: نَمْ، فَلَمَّا كَانَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ قَالَ سَلْمَانُ: قُمِ الآنَ فَصَلَّيَا، فَقَالَ لَهُ سَلْمَانُ: إِنَّ لِرَبِّكَ عَلَيْكَ حَقًّا: وَلِنَفْسِكَ عَلَيْكَ حَقًّا: وَلأَهْلِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، فَأَعْطِ كُلَّ ذِى حَقٍّ حَقَّهُ، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «صَدَقَ سَلْمَانُ». (بخاری: ۱۹۶۸)

۹۵۷ - ابو جُحَيفه رضي الله عنه وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم

د سلمان او ابو درداء تر منځ د وروری تړون وکړ؛ بیا سلمان د ابو درداء کور ته ورغی او هلته ئې ام درداء رضي الله عنها د کار جامه کې ولیده؛ ورته وئې ویل: څه دربانديي شوي؟ هغې وویل: ستا ورور ابو درداء؛ دنیا ته هیڅ حاجت نه لري؟ بیا ابو درداء راغی او ده ته ئې خواړه تیار کړل؛ سلمان ورته وویل: وخوره؛ وئې ویل: زه روژه یم؛ سلمان وویل: تر هغه ئې نه خورم چي ته ئې وخورې؛ نو وئې وخوړل؛ او چي شپه شوه؛ ابو درداء وغوښتل چي لمانځه ته پاڅي؛ ورته وئې ویل: ویده شه؛ نو ویده شو؛ بیا ئې وغوښتل چي لمانځه ته پاڅي؛ ورته وئې ویل: ویده شه؛ نو ویده شو؛ کله چي شپه پای ته رسېدلې وه؛ سلمان وویل: اوس پاڅه؛ دواړه پاڅېدل او لمونځ ئې وکړ؛ بیا سلمان ورته وویل: ستا رب پر تا خاص حق لري، ستا نفس پر تا خاص حق لري، ستا اهل (مېرمن) پر تا خاص حق لري؛ نو هر حقدار ته خپل حق ورکوه؛ بیا ابو درداء رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورغی او دا کیسه ئې ورته بیان کړه؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ((سلمان رښتیا ویلي)).

## ۳٤ باب: د شعبان روژه

۹۵۸ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ حَتَّى نَقُولَ لا يُفْطِرُ، وَيُفْطِرُ حَتَّى نَقُولَ لا يَصُومُ فَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَكْمَلَ صِيَامَ شَهْرٍ إِلَّا رَمَضَانَ وَمَا رَأَيْتُهُ أَكْثَرَ صِيَامًا مِنْهُ فِي شَعْبَانَ. (بخاری: ۱۹٦۹)

۹۵۸ - له عائشه رضي الله عنها روایت دئ چي وئې ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي وو چي کله به ئې دومره روژې نیولې چي موږ به ویل: ښایي هیڅ به ئې نه خوري (تل به ئې همداسي نیسي)؛ او کله به ئې دومره ورځې نه نیولې چي موږ به ویل: نور به ئې هیڅ نه نیسي؛ نو ما رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي نه دئ لیدلی چي کومه میاشت به ئې په بشپړه توگه روژه نیولې؛ مگر د رمضان میاشت؛

او نه مي دئ ليدلی چي تر شَعْبَانَ زيات به ئې په بلي مياشتي کي زياتي روژې نيولې وي.

دا روايت له مشهورو رواياتو دئ؛ په صحابه وو کي څلور راويان لري: عائشه، ام سلمه، ابن عباس، انس رضي الله عنهم؛ او د صحاح سته په شمول ټولو مهمو کتابونو کي راغلی؛ او ښيي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د روژې له مياشتي پرته بله هيڅ مياشت په بشپړه توگه روژه نه ده نيولې؛ تر ټولو زياتي روژې به ئې په شعبان کي نيولې؛ ښايي د روژې مياشتي ته د تياري او ښه چمتو والي په موخه.

٩٥٩ـ وعَنْها رَضِىَ اللَّهُ عَنْهَا وفى رواية زيادة وَكَانَ يَقُولُ: «خُذُوا مِنَ الْعَمَلِ مَا تُطِيقُونَ فَإِنَّ اللَّهَ لا يَمَلُّ حَتَّى تَمَلُّوا» وَأَحَبُّ الصَّلاةِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا دُووِمَ عَلَيْهِ وَإِنْ قَلَّتْ، وَكَانَ إِذَا صَلَّى صَلاةً دَاوَمَ عَلَيْهَا. (بخارى: ١٩٧٠)

٩٥٩ – او له عائشې رضي الله عنها په بل روايت کي دا زياتوالی هم شته چي: رسول الله صلی الله عليه و سلم به فرمايل: ((له عملونو هغه او هومره خپل کړئ چي توان ئې لرئ؛ ځکه الله تعالی نه ستومانه کېږي تر هغه چي تاسو ستړي شئ)). او رسول الله صلی الله عليه و سلم ته تر ټولو محبوب او په زړه پوري لمونځ هغه وو چي په دوامداره توگه به اداء کړی شو؛ که څه هم لږ به وو؛ وَكَانَ إِذَا صَلَّى صَلاةً دَاوَمَ عَلَيْهَا او په خپله داسي وو چي کله به ئې کوم لمونځ وکړ نو هغه به ئې بيا بيا کولو.

دا روايت په بخاري کي ٦ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ٣٢ - ٣٨٣ - ٩٣٠ - ١١٥١ - ١٩٧٠ - ٥٨٦١– د ټولو لومړی راوي عائشه رضي الله عنها ده؛ يعني چي غريب دئ؛ او د احنافو د اسلوب له مخي هغه مهال معتبر گڼل کېدی شي چي له قرآن سره مطابقت ولري؛ خو په قرآن کي الله تعالی ته ملالت نه دئ منسوب شوی او ستړيا او ستومانتيا چي له ملالت سره تړلی صفت دئ؛ نفی شوی. د روايت د دې برخي (فَإِنَّ اللَّهَ لا يَمَلُّ حَتَّى تَمَلُّوا) په اړه بايد څو خبري په پام کي ولرو:

- معنی ئې دا ده: که تاسو په خپل نېك عمل کې ستومانه نه شئ نو الله تعالی په ثواب ورکولو کې نه ستومانه کېږي؛ او که تاسو ستومانه شئ یا په نه زړه نیك عمل کوئ نو له الله تعالی ئې د ثواب طمع مه کوئ.
- متأسفانه ځینو دلته هم د خپل غلط مسلك او منهج له مخې ویلي: دا (ملال: ملالت، بېزاري او خوا بدي) هم د الله تعالی یو ثابت صفت دئ!! ملال د نشاط عکس حالت او ستومانتیا ته وایي؛ دا په داسي حال کې چي قرآن فرمایي:

... وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ وَلا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ ﴿٢٥٥﴾ البقرة

.... (د قدرت او واکمنۍ) کرسۍ ئې پر آسمانونو او زمکې حاوي ده او د دوی دواړو (زمکې او آسمان) ساتنه ئې نه ستومانه کوي او هغه ستر لوړ دئ.

- ملالت یو انساني عیب او منفي تأثر او غبرگون دئ؛ الله تعالی له عیب منزه دئ؛ حق نه لرو الله تعالی ته داسي صفت منسوب کړو چي عیبجن وي؛ لکه خوب، ستړیا، لوږه، تنده، مرگ، زړښت، د مکان او زمان محدودیت؛ اجزاء، اعضاء او جوارح، پلار او اولاد درلودل او خوابدي. حتی حق نه لرو الله تعالی په داسي صفت یاد کړو چي الله تعالی په خپله ځان نه دئ پرې ستایلی؛ ځکه د الله تعالی د پېژندو لپاره موږ یوازي او فقط یوه مرجع لرو چي هغه په خپله الله تعالی او د هغه له لوري لېږل شوی کتاب دئ؛ قرآن همداسي فرمایي: ((سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ) الصافات ۱۵۹؛ الله ته له هغه څه پاکې ده چي دوی ئې توصیفوي؛ په قرآن کې د دې لپاره هیڅ شاهد نه مومو چي صراحتاً یا اشارتاً ئې الله تعالی ته ملالت منسوب کړی وي.
- نو د دې روایت په اړه به څه کوو چي وایي: (فَإِنَّ اللَّهَ لا يَمَلُّ حَتَّى تَمَلُّوا)؟ او له هغو سره به څه کوو چي دا معکوسه نتیجه ترې اخلي چي

ګواکي الله تعالی هغه مهال ملول او ناخوښ کېږي چي تاسو په خپل عبادت کي ملالت وښيئ!! ځواب دا دئ: روایت وايي: تر خپل توان زیات نوافل مه کوئ؛ دومره ئې وکړئ چي درته آسان وي او په شور شوق او نشاط سره ئې کوئ؛ هغه عبادت چي له نشاط او شوق پرته وي او له ملالت سره توأم وي؛ الله تعالی ئې نه خوښوي؛ نه دا چي ملول کېدا د الله تعالی صفت دئ!!

- د اهل ظاهر اصلي ستونزه دا ده چي الله تعالی له مخلوق سره تشبیه کوي؛ په ټولو انساني صفاتو ئې متصف کوي؛ له غړو نیولې تر ردا او إزار، له ګوتو نیولې تر قدم او ساق، له خندا نیولې تر ملالت؛ دوی الله تعالی ته قدم هم منسوبوي او په هغه روایت استناد کي چي په کي راغلي: د قیامت په ورځ به الله تعالی دوزخ ته ووايي: آیا ډك شوې؟ هغه به په ځواب کي ووايي: هل من مزید: آیا مزید څه هم شته؟ په پای کي به ګواکي الله تعالی خپل قدم پرې کښېږدي او خاموش به شي!! او الله تعالی ته د ساق (پنډۍ) ثابتولو لپاره د قرآن په داسي آیت استناد کوي چي په اصل کي د مشرکینو په اړه دئ او د دوی د وېري او اضطراب هغه حالت بیانوي چي د قیامت په ورځ به ئې لري؛ له وېري به تښتي، پیڅې به ئې پورته کړې وي، پنډۍ به ئې لوڅې شوې وي، سجدې ته به بلل کېږي خو نه به شي کولی... آیتونه دا دي:

يَوۡمَ يُكۡشَفُ عَن سَاقٖ وَيُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ ٤٢ خَٰشِعَةً أَبۡصَٰرُهُمۡ تَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۖ وَقَدۡ كَانُواْ يُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ وَهُمۡ سَٰلِمُونَ ٤٣ القلم

هغه ورځ چي پنډۍ بربنډه کړی شي؛ او دوی به سجدې ته راوبلل شي؛ خو توانېدی به نه شي. سترګي ئې خړې او ټیټې، ذلت پرې سیوری غوړولی؛ یقیناً چي له دې مخکي سجدې ته بلل کېدل په داسي حال کي چي روغ رمټ ول.

په دې آيتونو کې له ۳۵ تر ٤۳ پورې؛ يوازې د مشرکينو په اړه بحث شوی؛ د الله تعالی او د هغه د ذات څرنګوالي په اړه هيڅ څه حتی اشارتاً هم نه دي ويل شوي؛ له دې آيت دا رااېستل چې الله تعالی ساق لري؛ ساق ئې په لونګ پټ دئ؛ د قيامت په ورځ به د ده ساق لوڅ کړی شي!!! يوازې هغه انسان به دا ترې راباسي چې هم ئې د مخ سترګې ړندې وي او هم د زړه سترګې؛ ډېر ناپوه انسان به نه د داسې تعبير جسارت وکړي او نه به ئې ومني؛ خو د بېمارو زړونو خاوندان؛ د خپلو ناسمو افکارو او باورونو د ثابتولو لپاره؛ هغه داسې تعبيروې چې ګواکې دلته د الله تعالی ساق ته اشاره شوې؛ هغه به لوڅ کړی شي او همدا مشرکين به د دغه ساق په وړاندې سجدې ته وبلل شي!!! په داسې حال کې چې د پنډۍ لوڅول او پايڅې بر وهل هم په عربۍ کې يوه استعاره ده او هم په پښتو کې او مراد ئې له وېرې تېښته ده؛ او دا آيتونه په بشپړ صراحت او وضاحت سره ښيي چې د قيامت په ورځ د مشرکينو د وېرې، تېښتې.... حالت په کې انځور شوی.

قرآن د الله تعالی د ذات په اړه فرمايي: (... لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ... ) الشوری ۱۱: د عالم هيڅ شی او مخلوق هغه ته ورته نه دئ؛ نه په ذات کې او نه په صفاتو کې؛ الله تعالی له هغو ذاتي او فعلي صفاتو منزه دئ چې په مخلوق کې ئې ګورو؛ مخلوق جسم لري، له اجزاء جوړ شوی، پيدا شوی او مري، د مکان او زمان تابع دئ؛ اما الله تعالی له دې ټولو عيبونو منزه دئ. د مخلوق حالت بدلېږي؛ د وضعيت له بدلېدو سره سم په هغه کې تبديلي راځي؛ کله خوښ شي کله خفه، کله نشيط وي او کله ستومانه او خوابدی؛ کله ئې يخ کېږي او کله ګرمي، کله بخارۍ ته اړ وي او کله ايرکنډيشن ته؛ اما الله تعالی نه بدلېدونکی دئ؛ مخلوق په يوه وخت کې يوازې يو ځای وي؛ د مکان په وړاندې محکوم دئ؛ له يوه مکان بل ته د رسېدو لپاره خوځېدو او زمان ته ضرورت لري؛ خو الله تعالی داسې نه دئ؛ هم په عرش کې وي او هم له موږ سره هر ځای؛ د

قرآن په يوه آيت كې همدا دواړه هممهال او يو ځای راغلي.

- أبو حاتِم رحمه الله د روايت د دغي فقرې په اړه وايي: دا هغه الفاظ دي چي د مخاطَب او اورېدونكي علم او پوهه ئې په هدف او مقصد؛ له همدغو الفاظو پرته؛ په نورو الفاظو احاطه نه شي كولی: قَالَ أَبُو حَاتِمٍ قَوْلُهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فَإِنَّ اللَّهَ لَا يَمَلُّ حَتَّى تَمَلُّوا" مِنَ الْأَلْفَاظِ الَّتِي لَا يُحِيطُ عِلْمُ الْمُخَاطَبِ بها في نفس القصد إلا به" او همدا په متشابهاتو كې د ده مسلك دئ. او حقيقت همدا دئ چي په متشابهاتو او استعارو كې كارول شوي الفاظ قطعاً په متبادره او ظاهري معنی نه شو اخيستلی؛ كه نه نو د اهل ظاهر په څېر به اشتباه كوو او الله تعالی به له مخلوق سره تشبيه كوو. كه په روايت كې راغلي (... الْكِبْرِيَاءُ رِدَائِي، والْعَظَمَةُ إِزَارِي، فَمَنْ نَازَعَنِي وَاحِدًا مِنْهُمَا قَذَفْتُهُ فِي النَّارِ") يعني كبرياء زما رداء (هغه څادر دئ چي د بدن برنۍ برخه پرې پټېږي) او عظمت زما إزار (هغه لونګ دئ چي د بدن لاندينۍ برخه پرې پټېږي)؛ نو څوك چي په دغو دواړو كې د كوم يوه په اړه له ما سره منازعه وكړي؛ په اور كې ئې اچوم؛ د دې معنی دا نه ده چي الله تعالی د انسان په څېر جامه لري؛ معنی ئې فقط دا ده چي كبرياء او عظمت فقط له ده سره ښايي او بس او فقط ده ته مختص ده؛ لكه انسان چي خپله جامه له ځانه نه باسي او بل چا ته ئې نه وركوي؛ الله تعالی هم په كبرياء او عظمت كې بل څوك له ځان سره نه شريكوي. عجيبه ده چي څوك له كبرياء او عظمت د جامې معنی اخلي او د دې روايت له مخي الله تعالی ته د رداء او إزار ثابتولو خوښې هڅه كوي!!!

## ۳۵ باب: د رسول الله صلى الله عليه و سلم د روژې او نه روژې بيان

۹۶۰ ـ عن حُمَيْد قَالَ: سَأَلْتُ أَنَسًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنْ صِيَامِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «مَا كُنْتُ أُحِبُّ أَنْ أَرَاهُ مِنَ الشَّهْرِ صَائِمًا إِلَّا رَأَيْتُهُ، وَلاَ مُفْطِرًا إِلَّا

رَأَيْتُهُ، وَلاَ مِنَ اللَّيْلِ قَائِمًا إِلَّا رَأَيْتُهُ، وَلاَ نَائِمًا إِلَّا رَأَيْتُهُ، وَلاَ مَسِسْتُ خَزَّةً وَلاَ حَرِيرَةً، أَلْيَنَ مِنْ كَفِّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلاَ شَمِمْتُ مِسْكَةً، وَلاَ عَبِيرَةً أَطْيَبَ رَائِحَةً مِنْ رَائِحَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» بخاری ۱۹۷۳

۹۶۰ – له حُمَید روایت دئ چي له انس رضي الله عنه مي د رسول الله صلی الله علیه و سلم د روژې په اړه وپوښتل؛ نو وئې ویل: که به مي زړه غوښتل چي رسول الله صلی الله علیه و سلم په کومه میاشت کي د روژې په حال کي ووینم؛ نو وبه مي لیدو او نه بې روژې؛ مگر وبه مي لیدو؛ او نه د شپې په لمانځه ولاړ مگر وبه مي لیدو او نه ویده؛ مگر دا چي وبه مي لیدو؛ او نه مي د وړیو او وریښمو په داسي نرمي ټوټې لاس راکاږلی چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر لاس زیاته نرمه وي او نه مي داسي مِشک او عنبر بوی کړي چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر خوږ بوی؛ زیات خوږ وو.

د دې روایت معنی دا ده چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم نفلي روژو او لمونځونو؛ نه خاصي میاشتي درلودې او نه ځانگړې شپې؛ کله مي د روژې حالت کي لیدلی او کله بې روژې؛ کله مي د شپې له لوري په لمانځه لیدلی او کله ویده. او دا چي رسول الله صلی الله علیه و سلم تل ښایسته عطر کارول.

۹۶۱ ـ حدیث عَبْدُاللَّهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهَا تَقَدَّمَ.

۹۶۱ – د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه حدیث مخکي تېر شو.

۳۶ باب: په روژه کي د بدن حق

۹۶۲ - وَقَالَ فى هَذِهِ الرواية: فَكَانَ عَبْدُاللَّهِ يَقُولُ بَعْدَ مَا كَبِرَ يَا لَيْتَنِى قَبِلْتُ رُخْصَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

۹۶۲ - او په دې روایت کي راغلي: کله چي عبدالله سپین ږیری شو؛ نو

ويل به ئې: كاش د رسول صلى الله عليه و سلم رخصت مي منلى وى.

دلته د بخاري ۱۹۷۵ روايت ته اشاره شوې چي په هغه کې راغلي: رسول الله صلى الله عليه و سلم له ده پوښتنه کړې وه: آيا همداسي ده چي ته هر ورځ روژه نيسي او هره شپه نفل لمونځونه؟ هغه ويلي وو: هو؛ يا رسول الله؛ ورته فرمايلي ئې وو: داسي مه کوه؛ کله روژه نيسه او کله نه، کله د شپې نفلي لمونځونه کوه او کله ويده کېږه؛ جسد دي، مېرمن دي، ستا ملاقات کوونکي دوستان دي؛ پر تا حق لري؛ په مياشت کي درې ورځي روژه نيسه او همدا په ثواب کي داسي ده لکه چي ټول عمر دي روژه نيولې وي؛ ځکه هر نېك عمل لس برابره اجر لري؛ خو ده دا کافي نه ده ګڼلې او تر دې زيات ئې غوښتی... خو بيا په زړښت کي پښېمان وو او ويل ئې كاش د رسول الله صلى الله عليه و سلم سپارښتنه مي منلې وی.

## ۳۷ باب: په روژه کي د کورنۍ حق

۹۶۳ـ وفى رواية عنه: أَنَّهُ لما ذكر صِيَامَ دَاوُدَ عليه السلام قَالَ: وَكَانَ وَلا يَفِرُّ إِذَا لاقَى قَالَ عبدالله: مَنْ لِي بِهَذِهِ يَا نَبِيَّ اللَّهِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لا صَامَ مَنْ صَامَ الأَبَدَ مَرَّتَيْنِ. (بخارى: ۱۹۷۷)

۹۶۳ - او له همده (عبدالله بن عمرو بن العاص) په بل روايت کي راغلي: کله چي ئې د داؤد عليه السلام د روژې يادونه وکړه وئې فرمايل: ((او هغه داسي وو چي کله به (له دښمن سره) مخامخ شو نو نه به تښتېدو))؛ عبدالله بن عمرو وويل: اې د الله نبي! څوک به په دې کي زما ضامن وي؟ نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ((څوک چي تل روژه نيسي؛ داسي دئ لکه چي هيڅ روژه ئې نه وي نيولې))؛ دا خبره ئې دوه ځلي تکرار کړه.

په دې روايت کي پر روژتي د کورنۍ حق نه دئ بيان شوی؛ خو دا روايت د ۱۹۷۵ روايت يوه برخه ده چي د کورنۍ حق يادونه هم په کي

شوې.

٣٧ باب: كه څوك د نورو ليدو ته ورشي خو خپله روژه ماته نه كړي

٩٦٤ ـ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أُمِّ سُلَيْمٍ فَأَتَتْهُ بِتَمْرٍ وَسَمْنٍ قَالَ: «أَعِيدُوا سَمْنَكُمْ فِي سِقَائِهِ، وَتَمْرَكُمْ فِي وِعَائِهِ، فَإِنِّي صَائِمٌ» ثُمَّ قَامَ إِلَى نَاحِيَةٍ مِنَ الْبَيْتِ فَصَلَّى غَيْرَ الْمَكْتُوبَةِ فَدَعَا لأُمِّ سُلَيْمٍ وَأَهْلِ بَيْتِهَا فَقَالَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ لِي خُوَيْصَّةً قَالَ: «مَا هِيَ؟» قَالَتْ: خَادِمُكَ أَنَسٌ، فَمَا تَرَكَ خَيْرَ آخِرَةٍ وَلا دُنْيَا إِلَّا دَعَا لِي بِهِ قَالَ: «اللَّهُمَّ ارْزُقْهُ مَالاً وَوَلَدًا وَبَارِكْ لَهُ فِيهِ» فَإِنِّي لَمِنْ أَكْثَرِ الأَنْصَارِ مَالاً وَحَدَّثَتْنِي ابْنَتِي أُمَيْنَةُ أَنَّهُ دُفِنَ لِصُلْبِي مَقْدَمَ حَجَّاجٍ الْبَصْرَةَ بِضْعٌ وَعِشْرُونَ وَمِائَةٌ. (بخاری: ١٩٨٢)

٩٦٤ - له انس رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د ام سُلَيم كور ته ورغی (دا ئې رضاعي خاله وه)؛ هغې خرما او غوړي ورته راوړل؛ وئې فرمايل: ((غوړي مو د هغه ژي ته ستانه كړئ او خرما خپلي پنډي ته ئې؛ ځكه زه روژه يم)). بيا پاځېد او د كور په يوې گوښه كي ئې نفلي لمونځ وكړ؛ بيا ئې ام سليم او د هغې كورنۍ ته دعاء وكړه؛ نو ام سُلَيم وويل: يا رسول الله! زه خو ستا خدمت ته مختص شوی يو وړوكی او نازولی لرم! وئې فرمايل: ((هغه څه دئ؟)) هغې وويل: ستا خادم انس؛ (انس وايي): نو نه ئې د آخرت كوم خير پرېښود او نه د دنيا مگر دا چي زما لپاره ئې وغوښتل؛ وئې فرمايل: ((خدايه! مال اولادونه وركړې او په هغوی كې ده ته بركت واچوې))؛ نو نن زه له هغو انصارو يم چي تر نورو ئې مال او شتمني زياته ده؛ او لور مي ((أُمَيْنَه)) راته ويلي: بصرې ته د حَجَّاج تر راتگ وړاندي زما له اولادې څه باندي يو سل شل تنه دفن شوي.

## ٣٨ باب: د مياشتي د پای روژه

٩٦٥ ـ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّهُ سَأَلَهُ أَوْ سَأَلَ رَجُلاً فَقَالَ: «يَا أَبَا فُلانٍ أَمَا صُمْتَ سَرَرَ هَذَا الشَّهْرِ؟» قَالَ الرَّجُلُ: لا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ: «فَإِذَا أَفْطَرْتَ فَصُمْ يَوْمَيْنِ» وفى رواية عنه قال: «مِنْ سَرَرِ شَعْبَانَ». (بخارى: ١٩٨٣)

٩٦٥ – له عمران بن حُصَين رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم له ده يا كوم بل سړي؛ وپوښتل: ((اې فلانيه! د دې مياشتې په وروستيو كي دې روژه نه ده نيولې؟)) هغه سړي وويل: نه؛ يا رسول الله! وئې فرمايل: ((كله چي دي روژه پای ته ورسوله؛ دوه ورځي روژه ونيسه)) او په بل روايت كي ويل شوي: ((د شعبان مياشتي له وروستيو)).

د بخاري د دې روايت اصلي بڼه داسي ده:

١٩٨٣ - عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّهُ سَأَلَهُ - أَوْ سَأَلَ رَجُلًا وَعِمْرَانُ يَسْمَعُ -، فَقَالَ: «يَا أَبَا فُلاَنٍ، أَمَا صُمْتَ سَرَرَ هَذَا الشَّهْرِ؟» قَالَ: - أَظُنُّهُ قَالَ: يَعْنِي رَمَضَانَ -، قَالَ الرَّجُلُ: لاَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: «فَإِذَا أَفْطَرْتَ فَصُمْ يَوْمَيْنِ»، لَمْ يَقُلِ الصَّلْتُ: أَظُنُّهُ يَعْنِي رَمَضَانَ، قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ: وَقَالَ ثَابِتٌ: عَنْ مُطَرِّفٍ، عَنْ عِمْرَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مِنْ سَرَرِ شَعْبَانَ»

له عمران بن حُصَين رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم له ده يا كوم بل سړي؛ وپوښتل او عمران اورېدل: ((اې فلانيه! د دې مياشتې د پای (چي سپوږمۍ ئې د پټېدو حالت كې وي)؛ روژې دي نه دي نيولې؟)) راوي وايي: گمان كوم وئې ويل: يعني د رمضان مياشت؛ هغه سړي وويل: نه؛ يا رسول الله! وئې فرمايل: ((كله چي دي روژه پای ته ورسوله؛ دوه ورځي روژه ونيسه)) صَلْت بن محمد

دا نه دي ويلي چي گومان کوم د رمضان مياشت ئې ياده کړه؛ ابو عبد الله وويل: ثابت له مُطَرِّف او هغه له عمران روايت کړی چي رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: «مِنْ سَرَرِ شَعْبَانَ» د شعبان له وروستيو.

لکه چي گورئ په دې روايت کي ډېر ابهام او اضطراب تر سترگو کېږي؛ په يوه کي د روژې مياشت د پای روژې او په بل کي د شعبان مياشت د پای؛ ويل شوي؛ په داسي حال کي چي نه د شعبان مياشتي د پای روژې نيول صحيح دي؛ ځکه د شك په روژو کي راځي او نه د روژې مياشتي په پای کي او متصل روژه نيول جائز دي؛ ځکه په دواړو عيدونو کي روژه نيول منع دي. له دقيقي شرحي پرته نه د دې روايت ابهامات رفع کولی شو او نه ئې له الفاظو په مطلب په سمه توگه پوهېدلی شو؛ اصلي مطلب ئې دا دئ چي دې سړي د هري مياشتي پای کي دوه نفلي روژې نيولې؛ کله چي پوه شو د شك روژه به نه نيسي؛ نو دا ځل ئې د شعبان مياشتي هغه دوه روژې نه وې نيولې؛ د رسول الله صلی الله عليه و سلم د پوښتني په ځواب کي ئې همدا ويلي او هغه ورته فرمايلي: د روژې له مياشتي وروسته هغه دوه ورځي نفلي روژې دي ونيسه. يعني که څوك کوم نفلي عبادت پر ځان لازم کړي او ونه توانېږي په خپل وخت ئې اداء کړي؛ بل وخت دي دا نقص جبيره کړي.

### ۳۹ باب: د جمعې د ورځي روژه

۹۶۶ ـ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبَّادٍ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَأَلْتُ جَابِرًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَوْمِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ؟ قَالَ: نَعَمْ. (بخاری: ۱۹۸۴)

۹۶۶ - له محمد بن عباد رضي الله عنه روايت دي چي وايي: له جابر رضي الله عنه مي وپوښتتل: آيا رسول الله صلی الله عليه و سلم د جمعې په ورځ له روژې نيولو نهي کړې ده؟ وئې وويل: هو.

د دې روايت په اړه دا پوښتنه راولاړېږي چي آيا د جمعې په ورځ روژه نيول جائز نه دي؟ ښايي داسي څوك به هم پيدا شي چي گمان

وکړي د روژې په میاشت کې به هم د جمعې په ورځ روژه نه نیسو؛ که څه هم په روایت کې دا وضاحت نه دئ شوی چې د جمعې په ورځ به نفلي روژه نه نیول کېږي؛ خو په راتلونکي روایت کې دا ابهام رفع شوی:

٩٦٧ ـ عَنْ جُوَيْرِيَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَهِيَ صَائِمَةٌ فَقَالَ: «أَصُمْتِ أَمْسِ؟» قَالَتْ: لَا، قَالَ: «تُرِيدِينَ أَنْ تَصُومِي غَدًا؟» قَالَتْ: لَا، قَالَ: «فَأَفْطِرِي». (بخاری: ١٩٨٦)

٩٦٧ – له ام المؤمنين جویریه بنت حارث رضي الله عنها روایت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د جمعې په ورځ په داسې حال کې د دې کور ته راغی چې دا روژه وه؛ وئې فرمایل: ((آیا پرون دې روژه نیولې وه؟)) هغې وویل: نه؛ بیا ئې وفرمایل: ((سبا روژه نیسې؟)) هغې وویل: نه؛ وئې فرمایل: ((نو روژه دې ماته کړه)).

له دې معلومېږي چې د جمعې په ورځ په اختصاصي او منفرده توګه روژه نیول؛ جائز نه دي.

په صحیح مسلم کې دا روایت تر دې باب لاندې راوړل شوی: باب النهي عن صوم يوم الجمعة منفردًا: دا عنوان له روایت سره ډېر مناسب دئ.

### ٤٠ باب: د روژې لپاره ځانګړې ورځې

٩٦٨ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّها سُئِلَتْ: هَلْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْتَصُّ مِنَ الأَيَّامِ شَيْئًا؟ قَالَتْ: لَا، كَانَ عَمَلُهُ دِيمَةً، وَأَيُّكُمْ يُطِيقُ مَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُطِيقُ. (بخاری: ١٩٨٧)

٩٦٨ – له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چې وپوښتل شوه: آیا رسول الله صلى الله عليه و سلم داسې وو چې خاصې ورځې وټاکي؟ وئې ویل: نه؛ عملونه به ئې دائمي وو؛ او له تاسو به څوك دومره توان او طاقت ولري چې رسول الله صلى الله عليه و سلم درلود؟!

تکرار: دا روایت په بخاري کې ۲ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۱۹۸۷ - ٦٤٦٦ – له دغو توپیرونو سره: په یوه کې قُلْتُ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا په بل کې سَأَلْتُ أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ عَائِشَةَ، په یوه کې كَيْفَ كَانَ عَمَلُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، هَلْ كَانَ يَخُصُّ شَيْئًا مِنَ الأَيَّامِ؟ په بل کې هَلْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَخْتَصُّ مِنَ الأَيَّامِ شَيْئًا؟ په یوه کې وَأَيُّكُمْ يُطِيقُ مَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُطِيقُ په بل کې وَأَيُّكُمْ يَسْتَطِيعُ مَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَطِيعُ راغلي. سره له دې لفظي توپیرونو د روایاتو اصلي موضوع دا ده چې آیا رسول الله صلی الله علیه و سلم د نفلي عباداتو لپاره خاصي ورځې ټاکلې وې که نه؛ د عائشې رضي الله عنها ځواب داسې ګڼل شوی چې نه؛ نوافل ئې هم دائمي وو؛ خو دا وضاحت ته ضرورت لري؛ ځکه په نورو روایاتو کې دا مومو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم هم په خپله خاصي ورځې او وختونه د نوافلو لپاره درلودل او هم ئې خپل امت ته د دې سپارښتنې کړې؛ لکه چې ده د شعبان میاشت کې تر نورو زیاتې روژې نیولې؛ روایت ئې لږ وړاندې تېر شو؛ راوي ئې هم عائشه رضي الله عنها، د عرفې روژه، د ایام بیض درې ورځې، د شوال میاشت شپږ ورځې، د هرې اونۍ په دوه نۍ (دوشنبه) او پنځنۍ (پنجشنبه) روژې؛ ما ته داسې برېښي چې د دې روایاتو د تلفیق؛ یو صورت کېدی شي او هغه دا چې ورځې به ئې داسې نه مختص کولې چې په یوې اونۍ، میاشت او کال کې ئې مراعات کړې او په نورو اونیو، میاشتو او کلونو کې نه؛ او دا هغه څه دي چې ده ئې توان درلود او موږ ئې نه لرو؛ موږ ته ئې سپارښتنه دا ده چې پر ځان ئې لازم نه کړو.

## ٤١ باب: د تشریق د ورځو روژه

٩٦٩ ـ عَنْ عَائِشَةَ و ابنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالا: لَمْ يُرَخَّصْ فِى أَيَّامِ التَّشْرِيقِ أَنْ يُصَمْنَ إِلَّا لِمَنْ لَمْ يَجِدِ الْهَدْىَ. (بخارى: ١٩٩٧ـ ١٩٩٨)

٩٦٩ - له عائشې او ابن عمر رضي الله عنهم روایت دئ چې وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم هیڅا ته د تشریق په ورځو کې د روژې اجازه نه ده ورکړې مګر هغه قارن او متمتع حاجي ته چې د هدي (حج د قربانۍ) توان نلري.

ایام تشریق هغو دریو ورځو ته ویل کېږي چې د لوی عید تر لومړۍ ورځې وروسته دي؛ یعنې د ذي الحجې ١١-١٢-١٣؛ احناف او شوافع په دغو ورځو کې روژه نیول مکروه تحریمي ګڼي؛ د هغو روایاتو په استناد چې وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم په دغو ورځو کې د روژې له نیولو ممانعت کړی؛ خو د امام بخاري له نظره هغه حاجي کولی شي په دغو ورځو کې روژه ونیسي چې د تمتع اوقران حج نیت ئې کړی؛ ګواکې دوی ایام تشریق؛ له هغو ورځو مستثنیٰ کړې چې روژه به نه په کې نیول کېږي؛ دا استثناء د هغو په اړه ګڼي چې د یوه څاروي ذبح کولو توان نه لري؛ نو درې ورځې به د حج په دوران کې روژه نیسي او اوه ورځې خپل کور ته له ستنېدو وروسته؛

احناف په هغه روایت هم استناد کوي چې په سنن ترمذي کې راغلی: (عن عُقبة بن عامر رضي الله عنه أنّ النبيّ صلى الله عليه و سلم قال: (يومُ عرفةَ ويومُ النحرِ وأيامُ التشريقِ عيدنا أهلَ الإسلامِ، وهيّ أيامُ أكلٍ وشربٍ)؛ یعنې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: د عرفې ورځ، یوم النحر او ایام تشریق د اهل اسلام عید دئ؛ او دا د خوراك او څښاك ورځې دي؛ او په دې روایت هم: عن أمّ عمر بن سُلَيم: (بعث رسولُ اللهِ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ عليَّ بنَ أبي طالبٍ رضيَ اللهُ عنه في أواسطِ أيامِ التشريقِ يُنادِي في الناسِ لا تصومُوا في هذه الأيامِ فإنها أيامُ أكلٍ وشربٍ)): له ام عمر روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم علي رضي الله عنه د ایام تشریق په منځ کې ولېږو چې د خلکو منځ کې دا اعلان وکړي: په دغو ورځو کې روژه مه نیسئ ځکه دا د خوراك او څښاك ورځې دي. او امام شافعي رحمه الله په هغه روایت استناد کوي چې په صحیح

مسلم کې راغلی (أنّ النبيّ صلى الله عليه و سلم قال: (أَيَّامُ التَّشْرِيقِ أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ))

د دغو روایاتو راویانو کې عمر بن الخطاب، علي بن ابي طالب، ابو هریره، ابن عباس، نُبَيْشَةَ، عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، مَعْمَرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْعَدَوِيِّ شامل دي؛ له صحیح بخاري او سنن ابي داؤد پرته نورو ټولو مهمو کتابونو راوړي.

امام مالك او امام احمد حنبل؛ هغه متمتع او قارن حاجي ته په ایام تشریق کې د روژې نیول جائز ګڼي چې د هدي (څاروي ذبح کولو) توان نه لري؛ دوی په هغه روایت استناد کوي چې په بخاري کې راغلی: عن أمّ المؤمنين عائشة رضي الله عنها و ابن عمر رضي الله عنهما؛ أنّ النبيّ صلى الله عليه و سلم قال: (لَمْ يُرَخَّصْ فِي أَيَّامِ التَّشْرِيقِ أَنْ يُصَمْنَ، إِلَّا لِمَن لَمْ يَجِدِ الهَدْيَ)، او عن عائشة رضي الله عنها: (أَنَّ النَّبِيَّ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ رخَّصَ للمتمتعِ إذا لم يجدِ الهديَ ولم يصمْ الثلاثةَ في العشرِ: أن يصومَ أيامَ التشريقِ). د دواړو روایاتو خلاصه دا ده چې ګواکې هغه متمتع حاجي ته په دغو ورځو کې د روژې نیولو رخصت ورکړی شوی چې د هدي توان نه لري.

د بخاري د روایت راویان په صحابه وو کې یوازي عائشه او ابن عمر رضي الله عنهم دي. او له صحاح سته یوازي په صحیح بخاري او سنن ابي داؤد کې راغلی؛ مصنف ابن ابي شیبه او سنن الکبری للبیهقي کې هم راغلي خو داسي چې په هغوی کې دواړه متعارض روایات راوړل شوي.

دې ته په پام سره چې احنافو په هغه روایت استناد کړی چې هم ئې په صحابه وو کې راویان اته تنه او د بخاري په پرتله څلور ځله زیات دي او هم په هغوی کې دوه ستر شخصیتونه؛ دوه امیر المؤمنین؛ عمر او علي رضي الله عنهما دي او د دوی د امارت په وخت کې پرې عمل شوی؛ نو دا رأی ارجح او اصح ده. ځینو په تکلف سره هڅه کړې چې د بقره سورې د ۱۹۶ له دې برخي (... فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ

وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ...)؛ داسي څه راوباسي چي د بخاري د رأى لپاره مستمسك ترې جوړ شي؛ حال دا چي په دې كي (ثَلاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ) راغلي نه (ايام التشريق)؛ هيڅوك په دې كي اختلاف نه لري چي داسي حاجي به د حج په ټولو ورځو کي درې ورځي روژه نيسي؛ اختلاف په دې كي دئ چي احنافو او شوافعو د رسول الله صلى الله عليه و سلم په ډېر مشهور روايت استناد كړى او ايام التشريق كي ئې د روژو نيول مكروه تحريمي گڼلي؛ اما بخاري په مرجوح او د سند له پلوه كمزوري روايت استناد كړى.

آيا ډېره عجيبه نه ده چي ځيني داسي څرگند حقائق له پامه غورځوي او د تعصب او تعنت له مخي احناف او جليل القدر ائمه او فقهاءو ته ئې كله د اهل الرأى خطاب كوي او كله د متروك او د حديث منكر؟!!! په ټول يقين سره ويلى شو چي په ټولو او لږ تر لږه په اكثرو دغسي مواردو كي د احنافو ائمه وو په هغو رواياتو استناد كړى چي د بخاري تر رواياتو اصح او ارجح دي.

امام ابو حنيفه رحمه الله او احنافو ته دوى ځكه اهل رأى او د حديث منكر وايي چي ۱- احناف قرآن اصل گڼي او حديث فرع او د قرآن شرح او تفسير؛ هغه روايات چي راويان ئې يو يا لږ وي؛ په هغه صورت كي ئې معتبر گڼي چي له قرآن سره مطابقت ولري، د عدم مطابقت په صورت كي د قرآن په صريح نص اكتفاء كوي؛ د بخاري اكثر روايات آحاد دي؛ پورتنى روايت ئې يو مثال دئ؛ ډېر ئې غريب دي چي په يوه طبقه كي يوازي يو يو راوي لري؛ احناف غريب روايات د استناد وړ نه گڼي او يوازي په هغه صورت كي ئې مني چي په قرآن كي ورته شاهد ومومي. امام بخاري رحمه الله او استادان ئې له دې سره موافق نه دي؛ دا خبره نه مني چي د روايت د صحت لپاره له قرآن سره ئې مطابقت شرط دئ؛ دوى د ثقه راويانو لپاره خپل معيارونه لري او له مخي ئې د هغوى يو فهرست جوړ كړى؛ له دوى چي كوم روايت تر

لاسه کوي؛ هغه ته صحيح وايي؛ حتى هغه هم چي له قرآن سره په څرگنده توگه تعارض لري؛ خو د دوی له دې فهرست سره نه يوازي ټول محدثين موافق نه دي بلکې ورسره اختلاف لري او ډېر راويان ئې متروك، ضعيف او غير ثقه گڼي؛ هغوی د ثقه راويانو ځان ته نوملړ او فهرست لري؛ ځيني همداسي دي؛ که څوك د دوی په معيارونو برابر کوم روايت ورسره ونه مني نو د حديث منکر، زنديق او حتى مرتد په نامه ئې يادوي؛ عادي افراد خو پرېږدئ حتى داسي ائمه او فقهاء هم تکفيروي چي په مليونو مؤمن پلويان لري!! تکفيري ډلي له همدې تفکير راټوکېدلې دي. احناف د رواياتو د صحت لپاره اصول او شرائط لري؛ امام ابو حنيفه وايي: کوم روايت چي صحيح ثابت شي؛ همدا زما مذهب دئ؛ يعني که کوم روايت له قرآن سره مطابقت ولري او د صحت په ټولو شرائطو برابر وي؛ همدا به زموږ مذهب وي. د اهل ظاهر يو مبلغ مي پر منبر ليدو چي ويل ئې: آيا ابو حنيفه دا نه دي ويلي: کوم روايت چي صحيح ثابت شي؛ همدا زما مذهب دئ؟ او آيا ټول دا نه وايي او په دې ټول امت اجماع نه ده کړې چي بخاري او روايات ئې ټول صحيح دي؟ نو معنى ئې دا ده چي صحيح بخاري د ابو حنيفه مذهب دئ!! عجيبه ده!! مغالطه هم يو حد لري؛ دا د تعصب په ښماری اخته؛ له ټولو پولو اوړي؛ حقيقت دا دئ چي امام ابو حنيفه د بخاري ډېر روايات غير صحيح او مرجوح گڼي؛ لکه پورتني روايات ئې او امام بخاري ډېر هغه روايات نه دي منلي او نه ئې په خپل کتاب کې راوړي چي احناف ئې د بخاري تر رواياتو اصح او ارجح گڼي. ۲- د اهل روايت دوهمه ستونزه دا ده چي احناف د قرآن او صحيح حديث تر څنگ؛ او ترې وروسته؛ رأی (درايت او فراست) هم مهم او معتبر گڼي؛ هغه راوي ته ترجيح ورکوي چي د صائب رأی خاوند او په درايت او فراست کې تر نورو وړاندي وي؛ هغه روايت مني چي له عقل سره اړخ لگوي؛ د عقل او علم خلاف خبره نه مني او رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ئې له

انتساب ډېره کوي؛ خو اصحاب ظاهر؛ درايت او په مرسته ئې د روايت د صحت په اړه د قرآن او صحيح حديث په رڼا کې قضاوت او پرېکړه؛ نه يوازي نه مني بلکې دې ته له حديث د انکار په سترګه ګوري؛ او د دې فکر او اسلوب خاوند د منکر حديث او اهل رأی په تکفيري فتوی استقبالوي!!!

متأسفانه دا روايت ځېلي داسي دي چي کله څوك ووايي: قرآن کافي او کامل دئ؛ هر څه ئې په تفصيل سره بيان کړي؛ حق په قرآن کي خلاصه شوی؛ نو داسي غبرګون ښيي چي وېښتان ئې ځيږ شي؛ دا په داسي حال کي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپله، په خپلي آخري مهمي خطبې؛ حجة الوداع خطبې کي؛ چي ډېرو مهمو او اساسي مسائلو ته ئې په کي اشاره کړې ده؛ فرمايي: په تاسو کي هغه څه پرېږدم چي که منګولي پرې ولګوئ؛ هيځکله به بې لاري نه شئ؛ چي هغه د الله کتاب دئ؛ د کتاب الله تر څنګ د بل څه نوم نه اخلي؛ که د بل څه يادول ضروري او حتمي وی نو رسول الله صلی الله عليه و سلم به حتماً په دې مهمي وروستۍ خطبې کي د هغه يادونه کړې وی؛ نه ئې دا وويل چي دوه شيان په تاسو کي پرېږدم: کتاب الله او زما سنت، يا زما حديث، يا زما عترت، يا زما اهل بيت؛ يوازي د کتاب الله يادونه ئې وکړه؛ يعني چي فقط همدا د الله تعالی کتاب ستاسو د هدايت لپاره کافي دئ؛ دا روايت د إسنادو له پلوه دومره دروند او معتبر دئ چي د صحيح بخاري لږ روايات ورسره برابري کولی شي؛ تر اتو زياتو صحابه وو روايت کړی؛ او له صحيح بخاري پرته د حديث په ټولو کتابونو کي بلا استثناء راغلی؛ په دې صيغه:

... أَيُّهَا النَّاسُ، قَدْ تركت فيكم ما إن اعْتَصَمْتُمْ بِهِ لَنْ تَضِلُّوا: كِتَابَ اللَّهِ:

... اې خلکو! په تاسو کي مي هغه څه پرېښود چي که منګولي پرې ټينګي کړئ هيځکله به بې لاري نه شئ: د الله کتاب.

دا ئې په هغې خطبې کي ويلي چي تر يو لك زيات خلك په حج کي

راغونډ شوي وو؛ او د رسول الله صلی الله علیه و سلم آخري خطبه ئې اورېدله؛ او لنډه موده وروسته ئې له دې نړۍ رحلت وکړ.

دا هم عجیبه ده چې امام بخاري رحمه الله ولې دا ډېر مهم او معتبر روایت په خپل کتاب کې نه دئ راوړی؟ یقیناً چې دا روایت به ده ته رسېدلی وي؛ ځکه چې د ده ملګري او شاګرد امام مسلم رحمه الله؛ او تر ده مخکې او هم دوره محدثینو؛ ټولو ته رسېدلی او ټولو په خپلو کتابونو کې راوړی؛ امام بخاري هغه روایات هم نه دي راوړي چې د کتاب الله تر څنګ د سنة نبیه یادونه په کې شوې؛ او یوازې دوه راویان لري: یو ئې امام مالك رحمه الله دئ او روایت ئې داسې:

عَنْ مَالِكٍ أَنَّهُ بَلَغَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " تَرَكْتُ فِيكُمْ أَمْرَيْنِ، لَنْ تَضِلُّوا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا: كِتَابَ اللَّهِ وَسُنَّةَ نَبِيِّهِ "

له مالك روایت دئ چې وایي: ده ته دا خبره رسېدلې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: په تاسو کې دوه امور پرېږدم؛ که منګولې پرې ولګوئ نو هیڅکله به بې لارې نه شئ: د الله کتاب او د هغه د نبي سنت.

د دې روایت په اړه څو ملاحظات وړاندې کېږي:

- امام مالك ولې هغه څوك نه دئ یاد کړی چې دا روایت ئې ترې اورېدلی؛ او همدا ئې د ضعف ټکی دئ او د روایت اعتبار تر پوښتنې لاندې راولي.
- د حجة الوداع له ډېر معتبر او صحیح حدیث سره مغایرت لري.
- دا روایت په همدې صیغه او له (أَمْرَيْنِ) او (سُنَّةَ نَبِيِّهِ) سره؛ د امام مالك په څنګ کې یوازې یو ځل بیا د حدیث په ټولو کتابونو کې تر سترګو کېږي؛ او هغه هم داسې چې په څلورو طبقو کې یو یو راوي لري؛ درې تنه ئې زوی، پلار او نیکه دي؛ روایت او راویان ئې دا دي:

عَنْ كَثِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " تَرَكْتُ فِيكُمْ أَمْرَيْنِ لَنْ تَضِلُّوا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا: كِتَابَ اللَّهِ وَسُنَّةَ نَبِيِّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "

دا روايت غريب دئ؛ په ٣ طبقو کې يو يو راوي لري چي دا دي: كَثِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ، او د ده پلار او نيكه؛ د حجة الوداع روايت په وړاندي هيڅ وزن او اعتبار نه لري؛ په بشپړ يقين سره ويلى شو چي د كتاب الله تر څنګ؛ د امرين، ثقيلتين، خليفتين، سنة نبيه، اهل بيتي، عترتي... الفاظ له ځانه په کې علاوه شوي.

قرآن په مكرره توګه او په ګڼ شمېر آيتونو کې همدا وايي چي قرآن كافي دئ؛ حتى په تعجب سره رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وايي: آيا دا كتاب چي پر تا نازل شوى؛ دوى ته كفايت نه كوئ؟!!

أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ يُتْلَى عَلَيْهِمْ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَىٰ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾ العنكبوت

همد راز فرمايي:

وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ﴿١٠٣﴾ آل عمران

او ټول د الله په رسۍ (قرآن) منګولي ولګوئ او مه متفرق كېږئ.

يعني چي ټول مؤمنان؛ يوازي په دې ګمارل شوي چي په قرآن؛ تمسك او اعتصام ولري؛ همدا په قرآن تمسك د دوى د يووالي ضامن دئ؛ كه منګولي پرې ولګوي نو متحد به وي او كه نه نو متفرق او په اختلاف اخته.

دې روايت ته هم ځير شئ:

١١٠٩٢ – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: كُنَّا قُعُودًا نَكْتُبُ مَا نَسْمَعُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجَ عَلَيْنَا، فَقَالَ: «مَا هَذَا تَكْتُبُونَ؟» فَقُلْنَا: مَا نَسْمَعُ مِنْكَ، فَقَالَ: «أَكِتَابٌ مَعَ كِتَابِ اللَّهِ؟» فَقُلْنَا: مَا نَسْمَعُ، فَقَالَ: «أَكِتَابٌ غَيْرُ كِتَابَ اللَّهِ؟

امْحِضُوا كِتَابَ اللَّهِ وَأَخْلِصُوهُ» قَالَ: فَجَمَعْنَا مَا كَتَبْنَا فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ؛ ثُمَّ أَحْرَقْنَاهُ بِالنَّارِ.... مسند احمد

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وئې ويل: ناست وو او هغه څه مو ليکل چي له رسول الله صلی الله عليه و سلم مو اورېدل؛ وئې فرمايل: دا څه دي چي ليکئ ئې؟ ومو ويل: هغه څه چي له تا ئې اورو؛ وئې فرمايل: آيا د الله د کتاب خوا ته بل کتاب؟ ومو ويل: فقط هغه څه چي موږ ئې اورو (هيڅ څه له ځانه نه پرې زياتوو)؛ وئې فرمايل: مګر د الله له کتاب پرته بل کتاب؟ د الله کتاب خالص او منفرد ونيسئ. ابو هريره وويل: څه چي مو ليکلي وو ټول مو راغونډ کړل او په اور کې مو وسوزول.

له دې روايت په کامل صراحت او قاطعيت سره معلومېږي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم له دې ممانعت کولو چي څوك د ده حديث وليکي؛ او حتی تعجب ئې کړی چي څوك د الله تعالی د کتاب ترڅنګ په بل کتاب ځان مصروف کړي؛ تأکيد ئې کړی چي د الله په کتاب بسنه او اکتفاء وکړئ او بل کتاب ئې خوا ته مه نيسئ. دا سپارښتنه ئې؛ د دې روايت له مخي؛ لږ تر لږه؛ د رسالت په ۲۱ کلنۍ کې کړې؛ دا ځکه چي ابو هريره د اوم هجری کال په لومړيو کې؛ د خيبر جنګ په کال ايمان راوړی؛ له دې روايت چي راوي ئې ابو هريره دئ معلومېږي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د رسالت په ۲۰ کلونو کې؛ د بعثت له ورځي بيا تر اُوَم هجري کال؛ هيڅا ته د احاديثو د ليکلو اجازه نه وه ورکړې؛ او چا چي د ده له اجازې پرته څه ليکلي وو؛ ټول ئې وسوزول؛ روايت صراحت لري چي يوازي ابوهريره دا کار نه دئ کړی؛ بلکې د ده تر څنګ نور هم لګياوو د رسول الله صلی الله عليه و سلم ويناوي ئې ليکلې؛ او بيا ټولو په ګډه ليکلي احاديث يو ځايي سوزولي.

دا روايات ډېر زيات دي او له بخاري پرته تقريباً ټولو کتابونو کې راغلي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم ويلي: له قرآن پرته بل څه

له ما مه ليکئ؛ د امام بخاري شاګرد؛ امام مسلم دا روايت راوړی:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَا تَكْتُبُوا عَنِّي، وَمَنْ كَتَبَ عَنِّي غَيْرَ الْقُرْآنِ فَلْيَمْحُهُ، وَحَدِّثُوا عَنِّي، وَلَا حَرَجَ، وَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ - قَالَ هَمَّامٌ: أَحْسِبُهُ قَالَ - مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ " صحيح مسلم

له ابو سعيد خدري روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: له ما کوم څه مه ليکئ؛ او چا چي له قرآن پرته بل څه له ما ليکلي وي؛ هغه دي حتماً محو کړي؛ زما حديث واوروئ؛ په دې کي څه حرج او ستونزه نه شته؛ خو چا چي زما په اړه دروغ وويل؛ (راوي وايي: ګمان کوم دا ئې هم وويل: عمداً او قصداً ئې دا کار وکړ)؛ نو هغه دي خپل ځای په جهنم کي ولټوي.

له يوه مشهور محقق؛ أبو إسحاق الحويني مي په يوې ويډيو کي واورېدل چي ويل ئې: له نژدې اويا صحابه وو دا روايت نقل شوی!!

يعني چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د حديث له ليکلو ممانعت کړی؛ او د حديث بيانولو او نورو ته د اورولو اجازه ئې ورکړې؛ خو دا تأکيد ئې هم کړی چي پام کوئ ما ته داسي خبره منسوب نه کړئ چي ما نه وي ويلې؛ چا چي زما په اړه دروغ وويل؛ نو هغه دي خپل ځای په جهنم کي ولټوي. نو کله چي اورو چا رسول الله صلی الله عليه و سلم ته کومه وينا منسوب کړه؛ کوم روايت مو مخي ته راغی؛ تر هغه به ئې له منلو او بل ته له ويلو ډډه کوو چي په بشپړه توګه مطمئن او ډاډه شو؛ متن به ئې د قرآن په تله تلو؛ د راوي د صداقت په اړه به ځان مطمئن کوو؛ هغه بايد په خپلي خوا کي دوه، درې او څلور شاهدان ولري؛ روايت ئې بايد له قرآن سره مطابقت ولري؛ د عقل، علم او واقعيتونو خلاف خبره ئې نه وې کړې؛ او ټول هغه شروط بايد په پام کي ونيسو چي محدثينو او محققينو د روايت د صحت لپاره وضع کړي.

د مؤمن انسان درايت او عقل ته چي کوم ارزښت او اعتبار ورکړی

شوی؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم چي په دې ارتباط کومي لارښووني کړې؛ ځيني ئې دا دي:

٢٣٤٤٣- عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ الثَّقَفِيِّ، قَالَ: لَمَّا بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ، قَالَ: يَا مُعَاذُ بِمَ تَقْضِي؟ قَالَ: أَقْضِي بِكِتَابِ اللهِ، قَالَ: فَإِنْ جَاءَك أَمْرٌ لَيْسَ فِي كِتَابِ اللهِ؟ قَالَ أقضى بما قضى به نبيه صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: فَإِنْ جَاءَك أَمْرٌ لَيْسَ فِي كِتَابِ اللهِ وَلَمْ يَقْضِ فِيهِ نَبِيُّهُ وَلَمْ يَقْضِ فِيهِ الصَّالِحُونَ؟ قَالَ: أَؤُمُّ الْحَقَّ جَهْدِي؛ قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي جَعَلَ رَسُولَ رَسُولِ اللهِ يَقْضِي بِمَا يَرْضَى بِهِ رَسُولُ اللهِ. مُصَنَّف ابن ابى شيبه

امام شافعي وايي:

١٩٧٦٥ - قَالَ الشَّافِعِيُّ:... فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَهُمْ بِطَاعَةِ اللَّهِ، ثُمَّ رَسُولِهِ، ثُمَّ الِاجْتِهَادِ، فَيُرْوَى أَنَّهُ قَالَ لِمُعَاذٍ: «بِمَ تَقْضِي؟» قَالَ: بِكِتَابِ اللَّهِ قَالَ: «فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِي كِتَابِ اللَّهِ؟» قَالَ: فَبِسُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «فَإِنْ لَمْ يَكُنْ؟» قَالَ: أَجْتَهِدُ قَالَ: «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وَفَّقَ رَسُولَ رَسُولِهِ» معرفة السنن و الآثار

د دې دواړو رواياتو خلاصه دا ده: کله چي رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ مُعاذ بن جبل یمن ته د والي یا قاضي په توګه لېږلو نو هغه ته ئې وفرمایل: د څه له مخي به قضاوت او پرېکړي کوې؟ وئې ویل: د الله په کتاب سره؛ وئې فرمایل: که ئې د الله په کتاب کي ونه مومې؟ وئې ویل: د پیغمبر علیه السلام د سنت مطابق به پرېکړه کوم؛ وئې فرمایل: که داسي څه درته راشي چي نه ئې د الله په کتاب کي ومومې او نه د پیغمبر په سنت کي؟ وئې ویل: خپله اجتهاد او هڅه به له حق سره برابروم. نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: الحمد لله چي د پیغمبر استازي ته ئې توفیق ورکړی او داسي ئې ګرځولی چي پرېکړه ئې

د رسول الله د رضايت مطابق وي.

دې ته مو بايد پام وي چې هيڅوك به له داسي پېښي او قضيې سره مخامخ نه شي چې په قرآن او سنت کې ئې په اړه داسي لارښوونه نه وي چې له ده سره ئې په حل و فصل کې مرسته وکړي؛ حتماً به يا په بشپړ صراحت سره واضح لارښوونې ومومي او يا داسي اشارې چې له ده سره د حق په موندلو کې مرسته کولی شي؛ په روايت کې دا فقره (که ئې ونه مومې) همدې ظريف ټکي ته اشاره کوي؛ يعني که ته ئې د الله په کتاب يا د رسول الله په سنت کې ونه مومې؛ لارښوونه به وي خو ته به ورته متوجه شوی نه وې؛ بيا به څه کوې؛ او هغه ويلي: هڅه به کوم چې د حق مطابق رأی وړاندي کړم.

په دې ارتباط؛ په دغه روايت کې لا زيات واضح هدايات مومو:

١٦٠٥٨ - عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ، وأَبِي أُسَيْدٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا سَمِعْتُمُ الْحَدِيثَ عَنِّي تَعْرِفُهُ قُلُوبُكُمْ، وَتَلِينُ لَهُ أَشْعَارُكُمْ، وَأَبْشَارُكُمْ، وَتَرَوْنَ أَنَّهُ مِنْكُمْ قَرِيبٌ، فَأَنَا أَوْلَاكُمْ بِهِ، وَإِذَا سَمِعْتُمُ الْحَدِيثَ عَنِّي تُنْكِرُهُ قُلُوبُكُمْ، وَتَنْفِرُ أَشْعَارُكُمْ، وَأَبْشَارُكُمْ، وَتَرَوْنَ أَنَّهُ مِنْكُمْ بَعِيدٌ فَأَنَا أَبْعَدُكُمْ مِنْهُ» مسند احمد

له ابو حُميد او ابو اُسيد روايت دئ چې نبي صلی الله عليه و سلم وفرمايل: که مو ما ته منسوب داسي حديث واورېد چې ستاسو زړونه ئې خوښوي او پېژني، ستاسو وېښتان او پوستکي ورته نرم شي؛ او داسي ئې مومئ چې تاسو ته نژدې دئ؛ نو زه تر تاسو هغه ته اولی يم؛ او که مو ما ته منسوب داسي حديث واورېد چې ستاسو زړونه ئې نه خوښوي او نه ئې پېژني، ستاسو وېښتان او پوستکي ترې نفرت کوي؛ (ورته ځيږ شي) او داسي ئې مومئ چې له تاسو لرې دئ؛ نو زه تر تاسو زيات له هغه لرې يم.

دا روايت د مسند احمد او صحيح إبن حبان تر څنګ په ځينو نورو کتابونو کې هم راغلی؛ راويان ئې ثقه او صادق ګڼل شوي؛ او محققينو

ويلي: رجاله رجال الصحيح: راويان ئې د صحيح رواياتو معيار مطابق دي.

يعني چي الله تعالی مؤمن بنده ته داسي درايت او فراست ورکوي چي په مرسته ئې کولی شي؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د يوه منسوب روايت په اړه سم قضاوت وکړي او پوه شي چي دا به پيغمبر عليه السلام ويلي وي که نه. همغسي چي قرآن فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَتَّقُواْ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّكُمۡ فُرۡقَانٗا وَيُكَفِّرۡ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٢٩﴾ الأنفال

اې مؤمنانو! که تقوی وکړئ؛ الله تعالی به فرقان درکړي، بدي به مو له منځه يوسي او بخښنه به درته وکړي او الله د لوی فضل خاوند دئ.

دلته د تقوی څو نتائج په ګوته شوي:

- الله تعالی به د تقوی په نتيجه کې داسي فرقان، فِراست او بصيرت ستاسو په برخه کړي چي په هغه سره د حق او باطل تر منځ ژر او په آسانۍ سره توپير کولی شئ، يعنی تقوی تاسو ته داسي روڼ ځراغ، دقيق محك او معيار، ژور بصيرت او فراست درکوي چي کولی شئ په هغه سره په پوره آسانۍ د حق او باطل، ښه او بد، مفيد او مضر، دوست او دښمن تر منځ توپير وکړئ، په هر وخت او هر حالت کې مناسبه فيصله وکړئ او ګټور تصميم ونيسئ. د ژورو حقائقو ادراك، د نظر وسعت، په پيچليو مسائلو او پداسي قضاياوو پوهېدل چي د سطحي نظر خاوندان ئې نه شي درك کولی؛ د تقوی نتيجه ده. رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي دي:

عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم "اتَّقُوا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ، فَإِنَّهُ يَنْظُرُ بنورِ اللَّهِ" ثُمَّ قَرَأَ: إِنَّ فِى ذَلِكَ لآيَاتٍ لِلْمُتَوَسِّمِينَ. رواه الترمذی

له ابو سعيد خدري رضی الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله

عليه و سلم وفرمايل: د مؤمن د فراست ږروا كوئ؛ ځكه چې هغه د الهي نور په رڼا کې ليدل کوي. بيا ئې دا آيت ولوست: يقيناً چې په دې کې د فراست خاوندانو ته ښرگندي نښې دي.

د قرآن دا آيتونه او د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا لارښوونې کافي دي چې باور وکړو الله تعالى مؤمن او متقي بنده ته داسې درايت او فراست ورپه برخه کوي چې په مرسته ئې حق او باطل پېژندى او په توپير ئې پوهېدى شي.

## ٤٢ باب: د عاشوراء روژه

٩٧٠ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُهُ فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ تَرَكَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ فَمَنْ شَاءَ صَامَهُ وَمَنْ شَاءَ تَرَكَهُ. (بخارى: ٢٠٠٢)

٩٧٠ – عائشه رضي الله عنها وايي: قريشو به د جاهليت په زمانه کې د عاشوراء په ورځ روژه نيوله او رسول الله صلى الله عليه و سلم به هم په دې ورځ روژه نيوله او کله چې ئې مدينې ته هجرت وکړ؛ نو بيا ئې هم دا ورځ روژه نيوله او نورو ته ئې د روژې نيولو امر وکړ؛ خو کله چې د رمضان روژه فرض شوه؛ د عاشوراء د ورځې روژه ئې پرېښوده؛ بيا د هر چا خپله خوښه وه چې په دې ورځ ئې روژه نيوله او که نه.

٩٧١ ـ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ فَرَأَى الْيَهُودَ تَصُومُ يَوْمَ عَاشُورَاءَ فَقَالَ: «مَا هَذَا؟» قَالُوا: هَذَا يَوْمٌ صَالِحٌ، هَذَا يَوْمٌ نَجَّى اللَّهُ بَنِي إِسْرَائِيلَ مِنْ عَدُوِّهِمْ فَصَامَهُ مُوسَى، قَالَ: «فَأَنَا أَحَقُّ بِمُوسَى مِنْكُمْ» فَصَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ. بخارى: ٢٠٠٤

٩٧١ – له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم مدينې ته راغى؛ يهودان ئې وليدل چې د عاشوراء

په ورځ روژه نيسي؛ وئې فرمايل: ((دا څه دي؟)) يهودانو وويل: دا غوره ورځ ده؛ په دې ورځ الله تعالی بني اسرائيل له خپل دښمن ژغورلي؛ نو له همدې امله موسی عليه السلام په دې ورځ روژه نيوله. وئې فرمايل: ((زه د موسی عليه السلام په متابعت کې تر تاسو زيات وړ او احق يم))؛ بيا ئې (په دغه ورځ) روژه ونيوله او د نيولو امر ئې وکړ.

لکه چې گورئ په دې دواړو رواياتو کې؛ د عاشوراء د ورځې او په هغې کې د روژې نيولو په ارتباط ژور تعارض مومو؛ يو ئې وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم مدينې ته له تگ وروسته او هغه مهال چې يهودان ئې ليدلي په دې ورځ ئې روژه نيولې؛ پوښتنه ئې ترې کړې چې دا ولې؛ د دوی له ځواب پوه شوی چې دا د عاشوراء ورځ ده او موسی عليه السلام په کې بريالی شوی او له همدې امله ئې روژه نيولې؛ نو ده هم د روژې نيولو پرېکړه کړې او نورو ته ئې هم د روژې نيولو امر کړی؛ خو بل روايت وايي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم حتی په مکه کې هم دا روژه نيوله او په مدينه کې هم؛ په بخاري کې به د دې دواړو رواياتو خلاف دا هم وگورئ چې وايي: يهودان ئې داسي ليدلي چې دا ورځ د عيد په توگه لمانځي او خوشحالي کوي؛ او رسول الله صلی الله عليه و سلم له نورو پوښتلي: دا د څه عيد دئ؛ کله چې پوه شو نو وئې ويل: موږ به له يهودانو سره د عدم مشابهت لپاره په دې ورځ روژه نيسو؛ او بيا په بل کې ويل شوي: د دې ورځې تر راسېدو وړاندي؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم رحلت وکړ!!!

څوک شته چې دا څرگند او ژور تعارض توجيه او تلفيق کړي؟!؛ ما داسي شارح نه دئ موندلی چې په توجيه ئې توانېدلی وي. له همدې کبله مي د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه رأيه غوره گڼلې چې په دې ورځ به ئې روژه نه نيوله.

په ځينو ناپوه متعصبينو دا خبره ښه نه لگېږي؛ په ناپېريتو سر شي؛ داسي بده دفاع کوي چې د مخالفينو تر بد اعتراض هم ډېره بده وي؛ د

ځینو دفاع فقط دا وي: صحیح البخاري د الله تعالی تر کتاب وروسته اصح کتاب دئ او ټول امت پرې اجماع کړې!!؛ دا په داسې حال کې چې محققین د قرآن او سنت په رڼا کې وایي: یوازې د الله کتاب کامل او له عیب منزه دئ؛ هر انسان خطأ کار دئ؛ په شخصي آراء او افکارو کې ئې هم او په لیکنو کې ئې هم خطأ او اشتباه د ده د فطرت جزء ده؛ ځیني فیسبوکي ښاغلي وایي: مسلم، ابو داؤد، نسائي، ترمذي، ابن ماجه، نووي، ابن منده... ویلي چې بخاري د الله تعالی له کتاب وروسته تر ټولو اصح کتاب دئ!! او دا دومره ښکرور دروغ دي چې یوازې لوی دروغجن، سخت جاهل، بد متعصب او له حقائقو ډېر بې خبره انسان ئې د ویلو جسارت کولی شي؛ راشئ وګورو چې دا ادعاء څومره سمه ده او حقیقت لري که نه؟:

د دې فیسبوکي ښاغلي د غلطي ادعاء خلاف؛ امام نووي د صحیح مسلم د شرحې په مقدمه کې لیکي: (ما تحت أدیم السماء کتاب أصح من کتاب مسلم): تر آسمان لاندې هیڅ کتاب د مسلم تر کتاب زیات صحیح نه دئ؛ إبن منده او أبو علي النیشاپوري؛ همدا خبره کړې. شوکاني د سنن الترمذي په ستاینې کې لیکي: د ترمذي کتاب تر ټولو نورو کتابونه غوره، تر ټولو زیات مفید؛ تر ټولو په ښه او مضبوط ترتیب کې، او تر ټولو لږ تکراري روایاتو کتاب دئ؛ په ترمذي کې هغه څه شته چې په نورو مذاهبو او استدلالي وجوهاتو کې نه شته: یقول الشوکاني مثنیًا علی سنن الترمذي: کتاب الترمذي أحسن الکتب وأکثرها فائدة، وأحکمها ترتیبًا، وأقلها تکرارًا، وفیه ما لیس في غیره من المذاهب ووجوه الاستدلال

امام مسلم تر نورو ټولو محدثینو امام بخاري ته نژدې او حتی څه موده د هغه شاګرد پاته شوی؛ خو په بخاري ئې اکتفاء ونه کړه او بېل کتاب ئې ولیکلو؛ که ئې بخاري د اصح کتاب په توګه منلی وی نو هیڅکله به ئې صحیح مسلم نه وو لیکلی؛ انسان هغه مهال د یوې موضوع په اړه نوې لیکنه کوي چې مخکینۍ لیکنه کافي ونه ګڼي؛ امام

مسلم یوازي په ۱۵۱۹ روایاتو کې له امام بخاري سره موافق دئ؛ چې محققینو د متفق علیه په نامه یاد کړي؛ یعني امام مسلم د بخاري له پاته ۶۰۰۰ مکرر او غیر مکرر روایاتو سره ئې توافق نه لري؛ یا د إسنادو له پلوه، یا د الفاظو له پلوه او یا د محتوی له پلوه ورسره موافق نه دئ؛ ځیني روایات په صحیح بخاري کې مومو خو په صحیح مسلم کې نه؛ او ځیني د دې عکس؛ د هغو روایاتو شمېر چې بخاري راوړي خو مسلم نه دي راوړي ٤١٤ دي او د مسلم دا ډول روایات ۵۷٤. ټول هغه محدثین چې له امام بخاري وروسته ئې د احادیثو کتابونه لیکلي؛ د مُسْنَد، سُنَن، جامع، مُصَنَّف او په نورو نومونو؛ صحیح بخاري ئې کافي نه دئ موندلی او په ځینو روایاتو کې ورسره موافق نه وو؛ عدم توافق ئې هم تر امام مسلم ډېر زیات؛ له همدې امله هر محدث د بېل کتاب لیکلو پرېکړه کړې؛ له صحیح بخاري سره د دوی د کتابونو د عدم توافق کچه؛ تر صحیح مسلم ډېره لوړه ده.

باید دې ته متوجه وو چې دا د (صحیح) نوم؛ دغو محدثینو خپل کتاب ته په خپله نه دئ غوره کړی؛ وروستنیو په دې نامه ستایلي او یوازي په شپږو کې نه دي خلاصه شوي؛ د صحیح ابن حبان، صحیح إبن خزیمه په شمول نور هم په دې نامه یاد شوي؛ دا ټولي نومَوَني او توصیفونه د منفردو اشخاصو له لوري شوي؛ نه د کومي ثابتي او منل شوې مجمع او هیئت له لوري؛ هر چا د خپلي خوښي، سلیقې، فهم او مذهب له مخي یوه ته پر بل ترجیح ورکړې؛ له قرآن پرته د بل کتاب د بشپړ صحت په اړه د امت اجماع؛ هسي تبلیغاتي او د امت د عملي وضعیت خلاف ادعاء ده؛ د امت عملي وضعیت داسي دئ چې نژدې اویا سلنه ئې احناف دي؛ چې په ډېرو مواردو کې له امام بخاري سره موافق نه دي؛ که د نورو مذاهبو پلویان هم ورسره یو ځای کړو نو په یقین سره ویلی شو چې د ټول اسلامي امت نژدې ۹٦٪ د صحیح بخاري له ډېرو روایاتو؛ مخصوصاً د لمانځه اړوند روایاتو سره موافق نه دي؛ د

لمانځه د څرنګوالي په اړه دا ۹۶٪ سلنه؛ په جهري لمونځونو کې په امام پسې قرائت (قرائت خلف امام)، د رکوع تکبیراتو کې لاسونه لوړول (رفع الیدین)، په قیام کې لاس پر سینه او ښي پښې ډېري لري ایښودل، له طاق رکعتونو وروسته لنډه ناسته، ... دې ټولو کې په هغو روایاتو عمل کوي چې په بخاري کې نه دي راوړل شوي.

دغو جنابانو ته وایو: له غلو او مبالغو ډډه وکړئ؛ هم د خپل محبوب په اړه او هم د معتوب په اړه؛ په پټو سترګو نښې مه ولئ او تیرې مه شړئ؛ راشئ د دې لپاره ملا وتړو چې د حدیث په اړه واقعي اجماع رامنځته کړو؛ اجماع یعني دا چې په دغه مجلس کې ټول په یوې قضیې کې د توافق لاسونه اوچت کړي او هیڅوک مخالفت ونه کړي؛ خو که دوه درې مخالف وي؛ دې ته شبه اجماع وایي؛ موږ داسي اجماع رامنځته کول غواړو چې د حدیث موجود ۴۳۵ کتابونه په یوه جامع، صحیح او ټول امت ته مقبول کتاب کې راغونډ شي؛ چې په هغه کې به ضعیف، غریب، له قرآن سره متصادم او متعارض، د علم او عقل خلاف هیڅ روایت نه وي؛ او له تکراري روایاتو به هم منزه وي.

## ۳۲ کتاب: د تروایح لمونځ

### ۱ باب: په روژه کي د شپې لمونځ کوونکي فضیلت

۹۷۲ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ لَيْلَةً مِنْ جَوْفِ اللَّيْلِ فَصَلَّى فِي الْمَسْجِدِ، وَصَلَّى رِجَالٌ بِصَلاتِهِ، تقدم هذا الحديث فى كتاب الصلاة وبينهما مخالفة فى اللفظ وقال فى آخر هذه الرواية فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالأَمْرُ عَلَى ذَلِكَ. (بخاری: ۲۰۱۲)

۹۷۲ - له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چې رسول الله صلی الله

علیه و سلم یو ځل نیمه شپه له کوره ووت، په جومات کې ئې لمونځ وکړ او څو کسانو هم لمونځ ورپسې وکړ؛ دا حدیث د لمانځه په کتاب کي له څه لفظي اختلاف سره تېر شوی او د دې روایت په آخر کې راغلي چې: رسول الله صلی الله علیه و سلم رحلت وکړ او دا مسئله په همدې شکل پاته وه.

دا روایت په بخاري کې همدا یو ځل راغلی، له بخاري پرته یوازې د بیهقي السنن الکبری کې راغلی او په نورو معروفو کتابونو کې نه دئ راوړل شوی.

د تراویح په اړه د (سلفي شم که مذهبي پاته شم؟) کتاب کې تر دې عنوان لاندې (تراویح اته رکعته دي که شل؟) تفصیلي بحث شوی؛ ټول اړوند روایات؛ د پورتني روایت په شمول راوړل شوي او څېړل شوي؛ او نتیجه ئې دا چې هم رسول الله صلی الله علیه و سلم شل رکعته کړي، هم صحابه وو او همدا تر موږ پورې؛ په عملي تواتر سره رارسېدلي؛ شل رکعته تراویح په تېرو نژدې ۱۴ پېړیو کې په ټولو مسلمانانو او د ټولو مذاهبو پلویانو کې عمومیت درلود، د صحابه وو له دور بیا تر نن پورې، شیخ الحدیث مولوي حسن جان شهید به ویل: یو هغه سنت او روایت چې تر موږ پورې په تواتر رارسېدلی؛ همدا شل رکعته تراویح دي؛ خو په وروستیو څو لسیزو کې یوه داسي ډله راپیدا شوه چې وایي: تراویح اته رکعته دي او پیغمبر علیه السلام یوازې اته رکعته کړي!! ادعاء ئې بې بنسټه او هغه روایت ئې ضعیف چې دوی پرې استناد کوي. هیله ده تفصیلات ئې په نوموړي کتاب کې ولولئ.

عَنِ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِرَمَضَانَ: «مَنْ قَامَهُ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ»

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چې وئې ویل: له رسول الله صلی الله علیه و سلم مې اورېدلي چې د روژې په اړه ئې فرمایل: څوک چې

د ایمان په حکم او د ثواب په نیت (د شپې) لمونځ په کي وکړي؛ ټول مخکیني گناهونه ئې بخښل کېږي.

په دې ارتباط دا مطالب په پام کې ولرئ:

• ځیني گناهونه داسي دي چي الله تعالی ئې نه بخښي او د بخښلو حق او واك ئې نورو ته سپارلی؛ لکه د بل حق خوړل، په عزت او سر مال ئې تېری کول، د بل غیبت، تور او اتهام پرې لگول، له هغه سره په زړه کې کینه او حسد ساتل او له مخي ئې یا تبلیغات پسي کول او یا ضرر وررسول.... الله تعالی دا گناهونه تر هغه نه بخښي چي مظلوم او متضرر بنده ئې وبخښي.

• دا روایت په سنن نسائي کې په دې صیغه مومو: (فَمن صَامَهُ وقامه إِيمَانًا واحتسابا خرج من ذنُوبه كَيَوْم وَلدته أمه): ځوك چي د روژې میاشت کې (د ورځي) روژه ونیسي او (د شپې ئې) لمونځ وکړي؛ د إیمان په حکم او د اجر په موخه؛ له خپلو گناهونو به داسي ووځي لکه هغه ورځ چي خپلي مور زیږولی.

دا روایت په دغو مهمو کتابونو کې هم راوړل شوی: شُعَبُ الْإِيمَانِ للبیهقي، سنن إبن ماجه، صحیح إبن خزیمه، مسند ابي یعلی، مسند احمد، سنن ابي داؤد؛ د بخاري له روایت سره ئې توپیر دا دئ چي په دې کې د روژې تر څنگ د لمانځه یادونه هم شوې او په بخاري کې یوازې د لمانځه.

## ۲ باب: د رمضان په وروستیو اوو شپو کي د لیلة القدر لټول

۹۷۳ ـ عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رِجَالاً مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُرُوا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْمَنَامِ فِي السَّبْعِ الأَوَاخِرِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَرَى رُؤْيَاكُمْ قَدْ تَوَاطَأَتْ فِي السَّبْعِ الأَوَاخِرِ فَمَنْ كَانَ مُتَحَرِّيهَا فَلْيَتَحَرَّهَا فِي السَّبْعِ الأَوَاخِرِ». (بخاری: ۲۰۱۵)

۹۷۳ - له ابن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چي: د رسول الله صلی الله علیه و سلم له اصحابو؛ څو کسانو ته د رمضان په وروستیو اوو شپو کي لیلة القدر په خوب کي وښودل شوه؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ((فکر کوم ستاسو خوبونه (د رمضان) له وروستیو اوو شپو سره مطابقت لري؛ نو که څوک د قدر شپې په لټه کي وي؛ په وروستیو اوو شپو کي دې ولټوي)).

له دې روایت داسي معلومېږي چي ځینو صحابه وو د قدر شپه په خوب کې لیدلې؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ئې خپل خوبونه تېر کړي؛ د دوی خوبونه ئې داسي موندلي چي د قدر شپه به د رمضان په وروستیو اوو شپو کې وي؛ نو د همدې خوبونو له مخي ئې هغوی ته دا سپارښتنه کړې.

خو د قرآن دا آیت باید په پام کې ولرو چي د قدر د شپې په اړه ئې فرمایلي: (إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ): موږ (دا قرآن) د قدر په شپه نازل کړ؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته به حتماً هغه شپه په یاد وه چي د حراء ځمځي کې لومړي آیتونه پرې نازل شول؛ خو وروسته دقیقه نېټه ترې هېره شوې او وئې فرمایل: د رمضان وروستۍ لسیزي په طاق شپو کې ئې ولټوئ.

۹۷٤ ـ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: اعْتَكَفْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَشْرَ الأَوْسَطَ مِنْ رَمَضَانَ فَخَرَجَ صَبِيحَةَ عِشْرِينَ فَخَطَبَنَا وَقَالَ: «إِنِّي أُرِيتُ لَيْلَةَ الْقَدْرِ ثُمَّ أُنْسِيتُهَا أَوْ نُسِّيتُهَا فَالْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الأَوَاخِرِ فِي الْوَتْرِ، وَإِنِّي رَأَيْتُ أَنِّي أَسْجُدُ فِي مَاءٍ وَطِينٍ فَمَنْ كَانَ اعْتَكَفَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلْيَرْجِعْ». فَرَجَعْنَا وَمَا نَرَى فِي السَّمَاءِ قَزَعَةً فَجَاءَتْ سَحَابَةٌ فَمَطَرَتْ حَتَّى سَالَ سَقْفُ الْمَسْجِدِ وَكَانَ مِنْ جَرِيدِ النَّخْلِ وَأُقِيمَتِ الصَّلاةُ فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْجُدُ فِي الْمَاءِ وَالطِّينِ حَتَّى رَأَيْتُ أَثَرَ الطِّينِ فِي جَبْهَتِهِ. (بخاری: ۲۰۱٦)

٩٧٤ - له ابو سعيد رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د رمضان په منځنۍ لسيزه کي مو له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره اعتکاف وکړ، د روژې په شلم سهار رسول الله صلى الله عليه و سلم راووت؛ موږ ته ئې خطبه وويله او وئې فرمايل: ((ما ته په خوب کي ليلة القدر راوښودل شوه؛ بيا رانه هېره کړی شوه؛ يا مي هېره شوه، نو هغه د وروستيو لسو په طاق شپو کي ولټوئ؛ او په خوب کې مي وليدل چي زه په اوبو او خټو کي سجده کوم؛ نو چا چي له رسول الله (صلى الله عليه و سلم) سره اعتکاف پيل کړی؛ هغوی دي بېرته راستانه شي)). موږ خپلو ځايونو ته ستانه شوو؛ په آسمان کي مو هيڅ ورېځ نه ليدله؛ ناڅاپه ورېځ راغله او دومره ووربده چي د جومات له چت اوبه وڅڅيدې؛ چت د خرما له څانګو او پاڼو جوړ شوی وو؛ بيا لمونځ ودرېد او ومې ليدل چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په اوبو او خټو کي سجده کوي؛ دومره چي د خټو اثر مي د هغه پر تندي (ټنډه) وليد.

د دې روايت په اړه څو مطالب توجه غواړي:

- معمولاً به رسول الله صلى الله عليه و سلم د رمضان په درېيمي لسيزي کې اعتکاف کولو او صحابه وو ته به ئې ويل چي د قدر شپه د درېيمي لسيزي په طاق شپو کې ولټوئ. خو دا روايت وايي چي اعتکاف ئې په منځنۍ لسيزي کې وو. عائشه رضي الله عنها وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به د رمضان په درېيمي لسيزي کې اعتکاف کولو؛ تر هغه چي الله تعالى وفات کړ او مېرمنو ئې له ده وروسته همداسي اعتکاف کولو.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَانَ يَعْتَكِفُ العَشْرَ الأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ حَتَّى تَوَفَّاهُ اللَّهُ، ثُمَّ اعْتَكَفَ أَزْوَاجُهُ مِنْ بَعْدِهِ»

- دا روايت په صحاح سته کې يوازي په صحيح بخاري کې او همدا يو

ځل راغلی؛ يعني چي امام مسلم، نسائي، ابو داؤد، ترمذي او ابن ماجه د اعتبار وړ نه دئ ګڼلی او په خپلو کتابونو کي ئې له راوړلو ډډه کړې!! خو پر بخاري علاوه په دغو کتابونو کي هم راوړل شوی: مسند ابو يعلی، سنن الکبری للنسائي، مسند ابي عوانه، صحيح ابن حبان؛ په دريو طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: يَحْيَى، أَبو سَلَمَةَ او أَبو سَعِيد؛ په څلورمه طبقه کي دا دي: هِشَام او أَوْزَاعِي.

- دا چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په خوب کي د قدر شپه ليدلې او تر څنګ ئې د باران ورېدا؛ او بيا په همغه شپه ئې د باران ورېدا عملاً ليدلې؛ داسي مه انګېرئ چي ګواکي دا به د قدر د شپې نښه وي؛ بلکي دا رسول الله صلی الله عليه و سلم ته يوه نښه وه چي خوب ئې رښتينی دئ.
- دا هم بايد په پام کي ولرو چي د اعتکاف يادونه د قرآن په هغي برخي کي شوې چي د روژې اړوند بحث پای ته نژدې شوی؛ ښايي رسول الله صلی الله عليه و سلم همدې ته په پام سره؛ د روژې مياشتي په وروستۍ لسيزي کي اعتکاف کولو.

## ۳ باب: په وروستۍ لسيزه کي د ليله القدر لټون

۹۷۵ ـ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي تَاسِعَةٍ تَبْقَى فِي سَابِعَةٍ تَبْقَى فِي خَامِسَةٍ تَبْقَى». (بخاری: ۲۰۲۱)

۹۷۵ – له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: ((د قدر شپه د رمضان په وروستۍ لسيزه کي ولټوئ، چي نه ورځي پاته وي(يوويشتمه شپه)، چي اوه پاته وي (دري ويشتمه شپه)، چي پنځه پاته وي (پنځه ويشتمه شپه)).

۹۷۶ ـ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

«هِيَ فِي الْعَشْرِ الأَوَاخِرِ هِيَ فِي تِسْعٍ يَمْضِينَ أَوْ فِي سَبْعٍ يَبْقَيْنَ يَعْنِي لَيْلَةَ الْقَدْرِ». (بخاری: ٢٠٢٢)

٩٧٦ - له ابن عباس رضي الله عنهما په بل روايت کي راغلي چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: ((ليله القدر په وروستۍ لسيزه کي ده، چي نه شپې تېرې شي (نه ويشتمه شپه) او يا اوه پاته شي(دري ويشتمه شپه)).

د دې دواړو رواياتو الفاظ داسي دي چي ښيي د درېيمي لسيزي طاق شپې محدود کړی شوې؛ خو نور روايات د ټولو طاق شپو يادونه کوي.

## ٤ باب: په وروستۍ لسيزه کي عبادت

٩٧٧ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ شَدَّ مِئْزَرَهُ وَأَحْيَا لَيْلَهُ وَأَيْقَظَ أَهْلَهُ. (بخاری: ٢٠٢٤)

٩٧٧ - له عائشه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: کله چي به دا (د رمضان وروستۍ) لسيزه داخله شوه؛ نو رسول الله صلی الله عليه و سلم به خپله بډه (ملا) کلکه تړله، خپله شپه به ئې په ويښه او عبادت تېروله او خپل عيال به ئې ويښولو.

دا روايت په صحيح مسلم کي په دې صيغه راغلی:

٢٧٥٧- عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا؛ قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ، أَحْيَا اللَّيْلَ، وَأَيْقَظَ أَهْلَهُ، وَجَدَّ وَشَدَّ الْمِئْزَرَ.

له عائشه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم داسي وو: کله چي به دا لسيزه داخله شوه؛ شپه به ئې په ويښه او عبادت تېروله، خپل عيال به ئې ويښولو، زيار به ئې ايستلو او بډه (ملا) به ئې کلکه تړله)).

لکه چي گورئ د دواړو رواياتو لومړی راوي عائشه رضي الله عنها

ده؛ خو په لفظي ترکيب کې ئې توپيرونه مومو؛ د مسلم روايت کې مطالب په مناسبه توګه بيان شوي؛ لومړی د شپې احياء، بيا عيال راويښول، بيا زيار ايستل او ملا کلکه تړل راغلي؛ خو د بخاري روايت کې دا مناسب ترتيب نه دئ مراعات شوی.

## ۳۳ کتاب: اعتکاف

### ۱ باب: اعتکاف په وروستۍ لسيزه کې

۹۷۸ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ حَتَّى تَوَفَّاهُ اللَّهُ، ثُمَّ اعْتَكَفَ أَزْوَاجُهُ مِنْ بَعْدِهِ. (بخارى: ۲۰۲۶)

۹۷۸ – د رسول الله صلى الله عليه و سلم له مېرمن؛ عائشه رضي الله عنها روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د رمضان په وروستۍ لسيزي کي اعتکاف کاوو؛ تر هغه چي الله تعالى وفات کړ؛ بيا ئې مېرمنو تر ده وروسته اعتکاف کاوو.

### ۲ باب: اعتکاف کوونکی دي بې ضرورته کور ته نه ځي

۹۷۹ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهَا - زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَتْ: وَإِنْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «لَيُدْخِلُ عَلَيَّ رَأْسَهُ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ، فَأُرَجِّلُهُ، وَكَانَ لاَ يَدْخُلُ الْبَيْتَ إِلَّا لِحَاجَةٍ إِذَا كَانَ مُعْتَكِفًا» (بخارى: ۲۰۲۹)

۹۷۹ – له عائشه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: که څه هم کله چي به رسول الله صلى الله عليه و سلم په جومات کي معتکف وو؛ خپل سر به ئې (زما خوني ته) را دننه کاوو او ما به وربږمنځولو؛ خو هغه

داسي وو چي له ضرورت پرته به كور ته نه ننوتلو.

د عائشې رضي الله عنها خونه له جومات سره جوخته وه او يوه كړكۍ ئې هم د جومات لوري ته وه.

## ٣ باب: په شپې كي اعتكاف

٩٨٠ ـ عَنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: كُنْتُ نَذَرْتُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ أَنْ أَعْتَكِفَ لَيْلَةً فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ؟ قَالَ: «فَأَوْفِ بِنَذْرِكَ». (بخارى: ٢٠٣٢)

٩٨٠ – له عمر رضي الله عنه روايت دئ چي له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ئې وپوښتل: د جاهليت په زمانه كي مي دا نذر ايښى وو چي يوه شپه به په مسجد حرام كي اعتكاف كوم؟ وئې فرمايل: ((په خپل نذر دي وفا وكړه)).

لكه چي گورئ؛ په دې روايت کې پوښتنه د نذر په اړه ده؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم په ځواب کې ورته ويلي چي خپل نذر اداء كړه؛ خو امام بخاري (په شپې كي اعتكاف) تر باب لاندي راوړى؛ امام مسلم له دې صيغې سره توافق نه دئ كړى او دا روايت ئې تر دې باب لاندي راوړى: باب من نذر في الجاهلية ثم أسلم: چا چي د جاهليت په زمانه کې كوم نذر منلى؛ بيا مسلمان شوى؛ روايت او شماره ئې دا ده:

٤٣٠٤- عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ عُمَرَ، قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي نَذَرْتُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ أَنْ أَعْتَكِفَ لَيْلَةً فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ، قَالَ: فَأَوْفِ بِنَذْرِكَ. مسلم

## ٤ باب: په جومات كي خيمې درول

٩٨١ ـ عَنْ عَائِشَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهَا: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَادَ أَنْ يَعْتَكِفَ، فَلَمَّا انْصَرَفَ إِلَى الْمَكَانِ الَّذِى أَرَادَ أَنْ يَعْتَكِفَ إِذَا أَخْبِيَةٌ: خِبَاءُ عَائِشَةَ وَخِبَاءُ حَفْصَةَ وَخِبَاءُ زَيْنَبَ، فَقَالَ: «أَلْبِرَّ تَقُولُونَ بِهِنَّ»؟ ثُمَّ انْصَرَفَ، فَلَمْ يَعْتَكِفْ حَتَّى اعْتَكَفَ

عَشْرًا مِنْ شَوَّالٍ. (بخاری: ۲۰۳٤)

۹۸۱ - له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د اعتکاف اراده وکړه؛ خو کله چي هغه ځای ته ورغی چي غوښتل ئې اعتکاف په کي وکړي؛ خیمې ئې ولیدې: د عائشې خیمه، د حَفْصې خیمه، د زینب خیمه؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ((آیا تاسو د دوی دا کار نېکي گڼئ؟!))؛ نو ستون شو او اعتکاف ئې ونه کړ؛ بیا ئې د دې پر ځای په شوال کي لس ورځې اعتکاف وکړ.

دا روایت یوازي په بخاري او مُوَطَّأ کي راغلی؛ نورو کتابونو نه دئ راوړی؛ البته د بیهقي السنن الکبری کي هم د بخاري په حواله راغلی خو د روایت د إسناد په اړه ئې ویلي: رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِي الصَّحِيحِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ يُوسُفَ عَنْ مَالِكٍ وَهَذَا مِنْ طَرِيقِ مَالِكٍ مُرْسَلٌ: دا بخاري له عبد الله بن یوسف تر لاسه کړی چي هغه له مالك روایت کړی؛ مرسل دئ؛ یعني امام مالك دا روایت مرسل گڼي؛ مرسل هغه روایت ته وایي چي سند ئې په تابعي یا تبع تابعي پای ته رسېدلی او تر رسول الله صلی الله علیه و سلم پوري نه دئ رسېدلی.

۵ باب: آیا معتکف د جومات تر دروازې وتلی شي؟

۹۸۲ - عَنِ صَفِيَّةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّهَا جَاءَتْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزُورُهُ فِي اعْتِكَافِهِ فِي الْمَسْجِدِ فِي الْعَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ، فَتَحَدَّثَتْ عِنْدَهُ سَاعَةً، ثُمَّ قَامَتْ تَنْقَلِبُ، فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَهَا يَقْلِبُهَا، حَتَّى إِذَا بَلَغَتْ بَابَ الْمَسْجِدِ عِنْدَ بَابِ أُمِّ سَلَمَةَ، مَرَّ رَجُلانِ مِنَ الأَنْصَارِ فَسَلَّمَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لَهُمَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَلَى رِسْلِكُمَا، إِنَّمَا هِيَ صَفِيَّةُ بِنْتُ حُيَيٍّ». فَقَالا: سُبْحَانَ اللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَكَبُرَ

عَلَيْهِمَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الشَّيْطَانَ يَبْلُغُ مِنَ الإِنْسَانِ مَبْلَغَ الدَّمِ، وَإِنِّي خَشِيتُ أَنْ يَقْذِفَ فِي قُلُوبِكُمَا شَيْئًا». (بخاری: ۲۰۳۵)

۹۸۲ - د رسول الله صلی الله علیه و سلم له مېرمنې صَفِيې رضي الله عنها روايت دئ چې هغه په داسې حال کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم ليدو ته ورغله چې هغه د رمضان په وروستۍ لسيزه کې په جومات کې معتکف وو؛ څه وخت ئې خبرې ورسره وکړې، بيا پاڅېده چې ستنه شي؛ نو نبي صلی الله علیه و سلم هم ورسره پاڅيد چې کور ته ئې ورسوي؛ او کله چې د جومات هغې دروازې ته ورسېدو چې د ام سلمه رضي الله عنها دروازې ته نژدې وه؛ دوه انصاريان تېر شول او پر رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې سلام واچاوو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته وفرمايل: ((لږ مو تگ سوکه کړئ؛ دا صَفِيَّة بِنْت حُيَيّ ده)) هغوی وويل: سبحان الله؛ يا رسول الله! پرې گرانه تمامه شوهٔ؛ (چې څنگه به د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه بد گماني کوو)؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمايل: «إِنَّ الشَّيْطَانَ يَبْلُغُ مِنَ الإِنْسَانِ مَبْلَغَ الدَّمِ، وَإِنِّي خَشِيتُ أَنْ يَقْذِفَ فِي قُلُوبِكُمَا شَيْئًا». يقيناً چې شيطان د بني آدم د وينې په بهير کې درومي او زه ووېرېدم چې داسې نه ستاسو زړونو کې کومه وسوسه واچوي.

## ٦ باب: د رمضان په منځنۍ لسيزه کې اعتکاف

۹۸۳ ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْتَكِفُ فِي كُلِّ رَمَضَانٍ عَشْرَةَ أَيَّامٍ، فَلَمَّا كَانَ الْعَامُ الَّذِى قُبِضَ فِيهِ، اعْتَكَفَ عِشْرِينَ يَوْمًا. (بخاری: ۲۰٤٤)

۹۸۳ - له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم به هر رمضان لس ورځې اعتکاف کاوو؛ خو د رحلت په کال ئې شل ورځې اعتکاف وکړ.

راشئ د اعتکاف موضوع ته د هغو له نظره هم وګورو چې وايي: قرآن له روايت پرته ناقص دئ؛ (نعوذ بالله من ذلك)؛ دا هم وايي: داسې قضايا شته چې احکام ئې په قرآن کې نه مومو خو په احاديثو کې ئې مومو!! دوی ته وايو: ستاسو ادعاء په هغه صورت کې وزن او اعتبار لرلی شي چې: ١- هغه امور وښيئ چې په قرآن کې ئې اړوند لارښووني او احکام نه شته او په صحيح رواياتو کې شته؛ ٢- دا ادعاء له هغه چا منل کېدی شي چې په واقعي معنی په قرآن او رموزو ئې او په حديث پوه وي؛ يوې داسې معتبرې مرجع د هغه د ښې پوهې تصديق کړی وي چې د ټول امت په کچه معتبره او منلې مرجع وي؛ نه دا چې د کومې دولتي مؤسسې او مدرسې له لورې د دکتورا او شيخ القرآن و الحديث سند ورکړی شوی وي.

روايت ځېلو او هغو ته چې د رواياتو غلات دي او غريب روايات به د قرآن د څرګندو او صريح آيتونو په پرتله درانه تلې؛ وايو: اعتکاف يوه معروفه موضوع ده؛ په بخاري کې يو کتاب له ٦ بابونو سره ورته مختص شوی؛ راشئ وګورو چې آيا رسول الله صلی الله عليه و سلم ته په دې اړه مستقله وحي شوې او که د قرآني لارښوونو په رڼا کې ئې په ارزښت او اهميت پوه شوی؛ په خپله ئې پرې عمل کړی او امت ته ئې هم سپارښتنه کړې؟ راشئ وګورو چې قرآن د اعتکاف په اړه څه ويلي؛ دې آيت ته ځير شئ:

... وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنْتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ ... ﴿١٨٧﴾ البقرة

... او کله چې په جوماتونو کې معتکف وئ؛ نو له خپلو مېرمنو سره نژدېکت (مباشرت) مه کوئ...

له دې الهي لارښوونې څو خبرې معلومېږي:

- اعتکاف د روژې مياشتې د بحث په ضمن کې ياد شوی او دا ښيي چې په روژې پورې تړلی دئ او وخت ئې فقط همدا د روژې مياشت دئ.

- دا آیت د روژې د اړوند احکامو په پای کې راغلی؛ او په دې کې یوه ظریفه اشاره دا ده چې اعتکاف د روژې میاشتي د پای عمل دئ؛ ښایي همدې ته په پام سره رسول الله صلی الله علیه و سلم د روژې میاشتي په وروستۍ لسیزي کې اعتکاف کولو.
- په آیت کې دا هم ویل شوي: د اعتکاف حالت کې له خپلو مېرمنو سره نژدېکت (مباشرت) مه کوئ.
- اعتکاف د مؤمنانو خپل کار ګڼل شوی؛ یعني د الهي امر یا سپارښتي په صیغه نه دئ یاد شوی؛ بلکې فقط داسي یادونه ئې شوې چې ښيي الله تعالی تأیید کړی؛ نو حکم ئې هم د سنت او مستحب دئ.

له روایت ځپلو پوښتنه کوو: آیا د اعتکاف په اړه داسي څه پاته دي چې په روایاتو کې شته او په قرآن کې نه شته؟

په پای کې دا هم باید وویل شي چې ولې به اعتکاف کوو؟ اغېز او اهمیت ئې څه دئ؟ په ځواب کې وایو: کله کله ورځني مصروفیتونه انسان داسي مشغول کړي چې په مهمو مسائلو د فکر کولو فرصت او مجال هم ترې سلب شي؛ بس له جریاناتو سره او د خپلو عادتونو په حکم خوځي او شپه سبا کوي؛ نه د خپلو ناسمو عادتونو په اړه د تجدید نظر فرصت تر لاسه کوي او نه د خپلو ناسمو افکارو او باورونو د تصحیح او د نویو او رغنده افکارو او تګلارو د خپلولو او غوراوي مجال مومي؛ د ټولني حاکم او مسلط چاپېریال د ده په هر څه خپل سیوري غوړولی وي؛ له دې زندان د وتلو لپاره یوه داسي آرام، له لانجو، شور ځوږ فارغ، له معنوي پلوه رغوونکي مناسب فرصت ته ضرورت لري چې وکولی شي د خپلو باورونو او کړنو په اړه سم فکر وکړي او مناسب تصمیمونه ونیسي؛ اعتکاف موږ ته همداسي مجال او فرصت برابروي؛ انسان د تفکر لپاره فراغت او له ازدحام او مصروفیتونو ګوښه کېدو ته ضرورت لري؛ همغسي چې قرآن فرمایي:

قُلْ إِنَّمَا أَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ أَنْ تَقُومُوا لِلَّهِ مَثْنَى وَفُرَادَى ثُمَّ تَتَفَكَّرُوا مَا بِصَاحِبِكُمْ مِنْ جِنَّةٍ إِنْ هُوَ إِلا نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ ﴿٤٦﴾ سبإ

ووايه: يوازي په يوې خبري پند درکوم چي د الله لپاره دوه دوه او يو يو ودرېږئ بيا له ځان سره فکر وکړئ، ستاسو ملګری په کوم لېونتوب نه دئ اخته شوی، هغه فقط تاسو ته تر يوه سخت عذاب وړاندي خبرداری درکوونکی دئ.

دا دئ ګورئ چي قرآن معاندو مخالفينو ته دا پيغام لري: د الله لپاره دوه دوه او يو يو ودرېږئ بيا له ځان سره فکر وکړئ؛ پوه به شئ چي ستاسو مخالفت هيڅ معقوله وجه نه لري، عدم غور او عدم تفکر د دې سبب شوی چي زما او زما د دعوت مخالفت وکړئ؛ لږ له خپلو ناسمو مشغولتياوو، دود پالنو، تعصباتو او جاهلانه حميت ګوښه شئ او په سړه سينه او شفاف ذهن زما د بلني په اړه غور وکړئ. حتماً به پوه شئ چي ستاسو ملګری (رسول الله صلی الله عليه و سلم) نه پېرياني شوی او نه په لېونتوب اخته دئ؛ تاسو د کينې او رخې له مخي هغه ته دا نسبتونه کوئ، وجه ئې دا ده چي هغه ستاسو په تګلارو او کړنلارو نيوکې کوي او پايلي ئې خطرناکې ګڼي، تاسو ته د هغه سخت عذاب راتلو خبرداری درکوي چي ستاسو د تګلارو طبيعي سزا او پايله ده.

سُبْحَانَكَ اللهُمَّ بِحَمْدِكَ نَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، نَسْتَغْفِرُكَ وَنَتُوبُ إِلَيْكَ

د درېيم جلد پای

پاته په څلورم جلد کې

د میثاق ایثار نشراتي اداره
کابل - دارالامان
Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷

د میثاق ایثار نشراتي اداره
کابل - دارالامان
Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷